# د کتاب په وړاندې

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي أنزل على عبده الكتاب ولم يجعل له عوجًا، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله وأمينه على وحيه صلى الله عليه وسلم.

اما بعد: د عقيدې علم تر ټولو علومو غوره او معتبر علم دی. ځکه چې هغه د خورا معزز پېژندل شوي - ذات - په اړه خبرې کوي - چې هغه پاک، حق او متعال رب دی - او د معتبر مقصد په اړه - چې هغه د الله توحيد او پر هغه ايمان دی - او غوره عاقبت - چې هغه د نعمتونو په کور کې د کريم ذات ليدل او د نبي کريم - صلى الله عليه وسلم - پيروي او د نيغې لارې نيول دي، لدې امله ليواله شوم داسې يو کتاب تأليف کړم چې عقيدوي مسالو ته شامل وي، او د الله تعالى کتاب او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سنت مو پکې د لارې مشعل وي، - او هڅه مو دا ده چې - د معاصرو فلسفي اصطلاحاتو، تعريفونو، ارکانو او شرطونو له يادولو څخه ډډه وکړو. او - دا کتاب - د هرچا لپاره د لاسرسي وړ وګرځي؛ تر څو ترې عالم، په پوهنتونونو کې محصلين او نورو ځايونو کې ترې عام مسلمانان ګټه پورته کړي.

د ليکلو لامل:

زموږ مخکنيو نيکانو (سلفو صالحينو) د صحيح عقيدې په بيانولو او د هغه څه په روښانه کولو چې ضد يې دی او مخالفانو ته د ځواب ورکولو په برخه کې ډېرې هڅې کړې دي. دا کتاب رامخې ته شو تر څو د طالب العلمانو مخې ته هغه څه کېږدي چې سلفو صالحينو د دوی او د عامو مسلمانانو لپاره ليکلي دي، - مونږ پدې ليکنه کې - عقيدوي مسألې په يو کتاب کې رانغاړلي دي، او د ځوابونو پر ځای مو يوازې د سمې عقيدې په بيانولو بسنه کړې ده. د دې کتاب په جوړښت کې مو تېنګار کړی تر څو يې مطالب په آسانه او ښکاره اسلوبو سره وړاندې کړو، او د موضوع پر اساس يې ترتيب کړو، مونږ تمه لرو چې پدې کار سره به مو دوه هدفونه تر لاسه کړي وي؛ يو يې خلکو ته د سلفو صالحينو د علومو نږدې کول، او بل يې په عقيدوي کتابتون کې د يو داسې کتاب په ليکلو سره د لوېې تشې ډکول دي چې عبارتونه يې آسان وي او د عقيدې ټولو موضوعاتو ته شامل وي.

هغه تګلاره چې موږ په ليکلو کې تعقيب کړې:

د عقيدې د هرې موضوع اړوند د آيتونو او حديثونو وړاندې کول او ورڅخه خلاصه راويستل.

د عقيدې د كتابونو اړوند د ټولو موضوعاتو وړاندې كول؛ برابره ده  كه دا مسند موضوعات وي، يا متنونه او يا هم د متنونو شرحې وي؛ تر څو ډاډ تر لاسه شي چې آيا زموږ د عقيدې اړوند له آيتونو او حديثونو څخه چمتو شوى لنډيز هغه څه ته شامل دى چې د عقيدي ليكوالانو ليكلي دي كه نه.

كله چې په قرآن كريم او نبوي سنتو كې يوه عقيدوي مسأله په يوه وجهه راغلي وي، مونږ د يو يا دوو دليلونو په وړاندې كولو بسنه كوو چې نوموړې مسئله پكې ذكر شوي وي. خو كه چېرته مسأله په قرآن كريم او نبوي سنت كې په بيلابيلو وجوهاتو سره راغلي وي - لكه د: خبرو، اوچتوالي، لاس صفتونه، مؤمنانو لره په قيامت كې د حساب او كتاب پر مهال او په جنت كې د خپل متعال رب د ليدلو صفت، نو لازم ګڼو چې د هرې وجهې لپاره يو دليل راوړو كوم چې د مختلفو وجوهاتو نه راغلي دي، او پدې ځان ملزم نه ګڼو چې ټول هغه - دلايل - وړاندې كړو چې په نوموړي باب كې ذكر شوي دي.

ځيني وختونه اړ شو چې د مسألې ځينې اړخونه په يو باب كې شامل كړو، بيا يې تكراروو او په بل فصل كې يې بشپړوو، لكه څنګه مو چې د مخلوقاتو په باب كې د ملايكو د پيدايښت خبر ذكر كړى، بيا مو د دوى په اړه وينا په (كتاب الايمان بالملائكة) كې بشپړه كړې ده، او په (باب الايمان بوجود الله) كې مونږ ځينې آيتونه د الله - تعالى - په شتون ذكر كړي دي، او كله هم همدغه آيتونه په (باب الربوبية) كې هم ذكر كيږي د هغه نږدې والي له امله چې د دواړو تر منځه شتون لري، نو د الله - تعالى - په شتون له باور درلودلو څخه هدف دا دى چې د الله - تعالى - په شتون هغه دلايل روښانه شي چې بې دينه ترې انكار كوي، پداسې حال كې چې په ( باب الربوبية ) كې ورڅخه هدف د ربوبيت اثبات دى، له كوم څخه چې د الله - تعالى - الوهيت لازميږي؛ هغه څه چې مشرك يې په اړه جګړه كوي، همدا رنګه كله نا كله يو مبارك آيت يا حديث شريف د ضرورت له مخې له يو څخه په زياتو ځايونو كې ذكر كوو.

د اړتيا پر مهال كله د سلفو علماوو هغه ويناوې نقلوو چې له آيت او حديث څخه مقصد روښانه كوي، او له ډلې يې يوازې په هغې وينا بسنه كوو چې حق وينا پرې جوتيږي؛ پرته له دې چې شبهه او مخالف قول ذكر كړو؛ تر څو زده كونكي مخكې لدې چې د مخالفينو د ويناوو له امله ورته كوم شک او يا شبهه پيدا شي دا علم يې په زړه كې ځاى ونيسي او پرې پوه شي، او مونږ تمه لرو چې - دا ليكنه - د الله - تعالى - په حكم سره پدې مسأله كې د لوستونكي لپاره د خويدو مانع وګرځي،ځكه لدې مسألې څخه مشهور عقيدوي مخالفتونه راچاپير شوي دي لكه د صفاتو، تقدير او داسې نورې مسألې.

مونږ په قصدي توګه له تعريفونو او کلامي نوي رامنځته شوو اصطلاحاتو څخه ډډه وکړه؛ هغه چې الله تعالی پرې کوم دليل ندی نازل کړی.

مونږ لکه د پخوانيو شرعي علومو د ليکوالانو په څېر دا کتاب د کتابونو او بابونو په بڼه ترتيب کړی دی، او معاصر تقسيماتو مو ندي کارولي: مبحث او مطلب، او د ايمان د أرکانو پر اساس مو ترتيب کړی دی. ابن أبی العز الحنفي فرمايلي دي: (تر ټولو غوره طريقه چې د ديني اصولو کتاب پرې ترتيبيږي؛ هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ځوابونو ترتيب دی، کله چې ترې جبرائيل - عليه السلام - د ايمان په اړه پوښتنه وکړه، نو ويې ويل: چې په الله او د هغه په ملاېکو ايمان راوړې..." نو هغه په توحيد او صفاتو او څه چې ورسره تړاو لري پيل وکړ بيا يې د ملاېکو په اړه وينا وکړه، او بيا همداسې نور تر پايه). د العقيدة الطحاوية شرحه (2/ 689)

مونږ د هر کتاب په پيل کې د هغه لنډيز راوړی دی، په هغه کې مونږ د کتاب ټول مسائل پرته له دلايلو څخه ذکر کوو.

او د احاديثو د تخريج په اړه؛ مونږ أحاديث په لنډه توګه تخريج کړي دي، لومړی په پېژندل شوي ترتيب سره په شپږو کتابونو پيل کوو، بيا يې د وفات د تاريخونو په اساس ترتيبوو، او دا چې غوښتل مو د کتاب اندازه کمه کړو، نو يوازې د أحاديثو په تخريج مو بسنه وکړه پرته له دې چې د احاديثو په اړه خبرې وکړو، مګر په ډيرو لږو ځايونو کې.

د دې کتاب ځانګړتياوې

عقيدوي مسائلو ته د قرآن کريم او سپيڅلو نبوي سنتو سره تړاو ورکول، تر څو طالب العلم ته د دې مسائلو مأخذ معلوم وي.

د عقيدې اړوند په سترو مسائلو احاطة، هغه چې د عقيدې د هر باب سره تړاو لري.

په لنډه او بشپړه توګه د اسانو عبارتونو په وړاندې کولو سره د عقيدوي مسائلو بنسټ ايښودنه؛ تر څو په ښه توګه د درک او زده کړې جوګه شي.

له منطقي او فلسفي څېړنو څخه د کتاب خونديتوب، او يو بل ته د عبارتونو نږدې والی، او له هغو کلمو څخه ډډه کول چې د خواهشاتو له ظهور څخه وروسته په عقيدوي کتابونو کې ذکر شوي دي.

مونږ ادعا نه کوو چې د عقيدې اړوند ټول مسائل مو راټول کړي دي؛ خو مونږ په دې برخه کې خپلې ټولې هڅې کړي دي، مونږ د دې کتاب په اړه هرې بډاينې يا ارزونې يا

سموني ته سترګي په لار يو. تر څو ترې په راتلونکو چاپونو کې ګټه پورته کړو، او بسنه کوي چې مونږ د وحې په سرچينه راغلي يو او له هغه څخه مو د ډېرو معتبرو علومو موضوعات را اخستلي او د دې هنر زده کړيالانو ته مو وړاندې کړي دي، د هرې مسألې لپاره مو په آيت يا حديث يا دواړو يو ځای استدلال کړی دی، او له الله - تعالی - څخه غواړو چې دا کار يوازې د خپلې خوښې لامل وګرځوي، د هغه د رسول، دوست او په وحيې امانتدار د سنت مطابق، د هغه د بندګانو لپاره ګټور، او په هغه ورځ زمونږ لپاره حجت او شاهد وګرځوي په کومه ورځ چې مونږ د خپل رب سره مخ کيږو.

او مونږ د الله - جل جلاله - شکر ادا کوو، چې موږ ته يې دا علم آسانه کړی دی، او مونږ يې د خپل دين د خدمت جوګه ګرځولې يو، او د ايمان د رکنونو په اړه يې د وضاحت توفيق راکړی، تر څو يې د قرآن او سنت له دلايلو سره بيان کړو.

او موږ د هر هغه چا مننه کوو چې زموږ سره يې نيکي کړې ده او زمونږ مور او پلار د مننې لومړيتوب لري، نو يا الله ته دوی ته بخښنه وکړه، رحم پرې وکړه، او زموږ له طرفه هغوی ته غوره بدله ورکړه،داسې غوره بدله چې د يو زوی لخوا پلار ته ورکول کيږي.

بيا موږ د فضيلت له خاوندانو څخه مننه کوو چې د کتاب ارزونه يې کړې ده او د اړتيا وړ ويډيوګانې يې چمتو کړي او ځينې استدراکات يې هم کړي دي لکه: شهزاده دکتور سعود بن سلمان بن محمد آل سعود، د شاه سعود پوهنتون کې د عقيدې مشارک استاد، دکتور سهيل بن رفاع العتيبي؛ د شاه سعود پوهنتون کې د عقيدې مشارک استاد، او همدا رنګه استاد دکتور عبد العزيز بن أحمد الحميدي، په ام القری پوهنتون کې د عقيدې استاد. او د دې کتاب په اړه يې ويلي دي: (دا مبارک کتاب د الله تعالی له لورې د دوو محترمو شيخانو لپاره يوه فتحه او داسې ذخيره وه چې الله تعالی د دوی لپاره ذخيره کړې وه، نو دوی ته يې پدې اړه د فکر او پلان - جوړولو - لارښوونه وکړه، بيا يې د تأليف او تدوين توفيق ورکړ، تر څو دا کتاب د خپلو معدنونو او سرچينو څخه - چې د الله کتاب او د رسول عليه السلام سنت دي - خپلې موخې او د دين أصول وړاندې کړي او زه ادعا کوم چې دا ډول کتابونه او ليکنې په اهل سنت باندې قرض و ، نو الله تعالی د دې قرض د ادا کولو توفيق دواړو عزتمنو شيخانو ته ورکړ. او همدارنګه استاد دکتور عبد الله بن صالح البراک، چې د شاه سعود په پوهنتون کې د عقيدې استاد دی، او دکتور عبد الله بن عبد العزيز العنقري چې د شاه سعود په پوهنتون کې د عقيدې مشارک استاد دی. او له الله تعالی څخه سوال کوو چې د دوی د صادقانه نصيحت او سالم نظر په بدل کې دوی ته زموږ او د علم او علماوو لخوا غوره اجر ورکړي.

و الحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم و بارک على خير خلقه، وعلى آله و صحبه أجمعين.

مكة مكرمة

د ذى الحجې اتمه ورځ

د نبوي هجرت يو زرو څلور سوه او نهه ديرشم کال.

## سريزه

بسم الله الرحمن الرحيم

وبه نستعين، ولا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظيم.

الحمد لله كما ينبغي لجلال وجهه وعظيم سلطانه، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله صلى الله عليه وسلم تسليمًا كثيرًا، أما بعد:

مونږ پدې كتاب كې هغه څه ذكر كوو چې په قرآن او سنت كې راغلي او پر يو مسلمان پرې ايمان راوړل واجب دي، او كله د آيت او حديث د تشريح لپاره د صحابه كرامو، تابعينو، د تابعينو د پيروانو ځينې اقوال ذكر كوو، او يا له آيت، يا حديث څخه د مقصد بيانولو په موخه يې راوړو. دا ليكنه موږ كتابونو او بابونو ته ويشلې ده، او د شونتيا تر بريده مو د لنډيز هڅه او د اړينو مسألو په راوړلو بسنه كړې ده، او له هغه اصطلاحاتو څخه چې نه په قرآن او نه د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - په حديثو كې راغلي او وروستي خلك پكې ښكيل شوي دي لرې پاتې شوي يو، الله - تعالى - له خپل دين څخه په پيروى، او د هغه په رسۍ په منګولو لګولو، او د هغه د رسول - صلى الله عليه وسلم په پيروى كولو باندې په ټينګار سره فرمايلي دي:

﴿وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا وَكُنتُمۡ عَلَىٰ شَفَا حُفۡرَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنۡهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ١٠٣﴾ [آل عمران: 103]

(او تاسو د الله پر رسی (ټول) په جمع سره منګولې ښخې کړئ او سره بېلېږئ مه او د الله (هغه) نعمتونه را یاد کړئ چې پر تاسو باندې شوي دي، کله چې تاسو دښمنان وئ، بیا الله ستاسو د زړونو تر مینځ جوړښت راوسته، نو د هغه په (دې) نعمت سره تاسو ورونه شوئ او تاسو له اور نه د ډکې کندې پر غاړه وئ، نو تاسو یې له هغه نه وژغورلئ، همدارنګه الله تاسو ته خپل آیتونه بیانوي، د دې لپاره چې تاسو نېغه لار ومومئ). آل عمران سورت:

**۱۰۳ آیت. او الله تعالی فرمایلي دي:**

﴿وَٱتَّبِعُوٓاْ أَحۡسَنَ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ بَغۡتَةٗ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ﴿٥٥﴾﴾ [الزمر: 55]

(او تاسو د تر ټولو ښه حکم (قرآن) پیروي وکړئ هغه چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی مخکې له دې نه چې په تاسو عذاب راشي ناڅاپه، حال دا چې تاسو به نه پوهېږئ). الزمر سورت: ۵۵ آیت.

نو د الله په توفیق سره پیل کوو او وایو:

# کتاب :د پېدایښت پیل

## د کتاب لنډیز

موږ باور لرو چې الله د هر څه پیدا کوونکی دی، او دا چې الله و او له هغه پرته بل هیڅ شی نه و، او له هغه څخه مخکې هیڅ شي شتون نه درلوده، او عرش یې په اوبو باندې و، او هغه د آسمانونو او ځمکې له پیدا کولو مخکې اوبه پیدا کړې، بیا یې آسمانونه او ځمکه پیدا کړل پداسې حال کې چې سره یو ځای ول نو دواړه مو سره جلا کړل.

او موږ باور لرو چې الله - تعالی - دا مخلوق په خپل ربوبیت ګواه ګرځولی؛ هغه ربوبیت چې الوهیت ترې لازمیږي، نو هغه ریښتینی معبود دی، او نور ټول بنده ګان دي، د دې وړتیا نه لري چې عبادت یې وشي، او یا ترې هیله وسائل شي، او یا د - چارو - لپاره موخه وګرځول شي.

او پدې باور لرو چې عزتمن عرش د الله - تعالی - له مخلوقاتو څخه یو لوی مخلوق دی، بلکه تر ټول لوی مخلوق یې دی.

او مونږ باور لرو چې ملايکې د رحمن د عرش شاوخوا کې دي، او دا چې الله تبارک وتعالی د خپل عرش له پاسه دی، د اسمانونو د پاسه دی، او له خپل مخلوق څخه جلا دی.

او مونږ باور لرو چې الله هغه قلم پيدا کړی دی چې د ټولو شيانو تقدير يې ليکلی او دا چې د تقدير قلمونه له يو څخه زيات دي.

او مونږ باور لرو چې الله کرسۍ پيدا کړې او هغه له عرش نه وروسته تر ټولو لوی مخلوق دی.

او مونږ باور لرو چې الله - تعالی - آسمانونه او ځمکه او هغه څه يې چې تر منځه دي د الله - تعالی - له ورځو څخه په شپږو ورځو کې پيدا کړي دي، او دا چې الله آسمانونه بې له ستنو پورته کړي او الله -تعالی- دا لوی مخلوقات د لويو حکمتونو لپاره پيدا کړي دي چې څوک پرې احاطه نه شي کولای، او الله - تعالی - د دې مخلوقاتو پېدايښت او جوړښت په پوره مهارت سره تر سره کړي دي.

او مونږ باور لرو چې دا کاينات له آسمانونو، ځمکې، غرونو او هر څه چې په کې دي د دې ټولو سره به يې د قيامت په ورځ حال بل ډول وي.

او مونږ باور لرو چې الله لمر او سپوږمۍ په حقه سره پيدا کړي دي او دا چې هغه پاک ذات، دوی لره د خپل امر تابع ګرځولي او ستوري او سيارې يې د لوی حکمت لپاره پيدا کړي دي او دا ستوري او سيارې هيڅ ګټه او يا ضرر نه شی رسولی او په آسماني او ځمکنيو پيښو کې اغيزه نه کوي، او که څوک چې دا باور ولري چې دوی په خپل ځان کې اغيزمن دي، نو هغه کفر يا شرک کړی دی.

او مونږ باور لرو چې الله ملايکې له رڼا څخه پيدا کړي دي، او دوی يې په پيدايښت کې يو له بل سره په توپير کې پيدا کړي دي.

او مونږ باور لرو چې الله؛ جان (يا پيريان) د اور له خالصو لمبو څخه چې دود پکې نه وي پيدا کړی دی، او دا چې د پيريانو پيدا کول د آدم - عليه السلام - له پيدايښت څخه مخکې دي، او دا چې د شيطانانو مشر ابليس دی، او دا چې ابليس هغه څوک دی چې زمونږ مور او پلار (آدم او حوا) عليهما السلام يې بې لارې کړي وو تر دې چې له جنت څخه يې راوويستل.

او باور لرو چې ابلیس له سجدې کولو یې سرغړونه وکړه، نو الله پرې غصه شو، له رحمت څخه لیرې کړ، ویې شاړه، او دا چې پیریان په شریعتونو سره مخاطب دي او دوی مکلف دي.

او مونږ باور لرو چې الله خپلو پرښتو ته خبر ورکړ چې هغه به په عبادت سره د ځمکې د دوانولو لپاره يو خليفه وګرځوي او حق ذات څرګنده کړه چې دا خليفه آدم دی او دا چې هغه به یې له خاورو څخه پیدا کړي، او دا خاوره یې خته ګرځولې، بیا یې په پړاوونو کې پیدا کړ.

مونږ باور لرو چې الله - تعالی- آدم په خپل عزتمند لاس سره پیدا کړی، او خپلې ملایکې یې ورته په سجده کړې، او هغه ته یې د هغه له ځان څخه جوړه ښځه) پیدا کړه تر څو ورسره آرام و اوسیږي، چې هغه حوا ده، او دواړه یې په جنت کې و اوسول، بیا یې دواړه ځمکې ته راکوز کړل.

او مونږ باور لرو چې ټول خلک د آدم له اولادې څخه دي او دا چې ادم له خاورې څخه دی، نو له تقوا پرته هيڅوک پر بل غوره والی نه لري.

او ګواهي ورکوو چې الله - تعالی - خلک په فطرت پیدا کړي دي.

او ګواهي ورکوو چې روح د الله له امر(حکم) څخه دی، او دا چې انسانان یې په اړه په هیڅ نه پوهیږي مګر هغه چې الله پرې خبر کړي دي، او روحونه د الله - تعالی مخلوقات دي.

او باور لرو چې روحونه مري، او مرګ یې له بدن څخه جلا کیدل دي.

او باور لرو چې ټول هغه چې د ځمکې پر مخ له ځځنده و څخه خوځښت کوي زمونږ په څیر امتونه دي.

او مونږ پوهیږو چې الله هر حیوان له اوبو څخه پیدا کړی او له هر شي څخه یې یوه یوه جوړه ګرځولې، او دا چې د دې ټولو مخلوقاتو لوری هلاکت ته دی، پرته له هغه څه چې الله پاک استثنا کړي دي.

## باب دی پدې باره کې چې :الله د ټولو شیانو پیدا کوونکی دی

مونږ ګواهي ورکوو چې الله د ټولو شیانو پیدا کوونکی دی، لوی الله فرمایلي دي:

﴿ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ فَٱعۡبُدُوهُۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ١٠٢﴾ [الأنعام: 102].

(همدغه الله، ستاسو رب دی، له ده نه غیر هېڅ لایق د عبادت نشته، د هر شي پیدا کوونکی دی، نو تاسو د هغه عبادت کوئ او هغه په هر شي باندې نګران دی). [الأنعام سورت: 102 آیت].

او حق متعال ذات فرمایلي دي:

﴿ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ٦٢﴾ [الزمر: 62]

(الله د هر شي پیدا کوونکی دی او هغه په هر شي باندې نګران دی). [الزمر سورت: 62 آیت]،

او الله پاک فرمایلي دي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهۡوَنُ عَلَيۡهِۚ ... [الروم: 27]

(او دی همغه ذات دی چې مخلوق اول ځلې پیدا کوي، بیا به دغه دوباره راژوندي کوي او دغه (بیا راژوندي کول) هغه (الله) ته ډېر اسان دي). [الروم سورت: 27 آیت].

او باور لرو چې الله و، پداسې حال کې چې له هغه پرته هیڅ نه و، او له هغه مخکې هیڅ شی نشته، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿هُوَ ٱلۡأَوَّلُ وَٱلۡأٓخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلۡبَاطِنُۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ٣﴾ [الحدید: 3]

(هم دغه (الله) اول دی (هیڅ شی له هغه نه مخکې نه و) او اخر دی (له ده نه بعد هېڅ شی نشته) او لوړ دی (په هر شي بره دی) او باطن دی (د ده په وړاندې هېڅ شی پټ نه دی) او هغه په هر شي باندې ښه پوه دی). [الحدید سورت: 3 آیت]

. او پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «اللَّهُمَّ أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ». « یا الله! ته لومړی یې نو ستا نه مخکې هیڅ شی نشته، او ته وروستی یې نو ستا نه وروسته بل شی نشته، او ته لوړ یې؛ نو ستا نه پورته هیڅ شی نشته، او ته باطن یې - په هر څه دې احاطه کړې ده - نو هیڅ شی درڅخه پټ ندي او نه کوم شی تا لره عاجز کولای شي». (مسلم روایت کړی (2713)، ابوداود (5051)، الترمذي (3400) او ابن

ماجه (3831). او له عمران بن حصين - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي: زه له پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - سره وم چې له بني تميم -څخه- يوه ډله خلک راغلل؛ نو- ورته- يې وفرمايل: « ای د تميم خلکو زيری قبول کړئ» هغوی وويل: مخکې دې زيری راکړی و، اوس يو څه راکړه، بيا د يمن له خلکو څخه يوه ډله رانوتله نو ورته يې وفرمايل : «زيری قبول کړئ ای د يمن خلکو، ځکه د تميم خلکو قبول نه کړ» هغوی وويل: مونږ راغلي يو تر څو ځان پر دين پوه کړو، او د دې چارې (کائناتو) د پيل په اړه درڅخه پوښتنه وکړو: چې څنګه و؟ ويې فرمايل: « الله و او له هغه مخکې هيڅ شی نه و، او د هغه عرش پر اوبو د پاسه و، بيا يې آسمانونه او ځمکه پيدا کړل، او په لوح محفوظ کې يې هر څه وليکل»، (بخاري روايت کړی (۷۴۱۸) او ترمذي (۳۹۵۱). او په بل روايت کې يدې الفاظو: «كَانَ اللَّهُ وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ غَيْرَهُ، وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الماءِ». «الله و، او له هغه پرته هيڅ شی نه و، او د هغه عرش په اوبو د پاسه و». (بخاري روايت کړی (۳۱۹۱) او مونږ باور لرو يدې چې هر څه د زمکې د پاسه له حيواناتو څخه چې خوځښت کوي زمونږ په خبر امتونه دي، حق تعالی فرمايلي دی:

﴿وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا طَٰٓئِرٖ يَطِيرُ بِجَنَاحَيۡهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمۡثَالُكُمۚ مَّا فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ مِن شَيۡءٖۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يُحۡشَرُونَ ٣٨﴾ [الأنعام: 38]

(او نشته په ځمکه کې هېڅ يو خوځنده او نه هېڅ مارغه چې په خپلو دواړو وزرونو الوځي مګر (دوی) ستاسو په شان امتونه دي، مونږ په کتاب (لوحِ محفوظ) کې هېڅ شی (بې ليکلو) نه دی پرېښی، بيا به دوی د خپل رب په طرف ورجمع کولی شي. [الأنعام سورت: 38 آيت]

. او يدې پوهيږو چې الله هر خوځيدونکی له اوبو څخه پيدا کړی دی، سپيڅلي او لوړ ذات فرمايلي:

﴿وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٖ مِّن مَّآءٖۖ فَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰ بَطۡنِهِۦ وَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰ رِجۡلَيۡنِ وَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰٓ أَرۡبَعٖۚ يَخۡلُقُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٤٥﴾ [النور: 45]

(او الله تعالی په ځمکه ګرځېدونکی هر حيوان له اوبو څخه پيدا کړی دی، نو په دوی کې ځينې هغه دي چې په خپلې خېټې تګ کوي او په دوی کې ځېنې هغه دي چې په دوه پښو تګ کوي او په دوی کې ځينې هغه دي چې په څلورو ګرځي، الله چې څه وغواړي پيدا کوي يې، بېشکه الله په هر شي باندې ښه قادر دی) [النور سورت : 45 آيت].

او له هر شي يې جوړه (نر او ښځه )ګرځولي، الله تعالی فرمايي:

﴿وَمِن كُلِّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَا زَوۡجَيۡنِ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ﴾ [الذاريات: 49]

(او له هر څيز څخه مونږ دوه قسمه جوړې (نر او ښځه) پيدا کړي دي، د دې لپاره چې تاسو پند واخلئ) [الذاريات سورت: 49 آيت]

. او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰ﴾ [النجم: 45]

(او دا چې بېشکه دغه (الله) دوه جوړې نر او ښځه پيدا کړې دي) [النجم سورت: 45 آيت]

. او موږ باور لرو چې دا مخلوقات- د دې تنوع او کثرت سره سره - متوازن دي، او هيڅ يو يې پر بل تيری نه کوي، او نه يو ډول پر بل ډول، متعال رب فرمايلي دي:

﴿وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡزُونٖ﴾ [الحجر: 19]

او ځمکه؛ مونږ هغه غځولې ده او مونږ په هغې کې غرونه غورځولي دي او مونږ په هغې کې هر اندازه کړی شوی شی زرغون کړی دی). [الحجر سورت: 19 آيت].

او ژر دی چې دا ټول مخلوقات به د فنا لور ته ولاړ شي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿كُلُّ مَنۡ عَلَيۡهَا فَانٖ وَيَبۡقَىٰ وَجۡهُ رَبِّكَ ذُو ٱلۡجَلَٰلِ وَٱلۡإِكۡرَامِ﴾ [الرحمن: 26-27]

[الرحمن: 26، 27].

(او باقي به پاتې شي ستا د رب مخ (ذات) چې د جلال او د عزت خاوند دی).[الرحمن: 26، 27].

پرته له هغه څه نه چې الله - تعالی- له بې هوښۍ څخه په خپله دې وينا کې استثنا کړې دي:

﴿وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُۖ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخۡرَىٰ فَإِذَا هُمۡ قِيَامٞ يَنظُرُونَ﴾ [الزمر: 68]

[او په شپېلۍ کې به پو کړی شي، نو بې هوشه (بې خوده) به شي هر هغه څوك چې په آسمانونو کې دي او هر هغه څوك چې په ځمكه کې دي، غیر له هغه چا نه چې الله یې وغواړي، بیا به په دې کې بل ځلې پو کړی شي،(١) نو ناڅاپه به دوی ولاړ وي، ګوري به (حیران حیران)]. [الزمر سورت: 68 آیت]

. او موږ باور لرو چې الله - تعالى - دا مخلوق په خپل ربوبیت ګواه ګرځولی؛ هغه ربوبیت چې د هغه الوهیت ترې لازمیږي، نو كله ناكله د خپلو مخلوقاتو پيدايښت پدې (ربوبيت) دلیل ګرځوي لكه څرنګه چې الله تعالى فرمایلي دي:

﴿هَٰذَا خَلۡقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ بَلِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ١١﴾ [لقمان: 11]

(دغه د الله مخلوق دی، نو تاسو (ای مشرکانو!) ما ته وښیئ څه شی دی هغه چې دغو (بتانو) پیدا کړی دی، چې غیر له هغه (الله) نه دي، بلکې ظالمان په ښکاره ګمراهۍ کې دي). [لقمان سورت: 11 آیت].

او کله کله حق ذات یادونه کوي چې له مخلوقاتو څخه تر ټولو ستر یې چې - عرش - دی پدې دلالت کوي لکه چې پاک ذات فرمایي:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ۩ ٢٦﴾ [النمل: 26]

(الله چې دی، نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، د ډېر ستر عرش رب دی). [النمل سورت: 26 آیت]،

او پیغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمایلي دي: «سُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ خَلْقِهِ. سُبْحَانَ اللهِ رِضَا نَفْسِهِ. سُبْحَانَ اللهِ زِنَةَ عَرْشِهِ. سُبْحَانَ اللهِ مِدَادَ كَلِمَاتِهِ». «د الله پاكي -بيانوم- د هغه د مخلوقاتو د شمېر په اندازه، د الله پاكي -بيانوم- تر هغه چې هغه پرې رضا شي، د الله پاكي -بيانوم- د هغه د عرش د دروندوالي په اندازه، د الله پاكي -بيانوم- د هغه سیاهۍ(رنګ) په اندازه چې د هغه کلمې پرې لیکل کیږي». (مسلم روايت کړی په (2726) شمېره، او نسائي په (1/1351) ، او ترمذي په (3555) شمېره، او ابن ماجه په (3808) شمېره. نو د عرش دروندوالی تر ټولو دروند وزن دی. او كله ناكله لوی مخلوقات پر هغې دلیل وګرځوي لکه څرنګه چې د هغه ذات پدې وینا کې راغلي:

﴿هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ لَكُم مَّا فِى ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَسَوَّىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَىۡءٍ عَلِيمٞ ٢٩﴾ [البقرة: 29]

(همدی هغه ذات دی چې ستاسو لپاره يې هغه ټول څه پيدا کړل چې په ځمکه کې دي، بيا يې د اسمان قصد وکړ، نو هغه يې ښه برابر اوه اسمانونه جوړ کړل، او هغه پر هر شي ښه عالم دی). [البقرة سورت: 29 آیت]

. او کله کله هغه يو لدې مخلوقاتو څخه پر هغې دليل وګرځوي لکه څرنګه چې د الله تعالى په دې وينا کې دي:

﴿أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٖ مُّخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهَاۚ وَمِنَ ٱلۡجِبَالِ جُدَدُۢ بِيضٞ وَحُمۡرٞ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٞ ٢٧﴾ [فاطر: 27]

(آيا تا نه دي ليدلي چې ببشکه الله له پورته نه اوبه نازلې کړې دي، بيا مونږ په دغو سره داسې مېوې راوبستلې دي چې د هغو رنګونه مختلف دي او په غرونو کې ځينې سپينې او سرې برخې دي، چې رنګونه يې سره مختلف دي او (ځينې په دوی کې) ډېرې تکې تورې دي). [فاطر سورت: 27 آیت]

. او کله هم خپل تر ټولو کمزوری او کوچنی مخلوق پر هغې دليل وګرځوي لکه څرنګه چې د الله تعالى پدې وينا کې دي:

﴿۞ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَسۡتَحۡىِۦٓ أَن يَضۡرِبَ مَثَلٗا مَّا بَعُوضَةٗ فَمَا فَوۡقَهَاۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَيَعۡلَمُونَ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّهِمۡۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَيَقُولُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلٗاۘ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرٗا وَيَهۡدِى بِهِۦ كَثِيرٗاۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقِينَ ٢٦﴾ [البقرة: 26]

(ببشکه الله د هيڅ مثال په بيانولو نه شرمېږي، د غوماشي وي، يا که له ده نه د زيات (شي) وي، نو هر چې هغه خلک دي چې ايمان يې راوړی دی، نو هغوی پوهېږي چې يقينًا دا د هغوی د رب له طرف نه حق (مثال) دی، او پاتې شو هغه خلک چې کفر يې کړی دی، نو هغوی وايي: الله په دې مثال ورکولو سره څه اراده کړې ده؟). [البقرة سورت: 26 آيت]

. نو هغه ريښتينی خالق دی، له هغه پرته نور ټول مخلوقات دی، برکت والا دی زموږ رب او لوړ دی، هغه پر حقه معبود دی، او له هغه پرته نور ټول بنده ګان دي د عبادت وړ ندي، او نه د دې وړ دي چې تمه ترې ولرل شي، او يا د حاجتونو د پوره کولو لپاره مقصد وګرځول شي.

## باب دی د لوی عرش د پیدایښت په اړه

او موږ باور لرو چې عرش د الله -تعالی- له مخلوقاتو څخه يو لوی مخلوق دی، بلکه هغه د الله له ټول مخلوقاتو څخه لوی دی، او کله چې لوی ذات هغه په لوی والي سره ياد کړي، نو هغه به په رښتيا چې لوی وي، هغه پاک ذات فرمايلي دي:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ۩ ٢٦﴾ [النمل: 26]

(الله چې دی، نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، د ډېر ستر عرش رب دی). [النمل سورت: 26 آیت]

. او هغه عرش لره په (مجيد) يعني د لوی شان او عزت والا په صفت سره ياد کړ، الله عزوجل فرمايلي دي: ﴿ذُو ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡمَجِيدُ ١٥﴾ [البروج: 15]

:خاوند د عرش عزتمند دی. [البروج سورت: 15 آیت]

، او هغه د دې لوی والي سره مخلوق او مملوک دی، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبۡعِ وَرَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ ٨٦﴾ [المؤمنون: 86]

(ته (دوی ته) ووايه: د اوو اسمانونو او د ډېر لوی عرش رب څوك دی؟). [المؤمنون سورت: 86 آیت].

او هغه -صلی الله علیه وسلم- فرمايلي دي: «...وَخَلَقَ عَرْشَهُ عَلَى الماءِ». «او هغه خپل عرش د اوبو له پاسه پیدا کړی». (ترمذي (3109)، ابن ماجه (182)، طيالسي (1189)، احمد (16188) او ابن ابي عاصم په السنه (625) کې روايت کړی دی. او هغه (عرش) لره پښې يا ستنې دي؛ پيغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: "د قيامت په ورځ به خلک بې هوښه کيږي، نو زه به تر ټولو لومړی هغه څوک يم چې په هوش راځي، نو ناڅاپه به زه موسی -علیه السلام- وګورم چې د عرش له پايو څخه به يې يوه نيولې وي" (بخاري په (3398) شمېره، مسلم په (2374) شمېره او ابوداود په (4668)

شمېره روایت کړی دی. او عرش د آسمانونو د پاسه دی، او الله د عرش د پاسه دی، پیغمبر - صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «د - الله تعالی - عرش د آسمانونو له پاسه داسې دی - او هغه په ګوتو سره وویل (اشاره یې وکړه، داسې چې د یو لاس ګوتې یې د بل لاس په ورغوي کېښودې) چې دا پرې لکه د ګنبد په څیر- ولاړ دی- او دا (عرش) داسې اواز کوي لکه یو سړی چې کله په سپرلۍ سپور شي او د دروندوالي له امله د پالان اواز وخیژي». ( ابو داود روایت کړی دی (۴۷۲۶)، عثمان بن سعید الدارمي هم پر جهمیانو د ځواب په موخه راوړی دی (۲۴) ، ابن ابی عاصم په السنه کې (۵۸۷) او ابن خزیمه په توحید (۱۴۷) کې روایت کړی دی. او په بل روایت کې: «الله په عرش د پاسه دی، او عرش یې د آسمانونو له پاسه دی». ( ابو داود په (۴۷۲۶) شمېره روایت کړی دی ، عثمان بن سعید الدارمي هم پر جهمیانو د ځواب په موخه راوړی دی (۲۴) ، ابن ابی عاصم په السنة کې(۵۸۸) او ابن خزیمه په توحید (۱۴۷) کې روایت کړی دی. او مونږ باور لرو چې د عرش لاندې الهي خزانې دي چې له الله پرته یې بل څوک د اندازه کولو وړتیا نه لري، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "د البقرې سورت دا وروستي آیتونه ماته د عرش د لاندې له خزانې څخه راکړل شوي دي، چې زما څخه وړاندې هیڅ پیغمبر ته نه وو ورکړل شوي". (مسلم (۵۲۲) د استشهاد له محل نه پرته روایت کړی، او الطیالسي (۴۱۸)، ابن ابي شیبه په المصنف کې (۳۲۳۰۶)، او أحمد (۲۳۲۵۱) او لفظ د همده دی، او نورو روایت کړی) او د ابو ذر -رضي الله عنه- په حدیث کې راغلي فرمایي: چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: زما دوست، ما ته د اوو کړنو امر کړی، له هغوی څخه یې د ځینو یادونه وکړه: «راته یې امر کړی چې: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ زیات ووایم، ځکه دا -کلمې- د عرش لاندې له ګنج څخه دي». (بزار په (3966) شمېره، ابن ابي شيبه په المصنف کې په (35491) شمېره، هناد په الزهد کې په (1013) شمېره، احمد په مسند په (21415) شميره روايت کړی او دا لفظ د همده دی، او په الزهد کې په (401) شمېرې سره روایت شوی دی). او مونږ پدې باور لرو چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - به د قیامت په ورځ د عرش لاندې سجده کوي تر دې چې لوی شفاعت وکړي، د شفاعت په اوږود حدیث کې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «بیا به روان شم تر دې چې د عرش لاندې ځای ته راشم، نو خپل رب ته به په سجده پریوځم، بیا به الله - تعالی - د حمد او ثنا ویلو داسې توفیق راکړي چې هیچاته به یې زما څخه مخکې نه وي ورکړی، بیا به وویل شي: ای محمده! سر دې پورته کړه، سوال وکړه تا ته به درکول شي، شفاعت وکړه، ستا شفاعت به ومنل شي، نو بیا به خپل سر پورته کړم، نو وبه وایم: ای ربه امت مې، ای ربه امت مې،...». (بخاري (۴۷۱۲)، مسلم (۱۹۴)، ترمذي (۲۴۳۴) او ابن ماجه (۳۳۰۷) کې روایت کړی

دی. او مونږ ایمان لرو پر دې چې د شهیدانو روحونه به په هغو څراغونو کې ځای پر ځای شي چې د عرش په سیوري کې ځړول کیږي، پدې اړه له ابن عباس -رضي الله عنهما- څخه روایت دی چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: «کله چې ستاسو ورونه په أحد کې ووژل شول نو د دوی روحونه الله - تعالی - د شنو مرغیو په ګېډو کې وګرځول، چې د جنت په ویالو به ګرځي، له میوو څخه به یې خوري، او بیا به د عرش تر سیوري لاندې له سرو زرو جوړو څراغونو کې ځای پر ځای شي...». (ابوداود په (2520) شمېره، ابن المبارک په جهاد کې په (62) شمېره، ابن ابي شیبه په (19678) شمېره او احمد په (2388) شمېره روایت کړی دی. ابن المبارک ته وویل شول: څنګه خپل رب وپېژنو؟ هغه وفرمایل: هغه د اووم اسمان دپاسه په عرش باندې دی، هغه له خپل مخلوق څخه جلا دی. ( الرد على الجهمية، د الدارمي ۴۷ مخ، الاسماء والصفات د البيهقي (336/2)، الفتوى الحموية الكبرى ۳۳۳ مخ، شرح الطحاوية - دار السلام چاپ ۲۱۹ مخ. امام الدارمي رحمه الله فرمایلي دي: الله تبارک وتعالی د عرش له پاسه دی، د آسمانونو له پاسه دی، له خپلو مخلوقاتو څخه یې جلا دی، که څوک یې پدې (صفتونو) سره نه پیژني نو خپل هغه معبود یې ندی پیژندلی چې عبادت یې کوي، او پوهه یې د عرش د پاسه ټولو لرې او نږدې (مخلوقاتو) ته یو برابره ده او هیڅ شی له هغه څخه لرې ندی؛

﴿... لَا يَعۡزُبُ عَنۡهُ مِثۡقَالُ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ ...﴾ [سبأ: 3]

(له هغه نه نه پټېږي په اندازه د یوې ذرې په آسمانونو کې او نه په ځمکه کې) [سبأ سورت: 3 آيت]

پاک او لوړ دی هغه ذات - له هغه څه نه چې له صفتونو څخه انکار کوونکي یې پرې یادوي - په ډېر لوی لوړوالي سره. (الرد على الجهمية (47 مخ). او مونږ باور لرو چې عرش ملاېکو بار کړی دی، الله تعالی فرمایلي دي: ﴿ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْۖ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ۝٧﴾ [غافر: 7]

(له ملايکو څخه) (هغه کسان چې عرش اوچتوي او هغه (ملايك) چې د دغه (عرش) شاوخوا دي، دوی د خپل رب د ستاینې سره تسبیح وایي او په ده ایمان لري او د هغو کسانو لپاره مغفرت غواړي چې ایمان یې راوړی دی (او وایي:) ای زمونږه ربه! ته د رحمت په لحاظ سره هر شي

ته رسېدلی يې، نو ته هغو کسانو ته بخښنه وکړې چې توبه يې ايستلې ده او ستا د لارې پيروي يې کړې ده او ته دوی د دوزخ له عذاب نه وساته). [غافر سورت: 7 آيت].

او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَٱلۡمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرۡجَآئِهَاۚ وَيَحۡمِلُ عَرۡشَ رَبِّكَ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ ثَمَٰنِيَةٞ﴾ [الحاقة: 17]

(او ملايك به د ده د څنډو له پاسه وي او په دغې ورځ کې به ستا د رب عرش اتو (ملايکو) د دوی له پاسه اوچت کړی وي) [الحاقة سورت: 17 آيت].

او پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - د عرش د پورته کوونکو (پرېښتو) له ځينو صفتونو څخه خبر ورکړی دی نو فرمايلي يې دي: "ما ته اجازه راکړل شوه چې د الله تعالی له پرېښتو څخه د يوې په اړه بيان وينا وکړم چې عرش پورته کوي، د هغې د غوږ د پوڅکې (نرمۍ) څخه تر اوږې پورې د اووه سوه کلونو په اندازه مزل دی. (أبو داود په (4727) شمېره، او طبراني په الأوسط کې په (1709) شمېره، او أبو الشيخ په العظمة کې په (476)شمېره، او ابن شاهين په الفوائد کې په (19) شمېره روايت کړی دی. او موږ باور لرو چې پرېښتې به د رحمن د عرش ګير چاپيره وي ، هغه حق ذات فرمايلي دي:

﴿وَتَرَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنۡ حَوۡلِ ٱلۡعَرۡشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡۚ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّۚ وَقِيلَ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ [الزمر: 75]

(او (ای نبي) ته به ملايك ووينې، چې د عرش ګېر چاپېره راتاوېدونکي وي، چې د خپل رب له حمد سره تسبيح وايي او د دغو (خلکو) په مينځ کې به په حقه سره فيصله وکړی شي او وبه ويل شي: ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د عالمونو ښه پالونکی دی) [الزمر سورت : 75 آيت].

او عرش له ياد شوي کتاب سره د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په وينا کې: «کله چې الله د مخلوقاتو پريکړه وکړه نو په خپل کتاب کې يې وليکل، او هغه کتاب له هغه سره د عرش د پاسه دی، زما رحمت زما په غضب غالب شوی دی». (بخاري په (3194) شمېره، او مسلم په (2751) شمېره، او ترمذي په (3543) شمېره، او ابن ماجه په (189، 4295) شمېره روايت کړی دی) دوی دواړه تر ټولو پورته مخلوقات دي، پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «... نو کله مو چې د الله نه سوال کاوه نو د فردوس سوال ترې وکړئ، ځکه هغه منځنی جنت دی، تر ټول پورته جنت دی، له پاسه يې د رحمان ذات عرش دی، او له هغه څخه د جنت ويالې رابهيدلي دي». (بخاري په (7423) شمېره

روایت کړی دی). او مونږ باور لرو چې الله په خپل عرش باندې استوا کړې ده، داسې استوا چې د هغه د شان سره ښایي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ...﴾ [الأعراف: 54]

(بېشکه ستاسو رب هغه الله دی چې اسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، بیا د عرش له پاسه شو). [الأعراف سورت: 54 آیت]،

او حق ذات سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

﴿ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱلرَّحْمَٰنُ فَسْـَٔلْ بِهِۦ خَبِيرًا ﴿٥٩﴾﴾ [الفرقان: 59]

(هغه (الله) چې اسمانونه او زمکه، او هغه څه چې د دواړو په مینځ کې دي، په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، بیا په عرش باندې برابر شو، (دغه) رحمن دی، نو ته د ده خبردارنه وغوړه) [الفرقان سورت: 59 آیت].

او له ربیعة الرأی ښخه د الله تعالی د دې وینا

﴿ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱسْتَوَىٰ ﴿٥﴾﴾ [طه: 5]

[طه سورت: 5 آ◉ت]:

په اړه پوښتنه وشوه چې : [طه سورت: 5 آیت]:

څرنګه یې استوا کړې ده؟ و یې فرمایل: «کیفیت یې معلوم ندی، او استوا د عقل خلاف نده، او پر ما او تاسو په ټولو ایمان پرې واجب دی ». (الیهقی په اسماء او صفتونو کې په (۳۰۶/۲) شمېره روایت کړي، او د اهل سنت والجماعت د عقایدو د اصولو شرحه (۵۸۲/۳)). او یو سړی مالک بن أنس ته راغی او ورته یې وویل: ای أبو عبد الله {الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى} یعې رحمان ذات په عرش استوا کړې ، نو څنګه یې استوا کړې؟ (راوي) وایي: مونږ هیڅکله امام مالک نه و لیدلی چې دومره دې کله تکلیف شوی وي لکه څومره چې د دې وینا په اوریدلو تکلیف شو، او خولې پرې راماتې شوې، او سر یې وخوځاوه، او مونږ انتظار شو چې په اړه به یې په څه امر کوي، وایي: بیا خپل حالت ته

راوګرځيده، نو ويې فرمایل: «کیفیت معقول ندی، او د الله تعالی لخوا نه استوا مجهول شی ندی، او ایمان پرې واجب دی، او په اړه يې پوښتنه کول بدعت دي، او زه لدې ويريږم چې ته دې ګمراه يې، بیا يې پرې امر وکړ او له مجلس څخه وويستل شو». (الرد على الجهمية، د الدارمي ( 66 مخ)، او شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة (441/3) شمېره حديث، او حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (325/6) شمېره حديث،او الاعتقاد، د البيهقي ( 116 مخ)، او شرح السنة، د البغوي (171/1). او الأسماء والصفات،د البيهقي (306/2). او امام احمد رحمه الله به د استواء د معنی په اړه ويیل: دا لوړوالي او ارتفاع ته وايي، او الله تعالی د خپل عرش له پیدا کولو مخکې هم لوړ او پورته و، نو هغه له هر څه نه پورته او د هر څه د پاسه دی، او الله تعالی په ځانګړې توګه د عرش يادونه لدې امله وکړه چې په عرش کې د نورو شیانو پر خلاف ځانګړې معنا پرته ده، او عرش د ټولو شیانو غوره او پورته يې دی، نو الله تعالی خپل ځان وستایه چې هغه د عرش د پاسه دی؛ یعنی پر هغه پورته دی... له عبدالرحمن بن مهدي څخه روایت دی چې هغه له مالک څخه روایت کوي فرمايي: «الله تعالی په خپل عزتمند عرش مستوي دی لکه څرنګه يې چې خبر ورکړی، او علم يې په هر ځای کې دی». (العقيدة ؛ د أبو بكر الخلال په روايت ( 108 مخ) او عرش لره د الله تعالی ملکیت پر دې دلیل دی چې هغه پرته له بل هر چا څخه د عبادت وړ دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ٢٢﴾ [الأنبياء: 22]

(که چیرې په دغو (ځمکه او اسمان) کې له الله نه پرته نور معبودان وی (نو) دواړه به خامخا وران شوي وو، نو الله د عرش مالك، پاك دی له هغو خبرو چې دوی يې بيانوي) [الأنبياء سورت: 22 آيت]،

او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبۡعِ وَرَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ ٨٦﴾ [المؤمنون: 86]

(ته (دوی ته) ووايه: د اوو اسمانونو او د ډېر لوی عرش رب څوك دی) [المؤمنون سورت: 86 آيت]،

او الله رب العزت فرمايلي:

﴿قُل لَّوۡ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذٗا لَّٱبۡتَغَوۡاْ إِلَىٰ ذِي ٱلۡعَرۡشِ سَبِيلٗا ٤٢﴾ [الإسراء: 42]

(ته وو ایه: که له دغه (الله) سره نور معبودان وی، لکه ښنګه چې دوی یې وایي (، نو) په دغه وخت کې به دوی خامخا د عرش د مالك په طرف لار لټولې وی). [د الإسراء سورت: 42 آیت].

## باب دی د اوبو د پیدایښت په اړه

او موږ باور لرو چې الله -جل جلاله- د ځمکې او اسمانونو له پیدا کولو مخکې اوبه پیدا کړې دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "الله و پداسي حال کې چې له هغه وړاندې هیڅ شي شتون نه درلوده، او د هغه عرش په اوبو د پاسه و، بیا یې آسمانونه او ځمکه پیدا کړل". (مسلم (2713)، ابوداود (5051)، الترمذي (3400) او ابن ماجه (3831) روایت کړی دی. او الله - تعالی - هر شی له اوبو څخه ژوندی وګرځاوه، الله پاک فرمایلی دي:

﴿... وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَ٣٠﴾ [الأنبياء: 30]

(او مونږ له اوبو څخه هر ژوند شی پیدا کړی دی) [الأنبیاء سورت: 30 آیت]،

او دا چې الله دا د خپل ربوبیت او الوهیت نخښه ګرځولې ده، الله تعالی فرمایلي:

﴿ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ٢٢﴾ [البقرة: 22]

(هغه (رب) چې ستاسو لپاره یې ځمکه فرش او اسمان چت جوړ کړی دی او له بره نه یې اوبه نازلې کړې دي، بیا یې په دغو سره له مېوو نه ستاسو لپاره رزق راوېستلی دی، نو له الله سره هېڅ قسمه شریکان مه جوړوئ، حال دا چې تاسو پوهېږئ). [البقرة سورت: 22 آیت].

او الله رب العزت فرمایلي:

﴿وَفِي ٱلۡأَرۡضِ قِطَعٞ مُّتَجَٰوِرَٰتٞ وَجَنَّٰتٞ مِّنۡ أَعۡنَٰبٖ وَزَرۡعٞ وَنَخِيلٞ صِنۡوَانٞ وَغَيۡرُ صِنۡوَانٖ يُسۡقَىٰ بِمَآءٖ وَٰحِدٖ وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلۡأُكُلِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ٤﴾ [الرعد: 4]

(او په ځمکه کې ځنګ په ځنګ پیوستي ټوټې دي او د انګورو باغونه دي او فصلونه دي او د کجورو ونې دي چې له یوه بېخه پورته شوې دي او ځینې ځان ته (جدا) بېخ لري، چې په یوه قسم اوبو سره اوبه کولی شي او مونږ په هغو کې ځینو ته په نورو باندې په مېوه (او خوند) کې

فضيلت ورکوو، بېشکه په دې کې د هغو خلکو لپاره يقيناً نښې دي چې له عقل نه کار اخلي). [الرعد سورت: 4 آيت]،

او الله تعالى فرمايلي:

﴿۞ وَهُوَ ٱلَّذِى مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا ﴿٥٣﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ ٱلْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُۥ نَسَبًا وَصِهْرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا ﴿٥٤﴾﴾ [الفرقان: 53-54]

(او دی همغه ذات دی چې له اوبو نه يې انسان پيدا کړی دی، بيا يې هغه (د) نسب او سخرګنۍ (والا) وګرځاوه او ستا رب ښه قادر دی) [الفرقان سورت: 53، 54 آيتونه]

؛ نو له اوبو څخه يې دوه بېلابېل بحرونه جوړ کړل او د هغو په منځ کې يې مانع او پرده وګرځوله، نو يو پر بل نه ور اوړي، همدا رنګه يې له اوبو څخه انسانان جوړ کړل، او د انسانانو څخه يې نسب او خسرګنۍ رامنځ ته کړه، نو د برکت والا دی الله؛ هغه ذات چې غوره پيدا کوونکی دی. او د دې آيت په څېر نور مثالونه ډېر دي. همدا رنګه يې اوبه په بيا راژوندي کېدو دليل ګرځولی: الله تعالى فرمايلي:

﴿وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلْأَرْضَ خَٰشِعَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاهَا لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰٓ ۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾﴾ [فصلت: 39]

(او د هغه له نخښو څخه دا دي چې بېشکه ته ځمکه وچه کلکه وينې، نو کله چې مونږ په دې اوبه نازلې کړو(نو) وخوځېږي او وپړسېږي، بېشکه هغه ذات چې دغه يې ژوندۍ کړې ده، خامخا د مړو ژوندی کوونکی دی، بېشکه هغه په هر شي باندې ښه قادر دی). [فصلت سورت: 39 آيت].

او - اوبه - يې د خپلو لښکرو څخه يو لښکر ګرځولي، نو د خپلو دوستانو مرسته يې پرې کړې، الله رب العزت فرمايلي:

﴿إِذْ يُغَشِّيكُمُ ٱلنُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ ٱلشَّيْطَٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ ٱلْأَقْدَامَ ﴿١١﴾﴾ [الأنفال: 11]

(کله چې هغه (الله) پر تاسو باندې له خپل طرف نه پرکالي اچوله د امن (او اطمينان) لپاره، او پر تاسو باندې يې له بره نه اوبه نازلولې، د دې لپاره چې تاسو په دې سره ښه پاك کړي او له

تاسو نه د شیطان پلیتي لرې کړي او د دې لپاره چې ستاسو زړونه مضبوط کړي او په دې سره (ستاسو) قدمونه کلك کړي). [الأنفال سورت: 11آیت]

، او خپل دښمنان یې پرې ذلیله کړي دي، الولي الحمید ذات فرمایلي دي:

﴿فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَغۡلُوبٞ فَٱنتَصِرۡ ۝١٠ فَفَتَحۡنَآ أَبۡوَٰبَ ٱلسَّمَآءِ بِمَآءٖ مُّنۡهَمِرٖ ۝١١ وَفَجَّرۡنَا ٱلۡأَرۡضَ عُيُونٗا فَٱلۡتَقَى ٱلۡمَآءُ عَلَىٰٓ أَمۡرٖ قَدۡ قُدِرَ ۝١٢﴾ [القمر: 10-12]

(او له ځمکي نه مو چیني رواني کړې، نو اوبه په هغه کار باندې سره یوځای (او ګډې) شوې چې مقرر شوی و) [القمر سورت: 10-12آیتونه]،

او داسې نور حالتونه چې الله تعالی پکې اوبه د خپلو دوستانو د ملاتړ او یا د هغوی د دښمنانو د ذلت او رسوایۍ لامل ګرځولې دي.

## باب دی د قلم د پیدایښت په باره کې

او مونږ باور لرو چې الله -تعالی- هغه قلم پیدا کړی چې تقدیر یې لیکلی، پیغمبر -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: «په حقیقت کې، لومړی شی چې الله پاک پیدا کړ قلم دی، هغه ته یې وویل: ولیکه، هغه وویل: ربه، زه څه ولیکم؟ هغه وفرمایل: د هر شي چې تر قیامته پورې دی د هغې مقدار او اندازې ولیکه». (ابوداود (4700)، ترمذي (2155، 3319)، طیالسي (578)، احمد (22705، 22707) او ابن ابي عاصم په سنن کې په(115) شمیره روایت کړی دی). او موږ باور لرو چې قلمونه څو (زیات) دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله د اسراء او معراج په اړه خبر ورکاوه نو ویې فرمایل: "بیا زه پورته کړی شوم تر څو یوې درجې ته ورسیدم؛ هلته ما د قلمونو - د لیک - کشاری اوریده ". (بخاري (349)، او مسلم (163) روایت کړی دی.) په قرآن او سنتو کې د ملائکو لخوا د عملونو د لیکلو خبر بار بار راغلی دی، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي: ﴿وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ ۝١٠ كِرَامٗا كَٰتِبِينَ ۝١١ يَعۡلَمُونَ مَا تَفۡعَلُونَ ۝١٢﴾ [الانفطار: 10-12]

(دوی په هغه څه پوهیږي چې تاسو یې کوئ) [الانفطارسورت : 10 -12 آیتونه].

او الله ـ تعالی فرمایلي:

﴿قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ فَلَنۡ أَكُونَ ظَهِيرٗا لِّلۡمُجۡرِمِينَ ١٧ فَأَصۡبَحَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ خَآئِفٗا يَتَرَقَّبُ فَإِذَا ٱلَّذِي ٱسۡتَنصَرَهُۥ بِٱلۡأَمۡسِ يَسۡتَصۡرِخُهُۥۚ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِيّٞ مُّبِينٞ ١٨﴾ [القصص: 17-18]

دغه بنده) هېڅ خبره نه کوي مګر له ده سره حاضر ساتونکی دی]. [ق سورت: 17، 18 آيتونه].

او الله تعالى فرمايلي:

﴿وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ مِّنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُمۡ إِذَا لَهُم مَّكۡرٞ فِيٓ ءَايَاتِنَاۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسۡرَعُ مَكۡرًاۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكۡتُبُونَ مَا تَمۡكُرُونَ ٢١﴾ [يونس: 21]

(او کله چې مونږ په خلکو باندې څه رحمت وڅکو، وروسته له هغه تکليف نه چې دوی ته رسېدلی وي (، نو) ناڅاپه دوی زمونږ په آيتونو کې مکرونه (او سازشونه) شروع کړي، ته ووايه: الله د مکر په لحاظ سره تر ټولو تېز دی، بېشکه زمونږ رسولان (ملايك) ليکي هغه څه چې تاسو کوم مکر کوئ). [يونس سورت: 21 آيت]

او الله - تعالى - فرمايلي:

﴿أَمۡ يَحۡسَبُونَ أَنَّا لَا نَسۡمَعُ سِرَّهُمۡ وَنَجۡوَىٰهُمۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيۡهِمۡ يَكۡتُبُونَ ٨٠﴾ [الزخرف: 80]

(آيا دوی دا ګمان کوي چې بېشکه مونږ د دوی پټې خبرې او پټې مشورې نه اورو، ولې نه! او زمونږ رسولان ليکل کوي د دوی ترڅنګه). [الزخرف سورت: 80 آيت].

او په «صحيح البخاري» کې راځي چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: "په تاسو کې هيڅ يو نشته، او هيڅ يو ساکښ نشته مګر دا چې د هغه ځای له جنت او يا دوزخ څخه ټاکل شوی دی، مګر دا چې -تقدير- يې ليکل شوی چې بدمرغه به وي که نيکمرغه". بخاري (۴۹۴۸)، مسلم (۲۶۴۷)، ابو داود (۴۶۹۴)، ترمذي (۲۱۳۶، ۳۳۴۴) او ابن ماجه (۷۸) روايت کړی دی. همدارنګه فرمايلي يې دي: « کله چې يو څوک تاسو نه ښه مسلمان شو، نو هره نيکي چې کوي لس چنده - ثواب - ورته ليکل کيږي، تر اووه سوه چنده پورې، او هره بدي چې کوي يو چند ورته ليکل کيږي ». (بخاري (42، 7501)، مسلم (128، 129، 130) او ترمذي (3073).)

# باب دی د کرسۍ د پیداښت په باره کې

موږ باور لرو چې کرسۍ له عرش څخه وروسته تر ټولو لوی مخلوق دی، الله تعالی د دې د عظمت د بیانولو په اړه فرمایلي: ( پراخه دی هغه د دوو قدمونو ځای د الله تعالی د اسمانونو او د ځمکې څخه). څوکۍ د عرش په مخ کې ده او هغه د دواړ قدمونو ځای دی. ابن عباس -رضی الله عنهما- د دې آیت په تفسیر کې ویلي دي: "کرسۍ د پښو ځای دی، او د عرش اندازه هیڅوک نه شي کولی ". (دارقطني په صفاتو کې مرفوع او موقوف ذکر کړی(۳۶) او عثمان بن سعید الدارمي په بشر المریسی باندې د رد په موخه ذکر کړی (۸۴، ۸۹) . او عبدالله بن احمد په السنة کې روایت کړی (586)، او ابن خزیمه په "توحید" (154) کې، او ابو الشیخ په "العظمة" کې (216، 217). او رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: "د کرسۍ په مقابل کې اوه اسمانونه بل څه نه دي مګر په لویه صحرا کې د یوې غورځول شوې حلقې (کړۍ) په څیر، او د عرش غوره والی په کرسۍ باندې داسي ده لکه څومره چې هغه صحرا په هغې حلقې (کړۍ) باندې غوره والی لري". (ابن حبان (۳۶۱)، او په (المجروحین) کې (۱۳۰/۳)، طبرانی په الکبیر کې (۱۶۵۱) ، او په المکارم کې (۱)، الآجری په الأربعین کې (۴۰) روایت کړی دی. او ابو الشیخ په العظمه کې (۲۵۹ مخ)، او ابو نعیم په الحلیة کې (۱) / ۱۸ او ۱۶۶ – ۱۶۸، البیهقي په الأسماء کې (۵۱۰ – ۵۱۱ مخونه)، او په الشعب کې (۴۳۲۵ او ۷۶۶۸ مخ)، او ابن عبدالبر په التمهید کې (199/9) ، چې هغه یو اورد حدیث دی، او دلته زموږ دا حدیث د همغه له جملې څخه دی، او نوموړی حدیث ډېر طرق لري، خو ضعیفه دي نه صحیح کیږي، او عقیلي ځینې دغه طرق ذکر کړي دي او د هغو ضعف ته یې اشاره کړې ده،او ابن عدي هم ذکر کړي دي او ویلي یې دي: دا حدیث لدې لارې منکر دی کوم چې له ابن جریج، له عطاء له عبید بن عمیر له ابو ذر څخه روایت شوی. او دا حدیث د ابوذر په روایت د ابو ادریس خولانی او القاسم بن محمد څخه او دریم د ابن جریج له حدیث څخه پرته بله لاره نه لری، او دا یې له ټولو منکرترین روایت دی» خو دا حدیث مشهور دی او لده پرته بل چا د کرسۍ په اړه مرفوع ندی روایت کړی، نو سره لدې چې ضعیف او منکر دی مونږ بیا هم راوړ). همدا رنګه بیهقي هم له عباس بن محمد څخه روایت کړی دی فرمایي: ما له ابو عبید څخه اوریدلي چې ویل یې: «دا حدیثونه چې پکې وایي: زمونږ رب د خپلو بنده ګانو د مایوسۍ نه او په نږدې وخت کې د هغوی حال ته بدلولو ته وخندل، او جهنم تر هغه پورې نه ډکیږي تر څو چې هغه - ذات - خپل قدم پکې کینږدي، او کرسۍ د دواړو قدمونو - د ایښودلو - ځای دی ، او دا حدیثونه د روایت له مخې زمونږ په اند حق دي، چې ځینو له ځینو نورو څخه روایت کړي دي، مګر که

چیرته یې زمونږ څخه د تفسیر په اړه پوښتنه وشي مونږ یې نه تفسیر کوو، او مونږ هیڅوک داسې ندي لاندې کړي چې هغوی دې یې تفسیر کړی وي. (الأسماء والصفات، بیهقی (۲/۱۹۸).

## باب دی د آسمانونو او ځمکې د پیدایښت په باره کې

او مونږ باور لرو چې الله - تعالی - آسمانونه او ځمکه او هغه څه چې د دوی په مینځ کې دي د الله له ورځو څخه په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي او هیڅ ستړیا او ستوماني ورته نده رسیدلې، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ﴿٣٨﴾﴾ [ق: 38]

(او یقینًا یقینًا مونږ آسمانونه او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مینځ کې دي، په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، او مونږ ته هېڅ ستوماني نه ده رارسېدلې). [ق سورت: 38 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ...﴾ [الأنبياء: 30]

(آیا هغه کسان چې کافران شوي دي په دې نه دي خبر شوي چې یقینًا یقینًا آسمانونه او ځمکه دواړه سره نښتي وو، بیا مونږ دواړه بېل کړل) [الأنبياء سورت: 30 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿۞ قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَرْضَ فِى يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُۥٓ أَندَادًا ۚ ذَٰلِكَ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴿٩﴾ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ مِن فَوْقِهَا وَبَٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقْوَٰتَهَا فِىٓ أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِينَ﴿١٠﴾ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ﴿١١﴾ فَقَضَىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَاتٍ فِى يَوْمَيْنِ وَأَوْحَىٰ فِى كُلِّ سَمَآءٍ أَمْرَهَا ۚ وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفْظًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ﴿١٢﴾﴾ [فصلت: 9-12]

او الله تعالی فرمایلي:

﴿ءَأَنتُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُۚ بَنَىٰهَا ٢٧ رَفَعَ سَمۡكَهَا فَسَوَّىٰهَا ٢٨ وَأَغۡطَشَ لَيۡلَهَا وَأَخۡرَجَ ضُحَىٰهَا ٢٩ وَٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ٣٠ أَخۡرَجَ مِنۡهَا مَآءَهَا وَمَرۡعَىٰهَا ٣١ وَٱلۡجِبَالَ أَرۡسَىٰهَا ٣٢ مَتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِأَنۡعَٰمِكُمۡ ٣٣﴾ [النازعات: 27-33]

(آیا تاسو د پیدا کولو په لحاظ ډېر سخت یئ، یا که آسمان، دغه هغه (الله) جوړ کړی دی) * (د ده چت یې اوچت کړی دی، نو دغه یې ښه برابر جوړ کړی دی) * (او د ده شپه یې توره تیاره کړې ده او د ده رڼا یې راوېستلې ده) * (او ځمکه یې له ده نه وروسته غوړولې ده) أ * (ده له دغې (ځمکې) نه یې د دې اوبه او د دې واښه راایستلي دي). * (او غرونو لره، ده دغه محکم کړي دي) مَتَاعًا لَّكُمْ وَلأَنْعَامِكُمْ} (ستاسو او ستاسو د څارويو د فايدې لپاره) [النازعات سورت: 27-33 آیتونه]

. او موږ باور لرو چې الله تعالی آسمانونه پرته له ستنو پورته کړي دي، هغه حق ذات فرمایلي دي:

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِي رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوقِنُونَ ٢﴾ [الرعد: 2]

(الله هغه ذات دی چې آسمانونه یې اوچت کړي دي، بې له ستنو، چې تاسو هغه وینئ، بیا یې په عرش باندې بره شو، او ده لمر او سپوږمی مسخر کړي دي، هر یو یې تر مقررې نېټې پورې روان دی، هغه، د هر کار تدبیر کوي، دلیلونه ښه په تفصیل سره بیانوي، د دې لپاره چې تاسو د خپل رب پر ملاقات یقین وکړئ) [الرعد سورت: 2 آیت]

، او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ وَأَلۡقَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمۡ وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٖۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجٖ كَرِيمٍ ١٠﴾ [لقمان: 10]

(هغه، آسمانونه بې له ستنو پیدا کړي دي چې تاسو هغه وینئ او په ځمکه کې یې پاخه غرونه غورځولي (پیدا کړي) دي چې دغه (ځمکه) تاسو ونه خوځوي. او په دغې (ځمکه) کې یې هر قسمه خځنده (زنده سر) خواره کړي دي او مونږ له بره نه اوبه نازلې کړې دي، بیا مونږ په دغې (ځمکه) کې هر قسمه ښې عمده (غلې، ګیاګانې) رازرغونې کړي) [لقمان سورت: 10آیت]

. او مونږ باور لرو چې الله تعالی آسمانونه او ځمکه نیسي چې زایل نه شي، الله تعالی فرمايلي: ﴿۞ إِنَّ ٱللَّهَ يُمۡسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ أَن تَزُولَاۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنۡ أَمۡسَكَهُمَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ٤١﴾ [فاطر: 41]

(ببشکه چې الله آسمانونه او ځمکه ساتي او (نیسي يې) چې زایل نشي او قسم د ی که دواړه په زوال شي (نو) له هغه (الله) نه غیر به يې هیڅوك ونه ساتلی شي) (ونه نیولی) شي، ببشکه هغه (الله) دی، ښه صبر ناک، ډېر بخښونکی) [فاطر سورت: 41 آیت].

او مونږ ایمان لرو چې هغه پاک ذات آسمان ساتي لدې نه چې په ځمکه راولویږي مګر د هغه په حکم سره، الله تعالی فرمايلي:

﴿... وَيُمۡسِكُ ٱلسَّمَآءَ أَن تَقَعَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦٓۚ ...﴾ [الحج: 65]

(او هغه اسمان ساتي له دې نه چې په ځمکه باندې راولویږي مګر (خو) د هغه په حکم سره) [الحج سورت: 65 آیت].

او مونږ باور لرو چې الله تعالی د دې مخلوقاتو چارې اداره کوي او ساتنه يې کوي او دا هغه لره نه ستړی کوي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿... وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٢٥٥﴾ [البقرة: 255]

(پراخه ده کرسی د هغه د اسمانونو او د ځمکې نه او د دې دواړو ساتنه هغه (الله) نه ستړی کوي، او هم هغه ډېر اوچت دی، ډېر لوی دی). [البقرة سورت: 255 آیت]

. او مونږ باور لرو چې الله دا لوی مخلوقات د لویو حکمتونو لپاره پیدا کړي دي چې هغې باندې احاطه نشې کیدلای، او الله تعالی د دې پیدایښت او جوړښت په ډیره زیرکتیا سره کړی دی، الله تعالی فرمايلی:

﴿وَتَرَى ٱلۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا جَامِدَةٗ وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِۚ صُنۡعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍۚ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ بِمَا تَفۡعَلُونَ ٨٨﴾ [النمل: 88]

(او ته به غرونه وینې، ته به په دوی د کلکو ولاړو ګومان کوې، حال دا چې دوی به د وریځې د تیرېدلو په شان تیرېږي، (وګورئ) کاریګري د الله هغه چې هر شی يې محکم کړی دی، ببشکه هغه ښه خبردار دی په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ). [النمل سورت: 88 آیت]،

او الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا لَٰعِبِينَ ٣٨﴾ [الدخان: 38]

(او مونږ آسمانونه او ځمکه او هر هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي؛ نه دي پيدا کړي، په داسې حال کې چې عبث او لوبې کوونکي يو). [الدخان سورت: 38 آيت]

، او الله تعالى فرمايلي:

﴿وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡزُونٖ ١٩ وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسۡتُمۡ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ ٢٠ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٖ مَّعۡلُومٖ ٢١﴾ [الحجر: 19-21]

(او ځمکه، مونږ هغه غځولې ده او مونږ په هغې کې غرونه غورځولي دي او مونږ په هغې کې هر اندازه کړی شوی شی زرغون کړی دی) * (او مونږ ستاسو لپاره په هغې کې معيشتونه پيدا کړي دي او هغه هم چې تاسو هغه ته روزي ورکوونکي نه يئ). (او نشته هېڅ څيز مګر زمونږ سره د هغه خزانې دي او مونږ هغه نه نازلوو مګر په معلومې اندازې سره) [الحجر سورت: 19-21 آيتونه].

الله تعالى د ځمکې او آسمانونو په پيدا کولو سره په خپل ربوبيت استدلال وکړ، هغه ربوبيت چې الوهيت ترې لازميږي، نو هغه لوړ ذات وفرمايل:

﴿أَمَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهۡجَةٖ مَّا كَانَ لَكُمۡ أَن تُنۢبِتُواْ شَجَرَهَآۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ يَعۡدِلُونَ ٦٠﴾ [النمل: 60]

(بلکې هغه ذات (بهتر دی) چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي او ستاسو لپاره يې له بره نه اوبه نازلې کړې دي، نو هم مونږ په هغو سره د رونق (او ښايست) والا باغونه زرغون کړل، ستاسو لپاره دا طاقت نشته چې تاسو د هغو (باغونو) ونې زرغونې کړئ، آيا له الله سره بل معبود شته؟ بلکې دوی يو داسې قوم دی چې (له الله سره د نورو) برابري کوي). [النمل سورت: 60 آيت]

، او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ٦١﴾ [العنكبوت: 61]

. (او قسم دى كه ته له دوى نه پوښتنه وكړې چې آسمانونه او ځمكه چا پيدا كړي دي او (چا) لمر او سپوږمۍ مسخر كړي دي؟ دوى به خامخا ضرور ووايي چې الله (پيدا كړي او مسخر كړي دي)، نو كوم طرف ته دوى واړولاى شو د حق نه؟) [العنكبوت سورت: 61 آيت]،

او الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ٦٣﴾ [العنكبوت: 63]

(او قسم دى كه ته له دوى نه پوښتنه وكړې چې چا له آسمان نه اوبه نازلې كړې دي، بيا يې په هغو سره ځمكه د هغې له مرګ نه پس ژوندۍ كړې ده؟ (نو) خامخا ضرور به دوى ووايي چې الله (دا كار كړى دى) ته ووايه: ټول د كمال صفتونه خاص د الله لپاره دي بلكې د دوى اكثره عقل نه لري). [العنكبوت سورت: 63 آيت].

او موږ باور لرو چې الله تعالى ځمكه د ازمايښت ځاى ګرځولى دى، الله تعالى فرمايلي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ وَكَانَ عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۗ ...﴾ [هود: 7]

(او دى هماغه ذات دى چې آسمانونه او ځمكه يې په شپږو ورځو كې پيدا كړي دي، په داسې حال كې چې د هغه عرش په اوبو باندې و، د دې لپاره چې هغه تاسو وازمايي چې په تاسو كې د عمل په لحاظ څوك ډېر ښه دى). [هود سورت: 7 آيت]،

او همدارنګه يې ځاى د آرام، ژوند او راجمع كولو ګرځولې، الله تعالى فرمايي:

﴿۞مِنۡهَا خَلَقۡنَٰكُمۡ وَفِيهَا نُعِيدُكُمۡ وَمِنۡهَا نُخۡرِجُكُمۡ تَارَةً أُخۡرَىٰ٥٥﴾ [طه: 55]

(له هم دې (ځمكې) نه موږ تاسو پيدا كړي ياست او په همدې كې به موږ تاسو ننباسو، او بل كرت به موږ تاسو راوباسو) [طه سورت: 55 آيت].

او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ كِفَاتًا ۝٢٥ أَحۡيَآءٗ وَأَمۡوَٰتٗا ۝٢٦﴾ [المرسلات: 25-26]

(ژوندو لره او مړو لره). [المرسلات سورت: 25، 26 آيتونه]

. او موږ باور لرو چې دا ستر كائنات د الله رب العالمين ستاينه كوي، الله تعالی فرمايلي:

﴿تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ۝٤٤﴾ [الإسراء: 44]

(خاص د هغه لپاره تسبيح وايي اوه اسمانونه او ځمكه او هغه څوك چې په دغو كې دي، او نشته هېڅ يو شی مګر د هغه له ستايني سره تسبيح وايي او لېكن تاسو د هغو پر تسبيح نه پوهېږئ، بېشكه هغه له ازله ډېر تحمل والا، ډېر بخښونكی دی). [الإسراء سورت: 44 آيت]

، او د هغه د عظمت تابع دي الله تعالی فرمايلي:

﴿ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٞ فَقَالَ لَهَا وَلِلۡأَرۡضِ ٱئۡتِيَا طَوۡعًا أَوۡ كَرۡهٗا قَالَتَآ أَتَيۡنَا طَآئِعِينَ ۝١١﴾ [فصلت: 11]

(بيا يې د آسمان په طرف اراده وكړه، په داسې حال كې چې هغه يو لوګی و، نو هغه (الله) ده ته او ځمكې ته وويل: تاسو دواړه راشئ، په خپلې خوښې سره، يا په زور سره، دواړو وويل: مونږ په خوښې سره (فرمان منونكي) راغلو). [فصلت سورت: 11آيت]

. او دا كاينات سره لړزېږي لدې وېرې چې بنده ګان د رب العالمين په وړاندې سرغړونه ونه كړي، رب العالمين فرمايي:

﴿تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِنۡهُ وَتَنشَقُّ ٱلۡأَرۡضُ وَتَخِرُّ ٱلۡجِبَالُ هَدًّا ۝٩٠ أَن دَعَوۡاْ لِلرَّحۡمَٰنِ وَلَدٗا ۝٩١﴾ [مريم: 90-91]

(نژدې دي چې آسمانونه له دې نه وچوي او ځمكه ټوټې ټوټې شي او غرونه راولوېږي ذرې ذرې). (په دې خبره چې دوی د رحمٰن لپاره اولاد وباله) [مريم سورت: 90، 91 آيتونه].

## باب دی د لمر او سپوږمۍ د پيدايښت په اړه

او موږ باور لرو چې الله لمر او سپوږمۍ پيدا كړي دي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ فِى فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ٣٣﴾ [الأنبياء: 33]

(او دی همغه ذات دی چې شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ يې پيدا کړي دي، هر يو په (خپل) فلك (دايره) کې ګرځي) [الأنبياء سورت: 33 آيت]

**. او موږ باور لرو چې لمر او سپوږمۍ ګرځي، لکه څرنګه چې الله تعالی موږ ته په خپلې دې وينا کې فرمايلي دي:**

﴿وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِى لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ٣٨ وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ٣٩ لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِى لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِى فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ٤٠﴾ [يس: 38-40]

(او لمر (دی چې) په خپلې ټاکلې لارې باندې روان دی، دغه د ډېر غالب، ښه پوه ذات مُقَدر (اندازه) کول دي) * (او سپوږمۍ لره، موږ د هغې لپاره منزلونه مقرر کړي دي، تر هغه پورې چې دا شي لکه د کجورې وچه لښته) 36-40 (لمر لره ممکن نه دي چې سپوږمۍ رالاندې کړي او نه شپه په ورځ ړومبۍ کېدونکې ده او هر يو په (خپل) مدار کې لامبو وهي). [يس سورت: 38-40 آيتونه]،

**نو لوړ دی شان د هغه ذات چې تر ټولو ښايسته پيدا کوونکی دی. په خپلو بندګانو د هغه له رحمت څخه يو دا دی چې هغه (دواړه) يې د خپل امر تابع ګرځولې. د بندګانو د ګټو د تحقق لپاره، الله تعالی فرمايلي:**

﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ دَآئِبَيۡنِۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ٣٣﴾ [إبراهيم: 33]

(او ستاسو لپاره يي لمر او سپوږمۍ په کار لګولي دي، په داسې حال کې چې د قانون مطابق ګرځي او ستاسو لپاره يې شپه او ورځ په کار لګولي دي) [إبراهيم سورت: 33 آيت]

**، او الله تعالی فرمايلي دي:**

﴿... وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ ...﴾ [الأعراف: 54]

لمرسترګه، او سپوږمۍ او ستوري، چې د هغه په حکم سره مسخر کړی شوي دي)، [الأعراف سورت: 54 آيت].

الله تعالی لمر او سپوږمۍ د لويو حکمتونو لپاره پيدا کړي دي چې په هغې احاطه ناشونې ده، د هغه حکمتونو له جملې نه يې ځينې د الله تعالی پدې وينا کې راغلي چې فرمايي:

﴿فَالِقُ ٱلۡإِصۡبَاحِ وَجَعَلَ ٱلَّيۡلَ سَكَنٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ حُسۡبَانٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ۝٩٦﴾ [الأنعام: 96]

(د سبا (د رڼا) چوونکی دی او شپه يې د ارام ذريعه ګرځولې ده او لمرسترګه او سپوږمۍ يې د حساب ذريعې ګرځولې دي، دا د ښه غالب، ښه پوهه ذات اندازه کول دي) [الأنعام سورت: 96 آيت].

ابن عباس رضی الله عنهما فرمايلي دي:

﴿... وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ حُسۡبَانٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ٩٦﴾ [الأنعام: 96]

(يعنې د ورځو، مياشتو او کلونو شمېر). [الأنعام: 96]

(تفسير الطبري (11/ 558)). همدارنګه الله تعالی د لمر او سپوږمۍ د پيدايښت د ځينو حکمتونو په اړه فرمايلي دي:

﴿هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ ٱلشَّمۡسَ ضِيَآءٗ وَٱلۡقَمَرَ نُورٗا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَۚ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ۝٥﴾ [يونس: 5]

(هم هغه (الله) دی چې (تيکلی د) لمر يې تېز ځلېدونکی ګرځولی دی او (تيکلی د) سپوږمۍ يې روښانه او هغه يې منزلونه منزلونه مقرر کړه (او منزلونه يې مقرر کړل)، د دې لپاره چې تاسو د کلونو شمېره او حساب معلوم کړئ ، الله دغه (څيزونه) نه دي پيدا کړي مګر په حقه سره، هغه آيتونه (دليلونه) په تفصيل سره بيانوي، د هغو خلقو لپاره چې پوهېږي) [يونس سورت: 5 آيت]

. او مونږ باور لرو چې الله - تعالی - (لمر او سپوږمۍ) له خپلو لويو نخښو څخه ګرځولې چې د هغه په ربوبيت دلالت کوي، هغه ربوبيت چې د هغه الوهيت ورڅخه لازميږي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ۝٦١﴾ [العنكبوت: 61]

(او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې آسمانونه او ځمکه چا پیدا کړي دي او (چا) لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي؟ دوی به خامخا ضرور ووایي چې الله (پیدا کړي او مسخر کړي دي)، نو څرنګه دوی ګرځولی شي؟). [العنکبوت سورت: 61 آیت]،

او الله پاک فرمایلي دي:

﴿وَمِنۡ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيۡلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُۚ لَا تَسۡجُدُواْ لِلشَّمۡسِ وَلَا لِلۡقَمَرِ وَٱسۡجُدُواْۤ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ٣٧﴾ [فصلت: 37]

(او د هغه له دلیلونو څخه شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ دي، تاسو مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمۍ ته او تاسو خاص الله ته سجده کوئ چې دغه (نخښې) یې پیدا کړې دي، که چېرې تاسو خاص د هغه عبادت کوئ). [فصلت سورت: 37 آیت]

. او په صحیح کې؛ رسول الله - صلى الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «إِنَّ الشَّمْسَ وَالقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ، لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ، وَلَكِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يُخَوِّفُ بِهَا عِبَادَه». «لمر او سپوږمۍ د الله تعالی له نښانو څخه دوه نښې دي، د چا د مرګ له امله پرې کسوف (لمر او سپوږمۍ نیونه) نه راځي او نه د چا د ژوند له امله، مګر الله تعالی پدې دواړو سره خپل بنده ګان ویروي». (بخاري (1048) او النسائي (1459) . او موږ باور لرو چې لمر او سپوږمۍ الله - رب العالمین - ته سجده کوي، لکه څنګه چې نور مخلوقات سجده کوي، الله -تعالی- فرمایلي:

﴿أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسۡجُدُ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلۡجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٞ مِّنَ ٱلنَّاسِۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيۡهِ ٱلۡعَذَابُۗ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكۡرِمٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يَشَآءُ۩١٨﴾ [الحج: 18]

(آیا ته نه وینې چې بېشکه الله (چې دی) ده ته سجده کوي هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هر هغه چې په ځمکه کې دي او لمر او سپوږمۍ او ستوري او غرونه او ونې او څاروي او ډېر له خلکو ځیني او (په دوی کې) ډېر داسې دي چې په هغو باندې عذاب ثابت شوی دی او هغه څوك چې الله یې سپك كړي، نو ده ته هیڅوك عزت وركوونكی نشته، بېشكه الله كوي هغه څه چې اراده یې وکړي) [الحج سورت: 18 آیت].

او موږ ایمان لرو چې لمر هره ورځ د عرش لاندې سجده کوي، لکه څنګه چې ریښتیني او تصدیق شوي پیغمبر - صلى الله علیه وسلم - پدې خبر ورکړی. له أبو ذر - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمایي؛ پیغمبر صلى الله علیه وسلم ورته وفرمایل کله

چې لمر ډوب شو: «آیا پوهیږې چې دا چیرته ځي؟"ما وویل: الله او رسول یې ښه پوهیږي، ویې وفرمایل: " هغه ځي تر دې چې د عرش لاندې سجده وکړي، نو اجازه وغواړي، او اجازه ورته ورکړل شي، او نږدې ده چې - یوه ورځ - سجده وکړي، او ورڅخه قبوله نه شي، او اجازه وغواړي، نو اجازه ورنکړل شي، - بلکه - ورته وویل شي: هغه ځای ته بیرته وګرځه چې ورڅخه راغلی یې، نو د لویدیځ له لورې به راوخیژي، دا د الله -تعالی- هغه قول دی چې فرمایي:

او لمر (دی چې) په خپلې ټاکلې لارې باندې روان دی، دغه د ډېر غالب، ښه پوه ذات مُقَدر (اندازه) کول دي». (بخاري (3199)، مسلم (159)، ابوداود (4002) او ترمذي (2186، 3227). روایت کړی دی.

## باب دی د ستورو د پیدایښت په اړه

او موږ ایمان لرو چې الله -تعالی- ستوري او سیارې د لویو حکمتونو له مخې پیدا کړي دي، چې له ځینو څخه یې الله رب العزت په دې قول کې یادونه کړې.

﴿وَعَلَٰمَٰتٖۚ وَبِٱلنَّجۡمِ هُمۡ يَهۡتَدُونَ ١٦﴾ [النحل: 16]

او علامې (یې مقرر کړې دي) او په ستورو سره دوی لار مومي. [النحل سورت: 16 آیت]،

قتاده رحمه الله فرمایي: العلامات: «ستوري دي، او الله - تعالی - دا ستوري د دریو کارونو لپاره پیدا کړي دي: د آسمان لپاره یې زینت ګرځولي، او د لار موندنې لپاره یې لارښود ګرځولي، او شیطانان پرې ویشتل کیږي، نو چا چې لدې پرته د نورو موخو لپاره پرې ځان بوخت کړ نو خپل دریځ یې ورک کړ، او خپله برخه یې خطا کړه، او خپله برخه یې ورکه کړه. او په هغه څه یې ځان بوخت کړ چې نه پرې پوهیږي». (تفسیر الطبري (17/ 185).) او له أبو موسی - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمایي: د ماښام لمونځ مو له پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - سره وکړ، بیا مو وویل: که چیرته کینو تر څو ورسره ماخوستن لمونځ وکړو. وایي: نو کېناستو، - تر دې چې- پر موږ راووت، او ویې فرمایل: آیا تر اوسه همدلته یاست؟ موږ وویل: ای د الله رسوله، د ماښام لمونځ مو تا سره وکړ، بیا مو وویل: کینو تر څو درسره د ماخوستن لمونځ هم وکړو، ویې فرمایل: "ښه مو وکړل، یا سم کار مو وکړ" وایي : آسمان ته یې سر پورته کړ، او ډیری وخت به یې سر آسمان ته پورته کاوه، نو ویې فرمایل: "آسمان په ستورو باندې خوندی دی، نو کله چې ستوري له منځه لاړ شي، آسمان ته هغه څه راځي چې وعده یې شوې ده

- چې هغه چاودیدل - دي ، او زما ملګري په ما خوندي دي، نو کله چې زه لاړم زما ملګرو ته به هغه څه راشي چې وعده يې کړی شوې ده - يعنې فتنې او جنګونه - او زما امت زما په صحابه و خوندي دی، نو کله چې زما صحابه لاړل، زما امت ته به هغه څه راشي چې وعده يې ورسره کړی شوې ده . - يعنې فتنې، جنګونه، د باندچیانو مرتد کېدل، د زړونو مخالفتونه او داسي نور..-». ( مسلم روايت کړی دی (2531)). او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدْ زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ وَجَعَلْنَٰهَا رُجُومًا لِّلشَّيَٰطِينِ ...﴾ [الملك: 5]

(او يقينًا يقينًا مونږ دا تر ټولو نژدې اسمان په ډیوو (ستورو) سره ښايسته کړی دی او مونږ دغه (ډيوې، يعني ستوري) د شيطانانو د ویشتلو لپاره ذريعې جوړې کړې دي). [الملك سورت: 5 آيت].

او له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روايت دی فرمايي: د پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - له صحابه کرامو څخه يو انصاري صحابي خبر راکړ، چې هغوی يوه شپه د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - سره ناست وو چې يو ستوری وویشتل شو نو رڼا يې وکړه، نو رسول الله - صلى الله عليه وسلم - دوی ته وويل: "په جاهليت کې به مو څه وييل، کله به چې داسي شی وغورځول شو؟" هغوی وويل: الله او رسول يې ښه پوهيږي، مونږ به وييل: نن شپه يو لوی انسان پيدا شو، او لوی انسان مړ شو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "دا د هيچا په مرګ يا ژوند کې نه غورځول کيږي، مګر زمونږ رب - تبارک وتعالی اسمه - کله چې د يو کار فيصله وکړي؛ عرش باروونکي ملايکې تسبيح ووايي، بيا هغوی ته نږدې د اسمان خلک تسبيح ووايي، تر دې چې تسبيح د دنيا د آسمان خلکو ته ورسيږي، بيا يې وويل: بيا هغه ملايکې چې عرش باروونکو ملايکو ته نږدې دي ورته ووايي چې: ستاسو رب څه وويل؟ نو په هغه څه يې خبر کړي چې ويلي يي وي». وايي: نو د آسمان خلک ځيني له ځينو نورو څخه پوښتنې وکړي، تر دې چې خبر د دنيا آسمان ته راورسيږي، نو پيريان يې په غلا سره واوري، بيا يې د خپلو بادارانو غوږونو ته ورسوي، نو پدې - ستورو - سره ويشتل کيږي، نو په کوم څه يې چې په حقيقت سره راتګ وکړ نو هغه ربنتيا دي، خو هغوی ورسره دروغ ګډ کړي او زيادت پکې راولي». (مسلم روايت کړی (2229)). او شيطانانو به په غلا سره اوریدل کول، خو کله چې زمونږ پيغمبر محمد - صلى الله عليه وسلم - ولیږل شو، بيا د اوريدلو لپاره له ناستې نه منعه شول، الله رب العزت د هغوی له حال نه د خبرولو په موخه فرمايلي دي:

﴿وَأَنَّا كُنَّا نَقۡعُدُ مِنۡهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمۡعِۖ فَمَن يَسۡتَمِعِ ٱلۡأٓنَ يَجِدۡ لَهُۥ شِهَابٗا رَّصَدٗا ٩﴾ [الجن: 9]

(او دا چې بېشکه مونږ به د اورېدلو لپاره له دې (اسمان) نه د کېناستو په ځایونو کې کېناستو، نو هغه څوك چې اوس غواړي چې واوري (نو) دی به د ځان لپاره د اور لمبه منتظره ومومي). [الجن سورت: 9 آيت]،

او الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِزِينَةٍ ٱلۡكَوَاكِبِ ٦ وَحِفۡظٗا مِّن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ مَّارِدٖ ٧ لَّا يَسَّمَّعُونَ إِلَى ٱلۡمَلَإِ ٱلۡأَعۡلَىٰ وَيُقۡذَفُونَ مِن كُلِّ جَانِبٖ ٨ دُحُورٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ وَاصِبٌ ٩ إِلَّا مَنۡ خَطِفَ ٱلۡخَطۡفَةَ فَأَتۡبَعَهُۥ شِهَابٞ ثَاقِبٞ ١٠﴾ [الصافات: 6-10]

(بېشکه مونږ (ځمکې ته) زيات نژدې اسمان په زينت سره ښايسته کړی دی، چې ستوري دي. او له هر سرکښه شيطان نه مو ښه ساتلی دی. * دغه (شيطانان) تر ټولو لوړ مجلس ته غوږ نشي نيولی او دوی له هره جانبه ويشتل شي. دد شړلو لپاره او د دوی لپاره همېشنی عذاب دی. غير له هغه (شيطان) نه چې وتښتوي يو کرت تښتونه، نو په ده پسې شي لمبه رڼا کوونکې). [الصافات سورت: 6-10 آيتونه]

. او له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روايت دی فرمايي: «پېريان به آسمان ته ختل او وحي به يې اورېدله، نو کله به يې چې يوه کلمه واورېده، نهه به يې ورسره زياتې کړې، هغه يوه کلمه به حق وه، او هغه څه به چې دوی اضافه کړې وې هغه به باطل و، نو کله چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ولېږل شو - دوی- له ناستې نه منع شول، نو ابليس ته يې پدې اړه يادونه وکړه، پداسې حال کې چې لدې وړاندې په ستورو ويشتل نه کېدل، نو ابليس دوی ته وويل: خامخا دا د کوم کار له امله کيږي چې په ځمکه کې شوی دی، نو خپل عسکر يې ولېږل، - هغوی - رسول الله -صلى الله عليه وسلم- پداسې حال کې وموند چې د دوو غرونو تر منځه يې لمونځ کاوه - فکر کوم - په مکه کې، نو بيا دوی له ابليس سره مخ شول، او خبر يې کړ، هغه وويل: دا هغه پېښه ده چې په ځمکه کې شوې ده». (ترمذي (3324)، أحمد (2482)، نسائي په کبری کې (11562)، او أبو يعلى (2502)) روايت کړی دی. او موږ ايمان لرو چې ستوري او سيارې نه ګټه رسولای شي او نه زيان رسولای شي او نه د اسمان او ځمکې په پېښو کې اغيزه کوي او څوک چې دا عقيده لري چې دوی پخپله موثر دي هغه کفر يا شرک کړی دی. له ابن عباس - رضي الله عنهما- څخه روايت دی، چې د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- په وخت کې

په خلکو باران وشو، نو رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: «ځینو خلکو سهار کړو پداسې حال کې چې شکر ویستونکي وو او ځینې له دوی نه کافر وو» هغوی - شکر ویستونکو- وویل: دا د الله رحمت دی، او ځینو نورو وویل: یقینا فلانی او فلانی ستوری حق و - یعنې د فلاني او فلاني ستوري په ښکاره کېدو سره پر مونږ باران وشو - وايي: نو دا آیت نازل شو:

﴿۞ فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ٧٥ ... أَفَبِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَنتُم مُّدۡهِنُونَ ٨١ وَتَجۡعَلُونَ رِزۡقَكُمۡ أَنَّكُمۡ تُكَذِّبُونَ ٨٢﴾ [الواقعة: 75-82]

(نو زه د ستوریو د پرېوتو په ځایونو باندې قسم خورم) [الواقعه سورت: 75 آیت]

تر دې چې دې ځای ته ورسیده . [الواقعة سورت: 82 آیت]». (او تاسو خپله برخه دا ګرځوئ چې لازمًا تاسو یې تکذیب کوئ (دروغ یې ګڼئ). ( مسلم روایت کړی دی (73).
او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "هغه څه چې زه پرې په اخره زمانه کې زیات په خپل امت ویرېږم هغه په ستورو ایمان لرل، په تقدیر کافریدل او -په رعیت- د پادشاه ظلم دی». (رویاني (۱۲۴۵) او طبرانی په الکبیر (۸۱۱۳) کې روایت کړی دی.
او پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - په ستورو کې - د زده کړې په موخه - له لیدلو څخه منع فرمایلي ده ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "څوک چې د نجومي علم څخه څه زده کړي، هغه د جادو یوه برخه زده کړې ده، څومره یې چې زده کړه زیاتیږي همغومره یې د سحر د زده کړې کچه هم ورسره زیاتیږي" (ابوداود (3905)، ابن ماجه (3726)، ابن ابي شیبه (26159)، احمد (2000) او عبد بن حمید (714) روایت کړی دی. نو د نجومي علم زده کول روا نه دي مګر په هغه اندازه چې په وچه او لمده کې پرې لار موندل کیږي، ځکه چې د دې علم زده کړه کوډګرۍ ته لاره هواروي. له سعید بن جبیر څخه روایت دی وایي: عبد الله بن عباس ته یو سړی راغی، نو ویې ویل: ای أبو عباسه! ماته وصیت وکړه، نو هغه ورته وویل: د الله په تقوی درته وصیت کوم، او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو پسې له خبرو کولو ځان وژغوره، ځکه ته نه پوهیږې چې هغوی ته څومره فضیلت ورکړل شوی دی، او له نجومي کړنو ځان وساته مګر هغه چې په وچه او دریاب کې پرې لار موندل کیږي، ځکه هغه جادوګرۍ ته بلنه ورکوي. او د هغه خلکو له ناستې ځان وساته چې تقدیر دروغ ګڼي، او که څوک خوښ ګڼي چې دعا یې قبوله شي، عمل یې پاکیزه شي او ورڅخه قبول شي، نو په خبرو کې دې ریښتیا ووايي، او امانت دې - خپل خاوند - ته وسپاري، او مسلمانانو ته دې خپله

سینه - له کیني او بدبینی څخه - پاکه کړي. (ابن بطة په الابانة کې روایت کړی دی (1987).

## باب دی د ملایکو د پیدایښت په باره کې

او موږ ایمان لرو چې الله تعالی ملائکې له رڼا څخه پیدا کړي دي، په صحیح کې له عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "ملایکې له رڼا څخه پیدا شوې دي، پیریان د اور له خالصو لمبو څخه پیدا شوي دي، او ادم له هغه څه څخه پیدا شوی چې ستاسو لپاره بیان شوی دی". ( مسلم روایت کړی دی (2996). او الله -جل جلاله- ملایکې په خلقت کې - یو له بل سره - توپیر لرونکې ګرځولي دي، الله تعالی فرمايي:

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ جَاعِلِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِيٓ أَجۡنِحَةٖ مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۚ يَزِيدُ فِي ٱلۡخَلۡقِ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ﴾ [فاطر: 1]

. (ټولې ستاينې خاص د الله لپاره دي چې د آسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی دی، ملایکو لره رسولان ګرځوونکی دی، (داسې ملایك) چې د وزرو والا دي، دوه دوه او درې درې او څلور څلور، هغه په پیدا کولو کې زیاتوي چې څه وغواړي، بېشکه الله په هر شي باندې ښه قادر دی). [فاطر سورت: 1 آیت].

او رسول الله -صلی الله علیه وسلم- خبر ورکړی دی چې هغه جبرائیل -علیه السلام- ولیده، او هغه لره شپږ سوه وزرونه وو. او دا چې هغه لوی مخلوق دی. له ابو اسحاق الشیباني څخه روایت دی وایي چې : ما له زر بن حبیش څخه د الله تعالی د دې قول په اړه پوښتنه وکړه چې: ﴿فَكَانَ قَابَ قَوۡسَيۡنِ أَوۡ أَدۡنَىٰ ۝ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَىٰ عَبۡدِهِۦ مَآ أَوۡحَىٰ﴾ [النجم: 9-10]

[النجم سورت: 9◉ 10 آ◉تونه]

نو د دوه لیندو په مسافت شو بلکې (له دې نه هم) ډېر نژدې. نو هغه (الله د جبریل په ژبه) خپل بنده ته وحی وکړه، [النجم سورت: 9، 10 آیتونه]

هغه چې وحي یې وکړه. وایي ابن مسعود موږ ته حدیث بیان کړچې : «هغه - صلی الله علیه وسلم- جبریل ولید - پداسې حال کې - چې شپږ سوه وزرونه یې درلودل»،

(بخاري (۳۲۳۲)، مسلم (۱۷۴) او ترمذي (۳۲۷۷) روايت کړی دی. له عائشي -رضي الله عنها- څخه روايت دی فرمايي: «څوک چې دا دعوه کوي چې محمد - صلی الله عليه وسلم- خپل رب ليدلی دی، نو هغه - په الله - دروغ وويل، خو جبرائيل يې په خپل شکل کې ليدلی دی، او هغه افق (د ځمکې او اسمان) تر منځ مسافه بنده کړې وه». بخاري (۳۲۳۴)، مسلم (۱۷۷) او ترمذي (۳۰۶۸) روايت کړی.

او مونږ به د پرېښتو په اړه په (کتاب الايمان بالملائکة) کې په تفصيل سره د الله په اذن خبرې وکړو، او دلته يوازې د هغوی د خلقت په اړه په وينا کولو بسنه کوو.

## باب دی د پيريانو او شيطانانو د پيدايښت په اړه

او موږ باور ايمان لرو چې الله - تعالی - د پيريانو پلار (جان) له خالص (بې لوګي) اور له شغلو څخه پيدا کړی دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَٱلۡجَآنَّ خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ٢٧﴾ [الحجر: 27]

(او جانّ (پيری) مونږ هغه له ده نه مخکې د بې لوګي اور څخه پيدا کړی دی). [الحجر سورت: 27 آيت]،

او همدا رنګه فرمايلي يې دي:

﴿وَخَلَقَ ٱلۡجَآنَّ مِن مَّارِجٖ مِّن نَّارٖ١٥﴾ [الرحمن: 15]

(او جان (پيری) يې د اور له خالصې (بې لوګي) شغلې نه پيدا کړی دی) [الرحمن سورت: 15 آيت]

، او رسول الله - صلی الله عليه وسلم - فرمايلي دي: پرېښتې له رڼا(نور) څخه پيدا شوي دي، او جان ( پيری) د اور له خالصې شغلې څخه پيدا شوی دی او ادم عليه السلام له هغه څه څخه پيدا شوی چې تاسو ته بيان شوي دي. ( مسلم روايت کړی دی (2996).
او مونږ پدې ايمان لرو چې الله پاک پيريان او انسانان د خپل عبادت لپاره پيدا کړي دي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ٥٦﴾ [الذاريات: 56]

(او ما پېریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي) [الذاریات سورت: 56 آیت].

په پېریانو کې وعظ کوونکي (ویروونکي) وي او پیغمبران پکې نه وي، الله تعالی فرمایلي: ﴿وَإِذۡ صَرَفۡنَآ إِلَيۡكَ نَفَرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓاْ أَنصِتُواْۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوۡاْ إِلَىٰ قَوۡمِهِم مُّنذِرِينَ ٢٩﴾ [الأحقاف: 29]

(او هغه وخت (یاد کړه) چې مونږ تا ته د پېریانو یوه ډله راوګرځوله، چې قرآن به اوري، نو کله چې دوی ده (قرآن اوریدلو) ته حاضر شول، نو ویې ویل:چوپ شئ! نو کله چې (د قرآن تلاوت) تمام کړی شو (نو) دوی خپل قوم ته بېرته وګرځېدل، په داسي حال کې چې وېروونکي وو). [الأحقاف سورت: 29 آیت].

ابن عباس - رضي الله عنهما - فرمایلي دي: «پیغمبران له بني آدم څخه دي، او له پیریانو څخه ویروونکي دي». (تفسير ابن كثير (340/3).

(ای د پیریانو او انسانانو ډلې! آیا تاسو ته له هم تاسو نه رسولان نه وو راغلي چې تاسو ته به یې زما آیتونه بیانول)، نو مقصد ورڅخه: ستاسو له جملې نه دی، نه دا چې ستاسو ټولو څخه، دا لکه د الله تعالی د دې وینا په څېر دی: (او په دغو کې یې سپوږمۍ روښانه جوړه کړه)، او د الله تعالی دا قول: {فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا} (نو دوی د هغه تکذیب وکړ (دروغجن یې وګڼه) او هغه اوښه یې رخمي کړه (او مړه یې کړه)) سره لدې چې اوښه وژونکی له هغوی څخه یو نفر و.

موږ باور لرو چې د پېریانو پیدایښت د آدم له پیدایښت څخه مخکې دی. د دې وجې نه الله تعالی فرمایي:

﴿وَٱلۡجَآنَّ خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ٢٧﴾ [الحجر: 27]

(او جانّ (پیری) مونږ هغه له ده نه مخکې د بې لوګي اور څخه پیدا کړی دی) [الحجر سورت: 27 آیت]

، او د شیطانانو مشر ابلیس دی - الله دې موږ له هغه څخه وساتي - الله هغه له اور څخه پیدا کړی لکه څرنګه چې نور پیریان او شیطانان پیدا کړي دي، الله تعالی د ابلیس په اړه د خبرتیا په موخه وفرمایل:

﴿قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسۡجُدَ إِذۡ أَمَرۡتُكَۖ قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ خَلَقۡتَنِي مِن نَّارٖ وَخَلَقۡتَهُۥ مِن طِينٖ ١٢﴾ [الأعراف: 12]

(وويل (شيطان): زه له هغه نه غوره يم، تا زه له اوره پيدا کړی يم او هغه دې له خټې پيدا کړی دی). [الأعراف سورت: 12 آيت]،

او دا چې ابليس له پيريانو څخه و، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ كَانَ مِنَ ٱلۡجِنِّ فَفَسَقَ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِۦٓۗ أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِي وَهُمۡ لَكُمۡ عَدُوُّۢۚ بِئۡسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلٗا ٥٠﴾ [الكهف: 50]

(او (ياد کړه) هغه وخت چې مونږ ملايکو ته وويل: تاسو آدم ته سجده وکړئ، نو دوی سجده وکړه، غير له ابليس نه، هغه له جناتو څخه و، نو هغه د خپل رب د حکم نافرماني وکړه. [الكهف سورت: 50 آيت]

. او شيطان هغه څوک دی چې - زمونږ- مور او پلار يې ګمراه کړي وو، تر دې چې له جنت څخه وويستل، کله يې چې دوی ته - په زړونو کې - وسوسه وروا چوله، او قسم يې ورته ياد کړ چې زه تاسو ته له نصيحت کوونکو څخه يم، نو هغه دوی دواړو ته په دوکي سره تمه ورکړه، نو دوی له ونې څخه خوراک وکړ، حق ذات فرمايلي دي:

﴿وَيَٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنۡ أَنتَ وَزَوۡجُكَ ٱلۡجَنَّةَ فَكُلَا مِنۡ حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٩ فَوَسۡوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيۡطَٰنُ لِيُبۡدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنۡهُمَا مِن سَوۡءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنۡ هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيۡنِ أَوۡ تَكُونَا مِنَ ٱلۡخَٰلِدِينَ ٢٠ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ٢١ فَدَلَّىٰهُمَا بِغُرُورٖۚ فَلَمَّا ذَاقَا ٱلشَّجَرَةَ بَدَتۡ لَهُمَا سَوۡءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن وَرَقِ ٱلۡجَنَّةِۖ وَنَادَىٰهُمَا رَبُّهُمَآ أَلَمۡ أَنۡهَكُمَا عَن تِلۡكُمَا ٱلشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَآ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمَا عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٢٢ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٢٣﴾ [الأعراف: 19-23]

* (او ای آدمه! ته او ستا ښځه په جنت کې اوسئ، نو تاسو خوراك کوئ له کوم ځای نه چې مو خوښه شي، او دې ونې ته مه نژدې کېږئ (،ګنې) نو له ظالمانو نه نو دوی دواړو ته شیطان وسوسه واچوله، د دې لپاره چې هغه (شیطان) دوی دواړو ته هغه څه ورښکاره کړي چې له دوی نه پټ وو، چې د دوی د شرم ځایونه دي او (ورته) ویې ویل: تاسو دواړه ستاسو رب له دې ونې نه نه یئ منع کړي مګر له دې وجې چې تاسو دواړه به ملایك شئ، یا چې شئ به له تل پاتې کېدونکو نه. * او هغه دوی ته پوخ قسم وخوړ چې بېشکه زه ستاسو لپاره نو هغه دوی دواړو ته په دوکې سره تمه ورکړه، نو کله چې دوی هغه ونه وڅکله، دوی ته خپل شرم ځایونه ښکاره شول او دواړه لګیا شول چې پر خپلو ځانونو یې د جنت پاڼې نښلولې او دوی ته خپل رب اواز وکړ چې آیا ما تاسو دواړه له دې ونې څخه نه وئ منع کړي او تاسو ته مې نه وو ویلي چې بېشکه شیطان ستاسو د دواړو ښکاره دښمن دی. دوی وویل: ای زمونږه ربه! مونږ پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی او که چېرې ته مونږ ونه بخښې او پر مونږ رحم ونه کړې (، نو) مونږ به خامخا لازمًا له تاوانیانو څخه شو). [الأعراف سورت: 19-23 آیتونه].

او مونږ باور لرو چې شیطان له سجدې کولو تکبر وکړ، نو الله په هغه غضب شو، او له رحمت نه یې لرې کړ، او له تلپاتې جنت څخه یې وشاړه، او - پدې باور لرو - چې هغه د قیامت پورې له الله څخه - د ژوندي پاتې کېدلو- مهلت وغوښت؛ نو الله مهلت ورکړ، او هغه د الله په جلال قسم یاد کړ چې د آدم ټوله اولاده به په فتنه کې واچوي مګر د الله مخلص بندګان، حق ذات د هغه له دسیسې څخه د خبرولو په موخه وفرمایل:

﴿إِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقُۢ بَشَرٗا مِّن طِينٖ ٧١ فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ٧٢ فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ ٧٣ إِلَّآ إِبۡلِيسَ ٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٧٤ قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ أَسۡتَكۡبَرۡتَ أَمۡ كُنتَ مِنَ ٱلۡعَالِينَ ٧٥ قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ خَلَقۡتَنِي مِن نَّارٖ وَخَلَقۡتَهُۥ مِن طِينٖ ٧٦ قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٞ ٧٧ وَإِنَّ عَلَيۡكَ لَعۡنَتِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٧٨ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ٧٩ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ٨٠ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ٨١ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٨٢ إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ٨٣﴾ [ص: 71-83]

(کله چې ستا رب ملایکو ته وویل چې بېشکه زه له خټې نه د یو بشر پیدا کوونکی یم. نو کله چې زه هغه برابر کړم او په هغه کې له خپل (پیدا کړي) روح نه پو کړم، نو تاسو هغه ته پرېوځئ، چې سجده کوونکي یئ. أَجْمَعُون * نو ملایکو ټولو سجده وکړه. * غیر له ابلیس نه، هغه لویي وکړه او شو له کافرانو څخه. * (الله) وویل: ای ابلیسه! ته هغه کس ته له سجدې کولو نه څه شي منع کړې، چې ما پخپلو دواړو لاسونو پیدا کړی دی؟ آیا تا لویي وکړه، یا ته (له شروع نه)

د لوړو اوچتو خلقو ځني يې؟ هغه وويل: زه له ده نه ډېر غوره يم، تا زه له اوره پيدا کړی يم او هغه دې له خټې نه پيدا کړی دی. وويل: نو ته له دې (جنت) نه ووځه، پس بېشکه ته رټل شوی يې. او بېشکه په تا باندې د بدلې تر ورځې پورې زما لعنت دی. هغه وويل: ای زما ربه! نو ته ما ته تر هغې ورځې پورې مهلت راکړه چې دوی (خلق) به بيا راژوندي کولی شي. ق * الله وويل: پس بېشکه ته له مهلتورکړی شويو څخه يې. * د معلوم وخت تر ورځې پورې. * ده وويل: نو قسم ستا پر عزت! چې خامخا ضرور به زه دوی ټول گمراه کوم. مگر په دوی کې ستا هغه بنده گان چې خالص کړی شوي دي). [ص سورت: 71-83 آيتونه]

. او شيطان وويل لکه څرنګه چې الله تعالی - د هغه په اړه - خبر ورکړی:

﴿قَالَ فَبِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأَقۡعُدَنَّ لَهُمۡ صِرَٰطَكَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ١٦ ثُمَّ لَأٓتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ وَعَنۡ أَيۡمَٰنِهِمۡ وَعَن شَمَآئِلِهِمۡۖ وَلَا تَجِدُ أَكۡثَرَهُمۡ شَٰكِرِينَ ١٧﴾ [الأعراف: 16-17]

(ابليس) وويل: نو په سبب د هغه چې تا زه گمراه کړم، زه به خامخا ضرور دوی ته ستا په نېغه لار کې کېنم. بيا به خامخا لازمًا زه دوی ته راځم د دوی له مخې نه او د دوی له شا نه او د دوی له ښيو اړخونو نه او چپو اړخونو نه او ته به د دوی اکثره شکر گذاره ونه مومې). [الأعراف سورت: 16، 17 آيتونه].

او پېريان - هم - په شريعتونو سره مخاطب او مکلف دي، او دوی له پيغمبرانو او ويروونکو څخه د وحيې د اورېدلو او پوهېدلو توان لري؛ لدې امله کله يې چې قرآن واورېده نو ويې ويل، لکه څرنګه چې الله تعالی له هغوی څخه خبر ورکړی:

﴿وَإِذۡ صَرَفۡنَآ إِلَيۡكَ نَفَرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓاْ أَنصِتُواْۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوۡاْ إِلَىٰ قَوۡمِهِم مُّنذِرِينَ ٢٩ قَالُواْ يَٰقَوۡمَنَآ إِنَّا سَمِعۡنَا كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعۡدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٣٠﴾ [الأحقاف: 29-30]

او هغه وخت (ياد کړه) چې مونږ تا ته د پېريانو يوه ډله راوگرځوله، چې قرآن به اوري، نو کله چې دوی دې (قرآن) ته حاضر شول، نو ويې ويل:چوپ شئ! نو کله چې (د قرآن تلاوت) تمام کړی شو (نو) دوی خپل قوم ته بېرته وگرځېدل، په داسې حال کې چې وېروونکي وو. دوی وويل: ای زمونږ قومه! بېشکه مونږ داسې کتاب واورېده چې له موسیٰ نه وروسته نازل کړی شوی دی، په داسې حال کې د هغو (کتابونو) تصديق کوونکی دی چې له ده نه مخکې وو، حق ته او نېغې (سمې) لارې ته ښوونه کوي). [الأحقاف سورت: 29، 30 آيتونه].

او مونږ. پوهېږو چې له پیریانو یې ځینې نیکان او ځینې یې بدان دي، نو څوک چې له دوی څخه ایمان راوړي نو تګ لوری یې جنت ته دی، او څوک چې له دوی څخه کافر شي نو تګ لوری یې اور ( دوزخ ) ته دی، حق ذات فرمایلي دي:

﴿وَأَنَّا مِنَّا ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَۖ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدٗا ١١﴾ [الجن: 11]

(او دا چې بېشکه پر مونږ. کې ځینې نېکان (او صالحه خلک) دي او پر مونږ. کې له دغو نه لاندې هم شته، مونږ. په مختلفو لارو روان یو). [الجن سورت: 11 آیت]

بیا الله -تعالی- وفرمایل:

﴿وَأَنَّا مِنَّا ٱلۡمُسۡلِمُونَ وَمِنَّا ٱلۡقَٰسِطُونَۖ فَمَنۡ أَسۡلَمَ فَأُوْلَٰٓئِكَ تَحَرَّوۡاْ رَشَدٗا ١٤ وَأَمَّا ٱلۡقَٰسِطُونَ فَكَانُواْ لِجَهَنَّمَ حَطَبٗا ١٥﴾ [الجن: 14-15]

(او دا چې بېشکه په مونږ. کې ځینې مسلمانان دي او ځینې په مونږ. کې ظالمان دي، نو هغه چا چې اسلام راوړي، نو دغو خلکو د نېغې لارې قصد (او طلب) وکړ. او هر چې ظالمان دي، نو دوی به د جهنم لرګي (خشاك) وي). [الجن سورت: 14، 15 آیتونه]

. او الله -تعالی- د قیامت په ورځ د ملائکو لخوا د فاسقو انسانانو او پیریانو د ملامتولو او مجازات کولو په اړه په خبر ورکولو سره فرمایي:

﴿يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَقُصُّونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِي وَيُنذِرُونَكُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَاۚ ..﴾ [الأنعام: 130]

(ای د پیریانو او انسانانو ډلې! آیا تاسو ته همدا ستاسو د جنس څخه رسولان نه وو راغلي چې تاسو ته به یې زما آیتونه بیانول او تاسو به یې د دې ورځې له ملاقات نه وېرولئ؟) [الأنعام سورت: 130 آیت]،

او همدا رنګه الله - تعالی - فرمایلي:

﴿قَالَ ٱدۡخُلُواْ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ فِي ٱلنَّارِۖ ...﴾ [الأعراف: 38]

[(ورته) وبه وایي: تاسو له هغو امتونو سره یو ځای اور ته داخل شئ چې له تاسو نه مخکې په پیریانو او انسانانو کې تېر شوي دي]. [الأعراف سورت: 38 آیت].

او الله -سبحانه وتعالى- دوزخ ته د دوی د ننوتلو لامل بیان کړ چې هغه د منلو په موخه د حق وینا نه اوریدل دي، الله - تعالى - فرمايلي:

﴿وَلَقَدۡ ذَرَأۡنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ لَهُمۡ قُلُوبٞ لَّا يَفۡقَهُونَ بِهَا وَلَهُمۡ أَعۡيُنٞ لَّا يُبۡصِرُونَ بِهَا وَلَهُمۡ ءَاذَانٞ لَّا يَسۡمَعُونَ بِهَآۚ ...﴾ [الأعراف: 179]

(او يقينًا يقينًا مونږ د جهنم لپاره ډېر زيات داسې پېريان او انسانان پيدا كړي دي چې د هغوى زړونه شته (خو) په هغو سره هغوى نه پوهېږي او د هغوى سترګې شته (خو) ليدل پرې نه كوي او د هغوى غوږونه شته (خو) اورېدل پرې نه كوي). [الأعراف سورت: 179 آيت]،

دا آيت پدې دلالت کوي چې پیریان؛ زړونه، غوږونه او سترګې لري. او شیطانان آوازونه لري چې په هغې سره خلک راپاروي، حق تعالی فرمایلي دي:

﴿وَٱسۡتَفۡزِزۡ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتَ مِنۡهُم بِصَوۡتِكَ وَأَجۡلِبۡ عَلَيۡهِم بِخَيۡلِكَ وَرَجِلِكَ ...﴾ [الإسراء: 64]

(او ته په خپل اواز سره له دوى څني هغه څوك راپورته كړه چې ستا پرې وس رسېږي، او ته په دوى باندې خپل سواره او پياده راجمع كړه). [الإسراء سورت: 64 آيت].

او الله - تعالى- انسانانو ته نصیحت کړی تر څو یې شیطان ونه غولوي لکه څرنګه یې چې د دوی مور او پلار دوکه کړي وو، لوی څښتن - تعالى - فرمایي:

﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ٢٧﴾ [الأعراف: 27]

(اى د ادم اولاده! تاسو لره دې شيطان هيڅكله هم په فتنه كې وانه چوي، لكه څنګه چې يې ستاسو مور وپلار له جنت نه وويستل، چې له هغوى نه يې د هغوى لباس وښكلو، د دې لپاره چې هغوى ته خپل شرم ځايونه وښيي، بېشكه هغه او د هغه قبيله تاسو له هغه ځايهويني چې تاسو يې نه وينئ، بېشكه مونږ شيطانان د هغو خلقو لپاره دوستان جوړ كړي دي چې ايمان نه راوړي). [الأعراف سورت: 27 آيت].

او موږ ایمان لرو پدې چې سره لدې چې شیطان - پدې پوهیږي چې هغه د الله مخلص بندګان نشي غولولی - (خو بیا هم) هغه او د هغه لښکر هڅه کوي چې دوی دوکه کړي او عبادتونه یې پرې فاسد کړي، د عزت خاوند ذات فرمایلي:

﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوّٗا شَيَٰطِينَ ٱلۡإِنسِ وَٱلۡجِنِّ يُوحِي بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٖ زُخۡرُفَ ٱلۡقَوۡلِ غُرُورٗاۚ وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُۖ فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ١١٢﴾ [الأنعام: 112]

(او همدارنګه مونږ د هر نبي لپاره انسي او جني شيطانان، دښمنان ګرځولي وو، چې د دغو ځينو به ځينو نورو ته ښایسته کړی شوې خبرې د دوکه کولو (غولولو) لپاره ور اچولې او که چیرې ستا رب، غوښتلی (، نو) دوی به دا (کار) نه و کړی، نو ته دوی پرېږده او هغه هم چې دوی له خپله ځانه څه دروغ جوړوي). [الأنعام سورت: 112 آیت].

او په حدیث کې راځي چې رسول الله ـ صلی الله علیه وسلم ـ فرمایلي دي: «إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الجِنِّ تَفَلَّتَ عَلَيَّ البَارِحَةَ -أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا- لِيَقْطَعَ عَلَيَّ الصَّلاَةَ، فَأَمْكَنَنِي اللَّهُ مِنْهُ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ إِلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي المسْجِدِ حَتَّى تُصْبِحُوا وَتَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ، فَذَكَرْتُ قَوْلَ أَخِي سُلَيْمَانَ: رَبِّ هَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي». «یو سرکښه شیطان مې تېره شپه په ناڅاپي توګه مخې ته راغی -یا دې ته ورته الفاظ یې وویل- تر څو راباندې لمونځ پرې کړي، نو الله - تعالی - پرې توان راکړ، نو ومې غوښتل چې د جومات له ستنو څخه یې د یوې ستنې پورې وتړم، تر څو تاسو سهار کړئ او ټول ورته وګورئ، نو - دې وخت کې - مې د وړور سلیمان وینا رایاده شوه - چې ویلي یې دي - رَبِّ هَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي» (ای زما ربه! ته ما ته داسې پاچاهي راکړه چې له ما نه پس د هيچا لپاره مناسبه نه وي)». روح بن عباده ـ فرمايي: نو خوار او ذليل یې وشاړه. (بخاري (۴۶۱) او مسلم (۵۴۱) روایت کړی دی. او له ابن مسعود - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمايي چې رسول الله ـ صلی الله علیه وسلم ـ فرمایلي دي: «ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خِنْزَبٌ، فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْهُ، وَاتْفِلْ عَلَى يَسَارِكَ ثَلَاثًا». قَالَ: فَفَعَلْتُ ذَلِكَ، فَأَذْهَبَهُ اللهُ عَنِّي. "په تاسو کې هېڅوک داسې نشته مګر دا چې له پیریانو پرې یو تن ملازم او ورسره تل پاتې کیدونکی مقرر شوی وي" هغوی وویل: د الله رسوله او تاسو هم؟ ویې فرمایل: «او زه هم ، مګر دا چې الله پرې زه برلاسی کړی یم، نو اسلام یې راوړی دی - لدې امله - هغه ماته پرته له خیر څخه په بل څه امر نه کوي». (مسلم (2814) روایت کړی دی). او له سبرة بن أبي فاكه ـ رضي الله عنه ـ څخه روایت دی وایي چې له رسول الله ـ صلی الله علیه وسلم ـ څخه مې اوریدلي دي چې فرمایل یې: «إِنَّ الشَّيْطَانَ قَعَدَ لِابْنِ آدَمَ بِأَطْرُقِهِ، فَقَعَدَ لَهُ بِطَرِيقِ الْإِسْلَامِ، فَقَالَ: تُسْلِمُ وَتَذَرُ دِينَكَ وَدِينَ آبَائِكَ وَآبَاءِ أَبِيكَ، فَعَصَاهُ فَأَسْلَمَ، ثُمَّ قَعَدَ لَهُ بِطَرِيقِ الْهِجْرَةِ، فَقَالَ: تُهَاجِرُ وَتَدَعُ أَرْضَكَ وَسَمَاءَكَ، وَإِنَّمَا مَثَلُ الْمُهَاجِرِ كَمَثَلِ الْفَرَسِ فِي الطِّوَلِ، فَعَصَاهُ فَهَاجَرَ، ثُمَّ قَعَدَ لَهُ بِطَرِيقِ الْجِهَادِ، فَقَالَ: تُجَاهِدُ، فَهُوَ جَهْدُ النَّفْسِ وَالْمَالِ، فَتُقَاتِلُ فَتُقْتَلُ، فَتُنْكَحُ الْمَرْأَةُ، وَيُقْسَمُ الْمَالُ، فَعَصَاهُ فَجَاهَدَ»، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم: «فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ عز وجل أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، وَمَنْ قُتِلَ

كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ عز وجل أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، وَإِنْ غَرِقَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، أَوْ وَقَصَتْهُ دَابَّتُهُ كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ». «يقينا شيطان د آدم اولادې ته - د هغه د ګمراه کولو لپاره- د لارو په سر ناست دی، نو د اسلام په لار ورته کېناسته او ورته یې وويل: آیا ته اسلام راوړې او خپل دین او د خپل پلار او د پلار د پلرونو دین پرېږدې، نو هغه یې خبره ونه منله او اسلام یې راوړ، بیا ورته د هجرت په لار کېناست، نو ویې ویل: آیا هجرت کوې او خپله ځمکه او آسمان دې پرېږدې، یقینا د مهاجر مثال خو لکه د آس د پړي دی، نو هغه یې خبره ونه منله او هجرت یې وکړ، بیا ورته د جهاد د لارې - په سر - کېناست نو ویې ویل: جهاد کوې؛ جهاد خو د نفس او مال - په ورکولو سره کیږي، نو جنګ به کوې او وژل کیږې به، نو مېرمنه به بل چاته په نکاح شي، مال به وویشل شي، نو هغه یې خبره ونه منله او جهاد یې وکړ» نور رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وفرمایل: «نو چا چې دا کار وکړ نو په الله عزوجل باندې حق دی چې جنت ته یې ننباسي، او یا یې خپل څاروي وغورځاوه - او مړ شو - نو په الله حق دی چې جنت ته یې ننباسي». (نسائي په (۳۱۳۴) شمېره روایت کړی، او په الکبرى کې (۴۳۲۷)، ابن ابي شيبه (۱۹۶۷۵)، احمد (۱۵۹۵۸) او ابن حبان (۴۵۹۳) روایت کړی دی. نو کله چې - شیطان - خبیث پر انبیاوو - علیهم السلام - له ولکې اچولو نه مایوسه کیږي نو له هغوی پرته په نورو خو په طریقه اولى نه - مایوسه - کیږي، له أبو العلا څخه روایت دی چې عثمان بن أبي العاص - رضي الله عنه - نبي کریم - صلى الله عليه وسلم - ته راغى او ویې ویل: ای د الله رسوله! شیطان زما او زما د لمانځه او قراءت تر منځه - مزاحمت کوونکی - واقع شو چې پر ما یې قراءت ګډوډاوه، نو رسول الله - صلى الله عليه وسلم ورته وفرمایل: «ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خِنْزَبٌ، فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْهُ، وَاتْفِلْ عَلَى يَسَارِكَ ثَلَاثًا». قَالَ: فَفَعَلْتُ ذَلِكَ، فَأَذْهَبَهُ اللهُ عَنِّي. «دا هغه شیطان دی چې خِنْزَب ورته ویل کیږي، نو کله چې پرې پوه شوې، نو په الله ورڅخه پناه وغواړه، او چپ لاس ته دې درې ځلې لاړې تو کړه ». وایې: داسې مې وکړل نو الله راڅخه لرې کړ. (مسلم په (2203) شمېره تخریج کړی دی). په صحیح البخاري کې راغلي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنِ ابْنِ آدَمَ مَجْرَى الدَّمِ». "شیطان په بني آدم کې لکه د وینې د جریان په څېر ځغلي ." (بخاري په (2038، 7171) شمېره روایت کړی دی). او ابن بطة -رحمه الله- په خپل کتاب "الابانه" کې په همدې مفهوم سره یو باب ایښودلی دی او وایي: «باب الإيمان بأن الشيطان مخلوق مُسَلَّط على بني آدم يجري منهم مجرى الدم إلا من عصمه الله منه، ومن أنكر ذلك فهو من الفرق الهالكة». یعني باب دی په باره د ایمان درلودلو پدې چې شیطان هغه مخلوق دی چې پر بنی آدم مسلط دی، او لکه د وینې په څېر په کې ځغلي، مګر هغه څوک چې الله ترې ساتلي وي، او څوک چې

لدي نه انکار کوي نو هغه له برباد شوو ډلو څخه دی ». (الابانة الکبری، د ابن بطة ۶۱/۴). او مونږ پوهیږو چې په بني آدم له ملاېکو څخه راپېښېدونکي راځي او له شیطانانو پرې راتلونکي هم راځي، نو پیغمبر - صلى الله عليه وسلم - مونږ ته راښودلي چې څرنګه له راپېښېدونکي شیطان څخه ځان وژغورو؛ له عبد الله بن مسعود - رضي الله عنه - څخه روایت دي وایې: چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمایلي دي: «إِنَّ لِلشَّيْطَانِ لَمَّةً بِابْنِ آدَمَ، وَلِلْمَلَكِ لَمَّةً، فَأَمَّا لَمَّةُ الشَّيْطَانِ فَإِيعَادٌ بِالشَّرِّ وَتَكْذِيبٌ بِالحَقِّ، وَأَمَّا لَمَّةُ المَلَكِ فَإِيعَادٌ بِالخَيْرِ وَتَصْدِيقٌ بِالحَقِّ، فَمَنْ وَجَدَ ذَلِكَ فَلْيَعْلَمْ أَنَّهُ مِنَ اللَّهِ، فَلْيَحْمَدِ اللَّهَ، وَمَنْ وَجَدَ الأُخْرَى فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ». «یقینا شیطان بني آدم ته قصد لري (یو څه وریه زړه کوي)، او ملاېکې هم قصد لري (یو څه ور په زړه کوي)، بني آدم ته د شیطان قصد هغه ته په شر سره وعده ورکول او حق دروغ ګڼل دي، او بني آدم ته د پرېښتي قصد؛ په خیر سره وعده ورکول او حق ریښتیا ګڼل دي، نو چا چې دا -وروستی- ومونده نو پوه دې شي چې دا د الله له لورې دی، نو د الله ستاینه دې وکړي، او چا چې بل څه ومونډل، نو په الله سره دې له رټلی شوي شیطان څخه پناه وغواړي بیا یې - دا آیت - ولوست

﴿ٱلشَّيۡطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلۡفَقۡرَ وَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ ...﴾ [البقرة: 268]

. (شیطان تاسو له غریبۍ څخه وېروي او تاسو ته د بې حیايۍ حکم کوي الآيَةَ [البقرة سورت: 268 آیت]

. (ترمذي په (۲۹۸۸) شمېره روایت کړی دی، ابن مبارک په الزهد (۱۴۳۵)، احمد په الزهد (۸۵۴) او ابو داود په الزهد (۱۶۴) کې روایت کړی دی. او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالى - خپل وفادار بندګان د شیطانانو له دسیسو څخه ساتي تر څو چې دوی - د الله تعالى - څخه بخښنه غواړي. په "المسند" کې راغلي: «إِنَّ الشَّيْطَانَ قَالَ: وَعِزَّتِكَ يَا رَبِّ، لَا أَبْرَحُ أُغْوِي عِبَادَكَ مَا دَامَتْ أَرْوَاحُهُمْ فِي أَجْسَادِهِمْ، قَالَ الرَّبُّ: وَعِزَّتِي وَجَلَالِي لَا أَزَالُ أَغْفِرُ لَهُمْ مَا اسْتَغْفَرُونِي». «یقینا شیطان ویلي: ستا په عزت مې دې قسم وي ای ربه، تر هغه به ستا بنده ګان بې لارې کوم تر څو یې چې ساګاني په جسدونو کې وي، متعال رب وفرمایل: زما دې په خپل عزت او جلال قسم وي تر هغه به ورته بخښنه کوم، تر څو چې دوی راڅخه بخښنه غواړي». (أحمد (11237)، او عبد بن حميد (932)، او أبو يعلى (1273، 1399)، او الطبراني په الأوسط (8788)، او په الدعاء (1779).) کې روایت کړی دی). او مونږ پوهیږو چې شیطان د انسان په شکل یا د هغه څه په شکل چې الله ورته په هغه د ځان بدلولو اجازه ورکړي وي ځان بدلوی. په «صحیح البخاري» کې له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایې: زه رسول الله - صلى الله عليه

وسلم - د رمضان د زکات په ساتلو وګمارلم، نو یو څوک راته راغی او له خوړو یې په راخیستلو پیل وکړ، نو ومې نیوه، ورته مې وویل: خامخا به دې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ته سپارم- حدیث یې ذکر کړ - نو ویې ویل: کله چې خپل خوب ځای ته لاړې نو آیت الکرسي ولوله، د الله لخوا نه به دربانديې ساتونکی - مقرر - وي، او شیطان به درته تر سهاره نه نیږدې کیږي، نو پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل: «صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوبٌ، ذَاكَ شَيْطَانٌ». «رښتیا یې درته ویلي او هغه دروغجن دی، هغه شیطان و». بخاری له خپل شیخ عثمان بن الهیثم څخه په دوو ځایونو کې معلق راوړی دی (3275، 5010). او د جاهلیت د زمانې خلکو به - د هغوی د زیاتې ناپوهی له امله - د پیریانو په مشرانو پناه غوښتله، نو پدې سره به د هغوی ویره او رعب نور هم زیات شو، الله تعالی د هغوی له حال څخه د خبرولو په موخه وفرمایل:

﴿وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ ٱلۡإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَزَادُوهُمۡ رَهَقًا۝٦﴾ [الجن: 6]

(او بېشکه شان دا دی چې په انسانانو کې ډېر داسې سړي وو چې په پېریانو کې په ځینو سړیو پورې به یې پناه نیوله، نو دغو خلقو دغو (پېریانو) ته سرکشي ورزیاته کړه) [الجن سورت: 6 آیت]

. او مونږ ایمان لرو چې د بتانو عبادت کوونکي یوازې د پیریانو عبادت کوي، الله تعالی د دوی د عقیدې له حقیقت څخه په خبر ورکولو سره فرمایي:

﴿وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ۝٤٠ قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِمۖ بَلۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٱلۡجِنَّۖ أَكۡثَرُهُم بِهِم مُّؤۡمِنُونَ۝٤١﴾ [سبأ: 40-41]

(او (یاده کړئ) هغه ورځ چې هغه (الله) به دوی ټول راجمع کړي، بیا به ملایکو ته ووایي: آیا دغو کسانو به خاص ستاسو عبادت کاوه؟. (هغوی (ملایك) به ووایي: تا لره پاکي ده، ته له دوی نه غیر زمونږ مولٰی (او کارساز) یې بلکې دوی به د پېریانو عبادت کاوه، د دوی اکثره پر هغوی ایمان راوړونکي وو) [سبأ سورت: 40، 41 آیتونه].

او مونږ پوهیږو چې شیطان انسان لره په کفر سره دوکه کوي، بیا ترې په دنیا کې لاس اخلي، لکه څرنګه چې الله -تعالی- له هغه څخه خبر ورکوي:

﴿كَمَثَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ إِذۡ قَالَ لِلۡإِنسَٰنِ ٱكۡفُرۡ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّنكَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦﴾ [الحشر: 16]

[(د منافقانو مثال د وعدې په مخالفت کې) د شیطان په شان دی کله چې هغه انسان ته ووایي چې کافر شه، نو کله چې هغه (انسان) کافر شي، دی (ورته) وایي: بېشکه زه له تا نه بېزاره (او جدا) یم، بېشکه زه له الله رب العالمین نه وېرېږم]. [الحشر سورت: 16آیت]

، او لکه څرنګه چې هغه په کفر سره دوکه کوي، په جادو سره یې هم دوکه کوي ، او هغه ته یې ورزده کوي، حق ذات له هغه څخه د خبرولو په موخه فرمایلي دي:

﴿... وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحۡرَ ...﴾ [البقرة: 102]

(او لېکن شیطانان کافر شوي وو، خلکو ته به یې جادو (سحر) ښوده). [البقرة سورت: 102 آیت]

. او مونږ پوهیږو چې شیطان به په آخرت کې خپل دوستان پرېږدي، او پدې یې ملامتوي چې د هغه پیروي یې کړې ده، حق ذات خبر ورکوي چې شیطان به په دوزخ کې د دوی په منځ کې تقریر کوونکی ودرېږي:

﴿وَقَالَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لَمَّا قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ إِنَّ ٱللَّهَ وَعَدَكُمۡ وَعۡدَ ٱلۡحَقِّ وَوَعَدتُّكُمۡ فَأَخۡلَفۡتُكُمۡۖ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنٍ إِلَّآ أَن دَعَوۡتُكُمۡ فَٱسۡتَجَبۡتُمۡ لِيۖ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوٓاْ أَنفُسَكُمۖ مَّآ أَنَا۠ بِمُصۡرِخِكُمۡ وَمَآ أَنتُم بِمُصۡرِخِيَّ إِنِّي كَفَرۡتُ بِمَآ أَشۡرَكۡتُمُونِ مِن قَبۡلُۗ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٢٢﴾ [إبراهيم: 22]

(او کله چې د خبرې فیصله وشي، شیطان به ووایي: بېشکه الله له تاسو سره وعده کړې وه حقه وعده او ما له تاسو سره وعده کړې وه، نو ما له تاسو سره خلاف وکړ، او زما لپاره پر تاسو باندې هېڅ غلبه نه وه غیر له دې نه چې ما تاسو راوبللئ، نو تاسو زما بلنه قبوله کړه (اوس) نو تاسو ما مه ملامتوئ او (بلکې) خپل ځانونه ملامته کړئ، نه زه ستاسو فریادرس یم او نه تاسو زما فریادرسان یئ، بېشکه زه انکار کوم په هغه څه چې تاسو زه (له الله سره) شریك کړی وم له دې نه مخکې، بېشکه دا ظالمان چې دي د هغوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی). [إبراهیم سورت: 22 آیت].

## باب دی د انسان د پیدایښت په اړه

او مونږ باور لرو چې الله -تعالی- خپلو ملاېکو ته خبر ورکړی دی چې هغه به په ځمکه کې یو خلیفه ګرځوي تر څو یې په عبادت سره آباده کړي، الله -تعالی- فرمایلي:

﴿وَإِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ خَلِيفَةٗۖ قَالُوٓاْ أَتَجۡعَلُ فِيهَا مَن يُفۡسِدُ فِيهَا وَيَسۡفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحۡنُ نُسَبِّحُ بِحَمۡدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَۖ قَالَ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ۝٣٠﴾ [البقرة: 30]

(او کله چې ستا رب ملایکو ته وویل: بې شکه زه په ځمکه کې یو خلیفه پیدا کوونکی یم، هغوی وویل: آیا ته په هغې کې داسې څوك پیدا کوې چې په هغې کې به ورانی کوي او وینې به تُویَوي؟ حال دا چې مونږ ستا له ستایلو سره تسبیح وایو او ستا پاکوالی بیانوو، (الله) وویل: یقینًا زه پوهېږم پر هغه څه چې تاسو پرې نه پوهېږئ). [البقرة سورت: 30 آیت]

، او حق ذات روښانه کړې ده چې هغه ادم -علیه السلام- له خاورې څخه پیدا کړی دی.

﴿إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ ءَادَمَۖ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٖ ثُمَّ قَالَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ۝٥٩﴾ [آل عمران: 59]

(بېشکه د عیسٰی مثال د الله په نيز د آدم د مثال په شان دی، الله هغه له خاورې پیدا کړ[آل عمران: 59]

، بیا یې هغه ته وویل: (پیدا) شه، پس (پیدا) شو). او پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «إِنَّ اللَّهَ عز وجل خَلَقَ آدَمَ مِنْ قَبْضَةٍ قَبَضَهَا مِنْ جَمِيعِ الْأَرْضِ، فَجَاءَ بَنُو آدَمَ عَلَى قَدْرِ الْأَرْضِ. جَاءَ مِنْهُمُ الْأَبْيَضُ وَالْأَحْمَرُ وَالْأَسْوَدُ وَبَيْنَ ذَلِكَ، وَالْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ، وَالسَّهْلُ وَالْحَزْنُ، وَبَيْنَ ذَلِكَ». «الله پاک آدم -علیه السلام- له یو موټې (خاورې) څخه پیدا کړ چې له ټولې ځمکې څخه یې اخیستې وه، نو د آدم اولاده د ځمکې په څېر راغله. له دوی څخه سپین، سور، تور، او د دې تر منځه راغلل، پلیت او پاک، آسان (خوشحال) او غمګین او د دوی ترمنځه». ( ابو داود (۴۶۹۳)، ترمذي (۲۹۵۵)، عبدالرزاق په تفسیر کې (۴۱)، احمد (۱۹۵۸۲) او البزار (۳۰۲۵، ۳۰۲۶) روایت کړی دی. او دا خاوره الله -جل جلاله- خټه وګرځوله، بیا یې په پړاوونو کې پیدا کړ، حق ذات فرمایلي دي: ﴿وَلَقَدۡ

خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ ٢٦ وَٱلۡجَآنَّ خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ٢٧ وَإِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقُۢ بَشَرٗا مِّن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ ٢٨ فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ٢٩ فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ ٣٠﴾ [الحجر: 26-30]

(او يقينًا يقينًا مونږه انسان پيدا کړی دی له کړنګېدونکي وچې ختې نه، چې له تورې سخا کړی شوې ختې څنې وه. * او جانّ (پلار د پېريانو) مونږ هغه له ده نه مخکې د بې لوګي اور څخه پيدا کړی دی. او کله چې ستا رب وويل: بېشکه زه د يو بشر پيدا کوونکی يم د کړنګېدونکي وچې ختې نه چې له تورې سخا کړی شوې ختې څنې ده. نو کله چې زه هغه برابر کړم او په هغه کې له خپله روح پُو کړم، نو تاسو هغه ته پرېوځئ، نو ملايکو ټولو عامو سجده وکړه). [الحجر سورت: 26-30 آيتونه]،

او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ ١٢﴾ [المؤمنون: 12]

(او يقينًا يقينًا مونږ انسان د ختې له خُلاصې نه پيدا کړی دی). [المؤمنون سورت: 12 آيت].

او الله تعالی فرمايي:

﴿فَٱسۡتَفۡتِهِمۡ أَهُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَم مَّنۡ خَلَقۡنَآۚ إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّن طِينٖ لَّازِبِۭ ١١﴾ [الصافات: 11]

(نو ته له دوی نه پوښتنه وکړه چې آيا دوی د تخليق په لحاظ ډېر سخت دي، يا هغه چې مونږ پيدا کړي دي؟، بېشکه مونږ دوی له سرېښناکې ختې نه پيدا کړي دي). [الصافات سورت: 11 آيت]

. او امام احمد -رحمه الله- د هغه آيتونو له راوړلو وروسته چې د آدم -عليه السلام- د پيدايښت يادونه پکې شوې ده فرمايلي دي: مونږ وايو: دا د آدم د پيدايښت پيل دی، د پيدايښت لومړی پيل الله - تعالی - له خاورې وکړ، بيا له ختې څخه، سرې، تورې او سپينې، له پاکې ختې او خوسا ختې، بيا هغه خاوره لنده شوه نو خټه ترې جوړه شوه، دا د الله تعالی هغه قول دی - چې فرمايي - {مِّن طِينٍ} يعنې له ختې څخه، کله چې خټه يو له بل سره ونښته، بيا ترې سريخناکه خټه جوړه شوه - يو له بل سره نښتې - بيا يې وفرمايل: {مِن سُلاَلَةٍ مِّن طِينٍ} يعنې د ختې له خلاصې) فرمايي: لکه د ختې په شان، بيا چې واغږل شوه نو لکه د ختې په څېر چې د ګوتو په منځ کې راوبهيږي، بيا له سخا کړی

شوې ختې څخه، نو کله چې وچه شوه کړنګېدلې شوه لکه کردونی، فرمايي: بيا يې لکه د کردونې په څېر کړنګاری کاوه، فرمايي: داسې غړ يې درلوده لکه د کردونې ( پخې شوې ختې په څېر) دا د آدم د پيداينت بيان دی، او د الله تعالی دا قول

﴿ثُمَّ جَعَلَ نَسۡلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ۝٨﴾ [السجدة: 8]

يعني: د ضعيفو حقيرو اوبو له خلاصې نه [السجدة: 8]

دا د هغه د اولادې د پيداينت پيل دی {سُلاَلَةٍ} يعنې له نطفې څخه کله چې له سړي څخه راښکته شي، دا هغه څه دي چې فرمايلي يې دي: {مِّن مَّاء} يعنې له نطفې څخه، {مَّهِين} کمزورې». (الرد على الجهمية والزنادقة (: 179-180 مخونه) چاپ/ دغش العجمي.) او موږ ايمان لرو چې الله -تعالی- ادم -عليه السلام- په خپل عزتمند لاس پيدا کړی او خپلې پرښتې يې ورته په سجده کړې، الله تعالی فرمايلي:

﴿فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ۝٢٩ فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ ۝٣٠﴾ [الحجر: 29-30]

(نو کله چې زه هغه برابر کړم او په هغه کې له خپله روح پُو کړم، نو تاسو هغه ته پرېوځئ، نو ملايکو ټولو عامو سجده وکړه). [الحجر سورت: 29، 30 آيتونه]،

او پيغمبر -صلی الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «يَجْتَمِعُ المؤمِنُونَ يَوْمَ القِيَامَةِ، فَيَقُولُونَ: لَوِ اسْتَشْفَعْنَا إِلَى رَبِّنَا، فَيَأْتُونَ آدَمَ، فَيَقُولُونَ: أَنْتَ أَبُو النَّاسِ، خَلَقَكَ اللَّهُ بِيَدِهِ، وَأَسْجَدَ لَكَ مَلَائِكَتَهُ». «مؤمنان به د قيامت په ورځ راټول شي، نو وبه وايي: که مو له خپل رب څخه شفاعت غوښتی و، نو آدم ته به راشي، ورته به ووايي: ته د انسانانو پلار يې، الله په خپل لاس پيدا کړی يې، او خپلې پرېښتې يې درته په سجده کړې دي». بخاري (۴۴۷۶)، مسلم (۱۹۳) او ابن ماجه (۴۳۱۲) روايت کړی دی. او موږ ايمان لرو چې الله - تعالی - آدم -عليه السلام- په خپل شکل پيدا کړی دی، ابوهريره -رضي الله عنه- له رسول الله -صلی الله عليه وسلم- څخه رايت کوي فرمايي: «خَلَقَ اللَّهُ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ، طُولُهُ سِتُّونَ ذِرَاعًا»، "الله - تعالی - آدم - عليه السلام - په خپل شکل پيدا کړی، اوږدوالی يې شپيته ګزه دی"، بخاري (6227) او مسلم (2841) روايت کړی دی. او له هغه څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «إِذَا قَاتَلَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ؛ فَإِنَّ اللهَ خَلَقَ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ»، «کله چې په تاسو کې څوک له خپل ورور سره جنګ کوي، نو له مخ څخه دې ډډه وکړي. بيشکه چې الله - تعالی - آدم - عليه السلام -

په خپل شکل پیدا کړی دی»، (بخاري (2559) او مسلم (2612) روایت کړی او دا الفاظ د هغه دي. أبو هريرة -رضي الله عنه- له نبي کريم -صلى الله عليه وسلم- څخه روايت کوي چې فرمایلي یې دي: «إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَجَنَّبِ الْوَجْهَ، وَلَا يَقُلْ: قَبَّحَ اللَّهُ وَجْهَكَ وَوَجْهَ مَنْ أَشْبَهَ وَجْهَكَ، فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى خَلَقَ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ». «کله چې یو ستاسو څخه وهل کوي نو له مخ څخه دې ځان وساتي، او نه دې وايي چې: الله دې مخ بدرنګ کړه، او د هغه چا مخ چې مخ یې ستا په څېر وي، يقينا الله - تعالى - آدم په خپل شکل سره پیدا کړی دی». (عبدالرزاق (17952)، حمیدي (1153)، احمد (7420)، بخاري (173)، په الادب المفرد کې (173) او ابن ابي عاصم په سنن (531) کې روايت کړی دی). او مونږ ايمان لرو چې الله - تعالى- د آدم لپاره له هغه نه جوړه پیدا کړه تر څو یې ترڅنګه ارام او سکون حاصل کړي، او هغه حوا بي بي ده، حق ذات فرمايلي دي:

﴿۞ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَجَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا لِيَسۡكُنَ إِلَيۡهَاۖ .... ﴾ [الأعراف: 189]

(دی همغه ذات دی چې تاسو یې له یو ځان نه پیدا کړي یئ او له هغه نه یې د هغه جوړه پیدا کړه، د دې لپاره چې د هغې ترڅنګ ارام او سکون حاصل کړي). [الأعراف سورت: 189 آیت].

او الله تعالى فرمايلي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ ...﴾ [النساء: 1]

(ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ هغه چې تاسو یې له یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه نه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، او له دغو دواړو نه یې (په ځمکه کې) ډېر سړي او ښځې خواره کړل) [النساء آیت: 1 آیت].

او موږ باور لرو چې الله -تعالى-آدم او حوا پیدا کړل او په جنت کې یې ځای په ځای کړل، الله - تعالى - فرمايلي:

﴿وَقُلۡنَا يَـٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنۡ أَنتَ وَزَوۡجُكَ ٱلۡجَنَّةَ وَكُلَا مِنۡهَا رَغَدًا حَيۡثُ شِئۡتُمَا ...﴾ [البقرة: 35]

(او مونږ وویل: ای ادمه! اوسېږه ته او ستا ښځه په جنت کې، او دواړه له هغه (د جنت له مېوو) نه پرېمانه (په مزې سره) خوراك کوئ کوم ځای چې مو خوښه وي). [البقرة سورت: 35 آیت]،

او - الله تعالی - دوی له ونې څخه د خوراک کولو نه منع کړل، نو شیطان دوی سره د کینې له مخې دوی ته وسوسه ورواچوله، دوی له هغې - ونې - څخه خوراک وکړ، نو الله - تعالی - دوی له جنت څخه راوویستل او ځمکې ته یې راښکته کړل، الله -تعالی- له دې - پېښې - څخه د خبرولو په موخه فرمایلي:

﴿وَيَـٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنۡ أَنتَ وَزَوۡجُكَ ٱلۡجَنَّةَ فَكُلَا مِنۡ حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٩ فَوَسۡوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيۡطَٰنُ لِيُبۡدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنۡهُمَا مِن سَوۡءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنۡ هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيۡنِ أَوۡ تَكُونَا مِنَ ٱلۡخَٰلِدِينَ ٢٠ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ٢١ فَدَلَّىٰهُمَا بِغُرُورٖۚ فَلَمَّا ذَاقَا ٱلشَّجَرَةَ بَدَتۡ لَهُمَا سَوۡءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن وَرَقِ ٱلۡجَنَّةِۖ وَنَادَىٰهُمَا رَبُّهُمَآ أَلَمۡ أَنۡهَكُمَا عَن تِلۡكُمَا ٱلشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَآ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمَا عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٢٢ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٢٣ قَالَ ٱهۡبِطُواْ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ وَلَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُسۡتَقَرّٞ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٖ ٢٤ قَالَ فِيهَا تَحۡيَوۡنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنۡهَا تُخۡرَجُونَ ٢٥﴾ [الأعراف: 19-25]

(او ای ادمه! ته او ستا ښځه په جنت کې اوسئ، نو تاسو خوراك کوئ له کوم ځای نه چې مو خوښه شي، او دې ونې ته مه نږدې کېږئ (ګنې) نو دوی دواړو ته شیطان وسوسه واچوله، د دې لپاره چې هغه (شیطان) دوی دواړو ته هغه څه ورښکاره کړي چې له دوی نه پټ وو، چې د دوی د شرم ځایونه دي او (ورته) یې وویل: تاسو دواړه ستاسو رب له دې ونې نه نه یئ منع کړي مګر له دې وجې نه چې تاسو دواړه به ملایك شئ، یا چې شئ به له تل پاتې کېدونکو نه. و او هغه دوی ته پوخ قسم وخوړ چې بېشکه زه تاسو لپاره یقینًا له خیر خواهي کوونکو ځنې یم. نو هغه دوی دواړو ته په دوکې سره تمه ورکړه، نو کله چې دوی هغه ونه وڅکله، دوی ته خپل شرم ځایونه ښکاره شول او دواړه لګیا شول چې پر خپلو ځانونو یې د جنت پاڼې نښلولې او دوی ته خپل رب اواز وکړ چې آیا ما تاسو دواړه له دې ونې نه نه وئ منع کړي او تاسو ته مې نه وو ویلي چې بېشکه شیطان ستاسو د دواړو ښکاره دښمن دی؟ دوی وویل: ای زمونږه ربه! مونږ پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی او که چېرې ته مونږ ونه بخښې او پر مونږ رحم ونه کړې (، نو) مونږ به خامخا لازمًا له تاوانیانو څخه شو. وویل (الله): تاسو کوز شئ، ستاسو ځینې به د ځینو نورو لپاره دښمنان وي او ستاسو لپاره په ځمکه کې استوګنه ده او تر یو وخته پورې فایده اخیستل

دي. (الله) وویل: په همدې (ځمکه) کې به تاسو ژوندون کوئ او په همدې کې به تاسو مرئ او له همدې نه به تاسو راوښکل کېږئ). [الأعراف سورت: 19-25 آیتونه].

او موږ دا عقیده لرو چې الله تعالی آدم علیه السلام په ځمکه خلیفه ګرځولی دی، الله تعالی فرماېلي:

﴿وَإِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ خَلِيفَةٗۖ قَالُوٓاْ أَتَجۡعَلُ فِيهَا مَن يُفۡسِدُ فِيهَا وَيَسۡفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحۡنُ نُسَبِّحُ بِحَمۡدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَۖ قَالَ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٣٠﴾ [البقرة: 30]

(او کله چې ستا رب ملایکو ته وویل: بې شکه زه په ځمکه کې یو خلیفه پیدا کوونکی یم، هغوی وویل: آیا ته په هغې کې داسې څوك پیدا کوې چې په هغې کې به ورانی کوي او وینې به تُویَوي؟ حال دا چې موږ ستا له ستایلو سره تسبیح وایو او ستا پاکوالی بیانوو، (الله) وویل: یقینًا زه پوهېږم پر هغه څه چې تاسو پرې نه پوهېږئ). [البقرة سورت: 30 آیت].

هغه یې و ازمایه، نوپرې یې خوده او بیا یې نافرماني وکړه، بیا یې رب غوره کړ او هدایت یې ورته وکړ، متعال حق ذات فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ عَهِدۡنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبۡلُ فَنَسِيَ وَلَمۡ نَجِدۡ لَهُۥ عَزۡمٗا ١١٥﴾ [طه: 115]

(او یقینًا په تحقیق سره موږ ادم ته له دې نه مخکې حکم کړی و، نو هغه پرېښوده او نه مونده موږ د هغه دپاره صبر). [طه سورت : 115آیت]،

بیا آدم له خپل رب څخه څو کلمې زده کړې چې د هغه لپاره د الله د بخښنې او توبې لامل وګرځېدې، الله رب العزت فرمایلي:

﴿فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٖ فَتَابَ عَلَيۡهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ٣٧ قُلۡنَا ٱهۡبِطُواْ مِنۡهَا جَمِيعٗاۖ فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدٗى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٣٨﴾ [البقرة: 37-38]

(نو ادم له خپل رب نه څو کلمې زده کړې، نو د هغه توبه یې قبوله کړه، بېشکه هم هغه ښه توبه قبلوونکی، بې حده رحم کوونکی دی. موږ وویل: تاسو ټول له دې (جنت) نه کوز شئ، نو که زما له طرف نه تاسو ته کوم هدایت راغی، نو چا چې زما د هدایت پیروي وکړه، نو پر هغوی باندې نه هېڅ وېره شته او نه به هغوی غمژن کېږي). [البقرة سورت: 37، 38 آیتونه].

او موږ باور لرو چې الله دا ټول د آدم له پیدا کولو څلوېښت کاله مخکې لیکلي و. په صحیح حدیث کې له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله

عليه وسلم فرمايلي: «احْتَجَّ آدَمُ وَمُوسَى، فَقَالَ لَهُ مُوسَى: يَا آدَمُ أَنْتَ أَبُونَا خَيَّبْتَنَا وَأَخْرَجْتَنَا مِنَ الجَنَّةِ، قَالَ لَهُ آدَمُ: يَا مُوسَى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِكَلَامِهِ، وَخَطَّ لَكَ بِيَدِهِ، أَتَلُومُنِي عَلَى أَمْرٍ قَدَّرَهُ اللَّهُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِي بِأَرْبَعِينَ سَنَةً؟ فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى، فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى» ثَلَاثًا. «موسى او آدم يو له بل سره دعوا وکړه، نو موسى ورته وويل: ای آدمه! ته زمونږ پلار يې، مونږ دې نا اميده کړو او له جنت څخه دې راوويستلو، آدم ورته وويل: ای موسى، ته الله په خپل کلام سره غوره کړی يې، او تورات يې درته په خپل لاس ليکلی، آيا ته ما په يوه داسې چاره کې ملامتوې چې زما له زيږيدو څخه څلوېښت کاله وړاندې الله پر ما مقدر کړې وه؟ نو په دليل کې آدم پر موسى غالب شو، په دليل کې آدم پر موسى غالب شو» درې ځلې. (بخاري (۶۶۱۴)، مسلم (۲۶۵۲)، ابو داود (۴۷۰۱)، ترمذي (۲۱۳۴) او ابن ماجه (۸۰) روايت کړی دی. او موږ ايمان لرو چې د آدم - عليه السلام - د اولادې د پيدايښت پيل داسې دی لکه څنګه چې الله - تعالى - ورڅخه پدې وينا کې خبر ورکړی دی:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٖ مُّخَلَّقَةٖ وَغَيۡرِ مُخَلَّقَةٖ لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡۚ وَنُقِرُّ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ عِلۡمٖ شَيۡـٔٗاۚ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ هَامِدَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡ وَأَنۢبَتَتۡ مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ٥﴾ [الحج: 5]

(ای خلکو! که تاسو د بيا راژوندي کېدو په باره کې په شك کې ياست، نو يقينًا مونږ تاسو له خاورې نه پيدا کړي ياست، (ستاسو نيکه ادم) بيا (مو د هغه اولاده پيدا کړه) له يو څاڅکي (مني) نه، بيا له پرنډ شوېويني نه، بيا له يوې غوښې بوټۍ نه چې تام الخلقت او ناقص الخلقت وي، د دې لپاره چې مونږ تاسو ته (خپل حکمت او قدرت) بيان کړو او مونږ په رحمونو کې ثابت پرېږدو هغه چې مونږ يې اراده وکړو تر معلومې نېټې پورې، بيا مونږ تاسو راوباسو (د ميندو له خېټو نه) په داسې حال کې چې واړه بچي يئ، بيا (مونږ تاسو پالو) د دې لپاره چې تاسو خپل قوت او کمال ته ورسيږئ او په تاسو کې ځينې هغه دي چې مړه کيږي او ځينې په تاسو کې هغه دي چې رد کولی (رسولی) شي تر ټولو ناکاره عمر پورې، د دې لپاره چې هغه له پوهېدلو نه وروسته په هېڅ شي پوه نشي او ته به ځمکه وچه شاړه وينې، نو کله چې مونږ په هغې باندې اوبه نازلې کړو (نو) ښورېږي او نرمه شي او له هر قسمه ښکلو (نباتاتو) نه زرغون کړي). [الحج سورت: 5 آيت]

، او حق ذات فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ ۝١٢ ثُمَّ جَعَلۡنَٰهُ نُطۡفَةٗ فِي قَرَارٖ مَّكِينٖ ۝١٣ ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ۝١٤﴾ [المؤمنون: 12-14]

او يقينًا يقينًا مونږ انسان د ختې له خُلاصې نه پيدا کړی دی. بيا مونږ هغه، نطفه (د مني يو څاڅکی) وګرځوله په مضبوط قرار ځای کښيا مونږ دغه نطفه د وينې ټوټه وګرځوله، وروسې مونږ دغه د وينې ټوټه د غوښې وړه بوټۍ وګرځوله، ورپسې مونږ دغه بوټۍ هډوکی وګرځوله، بيا مو هډوکو ته غوښه واغوستله، بيا مونږ هغه په بل تخليق کې پيدا کړ، نو الله ډېر برکت والا دی چې تر ټولو ښه پيدا کوونکی دی). [المؤمنون سورت: 12-14 آيتونه]

. له عبدالله رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- موږ ته وويل- او هغه رښتينی او رښتيا ګڼل شوی دی: فرمايلي دي: «یو ستاسې څخه د هغه خلقت د مور په ګېډه کې په څلوېښت ورځو کې راغونديږي(نطفه وي)، بيا دا د وينې ټوټه شي، بيا د غوښې بوټۍ شي، بيا الله ملايکه راوليږي، نو په څلورو شيانو ورته امر وکړي، او ورته وويل شي چې : عمل، رزق، اجل او نيمکرغه يا بد مرغه يې وليکه، بيا پکې روح وپوکول شي». (بخاري (3208)، مسلم (2643)، ابوداود (4708)، ترمذي (2137) او ابن ماجه (76) راويستلی دی. او پيغمبر - صلی الله عليه وسلم بيان کړی دی چې څرنګه ماشوم کله پلار او کله مور ته کيږي، نو کله چې عبد الله بن سلام ورڅخه پوښتنه وکړه ورته يې وويل: زه درڅخه د دريو شيانو په اړه پوښتنه کوم چې له نبي پرته پرې بل څوک نه پوهيږي؛ د قيامت لومړی نخښه څه شی دی؟ او هغه لومړی خوراک څه شی دی چې جنتيان به يې خوري؟ او دا څنګه کيږي چې ماشوم (په څېره ) کې پلار يا مور ته کيږي؟ هغه ورته وويل: لږ وړاندې يې اړه جبريل خبر کړم، ابن سلام وويل: هغه له ملايکو څخه د يهودو دښمن دی، ويې فرمايل: د قيامت لومړی نخښه هغه اور دی چې له ختيځ څخه د لويديځ لورې ته يې راټولوي، او د جنتيانو لومړی خوراک چې هغوی به يې خوري؛ د ماهي د ينې (جيګر) سره اضافي ټوټه ده، او ماشوم؛ نو کله چې د سړي نطفه د ښځې له نطفې څخه مخکې شي زيږيدلی - سړي - ته شي، او کله چې د ښځې نطفه د سړي له نطفې څخه مخکې شي نو - ښځې - ته شي. ويې ويل: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ. زه ګواهي ورکوم چې نشته دی لايق د عبادت مګر يو الله دی، او - يدې چې - ته د الله رسول يې. بخاري (٣٩٣٨). او موږ ايمان لرو چې ټول خلک د آدم له اولادې څخه دي او آدم له خاورې څخه دی، نو له تقوا پرته هيڅوک په بل غوره والی نه لري، حق تعالی فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ١٣﴾ [الحجرات: 13]

(ای خلکو! بېشکه مونږ تاسو له یوه سړي او له یوې ښځې پیداکړي یاست، او مونږ تاسو څانګې او قبیلې ګرځولي یاست، د دې لپاره چې تاسو یو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله تعالی په نېز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زیات پرهېزګار دی، بېشکه الله تعالی ښه پوه، ښه خبردار دی). [الحجرات سورت: 13 آیت]،

او له أبوهريره -رضي الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمایل: «إِنَّ اللَّهَ عز وجل قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ، وَفَخْرَهَا بِالْآبَاءِ مُؤْمِنٌ تَقِيٌّ، وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ، أَنْتُمْ بَنُو آدَمَ، وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ...». «الله -جل جلاله- له تاسو څخه د جاهلیت پاتې میراثي دودونه لیرې کړي دي، او همدا رنګه په پلرونو فخر، مؤمن تقوا لرونکی وي، او فاسق بدبخت وي، تاسو د آدم اولاده یاست او آدم له خاورې څخه دی....». ( أبو داود (5116)، ترمذي (3956)، او المعافى بن عمران په الزهد کې (147)، او ابن وهب په الجامع کې (30)، او أحمد (8736). او موږ عقیده لرو چې الله آدم -عليه السلام- له خاورو څخه پیدا کړ او د هغه لپاره یې ښځه پیدا کړه چې هغه حوا عليها السلام ده، او نور ټول انسانان یې له سپکو اوبو څخه پیدا کړل، پرته له عیسی علیه السلام څخه، ځکه چې الله هغه له مور څخه بې پلاره پیدا کړ، لکه څرنګه چې الله د هغه په اړه پدې وینا سره خبر ورکړی:

﴿إِذۡ قَالَتِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرۡيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٖ مِّنۡهُ ٱسۡمُهُ ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ وَجِيهٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ٤٥ وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِي ٱلۡمَهۡدِ وَكَهۡلٗا وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٤٦ قَالَتۡ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٞ وَلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٞۖ قَالَ كَذَٰلِكِ ٱللَّهُ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ إِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٤٧﴾ [آل عمران: 45-47]

(کله چې ملایکو وویل: ای مریمې! بېشکه الله تا ته له خپل طرف نه د یوې کلمې زېرى درکوي، چې د هغه نوم مسیح عیسىٰ زوی د مریم دی، چې په دنیا او آخرت کې به ډېر مخور او له مُقرَبینو څخه به وي. او له خلکو سره به خبرې کوي په زانګو (غېږ) کې او په پاخه عمر کې او وي به له صالحانو څنې. هغې وویل: ای زما ربه! زما لپاره بچی څنګه کېدی شي،حال دا چې ما ته هېڅ یو بشر لاس (هم) نه دی راوړی؟! هغه (جبریل) وویل: همداسې الله پیدا کوي څه چې

وغواړي، کله چې د يو کار اراده وکړي، نو بېشکه چې هغه (کار) ته همدا وايي: ''وشه'' نو هغه وشي) [آل عمران: 45-47]

**. او مونږ ايمان لرو چې عيسى -عليه السلام - که څه هم د هغه پېدايښت حيرانوونکى و - د الله بنده او د هغه رسول دى.**

﴿إِنۡ هُوَ إِلَّا عَبۡدٌ أَنۡعَمۡنَا عَلَيۡهِ وَجَعَلۡنَٰهُ مَثَلٗا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ۝٥٩﴾ [الزخرف: 59]

(دغه نه دى مګر يو بنده دى چې مونږ پر ده انعام کړى دى او د بني اسرائيلو لپاره مو هغه (د قدرت) يو مثال ګرځولى و) [الزخرف سورت: 59 آيت]

**، هغه انسان دى خواړه خوري، او معبود نه دى، الله تعالى فرمايلي:**

﴿مَّا ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ إِلَّا رَسُولٞ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِ ٱلرُّسُلُ وَأُمُّهُۥ صِدِّيقَةٞۖ كَانَا يَأۡكُلَانِ ٱلطَّعَامَۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ ثُمَّ ٱنظُرۡ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ۝٧٥﴾ [المائدة: 75]

(نه دى د مريمې زوى مسيح مګر يو رسول دى، يقينًا له ده نه مخکې رسولان تېر شوي دي او د ده مور صِديقه (ډېره زياته رښتيني) وه، دې دواړو به طعام خوړلو، ته وګوره مونږ څنګه دوى ته آيتونه بيانوو، بيا ته وګوره دوى کوم طرف اړولى شي). [المائدة سورت: 75 آيت].

**او موږ د خپل رب په کتاب کې ګورو چې الله - تعالى - په ډېرى دليلونو سره په هغو کسانو رد کړى چې ګمان کوي عيسى - عليه السلام - اله دى، د دې دليلونو له جملې څخه: د حق ذات تبارک و تعالى دا قول دى:**

﴿مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٖ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنۡ إِلَٰهٍۚ إِذٗا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهِۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ۝٩١﴾ [المؤمنون: 91]

(الله (د ځان لپاره) هېڅ اولاد نيولى نه دى او نه له هغه سره بل هېڅ معبود شته (او که ورسره وي نو) په دغه وخت کې به خامخا هر اله بېولي وو هغه څه چې پيدا کړي يې وو، او خامخا د دوى ځينو به په ځينو نورو باندې غلبه کوله، پاك دى الله له هغو خبرو نه چې دوى يې بيانوي). [المؤمنون سورت: 91 آيت]

**، او د الله -تعالى- دا قول:**

﴿لَّقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَۚ قُلۡ فَمَن يَمۡلِكُ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔا إِنۡ أَرَادَ أَن يُهۡلِكَ ٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَأُمَّهُۥ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗاۗ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٧﴾ [المائدة: 17]

(يقينًا يقينًا هغه كسان كافر شول چې هغوی ويل: بېشكه الله هم دا د مريمې زوی مسيح دی، ته (ورته) ووايه: د الله په وړاندې به څوك د څه شي اختيار ولري كه هغه اراده وكړي چې د مريمې زوی مسيح او د هغه مور او څوك چې په ځمكه كې دي ؛ هغه ټول هلاك كړي، او خاص د الله لپاره د اسمانونو او ځمكې بادشاهي ده او د هغه څه چې د دې دواړو په مينځ كې دي، هغه چې څه وغواړي پيدا كوي يې او الله پر هر شي باندې ښه قادر دی). [المائدة سورت: 17 آيت].

او مونږ دا عقيده لرو چې الله - تعالى - انسانان په فطرت سره پيدا كړي دي.

﴿فَأَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗاۚ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٣٠﴾ [الروم: 30]

(نو ته خپل مخ دين ته نېغ (او برابر) وساته، په داسې حال كې چې حق ته مايل اوسې، (تاسو لازم ونيسئ) د الله هغه فطرت لره چې په هغه يې خلق پيدا كړي دي، د الله تخليق لره هېڅ بدلون نشته همدغه سم (نېغ) دين دی، او لېكن د خلقو اكثريت نه پوهېږي) [الروم سورت: 30 آيت]

. ابن زيد، مجاهد او عكرمة وايي: فطرت يعنې اسلام. الطبري تفسير (98/20).

ابن عباس -رضي الله عنهما- او ابراهيم النخعي، سعيد بن جبير، مجاهد، عكرمه، قتاده، ضحاك او ابن زيد د الله - تعالى - د دې وينا په اړه فرمايلي دي: {لاَ تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ} يعنې د الله تخليق لره هېڅ بدلون نشته، يعنې د الله دين لره " بخاري په خپل "صحيح" كې تر دې عنوان لاندې باب ايښودلی او فرمايلي يې دي «باب {لاَ تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ} باب دی په دې اړه چې د الله تخليق لره هيڅ بدلون نشته، يعنې د الله دين لره بدلون نشته، {خُلُقُ الأَوَّلِينَ} يعنې د لومړنيو دين، او فطرت : اسلام دی».

او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ، أَوْ يُنَصِّرَانِهِ، أَوْ يُمَجِّسَانِهِ، كَمَثَلِ البَهِيمَـةِ تُنْتَجُ البَهِيمَةَ، هَلْ تَرَى فِيهَا جَدْعَاءَ؟». «هر ماشوم په فطرت سره پيدا كيږي، خو مور او پلار يې هغه يهودي يا نصراني او يا مجوسي كوي، لكه د څاروي په څېر چې بل څاروی (روغ رمټ )وزيږوي - آيا تاسو پكې پوزه يا غوږ پرې شوی

ګورئ؟» ( معنا دا چې مور زادي يې غړي پرې نه وي بلکه وروسته يې ورته خلک پرې کوي ). بیا أبو هريرة - رضي الله عنه - وفرمايل:

﴿... فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ ...﴾ [الروم: 30]

(د الله هغه فطرت لره چې په هغه يې خلک پيدا کړي دي، د الله تخليق لره هېڅ بدلون نشته همدغه سم(نبغ) دين دی). [الروم سورت: 30 آيت]

. بخاري (۴۷۷۵)، مسلم (۲۶۵۸)، ابوداود (۴۷۱۴) او ترمذي (۲۱۳۸) روايت کړی.
له عياض بن حمار المجاشعي - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يوه ورځ په خطبه کې وفرمايل: «أَلَا إِنَّ رَبِّي أَمَرَنِي أَنْ أُعَلِّمَكُمْ مَا جَهِلْتُمْ، مِمَّا عَلَّمَنِي يَوْمِي هَذَا، كُلُّ مَالٍ نَحَلْتُهُ عَبْدًا حَلَالٌ، وَإِنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ، وَإِنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ فَاجْتَالَتْهُمْ عَنْ دِينِهِمْ، وَحَرَّمَتْ عَلَيْهِمْ مَا أَحْلَلْتُ لَهُمْ، وَأَمَرَتْهُمْ أَنْ يُشْرِكُوا بِي مَا لَمْ أُنْزِلْ بِهِ سُلْطَانًا...». «خبر شئ رب مي راته امر کړی چې هغه څه تاسو ته دروښايم چې نه پرې پوهيږئ، هغه څه چې نن يې ماته راوښودل، هر هغه مال مې چې بنده ته ورکړ هغه ورته حلال دی، او ما خپل ټول بنده ګان توحيد ته مايل پيدا کړي دي ، دوی ته شيطانان راغلل نو له خپل دين څخه يې واړول، او هغه څه يې پرې حرام کړل چې ما ورته حلال کړي وو، او ورته يې امر وکړ چې ما سره شرک وکړي په هغه څه کې چې ما پرې هيڅ دليل ندی نازل کړی». ( مسلم (2865) روايت کړی دی. او موږ ايمان لرو پر دې چې الله - تعالى - د بيا راژوندي کيدلو څخه له انکار کوونکو سره مخالفت وکړ کله يې چې هغوی ته له خاورو څخه د هغوی د پيدايښت د پيل يادونه وکړه.

﴿وَضَرَبَ لَنَا مَثَلٗا وَنَسِيَ خَلۡقَهُۥۖ قَالَ مَن يُحۡيِ ٱلۡعِظَٰمَ وَهِيَ رَمِيمٞ ٧٨ قُلۡ يُحۡيِيهَا ٱلَّذِيٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلۡقٍ عَلِيمٌ ٧٩﴾ [يس: 78-79]

(ته (دوی ته) ووايه: دا به هغه ذات راژوندي کوي چې دا يې اول ځل پيدا کړي دي، او هغه په خپل مخلوق بانديې ښه عالم دی). [يس سورت: 78، 79 آيتونه].

او دا يې هم ورياده کړه چې دوی يې له سپکو اوبو څخه پيدا کړي دي، نو څنګه کېدای شي چې دوی د خپل رب په وړاندې تکبر وکړي او دوی خپل راتوليدل او راپورته کېدل لرې ګڼي؟! حق ذات فرمايلي دي:

﴿ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥۖ وَبَدَأَ خَلۡقَ ٱلۡإِنسَٰنِ مِن طِينٖ ٧ ثُمَّ جَعَلَ نَسۡلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ٨ ثُمَّ سَوَّىٰهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِۦۖ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ٩ وَقَالُوٓاْ أَءِذَا ضَلَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدِۭۚ بَلۡ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ كَٰفِرُونَ ١٠ ۞ قُلۡ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلۡمَوۡتِ ٱلَّذِي وُكِّلَ بِكُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ١١﴾ [السجدة: 7-11]

(هغه الله تعالی چې ښایسته کړی يې دی هر هغه شی چې پیداکړی يې دی، او د انسان د پیدایښت پیل يې له ختې څخه کړی دی. * بیا يې د هغه نسل د سپکو (حقېرو) اوبو د خلاصې نه پیدا کړ. * بیا يې هغه برابر کړ او په هغه کې يې له خپله روحه څنې پو کړل او د هغه لپاره يې غوږونه او سترګې او زړونه پیدا کړل (خو) تاسو ډېر لږ شکر وباسئ. او دوی وايي: آیا کله چې مونږ په ځمکه کې ورك (او خاورې) شو، آیا مونږ به خامخا په رښتیا سره په نوي پیدایش کې یو! بلکې دوی د خپل رب له ملاقات نه انکار کوونکي دي. ته (دوی ته) ووایه: ستاسو روحونه هغه د مرګ پرېښته قبض کوي چې په تاسو مقرر کړی شوې ده، بیا به تاسو خپل رب ته بېرته ورګرځولی شئ). [السجدة سورت: 7-11 آیتونه]

**. او موږ ایمان لرو چې الله لره د بنده ګانو پیدا کول پدې دلیل دي چې یواځې هغه د عبادت وړ دی، الله تعالی فرمایلي:**

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ٢١﴾ [البقرة: 21]

(ای خلکو! د خپل رب عبادت کوئ، هغه چې تاسو يې پیدا کړي یئ او هغه کسان چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ). [البقرة سورت: 21 آیت]

**. لکه څنګه چې الله - تعالی - موږ ته په قران کریم کې خبر راکړی چې نوح خپل قوم ته یادونه وکړه چې الله - تعالی- دوی په مرحلو کې پیدا کړي دي، نو دوی څنګه هغه ته د لویۍ عقیده نه ساتي؟! الله - تعالی - فرمایلي:**

﴿مَّا لَكُمۡ لَا تَرۡجُونَ لِلَّهِ وَقَارٗا ١٣ وَقَدۡ خَلَقَكُمۡ أَطۡوَارًا ١٤﴾ [نوح: 13-14]

(په تاسو څه شوي دي چې د الله لپاره د لویې عقیده نه ساتئ؟.حال دا چې ده تاسو قسما قسم پیدا کړي یئ). [نوح سورت: 13، 14 آیتونه].

او په انسان باندې په عالم برزخ او آخرت کې بیلابیل حالتونه راځي، چې تفصیل به یې -اِن شاء الله - په ( کتاب الایمان بالیوم الآخر کې ) راځي.

## باب دی د روح د پیدایښت په اړه

او مونږ پوهیږو چې روح د الله له حکم څخه دی او انسانان یې په اړه په هیڅ نه پوهیږي مګر هغه چې الله ورښودلي دي، حق ذات فرمایلي دي:

﴿وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّي وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ إِلَّا قَلِيلٗا ٨٥﴾ [الإسراء: 85]

(او دوی له تا نه د روح په باره کې پوښتنه کوي ته (ورته) ووایه: روح زما د رب له امره ځیني دی او تاسو ته له علم ځني څه برخه نه ده درکړل شوې مګر ډېره لږه). [الإسراء سورت: 85 آیت]،

او له عبد الله - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمایي: «زه د پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - سره د خرماو په باغ یا کرنیزه زمکه کې وم، پداسې حال کې چې هغه د خرما ډډ ته تکیه وهلې وه، چې ناڅاپه یهود تیرل شول، ځینو یې ځینو نورو ته وویل: د روح په اړه ترې پوښتنه وکړئ، نو ویې ویل: تاسو څه شي اړباسلي یاست چې پوښتنه ترې کوئ؟ او ځینو نورو یې وویل: هسې نه داسې څه ووایي چې بد به یې ګڼئ، نو ویې ویل: پوښتنه ترې وکړئ، نو د روح په اړه یې ترې پوښتنه وکړه، نو پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - چپ پاتې شو او هیڅ جواب یې ورنه کړ، نو زه پوه شوم چې وحیې ورته کیږي، زه په خپل ځای کې ودریدم، نو کله چې وحیې نازل شوه، ویې فرمایل: {وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي} ». یعنې: (او دوی له تا نه د روح په باره کې پوښتنه کوي ته (ورته) ووایه: روح زما د رب له امره ځیني دی او تاسو ته له علم ځیني څه برخه نه ده درکړل شوې مګر ډېره لږه). (بخاري (۴۷۲۱)، مسلم (۲۷۹۴) او ترمذي (۳۱۴۱) راوړی دی. او مونږ ایمان لرو چې روحونه د الله - تعالی - مخلوق دی، حق ذات فرمایلي دي: ، (الله د هر شي پیدا کوونکی دی او هغه په هر شي باندې نګران دی). [الزمر سورت: 62 آیت].

او کله چې الله -تعالی- د آدم -علیه السلام- پیدایښت بشپړ کړ، نو په هغه کې یې روح پو کړ، رب العزت فرمایلي دي:

﴿فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ٢٩﴾ [الحجر: 29]

(نو کله چې زه هغه برابر کړم او په هغه کې له خپل طرفه روح پُو کړم، نو تاسو هغه ته پرېوځئ، سجده کوونکي). [الحجر سورت: 29 آیت].

او کله چې جنین (ماشوم) د مور په ګېډه کې څلور میاشتې پوره کړي، نو الله - تعالی -ورته پرښته راولېږي او روح پکې پوکړي، له عبدالله - رضي الله عنه- څخه روایت دی، وایي: د الله رسول - صلی الله علیه وسلم - مونږ ته وویل: او هغه رېښتونی او رېښتیا ګڼل شوی دی ویې فرمایيل: «إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا، ثُمَّ عَلَقَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يَبْعَثُ اللَّهُ مَلَكًا فَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعٍ: بِرِزْقِهِ وَأَجَلِهِ، وَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ، ثُمَّ يُنْفَخُ فِيهِ الرُّوحُ»، «یو ستاسوڅخه د مور په ګېډه کې څلوېښت ورځې نطفه راغونډیږي، بیا لکه د وینې ټوټه شي (څلوېښت ورځې)، بیا لکه د غوښې بوټۍ شي (څلوېښت ورځې)، بیا ورته الله تعالی ملایک راولیږي، نو په څلورو کارونو ورته امر وشي، په رزق او اجل یې، او دا چې نیکمرغه او که بدمرغه به وي، بیا پکې روح پو کړل شي»، (بخاري (3208)، مسلم (2643)، ابوداود (4708)، الترمذي (2137) او ابن ماجه (76) روایړی دی. پرته له مسیح -علیه السلام- څخه ، ځکه د هغه د پیدایښت پیل د ملایکې له پوکې څخه و، حق ذات فرمایلي او د هغه وینا حق ده:

﴿وَٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا وَجَعَلۡنَٰهَا وَٱبۡنَهَآ ءَايَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ۝٩١﴾ [الأنبياء: 91]

(او (یاده کړه) هغه (جینۍ) چې د خپل شرم ځای حفاظت یې کړی و، نو مونږ په (ګرېوان د) هغې کې د خپل طرفه روح پو کړ او مونږ هغه او د هغې زوی د خلقو لپاره لویه نښه وګرځول) [الأنبياء سورت: 91 آیت]

، او الله تعالی فرمایلي:

﴿... إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ ...﴾ [النساء: 171]

(یقینًا همدا خبره ده چې د مریمې زوی مسیح عیسیٰ خو بس د الله رسول دی او د هغه کلمه ده، چې هغه یې مریم ته غورځولې وه او د هغه (الله) له جانبه روح دی) [النساء سورت: 171 آیت]

. مونږ باور لرو چې روحونه د خوب پر مهال اخیستل کیږي، او بیا بیرته بدن ته راستنیږي، حق ذات فرمایلي دي:

﴿ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ حِينَ مَوۡتِهَا وَٱلَّتِي لَمۡ تَمُتۡ فِي مَنَامِهَاۖ فَيُمۡسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيۡهَا ٱلۡمَوۡتَ وَيُرۡسِلُ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ٤٢﴾ [الزمر: 42]

. (الله نفسونه (ساګاني) قبضوي د هغو د مرګ په وخت کي او هغه (نفس) چي مړ نه وي د (هغه ساه) د خوب په وخت کي (قبضوي)، بيا هغه (ساه) ساتي چي په هغې يې د مرګ فيصله کړې وي او هغه بله تر مقررې نېټې پورې راخوشې کړي). [الزمر سورت : 42 آيت]

. وعن عبدالله ابن أبي قتادة عن أبيه رضي الله عنه قال: سِرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم لَيْلَةً، فَقَالَ بَعْضُ القَوْمِ: لَوْ عَرَّسْتَ بِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «أَخَافُ أَنْ تَنَامُوا عَنِ الصَّلَاةِ»، قَالَ بِلَالٌ: أَنَا أُوقِظُكُمْ، فَاضْطَجَعُوا، وَأَسْنَدَ بِلَالٌ ظَهْرَهُ إِلَى رَاحِلَتِهِ، فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ فَنَامَ، فَاسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم، وَقَدْ طَلَعَ حَاجِبُ الشَّمْسِ، فَقَالَ: «يَا بِلَالُ، أَيْنَ مَا قُلْتَ؟» قَالَ: مَا أُلْقِيَتْ عَلَيَّ نَوْمَةٌ مِثْلُهَا قَطُّ، قَالَ: او عبد الله بن أبي قتادة - رضي الله عنه - د خپل پلار څخه روايت کوي فرمايي: يو شپه د پيغمبر - صلى الله عليه وسلم سره روان شو، نو ځينو وويل، اى د الله رسوله که اجازه راکړې چې شپه جوړه کړو ( ويده شو) هغه وفرمايل: «ويريږم چې د لمانځه څخه به ويده پاتې شئ، بلال وويل: زه مو راپاڅوم، نو څملاستل، او بلال خپلي سپرلۍ ته تکيه وکړه، نو سترګې پرې پټې شوې او ويده شو، نو پيغمبر - صلى الله عليه وسلم راويښ شو، حال دا چې د لمر سترګه راختلي وه، نو ويې ويل: اى بلاله، څه شو هغه څه چې تا ويل؟ هغه وويل: تر اوسه راباندې هيڅکله داسې خوب نه و راغلى، نو هغه وفرمايل: «إِنَّ اللَّهَ قَبَضَ أَرْوَاحَكُمْ حِينَ شَاءَ، وَرَدَّهَا عَلَيْكُمْ حِينَ شَاءَ». «الله چې کله غوښتل نو ستاسو روحونه يې قبض کړي وو، او کله يې چې خوښه شوه نو بيرته يې درته راوګرځول». بخاري (٥٩٥)، ابو داود (٤٣٩، ٤٤٠) او نسائي (٨٤٦) روايت کړى دى. او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «إِذَا أَوَى أَحَدُكُمْ إِلَى فِرَاشِهِ فَلْيَنْفُضْ فِرَاشَهُ بِدَاخِلَةِ إِزَارِهِ، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي مَا خَلَفَهُ عَلَيْهِ، ثُمَّ يَقُولُ: بِاسْمِكَ رَبِّ وَضَعْتُ جَنْبِي، وَبِكَ أَرْفَعُهُ، إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا، وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ. «کله چې يو ستاسو څخه خپل خوب ځاى ته راشي نو خپله بستره دې د پاى جامې په دننه برخې سره وڅنډي، ځکه دى نه پوهيږي چې په بستره څه پاتې شوي دي، بيا دې ووايي:بِاسْمِكَ رَبِّ وَضَعْتُ جَنْبِي، وَبِكَ أَرْفَعُهُ، إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا، وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ. اى ربه ستا په نوم سره اړخ لګوم، او ستا په نوم يې پورته کوم، نو که زما روح دې قبض کړ؛ پرې ورحميږه، او که دې پريښود؛ نو ويې ساته په هغه څه سره چې د خپلو نيکو بندګانو ساتنه پرې کوې». بخاري (6320)، مسلم (2714)، ابوداود

(5050)، ترمذي (3401) او ابن ماجه (3874) روایت کړی دی. او مونږ پدې ایمان لرو چې د مړینې پر مهال روح له بدن څخه جلا کیږي، حق ذات فرمایلي دي:

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِۖ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ﴿٥٧﴾﴾ [العنکبوت: 57]

(هر نفس د مرګ(مزه) څکونکی دی، بیا به خاص مونږ ته راګرځولی شئ). [العنکبوت سورت: 57 آیت]

. نو- روح - په مرګ سره له بدن څخه په بشپړه توګه جلا کیږي او لید یې تعقیبوي، له ام سلمه -رضی الله عنها- څخه روایت دی، هغې وویل: رسول الله -صلی الله علیه وسلم- په داسې حال کې په ابو سلمه ورننوت چې سترګې یې خلاصې پاتې شوې وې نو سترګې یې پرې پټې کړې، بیا یې وویل: «إِنَّ الرُّوحَ إِذَا قُبِضَ تَبِعَهُ الْبَصَرُ...»، «روح چې کله واخیستل شي نو لید سترګې یې تعقیبوي...»، ( مسلم (920)، ابو داود (3118) او ابن ماجه (1454) روایت کړی دی. نو هغه لکه د بدن په څېر نه مړ کیږي، بلکه مرګ یې له بدن څخه جلاوالی دی.

او مونږ ایمان لرو چې د مړینې پرمهال ملايکې له جسدونو څخه روحونه راوباسي او یا ورته نعمت رسیږي او یا عذاب، الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ قَالَ أُوحِىَ إِلَىَّ وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَىْءٌ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثْلَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُۗ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِى غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓا۟ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوٓا۟ أَنفُسَكُمُۖ ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيْرَ ٱلْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ ءَايَٰتِهِۦ تَسْتَكْبِرُونَ﴿٩٣﴾﴾ [الأنعام: 93]

(او که چېرې ته ووینې کله چې ظالمان د مرګ په سختیو کې (ګېر) وي او ملایکو خپل لاسونه وراوږده کړي وي (او ورته وايي) تاسو خپلې ساه ګانې راوباسئ، نن ورځ به تاسو ته د سپکوونکي عذاب سزا درکولی شي، په سبب د هغې ناحقه وینا چې تاسو به په الله باندې تپله، او تاسو به د ده د آیتونو له قبلولو نه انکار او تکبر کاوه). [الأنعام: 93].

نو ملایک ساه وباسي، بیا پرې یا آساني راځي او یا عذاب، لکه څرنګه چې په جسد راځي، له البراء بن عازب - رضی الله عنهما - څخه روایت دی فرمایي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره له أنصارو څخه د یو سړي جنازې ته ووتو، تر دې چې قبر ته ورسیدو، او تر دې دمه لا لحد کې ایښودل شوی نه و، نو رسول الله - صلی الله علیه وسلم

کېناست، او مونږ ترې چاپېره کیناستو - داسې وو - لکه زمونږ په سرونو چې مرغان وي، او په لاس کې یې یو ډکی (لرګی) و چې ځمکه یې پرې ټوکله نو سر یې راپورته کړ او ویې فرمایل: «اسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ مَرَّتَيْنِ، أَوْ ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ:» په الله - تعالی- باندې د قبر له عذاب نه پناه وغواړئ ؛ دوه ځلې او یا درې ځلې بیا یې وفرمایل: «إِنَّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ إِذَا كَانَ فِي انْقِطَاعٍ مِنَ الدُّنْيَا وَإِقْبَالٍ مِنَ الْآخِرَةِ، نَزَلَ إِلَيْهِ مَلَائِكَةٌ مِنَ السَّمَاءِ بِيضُ الْوُجُوهِ، كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الشَّمْسُ، مَعَهُمْ كَفَنٌ مِنْ أَكْفَانِ الْجَنَّةِ، وَحَنُوطٌ مِنْ حَنُوطِ الْجَنَّةِ، حَتَّى يَجْلِسُوا مِنْهُ مَدَّ الْبَصَرِ، ثُمَّ يَجِيءُ مَلَكُ الْمَوْتِ عليه السلام حَتَّى يَجْلِسَ عِنْدَ رَأْسِهِ، فَيَقُولُ: أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ، اخْرُجِي إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ». قَالَ: «فَتَخْرُجُ تَسِيلُ كَمَا تَسِيلُ الْقَطْرَةُ مِنْ فِي السِّقَاءِ، فَيَأْخُذُهَا، فَإِذَا أَخَذَهَا لَمْ يَدَعُوهَا فِي يَدِهِ طَرْفَةَ عَيْنٍ حَتَّى يَأْخُذُوهَا، فَيَجْعَلُوهَا فِي ذَلِكَ الْكَفَنِ، وَفِي ذَلِكَ الْحَنُوطِ، وَيَخْرُجُ مِنْهَا كَأَطْيَبِ نَفْحَةِ مِسْكٍ وُجِدَتْ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ»، قَالَ: «فَيَصْعَدُونَ بِهَا، فَلَا يَمُرُّونَ - يَعْنِي: بِهَا - عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ، إِلَّا قَالُوا: مَا هَذَا الرُّوحُ الطَّيِّبُ؟ فَيَقُولُونَ: فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ، بِأَحْسَنِ أَسْمَائِهِ الَّتِي كَانُوا يُسَمُّونَهُ بِهَا فِي الدُّنْيَا، حَتَّى يَنْتَهُوا بِهَا إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَيَسْتَفْتِحُونَ لَهُ، فَيُفْتَحُ لَهُمْ، فَيُشَيِّعُهُ مِنْ كُلِّ سَمَاءٍ مُقَرَّبُوهَا إِلَى السَّمَاءِ الَّتِي تَلِيهَا، حَتَّى يُنْتَهَى بِهِ إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ، فَيَقُولُ اللَّهُ عز وجل: اكْتُبُوا كِتَابَ عَبْدِي فِي عِلِّيِّينَ، وَأَعِيدُوهُ إِلَى الْأَرْضِ، فَإِنِّي مِنْهَا خَلَقْتُهُمْ، وَفِيهَا أُعِيدُهُمْ، وَمِنْهَا أُخْرِجُهُمْ تَارَةً أُخْرَى». قَالَ: «فَتُعَادُ رُوحُهُ فِي جَسَدِهِ...». مؤمن بنده چې کله له دنیا سره د پرېکون او آخرت ته د ورتګ په حال کې وي، نو له آسمان څخه ورته سپین مخي ملاېکې راښکته شي؛ مخونه یې لکه د لمر په څېر وي، دوی سره د جنت له کفنونو څخه یو کفن او له خوشبوییو څخه یوه خوشبویي وي، تر دې چې د سترګو د لید په واټن کې لرې ورڅخه کیني، بیا د مرګ ملاېکه - علیه السلام - راشي، تر دې چې سر ته یې کیني، نو وایي: ای پاکیزه روحه، د الله مغفرت او خوښۍ ته راووځه». وایي: «نو راووځي پداسې حال کې چې بهیږي به لکه څرنګه چې د مشک (چاټۍ) له خولې څخه اوبه څڅیږي، نو وایې خلې، نو چې کله یې واخلي د سترګو د رپ په اندازه یې په لاسونو کې نه پرېږدي تر دې چې په هغه کفن او هغه خوشبویۍ کې یې ځای پر ځای کړي، او لدې څخه داسې ښایسته خوشبویي راوځي لکه د ځمکې پر مخ چې تر ټولو ښایسته خوشبویي وي»، وایي: « نو پورته یې کړي، په پورتنیو مخلوقاتو کې له ملاېکو څخه په هیچا نه تیریږي مګر دا چې هغوی وایي: دا څومره پاکیزه روح دی؟ نو دوی ورته وایي: فلانی د فلانی زوی دی، په هغه ښایسته نوم سره یې یاد کړي چې په دنیا کې به ورته اخیستل کیده، تر دې چې د دنیا آسمان ته یې ورسوي، نو د دروازې خلاصیدلو غوښتنه وکړي، نو ورته خلاصه شي، نو په هر آسمان کې ورته نیږدې مخلوقات له ملاېکو څخه یې تر بل آسمان پورې بدرګه کړي، تر دې چې اووم آسمان ته یې ورسوي، نو الله - عزوجل - وفرمایي: زما د بنده کتاب په علیین کې ولیکئ، او ځمکې ته یې بیرته

وروګرځوئ، یقینا چې ما دوی له همغې څخه پیدا کړي دي، او همغې ته یې بیرته ورګرځوم، او بیرته یې ترې بیا ځلې راوباسم». وايي: نو روح یې بیرته جسد ته وروګرځول شي...». ابوداود (3212)، نسائي (2001)، ابن ماجه (1548)، ابوداود طیالسي (789)، عبدالرزاق (6324، 6737) او احمد (18534) روایت کړی دی. او لفظ د همده دی) رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حدیث کې یادونه کړې چې روح راوځي، او بهیږي ، او قبض کیږي، او کفن کیږي،او پورته خیژول کیږي او بیرته راستنیږي، او دا ټول د مخلوق شان دی. او موږ باور لرو چې روحونه د بدن له وتلو وروسته د قیامت تر ورځې پورې په نعمتونو او یا عذابونو کې ځای پر ځای کیږي، کعب بن مالک -رضي الله عنه- له رسول الله - صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایلي یې دي: یقینا د مؤمن روح به د جنت په ونو کې یو مرغه وي، تر دې چې الله تعالی یې د قیامت په ورځ بیرته جسد ته وروګرځوي. نسائي (2073)، ترمذي (1641)، ابن ماجه (4271)، عبد الرزاق (484، 2681)، الحمیدي (897) او احمد (15776، 15777) )) روایت کړی دی. او له مسروق څخه روایت دی فرمایي: له عبد الله بن مسعود - رضي الله عنه - څخه مې د دې آیت په اړه پوښتنه وکړه:

﴿وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتَۢاۚ بَلۡ أَحۡيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمۡ يُرۡزَقُونَ﴿١٦٩﴾﴾ [آل عمران: 169]

(او د الله په لاره کې پر وژل شویو کسانو باندې هېڅکله د مړو ګومان مه کوه، بلکې (هغوی) ژوندي دي، د خپل رب په نیز هغوی ته رزق ورکول کیږي). [آل عمران سورت: 169آیت]

. وايي: موږ د دې په اړه پوښتنه کړې ده، نو ویلي یې دي: «أَرْوَاحُهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ، لَهَا قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ، تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ، ثُمَّ تَأْوِي إِلَى تِلْكَ الْقَنَادِيلِ...». «روحونه به یې د شنو مرغانو په ګېډو کې وي، هغوی لره به داسې ډیوې وي چې په عرش کې به ځوړندې وي، الوتنه به کوي په جنت کې ځرنګه چې غواړي، بیا به بیرته همغو ډیوو ته راځي...». ( مسلم (1887)، ترمذي (3011) او ابن ماجه (2801) روایت کړی دی.

# كتاب الدين )د دين كتاب(

## د كتاب لنډيز

او موږ ايمان لرو چې الله - تعالى -  اسلام د دين په توګه خوښ کړی دی، او دا د ټولو انبياوو او رسولانو - عليهم السلام - دين دی، او دا هغه فطرت دی چې الله پرې ټول خلک پيدا کړي دي، او دا هغه ژمنه ده چې الله - تعالى - له آدم او د هغه له اولادې څخه اخيستې ده.

او موږ باور لرو چې دا اسلام د ابراهيم عليه السلام وصيت دی خپلې اولادې ته، او همدارنګه دا د يعقوب - عليه السلام- وصيت هم دی خپلې اولادې ته، او دا تر ټولو غوره، پوره او کامل دين دی. او دا چې الله له هغه پرته بل دين نه مني.

او موږ باور لرو چې دا دين هغه دين دی چې جبريل الأمين -عليه السلام- پر محمد صلى الله عليه وسلم نازل کړی دی او دې لره درجې دي: اسلام، ايمان او احسان، او هر يو يې رکنونه لري.

او دا دين هرې ښيګڼې لره رانغاړونکی دی، د زړونو او اعضاوو عملونو ته شامليږي.

او مونږ پدې پوهيږو چې ايمان وينا، عمل او عقيده ده، او دا چې پيروان يې په عملونو کې يو پر بل غوره والی لري، او پدې ايمان لرو چې ايمان زياتيږي اوکميږي، په اطاعت سره زياتيږي او په ګناه سره کميږي.

او پدې ګواهي ورکوو چې د ايمان خاوندان همدوی په دنيا او آخرت کې د کاميابۍ خاوندان دي، ورتګ يې جنت ته دی، سره لدې چې په مرتبو او درجو کې به يو له بل سره توپير ولري.

او مونږ پوهيږو چې ډيری مبارک آيتونه او حديثونه داسې راغلي دي چې په سنتو پر ټينګار او  منګولو لګولو - امر کوي - او له مخالفت څخه يې منع کول کوي، لکه څرنګه چې له تفرقې او اختلاف څخه منع کوي.

## باب دی پدې باره کې چې د اعتبار وړ دین د الله په نیز یوائې اسلام دی

او موږ ایمان لرو چې الله -جل جلاله- اسلام د دین په توګه خوښ کړی دی. ﴿...وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ ...﴾ [المائدة: 3]

(او ما ستاسو لپاره اسلام د دین په توګه خوښ کړ) [المائدة سورت: 3 آیت].

او حق ذات تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ ...﴾ [آل عمران: 19]

(بېشکه (معتبر) دین د الله په نیز اسلام دی) [آل عمران سورت: 19 آیت]،

او هغه د ټولو پیغمبرانو او رسولانو دین دی، الله تعالی د نوح - علیه السلام - په اړه د خبرتیا په توګه فرمایلي دي:

﴿فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَمَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ٧٢﴾ [یونس: 72]

(او ما ته حکم شوی دی چې زه شم له مسلمانانو څخه) [یونس سورت: 72 آیت]،

او الله -تعالی- د ابراهیم -علیه السلام - په اړه فرمایلي دي: {إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ}. (کله چې هغه ته خپل رب وویل: حکم منونکی شه، هغه وویل: زه د رب العلمین حکم منونکی شوم). او موږ باور لرو چې الله - تعالی - زموږ لپاره دین بشپړ کړی دی او په هغه کې هیڅ ډول نیمګړتیا نشته، الله تعالی فرمایلي:

﴿...ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ ...﴾ [المائدة: 3]

(نن ورځ ما ستاسو لپاره ستاسو دین مکمل کړ او پر تاسو مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما ستاسو لپاره اسلام د دین په توګه خوښ کړ) [المائدة سورت: 3 آیت]

، او هغه تر ټولو غوره، بشپړ او کامل دین دی او دا دین د حنیفیت دین دی د ابراهیم ملت دی، متعال ذات فرمایلي دي:

﴿وَمَنۡ أَحۡسَنُ دِينٗا مِّمَّنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ وَٱتَّبَعَ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۗ وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبۡرَٰهِيمَ خَلِيلٗا ١٢٥﴾ [النساء: 125]

(او د دین په لحاظ له هغه کس نه ښوك زیات ښه دی، چې خپل مخ یي الله ته تابع کړ او هغه نېکي کوونکی و او د ابراهیم د ملت تابع شو، چې یواځې په حق پسې تلونکی و، او الله ابراهیم لره خلیل نیولی دی). [النساء سورت: 125 آیت]،

او الله پاک فرمایلي دي:

﴿وَمَن يَرۡغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبۡرَٰهِـۧمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفۡسَهُۥۚ وَلَقَدِ ٱصۡطَفَيۡنَٰهُ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٣٠﴾ [البقرة: 130]

(او څوك دی چې د ابراهیم له ملت نه مخ اړوي، پرته له هغه کس نه چې خپل ځان یې جاهل کړی وي او یقینًا یقینًا مونږه هغه (ابراهیم) په دنیا کې غوره کړی دی او بېشکه هغه په آخرت کې خامخا له صالحانو څخه دی) [البقرة سورت: 130 آیت]

. او حق ذات - جل جلاله - چې د نیکو نومونو خاوند د ابراهیم - علیه السلام - په اړه فرمایلي: ﴿مَا كَانَ إِبۡرَٰهِيمُ يَهُودِيّٗا وَلَا نَصۡرَانِيّٗا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفٗا مُّسۡلِمٗا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٦٧﴾ [آل عمران: 67]

(ابراهیم نه یهودي و او نه نصراني او لېکن حنیف (پوخ توحید والا) مسلمان و او له مشرکانو څخه نه و). [آل عمران سورت: 67 آیت]

. دا هغه فطرت دی چې الله تعالی پرې خلك پیدا کړي دي، الله تعالی فرمایلي:

﴿فَأَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗاۚ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٣٠﴾ [الروم: 30]

[(تاسو لازم ونيسئ) د الله هغه فطرت لره چې په هغه يې خلق پيدا کړي دي، د الله تخليق لره هېڅ بدلون نشته همدغه سم (نېغ) دين دی، او لېکن د خلقو اکثريت نه پوهېږي]. [الروم سورت: 30 آيت].

او پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي: «كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ، أَوْ يُنَصِّرَانِهِ، أَوْ يُمَجِّسَانِهِ، كَمَثَلِ البَهِيمَةِ تُنْتَجُ البَهِيمَةَ، هَلْ تَرَى فِيهَا جَدْعَاءَ»، هر ماشوم په فطرت سره پيدا کيږي، خو مور او پلار يې هغه يهودي يا نصراني او يا مجوسي کوي، لکه د څاروي په څېر چې بل څاروی (روغ رمټ) وزيږوي - آيا تاسو پکې پوزه يا غوږ پرې شوي وينئ؟ (معنا دا چې مور زادي يې غوږ پرې نه وي بلکه وروسته يې ورته خلک پرې کوي). بيا أبو هريرة - رضي الله عنه - فرمايي: ﴿فَأَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗاۚ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ۝٣٠﴾ [الروم: 30]

(د الله هغه فطرت لره چې په هغه يې خلق پيدا کړي دي؛ د الله تخليق لره هېڅ بدلون نشته همدغه سم (نېغ) دين دی، او لېکن د خلقو اکثريت نه پوهېږي). [الروم سورت: 30 آيت].

(بخاري (١٣٨٥)، مسلم (٢٦٥٨)، ابوداود (٤٧١٤) او ترمذي (٢١٣٨) روايت کړی.

دا هغه ژمنه ده چې الله - تعالى- د آدم او د هغه له اولادې اخيستې ده. ﴿وَإِذۡ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَأَشۡهَدَهُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَلَسۡتُ بِرَبِّكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ شَهِدۡنَآۚ أَن تَقُولُواْ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنۡ هَٰذَا غَٰفِلِينَ ۝١٧٢﴾ [الأعراف: 172]

(او کله چې ستا رب د آدم له اولادې نه د هغو له شاګانو نه د هغوی اولاد راواخيست او دوی يې په خپلو ځانونو باندې ګواه جوړ کړل، (او ورته ويې ويل:) آيا زه ستاسو رب نه يم؟ دوی وويل: ولې نه! مونږ (د دې) ګواهي کوو، (دا د دې لپاره) چې تاسو د قيامت په ورځ و (نه) وايئ چې بېشکه مونږ له دې نه غافله وو). [الأعراف سورت: 172 آيت].

او مونږ دا باور لرو چې الله - تعالى - لدې پرته بل دين نه مني.

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ۝٨٥﴾ [آل عمران: 85]

(او څوك چې له اسلام نه غیر (بل) دین غواړي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په آخرت کې له تاوانیانو څخه دی). [آل عمران سورت: 85 آیت].

## )باب الاسلام (باب دی د اسلام په اړه

او موږ ایمان لرو چې دا دین؛ هغه دین دی چې جبرائیل امین -علیه السلام- پر محمد - صلی الله علیه وسلم - نازل کړی دی، او دا مرتبې لري - چې عبارت دي له -: اسلام، ایمان او احسان څخه، او هر یوه یې بنسټونه لري. فعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم ذَاتَ يَوْمٍ، إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ، شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعَرِ، لَا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ، وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ، حَتَّى جَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، فَأَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ، وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ، وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، أَخْبِرْنِي عَنِ الْإِسْلَامِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: «الْإِسْلَامُ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم، وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ، وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلًا»، قَالَ: صَدَقْتَ، قَالَ: فَعَجِبْنَا لَهُ يَسْأَلُهُ، وَيُصَدِّقُهُ. قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِيمَانِ، قَالَ: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ»، قَالَ: صَدَقْتَ، قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِحْسَانِ، قَالَ: «أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ». قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ السَّاعَةِ، قَالَ: «مَا الْمَسْؤُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ». قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَتِهَا، قَالَ: «أَنْ تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَهَا، وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ»، قَالَ: ثُمَّ انْطَلَقَ، فَلَبِثْتُ مَلِيًّا، ثُمَّ قَالَ لِي: «يَا عُمَرُ، أَتَدْرِي مَنِ السَّائِلُ؟» قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ». له عمر بن الخطاب - رضي الله عنه - څخه روایت دی، هغه فرمایي: موږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوه ورځ ناست وو، چې ناڅاپه یو سړی را ښکاره شو، سپینې جامې یې پر تن وې. تک تور ویښتان یې و، د سفر کومه نښه په کې نه لیدل کېده، او له موږ څخه هیچا هم نه پېژنده، تر دې چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ته کېناست، نو خپل زنګنونه یې د هغه زنګنونو ته ورتکیه کړل او لاسونه یې پر ورنونو ورکېښودل، او ورته ویې ویل: ای محمده! ماته د اسلام په اړه خبر راکړه، هغه وفرمایل: اسلام: دا دی چې ګواهي ورکړې پردې چې له الله پرته بل معبود نشته او محمد- صلی الله علیه و سلم- د الله رسول دی، لمونځ قائم کړې، زکات ورکړې، د رمضان روژه ونیسې او د بیت الله حج وکړې -که ورته لاره پیدا کړای شې-. ویې ویل: "ته رښتیا وایې". موږ حیران شو چې هم پوښتنه کوي او هم یې تصدیقوي، (بیا یې) وویل: ما ته د ایمان په اړه خبر راکړه" هغه وویل: " هغه دا چې په الله، د هغه په ملایکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو او د آخرت په ورځ ایمان راوړې، او په تقدیر باور ولرې؛

په خير او شر يی" هغه وويل: "رښتيا دي وويل". هغه وويل: "د احسان په اړه خبر راکړه ." هغه وويل: "د الله عبادت کول په داسې حال چې ګويا کې ته الله وينې، خو که چېرته ته هغې نه ګورې نو بېشکه چې الله ما ګوري". ويې وييل: ماته د قيامت په اړه خبر راکړه، ويې فرمايل: پوښتل شوی له پوښتونکي څخه ډېر پوهه نه دی، هغه وويل: د هغه نښې راته ووايه". ويې ويل: "دا چې وينزه خپل بادار وزيږوي، او دا چې ته وګورې چې پښې ابل (لوڅ پښې)، بربند ،محتاج ،شپانه يو له بله په ابادیو کې وړانديوالی کوي". بيا هغه روان شو، يو څه وخت تير شو، بيا يې وويل: "اې عمره! آيا ته پوهيږې چې پوښتونکی څوک و؟، ما وويل: الله او د هغه رسول ښه پوهيږي، ويې فرمايل: دا جبريل و، هغه تاسو ته راغلی و تر څو مو دين دروښايي». (مسلم (8)، ابوداود (4695)، ترمذي (2610)، نسائي (4990) او ابن ماجه (63) روايت کړی دی. او يقينا رسول الله - صلى الله عليه وسلم - په نورو احاديثو کې د اسلام رکنونه تشريح کړې او فرمايلي دي: «بُنِيَ الإسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ». «اسلام په پنځو شيانو ولاړ دی: ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد - صلى الله عليه وسلم - د الله رسول دی، لمونځ کول، زکات ورکول، د بيت الله حج کول، او د رمضان روژه نيول». بخاري (8)، مسلم (16)، ترمذي (2609) او نسائي (5001) روايت کړی دی. وعن طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه قال: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ ثَائِرَ الرَّأْسِ، يُسْمَعُ دَوِيُّ صَوْتِهِ، وَلَا يُفْقَهُ مَا يَقُولُ، حَتَّى دَنَا، فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الإِسْلَامِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي اليَوْمِ وَاللَّيْلَةِ». فَقَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ قَالَ: «لَا، إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ». قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «وَصِيَامُ رَمَضَانَ». قَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ؟ قَالَ: «لَا، إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ». قَالَ: وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم الزَّكَاةَ، قَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ قَالَ: «لَا، إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ». قَالَ: فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ، وَهُوَ يَقُولُ: وَاللَّهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا وَلَا أَنْقُصُ. قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ». او له طلحة بن عبيد الله - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي چې: رسول الله - صلى الله عليه وسلم ته د نجد له خلکو څخه يو سړی پداسې حال کې راغی چې ويښتان يې ګډوډ و، د غږ انګازه يې اوريدل کېده، خو په خبرو يې پوهېدل نه کېدل، تر دې چې رانږدې شو، نو ګورو چې هغه د اسلام په اړه پوښتنه کوي، نو رسول الله - صل الله عليه وسلم - وفرمايل: په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ دی، هغه وويل: آيا نور څه راباندې شته؟ ويې وييل: «نه، مګر دا چې نفل وکړې». رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وفرمايل: "او د رمضان روژه". ويې وييل: آيا نور څه راباندې شته؟ ويې فرمايل: «نه، مګر دا چې نفلي روژې ونيسې» وايې: او رسول الله - صلى الله عليه وسلم ورته د زکات يادونه

وکړه، ویې وییل: آیا نور څه راباندې شته؟ ویې فرمایل: «نه، مګر دا چې خیرات ورکړې» وایي: سړی شا کړه - او روان شو - پداسې حال کې چې ویيل یې: په الله مې دې قسم وي چې پر دې به نه څه زیات کړم او نه به ترې څه کم کړم، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "هغه به بریالی شي که په رښتیا وي". بخاري (46)، مسلم (11)، ابوداود (391) او النسائي (458) روایت کړی. او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ۝٥﴾ [البينة: 5]

(هعوی(اهل کتابو ) ته حکم نه و شوی مګر د دې چې عبادت دې وکړي د الله په دې حال کې چې اخلاص کونکي به وي هغه لره په طاعت کې ولاړ به وي په توحید او بیزاره به وي د شرک نه او دروي به لمونځ او ورکوي به زکات او دا مضبوط دین دی. [البینة سورت: 5 آیت].

او الله تعالی فرمایلي:

﴿... فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝٥﴾ [التوبة: 5]

(نو که دوی توبه وباسي او لمونځ قايم کړي او زکات اداء کړي، بیا نو تاسو د دوی لاره خوشې کړئ، بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی). [التوبة سورت: 5 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي:

﴿فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِۗ ...﴾ [التوبة: 11]

(نو که دوی توبه وباسي او لمونځ قايم کړي او زکات اداء کړي، نو بيا ستاسو ورونه دي په دين کې). [التوبة سورت: 11 آیت].

او پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ، فَإِذَا فَعَلُوا ذَٰلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الإِسْلَامِ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ». «ماته امر شوی چې خلکو سره تر هغه وجنګېږم تر څو د دې خبرې ګواهي ورکړي چې له الله پرته بل بر حق معبود نشته او پر دې چې محمد د الله رسول دی، لمونځ قايم کړي، زکات ورکړي، کله یې چې - دا کارونه - وکړل نو زما څخه یې وینې او مالونه په امن کې شول مګر د اسلام لپاره، او حساب یې پر الله تعالی دی». (بخاري (25) او مسلم (22) روایت کړی دی.

وعن أبي موسى رضي الله عنه قال: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الإِسْلَامِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «مَنْ سَلِمَ المسلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ». او له أبو موسى - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي: هغوی وويل: ای د الله رسوله ! کوم اسلام غوره دی، ويې فرمايل: څوک چې مسلمانان يې د ژبې او لاس څخه په امن کې وي». بخاري (11)، مسلم (42)، ترمذي (2504) او نسائي (4999)روايت کړی دی. او پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «إِذَا أَسْلَمَ العَبْدُ فَحَسُنَ إِسْلَامُهُ، يُكَفِّرُ اللَّهُ عَنْهُ كُلَّ سَيِّئَةٍ كَانَ زَلَفَهَا، وَكَانَ بَعْدَ ذَلِكَ القِصَاصُ: الحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ، وَالسَّيِّئَةُ بِمِثْلِهَا إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ اللَّهُ عَنْهَا». « کله چې يو څوک په حقيقي توګه مسلمان شو - داسې چې ظاهر او باطن يې يو ډول و، الله تعالى به ورته هره بدي وبخښي چې وړاندې - له اسلام څخه - يې کړېده نو - په اسلام کې پاتې ژوند به يې قصاص وي، نيکي په لس چنده، تر اووه سوه چنده پورې، او بدي د بدۍ په اندازه مګر دا چې الله ورته ترې تير شي». (بخاري – معلق روايت کړی دی– (۴۱) او نسائی (۴۹۹۸) .

## باب دی د ايمان په باره کې

او موږ ايمان لرو چې ايمان د دين دويمه مرتبه ده، او هغه لکه څرنګه چې جبريل - عليه السلام- ته د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په جواب کې راغلي دي کله يې چې ترې د ايمان په اړه پوښتنه وکړه ويې وييل: «فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِيمَانِ، قَالَ: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ»، قَالَ: صَدَقْتَ، ... قَالَ: ثُمَّ انْطَلَقَ فَلَبِثْتُ مَلِيًّا، ثُمَّ قَالَ لِي: «يَا عُمَرُ أَتَدْرِي مَنِ السَّائِلُ؟» قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ». نو د ايمان په اړه خبر راکړه، ويې فرمايل: « چې په الله، ملايکوو يې، کتابونو يې، پيغمبرانو يې، او د آخرت په ورځ ايمان ولرې، او د خير او شر په اندازې ايمان ولرې» ويې وييل: ريښتيا دې وويل،...وايي: بيا لاړ، لږ ځنډ مې وکړ، بيا يې راته وويل: ای عمره! آيا پوهيږې چې پوښتونکی څوک و؟» ما وويل: الله او رسول يې ښه پوهيږي، ويې وييل: يقينا هغه جبريل و، راغلی و تر څو تاسو ته ستاسو دين دروښايي». (مسلم (8)، ابو داود (4695)، ترمذي (2610)، نسائي (4990) او ابن ماجه (63) روايت کړی دی). او ايمان که څه هم پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - د جبريل په مخکني حديث کې په ځانګړې معنى سره پدې الفاظو تشريح کړی دی: «تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ»؛ «چې په الله، په ملايکو يې، کتابونو يې، پيغمبرانو يې او د آخرت په ورځ ايمان ولرې او د خير او شر په اندازه ايمان ولرې» سره لدې بيا هم په عامې معنى سره ايمان هر خير او ښېګڼې ته شامليږي، د زړونو او اندامونو عملو ته هم شامليږي، متعال حق ذات فرمايلي دي:

﴿إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَإِذَا تُلِيَتۡ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٢ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَمَغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٤﴾ [الأنفال: 2-4]

(بېشکه خبره همدا ده چې مومنان هغه خلک دي، چې کله الله یاد کړی شي، نو د دوی زړونه وویرېږي او کله چې دوی ته د هغه (الله) آیتونه تلاوت کړی شي (، نو) دغه (آیتونه) دوی ته ایمان ورزیات کړي او خاص په خپل رب باندې دوی توکل کوي. * هغه کسان چې لمونځ قایموي او له هغه (مال) نه چې مونږ دوی ته ورکړی دی، څه حصه خرچ کوي. همدغه خلک په حقه مومنان دي، د دوی لپاره د خپل رب په نیز درجې دي او بخښنه او عزتمن رزق دی). [الأنفال سورت: 2-4 آیتونه].

او پیغمبر -صلى الله عليه وسلم - د عبد القیس استازو ته - د اسلام په ښکاره - شعایرو سره تفسیر کړی دی، په صحیحینو کې له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روایت دی وایي: «إِنَّ وَفْدَ عَبْدِ القَيْسِ لَمَّا أَتَوُا النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «مَنِ القَوْمُ؟ -أَوْ مَنِ الوَفْدُ؟-» قَالُوا: رَبِيعَةُ. قَالَ: «مَرْحَبًا بِالقَوْمِ، أَوْ بِالوَفْدِ، غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامَى»، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا لَا نَسْتَطِيعُ أَنْ نَأْتِيكَ إِلَّا فِي الشَّهْرِ الحَرَامِ، وَبَيْنَنَا وَبَيْنَكَ هَذَا الحَيُّ مِنْ كُفَّارِ مُضَرَ، فَمُرْنَا بِأَمْرٍ فَصْلٍ، نُخْبِرْ بِهِ مَنْ وَرَاءَنَا، وَنَدْخُلْ بِهِ الجَنَّةَ، وَسَأَلُوهُ عَنِ الأَشْرِبَةِ، فَأَمَرَهُمْ بِأَرْبَعٍ، وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ: أَمَرَهُمْ بِالإِيمَانِ بِاللَّهِ وَحْدَهُ، قَالَ: «أَتَدْرُونَ مَا الإِيمَانُ بِاللَّهِ وَحْدَهُ؟» قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامُ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءُ الزَّكَاةِ، وَصِيَامُ رَمَضَانَ، وَأَنْ تُعْطُوا مِنَ المغنَمِ الخُمُسَ». وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ: «عَنِ الحَنْتَمِ، (الحنتم: جرار مدهونة كانت تحمل فيها الخمر. النهاية في غريب الحديث (1/448).) وَالدُّبَّاءِ، (الدباء: القرع، وكانوا ينتبذون فيها فتسرع الشدة في الشراب. النهاية في غريب الحديث (1/96).) وَالنَّقِيرِ، (النقير: أصل النخلة ينقر وسطه ثم ينبذ فيه التمر ويلقى عليه الماء؛ ليصير نبيذًا مُسْكرًا. النهاية في غريب الحديث (5/104)) وَالمزفَّتِ، وَرُبَّمَا قَالَ: المقيَّرِ» وَقَالَ: «احْفَظُوهُنَّ، وَأَخْبِرُوا بِهِنَّ مَنْ وَرَاءَكُمْ». «د عبد القیس پلاوی چې کله پیغمبر - صلى الله عليه وسلم - ته راغی هغه وویل: «دا خلک څوک دي؟ او یا پلاوی څوک دي؟ » هغوی وویل: د ربیعة - قبیله ده - ویې فرمایل: « قوم او یا پلاوی دې په خیر راشي،نه خجالت او نه پښېمانه» هغوی وویل: ای د الله رسوله! مونږ نشو کولای تاته د محرم له میاشتې پرته په بل وخت کې راشو، او زمونږ او ستاسو تر منځ د مضر قبیلې د کفارو دا کلی دی، نو مونږ ته غوڅه خبره وکړه، مونږ به پرې زمونږ تر شا خلک خبر کړو، او چې جنت ته پرې داخل شو، او د څښاکونو په اړه یې ترې پوښتنه

وکړه، نو په ځلورو کارونو يې ورته امر وکړ، او له ځلور- ډوله ښاکونو - څخه يې منع کړل: په يو الله په ايمان راوړلو يې ورته امر وکړ، ويې ويل: « آيا پوهيږئ چې په يو الله ايمان څه شی دی؟ » هغوی وويل: الله او رسول يې ښه پوهيږي، ويې فرمايل: « ګواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته، او محمد د الله رسول دی، او د لمانځه قائمول، او د زکاة ورکول، او رمضان روژه، او دا چې له غنيمت څخه پنځمه حصه ورکړئ». او له ځلورو څخه يې منع کړل؛ له حنتم څخه ( حنتم: هغه له کردونې جوړې شوې چاټيو ته ويل کيږي چې د شرابو د ساتلو په موخه به خلکو غوړولې). النهاية فى غريب الحديث (1/448).) او دباء: کدو ته وييل کيږي، دوی به په هغه کې شراب ورتوی کړل، نو بيا به ترې په چټکۍ سره شراب جوړيدل. النهاية في غريب الحديث (1/96). او له النقير: د خرما تنې يا ډډ ته وايي چې منځ يې کېندل شوی وي بيا په هغې خرما اچول کيږي او د پاسه پرې اوبه ورتوييږي - تر څو ترې نشه کوونکي شراب جوړ شي - النهاية في غريب الحديث (5/104). او المزفت يا المقيَّرِ» هغه لوښي ته وايي چې اسفالت يا قير شوی وي، او ويې فرمايل: «دا خبرې يادې کړئ، او تر شا مو پرې نور خلک خبر کړئ». بخاري (53)، مسلم (17)، ابوداود (3692)، ترمذي (2611) او النسائي (5031) روايت کړی دی. او بخاری رحمه الله په خپل صحيح کې د دې لپاره باب ايښی دی او ويلي يې دي: «باب أمور الإيمان، وقول الله تعالى: د ايمان د کارونو په اړه باب.

﴿۞ لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ وَءَاتَى ٱلۡمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلۡمُوفُونَ بِعَهۡدِهِمۡ إِذَا عَٰهَدُواْۖ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِي ٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلۡبَأۡسِۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُتَّقُونَ ١٧٧﴾ [البقرة: 177]

(نيکي دا نه ده چې خپل مخونه د مشرق او مغرب په طرف وګرځوئ، او لېکن نيکي (د هغه چا) ده چې پر الله او پر ورځ د اخرت او پر ملايکو او پر کتابونو او پر نبيانو يې ايمان راوړی دی او د هغه په مينه (کې) خپلوانو او يتيمانو او مسکينانو او مسافرو او سوالګرو ته مال ورکوي او په (ازادولو د) څټونو کې (يې لګوي) او لمونځ قايموي او زکات ورکوي او د خپلو وعدو پوره کوونکي وي کله چې وعده وکړي، (خصوصًا) چې په سختۍ او تکليف کې او د جنګ په وخت کې صبر کوونکي دي، دا هغه خلق دي چې رښتيني دي او همدغه خلق متقيان دي) [البقره سورت: 177 آيت].

او موږ باور لرو چې ايمان قول، عمل او باور دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: « ايمان څه د پاسه اويا - يا څه د پاسه شپيته برخې لري، نو غوره يې د :

لا اله الا الله وينا ده، او تر ټولو ښکته يې د لارې څخه د ضرري شي لرې کول دي، او حيا د ايمان يوه برخه ده». بخاري (9) او مسلم (35) روايت کړی او لفظ د همده دی، اوابوداود (4676)، ترمذي (2614)، نسائي (5005) او ابن ماجه (57) روايت کړی دی). او مونږ ايمان لرو چې د ايمان خاوندان په عملونو کې يو پر بل غوره والی لري، أبو سعيد الخدري - رضي الله عنه - له نبي - صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي فرمايي: «يَدْخُلُ أَهْلُ الجَنَّةِ الجَنَّةَ، وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ، ثُمَّ يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ. فَيُخْرَجُونَ مِنْهَا قَدِ اسْوَدُّوا، فَيُلْقَوْنَ فِي نَهَرِ الحَيَا، أَوِ الحَيَاةِ -شَكَّ مَالِكٌ- فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الحِبَّةُ فِي جَانِبِ السَّيْلِ، أَلَمْ تَرَ أَنَّهَا تَخْرُجُ صَفْرَاءَ مُلْتَوِيَةً؟!». «جنتيان به جنت ته داخل شي، او دوزخيان اور ته، بيا به الله تعالى وفرمايي: له اور څخه هر هغه څوک راوباسئ چې په زړه کې يې د اوري د دانې په اندازه ايمان هم وي، نو ورڅخه به رااويستلی شي پداسې حال کې چې تور شوي به وي، نو د الحيا يا الحياة په نهر کې به ورواچولی شي - مالک شکي دی چې کوم لفظ يې کارولی- نو داسې به راشنه شي لکه څرنګه چې د خوړ د غاړې تخم راشين کيږي، ايا ته نه ګورې چې هغه زيړ تاوراتاو شين کيږي؟!». (بخاري (٢٢) او مسلم (١٨٤) روايت کړی دی. او له أبو أمامة بن سهل بن حنيف څخه روايت دی چې هغه له أبو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه اوريدلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ، رَأَيْتُ النَّاسَ يُعْرَضُونَ عَلَيَّ، وَعَلَيْهِمْ قُمُصٌ، مِنْهَا مَا يَبْلُغُ الثُّدِيَّ، وَمِنْهَا مَا دُونَ ذَلِكَ، وَعُرِضَ عَلَيَّ عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ، وَعَلَيْهِ قَمِيصٌ يَجُرُّهُ». قَالُوا: فَمَا أَوَّلْتَ ذَلِكَ، يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «الدِّينَ». «په داسې حال چې زه ويده وم، ومې ليدل چې خلک راته راښودل کيږي، او هغوی کميسونه لري، ځينې تر سينو پورې وي، او ځينې له هغې نه لاندې، او عمر رضی الله عنه راته وښودلی شو، د هغه پر تن يو کميس و چې ځان پسې يې راښکه، هغوی وويل: نو تا -دا خوب- څنګه تعبير کړ ای د الله رسوله, هغه وويل: «په دين سره». (بخاري (23)، مسلم (2390)، او ترمذي (2285) روايت کړی، او په هغه کې راغلي: او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د ځينو ملګرو څخه روايت دی، او نسائی هم روايت کړی دی. او مونږ عقيده لرو چې ايمان زياتيږي او کميږي، په اطاعت سره زياتيږي او په ګناه سره کميږي، الله تعالى فرمايلي: ﴿نَّحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ نَبَأَهُم بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ وَزِدۡنَٰهُمۡ هُدٗى ١٣﴾ [الكهف: 13]

(مونږ تا ته د دوی خبر په حقه سره بيانوو، بېشکه دوی داسې ځلميان وو چې پر خپل رب يې ايمان راوړی و او مونږ دوی ته هدايت ورزيات کړي وو) [الكهف سورت: 13 أيت]

، او فرمايلي يې دي:

﴿... وَيَزۡدَادَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِيمَٰنًا ...﴾ [المدثر: 31]

(او د هغو کسانو ایمان زیات شي چې ایمان یې راوړی دی) [المدثر سورت: 31 آیت].

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ شَعِيرَةٍ مِنْ خَيْرٍ، وَيَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ بُرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ، وَيَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ». «هر هغه څوک به له اور نه راوځي چې (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ) يې ويلي وي او په زړه کې يې د يوې وربشې د وزن په اندازه خير وي، او هر هغه څوک به له اور نه راوځي چې (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ) يې ويلي وي او په زړه کې يې د غنم د وزن په اندازې خير وي، او هر هغه څوک به له اور نه راوځي چې (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ) يې ويلي وي اوپه زړه کې يې د يوې ذرې د وزن په اندازه خير وي». بخاري (۴۴)، مسلم (۱۹۳) او ترمذي (۲۵۹۳) روايت کړی. او عمر بن عبدالعزيز عدي بن عدي ته لیکلي وو: «ايمان احکام، قوانين، حدود او تګلارې لري، نو څوک يې چې بشپړ کړي ايمان به يې بشپړ کړي وي، او څوک چې يې بشپړ نه کړي ايمان به يې بشپړ کړی نه وي، نو که زه ژوندی وم، زه به يې تاسو ته تشريح کړم تر څو پرې عمل وکړئ او که مړ شوم، نو زه مو ملګرتيا ته چندان ليواله نه يم». (بخاري معلق راوړی دی (10/1)، او ابن ابي شيبه په المصنف (31084) او په الايمان (135) کې، خلال په السنن (1162، 1553) کې، ابن بطوطه په الابانة (۱۱۶۶) کې او اللالکائي په شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة کې (۱۵۷۲). معمر، سفيان الثوري، مالک بن انس، ابن جريج او سفيان بن عيينه ټولو به ويېل: "ايمان قول او عمل دی، زياتيږي او کميږي". (الابانة الکبری (806/2) او الشريعة د: الآجري (606/2). حافظ ابوبکر عبدالله بن الزبير الحُميديُّ ويلي: «.. او دا چې ايمان قول او عمل دی، زياتيږي او کميږي، او قول له عمل پرته هيڅ ګټه نه لري، او هيڅ قول او عمل پرته له نيت څخه اعتبار نه لري، او له سنتو پرته هيڅ قول، عمل او نيت اعتبار نه لری». (اصول السنة د: الحميدي (۳۷ مخ)). او خلال ويلي: «عبدالملک الميموني خبر راکړی فرمايي چې: يعلی بن عبيد له شپيتو کلونو څخه زيات مخکې راته وويل چې: ايمان قول او عمل دی، او څوک چې روژه نيسي، لمونځ کوي او نيک عمل کوي، په ايمان کې تر هغه چا زيات دی چې هغه غلا او زنا کوي». (السنة د: ابوبکر بن الخلال (۵۹۰/۳)) او ابن ابی حاتم ويلي دي: "ما له خپل پلار او ابو زرعه څخه د دين په اصولو کې د اهل سنت د مذهبونو په اړه وپوښتل، او پدې اړه د ټولو سيمو د علماوو د نظر په اړه چې دوی څه عقيده لري، نو هغوی دواړو

وويل: مونږ چې علما په ټولو سيمو کې ليدلي دي لکه : حجاز، عراق، شام او يمن، نو د هغوی مذهب دا و چې: ايمان قول او عمل دی، زياتيږی او کميږي». (شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة(198/1) او : عقيدة السلف - چې د ابن ابی زيد القيرواني مقدمه ده د خپل کتاب الرساله لپاره (29 مخ). او لالکائي ويلي: «ايمان قول او عمل دی، او د فقهاوو له جملي څخه: مالک بن انس، عبدالعزيز بن ابي سلمه الماجشون، ليث بن سعد، الاوزاعي، سعيد بن عبدالعزيز، ابن جريج، سفيان بن عينه، فضيل بن عياض، نافع بن عمر الجمحي، محمد بن مسلم الطائفي، محمد بن عبدالله بن عمرو بن عثمان بن عفان، المثنا بن الصباح، الشافعي، عبدالله بن الزبير الحميدي، ابو ابراهيم المزني، سفيان الثوري، شريک، ابوبکر بن عياش، وکيع، حماد بن سلمه، حماد بن زيد، يحيى بن سعيد القطان، عبدالله بن المبارک، ابو اسحاق الفزاري، النضر بن محمد المروزي، النضر بن شميل، احمد بن حنبل، اسحاق بن راهويه، ابو ثور او ابو عبيد -دا ټول- پدې نظر دي». (شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة د امام لالکائي (۴/ ۹۱۳)). ابو عبدالله بن ابي زمنين په خپل کتاب "اصول السنة" کې ويلي: «باب دی پدې اړه چې ايمان قول او عمل دی: او د اهل سنت وينا ده چې: ايمان؛ الله ته په زړونو کې اخلاص، په ژبو سره ګواهي، په اندامونو عمل او دا هر څه د سنت مطابق برابرول دي». (اصول السنة مخ 207).

## )بـــاب الإحـــســـان (باب دی د احسان په اړه

او مونږ ايمان لرو چې (احسان) د دين له مرتبو څخه دريمه مرتبه ده، او هغه لکه څرنګه چې جبريل -عليه السلام- ته د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په جواب کې راغلي دي کله يې چې ترې د احسان په اړه پوښتنه وکړه او ويې ويل: «فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِحْسَانِ، قَالَ: «أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ...». قَالَ: ثُمَّ انْطَلَقَ فَلَبِثْتُ مَلِيًّا، ثُمَّ قَالَ لِي: «يَا عُمَرُ أَتَدْرِي مَنِ السَّائِلُ؟» قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ». «نو د احسان په اړه خبر راکړه، ويې فرمايل: « چې د الله داسې عبادت وکړې لکه ته يې چې ګورې، نو که چيرته يې ته نه ګورې نو هغه خو تا ګوري...» وايي: بيا لاړ، لږ څنډ مې وکړ، بيا يې راته وويل: ای عمره! آيا پوهيږې چې پوښتونکی څوک و؟» ما وويل: الله او رسول يې ښه پوهيږي، ويې ويل: يقينا هغه جبريل و، راغلی و تر څو تاسو ته ستاسو دين دروښايي». ( مسلم (8)، ابو داود (4695)، الترمذي (2610)، نسائي (4990) او ابن ماجه (63) روايت کړی دی. اوحق ذات- جل جلاله- خبر ورکړی چې د دې حقيقي دين خلک به جنت ته ځي، سره له دې چې د دوی درجې

او مرتبې به سره توپير ولري- برابره خبره ده که دوی د اسلام يا د ايمان او يا هم د احسان خاوندان وي، الله تعالی د لوی شان او شوکت خاوند فرمايلي:

﴿وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ هُوَ ٱلۡحَقُّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِعِبَادِهِۦ لَخَبِيرُۢ بَصِيرٞ ٣١ ثُمَّ أَوۡرَثۡنَا ٱلۡكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَيۡنَا مِنۡ عِبَادِنَاۖ فَمِنۡهُمۡ ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ وَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدٞ وَمِنۡهُمۡ سَابِقُۢ بِٱلۡخَيۡرَٰتِ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ ٣٢ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَلُؤۡلُؤٗاۖ وَلِبَاسُهُمۡ فِيهَا حَرِيرٞ ٣٣ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَذۡهَبَ عَنَّا ٱلۡحَزَنَۖ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٞ شَكُورٌ ٣٤﴾ [فاطر: 31-34]

(او هغه څه چې مونږ تا ته له کتابه وحي کړي دي هم دغه حق دي، په داسي حال کې چې تصديق کوونکي دي د هغو (کتابونو) چې له ده نه مخکې وو، بېشکه الله په خپلو بنده ګانو باندې خامخا ښه خبردار، ښه ليدونکی دی. بيا مونږ د دغه کتاب (قرآن) وارثان کړل هغه کسان چې مونږ په خپلو بنده ګانو کې غوره (او انتخاب) کړي وو، بيا په دوی کې ځيني په خپل ځان ظلم کوونکي دي او ځيني په دوی کې مينځ لاري دي او ځيني په دوی کې نېکيو ته ړومبي کېدونکي دي، د الله په حکم سره، يقينًا همدغه ډېر لوی فضل دی. * د تل استوګنې جنتونه دي، دوی به دغو ته ننوځي، دوی به په دغو (جنتونو) کې د سرو زرو په بنګړو سره او په ملغلرو سره زيور دار (اراسته) کولی شي او د دوی جامې به په دغو (جنتونو) کې ورېښم وي. او دوی به ووايي: ټول د کمال صفتونه خاص هغه الله لره دي چې زمونږ نه يې غم (خفګان) ختم کړ، بېشکه زمونږ رب خامخا ډېر بخښونکی، بې حده قدردان دی). [فاطر سورت: 31-34 آيتونه].

## )بـــاب الأمر بـلـزوم السنـة والتمسـك بهــا (باب دی :په سنتو د ټينګار او پرې د ټېنګ پاتې کېدلو په اړه

په مبارکو آيتونو او حديثونو کې د سنت په مراعتولو او پرې ټينګ پاتې کېدلو امر راغلی، له مخالفت څخه يې ويرول شوي، او له بې اتفاقۍ او اختلاف څخه ممانعت راغلی دی، الله تعالی فرمايلي: ﴿لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا ٢١﴾ [الأحزاب: 21]

(يقينًا يقينًا ستاسو لپاره په (کار د ) رسول الله کې ډېره ښه اقتدا ده، د هغه چا لپاره چې د الله او د وروستنۍ ورځې امېد لري او الله ډېر زيات يادوي). [الأحزاب سورت: 21 آيت].

او الله تعالى فرمايلي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمۡ وَكَانُواْ شِيَعٗا لَّسۡتَ مِنۡهُمۡ فِي شَيۡءٍۚ ... ١٥٩﴾ [الأنعام: 159]

(ببشکه هغه کسان چې خپل دین یې تار په تار کړی دی، او دوی فرقې فرقې شول، ته له دوی نه په هېڅ شي کې نه یې) [الأنعام سورت: 159 آیت]،

او الله تعالى فرمايلي:

﴿۞شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحٗا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ ...﴾ [الشورى: 13]

(هغه ستاسو لپاره هغه دین مقرر کړی دی چې د هغه وصیت یې نوح ته کړی و او هغه چې مونږ تا ته وحي کړی دی او هغه چې مونږ د هغه وصیت ابراهیم او موسٰی او عیسٰی ته کړی و، چې تاسو دین قایم کړئ او په ده کې مه مختلف کیږئ)، [الشورى سورت: 13 آیت]

. او له جابر بن عبد الله - رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ خَيْرَ الْحَدِيثِ كِتَابُ اللهِ، وَخَيْرُ الْهُدَى هُدَى مُحَمَّدٍ، وَشَرُّ الْأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا، وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ». أما بعد: تر ټول غوره وینا د الله کتاب دی، او په لارښوونو کې غوره لارښوونه د محمد - صلی الله علیه وسلم- ده، او (په دین کې ) تر ټولو ناوړه کارونه هغه دي چې نوي وي، او هر بدعت ګمراهي ده. (مسلم په (۸۶۷)، نسائي (۱۵۷۸)، ابو داود (۲۹۵۴) او ابن ماجه (۴۵) روایت کړی دی. او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَمَنْ يَأْبَى؟ قَالَ: «مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى». «زما ټول امتیان به جنت ته داخلیږي مګر هغه څوک چې انکار وکړي» هغوی وویل: ای د الله رسوله! او څوک دی چې انکار به کوي؟ ویې فرمایل: «چا چې زما پیروي وکړه هغه جنت ته داخل شو او چا چې زما نافرماني وکړه هغه انکار وکړ». (بخاري په (7280) شمېره روایت کړی دی). او له عرباض بن ساريه رضي الله عنه څخه روایت دی: «وَعَظَنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَوْمًا بَعْدَ صَلَاةِ الْغَدَاةِ مَوْعِظَةً بَلِيغَةً ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُونُ وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوبُ، فَقَالَ رَجُلٌ: إِنَّ هَذِهِ مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ، فَمَاذَا تَعْهَدُ إِلَيْنَا يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: «أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللهِ، وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ، وَإِنْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ، فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ يَرَى اخْتِلَافًا كَثِيرًا، وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ؛ فَإِنَّهَا ضَلَالَةٌ، فَمَنْ أَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْكُمْ فَعَلَيْهِ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ،

عَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ». چې رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته يوه ورځ د سهار له لمانځه څخه وروسته يوه په زړه پورې خطبه راکړه، چې له امله يې - د خلکو - له سترګو اوښکې وبهيدې او زړونه ولړزېدل، يو سړي وويل: دا خو داسې ده لکه د الله په امانئ خطبه، نو موږ ته څه وصيت کوې ای د الله رسوله! هغه وفرمايل: له الله تعالى څخه په ويرې درته وصيت کوم، او له -چاروکو - په اورېدلو او اطاعت کولو؛ که څه هم - پر تا سو ټاکل شوی امير - يو حبشي غلام وي او يقينا که ستاسو څخه څوک ژوندی پاتې شي، نو ډېر اختلاف به ويني، نو - په دين کې - له نوښت څخه ډډه وکړئ، ځکه دا ګمراهي ده، که چېرته له تاسو څخه پر چا دا حالات راغلل نو هغه دې زما د سنتو او د خلفای راشدينو د سنتو پيروي وکړي؛ ځکه هغوی په سمه لار دي، د ژامې غاښونه پرې ټينګ کړئ». (ابو داود (4607)، ترمذي (2676)، ابن ماجه (42)، احمد (17416)، دارمي (96) روايت کړی او دا حديث امام ترمذي صحيح بللی دی. او بخاري په خپل صحيح کې په کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة کې ويلي: باب الاقتداء بسنن رسول الله صلى الله عليه وسلم - و قول الله سبحانه وتعالى

(او موږ د متقيانو لپاره امامان وګرځوه)، فرمايي: هغه امامان موږ به پخوانو پسې اقتداء کوو او روستني به کونږ پسې اقتداء کوي، ابن عون ويلي: درې شيان دي چې د ځان او د خپلو ورونو لپاره يې خوښوم: دا سنت؛ چې زده يې کړي او په اړه يې پوښتنه وکړي، او قرآن چې ځان پرې پوهه کړي او په اړه يې پوښتنه وکړي، او خلک پرېږدې مګر هغوی چې غوره وي». (صحيح البخاري (8/ 139).

# كتـاب الإيمــان بالله کتاب دی په الله تعالى د ايمان په اړه

## د کتاب لنډيز

او موږ باور لرو چې الله لومړی دی او له هغه څخه مخکې هيڅ شی نشته، هغه وروستی دی او له هغه څخه وروسته هيڅ شی نشته او موږ ته يې ځان راپيژندلی چې هغه پخپله همغه ذات دی چې يواځې يې آسمانونه او ځمکه پيدا کړي او دا چې هغه د آسمانونو او ځمکې اصلي مالک دی او دا چې هغه پاک ذات شپه په ورځ او ورځ په شپه کې ننباسي، او دا حاضر کاينات شاهدي ورکوي چې يواځې همغه ذات يې پيدا کوونکی دی او له هغه سره بل هيڅ پيدا کوونکی نشته.

او له خپلو هغو دلايلو څخه يې يادونه وکړه چې ثابتوي چې هغه يواځې د دې کايناتو خالق دی، ډېر دليلونه يې وړاندې کړل چې احاطه پرې شونې نده، او پر مونږ په هغه څه سره حجت قائم کړ چې مونږ يې په خپلو ځانونو او چاپېريال کې ګورو.

او مونږ ايمان راوړو په هغه څه چې انبياوو او رسولانو پرې ايمان راوړی دی، او په هغه دلايلو يقين لرو چې په الله پاک باندې دلالت کوي.

او مونږ ايمان لرو چې همغه الله پيدا کوونکی دی، او مخلوق يې بې ځايه نه دی پيدا کړی. بلکې دا پياوړی مخلوق دی چې د يو ستر هدف لپاره رامنځته شوی.

او داسې نور دليلونه چې په قران کريم کې ورڅخه زياته يادونه شوې ده، لکه څرنګه چې په «الأنعام»، «النحل» او نورو سورتونو کې بې شمېره زيات دليلونه او شواهد راغلي دي چې ټول د الله تعالی په وجود (شتون) او د هغه په ربوبيت دلالت کوي، او هغه عقلي دليلونه او ستر حجتونه دي، چې هيڅوک د هغه په څېر او يا ورته نږدې دليلونه نه شي راوړلای، او هغه په تنوع کې د ټولو مخلوقاتو لپاره مناسب دي، او پر هغوی د حجت قائمولو لپاره بسنه کوي، که څه هم کافران ترې انکار کوي، او باطل پرسته يې بد ګڼي، او آيا له کافر سره پرته له انکار څخه بل دليل شته؟!

او مونږ ايمان لرو چې الله په خپل ربوبيت کې يو دی، او يواځې هغه پيدا کوونکی دی، او همغه ذات دی چې پيدايښت يې پيل کړی او هيڅا ورسره پکې ګډون ندی کړی، او الله په خپل امر سره پيدا کول کوي، او هغه پاک ذات د خپلې خوښې د اسبابو سره پيدا کول کوي، او له هغه پرته چې څه دي ټول مخلوقات دي.

او موږ باور لرو چې الله تعالی د ټولو شيانو مالک، خالق، کار ساز او مالک دی، او هغه پکې تصرف کوونکی دی، او هيڅ مخلوق د دې حق نلري چې د خپل ځان د چارو اداره وکړي، يا د بل د چارو اداره وکړي مګر هغه څه چې الله مقدر کړي وي.

او موږ باور لرو چې هغه ريښتينی مالک دی او له هغه پرته نور ټول - د هغه - ملکيت دی، او د هر پادشاه پادشاهي باطله او يا لنډه مهال او له منځه تلونکې ده.

او موږ ايمان لرو چې يواځې پاک الله هغه ذات دی چې ژوندي کول او مړه کول کوي، او همغه ذات دی چې مرګ او ژوند يې پيدا کړی او همغه ذات دی چې نفسونه اخلي.

او مونږ ايمان لرو چې هغه رزق ورکوونکی د غښتلي ځواک خاوند دی، له هغه پرته بل هيڅوک رزق ورکوونکی نشته، او له هغه پرته بل ذات نشته چې بسنه پرې وشي،

او موږ ایمان لرو چې الله پاک په خپل علم سره هر څه راګیر کړي دي، د هغه له علم څخه هیڅ وړه او غټه نه پټیږي او هغه پاک ذات په پټو او ښکاره و خبر دی.

او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی په غلبې او واکدارئ سره هر شي د خپل تسلط لاندې راوستی دی،

او موږ ایمان لرو چې الله تعالی لره خالقیت او واکمني ده، نه له هغه پرته بل رب شته او نه له هغه پرته بل قانون جوړوونکی، هغه همغه ذات دی چې مخلوقات یې پیدا کړي او قوانین یې جاري کړي، فرضي کړنې یې فرض کړي، دین یې بیان کړی، او هغه د دې ټولو مالک دی، او یواځې هغه د دوی سره په حساب کولو او دوی ته د سزا ورکولو ځواک لري.

او مونږ ایمان لرو چې متعال رب د بندګانو او د هغوی د کړنو پیدا کوونکی دی.

او مونږ دا عقیده لرو چې یواځې د الله په ربوبیت ایمان لرل د انسان لپاره بسنه نه کوي چې مؤمن شي، او دا ایمان خپل خاوند جنت ته نه شي ننویستلی؛ ځکه هغه پدې ایمان ندی راوړی چې الله حق معبود دی، او دا چې باید عبادت ونه شي مګر د یو الله.

او موږ ایمان لرو چې الله په خپل الوهیت کې یو دی، او دا چې له الله پرته بل معبود نشته مګر یواځې همغه الله دی چې شریک نه لري، او هغه حق دی او دا چې دوی له هغه پرته نور څه رابلي هغه باطل دي. او دا هغه ستره چاره ده چې له امله یې الله کتابونه نازل کړي، پیغمبران یې رالیږلي، جنت او دوزخ یې پیدا کړي او پدې - خبره - د امت جمهورو علماوو اجماع کړې ده، او فطرت پرې دلالت کوي، او سالم عقلونه پرې ګواهي ورکوي، او مونږ په علم الیقین سره پوهیږو چې د پیغبرانو - علیهم السلام - بلنه خپلو قومونو ته هغه: د یو الله عبادت ته بلنه او له هغه پرته د بل چا د عبادت پرېښودل دي.

او حق عبادت هغه دی چې الله رب العالمین ته وشي، او د سید المرسلین د لارښوونې سره سم وي؛ ځکه چې له هغه پرته د نورو ټولو معبودانو عبادت باطل دي.

او دا د الله د دین له پیاوړو رکنونو څخه یو رکن دی - کوم چې د یوازیني الله د یووالي ثبوت او له هغه پرته د بل چا له عبادت څخه انکار دی - دا د دین د میچنې محور(د ژرندې پل) - او د پیغمبرانو د بلنې ستن ده او معنا یې ده: د خالق یووالی د مخلوقاتو په عمل سره ( یعنې دا چې یواځې یو الله د بندګانو د کړنو پیدا کوونکی دی)

او ډیری وختونه الله تعالی په قرآن کې په خپلو بنده ګانو باندې په خپل ربوبیت سره استدلال کوي، هغه ربوبیت چې له هغه څخه د یو الله پاک عبادت لازمیږي.

او موږ ایمان لرو چې د دې لویو ګوني نښانو(کاینات۹ پیدا کوونکی یواځې همغه الله پاک دی، او دا چې له هغه سره بل خالق نشته، نو پکاره نده چې له هغه سره د بل چا عبادت وشي.

او الله -جل جلاله- په خپل وحدانیت شاهدي ورکوونکي دلیلونه په بېلابیل ډول وړاندې کړل،تر څو پرې حجت قائم کړي، او لاره پرې روښانه کړي؛ تر څو د خلکو لپاره په الله تعالی کوم دلیل پاتې نه شي.

الله - تعالی- ته په یووالي اقرار او رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ته په پیغمبرۍ سره ګواهي ورکول، الله د وینې له توییدو څخه -د مخنیوي- او د نفسونو د ساتنې لپاره یو حد ګرځولی دی.

او په الله - تعالی - باندې د ایمان لرلو سره په طاغوت کافریدل ، او له شرک او مشرکانو څخه بې زاري حتمي - خبره - ده.

او د دې ایمان لپاره بسنه نه کوي چې یواځې په زړه کې وي، بلکې خامخا پرې باید په ژبه تلفظ وکړي، او تر هغه پورې ایمان ریښتیا کیدلی نه شي تر څو چې اندامونه پرې عمل ونه کړي، او په زړه کې ایمان په زیاتوالی او کموالي سره - له یو شخص څخه - بل ته توپیر لري.

او پدې ایمان کې بنده باید الله رب العالمین ته مخلص وي، باوري وي نه شکمن، او د ایمان سرچینه یې باید - علم، اخلاص، قبولي، تسلیمیدل، غاړه ایښودل، په وینا، کړنو او عقیده کې - ریښتینولي وي، سربیره پر محبت کولو له دې دین سره، او هغه چا چې دا دین رالیږلی، چا چې راوړی، او چا چې منلی دی.

او لکه څرنګه چې الله -تعالی- د ایمان حقیقت، د هغه غوښتنې، او شرطونه بیان کړل، نو پدې سره یې د ضدي مشرکانو شکونه او شبهې له منځه وړي دي او دا - خبره - یې ښکاره کړې ده چې دوی په خپل شرک باندې هیڅ دلیل نه لري؛ ځکه دا باطل معبودان مخلوق دی، بل څوک یې چاري سموي او هیڅ شی نه شي پیدا کولی او دوی په آسمانونو او ځمکه کې د د یوې ذرې په اندازه هم د څه شي واک نه لري.

او حق ذات دا - خبره - ښکاره کوي چې دا (د الله سره برابر ګڼل شوي) معبودان؛ چې له الله پرته يې عبادت کيږي، د هغه چا بلنه نه اوري چې څوک يې رابلي، او که يې واوري نو قبلولای نه شي او د قيامت په ورځ به د هغوی په شرک رد کوي، او ترې به بېزاره وي.

لکه څرنګه چې حق ذات بيانوي چې دا معبودان چې له الله پرته يې عبادت کيږي، نه ګټه رسولی شي او نه تاوان، نو له الله پرته څنګه د دوی عبادت کيدلی شي.؟!.

او الله تعالی پرښتو ته عبادت کول باطل کړ، او دا يې ښکاره کړه چې دوی - سره له دې چې الله ته نږدې دي - بيا هم هيڅکله د چا سفارش نه شي کولی مګر د هغه له اجازې نه وروسته، نو کله چې د پرښتو دا حال دی، نو څنګه کيدی شي چې له الله تعالی پرته دې - د دې باطلو معبودانو - عبادت وشي.

او نبيان او رسولان - عليهم السلام - سره له دې چې مرتبه يې په دنيا او آخرت کې لوړه ده - ځان ته د ګټې او تاوان رسولو واک نه لري، نو لدې پرته نور به څنګه وي؟!

او مونږ ايمان لرو چې الله - جل جلاله - په خپلو صفتونو او د کمال په ستاينو کې يو دی، او الله پاک لره نيک نومونه او لوړ صفتونه دي، چې پوره عقلونه ورته پدې ګواهي ورکوي او سالم فطرتونه ورته پرې تسليم دي او پدې باندې د اسلامي أمت د علماوو اجماع هم ده، بلکه ټولو الهي رسالتونو د الله پاک په نومونو او د أفعالو په بيانولو سره راتګ کړی دی، او دا باطل معودان نه څه اوري او نه څه ويني.

او موږ ايمان لرو لکه څرنګه چې هغه د خپل ځان صفت بيان کړی، او لکه څرنګه چې د هغه رسول -صلی الله عليه وسلم- هغه په کومو صفتونو باندې ياد کړی دی، نو د هغه پاک ذات په مثل هيڅ شی نشته او هغه اوريدونکی ليدونکی دی، نو مونږ هغه څه الله ته ثابتوو چې هغه خپل ځان ته ثابت کړي دي، او يا يې رسول - صلی الله عليه وسلم - ورته ثابت کړي دي، او هر هغه څه ترې نفي کوو چې هغه له خپل ځان څخه نفي کړي او يا يې رسول - صلی الله عليه وسلم - ترې نفي کړي، پرته له تعطيل (له معنا څخه انکار)، او تمثيل (د بيلګې بيانولو) او تکييف (د څرنګوالي په اړه پوښتنې کولو) او تحريف (په معنا کې له بدلون) څخه.

او مونږ په علم يقين سره پوهيږو چې زمونږ رب وړاندې له دې چې مخلوقات پيدا کړي په خپلو صفتونو باندې ياد و، او دا چې هغه له ازله تر ابده د کمال، جلال او جمال په تر ټولو لوړه مرتبه دی؛ ځکه هغه اول او آخر دی، هغه اول دی مخکې ترې څه شی

نشته، او آخر دی وروسته ترې څه شی نشته، نو هغه د کمال او عزت په نومونو او صفتونو سره لومړی دی او هغه د کمال او عزت په صفتونو سره وروستی دی.

او مونږ ایمان لرو چې د الله تعالی له صفتونو څخه ځینې د هغه له ذات سره لازم دي لکه: ژوند، علم، اوریدل، لیدل، لاس، ګوتې، او دا چې له صفتونو څخه یې ځینې د هغه د مشیئت (خوښې) پورې تړلي دي لکه: غصه، خوښي او راکوزیدل.

او موږ ایمان لرو چې هغه د هر هغه څه کوونکی دی چې ویې غواړي، نو هغه هر کار تر سره کوي کله چې وغواړي، څه چې وغواړي، څرنګه یې چې وغواړي، چاته چې وغواړي عزت ورکوي او چاته چې وغواړي خواروي یې، د هغه د کړنو څوک منع کوونکی نشته، او نه د هغه پریکړو او واکمنۍ لره څوک ردوونکی او روسته کوونکی شته.

او مونږ عقیده لرو چې د الله تعالی ځینې صفتونه مطلق راغلي دي، نو الله -تعالی- پرې مطلق توصیفوو، لکه: سمع، حیات، بصر او داسې نور، او ځینې یې مقید راغلي دي، نو په همغه تقیید سره پرېښودل کیږي، لکه د هغه یادول چې هغه د خپلو دښمنانو د مکر په مقابل کې له مکر څخه کار اخلي، او خپل دښمنان هیروي کله یې چې هغوی هېر کړي.

او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه : علم، بصر، حیات، قیومیت او کلام دي، او هغه په کلام سره موصوف شوی دی وړاندې له دې چې مخلوقات پیدا کړي او خبرې ورسره وکړي، او زمونږ د رب کلام د هغه د خوښې (مشیئت) سره تړاو لري، نو کله چې وغواړي خبري کوي، او په قرآن کریم کې د کلام د صفت په بېلابیلو وجوهاتو سره راغلی دی، داسې راغلي چې هغه د خپلو بندګانو سره خبري کوي، او له دوی څخه چې د چا سره وغواړي مناجات کوي او بلنه ورکوي، او د مخلوقاتو سره د قیامت په ورځ خبرې کوي، او مخلوقات به د قیامت په ورځ د الله - تعالی - خبرې اوري.

او مونږ ایمان لرو چې الله پاک د خپلو مخلوقاتو څخه د رڼا په پردې سره پټ دی، نو دوی یې په دې دنیا کې نه ویني، که څه هم د هغه ځینو پیغمبرانو د هغه خبرې واورېدې، کله چې هغه ورسره د پردې تر شا خبرې کولې، لکه څرنګه یې چې له موسی -علیه السلام - سره خبرې وکړې.

او زمونږ د رب کلام داسې توصیف کیږي چې ځینې یې له نورو څخه نوی دی او ځینې یې له ځینو نورو غوره دی.

او د هغه له کلام څخه: قرآن او ټول الهي کتابونه دي چې د هغه په پیغمبرانو -علیهم السلام- نازل شوي، لکه د ابراهیم او موسی علیهما السلام صحیفې، تورات، انجیل او زبور -ټول د الله کلام دی- او په ټولو سره الله خبرې کړې دي، او له واسطې پرته ترې جبریل اوریدلی دی، او جبرائیل د الله په انبیاوو او پیغمبرانو -علیهم السلام - نازل کړي دي، او د تورات ځانګړتیا دا ده چې الله تعالی په تختو کې په لیکلې بڼه نازل کړی دی، او د الله کلام او کلمې مخلوق ندي، او د الله کلام د هغه له مخلوقاتو څخه ندی، آیا ته نه ګورې چې هغه د پیدایښت او امر تر منځ جلاوالی راوستی او مونږ د الله تعالی د ګوني او شرعي کلمو تر منځ توپیر کوو.

او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه: عزت، قهر، جبروت، ملکوت، کبریاء، عظمت، اراده، مشیئت، قدرت او رحمت دی، دا رحمت د هغه له صفتونو څخه یو صفت دی او د دې اضافت الله تعالی ته شوی؛ چې دا د صفت اضافت دی موصوف لره.

او د هغه له صفتونو څخه یو علو (پورته والی) دی چې هغه د غلبې، منزلت او ذات لوړوالی دی، نو درې واړه ټول د هغه صفتونو دي چې د هغه په کمال دلالت کوي، او لوی قرآن او نبوي سنت، عقل او فطرت د هغه په لوړوالي په بېلابېلو وجوهاتو دلالت کوي، بلکه هغه دلیلونه ډیر دي چې د الله په پورته والی دلالت کوي، او د هر یو ډول لاندې نور ډیر ډولونه دي چې نه شمیرل کیږي.

او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه یو هم په عرش استواء ده، چې الله تعالی یې په خپل کتاب کې په اوو ځایونو کې یادونه کړې ده.

او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه یو محبت دی، او د هغه له صفتونو څخه: رضایت (خوښي) ده او د هغه له صفتونو څخه د خپلو دښمنانو بد ګڼل دي؛ ځکه چې هغو د هغه خوښی بده وګڼله، او هغه څه یې بد وګڼل چې الله پر خپل رسول -صلی الله علیه وسلم- نازل کړې دي.

د هغه له صفتونو څخه: په دښمنانو غصه کول او پرې غصه کېدل :، او هغه غصه یې د کافرانو لپاره ده،

د هغه له صفتونو څخه: د خپلو دښمنانو د مکر په مقابل کې مکر کول دي ، هغوی چې د ده له اولیاوو سره مکر کاوه، او د هغه له صفتونو څخه تأسف دی، چې معنا یې سخته غصه ده، او د هغه له صفتونو څخه له هغه چا سره دوکه کول دي چې دوکه ورسره

کوي، نو الله له منافقانو سره دوکه کوي، هغوی چې له ده سره دوکه کوي، او د هغه تعالی له صفتونو څخه دا دي چې په هغه چا ملنډې وهي چې پر ده ملنډې وهي.

او له صفتونو څخه يې: خندا، تعجب، د قيامت په ورځ راتلل دي تر څو د خلکو تر منځه پريکړه وکړي.

او مونږ د نزول (راکوزيدلو) په صفت ايمان لرو، او دا چې زمونږ رب د دنيا آسمان ته په حقيقي توګه راکوزيږي لکه څرنګه چې د هغه د جلال او لويۍ سره ښايي، او هغه لکه د مخلوقاتو په څېر راکوزيدل نه دي، بلکې -دا صفت- لکه د نورو صفتونو په څېر يو صفت دی چې مونږ پرې ايمان لرو او پرې پوهيږو او د کيفيت په اړه يې ځان نه ستړی کوو، او نه يې په ردولو کې ځان تکليفوو؛ بلکې په هغه توګه پرې ايمان لرو لکه څرنګه چې ريښتيني او ريښتيا ګڼل شوي پيغمبر -صلی الله عليه وسلم- پرې خبر راکړی دی،

او مونږ د الله تعالی د معيت (ملتيا) په صفت ايمان لرو، او دا چې الله - تعالی - د خپلو مخلوقاتو سره دی، او دا معيت دوه ډوله دی؛ خاص معيت چې دا د الله تعالی د وليانو او پيغمبر عليهم السلام لپاره ثابت دی او معنا يې کاميابي او تاييد دی، او بل يې د ټولو خلکو سره عام معيت دی؛ مؤمن وي او که کافر، او معنا يې علم، چاپيريدل، ځواک او واکمني ده.

او لدې معيت څخه حلول او اختلاط نه لازميږي، او نه يې معنا د الله تعالی د لوړوالي نفي کول دي؛ ځکه د اهل سنت په اجماع سره يې معنا علم او احاطه ده؛ يعنې دا چې الله تعالی مونږ سره په علم، په هر څه احاطه کولو او ځواک سره دی.

او مونږ الله تعالی ته وجه (مخ) ثابتوو لکه څرنګه چې د هغه د جلال او عظمت سره ښايي، او يد (لاس) لکه څرنګه چې د هغه د جلال او کمال سره ښايي، او پدې اړه په قرآن کريم او سنت کې په مختلفو وجوهاتو سره خبر راغلی دی، د لاس ذکر د تثنيې په صيغې سره راغلی، او دا چې الله يې خلاصوي او راټولوي، او دا چې الله پرې اسمانونه نچه کوي، او ځمکه د هغه پاک ذات په موټي کې ده، او لاس داسې ياد شوی چې د ګوتو درلودونکی دی. او دا ټول ثابتوي چې هغه لاس چې صفت يې په قرآن کريم کې راغلی حقيقي لاس دی لکه څرنګه چې د هغه د جلال سره ښايي، مونږ يې په تاويل کولو ځان نه تکليفوو، او نه يې د بل چا د لاس سره تشبيه کوو، او نه قرآني آيتونه او نبوي حديثونه چې دلالت پرې کوي تحريفوو. او د هغه له صفتونو څخه د ګوتو صفت دی.

او مونږ ایمان لرو چې د قیامت په ورځ به مؤمنان خپل رب ګوري، او دا هغه څه دي چې قرآن او متواترو اخبارو پرې زمونږ له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه خبر ورکړی دی په هغه څه کې چې هغه پرې مؤمنانو ته زيری ورکړی چې هغوی به خپل رب په ښکاره توګه د قیامت په ورځ ګوري.

او لکه څرنګه يې چې ځان د کمال، جمال، جلال، عزت او لویۍ په صفتونو سره یاد کړی دی، همدارنګه يې له خپل ځان څخه د نقصان صفتونه هم نفي کړي دي، او د صفاتو نفي په قرآن کې اصل ندی؛ ځکه اصل د صفتونو ثبوت دی، او قرآن او سنت د الله تعالى د صفتونو له یادولو څخه ډک دي لکه څرنګه چې د الله د جلال، لویۍ او کمال سره ښايي، او متعال رب چې کله له خپل ځان څخه کوم صفت نفي کوي نو د دې لپاره يې نفي کوي تر څو يې د ضد په بیانولو سره ځانته کمال ثابت کړي، او يا ځکه کله چې انسانانو د نقصان نسبت هغه ذات ته وکړ چې هغه د عزت او کمال خاوند دی، نو متعال رب هغه نقص نفي کوي چې نسبت يې هغه ته شوی وي.

او مونږ ایمان لرو چې الله پاک لره نیک نومونه دي، او دا چې نومونه يې په ښایست کې وروستي حد ته رسیدلي دي، نو له هغو څخه نور ښایسته نشته، او له هر اسم څخه الله تعالى ته صفت رابيليږي، او نومونه يې له شمېر څخه وتلي دي.

او مونږ رب ويرولي يو له دې چې د هغه په نومونو کې کاږه شو، او يا ترې انکار وکړو، او يا يې له معنا څخه منکر شو، او يا يې بې معنا وګڼو.

او هغه څه چې په قرآن او سنت کې د الله تعالى له نومونو او صفتونو څخه راغلي دي لدې لوی دي چې يو کتاب ديې هغه ټول په ځان کې ځای کړي، او مونږ پدې نومونو او صفتونو د خپل رب په مراد سره ایمان لرو، او هغه څه چې ترې زمونږ د رسول -صلى الله عليه وسلم- مراد وي، او مونږ پوهيږو چې په حقیقت يې انسانان نه پوهيږي، او نه يې په خپل علم کې راوستلی شي او نه يې درک ورته رسيږي، او مونږ يې په تاويل کې ځان نه تکلیفوو.

## )بــاب الإيمــان بوجـود الله (د الله په شتون باندې د ايمان په اړه بـاب

(لدې باب څخه موخه، د رب په شتون باندې د دلایلو ښکاره کول دي چې بې دينه ترې انکار کوي، او لدې وروسته د ربوبيت باب راځي؛ چې له هغه څه مقصد د

ربوبیت د اثبات د دلیلونو راښکاره کول دي له کومو څخه چې الوهیت لازمیږي هغه چې مشرک پکې جګړه کوي).

او مونږ ایمان لرو چې همغه الله اول دی نو مخکې ورڅخه هیڅ شی نشته، الله تعالی فرمایلي: [هم دغه (الله) اول دی (هیڅ شی له هغه نه مخکې نه و) او اخر دی (له ده نه بعد هېڅ شی نشته) او لوړ دی (په هر شي بره دی) او باطن دی (له ده په وړاندې هېڅ شی پټ نه دی)]. [الحـديد سورت: 3 آ◉ت]، او پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «كَانَ اللَّهُ وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ قَبْلَهُ، وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الماء»، «الله و، او له هغه پرته هیڅ شی نه و، او د هغه عرش په اوبو د پاسه و». (بخاري (۷۴۱۸) او ترمذي (۳۹۵۱) روایت کړی). بخاري د عمران بن حصین له حدیث څخه روایت کړی دی، او د ده په یو بل روایت کې راځي. «كَانَ اللَّهُ وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ غَيْرَهُ، وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الماء». «الله و، او له هغه پرته هیڅ شی نه و، او د هغه عرش په اوبو د پاسه و». (بخاري روایت کړی (۳۱۹۱). او مونږ ته یې ځان راپیژندلی چې دی هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي او هغه د اسمانونو او ځمکې مالک دی او دا چې هغه پاک ذات شپه په ورځ او ورځ په شپه کې ننباسي، الله- تعالی- فرمایلي: (دی هغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، بیا دی په عرش باندې برقراره شو، دی عالم دی په هر شي چې په ځمکه کې ننوځي او په هر هغه شي چې له دې نه راوځي او په هر هغه شي چې له اسمانه راکوزیږي او په هر هغه شي چې په ده کې پورته خېژي او دغه الله له تاسو سره دی ( په اعتبار د علم او قدرت)، هر چېرې چې تاسو یئ او الله هغو کارونو لره چې تاسو یې کوئ، ښه لیدونکی دی. لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الأُمُور * خاص هم ده لره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده او خاص الله ته ټول کارونه ورګرځولی شي. يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَهُوَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُور} دی شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې ننباسي او دی د سینو په پټو خبرو ښه عالم دی. او حق سبحانه ذات ټینګار کړی، چې دا شته کاینات ګواه دي پر دې چې هغه ذات یې یواځې پیدا کوونکی دی او له هغه سره بل خالق نشته، الله تعالی فرمایلي: (هَٰذَا خَلْقُ اللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ) (دغه د الله مخلوق دی، نو تاسو (ای مشرکانو!) ما ته وښیئ چې څه شی دی هغه چې دغو (بتانو) پیدا کړی دی، چې غیر له هغه (الله) نه دي)؟ په همدې خاطر یې له خپلو آیتونو څخه ډېر دلایل ذکر کړي چې هغه د دې کایناتو پیدا کوونکی دی، له دې څخه: هغه ژوندی له مړي او مړی له ژوندي څخه راوباسي، او له دې څخه دا چې: هغه انسانان له خاوري څخه پیدا کړي دي. او له دې څخه دا چې: هغه مونږ ته مېرمنې زمونږ له ځانونو څخه پیدا کړي دي. او له دې څخه : په مخلوقاتو کې د ژبو او رنګونو توپیر دی. او له دې څخه : په شپه کې د بنده ګانو ویدل

کیدل، او په ورځ کې د رزق پلټنه ده. او له دې څخه دا چې هغه بریښنا د ویرې او هیلې لامل ګرځولی، او هغه له آسمان څخه اوبه نازلوي. او له دې څخه دا چې: هغه پیدایښت پیل کړ لکه څرنګه چې د ثنا وړ ذات فرمایلي دي:

﴿... وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ ﴿٢٠﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَ لَكُم
مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا لِّتَسْكُنُوٓا۟ إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ
يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ
لَءَايَٰتٍ لِّلْعَٰلِمِينَ ﴿٢٢﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱبْتِغَآؤُكُم مِّن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ
لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَيُحْىِۦ بِهِ ٱلْأَرْضَ
بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٤﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ بِأَمْرِهِۦ ۚ ثُمَّ إِذَا
دَعَاكُمْ دَعْوَةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ إِذَآ أَنتُمْ تَخْرُجُونَ ﴿٢٥﴾ وَلَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ﴿٢٦﴾ وَهُوَ
ٱلَّذِى يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ۚ ...﴾ [الروم: 19-27]

* (هغه (الله) له مړي نه ژوندی راوباسي او له ژوندي نه مړی راوباسي او ځمکه د هغې له مرګ نه پس راژوندۍ کوي او همداسې به تاسو راویستل کیږئ. او یوه د هغه له نښو ځنې دا ده چې تاسو یې له خاورې پیدا کړئ، بیا ناڅاپه تاسو بشر وئ چې خوربدلئ. او د هغه له نښو ځنې دا دي چې ستاسو لپاره یې ستاسو له نفسونو څخه جوړې پیدا کړې، د دې لپاره چې تاسو هغو ته (په مایله کېدو سره) سکون حاصل کړئ او هغه ستاسو په مینځ کې مینه او مهرباني پیدا کړه، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې ښه فکر کوي. او د هغه له نښو ځنې د آسمانونو او ځمکې پیدا کول دي او ستاسو د ژبو او ستاسو د رنګونو اختلاف (بېل والی) دی، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د عالمانو (پوهانو) لپاره. وَاو د هغه له نښو نه ستاسو خوب دی، په شپه او ورځ کې او ستاسو لټول دي د هغه له فضله، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې اوري. او د هغه له نښو ځنې(دا) دي چې هغه تاسو ته برېښنا د وېرې او طمعې لپاره ښيي او له بره نه اوبه نازلوي، بیا په دغو (اوبو) سره ځمکه راژوندۍ کوي، د هغې له مرګ نه وروسته، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې له عقل نه کار اخلي. او د هغه له نښو څخه (دا) دي چې اسمان او ځمکه د هغه په حکم سره ولاړ دي، بیا چې کله هغه تاسو راوبلي، یوځل بلل، له ځمکې نه، (نو) ناڅاپه به تاسو (ژوندي) راوځئ. * او خاص د هغه لپاره دي هغه څوك چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، (دغه) ټول د همده اطاعت کوونکي دي. او دی

همغه ذات دی چې مخلوق اول ځلې پیدا کوي، بیا به دغه دوباره راژوندي کوي او دغه (بیا راژوندي کول) هغه (الله) ته ډېر اسان دي]. [الروم سورت: 19-27 آیتونه].

او لدې څخه دا هم دي چې: هغه په مخلوقاتو باندې حجت قائم کړی چې هغه دوی له یو نفس څخه پیدا کړي دي، الله تعالی فرمایلي:

﴿خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ ثُمَّ جَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزۡوَٰجٖۚ يَخۡلُقُكُمۡ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ خَلۡقٗا مِّنۢ بَعۡدِ خَلۡقٖ فِي ظُلُمَٰتٖ ثَلَٰثٖۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ٦﴾ [الزمر: 6]

(هغه تاسو له یو نفس نه پیدا کړي یئ، بیا یې له هغه نه د هغه ښځه پیدا کړه او ستاسو لپاره یې له څارویو نه اته جوړې پیدا کړې، هغه تاسو د خپلو میندو په خېټو کې پیدا کوي، یو قسم پیدا کول، وروسته له بل قسم پیدا کولو نه، په دریو تیارو کې، دغه الله ستاسو رب دی، بادشاهي خاص د هغه لپاره ده، نشته دی هېڅ حق معبود مګر هغه دی، نو کوم طرف ته تاسو ګرځولی شئ) [الزمر سورت: 6 آیت]،

نو د پیدایښت له پیل څخه یې یادونه وکړه، او دا چې ټول حیوانات د هغه پاک ذات مخلوقات دي، بیا یې پر مونږ حجت قائم کړ چې هغه مونږ په رحمونو کې په تیارو کې پیدا کړي یو، او دا چې له هغه پرته بل څوک نه شي کولای چې له نطفې څخه انسان پیدا کړي.

نو هغه په تیرو آیتونو کې د خپل شتون لپاره د یو لوی دلیل یادونه وکړه - چې هغه د اسمانونو او ځمکې پیدا کول دي او هغه څه چې په دوی کې دي، او څه چې پرې د پاسه دي.

او له دې څخه دا چې: هغه پر دوی - د هغه د پاملرنې او هغه څه چې دوی یې په خپلو ځانونو او خپلو اولادونو کې مومي - حجت قائم کړ، هغه دا چې هغه دوی یې د دوی د میندو له ګېډو څخه - پداسې حال کې - راوویستل چې په هیڅ نه پوهیدل او تر هغه یې ترې ساتنه وکړه چې خلقت او پوهه یې بشپړه شوه،الله - جل جلاله - فرمایلي: ﴿وَٱللَّهُ أَخۡرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ٧٨﴾ [النحل: 78]

(او الله تاسو د خپلو میندو له خیټو نه راوویستئ، په داسې حال کې چې پر هېڅ شي نه پوهېدلئ او تاسو ته یې غوږونه او سترګې او زړونه در کړل، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ). [النحل سورت: 78 آیت].

او لکه څرنګه یې چې هر شی پیدا کړی او چمتو کړی دی، - همدار نګه یې - د ټولو مخلوقاتو لارښوونه هغه څه ته کړې ده چې ښېګڼه یې پکې ده، الله تعالی له فرعون څخه د خبر ورکولو په موخه وايي چې هغه فرمایلي دي (ده (فرعون) وویل: ای موسٰی ستاسو د دواړو رب څوك دی)؟ ، نو الهي ځواب دا و:

﴿قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِيٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ۝٥٠﴾ [طه: 50]

(ده وویل: زمونږ رب هغه ذات دی چې هر شي ته یې د ده (موافق) شکل ورکړی دی، بیا یې لار ښودلې ده). [طه سورت: 50 آیت].

او مونږ باور لرو چې هغه پاک ذات ځمکه غځولې ده او غرونه یې پکې ستني ګرځولي، او هرڅه یې په کې په متوازن ډول رازرغون کړي دي. نو د لیدلو وړ توازن پکې پر دې غوره دلیل دی چې هغه یې پیدا کوونکی دی، لکه څرنګه یې چې باران په یوه ځانګړې بڼه ورولی چې انسان نشي کولی په هغه توګه یې واوروي، او نه له آسمان څخه راوریدلي اوبه ذخیره کولی شي، نو دا - کار- پدې ګواهي ورکوي چې پیدا کوونکی یې الله قهار ذات دی، الله تعالی فرمایلي: ﴿وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡزُونٖ۝١٩ وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسۡتُمۡ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ۝٢٠ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٖ مَّعۡلُومٖ۝٢١ وَأَرۡسَلۡنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَسۡقَيۡنَٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمۡ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ۝٢٢﴾ [الحجر: 19-22]

(او ځمکه، مونږ هغه غځولې ده او مونږ په هغې کې غرونه غورځولي دي او مونږ په هغې کې هر اندازه کړی شوی شی زرغون کړی دی. او مونږ ستاسو لپاره په هغې کې معیشتونه پیدا کړي دي او هغه هم چې تاسو هغه ته روزي ورکوونکي نه یئ. او نشته هېڅ څیز مګر زمونږ سره د هغه خزانې دي او مونږ هغه نه نازلوو مګر په معلومې اندازې سره. او مونږ هواګانې لیږلې دي، چې بلاربوونکې دي، پس مونږ له بره اوبه نازلې کړې، نو مونږ هغه په تاسو وڅښولې او تاسو دغو (اوبو) لره ذخیره کوونکي نه یئ). [الحجر سورت: 19-22 آیتونه].

او مونږ ایمان لرو په هغه څه چې انبیاو او رسولانو پرې ایمان راوړی، او هغه دلیلونه او برهانونه یقیني ګڼو چې په هغه پاک ذات دلالت کوي، لکه څرنګه چې حق ذات خبر

ورکړی چې ابراهیم - علیه السلام- په نمرود باندې استدلال وکړ چې الله تعالی لمر له ختیځ څخه راولي او له هغه پرته بل څوک نه شي کولای چې له لویدیځ څخه یې راولي، الله تعالی فرمایلي:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِى حَآجَّ إِبْرَٰهِـۧمَ فِى رَبِّهِۦٓ أَنْ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّىَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحْىِۦ وَأُمِيتُ ۖ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأْتِى بِٱلشَّمْسِ مِنَ ٱلْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ ٱلْمَغْرِبِ ...﴾ [البقرة: 258 } (ابراهیم وویل: زما رب هغه دی چې ژوندي کول ړ او مړه کول کوي، هغه وویل: زه ژوندي کول او مړه کول کوم، ابراهیم وویل: پس یقینًا الله لمر له مشرق نه راخېژوي، نو ته هغه له مغرب نه راوخېژوه). [البقرة سورت: 258 آیت]

. همدارنګه هغه په خپل قوم پدې استدلال وکړ چې الله هغه ذات دی چې هدایت یې ورته کړی، خواړه او اوبه یې ورکړي او کله چې ناروغ شي نو شفاء ورکوي، او هم هغه یې مړ کوي او ژوندی کوي ئې، نو فرمایلي یې دی لکه څرنګه یې چې خبر ورکړی دی:

﴿ٱلَّذِى خَلَقَنِى فَهُوَ يَهْدِينِ ﴿٧٨﴾ وَٱلَّذِى هُوَ يُطْعِمُنِى وَيَسْقِينِ ﴿٧٩﴾ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ﴿٨٠﴾ وَٱلَّذِى يُمِيتُنِى ثُمَّ يُحْيِينِ ﴿٨١﴾﴾ [الشعراء: 78-81]

* (هغه چې زه یې پیدا کړی یم، نو هغه زما لار ښوونه کوي. او هغه چې همغه په ما خوراك کوي او په ما څښاك کوي. وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ * او کله چې زه ناروغه شم، نو هغه ما ته شفا راکوي. او هغه چې ما ته به مرګ راکوي، بیا به ما ژوندی کوي) [الشعراء سورت: 78-81 آیتونه]،

بیا یې د موسی - علیه السلام - په اړه خبر ورکړ چې فرعون ته یې د جګړې پر مهال وویل: چې رب یې هغه دی:

﴿قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِىٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴿٥٠﴾﴾ [طه: 50]

(ده وویل: زمونږ رب هغه ذات دی چې هر شي ته یې د ده (موافق) شکل ورکړی دی، بیا یې لار ښودلې ده) [طه سورت: 50 آیت]

، او دا په قرآن کې راغلي چې الله - تعالی - ځان له هرې نیمګړتیا څخه سپیځلی کړی دی او ځان یې مونږ ته راپیژندلی، نو هغه پاک ذات فرمایلي:

﴿سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ١ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ٢ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ٣﴾ [الأعلى: 1-3]

ته پاکي بیان کړه د خپل رب د نامې چې تر ټولو اوچت دی. هغه چې پیدا یې کړل ټول شیان، پس ښه یې برابر کړل. او هغه (رب) چې اندازه یې وکړه، پس لاره یې وښووله). [الأعلی سورت: 1-3 آیتونه].

الله تعالی استدلال وکړ چې هغه د دې کائناتو خالق او موندونکی دی او له هغه پرته بل خالق نشته - او یقیناچې هغه؛ هغه ذات دی چې تروتازه باغونه یې رازرغون کړي، او انسانان نشی کولای چې ونې یې رازرغوني کړي، او لکه څرنګه یې چې پرې استدلال وکړ چې هغه ځمکه ثابته ګرځولې ده او په هغې کې یې سیندونه او لوړ غرونه پیدا کړي دي او د دوو سمندرونو په منځ کې یې پرده ګرځولې ده؛ تر څو دا له هغه بل سره ګډ نه شي. او دا چې یوائې هغه د مجبورانو دعا قبلوي کله یې چې راوبلي - که څه هم مؤمن نه وي - او دا هغه ځوک دی چې د ځمکې او بحر په تیارو کې خلکو ته لارښوونه کوي او دا هم هغه ذات دی چې له باران نه مخکې بادونه زیری ورکوونکي لیږي.او هغه مونږ ته روزي راکوي، له هغه پرته بل روزي ورکوونکی نشته، او له هغه پرته بل رب نشته، سپیځلي حق ذات فرمایلي دي:

﴿أَمَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهۡجَةٖ مَّا كَانَ لَكُمۡ أَن تُنۢبِتُواْ شَجَرَهَآۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ يَعۡدِلُونَ ٦٠ أَمَّن جَعَلَ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنۡهَٰرٗا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِيَ وَجَعَلَ بَيۡنَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ حَاجِزًاۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٦١ أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجۡعَلُكُمۡ خُلَفَآءَ ٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٦٢ أَمَّن يَهۡدِيكُمۡ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَمَن يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦٓۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ تَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٣ أَمَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَمَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٦٤﴾ [النمل: 60-64]

(بلکې هغه ذات (بهتر دی) چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي او تاسو لپاره يې له بره نه اوبه نازلې کړې دي، نو هم مونږ په هغو سره د رونق (او ښايست) والا باغونه زرغون کړل، تاسو لپاره دا طاقت نشته چې تاسو د هغو (باغونو) ونې زرغونې کړئ، ايا له الله سره بل معبود شته؟ بلکې دوی يو داسې قوم دی چې (له الله سره د نورو) بلکې هغه ذات (غوره دی) چې ځمکه يې د قرار (او ارام) ځای جوړه کړې ده او د هغې په مينځ کې يې نهرونه جوړ کړي دي او د دې لپاره يې پاخه لوړ غرونه پيدا کړي دي، او د دوو سمندرونو په مينځ کې يې پرده پيدا کړې ده، ايا له الله سره بل معبود شته؟ بلکې د دوی اکثره نه پوهيږي. أبلکې هغه ذات (غوره دی) چې د مجبور ( او عاجز) سوال قبلوي، کله چې دغه (الله) وبلي او هغه تکليف (او سختي) لرې کوي او تاسو د ځمکې خليفه ګان جوړوي، ايا له الله سره بل معبود شته؟ تاسو ډېر لږ شانته نصيحت قبلوئ. بلکې هغه ذات (غوره دی) چې تاسو ته د وچې او سمندر په تيارو کې لاره ښيي او هغه ذات چې له خپل رحمت نه مخکې هواګانې لېږي، چې زېرى ورکوونکې وي، آيا له الله سره بل معبود شته؟ الله ډېر اوچت دی له هغو شيانو نه چې دوی يې (له الله سره)

بلکې هغه ذات چې اول ځلې مخلوق پيدا کوي، بيا به دغه (مخلوق) بېرته ژوندی کوي او هغه ذات چې تاسو ته له آسمان او ځمکې نه روزي درکوي، آيا له الله سره بل معبود شته؟ ته (دوی ته) ووايه: تاسو خپل دليل راوړئ، که تاسو رښتيني يئ). [النمل سورت : 60 -64 آيتونه].

هغه پاک ذات چې نومونه يې سپيڅلې دي فرمايلي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي مَدَّ ٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۡهَٰرٗاۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ٣ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ قِطَعٞ مُّتَجَٰوِرَٰتٞ وَجَنَّٰتٞ مِّنۡ أَعۡنَٰبٖ وَزَرۡعٞ وَنَخِيلٞ صِنۡوَانٞ وَغَيۡرُ صِنۡوَانٖ يُسۡقَىٰ بِمَآءٖ وَٰحِدٖ وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلۡأُكُلِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٤﴾ [الرعد: 3-4]

(او دی همغه ذات دی چې ځمکه يې غوړولې ده او په هغې کې يې پاخه غرونه ايښي او نهرونه يې روان کړي دي او له هر قسمه مېوو نه يې په دغې کې دوه دوه جوړې پيدا کړې دي، هغه په شپې سره ورځ پټوي، بېشکه په دې کې د هغو خلقو لپاره يقينًا نښې دي چې فکر (او غور) کوي. (او په ځمکه کې څنګ په څنګ پيوستې ټوټې دي او د انګورو باغونه دي او فصلونه دي او د کجورو ونې دي چې له يوې بېخه پورته شوي دي او ځينې ځان ته (جدا) بېخ لري، چې په يوه قسم اوبو سره اوبه کولی شي او مونږ په هغو کې ځينو ته په نورو باندې په مېوه (او خوند) کې فضيلت ورکوو، بېشکه په دې کې د هغو خلقو لپاره يقينًا نښې دي چې له عقل نه کار اخلي). [الرعد سورت: ٣، 4 آيتونه].

بيا لوی څښتن دا ثابته کړه چې يواځې هغه ځمکه غځولې او له ټولو ونو او مېوو څخه يې دوه جوړه جوړې پيدا کړي دي او يواځې همغه شپه له ورځې څخه پوښي. او په دې

سره يې استدلال وکړ چې د ځمکې يو بل ته نږدې برخې يو بل ته ورته او يو له بل څخه متفاوتې ميوې راوباسي حال دا چې په يو - ډول- اوبو باندې اوبه کيږي، نو پاکي ده الله لره چې له هغه پرته بل رب نشته، او نه له هغه پرته بل پيدا کوونکی شته. او دا يې بيان کړه چې په غرونو کې - سره له سختوالي يې - بې له مخکنۍ بيلګې پيدايښتونه دي چې د الله تعالی په بې مثله خالقيت دلالت کوي، نو الله جل جلاله وفرمايل:

﴿... وَمِنَ ٱلۡجِبَالِ جُدَدُۢ بِيضٞ وَحُمۡرٞ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٞ ٢٧﴾ [فاطر: 27]

(او په غرونو کې ځينې سپينې او سرې لارې دي، چې د دغو (لارو) رنګونه سره مختلف دي او (ځينې په دوی کې) ډېرې تکې تورې دي. [فاطر سورت: 27 آيت].

له دې جملې څخه هغه څه دي چې الله - تعالی - موږ ته ښودلي چې هغه دغه ټول عالمونه پيدا کړي دي او انسان ته يې تابع کړي دي، او لدې جملې څخه په سمندر کې د بيړيو اسان ګرځول دي، حق ذات فرمايلي دي:

﴿۞ ٱللَّهُ ٱلَّذِي سَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡبَحۡرَ لِتَجۡرِيَ ٱلۡفُلۡكُ فِيهِ بِأَمۡرِهِۦ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٢ وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مِّنۡهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ١٣﴾ [الجاثية: 12-13]

(الله هغه ذات دی چې ستاسو لپاره يې سمندر تابع کړی دی، د دې لپاره چې په ده کې کښتۍ د ده په حکم سره رواني شي او د دې لپاره چې تاسو د هغه له فضله لټون وکړئ او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ. او ستاسو لپاره يې په کار لګولي دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، په داسې حال کې چې دا ټول د هغه له جانبه (مسخر) دي، بېشکه په دغو کې د هغه قوم لپاره يقينًا ډېرې نښې دي چې غور فکر کوي). [الجاثية سورت: ۱۲، ۱۳ آيتونه].

او الله - جل جلاله - مونږ ته د خپل شتون لاربنوونه داسې کړې چې لدې حيواناتو څخه يې مونږ ته سپرلۍ، لباس، خوراک او څښاک وګرځول، او دا چې هغه په اسمان کې مرغان نيسي ( يعنې د راولويدلو مخنيوی يې کوي) الله تعالی فرمايلي:

﴿أَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلطَّيۡرِ مُسَخَّرَٰتٖ فِي جَوِّ ٱلسَّمَآءِ مَا يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا ٱللَّهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٧٩ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۢ بُيُوتِكُمۡ سَكَنٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ ٱلۡأَنۡعَٰمِ بُيُوتٗا تَسۡتَخِفُّونَهَا

يَوۡمَ ظَعۡنِكُمۡ وَيَوۡمَ إِقَامَتِكُمۡ وَمِنۡ أَصۡوَافِهَا وَأَوۡبَارِهَا وَأَشۡعَارِهَآ أَثَٰثٗا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ٨٠ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَٰلٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡجِبَالِ أَكۡنَٰنٗا وَجَعَلَ لَكُمۡ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلۡحَرَّ وَسَرَٰبِيلَ تَقِيكُم بَأۡسَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُسۡلِمُونَ ٨١﴾ [النحل: 79-81]

(ایا دوی مرغانو ته نه دي کتلي چې د اسمان په فضا کې مُسَخَّر شوي دي، دوی لره نه ساتي (له غورځېدلو نه) مګر الله، بېشکه په دغو (څیزونو) کې خامخا ډېرې نښې دي د هغو خلقو لپاره چې ایمان راوړي. واو الله ستاسو لپاره ستاسو له کورونو نه د استوګنې ځایونه جوړ کړي دي او ستاسو لپاره یې د څارویو له څرمنو نه کورونه جوړ کړي دي چې تاسو یې د خپل سفر په ورځ سپك مومئ او د اقامت په ورځ هم او د هغو له وړیو او د هغو له وېښتانو او د هغو له وژغنو نه یې اسبابونه او تر یو وخته پورې د نفعې سامانونه (جوړ کړي دي. او الله له خپلو پیدا کړیو څیزونو نه ستاسو لپاره سیوري تیار کړي دي او ستاسو لپاره یې په غرونو کې پټ ځایونه جوړ کړي دي او ستاسو لپاره یې داسې قمیصونه پیدا کړي دي چې تاسو له ګرمۍ نه ساتي او داسې قمیصونه (زغرې) چې تاسو له جنګ نه ساتي، همدارنګه هغه خپل نعمتونه پر تاسو باندې پوره کوي، د دې لپاره چې تاسو اسلام راوړئ). [النحل سورت: ۷۹-۸۱ آیتونه].

نو دا ټول دلیلونه د الله - تعالی - په شتون او د هغه په ربوبیت باندې ګواه دي، نو له هغه پرته دا بل چا پیدا کړي دي؟! پاکي ده هغه ذات لره. له هغه پرته بل پیداکوونکی کوونکی نشته، او نه له هغه پرته بل رب شته. هغه زموږ لپاره یو لوی شاهد(ګواه، دلیل) ودردلای دی چې هره ورځ تکراریږي، د هغه په شتون او ربوبیت دلالت کوي، او هغه دا چې دا همغه ذات دی چې سبا چوي او هغه ذات چې حبه او دانه چوي (تر څو راشنه شي) الله پاک فرمایلي:

﴿۞ إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلۡحَبِّ وَٱلنَّوَىٰۖ يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَمُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتِ مِنَ ٱلۡحَيِّۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٩٥ فَالِقُ ٱلۡإِصۡبَاحِ وَجَعَلَ ٱلَّيۡلَ سَكَنٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ حُسۡبَانٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٩٦﴾ [الأنعام: 95-96]

(بېشکه الله د دانې او زړي چوونکی دی، ژوندی له مړي څخه راوباسي او له ژوندي څخه د مړي راوېستونکی دی، همدغه الله دی، نو کوم طرف ته تاسو ګرځولی شئ! د سبا (د رڼا) چوونکی دی او شپه یې د ارام ذریعه ګرځولې ده او لمرسترګه او سپوږمۍ یې د حساب ذریعې ګرځولې دي، دا د ښه غالب، ښه پوه ذات اندازه کول دي) [الأنعام سورت: ۹۵، ۹۶ آیتونه]

. او لکه څرنګه یې چې لمر او سپوږمۍ نښې ګرځولي دي، شپه او ورځ یې دوه دلالت کوونکي نخښې د هغه په شتون او ربوبیت وګرځولې الله تعالی فرمايي:

﴿وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيۡنِۖ فَمَحَوۡنَآ ءَايَةَ ٱلَّيۡلِ وَجَعَلۡنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبۡصِرَةٗ ...﴾ [الإسراء: 12]

(او موږ شپه او ورځ دوه نښې جوړې کړي دي، بیا موږ د شپې نښه رڼا وګرځوله او د ورځې نښه مو روښانه وګرځوله) [الإسراء سورت: 12 آیت]

. او الله -تعالی- دا بیان کړي دي چې بحر یې خوږ او تریو ګرځولی دی، او لدې دواړو څخه تازه غوښه او زیورات راوځي، چې دا د هغه په شتون باندې دلیل دی، الله پاک فرمایلي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي سَخَّرَ ٱلۡبَحۡرَ لِتَأۡكُلُواْ مِنۡهُ لَحۡمٗا طَرِيّٗا وَتَسۡتَخۡرِجُواْ مِنۡهُ حِلۡيَةٗ تَلۡبَسُونَهَاۖ وَتَرَى ٱلۡفُلۡكَ مَوَاخِرَ فِيهِ ...﴾ [النحل: 14]

(دی همغه ذات دی چې سمندر یې مُسخر کړی دی، د دې لپاره چې تاسو له هغه نه تازه غوښه وخورئ او له هغه نه ګاڼه (زېورات) راوباسئ چې تاسو یې اغوندئ او ته په دې کې بېړۍ وینې، چې اوبه څیرونکې وي) [النحل سورت: 14 آیت]،

حق تعالی فرمایلي دي:

﴿۞ وَهُوَ ٱلَّذِي مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ هَٰذَا عَذۡبٞ فُرَاتٞ وَهَٰذَا مِلۡحٌ أُجَاجٞ وَجَعَلَ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٗا وَحِجۡرٗا مَّحۡجُورٗا ٥٣﴾ [الفرقان: 53]

(او دی همااغه ذات دی چې دوه دریابونه یې خوشې کړې دي (له یو بل سره جوخت) دا خوږ دی، ډېر خوږ (تنده ماتوونکی) او د ا (بل) تریو دی، ښه تریو او د دواړو په مینځ کې یې یوه پرده او بند پیدا کړی دی چې منع کړی شوی دی) [الفرقان سورت: 53 آیت].

او یقینا چې الله تعالی بیان کړي دي چې برابر عقلونه پدې پوهیږي چې شوني نده چې دا کائنات دې پرته له پیدا کوونکي څخه پیدا شي، نو الله پاک فرمایلي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ وَلَهُ ٱخۡتِلَٰفُ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٨٠﴾ [المؤمنون: 80]

( او د غه (الله) هغه ذات دی چې ژوندي کول کوي او مړه کول کوي او خاص د همده په اختیار کې دی د شپې او ورځې اختلاف (بدلېدل رابدلېدل) ایا نو تاسو له عقل نه کار نه اخلئ! [المؤمنون سورت: ۸۰ آیت]،

**او الله - تعالی - فرمایلي:**

﴿قَالَ أَفَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا يَضُرُّكُمۡ ٦٦ أُفّٖ لَّكُمۡ وَلِمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٦٧﴾ [الأنبياء: 66-67]

(هغه وویل: ایا نو تاسو له الله نه پرته د هغه څه عبادت کوئ چې تاسو ته هېڅ نفع نشي رسولی او نه تاسو ته ضرر رسولی شي. اُف په تاسو(ډیر غورځیدلي خلک یاست) او په هغو چې تاسو یې له الله نه پرته عبادت کوئ، ایا نو تاسو عقل نه لرئ). [الأنبیاء سورت: ٦٦، ٦٧ آیتونه].

آیا د الله پاک په شتون او د هغه په ربوبیت دې له دې څخه لوی دلیلونه لیدلي دي. او الله تعالی په هغه چا رد کړی دی چې د پیدایښت نسبت یې له هغه پرته بل چاته کړی دی، او د رټلو او پرې د انکار کولو په موخه یې ترې پوښتنه وکړه چې آیا دوی له هیڅ څخه پیدا شوي؟ او یا دا چې خپل ځانونه یې په خپله پیدا کړي، او یا یې ځمکه او آسمانونه پیدا کړي؟ او یا له دوی سره د الله خزانې دي؟ او یا دوی واکداران دي، الله تعالی فرمایلي:

﴿أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ ٣٥ أَمۡ خَلَقُواْ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ٣٦ أَمۡ عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمۡ هُمُ ٱلۡمُصَۜيۡطِرُونَ ٣٧﴾ [الطور: 35-37]

آیا دوی بې له څه شي پیدا کړی شوي دي ؟(پیدا کوونکی نه لري؟)، یا هم دوی، پخپله پیدا کوونکي * ایا دوی اسمانونه او ځمکه پیدا کړي دي؟ بلکې دوی یقین نه کوي. آیا له دوی سره ستا د رب خزانې دي، یا هم دوی واکدران دي). [الطور سورت: ۳۵-۳۷ آیتونه].

او په آیتونو کې دا ایت تر ټولو ډیر لوی دلیل دی د خالق په شتون؛ لدې امله ثابت دي چې جبیر بن مطعم ویلي: له پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - څخه مې اوریدلي دي چې د ماښام - په لمانځه کې یې - الطور سورت وایه، نو کله چې دې آیت ته ورسیده (آیا دوی بې له څه شي پیدا کړی شوي دي، یا هم دوی، پخپله پیدا کوونکي دي؟ * ایا دوی اسمانونه او ځمکه پیدا کړي دي؟ بلکې دوی یقین نه کوي. آیا له دوی سره ستا د رب خزانې دي، یا هم دوی واکدران دي؟!). قَالَ: «كَادَ قَلْبِي أَنْ يَطِيرَ»، ویې فرمایل: "نږدې و چې زړه مې والوځي". (بخاري (۴۸۵۴)، مسلم (۴۶۳)، ابو داود (۸۱۱)، نسائي (۹۸۷) او ابن

ماجه (۸۳۲) روایت کړی دی). او جبیر - رضي الله عنه- د اسلام له منلو څخه مخکې دا آیت اوریدلی و، نو څرګنده شوه چې دوی پیدا شوي، روزل شوي او تابع شوي، نو پاک دی الله له هغه څه نه چې دوی یې پرې یادوي. او حق ذات فرمایلي دي:

﴿۞ مَّآ أَشۡهَدتُّهُمۡ خَلۡقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَا خَلۡقَ أَنفُسِهِمۡ وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ ٱلۡمُضِلِّينَ عَضُدٗا ۝٥١﴾ [الكهف: 51]

ما دغه (شیطانان) نه د آسمانونو او ځمکې پیدا کولو ته حاضر کړي دي او نه د دوی د ځانونو پیدا کولو ته، او زه ګمراه کوونکو لره مټ (بازو) جوړوونکی (نیونکی) نه یم. [الكهف سورت: 51 آیت]،

نو کله چې څوك د اسمانونو له پیدایښت څخه ناخبره وي او د خپل ځان له پیدایښت څخه ناخبره وي، نو څنګه د خپل موندونکي او خالق څخه انکار کولی شي؟! او موږ ایمان لرو چې الله - تعالی- خپل مخلوقات بې ځایه نه دي پیدا کړی؛ بلکې یو پیاوړی پیدایښت د یو ستر مقصد لپاره دی، الله - تعالی - فرمایلي:

﴿وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا لَٰعِبِينَ ۝١٦ لَوۡ أَرَدۡنَآ أَن نَّتَّخِذَ لَهۡوٗا لَّٱتَّخَذۡنَٰهُ مِن لَّدُنَّآ إِن كُنَّا فَٰعِلِينَ ۝١٧﴾ [الأنبياء: 16-17]

(او مونږ آسمان او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مینځ کې دي (داسې) نه دي پیدا کړي، چې لوبې کوونکي یو. که مونږ اراده کړې وی چې څه لوبه تماشه جوړه کړو (نو) یقینًا هغه به مو له خپلې خوا نه جوړه کړې وی که مونږ (دا کار) کوونکي وو). [الأنبياء سورت: ایتونه ١٦، ١٧].

هغه د عیسویانو دې ادعا ته ځواب ورکړ چې مسیح خالق، معبود، او د دې کائناتو چاره ساز دی، او دا یې څرګنده کړه چې په ځمکه او آسمان کې هیڅ شی له الله څخه پټ نه دی، او دا هغه ذات دی چې انسانان په رحمونو کې جوړوي. او د هغو کسانو له جملې څخه چې الله پاک په رحم کې پیدا کړی او جوړ کړی دی دی، مسیح علیه السلام هم دی، څښتن تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخۡفَىٰ عَلَيۡهِ شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ۝٥ هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝٦﴾ [آل عمران: 5-6]

(يقينًا الله (چې دی) له هغه نه هېڅ شی نه دی پټ په ځمکه کې او نه په اسمان کې. دی همغه ذات دی چې په رَحِمونو کې ستاسو شکلونه (صورتونه) جوړوي څنګه چې وغواړي، نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، چې ډېر غالبه، بنه حکمت والا دی) [آل عمران سورت: ٥، ٦ آیتونه]

او داسې نور ډېر - دلیلونه - چې په قرآن کریم کې راغلي لکه : په «سورة الأنعام»، «النحل» او نور بې شمېره دلایل او شواهد، چې ټول د هغه په موجودیت او ربوبیت دلالت کوي.

## )بــاب الإيمــان بربوبية الله (باب دی په بیان د ربوبیت د الله کې )الله مالک دی متصرف دی د عبادت لایق دی(

او مونږ ایمان لرو چې الله په خپل ربوبیت کې یو دی، او هغه یوازې خالق دی، او همغه ذات پیدایښت پیل کړی دی او هیڅ ورسره پکې برخه نده اخیستې، حق ذات فرمایلي دي:

﴿ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ۝١١﴾ [الروم: 11]

(الله اول ځلې مخلوق پیدا کوي، بیا به یې اعاده کوي، بیا به خاص هغه ته ورګرځولی شي) [الروم سورت: 11 آیت]

، او الله پاک فرمایلي دي:

﴿قُلۡ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۚ قُلِ ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ۝٣٤﴾ [یونس: 34]

(ته (دوی ته) ووایه: آیا ستاسو په شریکانو کې داسې څوك شته چې مخلوق لره اول ځل پیدا کوي، بیا یې دوباره ژوندي کوي؟ ته ووایه: الله مخلوق لره اول ځل پیدا کوي، بیا به یې دوباره ژوندي کوي، نو تاسو کوم اړخ ته اړول کېږئ؟) [یونس سورت: 34 آیت]

. او الله پاک په خپل امر سره پیدا کول کوي، الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ۝٨٢﴾ [یس: 82]

(بېشکه د هغه امر (حکم) هم دا وي چې کله د يو شي اراده وکړي، دا چې هغه ته ووايي پيدا شه، نو هغه پيدا شي) [يس سورت : 82 آيت].

الله - تعالى - له اسبابو څخه چې هر څه وغواړي پيدا کوي يې، الله - تعالى - فرمايلي:

﴿ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّن نَّبَاتٍ شَتَّىٰ ٥٣﴾ [طه: 53]

(پس په دغو (اوبو) سره مونږ بېلا بېل (او) قسما قسم زرغونې را ايستلي دي). [طه سورت: 53 آيت]،

او الله تعالى فرمايي: (او له هر قسمه مېوو نه يې په دغې کې دوه دوه جوړې پېدا کړي دي) او الله - تعالى - فرمايلي:

﴿وَمِن كُلِّ شَىْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ٤٩﴾ [الذاريات: 49]

(او له هر څيز څخه مونږ دوه قسمه جوړې (نر او ښځه) پيدا کړي دي، د دې لپاره چې تاسو پند واخلئ). [الذاريات سورت: 49 آيت].

او هغه پاک ذات خبر ورکړی چې هغه د هر شي پيدا کوونکی دی، او له هغه پرته هر څه چې دي هغه مخلوقات دي، الله تعالى فرمايلي:

﴿ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ وَكِيلٌ ٦٢﴾ [الزمر: 62]

(الله د هر شي پيدا کوونکی دی او هغه په هر شي باندې نګران دی). [الزمر سورت: ٦٢ آيت].

او مونږ ايمان لرو چې الله د هر شي مالک، خالق او چاره ساز دی، الله تعالى فرمايلي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعْبُدُوا۟ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ٢١ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ فِرَٰشًا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْۖ ...﴾ [البقرة: 21-22]

(ای خلکو! د خپل رب عبادت کوئ، هغه چې تاسو یې پیدا کړي یئ او هغه کسان چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ هغه (رب) چې ستاسو لپاره یې ځمکه فرش او اسمان چت جوړ کړی دی او له بره نه یې اوبه نازلې کړي دي، بیا یې په دغو سره له مېوو نه ستاسو لپاره رزق راوېستلی دی، نو له الله سره هېڅ قسمه شریکان مه جوړوئ، حال دا چې تاسو پوهېږئ) [البقرة سورت: 21، 22 آیت]

. او الله تعالی فرمایلي: ﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۖ ...﴾ [یونس: 3]

(بېشکه چې ستاسو رب هم هغه الله دی چې پیدا کړي یې دي اسمانونه او ځمکه په شپږو ورځو کې، بیا د عرش د پاسه شو، د ټولو کارونو تدبیر کوي) [یونس سورت: 3 آیت]،

هغه پاک ذات د اسمانونو او ځمکې خالق او مالک دی او هغه په دې دواړو کې تصرف کوونکی دی، حق ذات فرمایلي دي:

﴿لَّهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٦٣﴾﴾ [الزمر: 63]

(خاص هم ده لره د اسمانونو او ځمکې چابیانې دي، او هغه کسان چې د الله په آیتونو سره کافران شوي دي، هم دغه کسان تاوانیان دي). [الزمر سورت: 63 آیت]

، او هیڅ مخلوق د خپل ځان او د نورو د چارو د اداره کولو واک نه لري مګر هغه څه چې الله د هغه لپاره ټاکلي وي، نه ملایکې، نه پیغمبران، او نه هم ولیان په کائناتو کې د تصرف حق نه لري؛ نه د ګټې رسولو او نه د تاوان دفع کولو، الله تعالی فرمایلي:

﴿قُلِ ٱدْعُوا۟ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۖ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِن شِرْكٍ وَمَا لَهُۥ مِنْهُم مِّن ظَهِيرٍ ﴿٢٢﴾﴾ [سبأ: 22]

(ته (دې مشرکانو ته) ووایه: تاسو هغه (معبودان) وبولئ چې تاسو (هغه) له الله نه غیر (معبودان) ګڼلي دي، دوی د یوې ذرې اندازه اختیار (او مِلك) نه لري په آسمانونو کې او نه په ځمکه کې او د دوی لپاره په دغو دواړو کې هېڅ برخه (شرکت) نشته، او نشته دغه (الله) ته له دوی نه هېڅ مددګار). [سبأ سورت: 22 آیت]

. او موږ باور لرو چې هغه حقیقي مالک دی، او له هغه پرته نور بنده ګان دي او د هر واکمن واکمني لنډ مهاله او له منځه تلونکي ده، الله پاک فرمایلي دي:

﴿مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٤﴾ [الفاتحة: 4]

(د بَدلې د ورځې مالك دی). [الفاتحة سورت: 4 آيت]

، او الله پاک فرمايلي:

﴿قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٦﴾ [آل عمران: 26]

(ته ووايه: ای الله! د بادشاهۍ مالکه! ته بادشاهي ورکوې هغه چا ته چې وغواړې او بادشاهي بېرته اخلې له هغه چا نه چې وغواړې، چا ته چې وغواړې عزت ورکوې او چا ته چې وغواړې ذلت ورکوې، هم ستا په لاس کې خير دی، بېشکه ته په هر شي باندې ښه قادر يې). [آل عمران سورت: 26 آيت]

، او نور ټول بنده ګان او تابع دي، الله تعالی فرمايلي:

﴿إِن كُلُّ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّآ ءَاتِي ٱلرَّحۡمَٰنِ عَبۡدٗا ٩٣﴾ [مريم: 93]

(نه دي دغه هر يو چې په آسمانونو او ځمکه کې دي مګر رحمٰن ته راتلونکي دي، په دې حال کې چې بنده به وي) [مريم سورت: 93 آيت].

او موږ باور لرو چې الله هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي، شپه په ورځ پوښي، او ورځ په شپه پوښي، او دا هم هغه ذات دی چې لمر او سپوږمۍ يې تابع کړي، هر يو يې تر خپلې نيټې پورې ځغلي. حق ذات فرمايلي دی:

﴿خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۖ يُكَوِّرُ ٱلَّيۡلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيۡلِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمًّىۗ أَلَا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ٥﴾ [الزمر: 5]

(هغه آسمانونه او ځمکه په حقه سره پيدا کړي دي، هغه شپه په ورځ تاووي (نغاړي) او ورځ په شپه تاووي او هغه لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي، هر يو مقرر کړی شوې نېټې ته روان دي، خبردار شئ! همغه ښه غالب، ښه بخښونکی دی). [الزمر سورت: 5 آيت]،

او همغه پاک ذات دی چې لمر يې ځلانده او سپوږمۍ يې روښنانه ګرځولی او د شپې او ورځې توپير يې د خپل مخلوق د عظمت او د ښه مديريت نښنه ګرځولې ده، الله تعالی

فرمايلي: ﴿هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلشَّمْسَ ضِيَآءً وَٱلْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ ۚ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ۝٥ إِنَّ فِى ٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَّقُونَ ۝٦﴾ [يونس: 5-6]

(هم هغه (الله) دی چې (ټيکلی د) لمر يې تېز ځلېدونکی ګرځولی دی او (ټيکلی د) سپوږمۍ يې روښانه او هغه يې منزلونه منزلونه مقرر کړه (او منزلونه يې مقرر کړل)، د دې لپاره چې تاسو د کلونو شمېره او حساب معلوم کړئ ، الله دغه (څيزونه) نه دي پيدا کړي مګر په حقه سره، هغه ايتونه (دليلونه) په تفصيل سره بيانوي، د هغو خلقو لپاره چې پوهېږي. بېشکه د شپې او ورځې په اختلاف (بدلېدو رابدلېدو) کې او په هغو (شيانو) کې چې الله په اسمانونو او ځمکه کې پيدا کړي دي، خامخا نښې دي د هغو خلقو لپاره چې وېرېږي) [يونس سورت: 5، 6 آيت]،

او همغه ذات دی چې موږ يې له يوه نفس څخه پيدا کړي يو، او له هغه څخه يې د هغه جوړه ګرځولې، او ټول څاروي يې پيدا کړي، څښتن تعالى چې د لويۍ خاوند دی او نومونه يې سپيڅلي دي فرمايلي دي:

﴿خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْأَنْعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ ۚ يَخْلُقُكُمْ فِى بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِى ظُلُمَٰتٍ ثَلَٰثٍ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ ٱلْمُلْكُ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ۝٦﴾ [الزمر: 6]

(هغه تاسو له يو نفس نه پيدا کړي يئ، بيا يې له هغه نه د هغه ښځه پيدا کړه او ستاسو لپاره يې له څارويو نه اته جوړې پيدا کړې، هغه تاسو د خپلو ميندو په خېټو کې پيدا کوي، يو قسم پيدا کول، وروسته له بل قسم پيدا کولو نه، په دريو تيارو کې، دغه الله ستاسو رب دی، بادشاهي خاص د هغه لپاره ده، نشته دی هېڅ حق معبود مګر هغه دی، نو کوم طرف ته تاسو ګرځولی شئ). [الزمر سورت: 6 آيت].

او مونږ ايمان لرو چې هغه ذات رزق ورکوونکی او د پياوړي ځواک خاوند دی، له هغه پرته بل رزق ورکوونکی، او کفايت کوونکی بل څوک نشته، الله تعالى فرمايلي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلْقُوَّةِ ٱلْمَتِينُ ۝٥٨﴾ [الذاريات: 58]

(بېشکه هم دغه الله ښه روزي ورکوونکی، قوت والا، (او) ډېر مضبوط دی) [الذاريات سورت: 58 آيت]

او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا وَمُسۡتَوۡدَعَهَاۚ كُلّٞ فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٦﴾ [هود: 6]

(او په ځمکه کې هېڅ خوځنده (ذي روح) نشته مګر د هغه رزق خاص په الله باندې دی، او هغه د هغه د اوسېدلو ځای او د هغه د سپارېدلو ځای پېژني (دا) هر څه په واضح کتاب کې (لیك) دي). [هود سورت: 6 آیت]

. او مونږ ایمان لرو چې الله پاک په علم سره په ټولو شیانو احاطه کړې ده، الله تعالی فرمایلي: ﴿... يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ..﴾ [البقرة: 255]

(هغه پوهېږي پر هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او پر هر هغه څه چې د دوی وروسته دي، او دوی (مخلوق) د هغه له علم نه هېڅ شی هم نشي راګېرولی، مګر هغه څه چې هغه (الله) یې وغواړي). [البقرة سورت: 255 آیت]،

نو نه پټېږي د هغه له علم څخه وړه او غټه، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿... عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِۖ لَا يَعۡزُبُ عَنۡهُ مِثۡقَالُ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَآ أَصۡغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرُ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٣﴾ [سبأ: 3]

(د غیبو عالم دی، له هغه نه نه پټېږي په اندازه د یوې ذرې په آسمانونو کې او نه په ځمکه کې او نه د دغې (ذرې) نه وړوکی (شی) او نه (ترې) غټ مګر (دغه هر څه) په ښکاره کتاب کې دي. [سبأ سورت: 3 آیت]،

او د هغه علم پدې کائناتو کې په هر شي احاطه کړې ده: حق ذات فرمایلي:

﴿وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَۚ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۚ وَمَا تَسۡقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعۡلَمُهَا وَلَا حَبَّةٖ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡأَرۡضِ وَلَا رَطۡبٖ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٥٩﴾ [الأنعام: 59]

(او خاص له الله سره د غیبو چابیانې دي، یواځې هغه پر دغو عالم دی او هغه عالم دی پر هغه څه چې په وچه او سمندر کې دي، او هېڅ یوه پاڼه نه غورځېږي مګر هغه پرې عالم دی او د

ځمکې په تیارو کې نه یوه دانه (پرېوځي) او نه لوند څیز او نه وچ مګر (دا ټول) په څرګند کتاب (لوح محفوظ) کې دي). [الأنعام سورت: 59 آیت]

، او همدا رنګه یې د دې چاپېره شوي علم د یوې څنډې د وضاحت په اړه فرمایلي:

﴿وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا طَٰٓئِرٖ يَطِيرُ بِجَنَاحَيۡهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمۡثَالُكُمۚ مَّا فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ مِن شَيۡءٖۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يُحۡشَرُونَ ٣٨﴾ [الأنعام: 38]

(او نشته په ځمکه کې هېڅ یو خوځنده او نه هېڅ مارغه چې په خپلو دواړو وزرونو الوځي مګر (دوی) ستاسو په شان امتونه دي، مونږ په کتاب (لوحِ محفوظ) کې هېڅ شی (بې لیکلو) نه دی پرېښی، بیا به دوی د خپل رب په طرف ورجمع کولی شي). [الأنعام سورت: 38 آیت].

او مونږ ایمان لرو چې الله پاک ذات په پټو او ښکاره و خبر دی، سپیڅلي حق ذات فرمایلي: ﴿عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡكَبِيرُ ٱلۡمُتَعَالِ ٩﴾ [الرعد: 9]

(د غیبو او د ښکاره و عالم دی، ډېر لوی، لوړ برتر دی) [الرعد سورت: 9 آیت]،

او دا چې هغه به خپلو غیبو باندې د خپلو مخلوقاتو څخه څوک نه خبروي، مګر چاته یې چې له خپلو رسولانو څخه خوښه شي، سپیڅلي پاک ذات فرمایلي:

﴿عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا ٢٦ إِلَّا مَنِ ٱرۡتَضَىٰ مِن رَّسُولٖ فَإِنَّهُۥ يَسۡلُكُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ رَصَدٗا ٢٧﴾ [الجن: 26-27]

مګر هغه چې کوم رسول یې خوښ شي(وحې ورته کوي د وحې پواسطه د ځیني مغیباتو خبر ورکړي)، نو بېشکه دغه (الله) د ده په مخ کې او د ده شا ته ساتونکي (څوکیداران) روانوي). [الجن سورت: 26، 27 آیتونه]

، او هر چا چې د غیبو د علم دعوه وکړه هغه دروغجن تور پورې کوونکی دی. او پیغمبران په غیبو نه پوهیږي، او الله تعالی خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته امر کړی چې ووایي:

﴿قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ ...﴾ [الأنعام: 50]

(ته ووايه: زه تاسو ته نه وايم چې ما سره د الله خزانې دي او نه زه عالم الغيب يم) [الأنعام سورت: 50 آيت].

او مونږ ايمان لرو چې يوازې الله پاک ژوندى كوونكى او مړ كوونكى دى، الله تعالى فرمايلي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۚ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ١١٦﴾ [التوبة: 116]

(بېشكه الله چې دى، د اسمانونو او ځمكې سلطنت خاص د هغه لپاره دى، هغه ژوند وركوي او هغه مرګ وركوي او تاسو لپاره له الله نه غير نه هېڅ كار ساز شته او نه هېڅ مددګار). [التوبة سورت: 116 آيت]،

سپېڅلي حق ذات فرمايلي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَحۡيَاكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ ٦٦﴾ [الحج: 66]

(او دغه (الله) همغه ذات دى چې تاسو يې ژوندي كړي يئ، بيا به هغه تاسو مړه كاندي، بيا به هغه تاسو ژوندي كړي، بېشكه انسان خامخا ډېر ناشكره دى) [الحج سورت: 66 آيت]

. او دى همغه ذات دى چې مرګ او ژوند يې پيدا كړي دي، الله تعالى فرمايلي:

﴿ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡمَوۡتَ وَٱلۡحَيَوٰةَ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفُورُ ٢﴾ [الملك: 2]

(هغه ذات چې مرګ او ژوند يې پيدا كړى دى، د دې لپاره چې تاسو وازمايي چې په تاسو كې د عمل په لحاظ كوم يو ډېر ښه دى او هم دى ښه غالب، ډېر بخښونكى دى) [الملك سورت: 2 آيت]،

او يقينا دى هغه ذات دى چې نفسونه د مرګ پر مهال قبضوي، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ حِينَ مَوۡتِهَا ...﴾ [الزمر: 42]

[الله نفسونه (ساګانې) قبضوي د هغو د مرګ په وخت كې. [الزمر سورت: 42 آيت]

. او مونږ ايمان لرو چې الله تعالى هر شى د عزت او حكمت له مخې د ځان تابع كړى دى، لكه څرنګه چې پدې اړه الله تعالى په خپلې دې وينا سره خبر وركړى دى:

﴿وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا وَظِلَٰلُهُم بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ۩ ١٥﴾ [الرعد: 15]

(او خاص الله ته سجده كوي هغه څوك چې په اسمانونو او ځمكه كې دي په خوښه او په زور او د هغوى سيوري (هم سجده كوي) سبا او ېبګاه). [الرعد سورت : 15 آيت]،

او حق ذات فرمايلي دي:

﴿يَوۡمَ هُم بَٰرِزُونَۖ لَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِنۡهُمۡ شَيۡءٞۚ لِّمَنِ ٱلۡمُلۡكُ ٱلۡيَوۡمَۖ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ ٱلۡقَهَّارِ ١٦﴾ [غافر: 16]

(له هغې ورځې نه چې دوى به ښېخي ښكاره وي، له الله نه به د دوى هېڅ شى پټ نه وي، نن ورځ د چا بادشاهي ده؟ خاص د الله (بادشاهي ده) چې يو دى، ښه غالب دى) [غافر سورت: 16 آيت]

. او مونږ ايمان لرو چې الله تعالى آسمان پيدا كړى دى، او هغه يې له ستنو پرته پورته كړى دى، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ وَأَلۡقَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمۡ ...﴾ [لقمان: 10]

(هغه، اسمانونه بې له ستنو پيدا كړي دي چې تاسو هغه وينئ او په ځمكه كې يې پاخه غرونه غورځولي (پيدا كړي) دي چې دغه (ځمكه) تاسو ونه خوځوي). [لقمان سورت: 10 آيت]

، او ستاسو لپاره يې په كار لګولي دي هر هغه څه چې په اسمانونو كې دي او هر هغه څه چې په ځمكه كې دي، په داسې حال كې چې دا ټول د هغه له جانبه (مسخر) دي،سپيڅلي حق ذات فرمايلي دي:

﴿وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مِّنۡهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ١٣﴾ [الجاثية: 13]

(او ستاسو لپاره يې په كار لګولي دي هر هغه څه چې په اسمانونو كې دي او هر هغه څه چې په ځمكه كې دي، په داسې حال كې چې دا ټول د هغه له جانبه (مسخر) دي، ببشكه په دغو كې د هغه قوم لپاره يقينًا ډېرې نښې دي چې غور فكر كوي) [الجاثية سورت: 13 آيت]

. او موږ باور لرو چې الله د ټولو څخه شته كول كوي او تصرف هم، الله تعالى فرمايلي:

﴿... أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٥٤﴾ [الأعراف: 54]

(اګاه شئ! خاص هغه لره دي پیدا کول اوتصرف کول، ډېر برکت والا دی الله چې رب العلمین دی) [الأعراف سورت: 54 آیت]

**، له هغه پرته بل معبود نشته او له هغه پرته بل قانون جوړونکی نشته لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي:**

﴿۞ شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحٗا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ...﴾ [الشورى: 13]

(هغه ستاسو لپاره هغه دین مقرر کړی دی چې د هغه وصیت یې نوح ته کړی و او هغه چې مونږ تا ته وحي کړی دی). [الشورى سورت: 13 آیت]

**، او الله تعالی فرمایلي:**

﴿... لِكُلّٖ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ شِرۡعَةٗ وَمِنۡهَاجٗاۚ ...﴾ [المائدة: 48]

(مونږ په تاسو کې د هر یو لپاره یو دستور او لاره مقرر کړې ده) [المائدة سورت: 48 آیت]

**، نو - الله - هغه څوک دی چې قانون جوړوي، قوانین پلي کوي او دین بیانوي. او حق ذات په هغه چا رد کړی چې خپل عالمان او راهبان یې مالکان د حل او د حرمت نیولي و، او د دوی حلال یې حلال ګڼل او حرام یې حرام ګڼل، الله تعالی فرمایلي:**

﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ... ٣١﴾ [التوبة: 31]

(دوی خپل عالمان او پیران واکداران د حل او د حرمت نیولي و په غیر د الله څخه. [التوبة سورت: ۳۱ آیت]

**، او الله تعالی فرمایلي:**

﴿أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ ...﴾ [الشورى: 21]

(ایا د دوی لپاره داسې شریکان شته چې د دوی لپاره یې له دین څخه هغه لاره مقرر کړې ده چې الله د هغې اجازه نه دی کړی)(۱) [الشورى سورت: 21 آیت]

. او لکه څرنګه چې دې رب العزت مخلوقات پیدا کړي او د دوی مالک دی، هم هغه د دوی لپاره  قوانین جوړ کړي دي، نو یوازې همغه ذات د دوی په حساب او جزا باندې ځواکمن دی، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَخَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّ وَلِتُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ٢٢﴾ [الجاثية: 22]

(او الله اسمانونه او ځمکه په حقه سره پیدا کړي دي ( د یو حکمت او مقصد د پاره) او د دې لپاره چې هر نفس ته د هغه عمل بدله ورکړی شي چې ده کړی دی، په داسې حال کې چې دوی سره به ظلم و نه کړای شي) [الجاثیة سورت: 22 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخۡفِيهَا لِتُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا تَسۡعَىٰ ١٥﴾ [طه: 15]

(بېشکه قیامت راتلونکی دی، زه غواړم چې دغه (قیامت) پټ وساتم ( اشاره ده قرب قیامت ته)، د دې لپاره چې هر نفس ته د هغو عملونو په سبب بدله ورکړی شي چې دی یې کوي) [طه سورت: 15 آیت].

او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی د بنده ګانو او د هغوی د افعالو پیدا کوونکی دی، الله پاک فرمایلي: (حال دا چې الله ستاسو او ستاسو د عملونو، پیدا کوونکی دي)

او مونږ حق ذات ته ریښتیني شاهدي ورکوو چې الله پاک د خپلو کائناتي نښانو هره نخښه د دې علامه ګرځولې چې هغه خالق دی او حق ذات پخپله دې وینا سره د دې خبرې تصدیق کوي: ﴿أَفَمَن يَخۡلُقُ كَمَن لَّا يَخۡلُقُۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ١٧﴾ [النحل: 17]

(آیا نو هغه ذات چې پیدا کوي په شان د هغه چا دی چې (څه) نشي پیدا کولی؟ آیا نو تاسو پند نه اخلئ!) [النحل سورت: 17 آیت]

. حق ذات په هغه چا باندې رد وکړ چې له هغه سره یې د هغه په ربوبیت او الوهیت کې شریکان وګرځول؛ ځکه چې هم هغه یوازې خالق دی نو فرمایلي یې دي:

﴿... أَمۡ جَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُواْ كَخَلۡقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلۡخَلۡقُ عَلَيۡهِمۡۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّٰرُ ١٦﴾ [الرعد: 16]

( يا دوی د الله لپاره داسې شريکان مقرر کړي دي چې د هغه د پيدا کولو په شان پيدا کول يې کړي دي، بيا په دوی باندې پيدا کول مشتبه شوي دي؟ ته ووايه: الله د هر شي پيدا کوونکی دی او هم هغه يو دی، ډېر غالب دی) [الرعد سورت: 16 آيت].

او مشرکانو د الله په ربوبيت ايمان درلوده، او پدې پوهېدل چې الله خالق، رازق، ژوندی کوونکی او روح اخيستونکی دی، او هم هغه ذات ګټه رسوونکی او ضرر رسونکی دی، او د هغوی بتان او باطل معبودان نه ګټې رسولی شي او نه ضرر، او دا باطل معبودان يې ورته واسطې وګرځولې چې الله ته يې نږدې کوي، سره لدې ترې الله جل جلاله دا - ايمان - قبول نه کړ، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٦١ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٦٢ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ٦٣﴾ [العنکبوت: 61-63]

(او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکه چا پيدا کړي دي او (چا) لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي؟ دوی به خامخا ضرور ووايي چې الله (پيدا کړي او مسخر کړي دي)، نو څرنګه دوی ګرځولی شي؟. اللهُ الله چې په خپلو بنده ګانو کې چا لره وغواړي؛ رزق پراخوي او په هغه يې تنګوي، بېشکه او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې چا له اسمان نه اوبه نازلې کړې دي، بيا يې په هغو سره ځمکه د هغې له مرګ نه پس ژوندۍ کړې ده؟ (نو) خامخا ضرور به دوی ووايي چې الله (دا کار کړی دی) ته ووايه: ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي بلکې د دوی اکثره عقل نه لري) [العنکبوت سورت: 61-63 آيتونه]،

که څه هم دوی په سختۍ کې له الله څخه مرسته غواړي، او کله چې دوی ته مصيبت راشي نو هغه ته رجوع کوي، خو دا دوی ته هيڅ ګټه نه رسوي. ځکه چې دوی اوس هم په خپل شرک او کفر باندې پاتې دي، رب العالمين فرمايلي:

﴿فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ ٦٥ لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ وَلِيَتَمَتَّعُواْۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٦٦﴾ [العنكبوت: 65-66]

(نو کله چې دوی په کښتۍ کې سواره شي (او يو مصيبت راشي)، نو دوی الله ته اواز کوي( چې ای الله ده مصيبت راڅخه واړوه)، په داسي حال کې چې خاص هغه لره دين خالص کوونکي وي، نوکله چې (الله) دوی ته نجات ورکړي (نو) ناڅاپه دوی (له الله سره) شريکان نيسي. انجام به دا شي چې دوی ناشکري وکړي د هغه نعمتونو چې دوی ته ورکړل شوي او چې دوی فايده واخلي، نو ژر به دوی پوه شي). [العنكبوت سورت: 65، 66 آيتونه].

## )بـــاب الإيمـــان بألـوهـيـة الله (باب د الله - تعالى - د الوهيت په باره کې

او مونږ ايمان لرو چې الله - تعالى - په الوهيت کې يو دی، او دا چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته، او دا چې هم هغه حق دی، او هغه څه چې دوی يې له هغه پرته رابولي باطل دي، او د دې لويې چارې لپاره الله - تعالى کتابونه نازل کړي او پيغمبران يې راليږلي، جنت او دوزخ يې پيدا کړی، فطرت پرې دلالت کوي، او سالم عقلونه پرې ګواهي ورکوي، او په علم اليقين سره پوهيږو چې د پيغمبرانو لخوا خپلو قومونو ته د دعوت بنسټ: د يو الله عبادت ته د هغوی بلنه، او له هغه پرته د نورو د عبادت پرېښودل دي، الله تعالى فرمايلي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ٢٥﴾ [الأنبياء: 25]

(او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول نه دی لېږلی مګر چې هغه ته به مونږ(دا) وحې کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، لهذا تاسو زما عبادت کوئ) [الأنبياء سورت: 25 آيت]

. او الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ ...﴾ [النحل: 36]

(او يقينًا يقينًا مونږ په هر يو امت کې يو رسول لېږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ). [النحل سورت: 36 آيت]

. او سپېڅلي حق ذات فرمايلي:

﴿وَسۡـَٔلۡ مَنۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلۡنَا مِن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ءَالِهَةٗ يُعۡبَدُونَ﴾ [الزخرف: 45]

(او ته زمونږ له هغو رسولانو نه پوښتنه وکړه چې مونږ له تا نه مخکې لیږلي دي، ایا مونږه له رحمن نه غیر نور معبودان مقرر کړي دي چې عبادت یې وشي). [الزخرف سورت: 45 آیت]

، او هر یو نبي خپل قوم ته ویلي: د الله عبادت وکړئ، تاسو ته له هغه پرته بل معبود نشته، له لومړي پیغمبر نوح - علیه السلام - څخه نیولي تر وروستي پیغمبر محمد - صلی الله علیه وسلم - پورې، نو الله تعالی له نوح علیه السلام څخه د خبرولو په موخه وفرمایل:

﴿لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ ...﴾ [الأعراف: 59]

ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه نه پرته(بل) هېڅ برحق معبود نشته. [الأعراف سورت: 59 آیت]،

او د هغوی له وروستي پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - څخه یې د خبر ورکولو په موخه وفرمایل:

﴿قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ مُنذِرٞۖ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ﴾ [ص: 65]

(ته (دوی ته) ووایه: زه خو بس وېرونکی یم، او نشته دی حق معبود غیر له الله نه چې یو او ډېر غلبې والا دی) [ص سورت: 65 آیت]

، او الله پاک فرمایلي:

﴿ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ فَٱعۡبُدُوهُۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ﴾ [الأنعام: 102]

(همدغه الله، ستاسو رب دی، له ده نه غیر هېڅ لایق د عبادت نشته، د هر شي پیدا کوونکی دی، نو تاسو د هغه عبادت کوئ او هغه په هر شي باندې نګران دی) [الأنعام سورت: 102 آیت]

. او دا هغه ستره چاره ده چې له امله یې الله تعالی مخلوقات پیدا کړي دي، الله تعالی فرمایلي: ﴿وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ﴾ [الذاریات: 56]

(او ما پېریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي). [الذاريات سورت : 56 آیت]

او د "يعبدون" معنی ده: يوحدون: یعني ما په یووالي سره مني، بخاري -رحمه- الله د دې آیت د تفسیر پر مهال ویلي: «ما له دوو ډلو څخه د نیمکرغۍ خلک نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې ما په یووالي سره ومني». همداسې په بخاري کې راغلي دي پرته لدې چې نسبت یې وشي (6/ 49)،او ابن حجر په «الفتح» کې ویلي چې دا د فراء وینا ده (8/ 600).) وعن ابن عباس رضي الله عنهما قال: لَمَّا بَعَثَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ إِلَى نَحْوِ أَهْلِ اليَمَنِ قَالَ لَهُ: «إِنَّكَ تَقْدَمُ عَلَى قَوْمٍ مِنْ أَهْلِ الكِتَابِ، فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَى أَنْ يُوَحِّدُوا اللَّهَ تَعَالَى»، او له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روایت دی وايي: کله چې نبي - صلى الله عليه وسلم معاذ بن جبل د يمن د خلکو لور ته ولیږه ورته يې وفرمايل: ته د اهل کتابو يو قوم ته ورتلونکی یې، نو هغوی ته په بلنې ورکولو کې به دې لومړۍ خبره دا وي چې الله تعالی په یووالي سره ومني»، (بخاري (1458) او مسلم (19)) روایت کړی دی. او امام بخاری رحمه الله پدې وینا سره ورته باب ایښودلی

## «باب ما جاء في دعاء النبي صلى الله عليه وسلم أمته إلى توحيد الله تبارك وتعالى». باب دی د پیغمبر - صلى الله عليه وسلم - د بلنې په اړه خپل امت لره د الله تبارک و تعالی یووالي ته».

او ريښتينی عبادت هغه دی چې خاص د الله رب العالمين لپاره وي او د سيد المرسلين د لارښوونو سره سم وي، ځکه لدې پرته د هر معبود عبادت باطل دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ...﴾ [الحج: 62]

(دغه په دې سبب چې بېشکه الله، هم دی حق دی او دا چې بېشکه هغه چې دوی یې له هغه (الله) نه غیر بولي، همغه باطل دی) [الحج سورت: ایت 62]

، او د: «لا إله إلا الله» معنا ده : نشته دی په حقه معبود مګر یو الله دی، ځکه چې مخکنی آیت پر دې باندې دلالت کوي. یوازې په یو الله عقیده لرل او له بل چا پرته یې عبادت کول د : «لا إله إلا الله» مضمون دی، او دا ستره کلمه له الله پرته د بل هر معبود څخه د عبادت نفي کولو او حقیقي ألوهیت د الله پرته له بل هر معبود باطل څخه نفي کولو

باندې مشتمله ده او رېښتيني عبادت يوازې د يو الله لپاره دی او دا کلمه په همدې لفظ سره په قرآن کريم کې ډېره راغلې ده، او په همدې معنا د نفي او اثبات سره ډېر آيتونه راغلي دي لکه څرنګه چې الله - جل جلاله - فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ ...﴾ [النحل: 36]

(او يقينًا يقينًا مونږ په هر يو امت کې يو رسول لېږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ). [النحل سورت: 36 آيت]،

او د الله تعالی دا وينا:

﴿۞ وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ ...﴾ [النساء: 36]

(او تاسو د الله عبادت کوئ او له هغه سره هېڅ شی مه شريکوئ). [النساء سورت: 36 آيت]

. او دا د الله تعالی د دين مضبوط تهداب او پياوړی بنسټ دی – چې هغه يوازې يو الله ته د الوهيت اثبات او له هغه پرته له بل چا څخه د عبادت نفي کول دي – هغه د دين د مېچني ستن او د پېغمبرانو د دعوت بنسټ دی. او معنا يې: د بندګانو عملونه يواځې او يواځې د الله د پاره دي. او نږدې ده چې د قرآن هيڅ سورت داسې ونه مومې چې د دې چارې له يادولو خالي وي يا په اساسي ډول او يا په تاکيدي او پر مخلوقاتو يې په ډېرو دلايلو او بې شمېره شواهدو حجت قائم کړی دی چې احاطه يې ناشوني ده، او د دې موضوع ترټولو ستر ثبوت د هغه پاک ذات ګواهي ده لکه چې فرمايي:

﴿قُلۡ أَيُّ شَيۡءٍ أَكۡبَرُ شَهَٰدَةٗۖ قُلِ ٱللَّهُۖ شَهِيدُۢ بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۚ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَۚ أَئِنَّكُمۡ لَتَشۡهَدُونَ أَنَّ مَعَ ٱللَّهِ ءَالِهَةً أُخۡرَىٰۚ قُل لَّآ أَشۡهَدُۚ قُلۡ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ وَإِنَّنِي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ١٩﴾ [الأنعام: 19]

(ته ووايه: د ګواهی په لحاظ کوم شی تر ټولو لوی دی؟ ته ووايه: الله دی، (هغه) زما په مينځ کې او ستاسو په مينځ کې ګواه دی او ما ته دا قرآن وحې شوی دی، د دې لپاره چې په دې (قرآن) سره زه تاسو ووېروم او هغه څوک چې دا ورته رسي، ايا تاسو په رښتيا (د دې خبرې) ګواهي کوئ چې يقينًا له الله سره نور معبودان (هم) شته؟ ته ووايه: زه (د دې) شاهدي نه کوم، ته ووايه: بېشکه همدا خبره ده چې همغه يو حق معبود دی او بېشکه زه له هغه څه نه بېزاره يم چې تاسو يې شريکوئ). [الأنعام سورت: 19 آيت].

او الله پاک ګواهي ورکړې، او د الله - تعالی - تر ټولو عزتمند مخلوق هم شاهدي ورکړې چې ملاېکې او د علم خاوندان دي، په تر ټولو عزتمند څه یې شاهدي ورکړې چې هغه د الله - تعالی یووالی او هغه په الوهیت سره منل دي، نو الله پاک فرمایلي:

﴿شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ قَآئِمَۢا بِٱلۡقِسۡطِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١٨﴾ [آل عمران: 18]

(الله ګواهي ورکړې ده د دې خبرې چې یقینًا نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی او ملایکو او د علم خاوندانو، (هم) په داسې حال کې چې دی په انصاف سره قایم دی، نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی چې ډېر غالب، ښه حکمت والا دی). [آل عمران سورت: 18 آیت]،

نو ملاېکو او د علم خاوندانو په هغه څه شاهدي ورکړه چې الله - تعالی پرې د خپل ځان لپاره شاهدي ورکړې ده:

﴿... وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ٧٩﴾ [النساء: 79]

[او کافي دی الله (د) ګواه (په حیث)]. [النساء سورت: 79 آیت].

هغه په خپل مخلوق استدلال وکړ چې هغه پاک ذات پدې کائناتو کې د هر څه پیدا کوونکی دی، بلکې هره کائناتي نښانه یې پدې ګواه ګرځولې چې هغه د الوهیت او عبادت مستحق دی؛ له همدې امله په قرآنکریم کې د دې موضوع په اړه په مکرر ډول له دوی څخه پوښتنې کیږي او د دوی اعتراف چې هم هغه خالق ، روزي ورکوونکی ، ژوندی کوونکی او مړ کوونکی دی او بیا پرې انکار کوي چې دوی د هغه عبادت نه کوي او یا له هغه سره د نورو عبادت کوي. الله تعالی فرمایلي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٦١ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٦٢ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ٦٣﴾ [العنکبوت: 61-63]

او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې آسمانونه او ځمکه چا پیدا کړي دي او (چا) لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي؟ دوی به خامخا ضرور ووایي چې الله (پیدا کړي او مسخر کړي دي)، نو څرنګه دوی ګرځولی شي؟ (الله چې په خپلو بنده ګانو کې چا لره وغواړي؛ رزق پراخوي او په هغه یې تنګوي، بېشکه الله په هر شي ښه عالم دی. او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې چا له اسمان نه اوبه نازلې کړې دي، بیا یې په هغو سره ځمکه د هغې له مرګ نه پس ژوندۍ کړې ده؟ (نو) خامخا ضرور به دوی ووایي چې الله (دا کار کړی دی) ته ووایه: ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي بلکې د دوی اکثره عقل نه لري) [العنکبوت سورت: 61 - 63 آیتونه]،

او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ ٩ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا وَجَعَلَ لَكُمۡ فِيهَا سُبُلٗا لَّعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٠ وَٱلَّذِي نَزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءَۢ بِقَدَرٖ فَأَنشَرۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗاۚ كَذَٰلِكَ تُخۡرَجُونَ ١١ وَٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَزۡوَٰجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡفُلۡكِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ مَا تَرۡكَبُونَ ١٢﴾ [الزخرف: 9-12]

(او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکه چا پیدا کړي دي (، نو) دوی به خامخا لازمًا ووایي چې دغه ډېر غالب، ډېر پوه ذات پیدا کړي دیهغه چې ستاسو لپاره یې ځمکه فرش ګرځولې ده او ستاسو لپاره یې په دې کې لارې پیدا کړې دي، د دې لپاره چې نېغه لار ومومئ. او هغه ذات چې له بره نه یې اوبه په اندازې سره نازلې کړې دي، پس په دغو سره مونږ مړ ښار راژوندی کړی دی، همداسې به تاسو راوېستلی شئ. واو هغه ذات چې ټول قسمونه (انواع) یې پیدا کړي دي او ستاسو لپاره یې له بېړیو او څارویو نه هغه پیدا کړي دي چې تاسو پرې سورېږئ). [الزخرف سورت: 9-12 آیتونه]

. او په خپلو بندګانو یې پر دې حجت قائم کړی چې په خپلو نعمتونو یې پرې اقرار کړی، هغه څه چې پر دوی د نعمت پیدا کوونکي او لوروونکي عبادت فرض کوي، نو الله پاک فرمایلي دي: ﴿قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أَمَّن يَمۡلِكُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَمَن يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُۚ فَقُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ٣١ فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلۡحَقُّۖ فَمَاذَا بَعۡدَ ٱلۡحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ ٣٢﴾ [یونس: 31-32]

(ته ووایه: تاسو ته له آسمان او ځمکې نه روزي څوك درکوي؟ یا د غوږونو او سترګو مالك څوك دی اوڅوك ژوندی له مړي راوباسي او مړی له ژوندي راوباسي او څوك د کارونو تدبیر کوي؟ نو یقینًا دوی به وایي چې الله دی، (نو ته ووایه:) آیا نو تاسو نه وېرېږئ)! (نو دغه الله ستاسو په حقه رب دی، نو له حق نه بعد نشته مګر ګمراهي، نو تاسو کوم طرف ته ګرځولی شئ). [یونس سوت: 31، 32 آیتونه].

او ډېری وختونه الله تعالی په قرآن کریم کې په خپلو بنده ګانو د خپل ربوبیت په آیتونو استدلال کوي، له کومو څخه چې د هغه پاک ذات عبادت لازمېږي، او دا چې د دې کائناتي لویو نښانو پیدا کوونکی یوازی هم هغه پاک الله دی او لکه څرنګه چې له هغه سره بل خالق نشته، نو نه ښایي چې د بل چا عبادت دې ورسره وکړای شی، لدې امله یې دا آیتونه په خپلې دې وینا سره پای ته ورسول: {أَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ} یعني آیا د الله سره بل معبود شته چې دا کارونه وکړي، چې هغه د الله تعالی دا وینا ده،

﴿أَمَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَنۢبَتْنَا بِهِۦ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ مَّا كَانَ لَكُمْ أَن تُنۢبِتُوا۟ شَجَرَهَآ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ ﴿٦٠﴾ أَمَّن جَعَلَ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنْهَٰرًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِىَ وَجَعَلَ بَيْنَ ٱلْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾ أَمَّن يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ ٱلْأَرْضِ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾ أَمَّن يَهْدِيكُمْ فِى ظُلُمَٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَمَن يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦٓ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ تَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٣﴾﴾ [النمل: 60-63]

(بلکې هغه ذات (بهتر دی) چې آسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي دي او ستاسو لپاره یې له بره نه اوبه نازلې کړې دي، نو هم مونږ په هغو سره د رونق (او ښایست) والا باغونه زرغون کړل، ستاسو لپاره دا طاقت نشته چې تاسو د هغو (باغونو) ونې زرغونې کړئ، آیا له الله سره بل معبود شته؟ بلکې دوی یو داسې قوم دی چې (له الله سره د نورو) برابري کوي. بلکې هغه ذات (غوره دی) چې ځمکه یې د قرار (او ارام) ځای جوړه کړې ده او د هغې په مینځ کې یې نهرونه جوړ کړي دي او د دې لپاره یې پاخه لوړ غرونه پیدا کړي دي، او د دوو سمندرونو په مینځ کې یې پرده پیدا کړې ده، ایا له الله سره بل معبود شته؟ بلکې د دوی اکثره نه پوهېږي. بلکې هغه ذات (غوره دی) چې د مجبور ( او عاجز) سوال قبلوي، کله چې دغه (الله) وبلي او هغه تکلیف (او سختي) لرې کوي او تاسو د ځمکې خلیفه ګان جوړوي، ایا له الله سره بل معبود شته؟ تاسو ډېر لږ شانته نصیحت قبلوئ * بلکې هغه ذات (غوره دی) چې تاسو ته د وچې او سمندر په تیارو کې لاره ښیي او هغه ذات چې له خپل رحمت نه مخکې هواګانې لیږي، چې زېری ورکوونکې وي،

آیا له الله سره بل معبود شته؟ الله ډېر اوچت دی له هغو شیانو نه چې دوی یې (له الله سره) شریکوي. [النمل سورت: 60-63 آ◉تونه]

. او کله یې چې په سورة الروم کې د لویو مخلوقاتو څخه یادونه وکړه چې د هغه په ربوبیت دلالت کوي او له هغه څخه یې الوهیت لازمیږي، او هغه د الله پاک دا وینا ده: وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَا أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُون * (او یوه د هغه له نښو څخه دا ده چې تاسو یې له خاورې پیدا کړئ، بیا ناڅاپه تاسو بشر وئ چې خورېدلئ.

﴿وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ (٢٠) وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَ لَكُم
مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا لِّتَسْكُنُوٓا۟ إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ لِّقَوْمٍ
يَتَفَكَّرُونَ (٢١) وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَـٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ
لَـَٔايَـٰتٍ لِّلْعَـٰلِمِينَ (٢٢) وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱبْتِغَآؤُكُم مِّن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ
لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ (٢٣) وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦ يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَيُحْىِۦ بِهِ ٱلْأَرْضَ
بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (٢٤) وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ بِأَمْرِهِۦ ۚ ثُمَّ إِذَا
دَعَاكُمْ دَعْوَةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ إِذَآ أَنتُمْ تَخْرُجُونَ (٢٥) وَلَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُۥ قَـٰنِتُونَ (٢٦) وَهُوَ
ٱلَّذِى يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ۚ وَلَهُ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ
ٱلْحَكِيمُ (٢٧) ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا مِّنْ أَنفُسِكُمْ ۖ هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُكُم مِّن شُرَكَآءَ فِى مَا
رَزَقْنَـٰكُمْ فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَآءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْـَٔايَـٰتِ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (٢٨)
بَلِ ٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَهْوَآءَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ فَمَن يَهْدِى مَنْ أَضَلَّ ٱللَّهُ ۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّـٰصِرِينَ (٢٩)﴾
[الروم: 20-29]

او د هغه له نښو څخه دا دي چې ستاسو لپاره یې ستاسو له نفسونو څخه جوړې پیدا کړې، د دې لپاره چې تاسو هغو ته (په مایله کېدو سره) سکون حاصل کړئ او هغه ستاسو په مینځ کې مینه او مهرباني پیدا کړه، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې ښه فکر کوي. او د هغه له نښو څخه د آسمانونو او ځمکې پیدا کول دي او ستاسو د ژبو او ستاسو د رنګونو

اختلاف (بېل والی) دی، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د عالمانو (پوهانو) لپاره. او د هغه له نښو نه ستاسو خوب دی، په شپه او ورځ کې او ستاسو لټول دي د هغه له فضله، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې اوري. او د هغه له نښو څنې (دا) دي چې هغه تاسو ته برېښنا د وېرې او طمعې لپاره ښيي او له بره نه اوبه نازلوي، بیا په دغو (اوبو) سره ځمکه راژوندی کوي، د هغې له مرګ نه وروسته، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې له عقل نه کار اخلي. او د هغه له نښو څخه (دا) دي چې اسمان او ځمکه د هغه په حکم سره ولاړ دي، بیا چې کله هغه تاسو راوبلي، یوځل بلل، له ځمکې نه، (نو) ناڅاپه به تاسو (ژوندي) راوځئ. او خاص د هغه لپاره دي هغه څوك چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، (دغه) ټول د همده اطاعت کوونکي دي* او دی همغه ذات دی چې مخلوق اول ځلي پیدا کوي، بیا به دغه دوباره راژوندي کوي او دغه (بیا راژوندي کول) هغه (الله) ته ډېر اسان دي او خاص هغه لره تر ټولو لوړ شان (او صفت) دی په اسمانونو اوځمکه کې او هغه ښه غالب، ښه حکمت والا دی. هغه (الله) تاسو ته ستاسو له ځانونو نه یو مثال بیانوي (هغه دا چې) آیا تاسو لپاره ستاسو له مریانو څخه په هغه (مال) کې چې مونږ تاسو ته درکړی دی، څوك شریکان شته؟ نو چې تاسو (ټول) په هغه (مال) کې سره برابر یئ چې تاسو له دوی نه داسې وېرېږئ لکه ستاسو وېره کول له خپلو ځانونو (ازادو شریکانو) نه، همداسې مونږ آیتونه په تفصیل سره بیانوو، د هغه قوم لپاره چې له عقل نه کار اخلي. } بلکې هغو کسانو چې ظلم یې کړی دی، بې له علمه د خپلو خواهشاتو پیروي وکړه، نو هغه چا ته به څوك هدایت وکړي چې الله ګمراه کړی دی او د دوی لپاره هېڅ مدد کوونکي نشته) [الروم سورت: 20-29 آیتونه].

- الله تعالی - لدې آیتونو څخه هر یو په {وَمِنْ آيَاتِهِ} سره پرانست چې معنا یې ده: له هغو کائناتي دلیلونو څخه چې د هغه په ربوبیت دلالت کوي او الوهیت یې ترې لازمیږي؛ هغه آیتونه دي چې یاد یې کړل، بیا یې ورپسې د دې متل په یادولو سره تعقیب کړ چې الله تعالی د هغه چا په اړه وړاندې کړی دی چې د هغه له مخلوقاتو څخه یې کوم شی له هغه سره برابر ګڼلی فرمايي: "آیا ستاسو څخه یو څوک خپل غلام د ځان سره په خپله او د خپلې ښځې په بستره کې یو ځای کولی شي؟ په همدې ډول الله تعالی هم دی، نه خوښوي چې له مخلوقاتو څخه دې څوک ورسره برابر وګڼل شي» (دا خبره) قتاده کړې. (تفسیر الطبري (95/20). بیا یې پدې سره پای ته ورسول چې سالم فطرت یوازې د هغه پاک ذات د عبادت تقاضا کوي، لدې امله یې فرمايلي دي: ﴿فَأَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗاۚ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ٣٠﴾ [الروم: 30]

[(تاسو لازم ونیسئ) د الله هغه فطرت لره چې په هغه یې خلق پیدا کړي دي، د الله تخلیق لره هېڅ بدلون نشته همدغه سم (نبغ) دین دی، او لېکن د خلقو اکثریت نه پوهېږي]. [الروم سورت: 30 آیت].

او الله -جل جلاله- په خپل وحدانیت شاهدي ورکوونکي دلیلونه په بېلابېل ډول وړاندې کړل،تر څو پرې حجت قائم کړي، او لاره پرې روښانه کړي؛ تر څو د خلکو لپاره په الله تعالی کوم دلیل پاتې نه شي، او لکه څرنګه چې الله - تعالی - په پریکنده او روښانه دلایلو سره په خلکو حجت قائم کړ، او حیرانوونکي دلیلونه یې په خپل وحدانیت باندې وړاندې کړل، مثالونه یې هم پیش کړل، او حق یې بیان کړ، الله تعالی جل جلاله فرمايلي:

﴿وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلَيۡنِ أَحَدُهُمَآ أَبۡكَمُ لَا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوۡلَىٰهُ أَيۡنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأۡتِ بِخَيۡرٍ هَلۡ يَسۡتَوِي هُوَ وَمَن يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَهُوَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٧٦﴾ [النحل: 76]

(او الله یو مثال بیانوي چې دوه سړي دي، په دواړو کې یو ګونګی دی، پر هېڅ شي قدرت نه لري، په داسې حال کې چې هغه په خپل بادار باندې بار (بوج) دی، چې چېرته یې هم ولېږي هېڅ خیر نه راوړي، آیا برابرېږي دغه کس او هغه څوك چې په انصاف سره حکم کوي او هغه په نېغې لارې باندې قایم دی) [النحل سورت: 76 آيت]

، ابن جریر د دې آیت د تفسیر پر مهال فرمایلي: او دا مثال الله - تعالی - د خپل نفس او هغه معبودانو په اړه وړاندې کړی دی چې له هغه پرته یې عبادت کیږي: {او الله یو مثال بیانوي چې دوه سړي دي، په دواړو کې یو ګونګی دی، پر هېڅ شي قدرت نه لري} او موخه یې ورڅخه دلته هغه بت دی چې هیڅ نه اوري او نه خبرې کولای شي؛ ځکه چې هغه خو یا له توږل شوي لرګي څخه جوړ شوی، او یا له جوړې شوې وسپنې څخه، او هغه چاته چې خدمت یې کوي د ګټې رسولو توان نه لري، او نه ورڅخه ضرر لرې کولی شي، او هغه په خپل خاوند باندې بوج دی، فرمایي: نو - هغه معیوب سړی - د تره زامنو او نورو خپلوانو او هغه څوک یې چې سرپرستي کوي محتاج دی؛ ځکه اړتیا لري چې څوک یې واخلي، یا یې یو ځای کې کینوي او خدمت یې وکړي، لکه د ګونګي په څېر چې هیڅ نه شي کولای نو هغه یې په سرپرستانو؛ د تره زامنو او نورو په اوږو بار دی چېرته یې چې ولېږي هېڅ خیر نه راوړي، فرمایي: هر چیرته یې چې مخ کړې خیر نه راوړي؛ ځکه هغه نه پوهیږي چې څه ورته ویل کیږي، او څه چې غواړي نه شي کولای نورو ته یې ووایي: نو نه خپله پوهیږي او نه څوک پوهولی شي، همدا رنګه بت هم دی، څه چې ورته ویل کیږي درک کولای یې نه شي، نو د هغه د کارونو لپاره په یو بل چا امر کیږي چې ورته یې تر سره کړي، ځکه خبرې نه شي کولای چې امر او نهي وکړي، الله تعالی فرمایلي: وايه آیا هغه؛ او هغه څوک سره برابر دي چې په عدالت امر کوي یعنې آیا دغه ګونګی او د خپل خاوند د اوږو بار چې هرې خوا ولیږل شي او هیڅ ښېګڼه نه راوړي او هغه څوک چې ناطق دی او خبرې کوي، په حق امر کوي، بلنه ورته

کوي، او هغه الله قهار ذات دی، هغه ذات چې خپلو بنده ګانو ته د توحید او د هغه د پیروۍ بلنه ورکوي ؟ فرمایی: برابر ندی هغه متعال ذات د هغه بت سره چې صفت یې بیان شو. (تفسیر الطبري (262/17). او الله -تعالی- د باطل معبود او حق معبود لپاره مثال وړاندې کړی دی، لکه څرنګه چې مجاهد فرمایلي دي: (تفسیر الطبري (285/21). حق ذات سبحانه وتعالی فرمایلي دي: ﴿ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلۡ يَسۡتَوِيَانِ مَثَلًاۚ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ﴿٢٩﴾﴾ [الزمر: 29]

(الله یو مثال بیانوي، یو (غلام) سړی دی، په ده کې بد خویه په خپل مینځ کې ناسازه کسان شریکان دي او بل (غلام) سړی دی چې سالم (او پوره) د یو سړي دی، ایا دغه دواړه په حال کې سره برابر دي؟ ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي بلکې د دوی اکثره نه پوهیږي) [الزمر سورت: 29 ایت]

. او دا کار- یعنې الله تعالی ته په یووالي اقرار او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په پیغمبرۍ ګواهي - هغه څه دي چې الله تعالی د وینو او نفسونو د ساتلو لپاره حد ټاکلی دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ وَخُذُوهُمۡ وَٱحۡصُرُوهُمۡ وَٱقۡعُدُواْ لَهُمۡ كُلَّ مَرۡصَدٖۚ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ﴿٥﴾﴾ [التوبة: 5]

(نو کله چې حرامي (د عزت) میاشتې تېرې شي، بیا نو تاسو دغه مشرکان وژنئ چېرته چې تاسو هغوی وموموئ او دوی نیسئ او د دوی محاصَره کوئ او د دوی لپاره په هر کمین ځای کې کېنئ، نو که دوی توبه وباسي او لمونځ قایم کړي او زکات ادا کړي، بیا نو تاسو د دوی لاره خوشې کړئ). [التوبة سورت: 5 آیت]

، او الله پاک فرمایلي دي:

﴿فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِۗ ...﴾ [التوبة: 11]

(نو که دوی توبه وباسي او لمونځ قایم کړي او زکات ادا کړي، نو بیا ستاسو ورونه دي په دین کې). [التوبة سورت: 11 آیت]

، او له ابن عمر - رضي الله عنهما - څخه روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ، فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الإِسْلَامِ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ». «ماته امر شوی چې خلکو سره تر هغه وجنګېږم تر څو د دې خبرې ګواهي ورکړي چې له الله پرته بل بر حق معبود نشته او پر دې چې محمد د الله رسول دی، لمونځ قايم کړي، زکات ورکړي، کله يې چې - دا کارونه - وکړل نو زما څخه يې وينې او مالونه په امن کې شول مګر د اسلام لپاره، او حساب يې پر الله تعالى دی». (بخاري (1399، 7284)، مسلم (20)، ابوداود (1556)، ترمذي (2607) او نسائي (2443) روايت کړی دی. او د دې ايمان لپاره بسنه نه کوي چې يوازې په زړه کې وي، بلکه خامخا پرې بايد ژبه تلفظ وکړي، لدې امله پيغمبر - صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ». «ماته امر شوی چې خلکو سره تر هغه وجنګېږم تر څو د دې خبرې ګواهي ورکړي چې له الله پرته بل بر حق معبود نشته». (بخاري (25) او مسلم (22) روايت کړی دی. او تر هغه پورې ايمان رېښتيا کيدلی نه شي تر څو چې اندامونه پرې عمل ونه کړي، حق ذات فرمايلي او د هغه وينا حق ده:

﴿إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَإِذَا تُلِيَتۡ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ۝٢ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ۝٣ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَمَغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ۝٤﴾ [الأنفال: 2-4]

(بېشکه خبره همدا ده چې مومنان هغه خلک دي، چې کله الله ياد کړی شي، نو د دوی زړونه وبرېږي او کله چې دوی ته د هغه (الله) آيتونه تلاوت کړی شي (، نو) دغه (آيتونه) دوی ته ايمان ورزيات کړي او خاص په خپل رب باندې دوی توکل کوي. هغه کسان چې لمونځ قايموي او له هغه (مال) نه چې مونږ دوی ته ورکړی دی، څه حصه خرچ کوي. همدغه خلق په حقه مومنان دي) [الأنفال سورت: 2-4 آيتونه]

، او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿۞لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ وَءَاتَى ٱلۡمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱبۡنَ

ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَـٰهَدُواْۖ وَٱلصَّـٰبِرِينَ فِي ٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلْبَأْسِۗ أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْۖ وَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ۝١٧٧﴾ [البقرة: 177]

(نېکي دا نه ده چې خپل مخونه د مشرق او مغرب په طرف وګرځوئ، او لېکن نېکي (د هغه چا) ده چې پر الله او پر ورځ د اخرت او پر ملايکو او پر کتابونو او پر نبيانو يې ايمان راوړی دی او د هغه په مينه (کې) خپلوانو او يتيمانو او مسکينانو او مسافرو او سوالګرو ته مال ورکوي او په (ازادولو د) څټونو کې (يې لګوي) او لمونځ قايموي او زکات ورکوي او د خپلو وعدو پوره کوونکي وي کله چې وعده وکړي، (خصوصًا) په سختئ او تکليف کې او د جنګ په وخت کې صبر کوونکي دي، دا هغه خلق دي چې رښتيني دي او همدغه خلق متقيان دي) [البقرة سورت: 177 آيت]

. او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ، وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ»، «چا چې له تاسو څخه ناروا کړنه وليده نو په لاس سره دې منع کړي، که چيرته يې نشو کولای نو په ژبې سره او که چېرته يې نشو کولای نو په زړه سره او دا تر ټولو کمزوری ايمان دی»، (مسلم (49)، ابو داود (1140)، ترمذي (2172)، نسائي (5008) او ابن ماجه (1275) روايت کړی دی. نو دا حديث پر دې دلالت کوي چې ايمان په زړه کې تفاوت لري. او په الله - تعالی - باندې د ايمان لرلو سره په طاغوت کافريدل حتمي - خبره - ده، الله تعالی فرمايلي (نو چا چې له طاغوت (شيطان، بت) نه انکار وکړ او په الله يې ايمان راوړ، نو يقينا ده ډېره مضبوطه کړۍ ټينګه ونيوله، چې هغې لره هېڅ پرېکېدل نشته، او الله اوريدونکی او پوه دی)

او له شرک او مشرکانو څخه بيزاري، نو تر هغه موحد نه شي جوړيدلای تر څو چې له شرک او مشرکانو څخه بې زاره نه شي، الله - جل جلاله - فرمايلي: (او (ياد کړه) هغه وخت چې ابراهيم خپل پلار او خپل قوم ته وويل: بېشکه زه له هغو (معبودانو) نه بېزاره يم چې تاسو يې عبادت کوئ) او پدې ايمان کې بنده بايد الله رب العالمين ته مخلص وي، الله - تعالى - فرمايلي دي: (هم دی (تل) ژوندی دی، نشته هېڅ حق معبود مګر هم دی دی، نو تاسو دا بلئ، په داسې حال کې چې هم ده لره د دين خالص کوونکي يئ، ټول د کمال صفتونه خاص د الله رب العالمين لپاره دياو الله پاک فرمايلي (حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دين (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي (او) حنيفان (له باطله حق ته راګرځېدونکي) وي). [البينة سورت: 5 آيت]، وعن أبي هريرة رضي الله عنه أَنَّهُ قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِكَ يَوْمَ القِيَـامَةِ؟ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه

وسلم: «لَقَدْ ظَنَنْتُ -يَا أَبَا هُرَيْرَةَ- أَلَّا يَسْأَلُنِي عَنْ هَذَا الحَدِيثِ أَحَدٌ أَوَّلُ مِنْكَ؛ لِمَا رَأَيْتُ مِنْ حِرْصِكَ عَلَى الحَدِيثِ، أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِي يَوْمَ القِيَامَةِ، مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ، أَوْ نَفْسِهِ». او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دى وايي: وويل شول چې: اى د الله رسوله! د قيامت په ورځ ستا په شفاعت نيکمرغه انسان څوک دى ؟ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وفرمايل: « اى ابو هريرة ! يقينا ما فکر کړى و چې ستا څخه پرته به هيڅوک راڅخه د دې حديث په اړه لومړى پوښتنه نه کوي، په احاديثو د زيات حرص له امله چې په تا کې مې ليدلى دى، نو زما په شفاعت نيمکرغه خلک به د قيامت په ورځ هغه څوک وي چې د نفس او زړه له اخلاصه يې ( لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ) ويلي وي». (بخاري (99، 6570) روايت کړى دى). او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «فَإِنَّ اللَّهَ قَدْ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، يَبْتَغِي بِذَلِكَ وَجْهَ اللَّهِ». «يقينا الله - تعالى - په اور باندې هغه څوک حرام کړي دي چې: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، يې ويلي وي او پدې سره د الله مخ غواړي». (بخاري (۴۲۵)، مسلم (۳۳)، نسائي (۷۸۸) او ابن ماجه (۷۵۴) روايت کړى دى). او دا چې يقيني وي نه شکمن، سپيڅلي حق ذات فرمايلي: {إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ (بېشکه مومنان خو هغه کسان دي چې په الله او د هغه په رسول يې ايمان راوړى، بيا يې شك نه دى کړىاو الله تعالى د هغه کافر په اړه خبر ورکوي چې باغ يې درلوده چې هغه ويلي دي: (او زه ګمان نه کوم چې قيامت قايمېدونکى دى او قسم دى که (بالفرض) زه خپل رب ته بوتلى شوم، نو خامخا هرومرو به زه له دې (باغ) نه غوره د بېرته ورتلو ځاى وموممم).. او دا چې ايمان يې له پوهې څخه وي، نو د ايمان په حقيقت او غوښتنو پوهيږي او هغه څه يې چې ضد دي، الله تعالى فرمايلي (نو ته پوهه شه چې بېشکه شان دا دى چې د عبادت هېڅ لايق نشته مګر الله دى).. او بايد د علم او اخلاص سره هغه څه ومني چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې راتګ کړى او هغه څه چې ايمان يې په ضمن کې لري، او د {لاَ إِلَهَ إلاَّ اللَّهُ} کلمې پرې دلالت کړى وي چې هغه يوازې د يو الله عبادت او له هغه پرته د نورو د عبادت پرېښودل دي نو چا چې - دا کلمه - وويله: او يوازې د يو الله عبادت يې ونه مانه، نو له هغه چا څخه به وي چې الله تعالى يې په اړه فرمايلي: يَسْتَكْبِرُون* (بېشکه دوى (داسې) وو چې کله به دوى ته وويل شول چې له الله نه غير هېڅ لايق د عبادت نشته (،نو) دوى به تکبر کاوه. وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوا آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُون} او دوى وايي چې آيا يقينًا مونږ به رښتيا سره د يو لېوني شاعر له وجې نه خپل معبودان (باطله) پرېښودونکي يو) او دا چې غاړه کيږدي او پيروي وکړي، الله تعالى فرمايلي: ﴿۞ وَمَن يُسۡلِمۡ وَجۡهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰۗ وَإِلَى ٱللَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ﴿٢٢﴾﴾ [لقمان: 22]

(او هغه څوك چې خپل مخ الله ته وسپاري، په داسې حال کې چې نېکي کوونکی وي، نو يقيناً ده په ډېرې مضبوطې کړۍ باندې منګولې ښخې کړي دي). [لقمان سورت: 22 آیت]

. او دا چې په وينا، کړنه او عقيده کې ريښتونی وي، تر څو هغه څه تر لاسه کړي چې نبي کريم - صلى الله عليه وسلم - پرې په خپلې دې وينا سره خبر ورکړی: «مَا مِنْ أَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، صِدْقًا مِنْ قَلْبِهِ، إِلَّا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ». «هيڅ يو مسلمان نشته چې د (أشهد أن لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ ) ګواهي د زړه له اخلاصه ورکړي مګر دا چې الله تعالى به يې په اور باندې حرام کړي». (بخاري (128) او مسلم (32) روايت کړی دی. او دا چې د دې دين سره مينه او محبت ولري، او هغه چا چې قانوني کړی دی، او هغه چا چې پرې راتګ کړی، او هغه چا چې د دين په حيث منلی، الله تعالى فرمايلي:

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ ٱللَّهِۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِۗ ...﴾ [البقرة: 165]

(او په خلقو کې ځينې هغه څوک دي چې له الله نه غير شريکان نيسي، له هغوی سره مينه کوي له الله سره د مينې په شان، او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی؛ له الله سره په مينه کې ډېر سخت (او کلک) دي). [البقرة سورت: 165 آیت]

، او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَلَدِهِ وَوَالِدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ». "په تاسو کې هيڅوک تر هغه وخته مؤمن نشي کېدلی تر څو چې زه ورته د هغه له پلار، زوی او ټولو خلکو څخه ګران نه شم". بخاري (15)، مسلم (44)، نسائي (5013) او ابن ماجه (67) روايت کړی دی. او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلَاوَةَ الإِيمَانِ: أَنْ يَكُونَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا، وَأَنْ يُحِبَّ المرءَ لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ، وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ». «دري - خويونه - دي چې په چا کې وي نو د ايمان خواږه به ومومي: چې الله او رسول يې ورته له هر څه زيات محبوب وي، او دا چې څوک خوښ ګڼي نو خوښ دې نه ګڼي مګر د الله لپاره، او کفر ته بيرته ورګرځيدل ورته داسې بد ښکاري لکه څرنګه چې خوښ نه ګڼي چې په اور کې دې واچول شي». بخاري (16)، مسلم (43)، ترمذي (2624)،نسائي (4987) او ابن ماجه (4033) روايت کړی دی. او لکه څرنګه چې الله -تعالى- د ايمان حقيقت، د هغه غوښتنې، او شرطونه بيان کړل، نو پدې سره يې د ضدي مشرکانو شکونه او شبهې له منځه وړي دي او دا - خبره - يې ښکاره کړې ده چې دوی په خپل شرک باندې هيڅ دليل نه لري؛ ځکه دا معبودان باطله

مخلوق دي، بل څوک يې چارې سموي او هيڅ شی نه شي پيدا کولی او دوی په آسمانونو او ځمکه کې د مثقال د يوې ذرې په اندازه هم د څه شي واک نه لري، الله تعالی فرمايلي:

﴿أَيُشۡرِكُونَ مَا لَا يَخۡلُقُ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ ١٩١ وَلَا يَسۡتَطِيعُونَ لَهُمۡ نَصۡرٗا وَلَآ أَنفُسَهُمۡ يَنصُرُونَ ١٩٢
وَإِن تَدۡعُوهُمۡ إِلَى ٱلۡهُدَىٰ لَا يَتَّبِعُوكُمۡۚ سَوَآءٌ عَلَيۡكُمۡ أَدَعَوۡتُمُوهُمۡ أَمۡ أَنتُمۡ صَٰمِتُونَ ١٩٣ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ
مِن دُونِ ٱللَّهِ عِبَادٌ أَمۡثَالُكُمۡۖ فَٱدۡعُوهُمۡ فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٩٤ أَلَهُمۡ أَرۡجُلٞ يَمۡشُونَ
بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ أَيۡدٖ يَبۡطِشُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ أَعۡيُنٞ يُبۡصِرُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ ءَاذَانٞ يَسۡمَعُونَ بِهَاۗ قُلِ ٱدۡعُواْ شُرَكَآءَكُمۡ
ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ١٩٥ إِنَّ وَلِـِّۧيَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّٰلِحِينَ ١٩٦ وَٱلَّذِينَ
تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَكُمۡ وَلَآ أَنفُسَهُمۡ يَنصُرُونَ ١٩٧ وَإِن تَدۡعُوهُمۡ إِلَى ٱلۡهُدَىٰ لَا
يَسۡمَعُواْۖ وَتَرَىٰهُمۡ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ وَهُمۡ لَا يُبۡصِرُونَ ١٩٨﴾ [الأعراف: 191-198]

(آيا دوی (له الله سره) هغه شيان شريکوي چې هېڅ شی نشي پيدا کولی، حال دا چې دوی پخپله پيدا کول کيږي). او نه له دوی سره د څه مدد کولو طاقت لري او نه هم له خپلو ځانونو سره مدد کولی شي. وَإِاو که چېرې تهٔ دوی هدايت ته راوبلې، دوی به ستاسو پيروي ونه کړي، ستاسو لپاره يو شان ده که تاسو دوی راوبلئ، يا تاسو خاموشه واوسئ. بېشکه هغه خلق چې تاسو يې له الله نه غير بلئ، (هغوی) ستاسو په شان بنده ګان دي، نو هغوی راوبلئ، پس هغوی دې ستاسو بلنه قبوله کړي، که چېرې تاسو رښتيني يئ. آيا د هغوی لپاره پښې دي چې په هغو سره تلل کوي، يا د هغوی لپاره لاسونه دي چې په هغو سره نيول کوي، يا د هغوی لپاره سترګې دي چې په هغو سره ليدل کوي، يا د هغوی لپاره غوږونه دي چې په هغو سره اورېدل کوي؟ ته ووايه: تاسو خپل شريکان راوبلئ، بيا زما په خلاف څه چل (او تدبير) وکړئ، بيا ما ته (هېڅ) مهلت مه راکوئ. بېشکه زما مددګار هغه الله دی چې کتاب يې نازل کړی دی او هغه د نېکانو مدد او ملګرتيا کوي. او هغه خلک چې تاسو يې له الله نه غير بلئ، دوی ستاسو د مدد کولو هيڅ وَس نه لري او نه له خپلو ځانونو سره مدد کولی شي. او که چېرې ته دوی هدايت ته راوبلې (، نو) دوی (ستا بلنه) نه اوري (نه يې قبلوي) او ته به دوی وينې چې (ګويا کې) تا ته ګوري، په داسې حال کې چې دوی ليدل نه کوي) [الأعراف سورت: 191-198 آيتونه]،

او الله تعالی فرمايلي:

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ ۝٢٢ وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥۚ ...﴾ [سبأ: 22-23]

ته (دې مشرکانو ته) ووايه: تاسو هغه معبودان وبولئ چې تاسو هغه له الله تعالی نه غیر معبودان ګڼلي دي، دوی د یوې ذرې اندازه واک نه لري په اسمانونو کې او نه په ځمکه کې او د دوی لپاره په دغو دواړو کې هېڅ برخه (شرکت) نشته، او نشته دغه الله تعالی ته له دوی نه هېڅ مرستندوی. او د هغه (الله) په نیز شفاعت نفع نه رسوي مګر د هغه چا لپاره چې هغه (الله) د هغه لپاره اجازت ورکړي) [سبأ سورت: 22، 23 آیتونه]

، او دې آیت د شرک ټولې اړیکي پرې کړې. او حق ذات دا - خبره - ښکاره کوي چې دا (د الله سره برابر ګڼل شوي) معبودان؛ چې له الله پرته یې عبادت کیږي، د هغه چا بلنه نه اوري چې څوک یې رابلي، او که یې واوري نو ځواب نه ورکوي او د قیامت په ورځ به هغوی د دوی له شرک څخه منکر وي، او ترې به بېزاره وي، حق ذات د لوی سلطنت خاوند فرمایلي:

﴿إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ ۝١٤﴾ [فاطر: 14]

که تاسو دوی وبولئ، دوی ستاسو بلنه نه اوري او که چېرې وایې وري، نو دوی ستاسو بلنه قبلولی نه شي او د قیامت په ورځ به دوی ستاسو په شریک جوړولو منکر شي او تا ته (بل څوک) خبر نشي درکولی د ښه خبرداره (الله) په شان). [فاطر سورت: 14 آیت]

. لکه څرنګه چې حق ذات بیانوي چې دا باطل معبودان چې له الله پرته یې عبادت کیږي، نه ګټه رسولی شي او نه تاوان، نو له الله پرته څنګه د دوی عبادت کیدلی شي؟!. الله تعالی فرمایلي: ﴿وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗ لَّا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ وَلَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا وَلَا يَمۡلِكُونَ مَوۡتٗا وَلَا حَيَوٰةٗ وَلَا نُشُورٗا ۝٣﴾ [الفرقان: 3]

(او دوی (کفارو) له هغه نه غیر نور داسې معبودان نیولي دي چې هېڅ شی نشي پیدا کولی، په داسې حال کې چې دوی پیدا کیدلی شي او دوی د خپلو ځانونو لپاره نه د ضرر مالکان دي او نه د نفعې او نه د مرګ اختیار لري او نه د ژوند او نه د بیا ژوندي کولو) [الفرقان سورت: 3 آیت].

الله - جل جلاله - څرګنده کړې ده چې باطل خدايان خپلو پيروانو ته د رزق ورکولو واک نه لري، الله تعالی فرمايي:

﴿وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَهُمۡ رِزۡقٗا مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ شَيۡـٔٗا وَلَا يَسۡتَطِيعُونَ٧٣﴾ [النحل: 73]

(او دوی له الله نه غير د هغو څيزونو عبادت کوي چې د دوی لپاره اختيار نه لري د هېڅ رزق له اسمانونو او ځمکې نه د هېڅ شي او نه دوی طاقت لري). [النحل سورت: 73 آيت]،

نو دوی څنګه د هغه چا عبادت کوي چې هيڅ نه لري؛ نه د رزق ورکولو توان لري، او نه د دې چې ګټه او يا ضرر ورسوي؟! هغه پر دوی استدلال وکړ چې کله ورته زيان ورسيږي يا په مصيبت کې ولويږي نو يوازې يو الله ته په دين کې اخلاص کوونکي رجوع کوي او کله يې چې وژغوري، بيرته خپل شرک ته راستانه شي، الله - تعالی - فرمايلي:

﴿فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ ٦٥﴾ [العنكبوت: 65]

(نو کله چې دوی په کښتۍ کې سواره شي (، نو) دوی الله بولي، په داسې حال کې چې خاص هغه لره دين خالص کوونکي وي، نوکله چې هغه (الله) دوی ته وچې ته نجات ورکړي (نو) ناڅاپه دوی (له الله سره) شريکان نيسي). [العنکبوت سورت: 65آيت]

. او لکه څرنګه چې حق - ذات - د مشرکانو دعوا باطله کړه چې د الله - تعالی - سره يې برابر نا حقه معبودان نيولي وو، ټولې هغه ادعاوې يې هم باطلې کړې چې الله - تعالی - (د ځان لپاره) زوی نيولی، نو هغه پاک ذات وفرمايل:

﴿مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٖ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنۡ إِلَٰهٍۚ إِذٗا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهِۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ٩١﴾ [المؤمنون: 91]

(الله (د ځان لپاره) هېڅ اولاد نيولی نه دی او نه له هغه سره بل هېڅ معبود شته (او كه ورسره وي نو) په دغه وخت كې به خامخا هر اله ببولي وو هغه څه چې پيدا كړي يې وو، او خامخا د دوی ځينو به په ځينو نورو باندې غلبه كوله، پاك دی الله له هغو خبرو نه چې دوی يې بيانوي). [المؤمنون سورت: 91 آيت]،

او الله سبحانه وتعالى فرمايلي:

﴿لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ٢٢﴾ [الأنبياء: 22]

که چېرې په دغو (ځمکه او اسمان) کې له الله نه پرته نور معبودان وى (نو) دواړه به خامخا وران شوي وو، نو الله د عرش مالك، پاك دى له هغو خبرو چې دوى يې بيانوي) [الأنبياء سورت: 22 آيت].

**او حق ذات روښانه کړه چې يهودو او نصاراو ادعا کوله چې الله - تعالى - زوى لري، نو حق - ذات - وفرمايل:**

﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ عُزَيۡرٌ ٱبۡنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِۖ ذَٰلِكَ قَوۡلُهُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡۖ يُضَٰهِـُٔونَ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ٣٠﴾ [التوبة: 30]

(او يهوديانو وويل: عُزير د الله زوى دى او نصرانيانو وويل: مسيح د الله زوى دى دا د دوى په خپلو خولو سره وينا ده، دوى د هغو کسانو له خبرې سره مشابهت کوي چې له دوى نه مخکې کافران وو، الله دې دوى هلاك کړي، څنګه (له سمې لارې نه) ګرځولى شي!) [التوبة سورت: 30 آيت]،

**او الله - تعالى - د دوى عقيده له اصله باطله کړه. ځکه هغه انسان چې خواړه خوري څنګه اله (معبود) کېدلى شي؟! معبود خوراک نه کوي او نه څښاک او نه هغه څه ته اړتيا لري چې انسان يې ورته لري، الله تعالى فرمايلي دي:**

﴿مَّا ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ إِلَّا رَسُولٞ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِ ٱلرُّسُلُ وَأُمُّهُۥ صِدِّيقَةٞۖ كَانَا يَأۡكُلَانِ ٱلطَّعَامَۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ ثُمَّ ٱنظُرۡ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ٧٥ قُلۡ أَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗاۚ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ٧٦﴾ [المائدة: 75-76]

(نه دى د مريمې زوى مسيح مګر يو رسول دى، يقينًا له ده نه مخکې رسولان تېر شوي دي او د ده مور صِديقه (ډېره زياته رښتينې) وه، دې دواړو به طعام خوړلو، ته وګوره مونږ څنګه دوى ته آيتونه بيانوو، بيا ته وګوره دوى کوم طرف ته اړولى شي. ته ووايه: ايا تاسو له الله نه غير د هغه شي عبادت کوئ چې ستاسو لپاره نه د نقصان اختيار لري او نه د نفعې او همدا الله ښه اورېدونکى، ښه پوه دى) [المائدة سورت: 75، 76 آيتونه]

. او الله تعالى پرښتو ته عبادت کول باطل کړ، او دا يې ښکاره کړه چې دوی - سره له دې چې الله - تعالى - ته نږدې دي - بيا هم هيڅکله د چا سفارش نه شي کولی مګر د هغه له اجازې نه وروسته، نو کله چې د پرښتو دا حال دی، نو څنګه کيدی شي چې له الله تعالى پرته دې - د دې باطلو معبودانو - عبادت وشي. نو زمونږ رب فرمايلي دي:

﴿۞ وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ لَا تُغۡنِي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـًٔا إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ أَن يَأۡذَنَ ٱللَّهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرۡضَىٰٓ ٢٦﴾ [النجم: 26]

(او په آسمانونو کې څومره ډېر ملايك دي چې د دوی سفارش هېڅ شی نفع نه ورکوي مګر وروسته له دې چې الله اجازت ورکړي هغه چا ته چې يې وغواړي او (د هغه په شفاعت) راضي شي). [النجم سورت: 26 آيت]،

او دوی له خپل رب څخه وېرېږي چې د دوی د پاسه دی، الله تعالى فرمايي:

﴿وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن دَآبَّةٖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ ٤٩ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ۩ ٥٠﴾ [النحل: 49-50]

(او خاص د الله لپاره سجده کوي هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي؛ له خوځنده ځيزونو څخه او ملايك هم، په داسې حال کې چې دوی تکبر نه کوي. دوی له خپل رب څخه وېرېږي چې د دوی له پاسه دی او دوی کوي هغه څه چې دوی ته يې حکم کيږي). [النحل سورت: 49، 50 آيتونه]،

لوی الله - تعالى - فرمايلي:

﴿لَّن يَسۡتَنكِفَ ٱلۡمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبۡدٗا لِّلَّهِ وَلَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ٱلۡمُقَرَّبُونَۚ وَمَن يَسۡتَنكِفۡ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَيَسۡتَكۡبِرۡ فَسَيَحۡشُرُهُمۡ إِلَيۡهِ جَمِيعٗا ١٧٢﴾ [النساء: 172]

(هيڅکله به هم مسيح (دا د ځان لپاره) عار ونه ګڼي چې هغه دې د الله بنده وي او نه ملايك (دغه عار ګڼي) چې مقرب دي او څوك چې د هغه عبادت کول (د ځان لپاره) عار ګڼي او لويي کوي، نو ژر به هغه (الله) دوی خپل طرف ته ټول راجمع کړي) [النساء سورت: 172 آيت]

، نو کله چې د ملايکو دا حال دی، نو څنګه کيدی شي چې له الله تعالى پرته دې - د غيرالله - عبادت وشي؟ او همدا رنګه أنبياء او رسولان - عليهم السلام - سره له دې چې

مرتبه يې په دنيا او آخرت كې لوړه ده - ځان ته د ګټې او تاوان رسولو واک نه لري، نو لدې پرته نور لا څوک دي؟! الله -تعالى- د پيغمبرانو - عليهم السلام - په اړه فرمايلي دي چې دوی د خپل رب عبادت د هيله مندۍ او ويرې له مخې کوي:

﴿... إِنَّهُمْ كَانُواْ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلْخَيْرَٰتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًاۖ وَكَانُواْ لَنَا خَٰشِعِينَ ٩٠﴾ [الأنبياء: 90]

(بېشکه دوی (نبيان داسې) وو چې په نېکيو کې به يې تلوار کاوه او مونږ به يې بللو، په داسې حال کې چې رغبت کوونکي او وېرېدونکي وو او دوی خاص زمونږ لپاره تواضع کوونکي وو). [الأنبياء سورت: 90 آيت]،

او الله تعالى خپل نبي - صلى الله عليه وسلم - ته امر وکړ چې ووايي؛ لکه څرنګه چې الله تعالى - د هغه له خولې - خبر ورکوي: (ته ووايه: زه د خپل ځان لپاره نه د نفعې مالك يم او نه د نقصان مګر هغه چې الله يې وغواړي او كه چېرې زه پر غيبو عالم وَی (، نو) ما به خامخا ډېر خير حاصل كړی و او ما ته به هېڅ تكليف نه و رارسېدلی، زه نه يم مګر وېروونكی او زېرى وركوونكى د هغه قوم لپاره چې ايمان راوړي). او كله چې پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - هغه مشركانو ته خيراوې وکړې چې د احد په جنګ کې يې دی زورولی و، نو الله - تعالى - پرې دا وينا نازله کړه: (ستا لپاره د دې كار په هكله هېڅ اختيار نشته، يا به هغه (الله) په دوى باندې په مهربانۍ سره راوګرځي، يا به دوى ته عذاب وركړي، ځكه چې يقينًا دوى ظالمان دي) او له زهري څخه روايت دی فرمايي: ماته سالم له خپل پلار څخه يې - رضي الله عنه - حديث بيان کړ چې هغه له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه اوريدلي دي کله يې چې د سهار د لمانځه په ورستي رکعت کې له رکوع څخه سر پورته کړ وييل يې: «اللَّهُمَّ العَنْ فُلَانًا وَفُلَانًا وَفُلَانًا»، بَعْدَ مَا يَقُولُ: «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ»، فَأَنْزَلَ اللَّهُ: {لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ} إِلَى قَوْلِهِ: «ای الله په فلاني او فلاني او فلاني دې لعنت راوليږه - يعنې له خپل رحمت څخه يې وشړه -» وروسته له هغه چې «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ» به يې وويل: نو الله تعالى - دا آيت - نازل کړتر دې وينا پورې: {فَإِنَّهُمْ ظَالِمُون}. (بخاري (۴۵۵۹) او نسائي (۱۰۷۸) روايت کړی دی).

## )بـــاب الإيمان بأسماء الله وصفاته (باب دی په باره د ایمان کې په نومونو او صفتونو د الله تعالی

او مونږ ایمان لرو چې الله -پاک- يو دی پخپلو صفاتو د جمال او د کمال کې او دا چې هغه پاک ذات لره خورا نیک نومونه او لوړ صفتونه دي چې له قرآن او سنت څخه په تواتر ثابت او د کمال درجې ته رسیدلي عقلونه پرې ګواهي ورکوي او سالم فطرتونه يې هم مني او د اسلامي امت علماوو پرې اجماع کړې، بلکې ټول الهي رسالتونه د الله تعالی د نومونو، صفتونو او افعالو په بیان سره راغلي دي. او الله -تعالی- دا خبره په مشرکانو عیب وګڼله چې د بوتانو عبادت کوي؛ ځکه چې بوتان د دوی په څیر پیدا شوي (مخلوق) دي، بلکې لدوی څخه خورا ټیټ او ناقص دي، نه لیدل کولی شي او نه اوریدل، بلکې پښې نه لري چې پرې لاړ شي، او لاسونه نلري چې نیول پرې وکړي، حق ذات فرمایلي دي: * (بېشکه هغه چې تاسو يې له الله نه غير بلئ، (هغوی) ستاسو په شان بنده ګان دي، نو هغوی راوبلئ، پس هغوی دې ستاسو بلنه قبوله کړي، که چېرې تاسو رښتیني يئ. * آیا د هغوی لپاره پښې دي چې په هغو سره تلل کوي، یا د هغوی لپاره لاسونه دي چې په هغو سره نیول کوي، یا د هغوی لپاره سترګې دي چې په هغو سره لیدل کوي، یا د هغوی لپاره غوږونه دي چې په هغو سره اورېدل کوي؟ ته ووایه: تاسو خپل شریکان راوبلئ، بیا زما په خلاف څه چل (او تدبیر) وکړئ، بیا ما ته (هېڅ) مهلت مه راکوئ). او الله تعالی فرمایلي: (او د موسٰی قوم (طور ته) د هغه (له تلو) نه پس له خپلو زېوراتو نه مجسم خوسی جوړکړ چې د هغه اواز د سخي و، ایا دوی نه دي کتلي چې بېشکه دا (مجسم سخی) نه له دوی سره خبرې کولی شي او نه دوی ته څه لار ښودلی شي، دوی دغه (معبود) جوړ کړی دی او دوی ظالمان وو). او مونږ ایمان لرو لکه څرنګه چې هغه د خپل ځان صفت بیان کړی، او لکه څرنګه چې د هغه رسول - صلی الله علیه وسلم - هغه په کومو صفتونو سره یاد کړی دی، نو د هغه پاک ذات په مثل هیڅ شی نشته او هغه اوریدونکی لیدونکی دی، الله تعالی فرمایلي: (د الله په څېر هېڅ شی نشته او هغه اورېدونکی او لیدونکی دی). نو مونږ الله - تعالی - ته هغه څه ثابتوو چې ځانته يې ثابت کړي دي، او یا يې رسول -صلی الله علیه وسلم- ورته ثابت کړي دي، او هغه څه ورڅخه نفي کوو چې له خپل ځان څخه يې نفي کړي او یا يې رسول - صلی الله علیه وسلم - ورڅخه نفي کړي وي پرته له تعطیل (له معنا څخه انکار) ، تمثیل (د بیلګې بیانولو)، تکییف (د څرنګوالي په اړه پوښتنې کولو) او تحریف (په معنا کې له بدلون) څخه. او مونږ په علم الیقین سره پوهیږو چې زمونږ رب وړاندې له دې چې مخلوقات پیدا کړي په خپلو صفتونو باندې یاد و، او دا چې هغه له ازله تر ابده د کمال، جلال او جمال په تر

ټولو لوړه مرتبه دی؛ ځکه هغه اول او آخر دی، هغه اول دی مخکې ترې هیڅ شی نشته، او آخر دی وروسته ترې څه شی نشته، نو هغه د کمال او عزت په نومونو او صفتونو سره لومړی دی او هغه د کمال او عزت په صفتونو سره وروستی دی. او موږ ایمان لرو چې په هغه پاک - ذات - لکه څرنګه چې مخلوقات د علم په لحاظ احاطه نه شي کولای، نو همدا رنګه یې د هغوی سترګې هم نه شي احاطه کولای، الله تعالی فرمایلي: (دغه (الله) پوهیږي په هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او په هر هغه څه چې د دوی وروسته دي او دوی د هغه د علم احاطه نشي کولی) او الله تعالی فرمایلي: (نشي را لاندې کولی الله -تعالی- لره نظرونه (سترګې) او هغه الله -تعالی- خو را لاندې کوي ټول نظرونه (د مخلوق) او الله تعالی ډیر باریک بین خبردار ذات دیامام ابن قتیبه -رحمه الله- فرمایلي: موږ باید د الله - تعالی - په صفتونو کې هلته ودریږو چیرته چې الله - تعالی - توقف کړی او یا چیرته چې یې رسول - صلی الله علیه وسلم - توقف کړی او یو لفظ له هغې - معنا - څخه وانه ړوو په کوم سره یې چې عرب پېژني او هغه نوم یې پرې ایښودلی وي، او لدې پرته نور توقف کوو. (الاختلاف في اللفظ والرد علی الجهمیة، د ابن قتیبة (مخ: 44).

او مونږ ایمان لرو چې د الله تعالی له صفتونو څخه ځیني د هغه له ذات سره لازم دي لکه: ژوند، علم، اوریدل، لیدل، لاس، ګوتې، او له صفتونو څخه یې ځیني نور د هغه د مشیئت (خوښې) پورې تړلي دي لکه: غصه، خوښي او راکوزیدل. او مونږ ایمان لرو چې - الله - هر څه وغواړي هغه کوي، هغه هر کار تر سره کوي کله یې چې وغواړي، څه شی چې وغواړي او څرنګه یې چې وغواړي، عزت ورکوي چاته چې یې خوښه شي او رسوا کوي چاته چې وغواړي، امر لره یې منع کوونکی نشته، او نه یې په پریکړو او واکداری باندې کوم څارونکی شته.

او مونږ عقیده لرو چې د الله تعالی ځیني صفتونه مطلق راغلي دي، نو الله -تعالی- پرې مطلق توصیفوو، لکه: سمع، حیات، بصر او داسې نور، او ځیني یې مقید راغلي دي، نو په همغه تقیید سره پرېښودل کیږي، لکه د هغه یادول پر دې چې هغه د خپلو دښمنانو د مکر په مقابل کې له مکر څخه کار اخلي، او خپل دښمنان هیروي کله یې چې هغوی هېر کړي.

او مونږ باور لرو چې الله - تعالی - په ځینو صفتونو سره په یو حالت توصیف شوی دی ( یعنې د صفت بڼه بدلون نه مومي ) لکه د ژوند (حیات) صفت، د قیومیت صفت (په خپل ذات قائم چې نور ورته اړ وي او دی چاته اړتیا ونه لري) او د عظمت (لوی والي) صفت، نو په قرآن او یا سنت کې په یوه بڼه ذکر شوي دي. او مونږ ځیني داسې صفات

وینو چې په قرآن او سنت کې په بیلابیلو طریقو سره بیان شوي دي، لکه د کلام صفت، د علو (لوړوالي) صفت، د ید (لاس) صفت او د قیامت په ورځ د حساب او کتاب په موقفونو او جنت کې خپل رب لره د مؤمنانو لیدل. (او مونږ تینګار کړی چې کله د صفت په اړه خبر په څو طریقو سره مطرح شي نو د ثابتولو لپاره یې له یوې څخه زیاتې لارې ذکر کوو. او د کومو صفتونو په اړه چې په یوه بڼه خبر راغلی دی نو بیا په یو یا دوه دلیلونو باندې بسنه کوو چې د دې یا د هغه صفت یادونه پکې شوې وي). او د هغه پاک او متعال ذات له صفتونو څخه : علم (پوهه) او سمع ( اوریدل ) دي: الله تعالی فرمایلي)

[(رسول دوی ته) وویل: زما رب په اسمان او ځمکه کې په هره خبره پوهیږي او هم هغه ښه اوریدونکی، ښه صفتونو څخه یې : بصر( لیدل ) دي، الله تعالی فرمایلي دي: (یقینا الله تعالی هم هغه ښه اوریدونکی، ښه لیدونکی دی). [او له أبو یونس سلیم بن جبیر؛ د أبو هریرة - رضی الله عنه - له غلام څخه روایت دی فرمایي: « له أبو هریرة - رضي الله عنه - څخه مې اوریدلي دي چې دا آیت یې لوسته الله - تعالی - تر دې قوله پورې: {سمیعا بصیرًا} وایې: رسول الله - صلی الله علیه وسلم - مې ولیده چې خپله غټه ګوته یې په غوږ او ورپسې یې په سترګه کیښودله، أبو هریرة - رضي الله عنه - فرمایي: رسول الله - صلی الله علیه وسلم - مې ولیده چې - دا آیت یې - لوسته او دواړه ګوتې یې ایښودلي وې، ابن یونس فرمایي: مقرئ ویلي: {إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ} ، يَعْنِي دا چې الله تعالی لره سمع او بصر شته». ( ابو داود (۴۷۲۸)، حفص بن عمر د قرائت په برخه کې (۳۳)، ابن خزیمه په توحید کې (۴۹) او ابن ابی حاتم په تفسیر (۵۵۲۴) کې روایت کړی دی. او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه : العین ( سترګه ) ده، الله تعالی فرمایلي: {وَلِتُصْنَعَ عَلَى عَيْنِي} (او د دې لپاره چې ستا تربیت زما د سترګو په وړاندې وشي) [او ویې فرمایل]، (نو ته د خپل رب حکم ته صبر کوه، پس بېشکه ته زمونږ د سترګو په وړاندې یې). او هغه پاک ذات چې د سپیځلې ثنا خاوند دی فرمایلي (اوجوړوه کښتئ زمونږ د سترګو مخامخ). الله تعالی فرمایلیچې زمونږ د سترګو په وړاندې ګرځېدله). او له نافع بن عبد الله - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایې: د پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - په وړاندې دجال یاد شو نو ویې فرمایل: «إِنَّ اللَّهَ لَا يَخْفَى عَلَيْكُمْ، إِنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ -وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى عَيْنِهِ- وَإِنَّ المسيحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ العَيْنِ اليُمْنَى، كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ». «یقینا الله تعالی په تاسو باندې نه پټیږي، الله -تعالی- ړوند ندی، -او په خپل لاس سره یې خپلې سترګې ته اشاره وکړه - او یقینا مسیح الدجال چې دی؛ نو ښۍ سترګه یې ړنده ده، سترګه یې لکه د چوپلي انګور په څېر ده». بخاري (7407)، مسلم (169)، ابوداود (4757) او ترمذي (2241) روایت کړی. او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه : الحیات (تل ژوند) او القیومیت (په خپل ذات ولاړ چې نور ورته محتاج وي او دی چاته محتاج ندی) دي، الله تعالی فرمایلي: (الله (چې

دی) نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی). [آل عمران سورت: 2 آیت]. او د هغه پاک او لوړ ذات له صفتونو څخه : کلام دی: نو هغه په کلام سره موصوف و وړاندې لدې چې مخلوقات پیدا کړي او خبرې ورسره وکړي، او زمونږ د رب کلام د هغه د مشیئت (خوښې) پورې تړاو لري، نو کله چې وغواړي خبرې کوي، او د الله د صفت؛ کلام خبر په قرآن کریم کې په بیلابیلو وجوهاتو سره راغلی دی، نو هر هغه څه چې الله تعالی پرې د خپل ځان په اړه خبر ورکړی چې هغه امر کوي یا منع کول کوي نو دا د هغه په کلام دلالت کوي لکه د الله تعالی دا قول: بېشکه الله د انصاف کولو او احسان کولو او خپلوانو ته د ورکړې حکم کوي او له فحاشۍ او بدو کارونو او سرکښۍ نه منع کول کوي، هغه تاسو ته وعظ کوي، د دې لپاره چې تاسو نصیحت قبول کړئاو هر هغه څه چې الله - تعالی - پرې د خپل ځان په اړه خبر ورکړی چې هغه ویلي دي یا یې وایي، لکه د هغه عزتمند ذات دا وینا:

﴿إِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ ...﴾ [آل عمران: 55]

(کله چې الله وویل: ای عیسٰی! بېشکه زه تا لره پوره پوره اخیستونکی یم او د خپل ځان طرف ته ستا راپورته کوونکی یم). [آل عمران سورت: 55 آیت].

او په هر هغه څه کې چې د الله تعالی لخوا د یو څه په اړه خبر ورکول شوی او د خبرې اضافت الله تعالی ته شوی نو دا الله رب العالمین ته د کلام د صفت په ثبوت دلالت کوي، حق ذات فرمایلي:

﴿... قَالَتۡ مَنۡ أَنۢبَأَكَ هَٰذَاۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ٣﴾ [التحریم: 3]

(هغې وویل: ته په دې باندې چا خبر کړې؟ ده وویل: ما ته ډېر پوه (او) ښه خبردار ذات خبر راکړ). [التحریم سورت: 3 آیت]

. او هر هغه څه چې د الله - جل جلاله - د بلنې یا مناجات څخه راغلي او اضافت یې الله - تعالی - ته شوی نو دا الله رب العالمین ته د کلام د صفت په ثبوت دلالت کوي لکه څرنګه چې الله - تعالی - په دې وینا کې فرمایلي:

﴿وَنَٰدَيۡنَٰهُ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنِ وَقَرَّبۡنَٰهُ نَجِيّٗا ٥٢﴾ [مریم: 52]

[او مونږ آواز وکړ هغه (موسی علیه السلام) ته، د طور غر د ښي اړخ نه او هغه مونږ ځان ته رانزدې کړی وو رازدار-(په داسې حال کې چې د راز خبرې مو ورسره کولې)]. [مریم سورت: 52 آیت].

او هره وینا چې راغلې او اضافت یې الله - تعالى - ته شوی ، او یا وینا په قرآن کې راغلې چې الله تعالى پرې موصوف شوی وي نو دا د الله د کلام په صفت دلیل دی. او دا زیات بې شمېره دي، او لدې څخه چې هغه متعال ذات له ملاېکو سره خبرې کړي دي، الله تعالى فرمایلي:

﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً ...﴾ [البقرة: 30]

(او کله چې ستا رب ملایکو ته وویل: بې شکه زه په ځمکه کې یو خلیفه پیدا کوونکی یم). [البقرة سورت: 30 آیت]،

او له آدم سره یې خبرې کړي دي:

﴿وَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا .... ﴾ [البقرة: 35]

(او مونږ وویل: ای ادمه! اوسېږه ته او ستا ښځه په جنت کې، او دواړه له هغه (د جنت له مېوو) نه پرېمانه (په مزې سره) خوراك کوئ کوم ځای چې مو خوښه وي). [البقرة سورت: 35 آیت]،

او له موسی - علیه السلام - سره یې خبرې کړي دي:

﴿قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّي ٱصْطَفَيْتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِي وَبِكَلَٰمِي ...﴾ [الأعراف: 144]

( الله وویل: ای موسیٰ! بېشکه ما تا ته په ټولو خلقو باندې په خپلو پېغامونو سره او په خپل کلام سره غوره والی درکړی دی). [الأعراف سورت: 144 آیت].

او زمونږ د رب له کلام څخه ځینې بلنه وي، لکه څرنګه چې یې ابراهیم الخلیل - علیه السلام ته بلنه ورکړه ، الله تعالى فرمایلي:

﴿وَنَٰدَيْنَٰهُ أَن يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ﴿١٠٤﴾﴾ [الصافات: 104]

(او مونږ ده ته اواز وکړ، داسې چې ای ابراهیمه) [الصافات سورت: 104 آیت]،

او ځيني يې مناجات وي (د دوو تر منځه پټې خبرې) لکه څرنګه چې زمونږ رب له موسی - عليه السلام - سره مناجات وکړ:

﴿وَنَٰدَيۡنَٰهُ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنِ وَقَرَّبۡنَٰهُ نَجِيّٗا ۝٥٢﴾ [مريم: 52]

[او مونږ آواز وکړ هغه (موسی عليه السلام) ته، د طور غر د ښي اړخ نه او هغه مونږ ځان ته رانږدې کړی و رازدار-(په داسې حال کې چې د راز خبرې مو ورسره کولې)]. [مريم سورت: 52 آيت]،

ابن عباس - رضي الله عنهما - پدې آيت کې فرمايلي: "تر هغه پورې چې هغه د قلم کشارى واوريد". ابن ابي شيبه (۳۲۵۰۶)، هناد په الزهد کې (۱۴۹) او عبدالله بن احمد په السنة کې (۱۲۳۱)، او الطبري په التفسير کې (۵۵۹/۱۵) او حاکم په (۳۴۷۲) شمېره روايت کړی دی. او سدي ويلي: {وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا} [او هغه مونږ ځان ته رانږدې کړی و، رازدار-(په داسې حال کې چې د راز خبرې مو ورسره کولې)] وايې: « په آسمان کې ننويستل شو او خبرې ورسره وشوې». (تفسير ابن کثير (۲۳۸/۵) او الدر المنثور فی التفسير بالمأثور (۵۱۵/۵) کې. او زمونږ د رب خبرې ملايکې اوري لکه څرنګه چې د الله - تعالی - پدې وينا کې راغلي دي

﴿... حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمۡ قَالُواْ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمۡۖ قَالُواْ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ۝٢٣﴾ [سبأ: 23]

. (تر هغه پورې چې کله د دوی د زړونو نه وېره (هيبت) لرې کړی شي (نو) دوی وايي: ستاسو رب څه وفرمايل؟ هغوی به ووايي چې حق (يې وفرمايه) او هم دی ډېر اوچت، ډېر لوی دی). [سبأ سورت: 23 آيت]

، او له مسروق څخه روايت دی هغه له عبد الله - رضی الله عنه - څخه روايت کوي وايي چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «إِذَا تَكَلَّمَ اللَّهُ بِالْوَحْيِ، سَمِعَ أَهْلُ السَّمَاءِ لِلسَّمَاءِ صَلْصَلَةً كَجَرِّ السِّلْسِلَةِ عَلَى الصَّفَا، فَيُصْعَقُونَ، فَلَا يَزَالُونَ كَذَلِكَ حَتَّى يَأْتِيَهُمْ جِبْرِيلُ، حَتَّى إِذَا جَاءَهُمْ جِبْرِيلُ فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ. قَالَ: فَيَقُولُونَ: يَا جِبْرِيلُ، مَاذَا قَالَ رَبُّكَ؟ فَيَقُولُ: الْحَقَّ، فَيَقُولُونَ: الْحَقَّ، الْحَقَّ». «کله چې الله - تعالی - په وحې سره وينا وکړي، نو د اسمان اوسيدونکي د اسمان يو زنګهار واوري لکه د اوسپنې د ځنځير په ښېر کله چې په تيږه ووهل شي نو ټول بې هوشه شي، تر هغه پورې به همداسې پاتې وي تر څو ورته جبريل راشي، نو کله چې ورته جبريل راشي نو د دوی زړونه به روښانه شی وايي: نو وبه وايي: ای جبرائيله: رب دې څه وويل: نو وبه وايي: حق يې وويل، نو هغوی به ووايي : الحق الحق». (ابو داود (۴۷۳۸)، عثمان بن سعيد الدارمي په: الرد على الجهمية

کې(۱۵۸)، عبدالله بن احمد په السنة (۵۳۶) کې او محمد بن نصر په تعظيم قدر الصلاة کې(۲۱۷) روايت کړی دی. او د قيامت په ورځ به له مخلوقاتو سره خبرې کوي، لکه څرنګه چې پدې سره رسول الله - صلی الله عليه وسلم - خبر ورکړی دی: «مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ، لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ، وَلَا حِجَابٌ يَحْجُبُهُ». «په تاسو کې هيڅوک داسې نشته مګر دا چې د هغه سره به يې رب خبرې وکړي، د ده او د هغه تر منځه به کوم ژباړونکی نه وي او نه به پرده وي چې ترې پټ يې کړي». بخاري (7443)، مسلم (1016)، ترمذي (2415) او ابن ماجه (185) روايت کړی دی. او مخلوقات به د قيامت په ورځ د الله - تعالی - کلام اوري لکه د عبدالله بن انيس رضي الله عنه څخه چې روايت دی فرمايي: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې وييل يې: «يَحْشُرُ اللَّهُ العِبَادَ، فَيُنَادِيهِمْ بِصَوْتٍ يَسْمَعُهُ مَنْ بَعُدَ كَمَا يَسْمَعُهُ مَنْ قَرُبَ: أَنَا الملكُ، أَنَا الدَّيَّانُ». «الله تعالی به بنده ګان راپاخوي، نو په داسې يو غږ سره به ورته آواز وکړي چې لرې به يې داسې اوري لکه نږدې يې چې اوري: زه (ملک) يعني پادشاه يم، زه (ديان) يعني حساب کوونکی او جزا ورکوونکی يم». (بخاري معلق روايت کړی (9 / 141) او په الأدب المفرد کې (970) او په خلق أفعال العباد کې (90) او احمد (16042) روايت کړی دی.

او مونږ ايمان لرو چې الله پاک له خپل مخلوق څخه پټ دی، نو دوی يې په دنيا کې نه ګوري او هغه له خپلو پرښتو او رسولانو سره له چا سره چې وغواړي د پردې تر شا خبرې کوي الله تعالی فرمايلي: ﴿وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحۡيًا أَوۡ مِن وَرَآيِٕ حِجَابٍ أَوۡ يُرۡسِلَ رَسُولٗا فَيُوحِيَ بِإِذۡنِهِۦ مَا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ عَلِيٌّ حَكِيمٞ ۝٥١﴾ [الشورى: 51]

(او د هيڅ انسان لپاره ممکن نه و چې الله ورسره خبرې وکړي مګر په وحي سره، يا له پردې نه شا ته، يا استازی راوليږي، پس دغه د ده په حکم سره وررسوي هغه چې (الله) يې غواړي، بېشکه دی، ډېر اوچت، ښه حکمت والا دی). [الشورى سورت: 51 آيت]

. او له أبو موسى الأشعري - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم په مونږ کې يوه ورځ ودريده او - پنځه خبرې يې بيان کړې - نو ويې وييل: «إِنَّ اللہَ عز وجل لَا يَنَامُ، وَلَا يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَنَامَ، يَخْفِضُ الْقِسْطَ وَيَرْفَعُهُ، يُرْفَعُ إِلَيْهِ عَمَلُ اللَّيْلِ قَبْلَ عَمَلِ النَّهَارِ، وَعَمَلُ النَّهَارِ قَبْلَ عَمَلِ اللَّيْلِ، حِجَابُهُ النُّورُ لَوْ كَشَفَهُ لَأَحْرَقَتْ سُبُحَاتُ وَجْهِهِ مَا انْتَهَى إِلَيْهِ بَصَرُهُ مِنْ خَلْقِهِ». «په حقيقت کې الله –تعالی- نه ويده کيږي، او د هغه لپاره نه ښايي چې ويده شي؛ د بندګانو رزق ښکته او پورته کوي، د شپې عمل ورته د ورځې له عمل څخه مخکې پورته کيږي، او د ورځې عمل ورته د شپې له عمل څخه مخکې پورته کيږي، د هغه پرده نور (رڼا) ده، که چېرته يې لرې کړه، نو د هغه د مخ

وړانګې به ټول هغه څه وسوځوي چې له مخلوقاتو څخه يې ورته ليد رسيږي». (مسلم (179) او ابن ماجه (195) روايت کړی دی. او زمونږ د رب کلام داسې توصيف کيږي چې ځينې يې له نورو څخه نوی دی، حق ذات فرمايلي دي:

﴿مَا يَأۡتِيهِم مِّن ذِكۡرٖ مِّن رَّبِّهِم مُّحۡدَثٍ إِلَّا ٱسۡتَمَعُوهُ وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ٢﴾ [الأنبياء: 2]

(دوی ته د خپل رب له جانبه هېڅ نوی نصيحت نه راځي مګر دوی هغه اوري، په داسې حال کې چې دوی لوبې (مسخرې پرې) کوي). [الأنبياء سورت: 2 آيت]،

او ځينې يې له ځينو نورو غوره دی، له أبو سعيد الخدري - رضي الله عنه - څخه روايت دی : چې يو سړي له بل څخه واوريدل چې

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ١﴾ [الإخلاص: 1]

يې تکراراوه، نو کله يې چې سبا کړ[الإخلاص: 1]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او د دې يادونه يې ورته وکړه، او ګويا هغه سړي دا - عمل - کم ګڼلو ، نو رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وفرمايل: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، إِنَّهَا لَتَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ». «قسم دې زما په هغه ذات وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، دا - سورت - د قرآن د دريمې برخې سره برابر دی». (بخاري (5013)، ابوداود (1461) او نسائي (995) روايت کړی دی. او له ابن عباس - رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي: پداسې حال کې چې جبريل - عليه السلام - د پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - سره ناست وو چې له پاسه يې غږ واوريده نو سر يې پورته کړ، ويې ويل: «هَذَا بَابٌ مِنَ السَّمَاءِ فُتِحَ الْيَوْمَ لَمْ يُفْتَحْ قَطُّ إِلَّا الْيَوْمَ، فَنَزَلَ مِنْهُ مَلَكٌ، فَقَالَ: هَذَا مَلَكٌ نَزَلَ إِلَى الْأَرْضِ لَمْ يَنْزِلْ قَطُّ إِلَّا الْيَوْمَ، فَسَلَّمَ، وَقَالَ: أَبْشِرْ بِنُورَيْنِ أُوتِيتَهُمَا لَمْ يُؤْتَهُمَا نَبِيٌّ قَبْلَكَ: فَاتِحَةُ الْكِتَابِ، وَخَوَاتِيمُ سُورَةِ الْبَقَرَةِ، لَنْ تَقْرَأَ بِحَرْفٍ مِنْهُمَا إِلَّا أُعْطِيتَهُ». «دا له آسمان څخه يوه دروازه ده چې نن خلاصه شوه، هيڅکله نه وه خلاصه شوې مګر نن ورځ، يوه ملايکه ترې راښکته شوه، نو ويې ويل: دا ملايکه ځمکې ته راښکته شوه چې هيڅکله نه وه راښکته شوې مګر نن ورځ، نوسلام يې واچاوه او ويې ويل: زيری واخله په دوو رڼاګانو باندې چې تاته درکړای شوې او ستا څخه وړاندې هيڅ نبي ته ندي ورکړل شوي: فاتحة الکتاب، او د البقرې سورة د پای -آيتونه- هيڅ توری به لدې دواړو څخه نه لولې مګر دا چې درکول کيږي به». (مسلم (806)، او نسائي (912).) روايت کړی دی. او قرآن او ټول آسماني کتابونه چې د الله - تعالى - لخوا پر رسولانو - عليهم السلام - نازل شوي

دي لکه: د ابراهيم او موسی - عليهما السلام - صحيفي، تورات، انجيل او زبور - دا ټول د الله - تعالی - کلام دی او په ټولو سره الله - تعالی - خبرې کړي دي او جبرائيل عليه السلام ترې برای راس (په غير د واسطې) اوريدلي او الله - تعالی - تورات په تختو کې ليکل شوی نازل کړی او جبريل - عليه السلام - د الله - تعالی - لخوا په انبياوو او رسولانو-عليهم السلام - وحې نازل کړې ده ، الله -تعالی- فرمايلي: ﴿نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلۡأَمِينُ ۝١٩٣ عَلَىٰ قَلۡبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُنذِرِينَ ۝١٩٤﴾ [الشعراء: 193-194]

ستا په زړه باندې، د دې لپاره چې ته له وېروونکو څخه شې). [الشعراء سورت: 193، 194 آيتونه]،

او الله - تعالی- فرمايلي دي:

﴿... فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِيِّ ٱلۡأُمِّيِّ ٱلَّذِي يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ۝١٥٨﴾ [الأعراف: 158]

(نو تاسو پر الله او د هغه پر رسول ايمان راوړئ چې نبي دی، امي دی، هغه چې پر الله او د هغه پر کلماتو ايمان لري او تاسو د هغه پيروي وکړئ، د دې لپاره چې تاسو هدايت ومومئ). [الأعراف سورت: 158آيت]

. او د الله کلام او د هغه کلمات مخلوق ندي، لدې امله رسول الله - صلی الله عليه وسلم - د الله - تعالی - په کلمو سره پناه غوښتلې ده، پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - فرمايلي: «مَنْ نَزَلَ مَنْزِلًا، ثُمَّ قَالَ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ، حَتَّى يَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهِ ذَلِكَ»، «څوک چې يو ځای کې ميشت شو (د يو څه وخت لپاره ديره شو) او بيا يې وويل: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ، حَتَّى يَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهِ ذَلِكَ»،يعني پناه نيسم د الله په بشپړو کلمو سره د هغه څه له شر څخه چې هغه پيدا کړی دی، نو هيڅ شی به ورته ضرر ونه رسوي، تر څو چې له هغه ځای څخه تللی نه وي»، ( مسلم (2708)، ترمذي (3437) او ابن ماجه (3547) روايت کړی دی. او که چېرته د الله - تعالی - خبرې مخلوق وای، نو زموږ پيغمبر محمد - صلی الله عليه وسلم - به پرې پناه نه وه غوښتلې. نو د الله - تعالی - کلام مخلوق ندی، آيا ته نه ګورې چې "الله تعالی د خپلې وينا او د خپلو مخلوقاتو ترمنځ جلاوالی راوستی؟ او هغه ته يې وينا نده ويلې، - الله تعالی - فرمايلي:

﴿... أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ ...﴾ [الأعراف: 54]

يعني: اګاه شئ! خاص هغه لره دي پيدا کول او حکم کول، نو کله يې چې وويل: {أَلاَ لَهُ الْخَلْقُ} نو ټول مخلوقات د دې لاندې راغلل او هيڅ شی ترې پاتې نه شو، بيا يې د هغه څه يادونه وکړه چې مخلوق ندی نو ويې فرمايل: {وَالأَمْرُ} يعني : او حکم کول، نو حکم کول يې د هغه دا وينا ده چې. د لوی شان خاوند دی الله؛ چې د عالميانو رب دی[الاعراف سورت: ۵۴ آيت]

- هغه لدې څخه پاک دی چې - وينا يې مخلوق وي». (وګورئ: الرد على الجهمية، د امام احمد (۲۲۴ مخ). او مونږ د الله - تعالی - د کائناتي کلمو ترمنځ توپير کوو چې د الله -تعالی- د دې وينا په څېر ذکر شوي دي:

﴿وَلَقَدۡ كُذِّبَتۡ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِكَ فَصَبَرُواْ عَلَىٰ مَا كُذِّبُواْ وَأُوذُواْ حَتَّىٰٓ أَتَىٰهُمۡ نَصۡرُنَاۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ وَلَقَدۡ جَآءَكَ مِن نَّبَإِيْ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٣٤﴾ [الأنعام: 34]

(او يقينًا يقينًا له تا نه مخکې رسولان دروغجن بلل شوي وو، نو هغوی په دروغجن بلل کېدلو او ضرر رسېدلو صبر وکړ تر دې چې هغوی ته زمونږ مرسته راغله، او د الله کلماتو لره هيڅوك اړوونکی نشته، او يقينًا تا ته خو د رسولانو څه خبرونه راغلي دي). [الأنعام سورت: 34 آيت]،

او د الله - تعالی - دا وينا:

﴿قُل لَّوۡ كَانَ ٱلۡبَحۡرُ مِدَادٗا لِّكَلِمَٰتِ رَبِّي لَنَفِدَ ٱلۡبَحۡرُ قَبۡلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَٰتُ رَبِّي وَلَوۡ جِئۡنَا بِمِثۡلِهِۦ مَدَدٗا ١٠٩﴾ [الكهف: 109]

(ته (دوی ته) ووايه: كه سمندر زما د رب د كلماتو لپاره رنګ شي، (نو) سمندر به خامخا خلاص شي، مخکې له دې چې زما د رب کلمات تمام شي، اګر كه مونږ د دغه (سمندر) په مثل مدد (يا رنګ) هم راوړو). [الكهف سورت: 109 آيت]،

او د هغه شرعي كلام لكه چې د الله - تعالی - د دې وينا په څېر راغلی دی:

﴿وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدۡقٗا وَعَدۡلٗاۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١١٥﴾ [الأنعام: 115]

= (او د رښتينولی او عدل له لحاظه ستا د رب خبره کمال ته رسېدلې ده، د هغهٔ کلماتو لره هيڅوك بدلوونکی نشته،او همغه ښه اورېدونکی، ښه عالم دی). [الأنعام سورت: 115 آيت]،

او د هغه متعال ذات دا وينا:

﴿۞ وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٖ فَأَتَمَّهُنَّۖ ...﴾ [البقرة: 124]

(او (یاد کړه) هغه وخت چې خپل رب يې ابراهيم په څو خبرو سره وازمايه، نو (ابراهيم) هغه پوره کړې). [البقرة سورت: 124 آيت].

امام دارمي ويلي: «د الله - تعالى - له کلام څخه انکار نه کوي مګر هغه څوک چې غواړي هغه څه باطل کړي چې الله - پاک - نازل کړي دي او هغه څوک څنګه د خبرو کولو توان نه لري چا چې بنده ګانو ته خبرې کول ورزده کړي دي او مخلوقات يې ناطق ګرځولي دي؟!». (الرد على الجهمية،د الدارمي (مخ: 155). د هغه له صفتونو څخه (العزة) دی، حق ذات فرمايلي: ﴿سُبۡحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلۡعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ١٨٠﴾ [الصافات: 180]

(ستا رب لره پاکي ده چې د عزت (او غلبې) مالك دی، له هغو خبرو نه چې دوی (مشرکان) يې بيانوي). [الصافات سورت: 180 آيت]،

او الله - تعالى - فرمايلي:

﴿مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ جَمِيعًاۚ ...﴾ [فاطر: 10]

. او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه يو صفت ( القهر) يعني غلبې والا دی، الله تعالى فرمايلي ﴿قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ مُنذِرٞۖ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ٦٥﴾ [ص: 65]

(او نشته دی حق معبود غير له الله نه چې يو او ډېر غلبې والا دی). [ص سورت: 65 آيت]

. او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه: الجبروت: (د قهر، سلطنت او عزت خاوند)،او الملکوت: (د لويې پادشاهۍ خاوند) او الکبرياء (د تکبر او لويۍ خاوند) او: العظمة (د لوی والي خاوند) دی او پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - به په رکوع کې ويیل: «سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ». (پاکي ده هغه ذات لره چې د: جبروت؛ يعني قهر، سلطنت او عزت خاوند دی، والملکوت: يعني د لوی پادشاهۍ خاوند دی، والکبرياء: د تکبر او لويۍ خاوند دی، و العظمة: او د عظمت او لويۍ ذات دی). ابوداود (873)، نسائي (1049)، احمد (23980)، ترمذي (314) او بزار (2750) روايت کړی دی. او هغه - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «قال الله عز وجل: الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي، وَالْعَظَمَةُ إِزَارِي، فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا، قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ». «الله –جل جلاله- وفرمايل: لويي زما څادر دی او عظمت زما لنګ دی، نو ددې هر يو په اخيستلو کې چې څوک زما سره شخړه وکړي؛ هغه به اور ته واچوم». (ابوداود (۴۰۹۰)، ابن ماجه (۴۱۷۴)، حميدي (۱۱۸۳)، ابن ابي شيبه (۲۷۱۱۱) او احمد (۷۳۸۲) روايت کړی دی. او د هغه پاک

ذات له صفتونو څخه : اراده (د يو کار قصد کول ) او مشيئت (هر کار په خپله خوښه کول) دي، الله تعالی فرمايلي:

﴿... يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلۡيُسۡرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلۡعُسۡرَ ...﴾ [البقرة: 185]

(الله پر تاسو د آسانتيا اراده لري او پر تاسو باندې د سختۍ اراده نه لري). [البقرة سورت: 185 آيت]،

او دا قول د الله تعالی:

﴿... وَيُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُحِقَّ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَيَقۡطَعَ دَابِرَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ۝٧﴾ [الأنفال: 7]

(او الله اراده کوي چې په خپلو کلماتو سره حق ثابت کړي او د کافرانو بېخ غوځ کړي). [الأنفال سورت: 7 آيت]،

او دا قول د الله تعالی:

﴿وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٢٩﴾ [التكوير: 29]

(او تاسو (د سمې لارې) اراده نشئ کولی مګر دا چې الله رب العالمين يې اراده وکړي). [التكوير سورت: 29 آيت]

. او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه: القدرة دی (وړتيا او توانايي)،الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ خَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَآبَّةٖۚ وَهُوَ عَلَىٰ جَمۡعِهِمۡ إِذَا يَشَآءُ قَدِيرٞ ۝٢٩﴾ [الشورى: 29]

(او د ده له نخښو څخه د اسمانونو او ځمکې پيدا کول دي او د هغو زنده سرو (خوځنده و پيدا کول دي) چې ده په دغو دواړو کې خواره کړي دي او دغه (الله) چې کله وغواړي د دغو (ځيزونو) په راجمع کولو ښه قادر دی). [الشورى سورت: 29 آيت]،

او دا قول د الله تعالی:

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ۝٢٠﴾ [البقرة: 20]

(بېشکه الله پر هر شي باندې ښه قادر دی). [البقرة سورت: 20 آيت].

او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه: الرحمة (د رحمت خاوند) دی، پاک رحیم او رحمان ذات فرمایلي:

﴿ ... وَرَحۡمَتِي وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٖۚ ...﴾ [الأعراف: 156]

(او زما رحمت هر شی راګېر کړی دی) [الأعراف سورت: 156 آیت]

، او الله پاک فرمایلي دي:

﴿... كَتَبَ رَبُّكُمۡ عَلَىٰ نَفۡسِهِ ٱلرَّحۡمَةَ ...﴾ [الأنعام: 54]

(ستاسو رب په خپل ځان باندې مهرباني کول لیکلي (لازم کړي) دي). [الأنعام سورت: 54 آیت]،

نو دا رحمت د هغه له صفتونو څخه یو صفت دی، او اضافت يې الله تعالی ته شوی دی صفت مضاف شوی موصوف ته، او کله رحمت په کتاب او سنت کې مضاف شوی وي الله ته او هغه اضافت د مخلوق وي خپل خالق ته، لکه د الله تعالی پدې وینا کې:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ طَهُورٗا۝٤٨﴾ [الفرقان: 48]

(او همدی هغه ذات دی چې هواګاني یې له رحمت نه مخکې زېرى ورکوونکې لیږلي دي او مونږ له بره نه پاکوونکي اوبه نازلې کړې دي). [الفرقان سورت: 48 آیت]

. او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایې: له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه مې اوریدلي دي چې ویيل یې: «الله - تعالی - چې کله رحمت پیدا کاوه نو سل رحمتونه یې پیدا کړل»، بخاري (۶۴۶۹)، مسلم (۲۷۵۲)، ترمذي (۳۵۴۱) ابن ماجه (۴۲۹۳) روایت کړی دی. نو د دې پیدا شوي رحمت نسبت الله - تعالی - ته شوی دی، چې دا د مخلوق نسبت خپل خالق ته دی.

او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه یو: علو القهر (هغه ذات چې په هر څه ځواکمن او برلاسی دی او هر څه یې خپل تابع ګرځولي دي)، علو القدر (د منزلت په لحاظ تر ټولو پورته) او علو الذات ( د ذات په لحاظ له هر څه پورته چې له هغه پورته بل څه نشته) دي، نو دا درې واړه یې صفتونه دي، او د هغه په کمال دلالت کوي. او قرآن عظیم او سپیڅلی نبوي سنت، عقل او فطرت د الله تعالی په علو باندې په بیلابیلو طریقو سره دلالت

کوي، نو له هر څه څخه چې الله - تعالی - خبر ورکړی او یا یې پرې رسول - صلی الله علیه وسلم - خبر ورکړی چې هغه علي او أعلی دی (پورته او له هر څه پورته)، او یا ورته اشاره کېږی چې هغه په علو (پورته مقام) کې دی، نو د هغه په علو (پورته والي) دلالت کوي، او په هر خبر کې چې د هغه تعالی د لورې د یو څه شي نازلیدل راغلي لکه د وحې نازلیدل، او یا د یو حکم نازلیدل او دا چې هغه به د قیامت په ورځ د پریکړې په موخه راځي، او یا دا چې هغه په هره شپه یا د عرفې په شپه کې راکوزیږي، او ملایکي راکوزیږي، نو دا د هغه په علو (پورته والي) دلالت کوي او همدا رنګه په هر خبر کې چې راغلي چې هغه په آسمان کې دی او یا هغه د آسمان له پاسه دی او یا دا چې هغه په عرش د پاسه برابر دی نو دا د هغه په علو (پورته والي) دلالت کوي او همدا رنګه هر هغه څه چې په هغه کې هغه پاک ذات ته پورته کېدل او داسې نور راغلي وي نو دا د هغه په علو (پورته والي) دلالت کوي.

لدې څخه: دا چې ملائکې له خپل رب څخه چې د دوی د پاسه دی ویره لري او دا چې دوی هغه ته پورته کیږي او دا چې هغه ته عملونه پورته کیږي او دا چې هغه ته پورته کیدل کیږي او دا چې الله - تعالی - عیسی -علیه السلام- ځان ته پورته کړی دی، او زمونږ پیغمبر محمد -صلی الله علیه وسلم- یې له بیت الله څخه د شپې لخوا بیت المقدس ته بیولی دی او بیا آسمان ته خیژول شوی دی. دا ټول د هغه په پورته والي دلالت کوي، بلکه هغه دلیلونه چې د هغه په پورته والي دلالت کوي ډېر ډولونه لري او د هر ډول لاندې نور بې شمېره ډولونه دي چې نه شمېرل کیږي مګر په سختۍ سره.

او له دې دلیلونو څخه د الله تعالی دا وینا ده:

﴿لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٤﴾ [الشوری: 4]

(خاص د هغه لپاره هر هغه څه دي په آسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او هم دغه (الله) ډېر اوچت، ډېر لوی دی). [الشوری سورت: 4 آیت]

، او د الله - تعالی - دا وینا:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ٦٢﴾ [الحج: 62]

(دغه په دې سبب چې بېشكه الله، هم دى حق دى او دا چې بېشكه هغه چې دوى يې له هغه (الله) نه غير بولي، همغه باطل دي او دا چې بېشكه الله، هم دى ډېر اوچت، ډېر لوى دى). [الحج سورت : 62 آيت]

، او دا قول د الله تعالى:

﴿... إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلۡعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرۡفَعُهُۥۚ ...﴾ [فاطر: 10]

(همدغه (الله) ته پاكيزه خبرې پورته خېژي او نېك عمل دغه (كلمات) پورته كوي). [فاطر سورت: 10 آيت]

، او د الله - تعالى - دا سپیڅلي وینا:

﴿وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ مُبَارَكٞ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ١٥٥﴾ [الأنعام: 155]

(او دا كتاب دى چې مونږ نازل كړى دى، نو تاسو د ده پيروي وكړئ او پرهېزګاره شئ، د دې لپاره چې پر تاسو رحم وكړى شي). [الأنعام سورت: 155 آيت]،

او دا قول د الله تعالى: (بېشكه مونږ دا نازل كړى دى، په داسې حال كې چې عربي قرآن دى، د دې لپاره چې تاسو پوه شئ). او د الله - پاک - دا وينا:

﴿يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ۩٥٠﴾ [النحل: 50]

(دوى له خپل رب څخه وېرېږي چې د دوى له پاسه دى او دوى كوي هغه څه چې دوى ته حكم كولى شي). [النحل سورت: 50 آيت]،

او د الله - تعالى - دا وينا:

﴿...إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ ...﴾ [آل عمران: 55]

(بېشكه زه تا لره پوره پوره اخيستونكى يم او د خپل ځان طرف ته ستا راپورته كوونكى). [آل عمران سورت: 55 آيت]

، او د الله - تعالى - دا وينا:

﴿تَعۡرُجُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥ خَمۡسِينَ أَلۡفَ سَنَةٖ٤﴾ [المعارج: 4]

(چې د ده په طرف پورته ملايك او روح ورخېژي، په هغې ورځ کې چې د هغې مقدار پنځوس زره کاله دی). [المعارج سورت: 4 آيت]،

او د الله تعالی دا وينا:

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ وَمِنَ ٱلۡأَرۡضِ مِثۡلَهُنَّۖ يَتَنَزَّلُ ٱلۡأَمۡرُ بَيۡنَهُنَّ لِتَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدۡ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عِلۡمَۢا ١٢﴾ [الطلاق: 12]

(الله هغه ذات دی چې اوه اسمانونه يې پيدا کړي دي او له ځمکې نه هم د دغو په مثل، (د الله) امر د دوی په مينځ کې نازلېږي، د دې لپاره چې تاسو پوه شي چې يقينًا الله په هر شي باندې ښه قادر دی او دا چې يقينًا الله د علم په لحاظ هر شی راګېر کړی دی). [الطلاق سورت: 12 آيت]

، او د الله پاک دا وينا:

﴿بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ إِلَيۡهِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ١٥٨﴾ [النساء: 158]

(بلکې الله هغه خپل طرف ته پورته کړی دی او الله له ازله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی). [النساء سورت: 158 آيت]

. او زمونږ د پاک رب دا وينا:

﴿سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١﴾ [الإسراء: 1]

(هغه ذات لره پاکي ده چې خپل بنده يې د شپې په يوه لړه برخه کې له مسجد حرام نه مسجد اقصٰی ته بوتلو، هغه (مسجد اقصٰی) چې مونږ د هغه ګېرچاپېره برکت اچولی دی، د دې لپاره چې مونږ هغه ته له خپلو نښو ځنې وښيو، بېشکه هم هغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی). [الإسراء سورت: 1 آيت].

او نبي - صلی الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «لَمَّا قَضَى اللَّهُ الخَلْقَ، كَتَبَ كِتَابًا عِنْدَهُ: غَلَبَتْ، أَوْ قَالَ: سَبَقَتْ رَحْمَتِي غَضَبِي، فَهُوَ عِنْدَهُ فَوْقَ العَرْشِ»، «کله چې الله - تعالی - پيدايښت تمام کړ، نو د خپل ځان سره يې کتاب وليکه: غالب شو، او يا يې ووېل: زما رحمت پر غضب باندې مخکې شو، نو دا کتاب له هغه سره د عرش د پاسه دی». بخاري (7553)، مسلم (2751)، ترمذي (3543) او ابن ماجه (189) روايت کړی دی. او له معاوية بن الحكم السلمي - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي: بَيْنَا أَنَا أُصَلِّي مَعَ رَسُولِ

اللهِ صلى الله عليه وسلم، إِذْ عَطَسَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ، فَقُلْتُ: يَرْحَمُكَ اللهُ، فَرَمَانِي الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ، فَقُلْتُ: وَاثُكْلَ أُمِّيَاهْ، مَا شَأْنُكُمْ تَنْظُرُونَ إِلَيَّ؟! فَجَعَلُوا يَضْرِبُونَ بِأَيْدِيهِمْ عَلَى أَفْخَاذِهِمْ، فَلَمَّا رَأَيْتُهُمْ يُصَمِّتُونَنِي لَكِنِّي سَكَتُّ، فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم، فَبِأَبِي هُوَ وَأُمِّي، مَا رَأَيْتُ مُعَلِّمًا قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ أَحْسَنَ تَعْلِيمًا مِنْهُ، فَوَاللهِ، مَا كَهَرَنِي، وَلَا ضَرَبَنِي، وَلَا شَتَمَنِي. قَالَ: «إِنَّ هَذِهِ الصَّلَاةَ لَا يَصْلُحُ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ، إِنَّمَا هُوَ التَّسْبِيحُ وَالتَّكْبِيرُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ»، أَوْ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم. قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ، وَقَدْ جَاءَ اللهُ بِالْإِسْلَامِ، وَإِنَّ مِنَّا رِجَالًا يَأْتُونَ الْكُهَّانَ، قَالَ: «فَلَا تَأْتِهِمْ»، قَالَ: وَمِنَّا رِجَالٌ يَتَطَيَّرُونَ، قَالَ: «ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُونَهُ فِي صُدُورِهِمْ، فَلَا يَصُدَّنَّهُمْ»، -قَالَ ابْنُ الصَّبَّاحِ: فَلَا يَصُدَّنَّكُمْ- قَالَ: قُلْتُ: وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ، قَالَ: «كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ، فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ»، قَالَ: وَكَانَتْ لِي جَارِيَةٌ تَرْعَى غَنَمًا لِي قِبَلَ أُحُدٍ وَالْجَوَّانِيَّةِ، فَاطَّلَعْتُ ذَاتَ يَوْمٍ، فَإِذَا الذِّيبُ قَدْ ذَهَبَ بِشَاةٍ مِنْ غَنَمِهَا، وَأَنَا رَجُلٌ مِنْ بَنِي آدَمَ، آسَفُ كَمَا يَأْسَفُونَ، لَكِنِّي صَكَكْتُهَا صَكَّةً، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم، فَعَظَّمَ ذَلِكَ عَلَيَّ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَفَلَا أُعْتِقُهَا؟ قَالَ: «ائْتِنِي بِهَا»، فَأَتَيْتُهُ بِهَا، فَقَالَ لَهَا: «أَيْنَ اللهُ؟» قَالَتْ: فِي السَّمَاءِ، قَالَ: «مَنْ أَنَا؟» قَالَتْ: أَنْتَ رَسُولُ اللهِ، قَالَ: «أَعْتِقْهَا، فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ». په داسې حال کې چې ما له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - سره لمونځ کاوه، چې ناڅاپه په خلکو کې یو سړي پرنجې وکړ، نو ما وویل: یرحمک الله (یعني الله دې پر تا رحم وکړي) نو خلکو سترګې ماته راواړولې، نو ما - له ځان سره - وویل: واه مور دې دربانديې بوره شي، څه دې تاسو لره چې ماته راګورئ؟! نو هغوی پیل وکړ او په څپیړو یې خپل ورنونه وهل، کله چې ما دوی ولیدل چې دوی ما چپ کوي نو زه چپ شوم، کله چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - لمونځ وکړ- زما مور او پلار دې له هغه نه قربان شي - هیڅکله مې له هغه وړاندې او نه وروسته داسې ښوونکی نه و لیدلی چې چې له ده څخه دې په ښوونه کې ښه وي، نو قسم په الله چې نه یې ورټلم، نه یې ووهلم، او نه یې راته سپکې سپورې وویلې، ویې فرمایيل: « په دې لمانځه کې د خلکو له خبرو هیڅ شی مناسب نه دی - چې وشي - بلکې (دا) تسبیح، تکبیر او د قرآن تلاوت دی». او لکه څرنګه چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: ما وویل: ای د الله رسوله! زه تازه له جاهلیت څخه راوتلی یم، او الله تعالی اسلام راولیږه، زمونږ څخه ځینې سړي دي چې هغوی کوډګرو ته ورځي ، ویې ویيل: «ته هغوی ته مه ورځه»، وایې: او زمونږ څخه ځیني دي چې هغوی فال نیسي، ویې ویيل: "دا هغه څه دي چې دوی یې په خپلو سینو کې مومي، نو دا دوی ته - د څه رسیدلو څخه - مخنیوی نه کوي". ابن الصباح وایي: نو تاسو لره دي - له سمې لارې وانه ړوي - وایې: ما وویل: ما یوه وینځه درلوده چې زما مېږې یې د احد او جوانیه سیمې ته څېرمه څرولې، نو یوه ورځ ورښکاره شوم، ګورم چې لیوه د هغې له میږو څخه یوه له ځان سره وړې وه، او زه یو انسان یم، غوصه کیږم لکه څرنګه چې -

نور انسانان - غوصه کيږي، هغه مې په څپېړه ووهله، نو رسول الله - صلی الله عليه وسلم - ته راغلم، نو هغه راته دا ډيره درنده کړه، ماوويل: ای د الله رسوله، آيا ازاده يې نه کړم؟ ويې ويیل: "هغه ماته راوله" نو ورته مې راوستله، ورته يې وويل: "الله چيرته دی؟" هغې وويل: په آسمان کې، ويې ويیل: «زه څوک يم؟» هغې وويل: ته د الله رسول يې، ويې فرمايل: "هغه آزاده کړه، يقينا چې هغه مؤمنه ده». (مسلم (۵۳۷)، ابو داود (۹۳۰) او نسائی (۱۲۱۸) روايت کړی دی. او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلَائِكَةٌ بِالنَّهَارِ، وَيَجْتَمِعُونَ فِي صَلَاةِ الفَجْرِ وَصَلَاةِ العَصْرِ، ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ، فَيَسْأَلُهُمْ، وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ: كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي؟ فَيَقُولُونَ: تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ، وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ»، «په تاسو کې د شپې او ورځې ملاېکې يو د بل پسې ځي راځي او د سهار او مازديګر په لمونځونو کې سره يو ځای کيږي، بيا هغه ملاېکې خيژي چې په تاسو کې يې شپه تيره کړې ده نو - الله تعالی له دوی څخه پوښتنه کوي –پداسې حال کې چې هغه د دوی په حال ښه پوهيږي-: زما بندګان مو څنګه پرېښودل؟ هغوی به وايي: په داسې حال کې مو پريښودل چې لمونځ يې کاوه، او په داسې حال کې ورته راغلو چې لمونځ يې کاوه»، بخاري (۵۵۵)، مسلم (۶۳۲) او نسائي (۴۸۵) روايت کړی دی. او د أبو رزين العقيلي - رضي الله عنه - په حديث کې دي وايي چې: ما وويل: ای د الله رسوله، زمونږ رب چيرته و وړاندې له دې چې خپل مخلوقات پيدا کړي، ويې فرمايل: «كَانَ فِي عَمَاءٍ مَا تَحْتَهُ هَوَاءٌ وَمَا فَوْقَهُ هَوَاءٌ، وَخَلَقَ عَرْشَهُ عَلَى الماء»، "هغه په وريځو کې و چې لاندې ترې هوا او له پاسه ترې هوا وه او خپل عرش يې د اوبو له پاسه پيدا کړی دی". ترمذي (3109)، ابن ماجه (182)، طيالسي (1189)، احمد (16188) او ابن ابي عاصم په سنن (625) کې روايت کړی دی. دا او داسې نور ډير آيتونه او احاديث شته چې د - الله تعالی - په پورته والي دلالت کوي. او د الله - تعالی په علو (پورته والي) دليلونه لدې زيات دي چې وشمېرل شي او مسلمانو عالمانو د دې پر ثبوت دليلونه راټول کړي، همدا رنګه پرې عقل او سالم فطرت دلالت کوي، امام ابن بطة - رحمه الله - فرمايلي: «او له صحابه کرامو، تابعينو او د مؤمنانو ټولو علماوو پدې اجماع کړې ده چې الله - تبارک وتعالی - په عرش، د آسمانونو د پاسه، له مخلوق څخه جلا دی او د هغه علم په ټولو مخلوقاتو چاپير دی». (الإبانة الكبرى، د ابن بطة (136/7). الدارمي - رحمه الله - د ابن مبارک قول نقل کړی چې کله ترې پوښتنه وشوه: «په څه سره خپل رب وپيژنو؟ ويې وييل: پدې چې هغه د عرش له پاسه، د اووم آسمان د پاسه په عرش، د مخلوقاتو څخه جلا دی». (الرد على الجهمية، د الدارمي (: 98مخ). او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه:

په عرش استوا ده، او الله تعالی ورڅخه د خپل کتاب په اوو ځایونو کې یادونه کړې ده، له جملې څخه یې د الله تعالی دا وینا ده:

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾﴾ [الأعراف: 54]

(بېشکه ستاسو رب هغه الله دی چې آسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، بیا د عرش له پاسه برقراره شو، هغه په شپې سره ورځ پټوي، په داسې حال کې چې دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره طلب کوي او (پیدا کړې یې ده) لمرسترګه، او سپوږمۍ او ستوري، چې د هغه په حکم سره مسخر کړی شوي دي، خبر اوسئ! خاص هغه لره دي پیدا کول او حکم کول، ډېر برکت والا دی الله؛ پالوونکی د ټول عالم دی). [الأعراف سورت: 54 آیت]

، او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایي چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمایلي دي: «لَمَّا قَضَى اللَّهُ الخَلْقَ، كَتَبَ كِتَابًا عِنْدَهُ: غَلَبَتْ، أَوْ قَالَ: سَبَقَتْ رَحْمَتِي غَضَبِي، فَهُوَ عِنْدَهُ فَوْقَ العَرْشِ». «کله چې الله - تعالی - د مخلوقاتو پیدایښت تمام کړ، نو د خپل ځان سره یې کتاب ولیکه چې: غالب شو، او یا یې وویل: زما رحمت پر غضب باندې مخکې شو، نو دا کتاب له هغه سره د عرش د پاسه دی». بخاري (7553)، مسلم (2751)، ترمذي (3543) او ابن ماجه (189) روایت کړی دی. او لالکائي له ابن عیینه څخه روایت کړی وایي: له ربیعه څخه د الله تعالی د دې قول په اړه پوښتنه وشوه

﴿ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱسْتَوَىٰ ﴿٥﴾﴾ [طه: 5]

چې څنګه یې استوا کړې ده؟ هغه وویل: «استواء معلومه ده او د کیفیت په اړه یې پوښتنه کول معقول کار ندی او د الله لخوا پیغام دی او په رسول یې ښکاره رسوول او پر مونږ یې منل دي» [طه سورت:۵ آیت]:

. (شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة (442/3)، او: العرش، د الذهبي (213/2). او د دې وینا په څېر د دار الهجرت له امام؛ مالک رحمه الله څخه هم روایت دی. (ابو نعیم په الحلية کې (325/6، 326)، البیهقي په اسماء او صفاتو کې (2/304) او ابن عبد البر په التمهيد (138/7) کې روایت کړی دی. او ذهبي رحمه الله فرمایلي دي: علماوو د امام مالک له وینا څخه - چې فرمایلي یې «استواء معلومه ده، کیفیت نامعلوم دی، ایمان پرې واجب دی، او په اړه یې پوښتنه کول بدعت دی» - قاعده جوړه کړې ده چې پدې

باب کې يې تکلاره ګرځولې ده. وګورئ: العلو، د: الذهبی (۱۱۷/۱). او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه: محبت دی، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿... فَسَوْفَ يَأْتِي ٱللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُۥٓ ...﴾ [المائدة: 54]

(نو زر دی چې الله تعالی به داسي قوم راولي چې الله تعالی به هغوي سره محبت کوي او دوی به د الله تعالی سره محبت کوي). [المائدة سورت : 54 آيت]،

امام دارمي - رحمه الله - فرمایلي دي: «نو هغه دوه محبتونه سره يوځای کړل: د خالق سره مينه او د مخلوق سره مينه یو له بل سره ګډ، بیا يې د دواړو تر منځه توپير وکړ؛ هغه چې محبت ورسره کيږي او هغه چې محبت ورسره نه کيږي، تر څو يې مخلوق پر دې پوه شي چې دا دواړه سره په ټکر کې دي او يو له بل سره موافق ندي، نو ويې فرمایل:

﴿۞ لَّا يُحِبُّ ٱللَّهُ ٱلْجَهْرَ بِٱلسُّوٓءِ مِنَ ٱلْقَوْلِ ...﴾ [النساء: 148]

[الله د بدې خبرې ښکاره ویل نه خوښوي خو هغه کس چې ظلم پرې شوی وي (هغه معاف دی)] [النساء سورت: 148 آيت]

او

﴿ ...إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُسْرِفِينَ ١٤١﴾ [الأنعام: 141]

(بيشکه الله اسراف کوونکي نه خوښوي) [الأنعام سورت:  141 آيت]»

. (نقض الدارمي (2/ 865). او فرمایلي يې دي:

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ ٢٢٢﴾ [البقرة: 222]

(يقيناً الله ډېر توبې وېستونکي خوښوي او ښه پاك اوسېدونکي خوښوي). [البقرة سورت: 222 آيت]،

او له سهل بن سعد - رضي الله عنه - څخه روايت وایي چې : نبي - صلى الله عليه وسلم - د خيبر په ورځ وفرمایل: «لَأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلًا يُفْتَحُ عَلَى يَدَيْهِ، يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ، وَيُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ». «سبا ورځ به بيرغ هغه چاته ورکوم چې په لاسونو به يې فتح وشي، هغه د الله او د هغه د رسول سره مينه لري، او الله او رسول له هغه سره مينه

لري». بخاري (3009)، مسلم (2406) او ابوداود (3661) روایت کړی. او پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ، حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ». "له تاسو څخه به هیڅوک تر هغه وخته مؤمن نشي تر څو چې زه ورته د هغه له پلار، زوی او ټولو خلکو څخه محبوب نه شم". بخاري (15)، مسلم (44)، نسائي (5013) او ابن ماجه (67) روایت کړی دی. او د هغه پاک له صفتونو څخه یو : الرضی، دی حق ذات فرمایلي دي:

﴿... وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحۡسَٰنٖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُ ...﴾ [التوبة: 100]

(او له مهاجرینو او انصارو نه هغه وړاندیني اولني (ایمان لرونکي) او هغه کسان چې په نېکۍ سره یې د دوی پیروي کړې ده، الله له دوی نه راضي شوی دی او دوی له هغه نه راضي شوي دي). [التوبة سورت: 100 آیت]

، او له عائشې - رضي الله عنها - څخه روایت دی وایي: یوه شپه مې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - له خپل خوب ځای څخه نادرکه کړ، نو ومې لټاوه- تر دې - چې زما لاس د هغې د دواړو پښو په تلو ولګیده په داسې حال کې چې هغه په جومات کې و، او دواړه پښې یې ودرولې وې او ویل یې: «اللهُمَّ أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ، أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ». (یا الله زه پناه غواړم ستا په رضا سره ستا له غصې نه، او ستا په عفوې (بخښنې) سره، ستا له سزا څخه، او پناه غواړم په تاسره له تا څخه، زه ستا هغه ډول ستاینه نه شم کولی، لکه څرنګه چې تا د خپل ځان ستاینه کړې). (مسلم (486)، ابو داود (879)، ترمذي (3493)، نسائي (169) او ابن ماجه (3841) روایت کړی دی. او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه د خپلو دښمنانو بد ګڼل دي؛ ځکه چې هغو د هغه خوښې بده وګڼله، او هغه څه یې بد وګڼل چې الله پر خپل رسول -صلی الله علیه وسلم- نازل کړې دي، الله تعالی فرمایلي دي: (دغه په دې سبب چې یقیناً دوی د هغه شي متابعت وکړ چې الله یې ناراضه کړ او دوی د هغه رضامندي بده وګڼله، نو هغه د دوی عملونه برباد کړل). او دا قول د الله تعالی:

﴿...وَلَٰكِن كَرِهَ ٱللَّهُ ٱنۢبِعَاثَهُمۡ فَثَبَّطَهُمۡ وَقِيلَ ٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ٤٦﴾ [التوبة: 46]

(او لېکن الله (د جهاد لپاره) د دوی پورته کېدل نه و خوښ کړي، نو دوی یې په سست ساتلو سره بند کړل او وویل شو: تاسو کېنئ له کېناستونکو سره). [التوبة سورت: 46 آیت]

. او له أبو هریرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایي چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «قَالَ اللَّهُ: إِذَا أَحَبَّ عَبْدِي لِقَائِي أَحْبَبْتُ لِقَاءَهُ، وَإِذَا كَرِهَ لِقَائِي

كَرِهْتُ لِقَاءَهُ». «الله -تعالى- وفرمایل: كه چېرته زما بنده زما سره ملاقات خوښوي، نو زه ورسره ملاقات خوښوم، او كه هغه زما سره ملاقات نه خوښوي، نو زه ورسره ملاقات كول بد ګنم». (بخاري (٧٥٠٤) او نسائي (١٨٣٥) روایت كړی دی. او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه : پر دښمنانو یې غضب دی، الله پاک فرمایلي دي:

﴿... وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَلَعَنَهُمۡ ...﴾ [الفتح: 6]

(او الله په دوی باندې غضب كړی دی او په دوی یې لعنت كړی دی). [الفتح سورت: 6 آیت]

، او له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روایت دی وایې: «اشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ عَلَى مَنْ قَتَلَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فِي سَبِيلِ اللَّهِ، اشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ عَلَى قَوْمٍ دَمَّوْا وَجْهَ نَبِيِّ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم». «د الله -تعالى- غضب په هغه چا سخت شو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم یې د الله په لار كې ووژني، د الله - تعالى - غضب په هغه قوم سخت شو چې د هغه د نبي مخ یې په وینو كړ». بخاري (4074) روایت كړی دی. او د هغه پاک ذات له صفتونو څخه یو: المقت (غصه كېدل) دي او هغه یې كافرانو ته غصه ده، حق ذات فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنَادَوۡنَ لَمَقۡتُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُ مِن مَّقۡتِكُمۡ أَنفُسَكُمۡ ...﴾ [غافر: 10]

(بېشكه هغه كسان چې كافران شوي دي، دوی ته به (په دوزخ كې) اواز وكړی شي: یقینًا (تاسو ته) د الله غصه كېدل ډېر لوی وو ستاسو خپلو ځانونو ته له غصه كېدلو څخه). [غافر سورت: 10 آیت].

او د هغه سپېڅلي تعالى ذات له صفتونو څخه: له دښمنانو سره د هغوی د مكر په مقابل كې مكر كول یعنې تدبیر نیول دي، هغوی چې د الله له ولیانو سره مكر كوي: الله -جل جلاله- فرمایلي دي:

﴿وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا وَمَكَرۡنَا مَكۡرٗا وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ۝٥٠ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ مَكۡرِهِمۡ أَنَّا دَمَّرۡنَٰهُمۡ وَقَوۡمَهُمۡ أَجۡمَعِينَ ۝٥١﴾ [النمل: 50-51]

(او دوی مكر وكړ، خاص مكر كول او مونږ هم چل وكړ چل كول، په داسې حال كې چې دوی نه پوهېدل. نو ته وګوره چې د دوی د مكر انجام څنګه و چې بېشكه مونږه دوی او د دوی قوم ټول هلاک كړل). [النمل سورت: 50، 51 آیتونه]

. او د هغه سپيڅلي تعالى ذات له صفتوتو څخه : الأسف، يعني سخته غصه ده، حق ذات - جل جلاله - فرمايلي:

﴿فَلَمَّآ ءَاسَفُونَا ٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ أَجۡمَعِينَ۝٥٥﴾ [الزخرف: 55]

(نو كله چې دوى مونږ غصه كړو (،نو) مونږ له دوى نه انتقام واخيست، پس مونږه دوى ټول غرق كړل). [الزخرف سورت: 55 آيت]

، قتادة او السدي ويلي: «{فَلَمَّا آسَفُونَا} يعني: كله چې دوى مونږ غصه كړو». (تفسير الطبري (622/21). د هغه پاک ذات له صفتونو څخه يو صفت: د هغه چا د دوكې په مقابل كې دوكه دي چې هغه سره دوكه كوي، څكه چې الله - تعالى - هغه منافقان غولوي چې هغوى الله تعالى سره د دوكې كولو هڅه كوي، لوى الله تعالى جل جلاله د عزت او واكمنۍ خاوند فرمايلي دي: (دوى له الله سره دوكه كوي، او له هغو خلكو سره چې ايمان يې راوړى دى، حال دا چې دوى يواځې د خپلو ځانونو سره دوكه كوي، او شعور نه لرياو فرمايلي يې دي: (بېشكه منافقان له الله سره دوكه كوي او الله له دوى سره دوكه او حق - ذات - دا څرګنده كړه چې هغه خپل دښمنان هيروي لكه څنګه چې دوى د هغه سره ملاقات هير كړى دى، الله - تعالى - فرمايلي (هغه كسان چې خپل دين يې تماشه او لوبه ګرځولى دى او دوى دنيايي ژوند دوكه كړي (غولولي) دي، نو نن ورځ به يې مونږ (دوى په سخت عذاب كې) پرېږدو، لكه څنګه چې هغوى د خپلې دې ورځې ملاقات هېر كړى (او عمل يې پرېښى) ود هغه سپيڅلي ذات له صفتونو څخه دا دي چې: الله - جل جلاله - پر هغه چا استهزاء كوي څوک چې پر هغه پاک ذات ملنډې وهي، حق ذات فرمايلي دي: (الله په دوى پورې استهزا كوي او پرېږدي دوى لره په سركشۍ كې ، يعني مهلت وركوي، په داسې حال كې چې دوى حيران سرګردان ګرځي). عباس - رضي الله عنهما فرمايلي: "پر دوى ملنډې وهي تر څو يې په غچ اخستلو سره مسخره كړي". (تفسير الطبري (304/1)، او ابن أبي حاتم په التفسير (143).) كې. د هغه پاک ذات له صفتونو څخه خندا ده، له ابو هريره - رضي الله - عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «يَضْحَكُ اللَّهُ إِلَى رَجُلَيْنِ يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الآخَرَ يَدْخُلَانِ الجَنَّةَ»، "الله - جل جلاله- هغه دوه كسانو ته خندا كوي چې يو يې بل ووژني، او دواړه جنت ته داخليږي". بخاري (2826)، مسلم (1890)، نسائي (3166) او ابن ماجه (191) روايت كړى دى.
او د ابوهريره - رضي الله عنه - په اوږد حديث كې راغلي چې د قيامت په ورځ د الله - جل جلاله- د ليدلو په اړه راغلى دى او په هغه كې جنت ته د وروستي انسان د ننوتلو كيسه بيان كړې ده: «...فَيَقُولُ اللَّهُ: وَيْحَكَ يَا ابْنَ آدَمَ، مَا أَغْدَرَكَ، أَلَيْسَ قَدْ أَعْطَيْتَ العُهُودَ

وَالمِيثَاقَ، أَنْ لَا تَسْأَلَ غَيْرَ الَّذِي أُعْطِيتَ؟ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ لَا تَجْعَلْنِي أَشْقَى خَلْقِكَ، فَيَضْحَكُ اللَّهُ عز وجل مِنْهُ، ثُمَّ يَأْذَنُ لَهُ فِي دُخُولِ الجَنَّةِ...». "... نو الله - تعالى - به وو ايي: هلاک شې ای د آدم زویه، څه شي دومره خائن ګرځولی یې، آیا تاسره ژمنې او تړونونه نه و شوي چې ته به څه نه غواړې پرته له هغه چې درکړل شوي دي؟ نو وبه وايي: ای رب ما دې په خپل مخلوق کې تر ټولو بدبخته مه کرځوه، نو الله تعالی به ورته وخاندي، بيا به جنت ته د ننوتلو اجازه ورکړي...». بخاري روايت کړی (806). وکيع ويلي: «که له تاسو وپوښتل شو چې: آيا زموږ رب خندا کوي؟ نو ووايئ: همداسې مو اوريدلي». شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة (477/3). حافظ ابن بطة په کتاب «الإبانة» کې - د دې عنوان لاندې - باب ايښودلی دی «باب الإيمان بأن الله عز وجل يضحك» باب دی په باره د ايمان لرلو په دې خبره چې الله -جل جلاله- خندا کوي - او پدې کې يې فرمايلي دي: پوه شئ الله -تعالی- دې په تاسو رحم وکړي؛ چې د مؤمنانو له صفتونو څخه د صحيحه روايتونو باورول، د هغې منل دي، په قياس سره پرې د اعتراض کولو پرېښودل او د هغې پر ځای رای او خواهشات نه ايښودل، ځکه يقينا ايمان باور دی، او باور کوونکی هم هغه مؤمن دی، الله -جل جلاله- فرمايلي دي:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا ٦٥﴾ [النساء: 65]

(پس داسې نه ده، ستا په رب مې دې قسم وي! دوی مومنان کېدی نشي تر هغه پورې چې دوی په خپل مينځ کې په پيښو جګړو کې تا فيصله کوونکی ومني، بيا په خپلو نفسونو کې ستا د کړې فيصلې په باره کې هېڅ تنګي ونه مومي او په ښو منلو سره يې ومني). [النساء سورت: 65 آيت]

. د مؤمنانو له نخښانو څخه دا دي: چې الله - تعالی - په هغه څه سره ياد کړي چې هغه پرې ځان ياد کړی او يا يې پرې رسول - صلی الله عليه وسلم - ياد کړی دی، هغه چې علماوو رانقل کړي او باوري راويانو روايت کړي دي؛ هغوی چې له حلالو او حرامو سنتو او آثارو څخه څه شی روايت کوي په هغې کې حجت وي، او هغه څه چې له رسول الله -صلی الله عليه وسلم- څخه صحيح ثابت وي -په اړه يې داسې- نه ويل کيږي چې: څنګه؟ او نه داسې چې: ولې؟ بلکه پيروي يې کوي او -په دين کې- نوښت نه راولي، غاړه ږدي او مخالفت نه کوي، يقين کوي او شک نه کوي، نو هغه څه چې له رسول الله -صلی الله عليه وسلم- څخه صحيح ثابت دي او د عدل خاوندانو روايت کړي دي او يا هغه مؤمنانو چې بايد روايت يې ومنل شي او مخالفت يې ونه شي دا دي چې: الله -تعالی-

خندا کوي. نو لدې څخه انکار نه کيږي او هغه څوک به يې نه مني چې مبتدع او د علماوو په اند د ناوړه حالت خاوند وي. الإبانة الكبرى، د ابن بطة (91/7). او د هغه سپيڅلي ذات له صفتونو څخه : (المجيء او الاتيان) يعني د قيامت په ورځ د خلکو تر منځه د قضاوت په موخه راتلل دي، الله - تعالى - فرمايلي:

﴿هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ رَبُّكَ ...﴾ [الأنعام: 158]

(دوى انتظار نه کوي مګر د دې چې دوى ته ملايك راشي، يا ستا رب راشي). [الأنعام سورت: 158 آيت]

، او الله - تعالى - فرمايلي:

﴿وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلۡمَلَكُ صَفّٗا صَفّٗا ٢٢﴾ [الفجر: 22]

[او ستا رب راشي او ملايك قطار قطار (راشي)]. [الفجر سورت: 22 آيت]

، او الله - تعالى - فرمايلي:

﴿هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِي ظُلَلٖ مِّنَ ٱلۡغَمَامِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٢١٠﴾ [البقرة: 210]

(دوى انتظار نه کوي مګر د دې چې الله دوى ته د وريځو په سيورو کې راشي او ملايك (هم) او معامله فيصله کړى شي، او ټول کارونه خاص الله ته ورګرځول کيږي). [البقرة سورت: 210 آيت].

او له ابوهريرة -رضي الله عنه- څخه روايت دى چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: «يجمع الله الناس يوم القيامة، فيقول: من كان يعبد شيئًا فليتبعه...» «الله به د قيامت په ورځ خلک راغونډ کړي او وبه فرمايي: چا چې د څه شي عبادت کاوه، د هغه پسې دې شي». او همداسې يې حديث تر دې قوله پورې بيان کړ: «وتبقى هذه الأمة، فيقولون: هذا مكاننا حتى يأتينا ربنا، فإذا جاء ربنا عرفناه، فيأتيهم الله عز وجل فيقول: أنا ربكم، فيقولون: أنت ربنا فيتبعونه». «او دا امت به پاتې شي، دوى به ووايي: دا زمونږ ځاى دى تر هغه چې زمونږ رب مونږ ته راشي، نو کله چې زموږ رب راشي موږ به هغه وپيژنو، نو الله -تعالى- به دوى ته راشي او وبه وايي: زه ستاسو رب يم ، نو دوى به ووايي: ته زموږ رب يې، نو پيروي به يې وکړي». بخاري (806)، مسلم (182)، ابوداود

(4730)، ترمذي (2554) او ابن ماجه (178) روایت کړی دی. او د أبو العالية څخه د الله - تعالی - د دې وینا په اړه روایت دی:

﴿هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِي ظُلَلٖ مِّنَ ٱلۡغَمَامِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٢١٠﴾ [البقرة: 210]

[دوی انتظار نه کوي مګر د دې چې الله دوی ته د وریځو په سیورو کې راشي او ملایك (هم)]. [البقرة سورت: 210 آیت]

فرمايي: "پرښتې د وريځو په سیوري کې راځي، او الله - تعالی - په هغه څه کې راځي چې ويې غواړي". الأسماء والصفات، د البيهقي (370/2). او د هغه سپيڅلي ذات له صفتونو څخه : د دنيا آسمان ته په حقيقي توګه راکوزيدل دي لکه څرنګه چې د هغه له عظمت سره ښايي او دا لکه د مخلوقاتو د راښکته کيدو په څېر ندي. بلکې دا يې لکه د نورو صفتونو په څېر دي چې مونږ پرې ايمان لرو او پرې پوهيږو، او د کيفيت په اړه يې ځان نه ستړی کوو، او نه يې په ردولو ځان تکليفوو؛ بلکه په هغه توګه پرې ايمان راوړو لکه څرنګه چې ريښتيني او ريښتيا ګڼل شوي پيغمبر -صلى الله عليه وسلم- پرې خبر راکړی دی، نو فرمايلي يې دي: «إِذَا مَضَى شَطْرُ اللَّيْلِ، أَوْ ثُلُثَاهُ، يَنْزِلُ اللهُ تبارك وتعالى إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَيَقُولُ: هَلْ مِنْ سَائِلٍ يُعْطَى؟ هَلْ مِنْ دَاعٍ يُسْتَجَابُ لَهُ؟ هَلْ مِنْ مُسْتَغْفِرٍ يُغْفَرُ لَهُ؟ حَتَّى يَنْفَجِرَ الصُّبْحُ». «کله چې د شپې نيمايي يا دوه پر دريمه برخه تيره شي، نو زمونږ رب تبارک و تعالی د دنيا آسمان ته راښکته کيږي نو فرمايي: آيا کوم سوال کوونکی شته چې ورکړل شي؟ آيا کوم بلونکی شته چې بلنه يې ومنل شي؟ آيا کوم بخښنه غوښتونکی شته چې بخښنه ورته وشي؟ تر هغه چې سهار وچوي (سهار راوخيژي)». ( مسلم (758) روايت کړی دی. او د امامانو امام محمد بن خزيمة - رحمه الله - په خپل کتاب «التوحيد» کې پدې وينا سره باب ايښی دی: «باب دی د هغه اخبارو په اړه چې سند يې ثابت او د جوړښت له اړخه صحيح دي، د حجاز او عراق علماوو له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه په هره شپه کې د دنيا اسمان ته د رب العالمين د نزول په اړه روايت کړي دي، مونږ ګواهي ورکوو د هغه چا د ګواهۍ په څېر چې په ژبه اقرار کوي او په زړه باور کوي او يقين کوي په هغه څه چې پدې اخبارو کې د متعال رب د نزول په اړه راغلي دي، پرته لدې چې د کيفيت څخه يې يادونه وکړو؛ ځکه چې زمونږ پيغمبر؛ مصطفی - صلى الله عليه وسلم - مونږ ته دا ندي بيان کړي چې زمونږ خالق څنګه د دنيا اسمان ته راښکته کيږي، بلکه مونږ ته يې دا راښودلي چې هغه راښکته کيږي، نو نه خو الله -تعالی- او نه يې پيغمبر -صلى الله عليه وسلم- د هغه څه تشريح

پريښي ده چې مسلمانان ورته د دين په برخه کې اړتيا لري، نو مونږ په هغه څه اقرار کوو چې د نزول په اړه پدې اخبارو کې راغلي دي او د صفت او يا کيفيت په اړه يې ځان نه تکليفوو؛ ځکه چې نبي - صلى الله عليه وسلم - مونږ ته د نزول ( راکوزيدو) د څرنګوالي په اړه څه ندي بيان کړي». التوحيد، د ابن خزيمة (289/1). او حافظ ابن بطة -رحمه الله- په خپل کتاب «الإبانة» کې - پدې وينا سره باب ايښی «باب الإيمان والتصديق بأن الله تعالى ينزل في كل ليلة إلى سماء الدنيا من غير زوال ولا كيف». باب دی د ايمان او اقرار په اړه پر دې چې الله -تعالى- په هره شپه کې د دنيا آسمان ته راکوزيږي پرته له زوال او څرنګوالي بيانولو څخه: بيا هغه -رحمه الله- فرمايلي دي: "پوه شئ -الله دې پر تاسو رحم وکړي- چې الله -تعالى- په خپلو مؤمنو بندګانو باندې د خپل رسول اطاعت او د هغه څه منل چې هغه ويلي او راوړي دي فرض کړي دي همدا رنګه په هغه څه ايمان لرل چې له هغه څخه په صحيح روايت سره ثابت شوي؛ داسې چې نه پرې اعتراض وکړئ،نه ورته بيلګې بيان کړئ او نه يې په اړه داسې پوښتنې وکړئ چې: ولې او نه: څنګه؟ ... او يقينا له پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - څخه صحيح ثابت دي چې هغه فرمايلي: «يَنْزِلُ رَبُّنَا تبارك وتعالى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ، يَقُولُ: مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ مَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ، مَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ» «زمونږ متعال هره شپه د ځمکې آسمان ته را کوزيږي، هغه وخت چې د شپې دريیمه وروستنۍ برخه پاتې شي؛ فرمايي چې: څوک شته چې له ما څخه دعا وغواړي چې ورته يې قبوله کړم، څوک شته چې له ما څخه سوال وکړي، چې وريې کړم، څوک شته چې له ما څخه بخښنه وغواړي، چې بخښنه ورته وکړم؟». په هغه اوږد حديث کې چې موږ به يې -ان شاء الله- په بشپړ ډول يادونه وکړو؛ هغه چې معتبرو، ثقه، په علم کې پخو امامانو، فقهاوو او پرهيزګارانو روايت کړي دي، هغوی چې مونږ ته يې شريعت او د دين بنسټونه رانقل کړي دي لکه: لمونځ، زکات، روژه، حج، جهاد، او ورپسې نور حکمونه لکه: نکاح، طلاق، بيوع، حلال او حرام». الابانة الکبری، ابن بطة (201/7)) (دا حديث بخاري (1145)، مسلم (758)، ابو داود (1315)، ترمذي (446) او ابن ماجه (۱۳۶۶) روايت کړی دی. موږ د رب العالمين لپاره د معيت (ملتيا) په صفت ايمان لرو چې الله -تعالى- په خپل علم، احاطې او مشيئت سره د خپل مخلوق سره مل دی، او الله تعالى ته د دې صفت په ثبوت باندې قرآن او سنت دلالت کوي، الله تعالى فرمايلي:

﴿أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ مَا يَكُونُ مِن نَّجۡوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمۡ وَلَا خَمۡسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمۡ وَلَآ أَدۡنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمۡ أَيۡنَ مَا كَانُواْۖ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُواْ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ٧﴾ [المجادلة: 7]

(آيا ته نه يي خبر چې بېشکه الله پوهېږي په هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي او په هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، نه وي هېڅ پټه مشوره د درېو کسانو مګر هغه (الله) د دوی څلورم وي او نه د پنځو کسانو مګر هغه د دوی شپږم وي او نه له دې نه د کمو وي او نه (له دې نه) د زياتو مګر هغه له دوی سره وي، دوی چې هر چېرې وي، بيا به هغه د قيامت په ورځ دوی په هغو عملونو خبر کړي چې دوی کړي دي، بېشکه الله په هر شي باندې ښه پوه دی). [المجادلة سورت: 7 آيت].

او پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ، إِنَّكُمْ لَا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا، إِنَّكُمْ تَدْعُونَ سَمِيعًا قَرِيبًا، وَهُوَ مَعَكُمْ». "اې خلکو! په خپلو ځانونو رحم وکړئ؛ تاسو کوڼ او غايب -ذات- نه رابلئ ، بلکه تاسو اوريدونکی، نږدې -ذات- رابلئ په داسې حال کې چې هغه تاسو سره مل دی". بخاري (4205)، مسلم (2704)، ابوداود (1526) او ترمذي (3461) روايت کړی دی.

او دا معيت (ملتيا) دوه ډوله دی:

ځانګړی معيت (ملتيا) چې دا د الله تعالى د وليانو او پيغمبر عليهم السلام لپاره ثابته ده او معنا يې مرسته او تاييد دی، الله - تعالى - فرمايلي:

﴿قَالَ لَا تَخَافَآۖ إِنَّنِي مَعَكُمَآ أَسۡمَعُ وَأَرَىٰ ٤٦﴾ [طه: 46]

(ويې ويل: تاسو مه وېرېږئ، بېشکه زه له تاسو دواړو سره يم، زه اورم او زه وينم). [طه سورت: 46 آيت].

او عام معيت (ملتيا) يعنې دا چې الله - تعالى - د ټولو مخلوقاتو سره دی، مؤمن او کافر يې، الله تعالى فرمايلي:

﴿... وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡۚ ...﴾ [الحديد: 4]

(او دغه (الله ) له تاسو سره دی (په اعتبار د علم او د قدرت)، هر چېرې چې تاسو يئ). [الحديد سورت : 4 آيت]،

او د دې معييت (ملتيا) معنى ده : يعنې- هغه ذات - په علم، احاطې، قدرت او واکمنۍ تاسو سره دى.

او دا معيت (ملتيا) د الله تعالى د علو (لوړوالي) سره په ټکر کې نده؛ ځکه د دې معنا -لکه وړاندې چې د علماوو په اجماع سره وويل شو چې په علم او احاطې سره: يعنې دا چې الله تعالى په علم او احاطې سره د خپلو مخلوقاتو سره دى.

او د هغه متعال ذات له صفتونو څخه : العجب دى، أبو هريرة -رضي الله عنه- له نبي- صلى الله عليه وسلم- څخه روايت کوي فرمايي: «عَجِبَ اللَّهُ مِنْ قَوْمٍ يَدْخُلُونَ الجَنَّةَ فِي السَّلَاسِلِ». «الله - جل جلاله - هغه قوم ته تعجب وکړ چې جنت ته په ځنځيرونو تړلي ننوځي». بخاري (3010) او ابوداود (2677) روايت کړى. او له عقبة بن عامر - رضي الله عنه - څخه روايت دى وايي: د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه مې اوريدلي دي چې فرمايل يې: «يَعْجَبُ رَبُّكُمْ مِنْ رَاعِي غَنَمٍ فِي رَأْسِ شَظِيَّةٍ بِجَبَلٍ، يُؤَذِّنُ بِالصَّلَاةِ، وَيُصَلِّي، فَيَقُولُ اللَّهُ عز وجل: انْظُرُوا إِلَى عَبْدِي هَذَا يُؤَذِّنُ، وَيُقِيمُ الصَّلَاةَ، يَخَافُ مِنِّي، قَدْ غَفَرْتُ لِعَبْدِي، وَأَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ». «ستا پروردګار د غره په څوکه کې هغه شپانه ته تعجب کوي چې د لمانځه لپاره اذان کوي او لمونځ کوي، نو الله تعالى فرمايي: زما دې بنده ته وګورئ چې اذان کوي او لمونځ کوي، له ما څخه ويرېږي، ما خپل بنده ته بخښنه وکړه. او جنت ته مې داخل کړ». (ابوداود (1203)، نسائي (666)، احمد (17312) او ابن ابي عاصم په سنن (584) او روياني (232) روايت کړى دى. او مونږ ايمان لرو چې د قيامت په ورځ به مؤمنان خپل رب ګوري، لکه څرنګه چې قرآن او متواترو اخبارو پرې زمونږ له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه خبر ورکړى دى په هغه څه کې چې هغه پرې مؤمنانو ته زيرى ورکړى دى چې هغوى به خپل رب په ښکاره توګه د قيامت په ورځ ګوري. او دا -قسم په الله- د جنتيانو لپاره تر ټولو ستر نعمت دى، الله تعالى فرمايلي:

﴿وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ نَّاضِرَةٌ ٢٢ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٞ ٢٣﴾ [القيامة: 22-23]

(څه مخونه (د مومنانو) به په دغه ورځ (د قيامت) ترو تازه وي. او خپل رب ته به کتونکي (ديدار کوونکي) وي) [القيامة سورت: 22، 23 آيتونه].

او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿۞ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ ٱلۡحُسۡنَىٰ وَزِيَادَةٞۖ ...﴾ [يونس: 26]

(د هغو کسانو لپاره چې نېکي يې کړي ده ډېره نېکه بدله ده(جنت) او زيادت (د الله ليدل). [يونس سورت: 26 آيت].

او د الله ـ تعالى ـ دا وينا:

﴿كَلَّآ إِنَّهُمۡ عَن رَّبِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّمَحۡجُوبُونَ﴾ [المطففين: 15]

(داسې نه ده په کار، بېشکه دوی به په دغې ورځ کې له خپل رب نه يقينًا په حجاب (بند) کړی شوي وي). [المطففين سورت: 15 آيت].

او يقينا چې د امام مالک څخه پوښتنه وشوه نو ورته ووېل شو: ای أبو عبد الله: آيا منافقان به د قيامت په ورځ خپل رب ګوري؟ نو هغه ووېل: که چېرته مؤمنانو د قيامت په ورځ خپل رب نه ليده نو الله تعالى به کافران په حجاب سره نه رټلي چې فرمايلي يې دي: (داسې نه ده په کار، بېشکه دوی به په دغې ورځ کې له خپل رب نه يقينًا په حجاب (بند) کړی شوي وي). (شرح أصول اعتقاد أهل السنة (468/2).) وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ القِيَامَةِ؟ قَالَ: «هَلْ تُضَارُونَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ وَالقَمَرِ إِذَا كَانَتْ صَحْوًا؟»، قُلْنَا: لاَ، قَالَ: «فَإِنَّكُمْ لاَ تُضَارُونَ فِي رُؤْيَةِ رَبِّكُمْ يَوْمَئِذٍ، إِلَّا كَمَا تُضَارُونَ فِي رُؤْيَتِهِمَا»، ثُمَّ قَالَ: «يُنَادِي مُنَادٍ: لِيَذْهَبْ كُلُّ قَوْمٍ إِلَى مَا كَانُوا يَعْبُدُونَ، فَيَذْهَبُ أَصْحَابُ الصَّلِيبِ مَعَ صَلِيبِهِمْ، وَأَصْحَابُ الأَوْثَانِ مَعَ أَوْثَانِهِمْ، وَأَصْحَابُ كُلِّ آلِهَةٍ مَعَ آلِهَتِهِم، حَتَّى يَبْقَى مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللَّهَ، مِنْ بَرٍّ أَوْ فَاجِرٍ، وَغُبَّرَاتٌ مِنْ أَهْلِ الكِتَابِ، ثُمَّ يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ تُعْرَضُ كَأَنَّهَا سَرَابٌ، فَيُقَالُ لِلْيَهُودِ: مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ؟ قَالُوا: كُنَّا نَعْبُدُ عُزَيْرَ ابْنَ اللَّهِ، فَيُقَالُ: كَذَبْتُمْ، لَمْ يَكُنْ لِلَّهِ صَاحِبَةٌ وَلاَ وَلَدٌ، فَمَا تُرِيدُونَ؟ قَالُوا: نُرِيدُ أَنْ تَسْقِيَنَا، فَيُقَالُ: اشْرَبُوا، فَيَتَسَاقَطُونَ فِي جَهَنَّمَ، ثُمَّ يُقَالُ لِلنَّصَارَى: مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ؟ فَيَقُولُونَ: كُنَّا نَعْبُدُ المَسِيحَ ابْنَ اللَّهِ، فَيُقَالُ: كَذَبْتُمْ، لَمْ يَكُنْ لِلَّهِ صَاحِبَةٌ، وَلاَ وَلَدٌ، فَمَا تُرِيدُونَ؟ فَيَقُولُونَ: نُرِيدُ أَنْ تَسْقِيَنَا، فَيُقَالُ: اشْرَبُوا، فَيَتَسَاقَطُونَ فِي جَهَنَّمَ، حَتَّى يَبْقَى مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللَّهَ مِنْ بَرٍّ أَوْ فَاجِرٍ، فَيُقَالُ لَهُمْ: مَا يَحْبِسُكُمْ، وَقَدْ ذَهَبَ النَّاسُ؟ فَيَقُولُونَ: فَارَقْنَاهُمْ، وَنَحْنُ أَحْوَجُ مِنَّا إِلَيْهِ اليَوْمَ، وَإِنَّا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِي: لِيَلْحَقْ كُلُّ قَوْمٍ بِمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ، وَإِنَّمَا نَنْتَظِرُ رَبَّنَا، قَالَ: فَيَأْتِيهِمُ الجَبَّارُ فِي صُورَةٍ غَيْرِ صُورَتِهِ الَّتِي رَأَوْهُ فِيهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ، فَيَقُولُ: أَنَا رَبُّكُمْ، فَيَقُولُونَ: أَنْتَ رَبُّنَا، فَلاَ يُكَلِّمُهُ إِلَّا الأَنْبِيَاءُ، فَيَقُولُ: هَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ آيَةٌ تَعْرِفُونَهُ؟ فَيَقُولُونَ: السَّاقُ، فَيَكْشِفُ عَنْ سَاقِهِ، فَيَسْجُدُ لَهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ». او له أبو سعيد الخدري -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي: مونږ ووېل: ای د الله رسوله ! آيا مونږ به د قيامت په ورځ خپل رب ګورو؟ ويې فرمايل: «آيا تاسو ته د لمر او سپوږمۍ په ليدلو کې کوم تکليف رسيږي کله چې اسمان صاف وي؟»، مونږ ووېل: نه، ويې فرمايل: «نو تاسو به هم په دغه ورځ د خپل رب په ليدلو

کې نه تکلیف کیږئ، مګر دومره؛ لکه څومره چې تاسو د دې دواړو په لیدلو کې تکلیف کیږئ»، بیا یې وویل: یو آواز کوونکی به آواز وکړي: هر أمت دې هغه څه ته ورشي چې د هغه عبادت یې کاوه، نو صلیبیان به خپل صلیب سره لاړ شي، او د بوتانو خاوندان د خپلو بوتانو سره، او د هر معبود خاوندان د خپلو باطلو معبودانو سره، تر دې چې هغه څوک پاتې شي چې د یو الله عبادت کوي له فاجر او فاسق څخه، او پاتې شوني له اهل کتابو څخه، بیا به جهنم راوړل شي، خلکو ته به داسې ښکاري لکه په صحرا کې چې شګې ځلیږي، نو یهودو ته به وویل شي: تاسو د څه شي عبادت کاوه؟ هغوی به وو ایي: مونږ د عزیر؛ د الله د زوی عبادت کاوه، نو ورته به وویل شي: دروغ مو وویل: الله تعالی نه مېرمن او نه زوی درلوده، نو څه غواړئ؟ وبه وایي: مونږ غواړو چې اوبه راکړې، ورته به وویل شي: وڅښئ، نو په جهنم کې به ورلویږي، بیا به نصاراو ته وویل شي: تاسو د څه شي عبادت کاوه؟ هغوی به وو ایي: مونږ د الله د زوی؛ مسیح عبادت کاوه، نو ورته به وویل شي: دروغ مو وویل: الله کومه مېرمن او یا زوی نه درلوده، نو څه غواړئ؟ نو وبه وایي: مونږ غواړو چې اوبه راکړې، ورته به وویل شي: وڅښئ، نو په جهنم کې به ورلویږي، تر دې چې هغه څوک پاتې شي چې د الله عبادت یې کاوه، له نیکانو او فاجرانو څخه، نو ورته به وویل شي: څه شي ایسار کړي یاست حال دا چې ټول خلک لاړل؟ نو هغوی به وو ایي: مونږ ترې جلا شو، حال دا چې مونږ ورته نن ورځ ډېر محتاج یو له هغوي څخه مونږ ته. مونږ یو آواز کوونکی واوریده چې آواز یې کاوه: هر امت دی هغه څه ته ځان ورسوي چې د هغه عبادت یې کاوه، او یقینا مونږ خپل رب ته انتظار یو، وایي: نو جبار ذات به ورته په داسې یو شکل کې راشي چې لومړی ځل یې پرې نه و لیدلی، نو وبه وایي: زه ستاسو رب یم، نو دوی به وو ایي: ته زمونږ رب یې، نو خبرې به ورسره نه کوي مګر پیغمبران، فرمایي: آیا ستاسو او د هغه تر منځ کومه نخښه شته؟ نو وایي: ساق (پنډۍ) نو خپله پنډۍ به ورته لوڅه کړي، نو هر مؤمن به ورته سجده وکړي». (بخاري (۷۴۳۹) او مسلم (۱۸۳) روایت کړی دی. او هغه - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ، كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ، لَا تُضَامُّونَ فِي رُؤْيَتِهِ». «یقینا ژر دی چې تاسو به خپل رب داسې ووینئ لکه څرنګه چې دا سپوږمۍ وینئ، او په لیدلو کې یې تاسو ته کومه سختي نه وي (یعنې ټیل ماټیل پکې نه کوئ)». بخاري (۵۵۴)، مسلم (۶۳۳)، ابوداود (۴۷۲۹)، ترمذي (۲۵۵۱) او ابن ماجه (۱۷۷) روایت کړی. وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ النَّاسَ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ القِيَامَةِ؟ قَالَ: «هَلْ تُمَارُونَ فِي القَمَرِ لَيْلَةَ البَدْرِ لَيْسَ دُونَهُ سَحَابٌ؟» قَالُوا: لَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «فَهَلْ تُمَارُونَ فِي الشَّمْسِ لَيْسَ دُونَهَا سَحَابٌ» قَالُوا: لَا، قَالَ: «فَإِنَّكُمْ تَرَوْنَهُ كَذَلِكَ، يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ القِيَامَةِ، فَيَقُولُ: مَنْ كَانَ يَعْبُدُ شَيْئًا فَلْيَتَّبِعْ، فَمِنْهُمْ مَنْ يَتَّبِعُ الشَّمْسَ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَتَّبِعُ القَمَرَ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَتَّبِعُ الطَّوَاغِيتَ، وَتَبْقَى هَذِهِ الأُمَّةُ فِيهَا مُنَافِقُوهَا، فَيَأْتِيهِمُ اللَّهُ، فَيَقُولُ:

أَنَا رَبُّكُمْ، فَيَقُولُونَ: هَذَا مَكَانُنَا حَتَّى يَأْتِيَنَا رَبُّنَا، فَإِذَا جَاءَ رَبُّنَا عَرَفْنَاهُ، فَيَأْتِيهِمُ اللَّهُ، فَيَقُولُ: أَنَا رَبُّكُمْ، فَيَقُولُونَ: أَنْتَ رَبُّنَا، فَيَدْعُوهُمْ، فَيُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ جَهَنَّمَ، فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يَجُوزُ مِنَ الرُّسُلِ بِأُمَّتِهِ، وَلَا يَتَكَلَّمُ يَوْمَئِذٍ أَحَدٌ إِلَّا الرُّسُلُ، وَكَلَامُ الرُّسُلِ يَوْمَئِذٍ: اللَّهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ».

او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې خلکو وويل: ای د الله رسوله! آيا مونږ به د قيامت په ورځ خپل رب ګورو؟ هغه وويل: آيا تاسو د څوارلسمی شپې د سپوږمۍ ليدلو کې کوم شک کوئ کله چې پرده پرې نه وي؟ هغوی وويل: نه، ای د الله رسوله! هغه وفرمايل: آيا تاسو په لمر ليدلو کې شک کوئ کله چې يې مخته پرده نه وي، هغوی ويل: نه! ويې فرمايل: نو تاسو به يې هم همداسې ګورئ، خلک به د قيامت په ورځ راپاڅيږي، نو وبه وايي: چا چې د هر شي عبادت کاوه د هغه پيروي دې وکړي، نو لدوی څخه به ځينې د لمر پيروي وکړي، او لدوی څخه به ځينې د سپوږمۍ پيروي وکړي، او لدوی څخه به ځينې د شيطانانو پيروي وکړي او دا امت به پاتې شي چې پدې کې به يې منافقان هم وي، نو الله تعالی به ورته راشي ورته به وو ايي: زه ستاسو رب يم، نو هغوی به وو ايي: دا زمونږ ځای دی تر څو مونږ ته زمونږ رب راشي، نو کله چې زمونږ رب راشي مونږ يې پيژنو، نو الله تعالی به ورته راشي، نو وبه وايي: زه ستاسو رب يم، هغوی به ورته وو ايي: ته زمونږ رب يې، نو هغوی به يې راوبلي، نو د جهنم پر ملا به پل ووهل شي، نو زه به لومړی هغه کس يم چې له پيغمبرانو څخه خپل امت له صراط څخه تيروي، او په دغه ورځ به له پيغمبرانو پرته نور هيڅوک خبرې نه کوي، او د پيغمبرانو وينا به په دغه ورځ دا وي: اللهم سلم سلم. ای الله ومو ساتې ومو ساتې». بخاري (806)، مسلم (182)، ابوداود (4730)، ترمذي (2554) او ابن ماجه (178) روايت کړی دی.

د متعال رب د ليدلو حديثونه -الحمد لله- د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په متواتر ډول راغلي دي، او د الله -تعالى- پدې وينا کې ليدل ندي نفي شوي. ځکه چې دا په دنيا کې دي الله تعالى فرمايلي:

﴿... قَالَ رَبِّ أَرِنِيٓ أَنظُرۡ إِلَيۡكَۚ قَالَ لَن تَرَىٰنِي وَلَٰكِنِ ٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡجَبَلِ فَإِنِ ٱسۡتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوۡفَ تَرَىٰنِيۚ ...﴾ [الأعراف: 143]

(ويې ويل: ای زما ربه! ته ما ته (خپل ځان) وښيه چې زه تا ووينم، رب وويل: ته به ما (په دنيا کې) له سره ونه وينې او لېکن ته غر ته وګوره، نو که چېرې هغه پر خپل ځای ثابت پاتې شو، نو بيا به ته ما خامخا ووينې)[الأعراف سورت: ١٤٣ آيت]

. دا هغه څه ته ورته دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ابوذر رضي الله عنه ته په ځواب کې وويل، کله چې هغه له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه وپوښتل: آيا تا

خپل رب لیدلی دی؟ هغه وفرمایل: : «رڼا وه نو کله ما هغه لیدلی شو»، مسلم (178) او ترمذي (3282) روایت کړی. نو زمونږ پیغمبر محمد - صلی الله علیه وسلم - د اسراء (اسمان ته ختلو) په شپه خپل رب ندی لیدلی؛ الله جل جلاله موږ ته د هغه نښانو په اړه خبر راکړی دی چې الله تعالی پرې د اسراء په شپه د هغه عزت او اکرام کړی دی، نو الله تعالی فرمایلي:. (هغه ذات لره پاکي ده چې خپل بنده يې د شپې په يوه لږه برخه کې له مسجد حرام نه مسجد اقصٰی ته بوتلو، هغه (مسجد اقصٰی) چې مونږ د هغه ګېرچاپېره برکت اچولی دی، د دې لپاره چې مونږ هغه ته له خپلو نښو څخه ځینې وښیو، بېشکه هم هغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی

. او الله -تعالی- دا نه دي ذکر کړي چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- خپل رب لیدلی دی او که هغه خپل رب لیدلی وای نو الله -تعالی- به پر هغه -صلی الله علیه وسلم- د نعمت په توګه ذکر کړی و. او همدا رنګه د الله تعالی دا وینا:

﴿لَّا تُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَهُوَ يُدۡرِكُ ٱلۡأَبۡصَٰرَۖ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ﴿١٠٣﴾﴾ [الأنعام: 103]

(نشي را لاندې کولی الله -تعالی- لره نظرونه (سترګي) او هغه الله -تعالی- خو را لاندې کوي ټول نظرونه (د مخلوق) او الله تعالی ډیر باریک بین خبردار ذات دی). [الأنعام سورت: 103 آیت]

، د الله - تعالی - لیدل نه نفي کوي؛ ځکه چې ادراک په لید اضافه معنی ده. او همدا رنګه: لدې آیت څخه مخکې آیتونه پر توحید د ټینګار په موخه او له الله -تعالی- څخه د اولاد د نفي کولو په سیاق کې راغلي دي، نه دا چې د بیا ژوندي کیدو په اړه د خبر ورکولو په موخه راغلي چې د الله تعالی د لیدو سره ټراو ولري. دارمي - رحمه الله - فرمایلي دي: «دا ټول حدیثونه او یا -ډیری یې- په قیامت کې د الله تعالی -د لیدلو په اړه روایت شوي دي، د دې -حدیثونو- په منلو او باور کولو مو له خپلو شیخانو څخه د فقهې او بصیرت خاوندان لاندې کړي دي، او له پخوا نه یې مسلمانان تر دې دمه روایتوي او ایمان پرې لري، نه یې ردوي او نه ترې انکار کوي، او چا چې له بې لارې خلکو څخه ترې انکار کړی دی د هغوی نسبت یې لاروركو ته کړی دی، بلکه د هغوی (مؤمنانو) تر ټولو لویه هیله او په زړونو کې یې د الله د لوی ثواب هیله د خپل خالق مخ ته کتل دي، تر دې چې د جنت له نعمتونو څخه هیڅ شی ورسره نه برابروي». الرد علی الجهمیة، د الدارمي (ص: 122). د مفسرینو امام ابن جریر الطبري رحمه الله فرمایلي: «او د الله - تعالی - د لیدلو په اړه سمه خبره دا ده چې مؤمنان به د قیامت په ورځ خپل رب ویني دا زمونږ هغه دین دی چې مونږ پرې الله تعالی ته غاړه ایښودلې ده او په همدې عقیده مو

اهل سنت والجماعت لاندې کړي دي. هغه -خبره- دا ده چې: جنتیان به یې ګوري؛ د هغه کره أخبارو په روایت چې له رسول الله -صلی الله علیه وسلم- څخه راغلي دي». صریح السنة، د الطبري (20 مخ). ابن بطة رحمه الله فرمايلي: «او یقینا دوی له رؤیت څخه په انکار کولو د هغه د ربوبیت د بطلان اراده کړې ده؛ ځکه کله چې دوی په رؤیت اقرار وکړ، نو په ربوبیت یې اقرار کړی دی؛ ځکه چې الله تعالی د هغه چا ثواب چې په غیبو کې په هغه ایمان ولري نیغ په نیغه لیدل ګرځولی دی (یعنې چې ګوري به یې)». الإبانة الکبری،د ابن بطة (2/ 7). او ولید بن مسلم رحمه الله وایي: له اوزاعي، مالک ابن أنس، سفیان الثوري او لیث بن سعد څخه مې د دې حدیثونو او داسې نورو په اړه پوښتنه وکړه چې د -الله تعالی- د لیدلو یادونه پکې شوې ده، نو هغوی وویل: «څرنګه چې راغلي همغسې یې تېر کړه». الصفات، د الدارقطني ( 75: مخ). او مونږ الله - تعالی - ته وجه (مخ) ثابتوو څرنګه چې د هغه د جلال او عظمت سره ښایي، لکه څرنګه چې الله - تعالی - فرمایلي:

﴿... كُلُّ شَيۡءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجۡهَهُۥۚ لَهُ ٱلۡحُكۡمُ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ۝٨٨﴾ [القصص: 88]

(د هغه له مخ نه غیر هر څیز فنا کېدونکی دی حکم خاص د هغه لپاره دی او خاص هغه ته به تاسو بېرته ورګرځولی شئ). [القصص سورت: 88 آیت]

. او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَيَبۡقَىٰ وَجۡهُ رَبِّكَ ذُو ٱلۡجَلَٰلِ وَٱلۡإِكۡرَامِ۝٢٧﴾ [الرحمن: 27]

(او باقي به پاتې شي ستا د رب مخ چې د جلال او د عزت خاوند دی). [الرحمن سورت: 27 آیت].

او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَٱلَّذِينَ صَبَرُواْ ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِمۡ ....﴾ [الرعد: 22]

(او هغه کسان چې د خپل رب د مخ لټونې لپاره یې صبر کړی دی). [الرعد سورت: 22 آیت]

، او فرمایلي یې دي:

﴿إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِ ٱلۡأَعۡلَىٰ٢٠﴾ [الليل: 20]

(مګر د خپل رب د مخ لټونې لپاره چې تر ټولو اوچت دی). [الليل سورت: 20 آيت]

، او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿... يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ ...﴾ [الأنعام: 52]

(د الله مخ غواړي). [الأنعام سورت: 52 آيت]

. او له نبي - صلی الله علیه وسلم - څخه روایت دی چې هغه فرمایلي دي: «جَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ، آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا، وَجَنَّتَانِ مِنْ ذَهَبٍ، آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا، وَمَا بَيْنَ الْقَوْمِ وَبَيْنَ أَنْ يَنْظُرُوا إِلَى رَبِّهِمْ إِلَّا رِدَاءُ الْكِبْرِ عَلَى وَجْهِهِ فِي جَنَّةِ عَدْنٍ». «دوه جنتونه دي د سپينو زرو، لوښي يې او څه چې پکې دي او دوه جنتونه دي د سرو زرو؛ لوښي يې او څه چې پکې دي، او د خلکو او رب د ليدلو تر منځه يې هيڅ نښته پرته د لويۍ (کبر) له پوړۍ پردې څخه چې په تلپاتي جنت کې يې پر مخ ده». بخاري (۴۸۷۸)، مسلم (۱۸۰)، ترمذي (۲۵۲۸) او ابن ماجه (۱۸۶) روايت کړی دی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «إِنَّ اللهَ عز وجل لَا يَنَامُ، وَلَا يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَنَامَ، يَخْفِضُ الْقِسْطَ وَيَرْفَعُهُ، يُرْفَعُ إِلَيْهِ عَمَلُ اللَّيْلِ قَبْلَ عَمَلِ النَّهَارِ، وعمل النَّهَارِ قَبْلَ عَمَلِ اللَّيْلِ، حِجَابُهُ النُّورُ لَوْ كَشَفَهُ لَأَحْرَقَتْ سُبُحَاتُ وَجْهِهِ مَا انْتَهَى إِلَيْهِ بَصَرُهُ مِنْ خَلْقِهِ». «يقينا الله –تعالی- نه ويده کيږي، او هغه لره نه ښايي چې ويده شي، د بندګانو رزق ښکته او پورته کوي، د ورځې له عمل څخه مخکې د شپې عمل ورته پورته کيږي، او د شپې له عمل څخه مخکې د ورځې عمل ورته پورته کيږي، د هغه پرده رڼا -نور– ده، که هغه لرې کړي، نو د هغه د مخ ورانګې به ټول هغه څه وسوځوي تر کوم ځايه يې چې له مخلوقاتو څخه ليد رسيږي». (مسلم (179) او ابن ماجه (195، 196) روايت کړی دی. او أبو عثمان الصابوني رحمه الله فرمايلي دي: «او همداسې په ټولو صفتونو کې وايي چې قرآن پرې نازل شوی او په صحيحه أخبارو سره راغلي دي لکه السمع (اوريدل)، البصر(ليدل)، العين (سترګه)، الوجه (مخ)، العلم (پوهه)،القوة (ځواک) القدرة (قدرت)، العزة(عزت)، العظمة (لويي)، الإرادة (اراده)، المشيئة (مشيئت / خوښه)، القول (وينا)، الكلام (خبرې)، الرضی،(خوښي) والسخط (غصه) والحياة (ژوند) واليقظة (ويښ والی) والفرح( خوشحالي) والضحك (خندا) او داسې نور پرته لدې چې د مخلوقاتو او مملوکانو له صفتونو سره تشبيه ورکړل شي، بلکې په اړه يې په هغه څه بسنه کوي چې الله او رسول يې -صلی الله عليه وسلم- يې په اړه وينا کړې وي، پرته له دې چې څه پرې ورزيات کړي يا يو څه ورسره ورزيات کړي؛

نو نه د کیفیت، نه د څه شي سره تشبیه، نه تحریف، نه تبدیل، نه تغییر، نه د خبر د لفظ له منځه وړل تر څو له هغه معنا څخه بدلون ومومي چې عرب يې پرې پيژني او يا ورته ناوړه تاویل پیدا کړي، او یا يې په ظاهر حمل کړي، او په اړه يې پوهه الله تعالی ته منسوبه کړي، او پدې اقرار وکړي چې په تاويل يې له الله پرته بل څوک نه پوهيږي، لکه څرنګه چې الله تعالی په علم کې د بارسوخه خلکو څخه خبر ورکړی دی چې هغوی د الله تعالی په دې وینا کې وايي:

﴿... وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٧﴾ [آل عمران: 7]

(او هغه کسان چې په علم کې پاخه دي؛ هغوی وايي: مونږ پر ده ایمان راوړی دی، ټول (محکم او متشابه آیتونه) زمونږ د رب له جانبه دي، او نصیحت نه اخلي مګر د صفا عقل خاوندان). [آل عمران سورت: 7 آيت]

». عقيدة السلف أصحاب الحديث، د أبو عثمان الصابوني (16، 17 مخ). او د هغه سپیڅلي او متعال ذات له صفتونو څخه: د ید (لاس) صفت دی چې په بېلابيلو طريقو يې په اړه په قرآن او سنت کې یادونه شوې ده، کله د تثنيې په ډول او کله الله تعالی خبر ورکوي چې هغه يې راټولوي او غوړوي، او دا چې هغه متعال ذات ځمکه په قبضه کې نيسي او آسمانونه په ښي لاس کې نچه کوي، او کله يې داسې یادونه شوې چې هغه (لاس) د ګوتو درلودونکی دی، او دا ټول ثابتوي چې هغه لاس چې په قرآن او سنت کې يې یادونه شوې ده؛ حقيقي لاس دی چې د الله د شان سره ښايي، مونږ يې په تأويلولو، تشبيه کولو او د هغو آيتونو او حديثونو په تحريف کولو ځان نه تکليفوو، چې دلالت پرې کوي، حق ذات فرمايلي:

﴿قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ أَسۡتَكۡبَرۡتَ أَمۡ كُنتَ مِنَ ٱلۡعَالِينَ ٧٥﴾ [ص: 75]

[(الله) وويل: ای ابليسه! ته هغه کس ته له سجدې کولو نه څه شي منع کړې، چې ما پخپلو دواړو لاسونو پیدا کړی دی؟ آيا تا لويي وکړه، یا ته (له شروع نه) د لوړو اوچتو خلقو څخنې يې؟]. [ص سورت: 75 آيت]

، او الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوۡقَ أَيۡدِيهِمۡۚ ...﴾ [الفتح: 10]

(بېشکه هغه کسان چې له تا سره بیعت کوي، بېشکه همدا خبره ده چې دوی خو له الله سره بیعت کوي، د الله لاس د دوی د لاسونو له پاسه دی). [الفتح سورت: 10 آیت]،

حق ذات فرمايلي دي:

﴿وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٧﴾ [الزمر: 67]

(او دغو (مشرکانو) د الله تعظیم ونه کړ د هغه حق تعظیم، حال دا چې ځمکه ټوله د ده په قبضه کې ده د قیامت په ورځ کې او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړی) شوي دي، ده لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له هغو څیزونو نه چې دوی یې (له هغه سره) شریکوي). [الزمر سورت: 67 آیت].

او له أبو هريرة -رضي الله عنه- څخه روایت دی وایې چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: «احْتَجَّ آدَمُ وَمُوسَى عليهما السلام عِنْدَ رَبِّهِمَا، فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى، قَالَ مُوسَى: أَنْتَ آدَمُ الَّذِي خَلَقَكَ اللهُ بِيَدِهِ، وَنَفَخَ فِيكَ مِنْ رُوحِهِ»، «موسی او آدم د خپل رب په وړاندې سره بحث وکړ، نو آدم پرې په دلیل کې برلاسی شو، موسی وویل: ته هغه آدم یې چې الله په خپل لاس پیدا کړې او په تا کې یې له خپل طرفه روح پو کړ»، (بخاري (۶۶۱۴)، مسلم (۲۶۵۲)، ابو داود (۴۷۰۱)، ترمذي (۲۱۳۴) او ابن ماجه (۸۰) روایت کړی. او په بل روایت کې راغلي چې: «احْتَجَّ آدَمُ وَمُوسَى، فَقَالَ لَهُ مُوسَى: يَا آدَمُ، أَنْتَ أَبُونَا خَيَّبْتَنَا وَأَخْرَجْتَنَا مِنَ الجَنَّةِ، قَالَ لَهُ آدَمُ: يَا مُوسَى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِكَلاَمِهِ، وَخَطَّ لَكَ بِيَدِهِ». «موسی او آدم یو له بل سره دعوا وکړه، نو موسی ورته وویل: ای آدمه! ته زمونږ پلار یې، مونږ دې نا امیده کړو او له جنت څخه دې راوویستلو، آدم ورته وویل: ای موسی، ته الله په خپل کلام سره غوره کړی یې، او تورات یې درته په خپل لاس لیکلی». (بخاري (۶۶۱۴)، مسلم (۲۶۵۲)، ابو داود (۴۷۰۱)، ترمذي (۲۱۳۴) او ابن ماجه (۸۰) روایت کړی. «په صحیح حدیث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ عز وجل، وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ، الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا». «بېشکه عدل او انصاف کوونکي به د الله -تعالی- په وړاندې د رحمان ذات ښي اړخ ته وي، او دواړه لاسونه یې ښي دي (یعنې د کمال په لوړه مرتبه کې دي چې هیڅ نقصان په کې نشته) هغوی چې په خپلو پریکړو، کورنیو او د هغه چا سرپرستي چې ور په غاړه وي عدل او انصاف کوي». (مسلم (1827) او نسائی (5379) روایت

کړی دی. او أبو موسی - رضي الله عنه - له پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - څخه روایت کوي فرمایي: «إِنَّ اللهَ عز وجل يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ، وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ، حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا». «الله - تعالی - خپل لاس شپه مهال غوړوي تر څو د ورځې ګنهکار توبه وباسي، او د ورځې خپل لاس غوړوي تر څو د شپې ګنهکار توبه وباسي، تر دې چې لمر د لویدیځ له خوا راوخیژي». مسلم (2759). روایت کړی دی. او په صحیح کې له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه روایت دی فرمایي: «أَرَأَيْتُمْ مَا أَنْفَقَ مُنْذُ خَلَقَ السَّمَاءَ وَالأَرْضَ؟ فَإِنَّهُ لَمْ يَغِضْ مَا فِي يَدِهِ، وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الماء، وَبِيَدِهِ المِيزَانُ يَخْفِضُ وَيَرْفَعُ». «آیا خبر یاست چې د آسمانونو او ځمکې له پیدا کیدو راهیسې به یې څومره لګښت کړی وي؟ څه چې د هغه په لاس کې دي دغو لګښتونو ندي کم کړي، او د هغه عرش په اوبو باندې و، په لاس کې یې تله ده ښکته کول او پورته کول کوي (یعنې چاته عزت ورکوي او څوک ذلیل کوي، خو دا هر څه په عدل او انصاف سره کیږي)». (بخاري (4684)، مسلم (993)، ترمذي (3045)، او ابن ماجه (197) روایت کړی دی. او له أبو هريرة -رضي الله عنه- څخه روایت دی وایې چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: «لَمَّا خَلَقَ اللَّهُ آدَمَ، وَنَفَخَ فِيهِ الرُّوحَ، عَطَسَ، فَقَالَ: الحَمْدُ لِلَّهِ، فَحَمِدَ اللَّهَ بِإِذْنِهِ...» إلى أن قال: «فَقَالَ اللَّهُ لَهُ وَيَدَاهُ مَقْبُوضَتَانِ: اخْتَرْ أَيَّهُمَا شِئْتَ، قَالَ: اخْتَرْتُ يَمِينَ رَبِّي، وَكِلْتَا يَدَيْ رَبِّي يَمِينٌ مُبَارَكَةٌ، ثُمَّ بَسَطَهَا، فَإِذَا فِيهَا آدَمُ وَذُرِّيَّتُهُ». «کله چې الله -تعالی- آدم پیدا کړ، او روح یې پکې پو کړ، پرنجی یې وکړ، نو ویې ویيل: الحمد لله، نو د الله په اجازه یې د هغه ستاینه وکړه...» تر دې چې وایي: « نو الله تعالی ورته وویل پداسې حال کې چې دواړه لاسونه یې قبضه کړي وو: یو له دې دواړو څخه وټاکه، ویې ویيل: د رب ښی لاس مې ټاکلی دی او زما د رب دواړه لاسونه ښي او برکت والا دي، بیا یې پرانیستل، ګوري چې آدم او اولاده یې پکې ده». ترمذي (3368)، ابن ابي عاصم په سنن (596)، البزار (8194) او النسائي په الکبری (9977) کې روایت کړی دی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «إِنَّ قُلُوبَ بَنِي آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ الرَّحْمَنِ، كَقَلْبٍ وَاحِدٍ يُصَرِّفُهُ حَيْثُ يَشَاءُ». «په حقیقت کې د بني ادم زړونه د رحمن -ذات- د دواړو ګوتو تر منځ داسې دي لکه یو زړه کوم طرف ته چې وغواړي همغه طرف ته یې اړوي». مسلم (2654). روایت کړی دی. او عبدالله ابن امام احمد په خپل کتاب "السنة" کې په خپل سند سره له وکیع څخه روایت کړی ویلي یې دي: «موږ دا حدیثونه په هغه ډول منلي لکه څرنګه چې راغلي دي او نه وایو چې: دا څنګه؟ او نه دا چې دا ولي؟ یعنې لکه دابن مسعود - رضي الله عنه- د خبرې په څېر: «إن الله عز وجل يحمل السموات على أصبع، والجبال على إصبع»، «الله - تعالی - آسمانونه په یوه ګوته بار کړي، او غرونه په بله»، او دا حدیث چې پیغمبر - صلی الله علیه وسلم

فرمایلي: «إِنَّ قُلُوبَ بَنِي آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ الرَّحْمَنِ». "یقینا د بني ادمو زړونه د رحمن - ذات - له ګوتو څخه د دوو ګوتو تر منځه دي". مسلم (2654) روایت کړی دی. او دې ته ورته نور حدیثونه. السنة، د عبدالله بن أحمد (267/1). شریک - رحمه الله- د هغه چا په ځواب کې ویلي چې له هغه څخه یې د هغه چا په اړه پوښتنه وکړه چې د صفاتو په اړه د ځینو حدیثونو څخه انکار کوي: "هغه کسان چې دا حدیثونه یې راوړي هم هغه کسان دي چې قرآن یې راوړی او دا چې لمونځونه پنځه دي، د بیت الله حج او د رمضان روژه -دا ټول یې مونږ ته رانقل کړي- نو موږ الله تعالی نه پیژنو مګر پدې حدیثونو سره". السنة، د عبدالله بن أحمد (273/1). حافظ ابن بطة رحمه الله - د دې حدیثونو له راوړلو وروسته چې الله رب العالمین ته د ید (لاس) صفت ثابتوي فرمایلي: «نو دا حدیثونه او هغه چې دې ته ورته دي او هغه چې د دې په معنا په بشپړ دین او پوره سنت کې راغلي دي: ایمان پرې لرل، منل یې، او له اعتراض پرته یې قبلول، او په روایت کې یې له (کیف) پرته د سلفو د آثارو پیروي کول، او پرته له (ولې) څخه یې منل -واجب دي-». الإبانة، د ابن بطة (313/3).

او لکه څرنګه یې چې ځان د کمال، جمال، جلال، عزت او لویی په صفتونو سره یاد کړی، همدارنګه یې له خپل ځان څخه د نقصان صفتونه نفي کړي دي، او د صفاتو نفي په قرآن کې اصل ندی؛ ځکه اصل د صفتونو ثبوت دی او قرآن او سنت د الله تعالی د صفتونو له یادولو څخه ډک دي لکه څرنګه چې د الله -تعالی- د جلال، لویی او کمال سره ښایي او متعال رب چې کله له خپل ځان څخه کوم صفت نفي کوي نو د دې لپاره یې نفي کوي تر څو یې د ضد په بیانولو سره ځانته کمال ثابت کړي، او یا ځکه کله چې انسانانو د نقصان نسبت هغه ذات ته وکړ چې هغه د عزت او کمال خاوند دی، نو متعال رب هغه نقص نفي کوي چې نسبت یې هغه ته شوی دی.

او له هغه څه څخه چې رب له ځان څخه نفي کړي دي: پرکالي او خوب دي، لکه څرنګه چې د الله -تعالی- پدې وینا کې راغلي:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ ...﴾ [البقرة: 255]

(الله (چې دی) نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی، پر ده نه پرکالي راځي، او نه خوب). [البقرة سورت: 255 آیت]،

او نسیان (هیرول) یې نفي کړي دي، حق ذات فرمایلي:

﴿... وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾﴾ [مريم: 64]

،او ستا رب هیڅکله هېروونکی ندی. حق او سپیڅلي ذات له ځان څخه ستړیا هم نفې کړه؛ [مریم سورت: 64 آیت]

څکه يهودو -د الله لعنت دي وي پرې- الله -تعالی- ته د ستړیا نسبت وکړ کله يې چې مخلوقات پیدا کړل، او سپیڅلي ذات دا هم لرې وګڼله چې ګویا هغه دې د مخلوقاتو د پیدا کولو له بشپړیدو وروسته دمه کړې وي، متعال ذات فرمايلي:

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ ﴿٣٨﴾﴾ [ق: 38]

(او يقينًا يقينًا مونږ آسمانونه او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مینځ کې دي، په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، او مونږ ته هېڅ ستوماني نه ده رارسېدلې). [ق سورت: 38 آیت]

. او زمونږ پاک رب دا ثابته کړه چې هغه مخلوقات د یو لوی حکمت له مخې پیدا کړي دي، او هیڅکله یې مخلوقات بې ځایه ندي پیدا کړي، نو زمونږ رب له ځان څخه د عبث صفت نفي کړ، الله تعالی فرمایلي:

﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَٰكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾﴾ [المؤمنون: 115]

(آیا نو تاسو ګومان کوئ چې بېشکه مونږ تاسو بس عبث پیداکړي یاست او دا چې بېشکه تاسو به مونږ ته راونه ګرځولای شئ؟). [المؤمنون سورت: 115 آیت]،

او حق ذات وښوده چې د هغه قضاوت عادلانه او وینا یې قطعي ده او دا چې هغه پاک ذات د خپل بشپړ عدل له مخې په هیچا ظلم نه کوي، زمونږ متعال رب فرمايلي:

﴿... وَوَجَدُواْ مَا عَمِلُواْ حَاضِرًا ۗ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا ﴿٤٩﴾﴾ [الكهف: 49]

(او دوی به خپل ترسره کړي عملونه حاضر ومومي، او ستا رب پر هیچا ظلم نه کوي). [الکهف سورت: 49 آیت]

، او فرمایي:

﴿.... وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٤٦﴾﴾ [فصلت: 46]

(او ستا رب په (خپلو) بنده ګانو د هېڅ ظلم کوونکی نه دی). [فصلت سورت: 46 آيت ]

. او يهودو او نصاراو الله -تعالی- ته د زوی نسبت وکړ، د هغه کافرانو په څېر چې له دوی څخه مخکې وو، نو الله -تعالی- له ځان څخه زوی نفي کړ، نو الله تعالی وفرماېل:

﴿مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٖ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنۡ إِلَٰهٍۚ ...﴾ [المؤمنون: 91]

(الله (د ځان لپاره) هېڅ اولاد نيولی ندی او نه له هغه سره بل هېڅ معبود شته). [المؤمنون سورت : 91 آيت]،

او هغه سپېڅلي ذات ښکاره کړې ده چې څوک چې زوی ولري بايد ښځه ولري او الله تعالی له ښځې او اولاد څخه پاک دی هغه متعال ذات فرمايلي دي:

﴿بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٞ وَلَمۡ تَكُن لَّهُۥ صَٰحِبَةٞۖ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ١٠١﴾ [الأنعام: 101]

(ناآشنا جوړوونکی د اسمانونو او ځمکې دی، څرنګه هغه لره زوی کېدلی شي حال دا چې د هغه مېرمن نشته، او هر شی يې پيدا کړی او هغه په هر څه باندې پوهه دی). [الأنعام سورت: 101 آيت]،

او فرمايلي يې دي:

﴿وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةٗ وَلَا وَلَدٗا ٣﴾ [الجن: 3]

(او بېشکه شان دا دی چې زمونږ د رب شان ډېر اوچت دی، ده نه ښځه نيولې ده او نه اولاد). [الجن سورت: 3 آيت]

. موږ باور لرو چې الله پاک د هغه لپاره خورا ښکلي نومونه لري او دا چې د هغه نومونه په ښکلا کې تر ټولو لوړې مرتبې ته رسيدلي، نو ښايسته ترې نشته، متعال حق ذات فرمايلي:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ ٨﴾ [طه: 8]

(الله (چې دی) نشته دی هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، خاص د ده لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي). [طه سورت: 8 آيت

]، او له هغې څخه چې د الله تعالی پدې وینا کې راغلي دي:

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ٣ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٤﴾ [الفاتحة: 2-4]

(ټول (د کمال) صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د ټولو عالَمونو ښه پالونکی دی. ( الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ ) ډېر زيات مهربان، همیشه رحم کوونکی دی. د بَدلې د ورځې مالك دی. [الفاتحة سورت: 2-4 آیتونه]

، او د الله -تعالی- پدې وینا کې: (خاص الله تعالى هغه ذات دی چې نشته دی حقدار د بندګۍ پرته له هغه نه، پوهه دی په هر پټ او ښکاره باندې خاص هغه بې حده مهربان او همیشه رحم کوونکی دی.

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِۖ هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ٢٢ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلۡمُؤۡمِنُ ٱلۡمُهَيۡمِنُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡجَبَّارُ ٱلۡمُتَكَبِّرُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٢٣ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢٤﴾ [الحشر: 22-24]

دغه الله هغه ذات دی چې نشته هېڅ حق معبود په حقه مګر هم دی دی، چې (حقیقي) بادشاه دی، ښه پاك دی، سلامتي ورکوونکی (او) امان ورکوونکی دی، نګهبان (محافظ)، ښه غالب (او زورور)، ډېر عظمت والا، ډېر لویۍ والا دی، الله پاك دی له هغو (شیانو) نه چې دوی یې ورسره شریکوي. هم دغه الله پیدا کوونکی، (له نشت نه وجود ته) راوېستونکی، صورت ورکوونکی دی، خاص هم ده لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، د ده پاکي بیانوي هر هغه شی چې په آسمانونو او ځمکه کې دی، او هم دی ښه غالب، ډېر حکمت والا دی). [الحشر سورت: 22-24 آیتونه].

او د الله - تعالی - نومونه اخستل شوي (مشتق) دي او جامد ندي، د الله - تعالی - لپاره هر نوم يو صفت لري نو د رحمت صفت له (الرحيم) څخه اخيستل شوی، او د عزت صفت له (العزيز) څخه او د حکمت صفت له ( الحکيم ) او حيات له الحی څخه او همداسې...

او د هغه - متعال ذات - نومونه بې شمېره دي، پیغمبر - صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ، أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ، أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ»، «ستا په هر نوم سره ستا څخه سوال کوم، چې تا پرې ځان نوملی او یا دې په خپل کتاب کې نازل کړی او یا دې خپل یو بنده ته ورښودلی او یا دې

په علم غيب کې له ځان سره ساتلی وي». الضبي په الدعاء کې (۶)، او ابن ابي شيبه په المصنف کې (۲۹۹۳۰)، او په المسند کې (۳۲۹)، او أحمد (۳۷۱۲) او الحارث بن ابي اسامه په المسند کې، لکه څرنګه چې په : بغية الباحث کې راغلي (۱۰۵۷). او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «إِنَّ لِلهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً إِلَّا وَاحِدًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الجَنَّةَ» "الله - تعالى - لره نهه نوي نومونه دي، يو کم سل، څوک چې هغه حفظ کړي جنت ته به داخل شي". بخاري (2736)، مسلم (2677)، ترمذي (3506) او ابن ماجه (3860) روايت کړی دی. او زمونږ رب مونږ ويرولي يو چې د هغه په نومونو کې کاږه نه شو (الحاد پکې ونه کړو)،الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ۝١٨٠﴾ [الأعراف: 180]

(او خاص د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره بلئ او هغه کسان پرېږدئ چې د هغه په نومونو کې الحاد (کوږوالی) کوي، ژر به هغوی ته د هغو عملونو بدله (سزا) ورکړی شي چې هغوی به کول). [الأعراف سورت: 180 آيت].

د الله تعالی په نومونو کې کږېدل (الحاد) په دوه ډوله دی؛ يو له هغوی څخه په هغه نومونو ځان نومول دي چې روا ندي انسان پرې ځان ونوموي، لکه : الخالق، الرحمن او داسې نور. او بل يې: په هغه نومونو سره د بوتانو نومول چې د الله - تعالی - له نومونو څخه اخيستل شوي وي لکه: اللات د (الله) څخه او: العزى د: (العزيز) څخه. همدا رنګه: انکار ترې کول، له معنا يې منکريدل او يا يې بې معنا ګڼل.

او هغه څه چې په قرآن او سنت کې د الله - تعالی - له نومونو او صفتونو څخه ذکر شوي دي له دې څخه لوی دي چې يو کتاب يې راونغاړي، مګر دا زموږ د عزت لپاره بسنه کوي چې موږ په دې برخه کې يو څو جملو ته اشاره وکړه.

او مونږ ايمان لرو چې يو مسلمان بايد الله -پاک- په کوم صفت او يا نوم سره ياد نه کړي مګر په هغه چې هغه پرې ځان ياد کړی او يا نومولی او يا يې رسول پرې ياد کړی يا نومولی وي او له هغه وروسته نور چپ پاتې شي.

او مونږ پدې نومونو او صفتونو د خپل رب په مراد سره ايمان لرو، او هغه څه چې ترې زمونږ د رسول -صلى الله عليه وسلم- مراد وي، او مونږ پوهيږو چې په حقيقت يې انسانان نه پوهيږي، او نه يې په خپل علم کې راوستلی شي او نه يې پوهه ورته رسيږي،

او مونږ یې په تاویلولو ځان نه تکلیفوو، ځکه چې الله -تعالی- خپل نبي -صلی الله علیه وسلم- ته امر کړی چې ووایي:

﴿قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُتَكَلِّفِينَ۝٨٦﴾ [ص: 86]

(او زه له تکلف کوونکو څخه نه یم). [ص سورت: 86 آیت]،

او لکه څرنګه چې په جنت کې ډول ډول نعمتونه دي چې په قرآن او سنت کې یې یادونه شوې ده، -لدوی څخه- ځینې هغه دي چې د دنیا نعمتونو ته په شکل کې ورته سره په نوم کې یو شی دي، مګر دا چې د دوی ترمنځ توپیرونه او تفاوتونه شتون لري چې انسان یې په خپل علم کې نه شي رانغاړلی، نو که مونږ د جنت په نعمتونو باور لرو حال دا چې لیدلي مو ندي، او نه یې په حقیقت او څرنګوالي پوهیږو نو الله -تعالی- خو له دې ډیر لوی دی چې انسان دې ورسره ورته والی ولري په همدومره خبره چې په ځینو صفتونو او یا نومونو کې ورسره شریک دی او پدې سره له الله - تعالی - څخه د نومونو او صفتونو نفي کول هم نه لازمیږي چې یوازې په لفظ کې سره ورته والی ولري. او د هدایت او پوهې امامانو په دې اړه ویناوې کړي دي، ابن ابی زمنین فرمایلي: «نو دا زمونږ د رب هغه صفتونه دي چې په خپل کتاب کې یې پرې ځان یاد کړی، او د هغه پیغمبر -صلی الله علیه وسلم- پرې یاد کړی دی، او له دوی څخه په هیڅ یو کې نه ټاکلی حد، نه تشبیه (ورته والی) او نه اندازه کول شته، نو پاک دی هغه ذات چې د هغه په څېر هیڅ شی نشته او هغه اوریدونکی او لیدونکی دی، سترګو ندی لیدلی تر څو یې د شتون څرنګوالی بیان کړي، مګر زړونو لیدلی د هغه حقیقتونو له مخې چې ایمان پرې لري». أصول السنة، لابن أبي زمنين ( 74: مخ). او عبدالرحمن بن القاسم فرمایلي: «او هیچا لره نه ښایي چې الله تعالی په یو څه سره یاد کړي مګر په هغه څه چې هغه پرې ځان په قرآن کې یاد کړی دی او نه دا چې لاسونه یې د څه شي سره مشابه کړي، او نه یې مخ د کوم شي سره، مګر وایي به: هغه لره دوه لاسونه دي لکه څرنګه یې چې په قرآن کې د ځان په اړه یادونه کړې ده او هغه لره مخ دی، لکه څرنګه یې چې د ځان په اړه یادونه کړې ده او په هغه ځای کې به -له ځانه څخه د څه ویلو ډډه- کوي چې الله تعالی پرې په قرآن کې ځان یاد کړی، ځکه الله تعالی د ځان په څېر او یا ورته څوک نه لري، مګر هغه الله دی؛ چې له هغه پرته په حقه بل معبود نشته، لکه څرنګه یې چې د ځان په اړه یادونه کړې ده او لاسونه یې پراخه دي لکه څرنګه یې چې د هغوی دواړو په اړه یادونه کړې ده».

﴿... يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ ...﴾ [الزمر: 67]

(او حال دا چې ځمکه ټوله د ده په قبضه کې ده د قيامت په ورځ کې او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړی) شوي دي). [الزمر سورت: ٦٧ آيت]

لکه څرنګه چې هغه د خپل ځان په اړه يادونه کړې ده». أصول السنة، د ابن أبي زمنين ( 75: مخ). او امام حميدي رحمه الله - فرمايلي: او هغه څه چې قرآن او حديث يې په اړه وينا کړې ده، داسې دي لکه:

﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌۚ غُلَّتۡ أَيۡدِيهِمۡ ...﴾ [المائدة: 64]

(وويل يهوديانو: د الله لاس تړل شوی دی، د دوی لاسونه دې وتړل شي). [المائدة سورت: ٦٤ آيت]

، او لکه:

﴿وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٧﴾ [الزمر: 67]

(او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړی) شوي دي). [الزمر سورت: ٦٧ آيت]

، او دې ته ورته نور له قرآن او حديث څخه، نه پکې زياتونه کوو او نه يې تفسيروو، هغه ځای کې ودريږو چېرته چې قرآن او سنت توقف کړی دی. العلو للعلي العظيم، د الذهبي (168: مخ). امام احمد رحمه الله فرمايلي: "مونږ د الله -تعالی- په صفتونو سره د هغه عبادت کوو لکه څرنګه يې چې ځان پرې ستايلی دی، هغه خپل صفتونه په اجمالي توګه پرته له تفصيل څخه بيان کړي دي، او مونږ هم له قرآن او حديث څخه نه اوړو، هغه څه وايو چې هغه ذات فرمايلي دي، او په هغه څه سره يې يادوو په څه سره يې چې د خپل ځان څخه يادونه کړې ده، او له هغه څخه نه اوړو، په ټول قرآن؛ محکم او متشابه دواړو ايمان لرو،او له هغه متعال ذات څخه هيڅ صفت نه لرې کوو تر څو ناوړه -معنا- ورکړي، او هغه صفت ورڅخه نه لرې کوو چې ځان يې پرې ياد کړی دی لکه: کلام، نزول، د قيامت په ورځ د خپل بنده ګوښه کول، او ځان ته يې رانږدې کول، دا ټول پر دې دلالت کوي چې الله تعالی په قيامت کې ليدل کيږي، او دېته يو حد ايښودل بدعت دی، او الله تعالی ته د هغه په امر تسليميدل، او الله جل جلاله لکه د پخوا په څېر متکلم، پوه،

بخښونکی، په پټو او ښکاره و عالم دی، نو دا د الله تعالی صفتونه دي چې ځان یې پرې یاد کړی دی؛ نه ترې لرې کیږي او نه ردیږي، او فرمایلي یې دي:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ ....﴾ [البقرة: 255]

(الله (چې دی) نشته هیڅ لایق د عبادت مگر هم دی دی، همیشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی). [البقرة سورت: 255 آیت]،

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلۡمُؤۡمِنُ ٱلۡمُهَيۡمِنُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡجَبَّارُ ٱلۡمُتَكَبِّرُۚ ...﴾ [الحشر: 23]

(نشته هیڅ حق معبود مگر هم دی دی، چې (حقیقي) بادشاه دی، ښه پاك دی، سلامتي ورکوونکی (او) امان ورکوونکی دی، نگهبان (محافظ) ښه غالب (او زورور)، ډېر عظمت والا، ډېرې لویي والا دی). [الحشر سورت: 23 آیت]،

دا د الله تعالی صفتونه او نومونه دي». الإبانة الكبرى، د ابن بطة (326/7). او له سنت څخه د مدافع امام أبو القاسم -څخه د متعال رب د صفتونو په اړه پوښتنه وشوه- نو هغه وفرمایل: «د مالک، ثوري، اوزاعي، شافعي، حماد بن سلمه، حماد بن زید، أحمد بن حنبل، یحیی بن سعید، عبدالرحمن بن مهدي، او د اسحاق بن راهویه مذهب دا دی چې: د الله تعالی هغه صفتونه چې ځان یې پرې یاد کړی دی، او یا یې رسول په هغې سره یاد کړی دی لکه: السمع (اوریدل)، البصر (لیدل)، الوجه (مخ)، الیدین (لاسونه)، او ټول صفتونه یې، دا په ظاهر سره اخیستل کیږي یعنې په هغه معنا سره چې پیژندل شوي وي، پرته له هغه کیفیت څخه چې په اړه یې گومان کیږي، او پرته له تاویل او تشبیه څخه». العلو للعلي العظيم د الذهبي (459/2). او همدا رنگه یې فرمایلي دي: «او زه -د الله تعالی په توفیق- له سلفو څخه زمونږ د امامانو د یو ټولگي یادونه کوم چې په دې معناگانو یې پیل کړی و، له هغوی څخه: أبو عبد الله سفیان بن سعید بن مسروق الثوری؛ یقینا چې هغه د سنت په اړه خپله عقیده او مذهب له یو ځای څخه په زیاتو ځایونو کې ښکاره کړې و او په شعیب بن حرب یې املا کړی و، او د هغوی له ډلې څخه: أبو محمد سفیان بن عیینه الهلالي دی؛ کله چې له هغه څخه پوښتنه وشوه نو هغه د خپلې عقیدې له مخې جواب ووایه دا خبره - محمد بن اسحاق الثقفي روایت کړې ده او د دوی له جملې څخه أبو عمرو عبد الرحمن بن عمرو الأوزاعي د شام د خلکو امام هم دی، هغه هم په خپل عصر کې خپله عقیده ښکاره کړې وه - دا خبره - ابن اسحاق الفزاري روایت کړې ده، او لدوی څخه: أبو عبد الرحمن بن عبد الله بن المبارک د خراسان د خلکو امام او الفضیل بن عیاض

او وکیع بن الجراح او یوسف بن أسباط هم دي، دوی هم د خپلې عقیدې او مذهبونو ښکارونه په سنت سره کړې وه او لدوی څخه: شریک بن عبد الله النخعي، یحیی بن سعید القطان، أبو اسحاق الفزاري هم دي. او له ډلې څخه یې: أبو عبد الله مالك بن أنس الأصبحي المدیني د دار الهجرت امام او فقیه الحرمین دی، دوی هم خپله عقیده د ایمان او قرآن اړوند ښکاره کړې وه، او لدوی څخه: أبو عبد الله محمد بن إدریس الشافعي المطلبي هم و چې په خپله زمانه کې د فقهاوو سردار و او لدوی څخه: أبو عبید القاسم بن سلام، او النضر بن شمیل او أبو یعقوب یوسف بن یحیی البویطي د امام شافعي له شاګردانو څخه؛ ده هم خپله عقیده هغه مهال ښکاره کړه کله چې د قرآن اړوند فتنه رامنځته شوه (چې آیا مخلوق دی که نه) او له دوی څخه أبو عبدالله أحمد بن حنبل؛ په خپل وخت کې د اهل الحدیثو سردار،....او أبو أحمد بن أسامة القرشي الهروي د خراسان له غوره علماوو او فقهاوو څخه و، هغه هم خپله عقیده املا کړې وه او فرمایلي یې دي: د هغو کسانو لپاره چې الله تعالی د هدایت علم او په سنتو -د یوهې- عزت ورپه برخه کړی د هغه چا نه چې د ورستنو (خلف) څخه پاتې دي تر څو په همغو سلفو پسې اقتدا وکړي کوم چې له دوی څخه وړاندې تېر شوي دي، او دا چې زمونږ او د اهل الأثر څخه زمونږ د امامانو مذهب دا دی چې ووایو: الله -پاک- یو دی او شریک نه لري، نه یې مخالف شته، نه برابر او نه د ده په څېر بل ذات، هغه ذات چې یو او بې نیازه دی، نه یې ښځه شته او نه یې څو په زوی ولې نیولی او په واکمنۍ کې ورسره هم هیڅوک ګډون نه لري». الحجة في بیان المحجة (508/2). او هغه رحمه الله همدا رنګه ویلي دي: «د صفاتو په اړه د روایت شوو أخبارو لار دا ده چې: ایمان پرې راوړل شي، مخالفت یې ونه شي او داسې تعامل ورسره وشي لکه څرنګه چې پخوانیو ورسره کړی و، پرته له تمثیل او تاویل څخه». الترغیب والترهیب، د قوام السنة (253/1). او ابن قتیبة رحمه الله فرمایلي: «د صفتونو په اړه عادلانه وینا دا ده چې پر هغه څه چې مونږ باور لرو او د ثقه راویانو په روایت رانقل شوي دي چې ایمان پرې ولرو، نو مونږ هم په رؤیت د الله تعالی په لیدلو) او د هغه په راښکاره کېدلو ایمان لرو او دا چې هغه تعجب کوي، د ځمکې آسمان ته راکوزیږي او دا چې هغه په عرش دپاسه برابر دی او په نفس، دواړو لاسونو پرته لدې چې د څرنګوالي په اړه یې څه ووایو، یا ورته حد وټاکو، او دا چې هغه څه چې مونږ ته راغلي په هغه څه یې قیاس کړو چې راته ندي راغلي، نو موږ هیله لرو چې په دې وینا او تړون سره به سبا ورځ د نجات لار ومومو، ان شاءالله». الاختلاف في اللفظ والرد على الجهمیة، د ابن قتیبة ( 53: مخ ). او زهري ویلي: «په الله تعالی وضاحت، په رسول رسوونه او پر مونږ تسلیمیدل دي». الحجة في بیان المحجة (512/2)، او شرح السنة د البغوي (171/1).

# )كتـــاب الإيمـــان بالـمـلائكة (دا كتاب دى پر ملايكو د ايمان په اړه دى

## د كتاب لنډيز

او مونږ په ملاېكو باور لرو، او موږ په يقين سره پوهيږو چې په ملائكو باور د ايمان دويم ركن دى.

په ملائكو باندې ايمان لاندې معناوې لري:

لومړۍ يې: د دوى شتون ريښتيا ګڼل.

دويم: دوى ته خپل مقام او منزلت وركول او دا ثابتول چې دوى د الله بنده ګان او مخلوقات دي، لكه پيريان او انسانان، دوى د امر لاندې او مكلف دي، د هيڅ كار د كولو وړتيا نه لري مګر هغه چې الله تعالى يې د كولو وړتيا وركړې وي، مرګ پرې راځي، مګر الله تعالى دوى ته لرې نيټه ټاكلې، نو تر هغه يې نه وفاتوي تر څو چې هغه نيټې ته نه وي رسيدلي او هيڅكله يې په داسې يو څه سره يادونه نه كيږي چې صفت كول يې له الله تعالى سره شرک كولو ته اړباسي او دوى خدايان نه بلل كيږي لكه څرنګه چې مشركانو دعوا كړې وه.

دريم: پدې اعتراف كول چې له دوى څخه د الله تعالى رسولان دي، چې له انسانانو څخه يې الله تعالى هغه چاته ليږي چاته چې وغواړي او د دې اقرار او اعتراف پسې دا منل چې له دوى څخه -په اوږو- د عرش باروونكي دي او لدوى څخه صف تړونكى دي او لدوى څخه د جنت خزانه داران دي او لدوى څخه د اور خزانه داران دي او لدوى څخه د -بنده ګانو- د كړنو ليكونكي دي او لدوى څخه هغه دي چې وريځې روانوي او د دې ټولو يا اكثره مواردو په اړه په قرآن كريم كې يادونه شوې ده. شعب الإيمان (1/ 296).

څلورم: په ملائكو باندې اجمالي او تفصيلي ايمان، نو په عمومي توګه د ملائكو په وجود ايمان لرو او په هغو ملايكو تفصيلي ايمان لرو چې د هغو په نومونو، صفتونو او اعمالو باندې پوه يو لكه څرنګه چې په قرآن او سنت كې راغلي دي.

او په هغو یې ایمان لرو چې مونږ یې پیژنو او هغه چې نه یې پیژنو، او د دوی په عملونو او صفتونو هم ایمان لرو، او پدې ایمان لرو چې د دوی عملونه، صفتونه او شمېر چې له مونږ څخه پټ دی د هغو په نسبت ډیر دي چې مونږ ته معلوم دي، خو مونږ په دې ټولو ایمان لرو لکه څرنګه چې الله -تعالی- او د هغه رسول -صلی الله علیه وسلم- موږ ته خبر راکړی دی، نه یې څرنګوالی غواړو او نه یې په خپلو عقلونو سره ردوو او نه پرې په خپلو نظریاتو سره شک کوو او نه یې په خپل اجتهاد سره تاویلوو، بلکه وایو: ایمان مو راوړی، ریښتیا یې ګڼو او غاړه مو ورته ایښودلې ده.

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالی - ملاېکې له رڼا څخه پیدا کړي، نو دوی د الله - تعالی - مخلوقات دي، په ځانګړې بڼه یې پیدا کړي دي چې یوازې الله -تعالی- یې په حقیقت پوهیږي، او دوی د -الله تعالی- پالل شوي بندګان دي، چې د خپل عبادت لپاره یې پیدا کړي او تر څو یې اوامر پر ځای کړي، نو عبادت یې کوي او هیڅکله یې له عبادت څخه سرغړونه نه کوي.

د دوی له عبادتونو څخه: تسبیح، سجده، ویره د زړه له لړزیدو سره دي او دوی - د ستر عبادت سره - د خپل رب څخه ډیره ویره لري او له عبادتونو څخه یې دا دي: چې دوی د الله لپاره مینه او د الله لپاره محبت کول دي.

او مونږ ایمان لرو چې الله -تعالی- دوی په داسې شکل پیدا کړي دي چې یوازې هغه ذات پرې پوره عالم دی چې دوی یې په هغه بڼه پیدا کړي دي.

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالی - دوی ته وزرونه ورکړي او واک یې ورکړی چې پیغمبرانو او رسولانو ته یې د انسانانو په شکل کې ورشي، او له مشرکانو څخه چې چا دا ادعا کړې ده چې ملایکې د الله -تعالی- لونې دي، نو الله تعالی دروغجن ګڼلي دي.

او مونږ ایمان لرو چې پرښتې خوراک او څښاک نه کوي، ځکه هغوی شهوتونه نه لري، او دا چې د هغوی له خویونو څخه یو حیاء ده او هغوی په هر هغه څه زوریږي چې بني آدم ورڅخه زوریږي.

او موږ باور لرو چې الله په دوی کې ځواک او زړورتیا پیدا کړې ده چې په علم کې راوستل یې ناشوني دي او ملائکې بې شمېره مخلوقات دي چې شمیر یې نشي کولی پرته له هغه چا څخه چې دوی یې پیدا کړي دي.

او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی عزتمنې ګرځولي، او ډول ډول ستر کارونه یې ورترغاړي کړي دي، او تر ټولو عزتمن یې دا دی چې د الله - تعالی - او د هغه د بنده

ګانو تر منځه يې استازي دي، د هغه وحيې وررسوي، او پيغمبرانو-عليهم السلام- ته په وحي رسولو ګمارل شوې ملاېکه جبريل -عليه السلام- دی، او کله کله يې الله تعالى د امتحان لپاره له انبياوو پرته نورو خلکو ته هم ليږي.

د دوی له کړنو څخه : د عرش پورته کول، د تقدير ليکل، د رحم او په هغو کې چې څوک دي د چارو سمبالول (يعنې پيدا کول، انځورول او روح پکې اچول)، د خلکو مړينه، په دنيا او آخرت کې په بدنونو کې د روحونو پوکول، مؤمنانو ته دعا کول او له الله تعالى څخه ورته بخښنه غوښتل، د مؤمنانو سره په عبادتونو کې حاضريدل، د هغوی د ښو خبرو پورته کول، د هغوی د اعمالو په اړه رب ته خبر ورکول - حال دا چې هغه په هر څه خبر او يوه ذات دی چې اړتيا نه لري څوک يې خبر کړي.

د دوی له اعمالو څخه: په ايماني موسمونو کې ځمکې ته راښکته کېدل لکه د جمعې ورځ، د عرفې ورځ او د قدر شپه.

او د دوی له عملونو څخه : پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته پر هغه د امتيانو د درود رسول.

د دوی له اعمالو څخه: د بني آدم ساتنه، د ښو او بدو اعمالو ليکل، له دجال څخه د پيغمبر د ښار ساتنه، په قبر کې له مړو څخه پوښتنه کول، مؤمنانو ته د مرګ په وخت کې د سترې بريا زيری ورکول، په آخرت کې هغوی ته ښه راغلاست ويل، او پر هغوی د جنت له دروازو څخه ورننوتل او دا چې د قيامت په ورځ به د الله -تعالى- سره قطار قطار راښکته کيږي.

او د دوی له عملونو څخه: دا دي چې په دوی کې د جنت خزانه دار او د دوزخ خزانه دار دی.

او مونږ ايمان لرو چې الله - تعالى - د ملائکو لپاره مرتبې او درجې ټاکلي دي او په مقام کې ترټولو لوړې ملاېکې جبرائيل، ميکائيل او اسرافيل دي او تر ټولو عزتمندې يې: د عرش پورته کوونکي دي او همدارنګه هغه ملاېکې چې د بدر په جګړه کې يې برخه اخيستې وه. په هر آسمان کې د ملاېکو شمير له الله -تعالى- څخه پرته بل څوک نشي شمېرلای، او دا ملاېکې هره يوه يې ځانته پيژندل شوی ځای لري او په دوی کې ځينې مقربې دي.

## )بــاب وجوب الإيمان بالـملائكة (باب دى په بيان د دې کې چې پر ملايکو ايمان واجب دى.

او مونږ پر ملائکو ايمان لرو او په يقين سره پوهيږو چې په ملائکو ايمان راوړل د ايمان دويم رکن دى، الله -تعالى- فرمايلي دي:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ ...﴾ [البقرة: 285]

(رسول پر هغه څه ايمان راوړى دى؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړى شوى دى او مومنانو هم، ټولو ايمان راوړى دى په الله باندې او د هغه پر ملايکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو باندې). [ البقرة سورت: 285 آيت]

، او الله تعالى فرمايلي:

﴿۞ لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ ...﴾ [البقرة: 177]

(نيکي دا نه ده چې خپل مخونه د مشرق او مغرب په طرف وګرځوئ، خو لېکن نيکي (د هغه چا) ده چې پر الله او پر ورځ د آخرت او پر ملايکو او پر کتابونو او پر نبيانو يې ايمان راوړى). [البقرة سورت: 177 آيت]،

او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دى وايي چې يوه ورځ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - خلکو ته راښکاره شو، نو يو سړى ورته راغى، او ويې ويل: اى د الله رسوله ! ايمان څه دى؟ ويې فرمايل: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكِتَابِهِ، وَلِقَائِهِ، وَرُسُلِهِ، وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ الْآخِرِ». "دا چې په الله، د هغه پر ملائکو، د هغه پر کتابونو، د هغه سره په مخ کيدلو، او په بعث يعنې بيا راپورته کېدلو ايمان ولرې". بخاري (4777)، مسلم (9) او ابن ماجه (64).) روايت کړى دى. بيهقي رحمه الله فرمايلي دي: "په ملايکو ايمان په څينو نقطو دلالت کوي: يو له دوى څخه د دوى په شتون باور لرل او بل: دوى ته خپل مقام او مرتبه ورکول او دا ثابتول چې دوى د الله بنده ګان او مخلوقات دي، لکه پيريان او انسانان، دوى د امر لاندې او مکلف دي، د هيڅ کار د کولو وړتيا نه لري مګر هغه چې الله تعالى يې د کولو وړتيا ورکړې ده، مرګ پرې راځي، مګر الله تعالى دوى ته لرې نيټه ټاکلې ده، نو تر هغه يې نه وفاتوي تر څو چې ورته نه وي رسيدلي او هيڅکله

په داسې يو صفت سره نه يادول کيږي چې هغه له الله تعالی سره شرک وي، او دوی د عبادت لايق نه بلل کيږي لکه څرنګه چې لومړنيو دعوا کړې وه. ( دوی چې کله اوائل (لومړني خلک) يادوي نو موخه يې ورڅخه فيلسوفان وي). دريم: پدې اعتراف کول چې له دوی څخه د الله تعالی رسولان دي، چې له انسانانو څخه يې الله -تعالی- هغه چاته ليږي چاته چې وغواړي او د دې اقرار او اعتراف پسې دا منل چې له دوی څخه -په اوږو- د عرش باروونکي دي او لدوی څخه صف تړونکی دي او لدوی څخه د جنت خزانه داران دي او لدوی څخه د اور خزانه داران دي او لدوی څخه د -بنده ګانو- د عملونو ليکونکي دي او لدوی څخه هغه دي چې وريځې روانوي او د دې ټولو يا اکثره مواردو په اړه په قرآن کريم کې يادونه شوې ده». شعب الإيمان (1/ 296).

نو بيهقي په ملائکو باندې د ايمان درې معناوې ذکر کړې.

څلورم: په ملائکو باندې اجمالي او تفصيلي ايمان، نو په عمومي توګه د ملائکو په وجود ايمان لرو او په هغو ملايکو تفصيلي ايمان لرو چې د هغو په نومونو، صفتونو او اعمالو باندې پوه يو لکه څرنګه چې په قرآن او سنت کې راغلي دي.

او په هغو يې ايمان لرو چې مونږ يې پيژنو او هغه چې نه يې پيژنو او د دوی په عملونو او صفتونو هم ايمان لرو، او پدې ايمان لرو چې د دوی عملونه، صفتونه او شمېر چې له مونږ څخه پټ دی د هغو په نسبت ډېر دي چې مونږ ته معلوم دي، خو مونږ. په دې ټولو ايمان لرو لکه څرنګه چې الله -تعالی- او د هغه رسول -صلی الله عليه وسلم- مونږ ته خبر راکړی دی، نه يې څرنګوالی غواړو او نه يې په خپلو عقلونو سره ردوو او نه پرې په خپلو نظرياتو سره شک کوو او نه يې په خپل اجتهاد سره تاويلوو، بلکه وايو: ايمان مو راوړی، ريښتيا يې ګڼو او غاړه مو ورته ايښودلې ده.

## )بــــاب خلْق الـملائکة وکثرة عددهم وصفاتهم (باب دی په بيان د ملائکو د پيدايښت کې، او د هغوی د زيات شمير او د صفتونو په اړه.

او مونږ ايمان لرو چې الله - تعالی - ملائکې له نور څخه پيدا کړي دي، پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - فرمايلي: «خُلِقَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ نُورٍ»، "ملاېکې له رڼا (نور) څخه پيدا شوې دي". ( مسلم روايت کړی دی (2996). دوی د الله - تعالی -مخلوقات دي، هغه په ځانګړې بڼه کې پيدا کړي دي، خو دوی يوازې تش روحونه ندي او نه تش قدرتونه، بلکې يوه غيبي نړی او پالل شوي بنده ګان دي چې هغه د خپل عبادت او امرونو پر ځای

کولو لپاره پيدا کړي دي، نو دوی يې عبادت کوي او له عبادت څخه يې سرغړونه نه کوي. او د دوی له عبادتونو څخه تسبيح، سجده، ويره، د الله له ويرې لړزيدل او داسې نور دي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿... لَّا يَعۡصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ۝٦﴾ [التحريم: 6]

(دوی په هغه څه کې د الله نافرماني نه کوي چې دوی ته يې حکم کړی وي او دوی هغه څه کوي چې امر يې ورته کيږي). [التحريم سورت: 6 آيت]

، همدارنګه فرمايلي يې دي:

﴿وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن دَآبَّةٖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ۝٤٩﴾ [النحل: 49]

(او خاص د الله لپاره سجده کوي هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي؛ له خوځنده ځيزونو څخه او ملايك هم، په داسې حال کې چې دوی تکبر نه کوي). [النحل سورت: 49 آيت]

، الله - تعالی - فرمايلي:

﴿وَتَرَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنۡ حَوۡلِ ٱلۡعَرۡشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡۚ ...﴾ [الزمر: 75]

(او (ای نبي) ته به ملايك ووينې، چې د عرش ګېر چاپېره راتاوېدونکي وي، چې د خپل رب له حمد سره تسبيح وايي). [الزمر سورت: 75 آيت]

، او دوی - د لوی عبادت سربېره - بيا هم د خپل رب څخه سخت ويرېږي، الله تعالی فرمايلي: ﴿يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ۩۝٥٠﴾ [النحل: 50]

(دوی له خپل رب څخه وېرېږي چې د دوی له پاسه دی او دوی کوي هغه څه چې دوی ته حکم کيږي). [النحل سورت: 50 آيت].

د دوی له عبادتونو څخه دا دي چې دوی: د الله لپاره مينه او محبت کوي، الله تعالی فرمايلي دي: «إِذَا أَحَبَّ اللَّهُ العَبْدَ نَادَى جِبْرِيلَ: إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ فُلاَنًا فَأَحْبِبْهُ، فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ، فَيُنَادِي جِبْرِيلُ فِي أَهْلِ السَّمَاءِ: إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ فُلاَنًا فَأَحِبُّوهُ، فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ، ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ القَبُولُ فِي الأَرْضِ»، "کله چې الله له بنده سره مينه وکړي، نو جبرائيل ته غږ وکړي چې :

الله له فلاني سره مينه لري، نو له هغه سره مينه ولره! نو جبرئيل له هغه سره مينه پيدا کړي، بيا جبرائيل د اسمان پر اوسيدونکو غږ وکړي چې: الله له فلاني سره مينه لري، نو له هغه سره مينه ولرئ! نو د آسمان اوسيدونکي له هغه سره مينه پيدا کړي، بيا ورته په ځمکه کې قبوليت ومونډل شي ( يعني د ځمکې خلک ورسره مينه او محبت پيدا کړي). بخاري (۳۲۰۹)، مسلم (۲۶۳۷) او ترمذي (۳۱۶۱) روايت کړی دی. او د الله لپاره دښمني کوي او په غصه کيږي، او د الله تعالی په محرماتو باندې غيرت کوي، او په هغه چا لعنت وايې چې الله پرې لعنت ويلی وي، الله تعالى فرمايلي دي: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٌ أُوْلَـٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةُ ٱللَّهِ وَٱلۡمَلَـٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ١٦١﴾ [البقرة: 161]

(بېشکه هغه کسان چې کفر يې کړی دی او په داسې حال کې مړه شول چې کافران وو، (نو) دغه کسان، په دوی باندې د الله لعنت دی او د ملايکو او د ټولو خلقو (لعنت دی). [البقرة سورت: 161 آيت].

او رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ تَمَاثِيلُ أَوْ تَصَاوِيرُ». «پرښتې هغه کور ته نه ننوځي چې په هغه کې مجسمې او انځورونه وي». مسلم (2112) روايت کړی دی. او مونږ ايمان لرو چې الله تعالى -پرښتې- په هغه بڼه پيدا کړي دي چې له هغه پرته پرې بل څوک نه پوهيږي، له جابر بن عبد الله -رضي الله عنهما- څخه روايت دی چې نبي -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «أُذِنَ لِي أَنْ أُحَدِّثَ عَنْ مَلَكٍ مِنْ مَلَائِكَةِ اللَّهِ مِنْ حَمَلَةِ الْعَرْشِ، إِنَّ مَا بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِهِ إِلَى عَاتِقِهِ مَسِيرَةُ سَبْعِ مِائَةِ عَامٍ». «ما ته اجازه راکړل شوه چې د الله تعالى له ملايکو څخه د يوې په اړه وينا وکړم چې عرش پورته کوي، د هغې د غوږ د پوځکي (نرمې) څخه تر اوږې پورې د اووه سوه کلونو په اندازه مزل دی». أبو داود (4727)، ابن طهمان په خپلې مشيخه (21) کې، طبراني په الأوسط (1709) او أبو الشيخ په العظمة (313) کې روايت کړی دی. او مونږ ايمان لرو چې الله تعالى دوی ته وزرې ورکړي دي، حق ذات فرمايلي دي: وَ{ (ملايکو لره رسولان ګرځوونکی دی، (داسې ملايک) چې د وزرو والا دي، دوه دوه او درې درې او څلور څلور، هغه په پيدايښت کې زياتوي چې څه وغواړي). [فاطر سورت: 1 آيت]، او له عبد الله بن مسعود - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې محمد -صلى الله عليه وسلم- جبرائيل -عليه السلام- پداسې حال کې وليده چې شپږ سوه وزرونه يې درلودل. بخاري (۴۸۵۷)، مسلم (۱۷۴) او ترمذي (۳۲۷۷) روايت کړی. او دا چې هغوی لره

زړونه دي، حق ذات فرمايلي دي: ﴿... إِلَّا لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥۚ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمۡ قَالُواْ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمۡۖ قَالُواْ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ٢٣﴾ [سبأ: 23]

. (تر هغه پورې چې کله د دوی د زړونو نه وېره (هيبت) لرې کړی شي (نو) دوی وايي: ستاسو رب څه وفرمايل؟ هغوی به ووايي چې حق (يې وفرمايه) او هم دی ډېر اوچت، ډېر لوی دی). [سبأ سورت: 23 آيت]

. او الله تعالى دوی ته اجازه ورکړې چې أنبياوو او رسولانو -عليهم السلام- ته يې د انسان په شکل کې ورشي، نو دوی په ابراهيم او لوط عليهما السلام د ميلمنو په بڼه ورننوتل چې نه يې پيژندل، الله تعالى د دوی له دې حال څخه د خبرولو په موخه وفرمايل:

﴿هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ٢٤ إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ سَلَٰمٞ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ٢٥﴾ [الذاريات: 24-25]

(په تحقيق سره تا ته د ابراهيم د عزتمندو مېلمنو خبر رارسېدلی دی. کله چې دوی په ده ورننوتل، نو ويې ويل: په تا دې سلام وي سلام هغه وويل: (په تاسو دې) سلام وي ،او په زړه کې يې تېر شول چې دا نا اشنا خلق دي. [الذاريات سورت: 24، 25 آيتونه]

، او الله تعالى فرماېلي دي:

﴿وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗا وَقَالَ هَٰذَا يَوۡمٌ عَصِيبٞ ٧٧﴾ [هود: 77]

(او کله چې زمونږ استازي (ملايك) لوط ته راغلل، نو دی پر هغوی غمجن شو او د دوی (د راتلو) په وجه يې سينه تنګه شوه او ويې ويل: دا ډېره سخته ورځ ده). [هود سورت: 77 آيت]،

او جبرائيل -عليه السلام- مريم عليها السلام ته په داسې شکل کې راغی چې هغه په لومړي سر کې نه پوهيده لکه څرنګه چې الله -تعالى- په خپلې وينا سره مونږ ته حکايت بيانوي:

﴿فَٱتَّخَذَتۡ مِن دُونِهِمۡ حِجَابٗا فَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرٗا سَوِيّٗا ١٧ قَالَتۡ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِٱلرَّحۡمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيّٗا ١٨ قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ رَبِّكِ ....﴾ [مريم: 17-19]

(نو مونږ دې ته خپل روح (مَلَك جبريل) ولېږه، نو هغه دې ته د کامل سړي په شکل کې څرګند شو. (نو) دې وويل: بېشکه زه له تا نه په رحمٰن پورې پناه نيسم، که چېرې ته پرهېزګاره يې). [مريم سورت: 17-19 آيت ]،

او له ابن عمر -رضي الله عنهما- څخه روايت دی فرمايي: «وَكَانَ جِبْرِيلُ عليه السلام يَأْتِي النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فِي صُورَةِ دِحْيَةَ». «جبرائيل -عليه السلام- به رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ته د دحيه په شکل راته». احمد (۵۸۵۷)، محمد بن نصر المروزي د تقدير په فضيلت (۳۷۲) کې او ابن بطة په الابانة (۸۳۱) کې روايت کړی دی. او مونږ ايمان لرو چې ملايکې خوراک او څښاک نه کوي، ځکه هغوی شهوتونه نه لري؛ لدې امله کله چې دوی په ابراهيم -عليه السلام- ورننوتل او هغه ورته خواړه وړاندې کړل وېې نه خوړل، سپيڅلي حق ذات د دوی له حال څخه د خبرولو په موخه فرمايلي دي:

﴿فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ ٢٦ فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ٢٧ فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً قَالُواْ لَا تَخَفْ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٍ ٢٨﴾ [الذاريات: 26-28]

(نو په تېزی سره خپلې ښځې ته لاړ، پس يو (وريت کړی) چاغ سخی يې راوړ. نو دغه يې دوی ته ورنژدې کړ، ويې ويل:تاسو ولې نه خورئ!؟ (نو له دوی نه يې په زړه کې وېره ومونده، دوی وويل: ته مه وېرېږه او دوی ته يې د ډېر پوه هلك زيری ورکړ). [الذاريات سورت: 26-28 آيتونه]

، او د دوی له خويونو څخه يو حيا ده، پيغمبر -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: «أَلَا أَسْتَحِي مِنْ رَجُلٍ تَسْتَحِي مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ». " آيا زه له هغه سړي څخه حيا ونکړم چې پرښتې ترې حيا کوي". مسلم (2401) روايت کړی دی. او دا چې هغوی په هر هغه څه سره زوريږي چې بني آدم ورڅخه زوريږي، پيغمبر -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الْبَقْلَةِ، الثُّومِ -وقَالَ مَرَّةً: مَنْ أَكَلَ الْبَصَلَ وَالثُّومَ وَالْكُرَّاثَ- فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا؛ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ بَنُو آدَمَ». «چا چې لدې سبو، هوږې څخه خوراک وکړ -او يو ځل يې وويل: څوک چې پياز، هوږه او ګندنه وخوري- نو زمونږ جومات ته دې نه رانږدې کيږي؛ ځکه پرښتې له هغه څه څخه زوريږي چې بني آدم ترې زوريږي». بخاري (854)، مسلم (564) روايت کړی او الفاظ د همده دي، او ابوداود (3822)، ترمذي (1806)، نسائي (707) او ابن ماجه (3365) روايت کړی دی. او موږ باور لرو چې الله په دوی کې له ځواک او زړورتيا څخه -دومره- پيدا کړي چې په علم کې راوستل يې ناشوني دي، الله تعالى فرمايلي:

﴿ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٖ﴾ [التكوير: 20]

(چې د عرش د مالك په نيز د قوت والا (او) د مرتبې والا دی) [التكوير سورت: 20 آيت]، او الله تعالی فرمايلي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ عَلَيۡهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٞ شِدَادٞ لَّا يَعۡصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ﴾ [التحريم: 6]

(په ده باندې ډېر سخت خويه، قوتناك ملايك مقرر دي، چې دوی په هغه څه کې د الله نافرماني نه کوي چې دوی ته يې حکم کړی وي او دوی هغه څه کوي چې دوی ته يې حکم کيږي). [التحريم سورت: 6 آيت]

، او الله تعالی د لوط -عليه السلام- د قوم کليو ته پرښته ورولیږله، او هغه اووه کلي وو، نو چپه يې پرې واړول، الله تعالی فرمايلي:

﴿فَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا جَعَلۡنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهَا حِجَارَةٗ مِّن سِجِّيلٖ مَّنضُودٖ﴾ [هود: 82]

(نو کله چې زمونږ حکم راغی (نو) مونږ د هغه (کلي) برنی اړخ د هغه لاندې اړخ وګرځاوه او پر هغه (کلي) مو د داسې کاڼو باران ووراوه چې له ختو جوړ، په اور پخ شوي وو، لاندې باندې (پرله پسې) وو). [هود سورت: 82 آيت].

او موږ ايمان لرو چې ملائکې ډېرې مخلوقات دي او هيڅوک د دوی شمير نشي کولی پرته له هغه چا چې دوی يې پيدا کړي دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «فَرُفِعَ لِي البَيْتُ المعمُورُ، فَسَأَلْتُ جِبْرِيلَ، فَقَالَ: هَذَا البَيْتُ المعمُورُ يُصَلِّي فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ، إِذَا خَرَجُوا لَمْ يَعُودُوا إِلَيْهِ آخِرَ مَا عَلَيْهِمْ...». «نو ما ته بيت المعمور پورته کړای شو، ما له جبريل څخه وپوښتل، هغه وويل: دا هغه بيت المعمور دی، چې پدې کې هره ورځ اويا زره پرښتې لمونځ کوي، کله چې دوی راووځي بيرته نه ورګرځي، د دوی تر وروستي يو پورې...». بخاري (3207)، مسلم (164)، ترمذي (3346) او نسائي (448) روايت کړی دی. او له أبو ذر رضى الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «إِنِّي أَرَى مَا لَا تَرَوْنَ، وَأَسْمَعُ مَا لَا تَسْمَعُونَ أَطَّتِ السَّمَاءُ، وَحُقَّ لَهَا أَنْ تَئِطَّ، مَا فِيهَا مَوْضِعُ أَرْبَعِ أَصَابِعَ إِلَّا وَمَلَكٌ وَاضِعٌ جَبْهَتَهُ سَاجِدًا لِلَّهِ». «زه هغه څه ګورم چې تاسو يې نه ګورئ، او هغه څه اورم چې تاسو يې نه اورئ،

د آسمان کړساری وخوت، او لایق دی چې کړساری وکړي، ځکه په اسمان کې د څلورو ګوتو په اندازه -تش- ځای نشته مګر دا چې هلته به ملاېکې تندی ایښودلی وي او الله تعالی ته به په سجده وي». (ترمذي (2312)، ابن ماجه (4190)، ابن ابي شيبه (27044)، احمد (21516) او البزار (3924، 3925) روایت کړی دی. او له پیغمبر صلى الله عليه وسلم څخه روایت دی چې فرمایلي یې دي: «يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَامٍ، مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّونَهَا». «په هغه ورځ به جهنم رواړلی شي پداسې حال کې چې اویا زره ځنځیرونه به ولري، د هر ځنځیر سره به اویا زره پرښتې وي او کش کوي به یې». مسلم (2842) او ترمذي (2573) روایت کړی. مشرکانو ادعا وکړه چې ملائکې د الله -تعالی- لونې دي، نو الله دوی په خپلې دې وینا سره دروغجن وګڼل:

﴿أَمۡ خَلَقۡنَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ إِنَٰثٗا وَهُمۡ شَٰهِدُونَ﴾ [الصافات: 150]

(یا که مونږ ملایك ښځې پیدا کړي دي، په داسې حال کې چې دوی حاضر وو). [الصافات سورت: 150 آیت]

. او الله تعالی پرې پدې وینا سره رد وکړ:

﴿أَفَأَصۡفَىٰكُمۡ رَبُّكُم بِٱلۡبَنِينَ وَٱتَّخَذَ مِنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنَٰثًاۚ إِنَّكُمۡ لَتَقُولُونَ قَوۡلًا عَظِيمٗا ۝٤٠﴾ [الإسراء: 40]

(ایا ستاسو رب تاسو په زامنو سره غوره کړي یئ او (پخپله) هغه له ملایکو څخه جینکۍ نیولې دي؟ بېشکه تاسو یقینًا ډېره لویه (دروغجنه) خبره وایئ). [الإسراء سورت : 40 آیت].

## )بـــاب أعمال الـملائكة (باب دی د پرښتو د عملونو په اړه

او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی عزتمنې ګرځولي، او ډول ډول ستر کارونه یې ورترغاړې کړي دي، او تر ټولو عزتمن یې دا دی چې د الله -تعالی- او د هغه د بنده ګانو تر منځه یې استازي دي، د هغه وحیې وررسوي، او پیغمبرانو -علیهم السلام- ته په وحې رسولو ګمارل شوې ملاېکی جبریل -علیه السلام- دی، لکه څرنګه چې الله رب العزت فرمایلي:

﴿قُلۡ نَزَّلَهُۥ رُوحُ ٱلۡقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِٱلۡحَقِّ لِيُثَبِّتَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهُدٗى وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُسۡلِمِينَ ١٠٢﴾ [النحل: 102]

(ته ووایه: هغه ستا د رب له جانبه په حقه سره روح القدس (جبریل) نازل کړی دی). [النحل سورت: 102 آیت]

، او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ١٩٢ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلۡأَمِينُ١٩٣ عَلَىٰ قَلۡبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُنذِرِينَ١٩٤ بِلِسَانٍ عَرَبِيّٖ مُّبِينٖ١٩٥﴾ [الشعراء: 192-195]

(او یقینا دا قرآن نازل کړی شوی (کتاب دی) د * دا جبریل امین راکوز کړی دی. * ستا په زړه باندې، د دې لپاره چې ته له وېروونکو څخه شې. بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِين} په ژبه عربی واضحه باندې). [الشعراء سورت: 192-195 آیتونه]

. او کله يې الله تعالی له انبياو پرته نورو ته د امتحان لپاره ليږي، لکه څرنګه چې له بني اسرائيلو څخه د درې نفرو په کيسه کې راغلي: له عبد الرحمن بن أبي عمرة څخه روايت دی چې أبو هريرة - رضي الله عنه - ورته حديث بيان کړ چې هغه له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې: «إِنَّ ثَلَاثَةً فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ: أَبْرَصَ، وَأَقْرَعَ، وَأَعْمَى، بَدَا لِلَّهِ عز وجل أَنْ يَبْتَلِيَهُمْ، فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ مَلَكًا، فَأَتَى الأَبْرَصَ، فَقَالَ: أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ: لَوْنٌ حَسَنٌ، وَجِلْدٌ حَسَنٌ، قَدْ قَذِرَنِي النَّاسُ، قَالَ: فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ عَنْهُ، فَأُعْطِيَ لَوْنًا حَسَنًا، وَجِلْدًا حَسَنًا، فَقَالَ: أَيُّ المال أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ: الإِبِلُ -أَوْ قَالَ: البَقَرُ، هُوَ شَكَّ فِي ذَلِكَ: إِنَّ الأَبْرَصَ، وَالأَقْرَعَ، قَالَ أَحَدُهُمَا: الإِبِلُ، وَقَالَ الآخَرُ: البَقَرُ- فَأُعْطِيَ نَاقَةً عُشَرَاءَ، فَقَالَ: يُبَارَكُ لَكَ فِيهَا، وَأَتَى الأَقْرَعَ، فَقَالَ: أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ شَعَرٌ حَسَنٌ، وَيَذْهَبُ عَنِّي هَذَا، قَدْ قَذِرَنِي النَّاسُ، قَالَ: فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ، وَأُعْطِيَ شَعَرًا حَسَنًا، قَالَ: فَأَيُّ المال أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ: البَقَرُ، قَالَ: فَأَعْطَاهُ بَقَرَةً حَامِلًا، وَقَالَ: يُبَارَكُ لَكَ فِيهَا، وَأَتَى الأَعْمَى، فَقَالَ: أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ: يَرُدُّ اللَّهُ إِلَيَّ بَصَرِي، فَأُبْصِرُ بِهِ النَّاسَ، قَالَ: فَمَسَحَهُ، فَرَدَّ اللَّهُ إِلَيْهِ بَصَرَهُ، قَالَ: فَأَيُّ المال أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ الغَنَمُ: فَأَعْطَاهُ شَاةً وَالِدًا، فَأُنْتِجَ هَذَانِ، وَوَلَّدَ هَذَا، فَكَانَ لِهَذَا وَادٍ مِنْ إِبِلٍ، وَلِهَذَا وَادٍ مِنْ بَقَرٍ، وَلِهَذَا وَادٍ مِنْ غَنَمٍ، ثُمَّ إِنَّهُ أَتَى الأَبْرَصَ فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ، فَقَالَ: رَجُلٌ مِسْكِينٌ، تَقَطَّعَتْ بِيَ الحِبَالُ فِي سَفَرِي، فَلَا بَلَاغَ اليَوْمَ إِلَّا بِاللَّهِ، ثُمَّ بِكَ، أَسْأَلُكَ بِالَّذِي أَعْطَاكَ اللَّوْنَ الحَسَنَ، وَالجِلْدَ الحَسَنَ، وَالمال، بَعِيرًا أَتَبَلَّغُ عَلَيْهِ فِي سَفَرِي، فَقَالَ لَهُ: إِنَّ الحُقُوقَ كَثِيرَةٌ، فَقَالَ لَهُ: كَأَنِّي أَعْرِفُكَ، أَلَمْ تَكُنْ أَبْرَصَ يَقْذَرُكَ النَّاسُ،

فَقِيرًا فَأَعْطَاكَ اللَّهُ؟ فَقَالَ: لَقَدْ وَرِثْتُ لِكَابِرٍ عَنْ كَابِرٍ، فَقَالَ: إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللَّهُ إِلَى مَا كُنْتَ، وَأَتَى الأَقْرَعَ فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ، فَقَالَ لَهُ مِثْلَ مَا قَالَ لِهَذَا، فَرَدَّ عَلَيْهِ مِثْلَ مَا رَدَّ عَلَيْهِ هَذَا، فَقَالَ: إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللَّهُ إِلَى مَا كُنْتَ، وَأَتَى الأَعْمَى فِي صُورَتِهِ، فَقَالَ: رَجُلٌ مِسْكِينٌ وَابْنُ سَبِيلٍ وَتَقَطَّعَتْ بِيَ الحِبَالُ فِي سَفَرِي، فَلَا بَلَاغَ اليَوْمَ إِلَّا بِاللَّهِ ثُمَّ بِكَ، أَسْأَلُكَ بِالَّذِي رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ شَاةً أَتَبَلَّغُ بِهَا فِي سَفَرِي، فَقَالَ: قَدْ كُنْتُ أَعْمَى، فَرَدَّ اللَّهُ بَصَرِي، وَفَقِيرًا فَقَدْ أَغْنَانِي، فَخُذْ مَا شِئْتَ، فَوَاللَّهِ لَا أَجْهَدُكَ اليَوْمَ بِشَيْءٍ أَخَذْتَهُ لِلَّهِ، فَقَالَ: أَمْسِكْ مَالَكَ، فَإِنَّمَا ابْتُلِيتُمْ، فَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنْكَ، وَسَخِطَ عَلَى صَاحِبَيْكَ». «په بني اسرائیلو کې درې نفر وو: پیس وهلی (برګي مرض والا)، پک (ګنجی) او ړوند ، الله تعالی غوره وګڼله چې دوی وازمايي، نو ملاېک يي ورولیږله، پیس وهلي ته ورغله، ورته يې وويل: څه شی درته ډېر غوره دی؟ ويې ويیل: ښايسته رنګ او ښایسته پوستکی، خلک راڅخه کرکه کوي، وايې: لاس يې پرې کش کړ، نو پیس -مرض- ترې ولاړ؛ ښایسته رنګ او ښایسته پوستکی ورکړل شول، نو ويې ويیل: کوم مال درته ډېر خوښ دی: ويې ويیل: اوښان - او یا غواګانې، راوي پدې کې شکي دی چې پیس وهلي او ګنجي له دواړو څخه يو: اوښان ويلي او بل: غواګانې: نو لس میاشتنۍ بلاربه اوښه ورکړل شوه -او ورته يې - ويیل: برکت به درته پکې واچول شي. او ګنجي (پک) ته ورغی ورته يې وويل: څه شی درته ډېر خوښ دی؟ ويې وويل: ښايسته ويښتان، او چې دا پکتوب راڅخه لاړ شي، خلک راڅخه کرکه کوي، وايي : لاس يې پرې راکش کړ نو ګنجيتوب ورڅخه ولاړ، او ښایسته ويښتان ورکړل شول، وايې: کوم مال درته ډېر ګران دی؟ ويې ويیل: غواګانې: نو بلاربه غوا يې ورکړه او ويې ويیل: برکت به درته پکې واچول شي. او ړوند ته ورغی نو ورته يې وويل: څه شی درته ډېر ګران دی؟ ويې وويل: چې الله مې بيرته سترګي راکړي، تر څو پرې خلک وګورم، وايې: لاس يې پرې راکش کړ نو الله يې سترګي بيرته ورکړې، وايې: کوم مال درته ډېر ګران دی؟ ويې ويیل: مېږې: نو لنګه مېږه يې ورکړه -تر دې چې- د دواړو مالونو بچي وزيږول او د ده ميږې هم بچي وزيږول، نو د دې (لومړي) لپاره د اوښانو يو لوی ټولی جوړ شو (شمېر يې زيات شو) او د دې -بل دويم- لپاره هم د غواګانو يو لوی ټولی جوړ شو، او د دريم لپاره د میږو يوه دره (لويه رمه) جوړه شوه، بيا -همدا- ملاېک د پیس وهلي سړي په شکل او څېره کې پخواني پیس وهلي ته ورغی، ورته يې وويل: غريب سړی يم، په سفر کې راسره توخه خلاصه شويده، نن ورځ له الله پرته او بيا ستا څخه - خپل ځای ته - د رسيدو لپاره توښه نه لرم، نو د هغه الله په نوم - چې ښايسته رنګ، ښایسته پوستکی او مال يې درکړی- درڅخه د يو اوښ سوال کوم چې د سفر په لار کې پرې مقصد ته ورسيږم، نو هغه ورته وويل: حقونه ډېر دي، نو - ملاېکې- ورته وويل: لکه زه دې چې پيژنم، آيا تاته برګی نه و رسيدلی چې خلکو به درڅخه کرکه کوله، فقير نه وې چې بيا الله -ډېر څه- درکړل؟ نو هغه وويل: يقينا چې -

دا مال- له نيکونو نيکونو څخه راته په ميراث پاتې دی، نو -ملاېکې- ورته وويل: که چېرته دروغجن يې نو الله دې بيرته همغه حال ته ورووګرځوه لکه څرنګه چې وې، بيا پک (ګنجي) ته د پک انسان په شکل او څېره کې راغی، نو ده ته يې هم د همغه په څېر وينا وکړه، ده هم همغسې ځواب ورکړ لکه لومړي چې ورکړی و، نو ورته يې وويل: که چېرته دروغجن يې نو الله دې بيرته همغه حال ته ورووګرځوه لکه څرنګه چې وې. او ړوند ته هم د ړوند انسان په څېره کې ورغله نو ورته يې وويل: مسکين سړی يم، مسافر يم، په سفر کې راسره توخه خلاصه شوې ده نو نن ورځ له الله پرته او بيا ستا څخه -خپل ځای ته- د رسيدو لپاره هيڅ وسيله نه لرم، نو د هغه الله په نوم درڅخه د يو پسه سوال کوم چې تاته يې ستا سترګې بيرته درکړې، تر څو پرې پدې سفر کې خپل مقصد ته ورسيږم، نو هغه وويل: يقينا زه ړوند و م، نو الله مې سترګې بيرته راکړې، غريب او ناچاره وم؛ الله مالدار کړم، نو واخله څومره دې چې خوښه وي، قسم په الله چې نن دې هر څه واخېستل د الله لپاره به يې درڅخه منع نه کړم، نو هغه ورته وويل: خپل مال دې ځان سره ونيسه، تاسو امتحان شوئ، يقينا الله - تعالى - ستا څخه راضي شو او ستا پر دوو ملګرو قهر او ورڅخه ناراضه شو». (بخاري (۳۴۶۴) او مسلم (۲۹۶۴) روايت کړی دی . او له دوی څخه د عرش پورته کوونکي دي، څښتن تعالى فرمايلي:

﴿وَٱلۡمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرۡجَآئِهَاۚ وَيَحۡمِلُ عَرۡشَ رَبِّكَ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ ثَمَٰنِيَةٞ ١٧﴾ [الحاقة: 17]

(او ملايك به د ده د څنډو له پاسه وي او په دغې ورځ کې به ستا د رب عرش اتو (ملايکو) د دوی له پاسه پورته کړی وي). [الحاقة سورت: 17 آيت]

. او د دوی له کړنو څخه: د تقدير ليکل دي، پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا، ثُمَّ يَكُونُ عَلَقَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يَبْعَثُ اللَّهُ مَلَكًا فَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ، وَيُقَالُ لَهُ: اكْتُبْ عَمَلَهُ، وَرِزْقَهُ، وَأَجَلَهُ، وَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ». «يو ستاسې څخه د هغه خلقت د مور په ګېډه کې په څلوېښت ورځو کې راغونډيږي (نطفه وي)، بيا دا د وينې په څېر ټوټه شي، بيا د غوښې په څېر بوټۍ شي، بيا الله ملاېک راوليږي، نو په څلورو شيانو ورته امر وکړي، او ورته وويل شي چې : عمل، رزق، اجل او نيمکرغه يا بد مرغه يې وليکه». (بخاري (3208)، مسلم (2643)، ابوداود (4708)، الترمذي (2137) او ابن ماجه (76) روايت کړی دی. د دوی له کړنو څخه: د رحم د چارو -او څوک چې پکې دي- تر سره کول دي: لکه جوړول، انځورول او ساه پکې اچول، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «إِذَا مَرَّ بِالنُّطْفَةِ ثِنْتَانِ وَأَرْبَعُونَ لَيْلَةً، بَعَثَ اللهُ إِلَيْهَا مَلَكًا، فَصَوَّرَهَا وَخَلَقَ سَمْعَهَا وَبَصَرَهَا وَجِلْدَهَا

وَلَحْمَهَا وَعِظَامَهَا، ثُمَّ قَالَ: يَا رَبِّ، أَذَكَرٌ أَمْ أُنْثَى؟ فَيَقْضِي رَبُّكَ مَا شَاءَ، وَيَكْتُبُ الْمَلَكُ، ثُمَّ يَقُولُ: يَا رَبِّ أَجَلُهُ، فَيَقُولُ رَبُّكَ مَا شَاءَ، وَيَكْتُبُ الْمَلَكُ». «کله چې په نطفه باندې دوه څلویښت شپې تېرې شي، الله تعالی ملایکه ورولیږي، نو انځور یې کړي بیا یې غوږونه، سترګې، پوستکی، غوښه او هډوکي برابر کړي، بیا ووایي: ای ربه، آیا نر -شي- که ښځه؟ نو رب دې د خپلې خوښې پرېکړه وکړي، او ملایکه یې لیکي، بیا ووایي: ای ربه د مرګ نیټه یې، نو رب دې د خپلې خوښې پرېکړه وکړي او ملایکه یې لیکي». مسلم (2645) روایت کړی دی. او له أنس - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې نبي - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «وَكَّلَ اللَّهُ بِالرَّحِمِ مَلَكًا، فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ نُطْفَةٌ، أَيْ رَبِّ عَلَقَةٌ، أَيْ رَبِّ مُضْغَةٌ، فَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَقْضِيَ خَلْقَهَا، قَالَ: أَيْ رَبِّ، أَذَكَرٌ أَمْ أُنْثَى؟ أَشَقِيٌّ أَمْ سَعِيدٌ؟ فَمَا الرِّزْقُ؟ فَمَا الأَجَلُ؟ فَيُكْتَبُ كَذَلِكَ فِي بَطْنِ أُمِّهِ». «یقینا، الله -تعالی– رحم باندې ملایکه مقرره کړې ده؛ هغه وایي: ای ربه نطفه (شوه)، ای ربه د وینې ټوټه (شوه)، اې ربه د غوښې بوټی شوه ! نو کله چې الله -تعالی- وغواړي د پیدا کولو پرېکړه یې وکړي، نو - ملایکه وایي- ای ربه! نارینه شي که ښځینه؟ بدمرغه شي که نیکمرغه؟ رزق یې څومره شي؟ أجل یې څه وخت شي؟ نو دا به د هغه د مور په رحم کې ورته ولیکل شي». بخاري (6595) او مسلم (2646) روایت کړی دی. او د دوی له کړنو څخه د بنده ګانو د ساګانو اخیستل دي، حق ذات فرمایلي دي او د هغه وینا حق ده:

﴿...حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ تَوَفَّتۡهُ رُسُلُنَا وَهُمۡ لَا يُفَرِّطُونَ﴿٦١﴾﴾ [الأنعام: 61]

(تر هغه پورې چې کله په تاسو کې یو کس ته مرګ راشي، (نو) زمونږ استازي یې وفات کړي او هغوی هیڅ تقصیر (کمی) نه کوي). [الأنعام سورت: 61 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي:

﴿فَكَيۡفَ إِذَا تَوَفَّتۡهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ﴿٢٧﴾﴾ [محمد: 27]

(نو څنګه حال به وي، کله چې ملایك د دوی روحونه قبض کوي، په داسې حال کې چې دغه (ملایك) به د دوی مخونه او د دوی شاګاني وهي). [محمد سورت: 27 آیت]

. او د دوی له کړنو څخه په دنیا او آخرت کې په جسدونو کې د ساګانو پوکول دي، پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا، ثُمَّ يَكُونُ عَلَقَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يَبْعَثُ اللَّهُ مَلَكًا، فَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ، وَيُقَالُ لَهُ: اكْتُبْ عَمَلَهُ، وَرِزْقَهُ، وَأَجَلَهُ، وَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ، ثُمَّ يُنْفَخُ فِيهِ الرُّوحُ»، «یو

ستاسي څخه د هغه پيدايښت د مور په ګېډه کې په څلوېښت ورځو کې راغونډېږي (نطفه وي)، بيا دا د وينې په څېر ټوټه شي، بيا د غوښې په څېر بوټۍ شي، بيا الله ملاېکه راولېږي، نو په څلورو شيانو ورته امر وکړي، او ورته وويل شي چې : عمل، رزق، اجل او نيمکرغه يا بد مرغه يې وليکه، بيا پکې روح پو کړل شي»، (بخاري (3208)، مسلم (2643)، ابوداود (4708)، الترمذي (2137) او ابن ماجه (76) روايړی دی. او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿... ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنظُرُونَ ﴿٦٨﴾﴾ [الزمر: 68]

[بيا به په دې کې بل ځلي پو کړی شي، نو ناڅاپه به دوی ولاړ وي، ګوري به (حيران حيران)]. [الزمر سورت : 68 آيت].

او د دوی له عملونو څخه: له مؤمنانو سره - په - جهاد (کې ګډون)، د جګړې په ډګرونو او د ژوند په ډګر کې د مؤمنانو ثبات دی، رب العزت فرمايلي:

﴿إِذْ يُوحِى رَبُّكَ إِلَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّى مَعَكُمْ فَثَبِّتُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ۚ سَأُلْقِى فِى قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعْبَ فَٱضْرِبُواْ فَوْقَ ٱلْأَعْنَاقِ وَٱضْرِبُواْ مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴿١٢﴾﴾ [الأنفال: 12]

(کله چې ستا رب ملايکو ته وحي کوله چې بېشکه زه له تاسو سره يم، نو تاسو هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی ثابت قدم کړئ، ژر به زه د هغو کسانو په زړونو کې رعب واچوم چې کافران شوي دي، نو تاسو (د هغوی) د څټونو له پاسه وهل وکړئ، او تاسو د دوی پر (هر بند او) ټولو ګوتو باندې ګوزارونه وکړئ). [الأنفال سورت: 12 آيت]،

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «إِنَّ لِلشَّيْطَانِ لَمَّةً بِابْنِ آدَمَ وَلِلْمَلَكِ لَمَّةً: فَأَمَّا لَمَّةُ الشَّيْطَانِ فَإِيعَادٌ بِالشَّرِّ وَتَكْذِيبٌ بِالحَقِّ، وَأَمَّا لَمَّةُ الملك فَإِيعَادٌ بِالخَيْرِ وَتَصْدِيقٌ بِالحَقِّ، فَمَنْ وَجَدَ ذَلِكَ فَلْيَعْلَمْ أَنَّهُ مِنَ اللَّهِ، فَلْيَحْمَدِ اللَّهَ، وَمَنْ وَجَدَ الأُخْرَى فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، ثُمَّ قَرَأَ: {الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَاءِ} الآيَةَ [البقرة: 268]». «يقينا شيطان بني آدم ته قصد لري (يو څه ورپه زړه کوي)، او ملاېکې هم قصد لري (يو څه ور په زړه کوي)، بني آدم ته د شيطان قصد هغه ته په شر سره وعده ورکول او حق دروغ ګڼل دي، او بني آدم ته د ملاېکې قصد؛ په خير سره وعده ورکول او حق رښتيا ګڼل دي، نو چا چې دا -وروستی- ومومند نو پوه دې شي چې دا د الله له لوري دی، نو د الله ستاينه دې وکړي، او چا چې بل څه ومومندل، نو په الله سره دې له رټلی شوي شيطان څخه پناه وغواړي بيا يې -دا آيت- ولوست (الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَاءِ) الآيَةَ

[البقرة سورت: 268 آیت]». (شیطان تاسو له غریبۍ څخه وېروي او تاسو ته د بې حیایۍ حکم کوي). ترمذي په (۲۹۸۸) شمېره روایت کړی دی، ابن مبارک په الزهد (۱۴۳۵)، احمد په الزهد (۸۵۴) او ابو داود په الزهد (۱۶۴) کې روایت کړی دی. او د دوی له عملونو څخه مؤمنانو ته د عا کول او بخښنه غوښتل دي، الولي الحمید ذات فلرمایلي دي:

﴿ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ٧﴾ [غافر: 7]

(له ملایکو څخه) (هغه کسان چې عرش اوچتوي او هغه (ملایك) چې د دغه (عرش) شاوخوا دي، دوی د خپل رب د ستاینې سره تسبیح وایي او په ده ایمان لري او د هغو کسانو لپاره مغفرت غواړي چې ایمان یې راوړی دی (او وایي:) ای زمونږه ربه! ته د رحمت په لحاظ سره هر شي ته رسېدلی یې، نو ته هغو کسانو ته بخښنه وکړې چې توبه یې ایستلې ده او ستا د لارې پیروي یې کړې ده او ته دوی د دوزخ له عذاب نه وساته). [غافر سورت: 7 آیت].

او د دوی له عملونو څخه: د خیر او نیکۍ په وختونو د ایمان په موسمونو کې د مؤمنانو عبادت ته حاضریدل دي، لکه د جمعې ورځ، د عرفې ورځ، د قدر شپه، د سهار او مازدیګر لمونځونه، او د دوی د بنو ویناوو پورته کول او متعال رب ته یې په اړه خبر ورکول - حال دا چې هغه باخبره او پوه ذات دی چې اړتیا نه لري څوک یې خبر کړي، الله تعالی فرمایلي: ﴿... وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا ٧٨﴾ [الإسراء: 78]

(او د سبا قرآن (لمونځ) هم (قایموه) بېشکه د سبا قرآن، ته خو حاضري کولی شي). [الإسراء سورت: 78 آیت]

، او حق ذات فرمایلي:

﴿تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٖ ٤﴾ [القدر: 4]

(په دغه (شپه) کې (نور) ملایك او روح (جبریل) د خپل رب په حکم سره راکوزیږي لپاره (د پوره کولو) د هر (مقرر شوي) کار). [القدر سورت: 4 آیت].

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلَائِكَةٌ بِالنَّهَارِ، وَيَجْتَمِعُونَ فِي صَلَاةِ الفَجْرِ وَصَلَاةِ العَصْرِ، ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ، فَيَسْأَلُهُمْ -وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ: كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي؟ فَيَقُولُونَ: تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ، وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ». «په تاسو کې د شپې او ورځې ملایکې یو د بل پسې ځي راځي او د سهار او مازدیګر په لمونځونو کې سره یو ځای کیږي، بیا هغه ملایکې خیژې چې په تاسو کې یې شپه تیره کړې ده نو - الله تعالی له دوی ښخه پوښتنه کوي –پداسې حال کې چې هغه د دوی په حال ښه پوهیږي-: زما بندګان مو څنګه پرېښودل؟ هغویووایي: په داسې حال کې مو پریښودل چې لمونځ یې کاوه، او په داسې حال کې ورته ورغلي وو چې لمونځ یې کاوه». بخاري (۵۵۵)، مسلم (۶۳۲) او نسائي (۴۸۵) روایت کړی دی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً يَطُوفُونَ فِي الطُّرُقِ يَلْتَمِسُونَ أَهْلَ الذِّكْرِ، فَإِذَا وَجَدُوا قَوْمًا يَذْكُرُونَ اللَّهَ تَنَادَوْا : هَلُمُّوا إِلَى حَاجَتِكُمْ. قَالَ: فَيَحُفُّونَهُمْ بِأَجْنِحَتِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا». «الله لره ملایکې دي چې په لارو کې ګرځي، -الله- یادوونکي خلک لټوي؛ نو کله چې دوی داسې خلک ومومي چې الله یادوي؛ نو یو بل ته غږ وکړي: راشئ خپلې اړتیا ته! وایې: نو دوی لره په خپلو وزرونو سره د لاندنې آسمان پورې ویوښي». بخاري (6408) او مسلم (2689) روایت کړی دی. او ملایکې ایماني موسمونو ته حاضریږي لکه: د جمعې ورځ، د عرفې ورځ او د قدر شپه، رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: «فَإِذَا خَرَجَ الإِمَامُ حَضَرَتِ الملائِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ». «کله چې امام - د خطبې لپاره - راووځي نو ملایکې د ذکر اوریدلو لپاره حاضرې شي». بخاري (881)، مسلم (850)، ابوداود (351)، ترمذي (499) او نسائي (1388) روایت کړی دی. او د دوی له عملونو ښخه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته پر هغه د امت درودونه رسول، رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: «وَصَلُّوا عَلَيَّ؛ فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِي حَيْثُ كُنْتُمْ». «او پر ما درود ووایاست؛ ځکه ستاسو درود ماته رارسیږي هر چیرته چې یاست». ابوداود (204)، احمد (8804)، طبراني په الاوسط کې (8030) او البیهقي په الشعب (3865) کې روایت کړی دی. او رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ فِي الْأَرْضِ يُبَلِّغُونِي مِنْ أُمَّتِي السَّلَامَ». «الله -تعالی- داسې ملایکې لري چې په ځمکه کې ګرځي او زما له امت ښخه ماته سلام رارسوي». نسائي (1282)، عبدالرزاق (3116)، ابن ابي شیبه په المصنف کې (8797)، او په المسند کې (269) او احمد (3666) روایت کړی دی. او د دوی له عملونو ښخه : له بني آدم ښخه ساتنه ده، الله تعالی فرمایلي:

﴿لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٞ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ يَحۡفَظُونَهُۥ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۗ ...﴾ [الرعد: 11]

(د دغه (انسان) لپاره د ده له مخې او د ده له شا نه نوبت په نوبت په یو بل پسې راتلونکي (ملایك) دي چې د الله په امر سره د ده ساتنه کوي). [الرعد سورت: 11 آیت].

او علي بن أبی طلحة له ابن عباس -رضي الله عنهما- څخه روایت کوي فرمایي: المعقبات: «د الله تعالی له کارونو څخه دي او هغوی ملاېکې دي». طبري په التفسیر (463/13) او ابن ابي حاتم په التفسیر (12198) کې روایت کړی دی. او د دوی له عملونو څخه د نیکیو او بدیو لیکل دي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿كِرَامًا كَٰتِبِينَ﴿١١﴾﴾ [الانفطار: 11]

(چې عزتمن لیکونکي دي). [الانفطار سورت: 11 آیت]

. او الله تعالی فرماېلي دي:

﴿إِذْ يَتَلَقَّى ٱلْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ ٱلْيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ قَعِيدٌ﴿١٧﴾ مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ﴿١٨﴾﴾ [ق: 17-18]

* [(یاد کړه) هغه وخت چې دوه اخیستونکي اخلي، چې یو له ښي اړخ نه او (بل) له چپ اړخ نه ناست وي). { (دغه بنده) هېڅ خبره نه کوي مګر له ده سره حاضر ساتونکی دی]. [ق سورت: 17، 18 آیتونه]،

او فرمایلي یې دي:

﴿... وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً ....﴾ [الأنعام: 61]

(او پر تاسو باندې ساتونکي (ملاېک) رالیږي). [الأنعام سورت: 61 آیت]،

او د دوی په اړه الله تعالی فرمایلي:

﴿أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُم ۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ﴿٨٠﴾﴾ [الزخرف: 80]

(آیا دوی دا ګومان کوي چې بېشکه مونږ د دوی پټې خبرې او پټې مشورې نه اورو، ولې نه! او زمونږ رسولان لیکل کوي د دوی ترڅنګه). [الزخرف سورت: 80 آیت]

، او پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «يَقُولُ اللَّهُ: فَلَا تَكْتُبُوهَا عَلَيْهِ حَتَّى يَعْمَلَهَا، فَإِنْ عَمِلَهَا فَاكْتُبُوهَا بِمِثْلِهَا، وَإِنْ تَرَكَهَا مِنْ أَجْلِي فَاكْتُبُوهَا لَهُ حَسَنَةً، وَإِذَا أَرَادَ أَنْ

يَعْمَلَ حَسَنَةً فَلَمْ يَعْمَلْهَا فَاكْتُبُوهَا لَهُ حَسَنَةً، فَإِنْ عَمِلَهَا فَاكْتُبُوهَا لَهُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ». «الله تعالی وفرمايي: نو مه يې ليکئ تر دې چې ويې کړي، که چېرته يې وکړه نو د همغې -ګناه- په اندازه يې وليکئ، او که چېرته يې زما لپاره پرېښوده نو نيکي يې ورته وليکئ، او کله يې چې د نيکۍ کولو قصد وکړ او ويې نکړه، نو ورته يې نيکي وليکئ، که چېرته يې عمل پرې وکړ نو يو پر لسه يې ورته وليکئ تر اووه سوه چنده پورې». (بخاري (٧٥٠١)، مسلم (١٢٨) او ترمذي (٣٠٧٣) روايت کړی. او پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «قَالَتِ الْمَلاَئِكَةُ: رَبِّ، ذَاكَ عَبْدُكَ يُرِيدُ أَنْ يَعْمَلَ سَيِّئَةً -وَهُوَ أَبْصَرُ بِهِ- فَقَالَ: ارْقُبُوهُ، فَإِنْ عَمِلَهَا فَاكْتُبُوهَا لَهُ بِمِثْلِهَا، وَإِنْ تَرَكَهَا فَاكْتُبُوهَا لَهُ حَسَنَةً، إِنَّمَا تَرَكَهَا مِنْ جَرَّايَ». «ملايکو وويل: ای ربه! هغه ستا بنده دی، غواړي ګناه وکړي -حال دا چې هغه (الله) پرې ښه پوه دی- نو وفرمايي: ويې ځارئ، که چېرته يې وکړه نو د ګناه په اندازه يې ورته وليکئ، او که چېرته يې پرېښوده نو نيکي يې ورته وليکئ، يقينا چې زما لپاره يې پرېښوده». مسلم (129) روايت کړی دی. او د دوی له عملونو څخه: له دجال څخه د نبوي مديني ساتل دي، رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: «عَلَى أَنْقَابِ المدينَةِ مَلَائِكَةٌ لَا يَدْخُلُهَا الطَّاعُونُ، وَلَا الدَّجَّالُ». «د مديني په دروازو باندې پرښتې دي چې نه ورته وبا داخليدای شي او نه دجال». بخاري (1880) او مسلم (1379) روايت کړی دی. او د دوی له عملونو څخه: په قبر کې له مړي څخه پوښتنې کول دي، فعن البراء بن عازب رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم مخبرًا عن حال الإنسان إذا وضع في قبره: «وَيَأْتِيهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ، فَيَقُولَانِ لَهُ: مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُولُ: رَبِّيَ اللَّهُ، فَيَقُولَانِ لَهُ: مَا دِينُكَ؟ فَيَقُولُ: دِينِيَ الْإِسْلَامُ، فَيَقُولَانِ لَهُ: مَا هَذَا الرَّجُلُ الَّذِي بُعِثَ فِيكُمْ؟ قَالَ: فَيَقُولُ: هُوَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم». له البراء بن عازب - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د مړي له حال څخه -چې کله په قبر کې کېښودل شي- د خبر ورکولو په موخه فرمايلي دي: "او دوه ملايکې ورته راشي او کېنوي يې او ورته ووايي: رب دې څوک دی؟ نو ووايي: زما رب الله دی، دوی دواړه ورته ووايي: دين دې څه دی؟ هغه ووايي: زما دين اسلام دی، دوی دواړه ورته ووايي: دا سړی څوک دی چې په تاسو کې لېږل شوی دی؟ وايي: نو وبه وايي: هغه د الله رسول -صلى الله عليه وسلم- دی». ابو داود (4753)، نسائي (2001)، ابن ماجه (1548)، طيالسي (789)، عبد الرزاق (6737) او ابن ابي شيبه (12185) روايت کړی دی. او د دوی له عملونو څخه: د جنت ساتونکی دی، له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «آتي باب الجنة يوم القيامة، فأستفتحُ فيقول الخازن: من أنت؟ فأقول: محمد، فيقول: بك أمرت لا أفتح لأحدٍ قبلك». «د قيامت په ورځ به د جنت دروازې ته راشم، نو د خلاصيدو غوښتنه به وکړم ساتونکی به راته

وو ايي: ته څوک يې؟ زه به و وايم: محمد، وبه وايي: په تا راته امر شوی، هيچاته به يې ستا څخه مخکې خلاصه نه کړم». مسلم (197) روايت کړی. او د اور ساتونکی، الله تعالی فرمايلي: ﴿وَنَادَوْاْ يَٰمَٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَۖ قَالَ إِنَّكُم مَّٰكِثُونَ﴿٧٧﴾﴾ [الزخرف: 77]

(او دغه (دوزخيان) به اواز وکړي: ای مالکه! ستا رب دې مونږ مړه کړي، هغه (مالك) به وو ايي: بېشکه تاسو (تل) ژوندي پاتې کېدونکي يئ) [الزخرف سورت: 77 آيت].

سپيڅلي حق ذات فرمايلي دي:

﴿عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ﴿٣٠﴾ وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ إِلَّا مَلَٰٓئِكَةًۖ وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ لِيَسْتَيْقِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ وَيَزْدَادَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِيمَٰنًا وَلَا يَرْتَابَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْكَٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًاۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِي مَن يَشَآءُۚ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَۚ وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ﴿٣١﴾﴾ [المدثر: 30-31]

(په ده باندې نولس (ملايك) مقرر دي. } او مونږ د دوزخ څوکيداران نه دي ګرځولي مګر ملايك). [المدثر سورت: 30، 31 آيتونه]

، او په صحيح کې له عبد الله بن مسعود -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې رسول الله- صلى الله عليه وسلم - فرمايلي: «يؤتى بجهنم يومئذ لها سبعون ألف زمام، مع كل زمام سبعون ألف ملك يجرُّونها». «په هغه ورځ به جهنم راوړلی شي پداسي حال کې چې اويا زره ځنځيرونه به ولري، د هر ځنځير سره به اويا زره پرښتې وي او کش کوي به يې». مسلم (2842) او ترمذي (2573) روايت کړی. تفسير القرطبي (١٩/٨٠).

## )بـــاب مراتب الـملائكة (باب دی د پرښتو د رتبو په باره کې

او مونږ ايمان لرو چې الله -تعالی- د ملائکو لپاره مرتبې او درجې ټاکلي دي، د دوی په اړه حق ذات فرمايلي دي:

﴿وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٌ مَّعْلُومٌ﴿١٦٤﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ ٱلصَّآفُّونَ﴿١٦٥﴾﴾ [الصافات: 164-165]

(او په مونږ کې هيڅوك نشته مګر د هغه لپاره معلوم ځای دی. او بېشکه خامخا مونږ صف تړونکي يو). [الصافات سورت: 164-166 آيتونه]

. د مقام له اړخه تر ټولو سترې ملاېکې جبرائيل، ميکائيل او اسرافيل دي؛ لدې امله رسول الله -صلى الله عليه وسلم- د الله تعالی په ربوبيت (د دغه دريو ملايکو) هغه ته نزديکت لټولای ، له ابو سلمه بن عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي: ما له عائشې أم المؤمنين -رضي الله عنها- څخه پوښتنه وکړه؟ چې پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - به چې کله د شپې لمانځه ته پاڅېده نو د لمانځه پرانسته به يې په څه سره کوله؟ هغې وفرمايل: کله به چې د شپې لمانځه ته پاڅېده نو د لمانځه پرانسته به يې - پدې الفاظو - سره کوله: «اللهُمَّ رَبَّ جَبْرَائِيلَ، وَمِيكَائِيلَ، وَإِسْرَافِيلَ، فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ، عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ، اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ؛ إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ». «ای د جبرائيل، ميکائيل او اسرافيل ربه، له مخکينۍ بيلګې پرته د آسمانونو او ځمکې پيدا کوونکيه! په پټو او ښکاره و پوه ذاته، ته د خپلو بنده ګانو تر منځه په هغه څه کې پريکړه کوې چې هغوی پکې يو له بل سره مخالفت کړی دی، ماته په هغه څه کې لارښونونه وکړه چې د حق په اړه پکې ستا په اجازې سره مخالفت کيږي، يقينا ته يې! چا لره چې وغواړې نيغې لارې ته يې لارښوونه کوې». مسلم (770)، ابو داود (767)، نسائی (1625) او ابن ماجه (1357) روايت کړی دی. په دوی کې تر ټولو ډيرې عزتمنې د عرش پورته کوونکي دي او همدارنګه هغه ملاېکې چې د بدر په غزا کې يې ګډون کړی دی. وعن معاذ بن رفاعة بن رافع الزرقي عن أبيه رضي الله عنه -وكان أبوه من أهل بدر- قال: جَاءَ جِبْرِيلُ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: «مَا تَعُدُّونَ أَهْلَ بَدْرٍ فِيكُمْ، قَالَ: مِنْ أَفْضَلِ المسلِمِينَ - أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا - قَالَ: وَكَذَلِكَ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ المَلَائِكَةِ». له معاذ بن رفاعة بن رافع الزرقي -رضی الله عنه- څخه روايت دی -د هغه پلار له بدريانو څخه و- هغه ويلي چې : جبرائيل -عليه السلام- رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته يې وويل: تاسو په خپلو کې د بدر خلک څنګه ګڼئ، هغه وفرمايل: له غوره مسلمانانو څخه -دا او يا دې ته ورته خبره يې ورته وکړه- هغه وفرمايل: او همدا حال د هغه پرښتو دی چې د بدر په جنګ کې يې حاضرې وې». بخاري (3992) روايت کړی دی. او په هر اسمان کې دومره پرښتې دي چې شمېر يې له الله پرته بل څوک نشي کولای، او دا پرښتې هره يوه ځانته معلوم ځای لري او په دوی کې مقربې دي؛ لدې امله رسول - الله صلى الله عليه وسلم - د مؤمن له مرګ څخه وروسته د روح د پورته کېدو او اسمان ته ختلو په اړه فرمايلي: «فَيَصْعَدُونَ بِهَا، فَلَا يَمُرُّونَ -يَعْنِي بِهَا- عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ، إِلَّا قَالُوا: مَا هَذَا الرُّوحُ الطَّيِّبُ؟ فَيَقُولُونَ: فُلَانُ ابْنُ فُلَانٍ، بِأَحْسَنِ أَسْمَائِهِ الَّتِي كَانُوا يُسَمُّونَهُ بِهَا فِي الدُّنْيَا،

حَتَّى يَنْتَهُوا بِهَا إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَيَسْتَفْتِحُونَ لَهُ، فَيُفْتَحُ لَهُمْ، فَيُشَيِّعُهُ مِنْ كُلِّ سَمَاءٍ مُقَرَّبُوهَا إِلَى السَّمَاءِ الَّتِي تَلِيهَا». «نو پورته يې کړي، په پورتنيو مخلوقاتو کې، له ملاېکو څخه په هيچا نه تيريږي مګر دا چې هغوی وايي: دا څومره پاکيزه روح دی؟ نو دوی ورته وايي: فلانی د فلانی زوی دی، په هغه ښايسته نوم سره يې ياد کړي چې په دنيا کې به ورته اخيستل کيده، تر دې چې د دنيا آسمان ته يې ورسوي، نو د دروازې د خلاصيدلو غوښتنه وکړي، نو دروازه ورته خلاصه شي، نو په هر آسمان کې يې نږدې مخلوق تر بل آسمان پورې بدرګه کړي». ابو داود (3212)، نسائي (2001)، ابن ماجه (1548)، ابوداود الطيالسی (789)، عبد الرزاق (6324، 6737) او احمد (18534) روايت کړی او لفظ د همده دی.

# )کتاب الإيمان بالکتب (په کتابونو ايمان لرل

## د کتاب لنديز

او مونږ په کتابونو ايمان لرو، چې هغه د الله -تعالی- نازل کړی شوي کتابونه دي د هغه په رسولانو او انبياوو عليهم السلام، هغه چې مونږ يې لدې څخه پيژنو لکه: د ابراهيم صحيفې، د موسی صحيفې، تورات، زبور، انجيل، او قرآن او مونږ لدې څخه په هغه څه ايمان لرو چې مونږ پرې پوهيږو او پر هغه څه چې مونږ پرې نه پوهيږو.

او مونږ ايمان لرو چې دا ټول کتابونه د الله تعالی وينا او وحيي ده، او تورات الله تعالی په خپل لاس ليکلی. او دا کتابونه يې په خپلو رسولانو عليهم السلام نازل کړی دي؛ جبرائيل أمين پرې نازل کړي دي، دې کتابونو په خپل ځان کې الهي قوانين، خبرونه، نصحيتونه، اوامر او نواهي رانغاړلي دي، او هر کتاب په خپل وخت کې هغه وحيي وه چې عمل کول پرې واجب و، او پر مټ يې پريکړه کول د هغه امت لپاره چې پرې نازل شوی دی.

او مونږ ايمان لرو چې ځينې يې له ځينو نورو څخه غوره دي، تورات الله تعالی په خپل لاس سره ليکلی.

او مونږ په يقين سره پوهيږو چې په کتابونو ايمان راوړل د ايمان له رکنونو څخه دريم رکن دی، نو مونږ په ټولو ايمان راوړو او مونږ د هغه چا په څير نه يو چې په ځينو يې ايمان راوړی او په ځينو يې کافران شوي دي.

او مونږ پدې ایمان لرو چې هغه کتابونه چې له قرآن څخه مخکې نازل شوي دي الله تعالی یې د ساتلو تضمین ندی کړی؛ بلکې له هغو څخه ساتنه یې همغه قوم ته ورترغاړې کړې وه چې پرې نازل شوي وو؛ لدې امله پکې تحریف وشو، او دغه الهي کتابونه د ورکیدو او هیریدو د سرنوشت سره مخ شول؛ تور لګوونکو ولیکل او د هغې نسبت یې الله تعالی ته په دروغو او تهمت سره وکړ، نو هغوی به لیکل او په خپلو ژبو به یې لوستل تر څو پرې خلک تېرباسي؛او د الله - تعالی - لخوا یې وګڼي.

او مونږ ایمان لرو چې قرآن کریم تر ټولو آسماني کتابونو لوی، بشپړ او زیات عزتمن دی او دا یې ورستی دی؛ جبرائیل -علیه السلام- زمونږ د رسول محمد -صلی الله علیه وسلم- په زړه په واضحه عربي ژبه نازل کړی دی، او الله -تعالی- ورته تر ټولو عزتمنده ژبه وټاکله؛ ځکه چې د عربو ژبه تر ټولو زیاته کره، واضحه او پراخه ده، او تر ټولو ژر اصلي معناګانو ته رسوونکي ده؛ لدې امله یې تر ټولو عزتمن کتاب په تر ټولو عزتمندې ژبې، په تر ټولو عزتمند پیغمبر، د تر ټولو عزتمندې ملاېکې په واسطه، په تر ټولو عزتمندې ځمکې کې نازل کړ او نازلیدل یې هم په تر ټولو عزتمندې میاشت کې چې د روژې میاشت ده پیل شول، نو له ټولو اړخونو بشپړ شو او لومړی هغه څه چې ترې نازل شول د الله -تعالی- دا وینا ده:

﴿ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ١﴾ [العلق: 1]

(ته د خپل هغه رب په نامه سره ولوله چې پیدا کړي یې دي (ټول مخلوقات). [العلق سورت: 1 آیت]،

او له هغه څخه وروستي څه چې نازل شوي دي د الله -تعالی- دا وینا ده:

﴿... ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ ...﴾ [المائدة: 3]

(نن ورځ ما ستاسو لپاره ستاسو دین مکمل کړ او پر تاسو مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما ستاسو لپاره اسلام د دین په توګه خوښ کړ). [المائدة سورت: 3 آیت]،

په رسول الله -صلی الله علیه وسلم- د نبوت د کلونو په بهیر کې لږ لږ( د واقعاتو او احداثو مطابق) نازل شو، لدې څخه؛ مکي او مدني دي، د سورتونو شمېر یې یو سل او څوارلس دی، تر ټولو لوی سورتونه یې -د معنا په لحاظ- الفاتحة او الاخلاص سورتونه

دي، د اخلاص سورت د قرآن له يو پر دريمې سره برابر دی، او تر ټولو ستر آيت يې آيت الكرسي دی.

او الله تعالی د دغه ستر کتاب ستاينه وکړه او د مؤمنانو لپاره يې رڼا، هدايت، رحمت، پند او د زړونو او بدنونو د ناروغيو لپاره يې شفا وګرځاوه.

او مونږ ايمان لرو چې دا ستر کتاب؛ همدغه د آسماني کتابونو تر ټولو بشپړ او هر اړخيز کتاب دی، چې دليلونه او شواهد لري، هغه مثالونه وړاندې کوي چې د قيامت تر ورځې پرې پر بنده ګانو حجت قائميږي، او ټول هغه څه يې په ځان کې رانغاړلي دي چې په مخکنيو آسماني کتابونو کې وو او له هغو څخه زيات هم، او ټول هغه څه لري چې بشريت ورته اړتيا لري د ايمان له اصولو، قوانينو شواهدو، پندونو، نصيحتونو او خبرونو څخه، او په فصاحت او وضاحت کې تر ټولو وروستي حد ته رسيدلی، او پدې خبره تر ټولو ستر دليل چې دا قرآن د رب العالمين وينا ده دا دی چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- نالوستی و، نه يې لوستل کولی شول او نه ليکل او تر ټولو ستر، بشپړ، فصيح او واضح کتاب پرې نازل شو.

موږ باور لرو چې قرآن کريم په خپل لفظ او معنی کې يوه حيرانونکي معجزه ده او الله -تعالی- ټول پيريان او انسانان ننګولي دي چې دېته ورته ټول قرآن يا لس سورتونه او يا د دې د يو سورت په څېر يو سورت جوړ کړي.

او مونږ ايمان لرو چې دا قرآن د الله -تعالی- نازل کړی شوی کلام دی او مخلوق ندی، او دا په سينو کې ساتل شوی، په مصحفونو کې ليکل شوی، په محرابونو او جوماتونو کې تلاوت کيږي او دا -کارونه- يې لدې څخه نه باسي چې دا دې د الله کلام وي. او د الله کلام د هغه له صفتونو څخه يو صفت دی او هر هغه څه چې د الله -تعالی- له صفتونو څخه وي هغه مخلوق ندی؛ ځکه که چېرته مخلوق وای نو هغه څه به ورته پيښ شوي وای لکه نورو تازه پيدا شوو مخلوقاتو ته چې له فنا، له منځه تللو، زوال او بدلون څخه پيښيږي.

او موږ ايمان لرو چې الله - تعالی - د دې قرآن د ساتلو تضمين کړی دی، او دا کار يې مخلوق ته ندی ورترغاړې کړی او دا يې خورا محکم ( چې دلالت يې واضح وي )ګرځولی لکه څرنګه يې چې متشابه ( چې يو ايت د بل تائد کوي ، معارضه پکې نه وي) ګرځولی او دا يې ښکاره کړې چې بې لارې خلک يې د متشابه ( چې د صواب او غير صواب دواړو معانيو احتمال لري ، نو اهل زيغ يې هغه غير صواب معنی لټوي) پيروي کوي او مؤمنان پرې په ټولو باور لري؛ محکم او متشابه (دواړو).

او الله -تعالى- هغه په ټولو پخوانيو کتابونو حاکم او مسلط ګرځولى او دا کتاب مونږ ته د پخوانيو امتونو کيسې بيانوي او د اهل کتابو تر منځه په هغه څه کې پريکړه کوي چې هغوى پکې اختلاف درلود.

او مونږ ايمان لرو چې دا لوى قرآن همدا د رب العالمين کلام دى چې د روح الأمين په واسطه نازل شوى او دا هغه څه دي چې د مسلمانانو له دين څخه د اړتيا له مخې پيژندل شوي دي، او ټول مسلمانان؛ عالمان دي که عاميان يې په اړه په يوه خوله دي، او هيڅ يو په دوى کې مخالفت ندى کړى او الله -تعالى- د دې قرآن لپاره ګواهي ورکړې ده چې د هغه له لورې دى، او ملايکو هم ګواهي ورکړې چې د حکيم او ستايل شوي ذات له لورې دى او د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- د زمانې اهل کتابو هم دا ګواهي ورکړې ده او الله -تعالى- لدې ګواهۍ څخه په خپل محکم نازل شوي -کتاب- کې يادونه کړې ده او د پيريانو حاضر شوي کس ګواهي ورکړې ده چې دا قرآن د الله -تعالى- لخوا نازل شوى او دا د هغه څه سره موافق دى چې موسى -عليه السلام- پرې راتګ کړى و او د قريشو کافرانو ګواهي ورکړې چې دا قرآن د بشر له وينا څخه ندى، او يقينا چې دا د بشر د وينا څخه جلا دى.

او مونږ ايمان لرو چې هغه څه چې په قرآن کې د الهي علومو، شرعي حکمونو او آدابو څخه دي هغه ټول -د انسان- په فطرت کې ځاى پر ځاى شوي دي، د هغه څه سره اړخ لګوي چې أنبياوو -عليهم السلام- پرې راتګ کړى دى او ټول هغه بنسټونه چې قرآن کريم کې پرې ټينګار راغلى دى هغه څه دي چې رسولانو -عليهم السلام- ورته بلنه کوله او ټينګار يې پرې کاوه.

او قرآن کريم له هغه څه سره موافق دى چې الله تعالى يې له مخلوقاتو څخه غواړي او له هغه څه سره چې مخلوقات يې له خالق څخه غواړي؛ دا ځکه چې الله خالق دى، په هغه څه پوه دى چې بنده ګان ورته اړتيا لري او په هغه څه پوه دى چې د هغوى ديني، ځاني، مالي او کورنۍ چارې سموي، او په هيڅ شي يې امر ندى کړى مګر دا چې په هغه کې به لوړ مصلحت وي، او نه يې له کوم شي څخه منع کول کړي دي مګر دا چې په منع کولو کې به يې تر وروستي حده له احتياط او ملاتړ څخه کار اخيستل شوى وي.

او قرآن له هغه څه سره موافق دى چې عقلونه يې غواړي، لدې امله کله چې الله -تعالى- په "سورة الانعام" کې د ممنوعاتو بنسټونو ته اشاره وکړه، نو پدې وينا سره يې خبره پاى ته ورسوله چې: {لَعَلَّكُم تَعْقِلُونَ}.د دې د پاره چې تاسو له عقل څخه کار واخلئ.

او هغه دليلونه چې قرآن کريم پرې راتګ کړی، هغه دي چې په وضاحت، فصاحت، ځواکمنی، نږدې والي او آسانتيا کې وروستي حد ته رسيدلي چې هر څوک پرې پوهيږي او هيڅوک نه شي کولای چې مات يې کړي او يا يې رد کړي، او دا -ځانګړتيا- له انسانانو څخه د هيچا په وينا کې نده پيژندل شوې او دليلونه يې هيڅ امکان نه لري چې په باطل دلالت وکړي.

او لوی قرآن؛ همدغه د رب العالمين وينا ده، سره لدې د هر چا لپاره د لاسرسي وړ دی، او هيڅ بشر داسې ندی پيژندل شوی چې ليکنه يې ټولو ته آسانه وي او هر څوک دې پرې مخاطب وګرځول شي، نو دا ځانګړتياوې لدې کتاب پرته بل کتاب ته ندي ورکول شوي.

او لوی قرآن له بدلون او اختلاف څخه خوندي دی، او الله تعالی ورته د قيامت تر ورځې پورې بقا او تلپاتې کېدل ليکلي، او دا بقاء او تلپاتې والی او نه بدليدل پدې دلالت کوي چې د حکمت والا ستايل شوي ذات له لوري نازل شوی دی، او سره له تلپاتې کيدو، ابدي کيدو، ساتلو او د علمونو، فنونو، او کشفياتو د نوښت سره مو هيڅ علم و نه موند چې د هغه څه مخالفت وکړي چې قرآن پرې راتګ کړی دی، بلکه علوم د قرآن سره موافقت لري په هغه څه کې چې په قرآن کې يې يادونه شوې ده، لکه د آسمانونو پيدايښت، د انسان پيدايښت او داسې نور.

او قرآن تر ټولو برابرې -لارې- ته لارښوونه کوي، نو دا هرې ښېګڼې ته شامل دی، دا له خالق او مخلوقاتو څخه خبر ته شامليږي، او دنيا او آخرت، پيريان او انسانان، اوامر، نواهي، آدبونه، واجبات، جنت او دوزخ ، نو ايمان، عمل او بدلې ته شامل دی.

او قرآن کريم د ناروغيو لپاره شفا ده، او د بشر په وينا کې هيڅ داسې وينا نده پيژندل شوې چې په هغه کې د زړونو او بدنونو د ناروغيو درملنه پرته وي، لکه څرنګه چې پدې لوی قرآن کې راغلي دي؛ هغه قرآن چې د رب العالمين کلام دی.

او قرآن مونږ ته د تيرو قومونو خبرونه بيانوي لکه څنګه چې واقع شوي دي، حال دا چې د مکې په خلکو کې د دوی خبرونه نه وو خپاره شوي، نو الله تعالی مونږ ته حکايت کړل لکه څرنګه چې وو، نو دا د دې ثبوت دی چې دا -قرآن- د حکيم او ستايل شوي ذات لخوا وحې ده.

او لوی قرآن چې وضاحت، فصاحت، غيبي خبرونه او الهي قوانين له ځان سره لري، داسې يو پيغمبر راوړی دی چې نالوستی و، نه يې ليکل کولی شول او نه لوستل، نو دا د

دې ثبوت دی چې دا قرآن د حکیم ستایل شوي ذات لخوا نازل شوی دی او د قرآن کریم یو سورت په مختلفو وختونو او مختلفو ځایونو کې نازل شوی دی، لدې سره بیا هم یو سورت داسې لوستل کیږي لکه په یو ځل چې نازل شوی وي، او دا معمول دی چې انسانان د پوهې له اړخه یو له بل سره توپیر لري او طریقې یو له بل سره جلا وي کله چې دوی په مختلفو وختونو کې کتابونه تالیفوي.

او رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ته الله -تعالی- سنت ( حدیث ) ورکړي لکه څرنګه یې چې قرآن ورکړی: او څوک چې په قرآن او سنت کې وګوري پوه به شي چې د دواړو تر منځه دومره توپیر دی چې نه پټیږي.

او دا چې قرآن د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاربنوونو ته شامل دی، هغه څه چې باید وشي، یا هغه څه چې کول یې واجب دي.

## )بـــاب وجوب الإيمـــان بالكـتب (باب دی په دې اړه چې په کتابونو ایمان واجب دی

او مونږ په کتابونو ایمان لرو، او دا د الله هغه کتابونه دي چې په خپلو رسولانو او نبیانو علیهم السلام یې نازل کړي دي.

هغه چې مونږ یې ترې پیژنو: د ابراهیم - علیه السلام -صحیفې، او د موسی علیه السلام - صحیفې، او تورات، او زبور، او انجیل او قرآن.

او مونږ ایمان لرو په هغه چې پیژنو یې او په هغه چې نه یې پیژنو.

او مونږ ایمان لرو چې دا ټول کتابونه د الله تعالی وینا او وحیې ده، چې په خپلو رسولانو علیهم السلام یې نازل کړي دي؛ جبرائیل أمین پرې نازل کړي دي، دې کتابونو په خپل ځان کې الهي قوانین، خبرونه، نصحیتونه، اوامر او نواهي رانغښتي دي، او هر کتاب په خپل وخت کې هغه وحیې وه چې عمل کول او پر - قوانینو - یې پریکړه واجب وه.

او مونږ ایمان لرو چې ځینې یې له ځینو نورو څخه غوره دي، تورات الله تعالی په خپل لاس سره لیکلی دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَكَتَبۡنَا لَهُۥ فِي ٱلۡأَلۡوَاحِ مِن كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡعِظَةٗ وَتَفۡصِيلٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ ...﴾ [الأعراف: 145]

(او مونږ د هغه لپاره په تختو کې د هر شي باره کې نصيحت او د هر شي تفصيل وليکه) [الأعراف سورت: 145 آيت]،

او هغه -صلی الله علیه وسلم- د ادم علیه السلام په اړه خبر ورکړ چې موسی -علیه السلام- ته يې وويل: «يَا مُوسَى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِكَلَامِهِ، وَخَطَّ لَكَ بِيَدِهِ»، «ای موسی، ته الله په خپل کلام سره غوره کړی يې، او تورات يې درته په خپل لاس ليکلی». بخاري (۶۶۱۴)، مسلم (۲۶۵۲)، ابو داود (۴۷۰۱)، ترمذي (۲۱۳۴) او ابن ماجه (۸۰) روايت کړی دی. او الله -تعالی- د تورات په اړه فرمايلي دي:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ ... ﴾ [المائدة: 44]

(بېشکه مونږ تورات نازل کړی دی، چې په هغه کې هدايت او رڼا ده، په ده سره به نبيانو، چې حکم منونکي وو، (د يهوديانو لپاره) فيصلې کولې). [المائدة سورت: 44 آيت]

. حق ذات د انجيل په اړه فرمايلي دي:

﴿وَقَفَّيۡنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡإِنجِيلَ فِيهِ هُدٗى وَنُورٞ وَمُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَهُدٗى وَمَوۡعِظَةٗ لِّلۡمُتَّقِينَ ٤٦﴾ [المائدة: 46]

(او مونږ هغه ته انجيل ورکړ، چې په هغه کې هدايت او رڼا وه او چې له ده نه د مخکې (کتاب) تورات تصديق کوونکی و او د پرهيزګارانو لپاره هدايت او نصيحت و). [المائدة سورت: 46 آيت].

او په کتابونو ايمان؛ په الله -تعالی- د ايمان له رکنونو څخه دريم رکن دی، الله تعالی فرمايلي: ﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨٥﴾ [البقرة: 285]

(رسول پر هغه څه ايمان راوړی دی؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ايمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملايکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو باندې (او وايي) مونږه د هغه (الله) په رسولانو کې د هيچا په مينځ کې

توپیر نه کوو).او وايي: مونږ واورېدل او مونږ خبره ومنله (مونږ) ستا (نه) بخښنه (غواړو) اې زمونږه ربه! او خاص تا ته بېرته درتګ دی). [البقرة سورت: 285 آیت]،

او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي چې يوه ورځ رسول الله - صلى الله عليه وسلم- خلکو ته راښکاره شوی و، نو يو سړی ورته راغی، او ويې ويل: ای د الله رسوله ! ایمان څه دی؟ هغه وفرمايل: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكِتَابِهِ، وَلِقَائِهِ، وَرُسُلِهِ، وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ الْآخِرِ»، "دا چې په الله، د هغه پر ملائکو، د هغه پر کتابونو، د هغه سره په مخ کيدلو، د هغه په رسولانو ايمان ولرې او دا چې ته په وروستي ځل راپاڅېدو باور ولرې". بخاري (4777)، مسلم (9) او ابن ماجه (64).) روايت کړی دی.
او دا چې د هغه چا په څېر نه شو چې په ځينو يې ايمان راوړ، او په ځينو يې کفر وکړ، لکه څرنګه چې الله -تعالى- په خپلې دې وينا سره له هغوی څخه خبر ورکړ:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٖ وَنَكۡفُرُ بِبَعۡضٖ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ١٥٠﴾ [النساء: 150]

(يقينا هغه کسان چې کفر کوي په الله تعالى او د هغه په رسولانو باندې او دوی غواړي چې جدایی راولی د الله تعالى او د هغه د رسولانو په مينځ کې ( په ايمان راوړلو کې ) او دوی وايي مونږ ايمان لرو په ځينو باندې او انکار کوو له ځينو نورو څخه او دوی غواړی چې جوړه کړي د دې په مينځ کی بله لار). [النساء سورت: 150 آیت]،

يا د هغو کسانو په څير چې د هغه کتابونو څخه انکار کوي چې الله -تعالى- په خپلو رسولانو نازل کړي دي، حق ذات د هغوی څخه د خبر ورکولو په موخه فرمايلي دي:

﴿ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِٱلۡكِتَٰبِ وَبِمَآ أَرۡسَلۡنَا بِهِۦ رُسُلَنَاۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٧٠﴾ [غافر: 70]

(هغه کسان چې تکذيب کوي د کتابونو او د هغه څه چې په هغو سره مونږ خپل رسولان لیږلي وو، پس ژر به دوی پوه شي). [غافر سورت: 70 آیت].

او مونږ ايمان لرو چې ټول هغه کتابونه چې له قرآن څخه مخکې دي، الله -تعالى- يې د ساتلو ضمانت نه و کړی؛ بلکې د هغې ساتنه يې هغو خلکو ته سپارلې وه چې الله تعالى پرې نازل کړي وو، څښتن -تعالى- فرمايي: { (ببشکه مونږ تورات نازل کړی دی، چې په هغه کې هدايت او رڼا ده، په ده سره به نبيانو، چې حکم منونکي وو، د يهوديانو لپاره فيصلې کولې او الله والا خلکو او عالمانو (به هم فيصلې کولې)، ځکه چې دوی د الله د کتاب ساتونکي ګرځول شوي وو او دوی په ده باندې ګواهان وو

؛ لدي امله تحريف ور داخل شو، الله - تعالى - فرمايلي: { (نو د خپلې کلکې وعدې د ماتولو په سبب مونږ پر دوی لعنت وکړ او مونږ د دوی زړونه سخت کړل، دوی (د تورات) کلمې له خپلو ځايونو نه اړوي او دوی ته چې څه نصيحت شوی و؛ د هغه (لويه) حصه يې هېره کړله).

. او دغه الهي کتابونه د ورکيدو او هيريدو له سرنوشت سره مخ شول؛ تور لګوونکو وليکل او د هغې نسبت يې الله تعالى ته په دروغو او تهمت سره وکړ، حق ذات فرمايلي دي: {فَوَيْلٌ (نو د هغو کسانو لپاره هلاکت دی چې په خپلو لاسونو (له ځانه) کتاب ليکي، بيا وايي: دا د الله له جانبه دی، د دې لپاره چې د هغه په بدل کې لږ قيمت واخلي، نو د دوی لپاره هلاکت دی په سبب د هغه څه چې د دوی لاسونو ليکلي دي، او د دوی لپاره هلاکت دی په سبب د هغه چې دوی څه عمل کوي). دوی يې په خپلو ژبو تلاوت کوي ترڅو مخلوق ته دوکه ورکړي؛ او د الله -تعالى- له لورې يې وګڼي، الله -تعالى- له هغوی څخه د خبر ورکولو په موخه فرمايلي دي:

﴿وَإِنَّ مِنۡهُمۡ لَفَرِيقٗا يَلۡوُۥنَ أَلۡسِنَتَهُم بِٱلۡكِتَٰبِ لِتَحۡسَبُوهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ٧٨﴾ [آل عمران: 78]

(او يقينًا په دوی کې يوه ډله ده چې په (لوستو د) کتاب سره خپلې ژبې تاووي، د دې لپاره چې تاسو پر هغۀ د (الله د) کتاب ګومان وکړئ، حال دا چې هغه له (حق) کتاب څخه نه دي، او دوی وايي چې دا (مُحرَّف عبارتونه او تعبيرونه) د الله له جانبه دي، حال دا چې هغه د الله له جانبه نه دي، او دوی په الله باندې دروغ تړي، حال دا چې دوی پوهيږي). [آل عمران سورت: 78 آيت].

## )بـــاب الإيمان بالقرآن العظيم (باب دی په قرآن عظيم د ايمان په اړه

او مونږ ايمان لرو چې قرآن کريم تر ټولو آسماني کتابونو لوی، بشپړ او زيات عزتمن دی او دا يې ورستی يو دی؛ جبرائيل -عليه السلام- زمونږ د رسول محمد -صلى الله عليه وسلم- په زړه نازل کړی دی، الله تعالى فرمايلي: (او يقينا دا قرآن نازل کړی شوی (کتاب دی) د رب العالمين. نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الأَمِين *

﴿وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ١٩٢﴾﴿نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلۡأَمِينُ١٩٣﴾ ﴿عَلَىٰ قَلۡبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُنذِرِينَ١٩٤﴾

دا جبریل امین راکوز کړی دی. ستا په زړه باندې، د دې لپاره چې ته له وېروونکو څخه شې).
[الشعراء سورت: 192-194 آيتونه]

، او الله د ده لپاره عزتمنده ژبه غوره کړه، نو هغه يې په روښانه عربي ژبه نازل کړ، الله تعالی فرمايلي: (بېشکه مونږ دا نازل کړی دی، په داسې حال کې چې عربي قرآن دی، د دې لپاره چې تاسو پوه شئابن قتية فرمايلي: "د قرآن فضيلت يوازې هغه چا ته معلوم وي چې نظر يې زيات (پراخه) وي، پوهه يې پراخه وي، د عربو په مذهبونو پوهيږي او د دوی له طريقو سره بلدتيا ولري، او هغه څه چې الله -تعالی- پرې د دوی ژبې ته ځانګړتيا ورکړې ده پرته له ټولو ژبو څخه؛ يقينا په ټولو امتونو کې داسې امت نشته چې داسې يوه پراخ او واضح د ساحې پراخوالی ورکړل شوی وي لکه عربو ته چې په ځانګړې توګه د الله تعالی لخوا ورکړل شوی دی، د هغه نښانو له امله چې په رسول الله -صلی الله عليه وسلم- کې يې پيدا کړې وې او غوښتل يې چې په کتاب سره د هغه د نبوت ثبوت ثابت کړي، نو دا يې د هغه علم وګرځاوه، لکه څرنګه يې چې هر نبي ته د هغه په عصر کې د ورته شيانو په اړه پوهه ورکړې وه. نو دا يې هم د هغه علم وګرځاوه، څکه د رسولانو له ډلې څخه د هر پيغمبر لپاره يو ځانګړی علم د هغه وخت د مسالو په اړه ورکول کېده په کوم وخت کې به چې هغه ورته لېږل کېده. تأويل مشكل القرآن ( 17: مخ). او لومړی هغه څه چې الله -تعالی- لدې قرآن څخه نازل کړي دي د الله تعالی دا وينا ده:

﴿ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ١﴾ [العلق: 1]

[ته د خپل هغه رب په نامه سره ولوله چې پيدا کړي يې دي (ټول مخلوقات)] [العلق سورت: 1 آيت]

، له ام المؤمنين عائشة -رضي الله عنها- څخه روايت دی چې هغې فرمايلي دي: لومړی هغه څه چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- ته پرې د وحيې پيل شو: تر دې چې حق ورته راغی پداسې حال کې چې هغه د حرا په غار کې و، نو ملايکه ورته راغله، او ويې وييل: «اقْرَأْ، قَالَ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ، قَالَ: فَأَخَذَنِي، فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الجَهْدَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: اقْرَأْ، قُلْتُ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ، فَأَخَذَنِي، فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الجَهْدَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: اقْرَأْ، فَقُلْتُ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ، فَأَخَذَنِي، فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ : «ولوله، هغه وويل: زه لوستونکی نه يم، وايي: زه يې راونيولم او زور يې راکړ تر دې چې ساه مې تنګه شوه، بيا يې خوشې کړم، راته يې وويل: ولوله، ماورته وويل: زه لوستونکی نه يم،

نو راویي نیولم، په دویم ځل یې زور راکړ تر دې چې ساه مې تنګه شوه، بیا یې خوشې کړم، راته یې وویل: ولوله، ما وویل: زه لوستونکی نه یم، نو راویي نیولم، او د دریم ځل لپاره یې فشار راکړ، بیا یې خوشې کړم، نو راته یې وویل: [ته د خپل هغه رب په نامه سره ولوله چې پیدا کړي یې دي (ټول مخلوقات). ده انسان له پرنډ (ټوټې) وینې نه پیدا کړی دنته ولوله، په داسې حال کې چې ستا رب تر ټولو لوی کریم دىفَرَجَعَ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَرْجُفُ فُؤَادُهُ. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم پدې آيتونو سره په لړزانده زړه بیرته راستون شو. (بخاري (3)، مسلم (160) او ترمذي (3632) روایت کړی دی. او د هغه څه په پای کې چې له دې (قرآن) څخه نازل شوي دي: د الله - تعالى - دا وینا ده } (نن ورځ ما تاسو لپاره ستاسو دین مکمل کړو او پر تاسو باندې مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما ستاسو لپاره اسلام د دین په توګه غوره کړ). په رسول الله -صلى الله عليه وسلم- د نبوت د کلونو په بهیر کې قران لږ لږ د ضرورت موافق نازل شو، لدې څخه؛ مکي او مدني دي، د سورتونو شمېر یې یو سل او څوارلس دی، تر ټولو لوی سورت یې -د معنا په لحاظ- الفاتحة سورت دی . فعن ابن عباس رضي الله عنهما قال: بَيْنَمَا جِبْرِيلُ قَاعِدٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم سَمِعَ نَقِيضًا مِنْ فَوْقِهِ، فَرَفَعَ رَأْسَهُ، فَقَالَ: «هَذَا بَابٌ مِنَ السَّمَاءِ فُتِحَ الْيَوْمَ لَمْ يُفْتَحْ قَطُّ إِلَّا الْيَوْمَ، فَنَزَلَ مِنْهُ مَلَكٌ، فَقَالَ: هَذَا مَلَكٌ نَزَلَ إِلَى الْأَرْضِ لَمْ يَنْزِلْ قَطُّ إِلَّا الْيَوْمَ، فَسَلَّمَ، وَقَالَ: أَبْشِرْ بِنُورَيْنِ أُوتِيتَهُمَا لَمْ يُؤْتَهُمَا نَبِيٌّ قَبْلَكَ: فَاتِحَةُ الْكِتَابِ، وَخَوَاتِيمُ سُورَةِ الْبَقَرَةِ، لَنْ تَقْرَأَ بِحَرْفٍ مِنْهُمَا إِلَّا أُعْطِيتَهُ». له ابن عباس -رضي الله عنهما- څخه روایت دی وایي: پداسې حال کې چې جبریل -علیه السلام- د پیغمبر -صلى الله عليه وسلم- سره ناست و چې له پاسه یې غږ واوریده نو سر یې پورته کړ، ویې وییل: «دا له آسمان څخه یوه دروازه ده چې نن خلاصه شوه، هیڅکله نه وه خلاصه شوې مګر نن ورځ، یوه پریښته ترې راښکته شوه، نو ویې ویيل: دا ملایکه ځمکې ته راښکته شوه چې هیڅکله نه وه راښکته شوې مګر نن ورځ، نوسلام یې واچاوه او ویې ویيل: زیرى واخله په دوو رڼاګانو باندې چې تاته درکړای شوې او ستا څخه وړاندې هیڅ نبي ته ندي ورکړل شوي: فاتحة الکتاب، او د البقرې سورت د پای -آیتونه- هیڅ یو توری به لدې دواړو څخه نه لولې مګر دا چې درکول کیږي به». (مسلم (806)، او نسائي (912). روایت کړی دی. او د الاخلاص سورت د قرآن کریم د یو پر دریمې برخې سره برابر دی. فعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: خَرَجَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: «أَقْرَأُ عَلَيْكُمْ ثُلُثَ الْقُرْآنِ»، فَقَرَأَ: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَد * اللَّهُ الصَّمَد} حَتَّى خَتَمَهَا. له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایي: رسول الله -صلى الله عليه وسل - مونږ ته راووت نو ویې فرمایل: «زه پر تاسو د قرآن یو پر دریمه لولم» نو قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَد * اللَّهُ الصَّمَد} یې تر پایه ولوست. مسلم (812) روایت کړی دی. او تر ټول ستر آیت یې آیة الکرسي

دی. فعن أُبَيّ بْنِ كَعْبٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: «يَا أَبَا الْمُنْذِرِ، أَتَدْرِي أَيُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ مَعَكَ أَعْظَمُ؟» قَالَ: قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: «يَا أَبَا الْمُنْذِرِ أَتَدْرِي أَيُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ مَعَكَ أَعْظَمُ؟» قَالَ: قُلْتُ: [: فَضَرَبَ فِي صَدْرِي، وَقَالَ: «وَاللهِ لِيَهْنِكَ الْعِلْمُ أَبَا الْمُنْذِرِ». له أُبی بن كعب - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایي چې : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: « ای أبو المنذره، آیا ته پوهیږې چې تاسره د الله له کتاب څخه کوم آیت تر ټولو لوی دی؟» هغه وایي ما وویل: الله او رسول یې ښه پوهیږي. ویې وییل: «ای أبو المنذره آیا ته پوهیږې چې تاسره د الله له کتاب څخه کوم آیت تر ټولو لوی دی؟ » هغه وایي ماوویل:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٢٥٥﴾ [البقرة: 255

وایي: په سینه کې یې ووهلم، او ویې وییل: « قسم په الله چې علم دې مبارک شه أبو المنذره». مسلم (810) او ابوداود (1460) روایت کړی دی. او الله تعالی د دې کتاب په نازلولو سره د خپل ځان ستاینه کړې ده، سپېڅلي ذات فرمایلي دي:

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَٰبَ وَلَمۡ يَجۡعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ ١﴾ [الكهف: 1]

(ټولې ستاینې خاص هغه الله لره دي چې پر خپل بنده یې کتاب نازل کړی دی او په ده کې یې هېڅ کوږوالی نه دی ایښی). [الکهف سورت: 1 آیت]

. همدا رنګه الله تعالی د دې ستر کتاب ستاینه هم کړې ده، حق او واکمن ذات فرمایلي دي:

﴿لَوۡ أَنزَلۡنَا هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ عَلَىٰ جَبَلٖ لَّرَأَيۡتَهُۥ خَٰشِعٗا مُّتَصَدِّعٗا مِّنۡ خَشۡيَةِ ٱللَّهِۚ وَتِلۡكَ ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ٢١﴾ [الحشر: 21]

(که مونږ دا قرآن په یوه غره باندې نازل کړی وی (نو) تا به خامخا هغه (غر) لیدلی وی، چې وېرېدونکی او د الله له وېرې نه ټوټې ټوټې کېدونکی به وی او دغه مثالونه (دي) چې مونږ یې د خلکو لپاره بیانوو، د دې لپاره چې دوی فکر وکړي). [الحشر سورت: 21 آیت]

، او همدارنګه هغه سپېڅلي ذات فرمایلي:

﴿وَلَوۡ أَنَّ قُرۡءَانٗا سُيِّرَتۡ بِهِ ٱلۡجِبَالُ أَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ ٱلۡأَرۡضُ أَوۡ كُلِّمَ بِهِ ٱلۡمَوۡتَىٰۗ ...﴾ [الرعد: 31]

(او كه بېشكه (دا) قرآن چې دى (داسې شي چې) په ده سره غرونه روان كړى شي، يا په ده سره ځمكه ټوټې كړى شي، يا په ده سره مړي په خبرو راوستل شي (بيا به هم دوى ايمان رانه وړي). [الرعد سورت: 31 آيت]،

او دا يې د مؤمنانو لپاره هدايت او رحمت ګرځولى دى، الله تعالى فرمايلي:

﴿هَٰذَا بَصَٰٓئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ٢٠﴾ [الجاثية: 20]

(دا (قرآن) د خلكو لپاره ښكاره د پوهې دليلونه دي او هدايت او رحمت دى د هغه قوم لپاره چې يقين كوي). [الجاثية سورت: 20 آيت]،

او پند او د زړونو او بدنونو د ناروغيو لپاره شفا دى، حق تعالى فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَتۡكُم مَّوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَشِفَآءٞ لِّمَا فِي ٱلصُّدُورِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ٥٧﴾ [يونس: 57]

(اې خلقو! يقينًا تاسو ته د خپل رب له جانبه نصيحت راغلى دى او په سينو كې چې څه (مرضونه) دي د هغو لپاره ستره شفا ده او د مومنانو لپاره هدايت او رحمت دى). [يونس سورت: 57 آيت]

، او الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٞ وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارٗا ٨٢﴾ [الإسراء: 82]

(او مونږ قرآن نازلوو هغه چې د مومنانو لپاره شفا او رحمت دى او ظالمانو ته نه زياتوي مګر تاوان - دهغوى د خباثت د وجه ورنه قران خو هدى للناس دى -). [الإسراء سورت: 82 آيت].

او مونږ ايمان لرو چې دا ستر كتاب؛ همدغه د آسماني كتابونو تر ټولو بشپړ او هر اړخيز كتاب دى، چې دليلونه او شواهد لري، هغه مثالونه وړاندې كوي چې د قيامت تر ورځې پرې پر بنده ګانو حجت قائميږي ، الله تعالى فرمايلي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُم بُرۡهَٰنٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ نُورٗا مُّبِينٗا ١٧٤﴾ [النساء: 174]

(ای خلکو! یقینًا تاسو ته د خپل رب له جانبه لوی دلیل راغلی دی او مونږ تاسو ته واضحه رڼا نازله کړې ده). [النساء سورت : 174 آیت]،

او حق ذات سبحانه وتعالی فرمايلي دي:

﴿وَلَا يَأۡتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَأَحۡسَنَ تَفۡسِيرًا ٣٣﴾ [الفرقان: 33]

(او دوی تا ته کوم مثال (عجیب سوال او اعتراض) نه راوړي مګر مونږ تا ته راوړو (د هغه) حق (جواب) او تر ټولو ښه تفسیر). [الفرقان سورت: 33 آیت]

، او الله تعالی فرماېلي دي:

﴿وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖ فَأَبَىٰٓ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورٗا ٨٩﴾ [الإسراء: 89]

(او یقینًا یقینًا مونږ په دې قرآن کې هر نوعه بیان وکړ نو نه کوي ډیر خلک بل کار په غیر د ناشکرۍ څخه). [الإسراء سورت: 89 آیت]

او الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لِيَذَّكَّرُواْ وَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا نُفُورٗا ٤١﴾ [الإسراء: 41]

(او یقینًا یقینًا مونږ په دې قرآن کې مکرر بیان کړی دی، د دې لپاره چې دوی نصیحت واخلي (خو دغه بیان) دوی ته نه زیاتوي مګر تښتنه (لرې والی). [الإسراء سورت: 41 آیت]

، ابن جرير فرمایلي: «د پورته شان ذات فرمايلي دي: {وَلَقَدْ صَرَّفْنَا} یقینا مونږ بیان کړي دي، دې مشرکانو ته چې په الله تعالی دروغ تړي {فِي هَـذَا الْقُرْآنِ} پدې قرآن کې؛ پندونه، نښانې او دلیلونه او دوی ته مو مثالونه وړاندې کړي دي او دوی مو پکې ویرولي دي او تهدید کړي مو دي {لِيَذَّكَّرُواْ} د دې لپاره چې پند واخلي، فرمايي: تر څو هغه دلیلونه رایاد کړي، او هغه غلطۍ درک کړي چې دوی پرې ولاړ دي او له پيښو عبرت واخلي، نو نورو ته پرې نصيحت وکړي او له خپلې ناپوهۍ څخه راوګرځي، نو نه خو دوی ترې

پند اخلي، او نه هغه آيتونه او تهديدونه چې ورته راځي په ياد راولي». تفسير الطبري (453/17). او دې قرآن ټول هغه څه په ځان کې رانغاړلي دي چې په پخوانيو آسماني کتابونو کې دي، او پر هغې يې ور اړولې هم ده، الله تعالى فرمايلي:

﴿وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا ۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١١٥﴾﴾ [الأنعام: 115]

(او د رښتينولۍ او عدل له لحاظه ستا د رب خبره کمال ته رسيدلې ده، د هغه کلماتو لره هيڅوك بدلوونکی نشته،او همغه ښه اورېدونکی، ښه عالم دی). [الأنعام سورت: 115 آيت]

، او دا هر هغه څه ته شامل دی چې خلک د ايمان له بنسټونو، قوانينو، دليلونو، حکمتونو، نصيحتونو او خبرونو څخه ورته اړتيا لري.

﴿إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ ...﴾ [الإسراء: 9]

(بېشکه دا قرآن هغې (لارې) ته ښودنه کوي چې تر ټولو برابره نېغه ده). [الإسراء سورت: 9 آيت]،

او الله تعالى فرماېلي دي:

﴿نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ هَٰذَا الْقُرْآنَ ...﴾ [يوسف: 3]

[(ای نبي!) مونږ تا ته تر ټولو ښه بيان (قصه) اوروو، د دې قرآن په ذريعې سره]. [يوسف سورت: 3 آيت]

، او دا - کتاب - د فصاحت او وضاحت په وروستي حد کې دی، الله تعالى فرمايلي:

﴿اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا ....﴾ [الزمر: 23]

(الله تر ټولو ښکلی کلام نازل کړی دی، چې داسې کتاب دی چې په خپل مينځ کې مشابه دی ( يو د بل تائد کوونکی دی تعارض او ټکر پکې نشته )، مکرر دی مضامين يې بار بار تکراريږي). [الزمر سورت: 23 آيت]

. او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «بُعِثْتُ بِجَوَامِعِ الكَلِمِ، وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ». «زه په جوامع الکلم (لنډ عبارت او پراخه معنی) سره ليږل شوی يم، او په ويرې سره مې ملاتړ شوی دی (يعنې ويره مې په خلکو کې مخکې له مخکې خپريږي)» . بخاري (2977)، مسلم (523)، ترمذي (1553) او النسائي (3087) روايت کړی دی. او -پدې

خبره- تر ټولو له سترو دلیلونو څخه چې دا قرآن د رب العالمین کلام دی دا دی: چې پیغمبر -صلی الله علیه وسلم- یو نالوستی و، نه یې لوستل کول او نه لیکل، پداسې حال کې چې تر ټولو ستر، او د فصاحت او وضاحت له اړخه بشپړ کتاب پرې نازل شوی دی، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَا كُنتَ تَتۡلُواْ مِن قَبۡلِهِۦ مِن كِتَٰبٖ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَۖ إِذٗا لَّٱرۡتَابَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ٤٨﴾ [العنکبوت: 48]

(او له دې (قرآن) نه مخکې نه تا کوم کتاب لوسته او نه تا د غه په خپل ښي لاس سره لیکه، (که ته داسې وی نو) په دغه وخت کې به باطل پرستو شك کاوه). [العنکبوت سورت: 48 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿... فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِيِّ ٱلۡأُمِّيِّ ٱلَّذِي يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٥٨﴾ [الأعراف: 158]

(نو تاسو پر الله او د هغه پر رسول ایمان راوړئ چې نبي دی، امي دی، هغه چې پر الله او د هغه پر کلماتو ایمان لري او تاسو د هغه پیروي وکړئ، د دې لپاره چې تاسو هدایت وموموئ). [الأعراف سورت: 158 آیت].

او مونږ باور لرو چې قرآن کریم په خپل لفظ او معنی کې یوه حیرانونکې معجزه ده او الله -تعالی- ټول پیریان او انسانان ننګولي دي چې دې ته ورته ټول قرآن یا لس سورتونه او یا د دې د یو سورت په څېر یو سورت جوړ کړي، نو د برکت والا دی الله تعالی چې د عالمیانو رب دی، حق ذات فرمایلي دي:

﴿قُل لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأۡتُواْ بِمِثۡلِ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لَا يَأۡتُونَ بِمِثۡلِهِۦ وَلَوۡ كَانَ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٖ ظَهِيرٗا ٨٨﴾ [الإسراء: 88]

(ته ووایه: خامخا که انسانان او پیریان ټول پر دې خبره سره جمع شي چې د دې قرآن مِثل راوړي (نو) د ده په مثل به رانه وړی شي اګر که د دوی ځینې د ځینو نورو ملاتړي (هم) وي). [الإسراء سورت: 88 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِعَشۡرِ سُوَرٖ مِّثۡلِهِۦ مُفۡتَرَيَٰتٖ وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٣﴾ [هود: 13]

(آيا دوی وايي چې ده دا له ځانه جوړ کړی دی، ته (دوی ته) ووايه: نو تاسو يو وړوکی سورت د ده په مثل راوړئ او له الله نه پرته چې څوك كولی شئ راوبلئ، كه چېرې تاسو رښتيني يئ). [هود سورت: 13 آيت].

الله تعالی فرمايلي:

﴿وَإِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّمَّا نَزَّلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّن مِّثۡلِهِۦ وَٱدۡعُواْ شُهَدَآءَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ٢٣﴾ [البقرة: 23]

[(او كه تاسو د هغه (قرآن) په هكله په كوم شك كې يئ چې مونږ پر خپل بنده نازل كړی دی، نو د ده غوندې يو وړوكی سورت راوړئ، او له الله نه پرته خپل مددگاران راوغواړئ، كه تاسو رښتوني يئ]. [البقرة سورت: 23 آيت].

او موږ ايمان لرو چې الله -تعالى- د دې قرآن د ساتلو تضمين كړی دی، او دا كار يې مخلوق ته ندی ورترغاړې كړی، الله -تعالى- فرمايلي:

﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ٩﴾ [الحجر: 9]

(بېشكه همدا مونږ پخپله ذكر نازل كړی دی او بېشكه مونږ د ده خامخا ساتونكي يو). [الحجر سورت: ايت 9]

. او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿لَّا يَأۡتِيهِ ٱلۡبَٰطِلُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَلَا مِنۡ خَلۡفِهِۦۖ تَنزِيلٞ مِّنۡ حَكِيمٍ حَمِيدٖ٤٢﴾ [فصلت: 42]

(باطل ده ته نه د ده له مخې نه راتلی شي او نه د ده له شا نه، د ډېر حكمت والا، ښه ستايل شوي (الله) له جانبه راليږل شوی دی). [فصلت سورت: 42 آيت]،

او هغه يې ټول محكم گرځولی دی د عمومي محكميت له مخې، لوی څښتن تعالى فرمايلي: ﴿الٓرۚ كِتَٰبٌ أُحۡكِمَتۡ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتۡ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ١﴾ [هود: 1]

(الف، لام، را، (دا) کتاب دی چې آیتونه یې محکم (۱)کړی شوي دي، بیا د ښه حکمت والا، پوره خبردار ذات لخوا نه په تفصیل سره بیان شوي دي). [هود سورت: 1 آیت]

، همدا رنګه یې ټول متشابه ګرځولی، حق ذات فرمایلي دي:

﴿ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحۡسَنَ ٱلۡحَدِيثِ كِتَٰبٗا مُّتَشَٰبِهٗا ...﴾ [الزمر: 23]

(الله تر ټولو ښکلی کلام نازل کړی دی، چې داسې کتاب دی چې په خپل مینځ کې مشابه دی، (مکرر دي مضامین د دې او یو د بل تایئد کوي معارضه یکې نشته او فصاحت او بلاغت کې سره ورته وي. [الزمر سورت: 23 آیت]،

او لدې څخه یې محکم او متشابه ګرځولی دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ۝٧﴾ [آل عمران: 7]

(الله هغه ذات دی چې په تا باندې یې کتاب نازل کړی دی، په دې کې ځینې محکم (ښکاره مراد والا) آیتونه دي؛ چې هغه د کتاب اصل دي، نور یې متشابهات (پټ مراد والا) دي، نو هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې کوږ والی دی؛ نو هغوی په هغو (آیتونو) پسې کېږي چې په دې (قرآن) کې متشابه (پټ مراد والا) دي، د فتنې لټولو لپاره او د هغو د مراد معلومولو لپاره، حال دا چې د هغوی په تاویل (مراد) باندې نه پوهېږي مګر الله، او هغه کسان چې په علم کې پاخه دي؛ هغوی وایي: مونږ پر ده ایمان راوړی دی، ټول (محکم او متشابه آیتونه) زمونږ د رب له جانبه دي او پند نه اخلي مګر د صفا عقل خاوندان). [آل عمران سورت: 7 آیت]،

او دا یې واضحه کړه چې هغه کسان چې په زړونو کې یې کوږوالی دی د دې قرآن څخه د متشابه پسې ګرځي، او مؤمنان په ټول -قرآن- ایمان لري؛ محکم او متشابه یې. او الله -تعالی- قران په ټولو پخوانو کتابونو حاکم او ساتونکی ګرځولی، متعال ذات فرمایلي دي:

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ ...﴾ [المائدة: 48]

(او (ای نبي!) مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، چې د هغو کتابونو تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې دي او د هغوی محافظ دی). [المائدة سورت: 48 آیت]

. او حق ذات ښکاره کړه چې دا کتاب مونږ ته دپخوانیو امتونو کیسې بیانوي، لکه څرنګه چې د الله -تعالی- پدې وینا کې راغلي دي:

﴿ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهِ إِلَيۡكَۖ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ أَجۡمَعُوٓاْ أَمۡرَهُمۡ وَهُمۡ يَمۡكُرُونَ١٠٢﴾ [يوسف: 102]

(دا د غیب له خبرونو څني دي چې هغه مونږ تا ته وحي کوو او ته له هغوی سره نه وې کله چې هغوی د خپل کار پخه اراده وکړه، په داسې حال کې چې دوی مکر (او فریب) کاوه). [یوسف سورت: 102 آیت]

، او د دې په څېر ډېر دي، او قرآن د اهل کتابو تر منځه په هغه څه کې پریکړه کوي چې هغوی پکې یو له بل سره مخالفت لري، الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَكۡثَرَ ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ٧٦﴾ [النمل: 76]

(بشکه دا قرآن بني اسرائیلو ته د هغو خبرو زیاتره حصه بیانوي چې دوی په هغو کې اختلاف کوي). [النمل سورت: 76 آیت].

او عمر بن الخطاب - رضي الله عنه - په خپل منبر باندې وویل: «ای خلکو! دا قرآن د الله کلام دی، نو زه ستاسو څخه په داسې څه پوه نه شم چې تاسو د خپلو خواهشاتو له امله متاثره شوي یاست، یقینا چې اسلام ته د خلکو څټونه ټیټ شوي دي، نو په رضا او په زوره پکې داخل شوي دي او یقینا چې تاسو ته لارې تاکلی شوي دي او د هیچا خبره پاتې شوې نده مګر دا چې یو بنده په قصدي توګه په ښکاره کافر شي، نو پیروي وکړئ او -په دین کې د ځانه جوړول مه کوئ، یقینا چې ستاسو چاره شوې ده، تاسو یې په محکم عمل وکړئ او په متشابه یې ایمان راوړئ». احمد په الزهد (191) کې، الدارمي (3398)، عبدالله بن احمد په السنة(117) کې، الآجري په شریعت کې (155) روایت کړی دی، او ابن بطة په الابانة کې روایت کړی دی (۲۳). او همدا رنګه عمر بن الخطاب -رضي الله عنه- فرمایلي دي: "قرآن د الله -تعالی-کلام دی، نو په خپلو نظریاتو یې مه را اړوئ". الآجري په الشریعة (156) کې روایت کړی دی. او له فروة بن نوفل الأشجعي څخه روایت دی وایې: «خباب بن الأرت -رضي الله عنه- زما ګاونډی و، نو یوه ورځ یې راته وویل: اي خوښ او نیکمرغه، څومره چې کولی شي الله تعالی ته نږدې شه، او پوه شه

چې ته هغه ته په بل شي دومره نه شي نږدې کيدلی لکه څومره يې چې په کلام سره کيدلی شي». ابو عبيده په فضائل القرآن (۷۷ مخ) کې، ابن ابي شيبه (۳۰۷۲۲) کې، احمد په الزهد (۱۹۲) کې، عثمان بن سعيد الدارمي په الرد على الجهمية کې(۱٦۰) او عبدالله بن احمد په السنة (111) کې. او مونږ ايمان لرو چې دا قرآن؛ همدغه د الله کلام دی، نازل کړی شوی دی او مخلوق ندی، او دا په سينو کې ساتل شوی، حق ذات فرمايلي:

﴿بَلۡ هُوَ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٞ فِي صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلظَّٰلِمُونَ﴿٤٩﴾﴾ [العنکبوت: 49]

(بلکې دغه (قرآن) ښکاره ايتونه دي د هغو خلقو په سينو کې چې هغوی ته علمورکړی شوی دی او زمونږ له ايتونو نه انکار نه کوي مګر ظالمان). [العنکبوت سورت: 49 آيت]

، او برابره خبره ده که په مصحفونو کې ليکل شوی وي، او يا په محرابونو او جوماتونو کې لوستل شوی وي، نو دا يې د الله تعالی له کلام څخه نه وباسي، الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَتۡلُونَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ يَرۡجُونَ تِجَٰرَةٗ لَّن تَبُورَ﴿٢٩﴾﴾ [فاطر: 29]

(بېشکه هغه کسان چې د الله کتاب لولي او لمونځ قايموي او انفاق کوي له هغه (مال) نه چې دوی ته مونږ ورکړی دی، په پټه او په ښکاره، دوی د داسې تجارت امېد لري چې له سره به هلاك نشي). [فاطر سورت: 29 آيت]،

او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿إِنَّهُۥ لَقُرۡءَانٞ كَرِيمٞ﴿٧٧﴾ فِي كِتَٰبٖ مَّكۡنُونٖ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُطَهَّرُونَ﴿٧٩﴾ تَنزِيلٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴿٨٠﴾﴾ [الواقعة: 77-80]

(بېشکه دا خامخا ډېر عزتمن قرآن دی. په پټ ساتل شوي کتاب کې دی. لاً چې ده لره نه مسه کوي مګر ښه پاك کړی شوي خلق (ملايك). د رب العلمين له جانبه نازل کړی شوی دی). [الواقعة سورت: 77-80 آيتونه]

. او لوی قرآن د الله -تعالی- کلام دی، او کلام د هغه له صفتونو څخه يو صفت دی، او هغه څه چې د هغه له صفتونو څخه وي هغه مخلوق نه وي، ځکه که چېرته مخلوق

وی نو هغه څه به ورته پېښ شوي وای لکه نورو تازه پیدا شوو مخلوقاتو ته چې له فنا، له منځه تللو، زوال او بدلون څخه پېښېږي، الله تعالی فرمایلي:

﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ٨٢﴾ [النساء: 82]

(ایا نو دوی په قرآن کې غور نه کوي او که چېرې دا د غیرالله له طرفه وَی، دوی به په ده کې خامخا ډېر زیات اختلاف موندلی و). [النساء سورت: 82 آیت]،

او حق ذات سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

﴿وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ٱسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُۥ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُونَ ٦﴾ [التوبة: 6]

(او که په مشرکانو کې یو تن له تا نه امان (پناه) وغواړي، نو هغه ته امان ورکړه تر هغه پورې چې هغه د الله کلام واوري، بیا هغه خپل د امن ځای (د هغه وطن) ته ورسوه، دا په سبب د دې چې یقینًا دوی داسې قوم دی چې نه پوهېږي). [التوبة سورت: 6 آیت]

. او له ابن عباس -رضي الله عنهما- څخه روایت دی وایي: پیغمبر صلی الله علیه وسلم به حسن او حسین دمول او ویل به یې: «إِنَّ أَبَاكُمَا كَانَ يُعَوِّذُ بِهَا إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ، مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ». «ستاسو پلار به پرې اسماعیل او اسحاق دمول : أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ، مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ». (د الله په بشپړو کلمو سره سپارل کوم -چې ساتنه دې وکړي - له هر شیطان او هرې مضرې حشرې او حیوان څخه، او له هرې مضرې سترګې څخه). بخاري (3371) او ابوداود (4737) روایت کړی دی او ویلي یې دي: دا د دې خبرې ثبوت دی چې قرآن مخلوق ندی، او ترمذي (2060) او ابن ماجه (3525). او اسماعیل بن ابی اویس -پدې خبره- د مدیني د خلکو اجماع روایت کړې ده چې قرآن مخلوق ندی، نو فرمایلي یې دي: « مالک او زمونږ د ښار علماوو به ویيل: قرآن له الله څخه دی، او له الله څخه چې څه دي هیڅ شی یې مخلوق ندی، او د مالک بن أنس په وخت کې د مدیني پوهان: محمد بن عبد الرحمن بن أبی ذئب او عبد العزیز بن أبی سلمة الماجشون او أبوبکر به أبی سبرة او ابراهیم بن سعد الزهري او سعید بن عبد الرحمن الجمحي او حاتم بن اسماعیل او عبد الله بن عبد العزیز العمری الزاهد او أبو ضمرة أنس بن عیاض او محمد بن اسماعیل بن أبی فدیک وو». شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة (300/2). او شعیب بن حرب ویلي دي: أبو عبد الله سفیان بن سعید الثوری ته مې وویل: «له سنت څخه راته یو حدیث

بيان کړه چې الله تعالى راته پرې نفع راورسوي، کله چې د الله تعالى په حضور کې ودرېږم او په اړه يې راڅخه پوښتنه وکړي او راته ووايي: دا دې له کوم ځای څخه اخيستی دی؟ زه ووايم چې: ای ربه دا حديث راته سفيان الثوري بيان کړی دی، او له هغه څخه مې اخيستی دی، او زه پرې بيا خلاص شم، او ته پرې ونيول شې. نو هغه وويل: ای شعيبه، دا ټينګار دی، او کوم ټينګار! وليکه: بسم الله الرحمن الرحيم: قران کريم د الله کلام دی؛ مخلوق ندی، له هغه څخه پيل شوی او هغه ته ورګرځي». شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة (170/1). او امام ابن جرير الطبري فرمايلي دي: «ابن عيينه مونږ ته حديث بيان کړ ويې ويل: له عمرو بن دينار څخه مې اوريدلي دي چې ويل يې: له اويا کلونو څخه مې خپل شيخان لاندې کړي دي چې ويل به يې: قرآن د الله کلام دی، له هغه څخه پيل شوی او هغه ته به ورګرځي». صريح السنة، د طبري ( 19 مخ). او الحسن بن أيوب څخه روايت دی فرمايي: «ما له احمد بن حنبل څخه اوريدلي چې له فارابي څخه يې ويل چې: ما له ثوري نه اوريدلي -يعنې سفيان- څخه چې وييل يې: څوک چې ووايي چې: قرآن مخلوق دی، هغه زنديق دی». او له عبدالله بن احمد بن حنبل څخه روايت دی فرمايي: ما له خپل پلار څخه اوريدلي دي چې ويل يې: له ابراهيم بن سعد، سعيد بن عبدالرحمن الجمحي او وهب بن جرير او أبو النضر هاشم بن القاسم او سليمان بن حرب څخه راته رارسېدلي چې وييل يې: قرآن مخلوق ندی». شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة (277/2). او د امامانو امام محمد بن خزيمة -رحمه الله- دې مسألی ته باب ايښی دی او فرمايلي يې دي: «باب من الأدلة التي تدل على أن القرآن كلام الله الخالق، وقوله غير مخلوق». «باب دی په باره د هغه دليلونو کې چې پدې دلالت کوي چې قرآن د الله خالق ذات وينا ده او د هغه وينا مخلوق نده». التوحيد، د ابن خزيمة (404/1). او أبو سعيد الدارمي فرمايلي: «نو پدې حديثونو کې د دې خبرې وضاحت دی چې قرآن مخلوق ندی؛ ځکه چې هيڅ يو مخلوق د بل سره په فضيلت کې دومره توپير نلري لکه څومره چې الله په خپلو مخلوقاتو لري، ځکه چې د مخلوقاتو په مينځ کې فضيلت درک کيږي، او د الله فضل د هغه په مخلوقاتو باندې نه درک کيږي، او هيڅوک يې نشي شمېرلی، همدا رنګه يې د وينا غوره والی د مخلوق پر وينا، او که چيرته يې وينا مخلوق وه نو هيڅ کله به يې د وينا توپير له نورو سره دومره نه وو لکه څومره چې د الله او د هغه د مخلوقاتو تر منځه دی، نه د لسمې برخې لسمه برخه د زرو برخو، او نه نږدې نږدې، نو په دې پوه شئ؛ د هغه په څير هيڅ شی نشته، ځکه چې د هغه د وينا په څېر وينا نشته، او هيڅکله به د هغه په څير رانه وړل شي». الرد على الجهمية، للدارمي ( 188: مخ). او له أبو يوسف رحمه الله څخه روايت دی چې هغه فرمايلي دي: «او قرآن د الله کلام دی، د هغه وحيې او نازل شوی دی، پر همدې -باور- مې أبوحنيفه او نور

اماماڼ مونډلي دي، او د هغوی په اند مخلوق نه و، او نه خالق». اعتقاد، د نیسابوري (135 مخ).

## )بــاب القرآن الكريم تنزيل ربـ العالـمين (باب دی پدې باره کې چې قرآن کريم د رب العالمين لخوا نازل شوی دی

او مونږ ایمان لرو چې دا لوی قرآن؛ همدغه د رب العالمین وینا ده، روح الأمین رانازل کړی دی، دا هغه څه دي چې د مسلمانانو له دین څخه د اړتیا له مخې پیژندل شوي، او مسلمانانو پدې اجماع کړې ده، او له هغوی څخه یکې هیچا مخالفت ندی کړی او دا چاره -چې د رب العالمین لخوا څخه دی- ډیر شواهد پرې دلالت کوي چې شمېرل یې ناشوني دي، او نه احاطه کیږي، لدې څخه:

په دې قرآن باندې د الله شاهدي چې دا د الله تعالی لخوا دی، حق ذات فرمایلي -او د هغه وینا ریښتیا ده:

﴿قُلۡ أَيُّ شَيۡءٍ أَكۡبَرُ شَهَٰدَةٗۖ قُلِ ٱللَّهُۖ شَهِيدُۢ بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۚ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَۚ ...﴾ [الأنعام: 19]

(ته ووایه: د ګواهی په لحاظ کوم شی تر ټولو لوی دی؟ ته ووایه: الله دی، (هغه) زما په مینځ کې او ستاسو په مینځ کې ګواه دی او ما ته دا قرآن وحي شوی دی، د دې لپاره چې په دې (قرآن) سره زه تاسو ووېروم او هغه څوك چې دا ورته رسي). [الأنعام سورت: 19 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشۡهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيۡكَۖ أَنزَلَهُۥ بِعِلۡمِهِۦۖ ...﴾ [النساء: 166]

(لیکن الله ګواهي کوي پر هغه شي چې تا ته یې نازل کړی دی، چې دا یې په خپل علم سره نازل کړی دی). [النساء سورت: 166 آیت].

او لدې څخه د ملایکو ګواهي چې دا قرآن د حکیم او ستایل شوي ذات لخوا نازل شوی، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشۡهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيۡكَۖ أَنزَلَهُۥ بِعِلۡمِهِۦۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَشۡهَدُونَۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ١٦٦﴾ [النساء: 166]

(لېکن الله ګواهي کوي پر هغه شي چې تا ته یې نازل کړی دی، چې دا یې په خپل علم سره نازل کړی دی، او ملایك (هم) ګواهي کوي او الله ښه کافي دی (په حیث د) ګواه). [النساء سورت: 166 آیت]

. او لدې څخه دا: چې دا د هغه څه سره موافق دی چې پیغمبرانو -علیهم السلام- پرې راتګ کړی دی، لکه څرنګه چې د الله -تعالی- پدې وینا کې دي:

﴿۞ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًاۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ ٱلْكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ٢٣﴾ [الإسراء: 23]

(او ستا رب حکم کړی دی چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هیچا) مګر یواځې د هغهٔ او له مور و پلار سره ښه احسان کوئ او که چېرې په دوی کې یو یا دواړه له تا سره کله هم زوړوالي (بوډاوالي) ته ورسېږي، نو ته دې دواړو ته اُف (هم) مه وایه او مه دوی رټه او ته دوی ته ډېره ښایسته خبره وایه). [الإسراء سورت: 23 آیت].

د الله تعالی تر دې وینا پورې:

﴿ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوْحَىٰٓ إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلْحِكْمَةِۗ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلْقَىٰ فِى جَهَنَّمَ مَلُومًا مَّدْحُورًا ٣٩﴾ [الإسراء: 39]

(دا (ټول حکمونه) له هغو د حکمت (او پوهې) له خبرو څخه دي چې ستا رب تا ته وحي کړي دي او ته له الله سره بل هېڅ معبود مه نیسه (ګڼې) نو په جهنم کې به وغورځول شې، ملامت کړی شوی، رټل شوی). [الإسراء سورت: 39 آیت].

او الله تعالی فرمایلي:

﴿نَزَّلَ عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنزَلَ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ ٣﴾ [آل عمران: 3]

(هغه پر تا باندې په حقه سره کتاب نازل کړی دی چې د هغو (کتابونو) تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې وو، او تورات او انجیل یې نازل کړي دي). [آل عمران سورت: 3 آیت].

نو دا ټول بنسټونه (اصول) چې ټینګار پرې راغلی هغه دي چې پیغمبرانو علیهم السلام ورته بلنه کړې ده او ټینګار یې پرې کړی دی. او لدې څخه: د معاصرو اهل کتابو ګواهي

چې د پیغمبر -صلی الله علیه وسلم- لپاره یې ورکړې ده، او الله -تعالی- لدې ګواهۍ څخه په خپل محکم نازل کړی شوي کتاب کې یادونه کړې ده، الله تعالی فرمایلي:

﴿قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَكَفَرْتُم بِهِۦ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثْلِهِۦ فَـَٔامَنَ وَٱسْتَكْبَرْتُمْ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠﴾﴾ [الأحقاف: 10]

(ته (دوی ته) ووایه: تاسو ما ته خبر راکړئ که چېرې دا (قرآن) د الله له جانبه وي او تاسو په ده سره کافران شوي یئ او د بني اسرائیلو یو ګواه د دې په مثل سره ګواهي کړې ده، پس هغه ایمان راوړ او تاسو لویي وکړه، بېشکه الله ظالم قوم ته هدایت نه کوي). [الأحقاف سورت: 10 آیت].

او په صحیحنو کې د ورقه بن نوفل کېسه ده، وروسته له هغه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته خپل د سترګو لیدلی حال بیان کړ«نو ورقة بن نوفل ورته وویل: دا هغه رازدار دی (جبرائیل) چې الله تعالی پر موسی نازل کړی و». بخاري (3392)، او مسلم (160) روایت کړی دی. او د جعفر -رضي الله عنه- په کیسه کې؛ کله چې نجاشي ورڅخه پوښتنه وکړه چې: آیا تاسره داسې څه شته چې رسول -صلی الله علیه وسلم- راوړي دي؟ نو هغه پرې ولوستل، بیا نجاشي وویل: « قسم په الله چې دا وینا او هغه وینا چې موسی -علیه السلام- راوړې ده -هغه رڼا ده چې- دواړه له یوې ډیوې څخه راوځي». اسحاق بن راهویه (١٨٣٥)، احمد (٢٢٤٩٨)، ابن خزیمه (٢٢٦٠)، طحاوي په شرح مشکل الآثار کې (٥٥٩٨)، ابو نعیم په الحلیه کې (١١٥/١) او په دلائل النبوة (١٩٤) کې. او لدې څخه: د پیریانو ګواهي چې دا قرآن د الله -تعالی- لخوا نازل شوی او دا د هغه څه سره موافق دی چې موسی -علیه السلام- راوړي:

﴿وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقُرْءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓا۟ أَنصِتُوا۟ ۖ فَلَمَّا قُضِىَ وَلَّوْا۟ إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾ قَالُوا۟ يَٰقَوْمَنَآ إِنَّا سَمِعْنَا كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِىٓ إِلَى ٱلْحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾﴾ [الأحقاف: 29-30]

{وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَى قَوْمِهِم مُّنذِرِين * (او هغه وخت (یاد کړه) چې مونږ تا ته د پیریانو یوه ډله راوګرځوله، چې قرآن به اوري، نو کله چې دوی دې (قرآن) ته حاضر شول، نو ویې ویل:چپ شئ! نو کله چې (د قرآن تلاوت) تمام کړی شو (نو) دوی خپل قوم ته بېرته وګرځېدل، په داسې حال کې چې وېروونکي وو. قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنزِلَ مِن بَعْدِ مُوسَى مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَى

طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ} دوی وویل: ای زمونږ قومه! بېشکه مونږ داسې کتاب واورېده چې له موسىٰ نه وروسته نازل کړی شوی دی، په داسې حال کې د هغو (کتابونو) تصديق کوونکی دی چې له ده نه مخکې وو، حق ته او نېغې (سمې) لارې ته ښوونه کوي). [الأحقاف سورت: 29، 30 آيتونه].

او الله تعالى فرمايلي:

﴿قُلۡ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسۡتَمَعَ نَفَرٞ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَقَالُوٓاْ إِنَّا سَمِعۡنَا قُرۡءَانًا عَجَبٗا ١ يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦۖ وَلَن نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدٗا ٢﴾ [الجن: 1-2]

{قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا* (ته (دوی ته) ووايه چې ما ته وحې شوې ده چې بېشکه شان دا دی چې په پېريانو کې يو ټولي (ډلې) (زما قراءت) په غور سره واورېده، (نو کله چې خپل قوم ته لاړل)، نو دوی وویل: بېشکه مونږ يو عجيبه قرآن واورېده. يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا} چې نېغې لارې ته هدايت کوي، نو مونږ په ده ايمان راوړ، او مونږ به هيڅکله له خپل رب سره هيڅوک شريک نه کړو). [الجن سورت: 1، 2 آيتونه].

او لدې څخه: په دې -خبره- د قريشو د کافرانو ګواهي ده چې دا قرآن د بشر له وينا څخه ندی، او يقينا چې دا د هغوی د وينا پر خلاف دی، له ابن عباس -رضي الله عنهما- څخه روايت دي: «أَنَّ الْوَلِيدَ بْنَ الْمُغِيرَةِ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، فَقَرَأَ عَلَيْهِ الْقُرْآنَ، فَكَأَنَّهُ رَقَّ لَهُ، فَبَلَغَ ذَلِكَ أَبَا جَهْلٍ، فَأَتَاهُ، فَقَالَ: يَا عَمُّ، إِنَّ قَوْمَكَ يَرَوْنَ أَنْ يَجْمَعُوا لَكَ مَالًا. قَالَ: لِمَ؟ قَالَ: لِيُعْطُوكَهُ فَإِنَّكَ أَتَيْتَ مُحَمَّدًا لِتُعْرِضَ لِمَا قِبَلَهُ، قَالَ: قَدْ عَلِمَتْ قُرَيْشٌ أَنِّي مِنْ أَكْثَرِهَا مَالًا. قَالَ: فَقُلْ فِيهِ قَوْلًا يَبْلُغُ قَوْمَكَ أَنَّكَ مُنْكِرٌ لَهُ، أَوْ أَنَّكَ كَارِهٌ لَهُ قَالَ: وَمَاذَا أَقُولُ؟! فَوَاللَّهِ مَا فِيكُمْ رَجُلٌ أَعْلَمَ بِالْأَشْعَارِ مِنِّي، وَلَا أَعْلَمَ بِرَجَزٍ وَلَا بِقَصِيدَةٍ مِنِّي وَلَا بِأَشْعَارِ الْجِنِّ، وَاللَّهِ مَا يُشْبِهُ الَّذِي يَقُولُ شَيْئًا مِنْ هَذَا، وَوَاللَّهِ إِنَّ لِقَوْلِهِ الَّذِي يَقُولُ حَلَاوَةً، وَإِنَّ عَلَيْهِ لَطَلَاوَةً، وَإِنَّهُ لَمُثْمِرٌ أَعْلَاهُ مُغْدِقٌ أَسْفَلُهُ، وَإِنَّهُ لَيَعْلُو وَمَا يُعْلَى، وَإِنَّهُ لَيَحْطِمُ مَا تَحْتَهُ». «وليد بن المغيرة؛ نبي -صلى الله عليه وسلم- ته راغی، نو -هغه پرې- قرآن ولوست، داسې ښکارېده لکه چې -وليد- ورته نرمښت وښوده، نو دا -خبره- أبو جهل ته ورسيده، نو راغی او ورته يې وويل: ای کاکا، ستا قوم وېتيله چې تاته مال (پيسې) راغونډې کړي. هغه وويل: ولې؟ ويې وويل: تر څو يې تاته درکړي، ځکه ته محمد ته ورغلی يې تر څو هغه څه ته مخه کړې چې هغه سره دی، هغه وويل: يقينا قريش پدې پوه دي چې زه يې تر ټولو زيات مالداره يم، هغه وويل: نو ته د هغه په اړه داسې يو څه ووايه چې ستا قوم ته ورسيږي او هغوی پوه شي چې ته ترې منکر يې، او يا دا چې ته ترې کرکه کوې، هغه وويل:زه څه ووايم؟! قسم په الله په تاسو کې زما څخه په شعر هيڅوک ډير نه پوهيږي؛

نه په رجز او نه په قصيده (د شعر ځانګړې څپې دي) او نه د پيريانو په شعرونو، قسم په الله چې د دې ټولو سره په هيڅ شي کې ورته والی نه لري، او قسم په الله چې وينا لره يې ځانګړی خوږوالی دی، او يوه ځانګړې جلا او ښکلا لري، او يقينا چې پورته برخه يې ميوه ورکوونکې او لاندې برخه يې خړوبوونکې ده، هغه به تل پورته وي او پر هغه څه شی نه پورته کيږي، او هر څه چې ترې لاندې شي ماتوي يې». حاکم (3872) ، بيهقي په الشعب (133) او دلائل النبوة (198/2) کې روايت کړی دی. او لدې څخه دا چې: قرآن عظيم د هغه څه سره موافق دی چې الله -تعالی- يې له بنده ګانو څخه غواړي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسۡتَقِيمٗا فَٱتَّبِعُوهُۖ وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَن سَبِيلِهِۦۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ﴿١٥٣﴾﴾ [الأنعام: 153]

(او دا چې بېشکه دا زما لار ده، چې نېغه ده، نو تاسو د دې پيروي وکړئ او د (نورو) لارو پيروي مه کوئ، ګني نو تاسو به (د نورو لارو پيروي) د هغه له لارې نه تار په تار کړي، دا (حکم) دی چې هغه (الله) تاسو ته د دې کلك حکم کړی دی، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ). [الأنعام سورت: 153 آيت].

او لدې څخه: هغه څه چې په قرآن کريم کې له الهي معلوماتو، شرعي احکامو او آدابو څخه دي، ټول هغه څه دي چې په فطرتونو کې ځای پر ځای شوي دي، حق ذات فرمايلي دي: ﴿فَأَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗاۚ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ﴿٣٠﴾﴾ [الروم: 30]

(نو ته خپل مخ دين ته نېغ (او برابر) وساته، په داسې حال کې چې حق ته مايل اوسې، (تاسو لازم ونيسئ) د الله هغه فطرت لره چې په هغه يې خلق پيدا کړي دي، د الله تخليق لره هېڅ بدلون نشته همدغه سم(نېغ) دين دی، او لېکن د خلقو اکثريت نه پوهېږي). [الروم سورت: 30 آيت].

او لدې څخه دا چې قرآن کريم له هغه څه سره موافق دی چې د بنده ګانو ښېګڼه پکې ده،ځکه چې الله تعالی خالق دی، په هغه څه پوه دی چې بنده ګان ورته اړتيا لري او په هغه څه پوه دی چې د هغوی ديني، ځاني، مالي او کورنی چاري سموي، الله تعالی فرمايلي:

﴿أَلَا يَعۡلَمُ مَنۡ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ﴿١٤﴾﴾ [الملك: 14]

(آيا هغه ذات به نه پوهېږي چې يې (هر څه) پيدا کړي دي (ولې نه!) او هم دی ډېر باريك بين، ښه خبردار دی). [الملك سورت : 14 آيت]

. او په هيڅ شي يې امر ندی کړی مګر دا چې په هغه کې به لوړ مصلحت وي، او نه يې له کوم شي څخه منع کول کړي دي مګر دا چې په منع کولو کې به يې تر وروستي حده له احتياط او ملاتړ څخه کار اخيستل شوی وي. او لدې څخه دا چې: قرآن کريم د هغه څه سره موافق دی چې عقلونه يې تقاضا کوي، لدې امله کله چې الله -تعالی- د محرماتو اساسات په «سورة الأنعام» کې ياد کړل پدې وينا سره يې پای ته ورسول: {لَعَلَّكُمْ تَتَّقُون}، الله تعالی فرمايلي:

﴿قُلْ تَعَالَوْاْ أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْۖ أَلَّا تُشْرِكُواْ بِهِۦ شَيْـًٔاۖ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًاۖ وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَوْلَٰدَكُم مِّنْ إِمْلَٰقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْۖ وَلَا تَقْرَبُواْ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَۖ وَلَا تَقْتُلُواْ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ١٥١﴾ [الأنعام: 151]

(ته ووايه: تاسو راشئ چې زه ولولم هغه څه چې ستاسو رب پر تاسو باندې حرام کړي دي، دا چې تاسو له هغه سره هېڅ شی مه شريکوئ او له مور و پلار سره ښېګڼه کوئ، او تاسو خپل اولاد د غريبۍ له امله مه وژنئ، مونږ تاسو ته روزي درکوو او هغوی ته (هم) او تاسو د بې حيايۍ کارونو ته مه نژدې کېږئ، کوم يې چې ښکاره دي او که پټ دي او تاسو هغه نفس مه وژنئ چې الله حرام کړی دی مګر په حقه سره، دا هغه څه دي چې الله پرې تاسو ته کلك حکم کړی دی، د دې لپاره چې تاسو له عقل نه کار واخلئ). [الأنعام سورت: 151 آيت].

او عاقلو خلکو ته د قرآن کريم وينا په ډېرو ځايونو کې بې شمېره راغلي ده، همدا رنګه په ډېری ځايونو کې الله تعالی له بنده ګانو څخه د فکر کولو، ليدلو او عبرت اخيستلو غوښتنه کړې ده په هر هغه څه يې چې امر کړی او يا يې ورڅخه منع کړې ده.

او لدې څخه: هغه دليلونه چې قرآن کريم پرې راتګ کړی، هغه دي چې په وضاحت، فصاحت، ځواکمنۍ، نږدې والي او آسانتيا کې -وروستي حد ته رسيدلي- چې هر څوک پرې پوهيږي او دا -ځانګړتيا- له انسانانو څخه د هيچا په وينا کې نده پيژندل شوې، لکه څرنګه چې د الله تعالی پدې وينا کې دي:

﴿هَٰذَا خَلْقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ بَلِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ١١﴾ [لقمان: 11]

(دغه د الله مخلوق دی، نو تاسو (ای مشرکانو!) ما ته وښیئ څه شی دی هغه چې دغو (بتانو) پیدا کړی دی، چې غیر له هغه (الله) نه دي، بلکې ظالمان په ښکاره ګمراهی کې دي). [لقمان سورت: 11 آیت]

، او د الله -تعالی- پدې وینا کې:

﴿لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ٢٢﴾ [الأنبياء: 22]

(که چېرې په دغو (ځمکه او اسمان) کې له الله نه پرته نور معبودان وی (نو) دواړه به خامخا وران شوي وو، نو الله د عرش مالك، پاك دی له هغو خبرو چې دوی یې بیانوي) [الأنبياء سورت: 22 آیت]،

همدا رنګه دلیلونه یې -په هیڅ حال کې- داسې نه دي چې په باطل دلالت وکړي، او د دلیلونو له پیاوړتیا څخه یې دا دي چې ماتول یا ردول یې ناشوني دي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا ٨١﴾ [الإسراء: 81]

(او ته ووایه: حق راغی او باطل په تېښته ورك شو، بېشکه باطل دی ورکېدونکی). [الإسراء سورت: 81 آیت]

. او لدې څخه دا دي چې قرآن عظیم - چې د رب العالمین وینا ده - هر چاته آسان دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ١٧﴾ [القمر: 17]

(او یقینًا مونږ دا قرآن (د یادولو او پند اخیستلو لپاره) اسان کړی دی، نو ایا څوك پند اخیستونکی شته؟). [القمر سورت: 17 آیت].

او هیڅ بشر داسې ندی پیژندل شوی چې لیکنه یې ټولو ته آسانه وي او هر څوک دې پرې مخاطب وګرځول شي، نو دا ځانګړتیاوې لدې کتاب پرته بل کتاب ته نده ورکول شوي. او لدې څخه دا دي چې قرآن عظیم له هر ډول تغیر او بدلون څخه ساتل شوی دی، الله تعالی فرمايلي: ﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ٩﴾ [الحجر: 9]

(بېشکه همدا مونږ پخپله ذکر نازل کړی دی او بېشکه مونږ د ده خامخا ساتونکي یو). [الحجر سورت : 9 آیت].

او الله ـ تعالى ـ ورته د قيامت تر ورځې پورې بقا او ابديت ليکلى دى، نو دا بقاء، ابديت او نه بدلون په دې دلالت کوي چې دا د حکيم ستايل شوي ذات لخوا نازل شوى دى، حق ذات فرمايلي دي:

﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ٨٢﴾ [النساء: 82]

(آيا نو دوى په قرآن کې غور نه کوي او که چېرې دا د غيرالله له طرفه وَى، دوى به په ده کې خامخا ډېر زيات اختلاف موندلى و). [النساء سورت: 82 آيت].

او سره له بقاء، ابديت، ساتنې او د علمونو، فنونو، او کشفياتو د نوښت سره مو هيڅ علم و نه موند چې د هغه څه مخالفت وکړي چې دې قرآن پرې راتګ کړى دى، بلکه ټول علوم د قرآن سره موافقت لري په هغه څه کې چې په قرآن کې يې يادونه شوې ده، لکه د آسمانونو پيدايښت، د انسان پيدايښت او داسې نور.

او لدې څخه دا چې قرآن تر ټولو برابرې -لارې- ته لارښوونه کوي، نو دا هرې ښېګڼې ته شامل دى، دا د خالق او مخلوق په اړه معلوماتو ته شامليږي، او دنيا او آخرت، پيريانو او انسانانو، اوامرو، نواهيو، ادبونو، واجباتو، جنت او دوزخ ته شامل دى، نو دا ايمان، عمل او بدلې ته شامل دى، الله تعالى فرمايلي:

﴿... مَّا فَرَّطْنَا فِى ٱلْكِتَٰبِ مِن شَىْءٍۚ ...﴾ [الأنعام: 38]

مونږ په کتاب (لوحِ محفوظ) کې هيڅ شى (بې ليکلو) نه دى پريښى. [الأنعام سورت: 38 آيت]،

او الله تعالى فرماېلي دي:

﴿إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَهْدِى لِلَّتِى هِىَ أَقْوَمُ ...﴾ [الإسراء: 9]

(بېشکه دا قرآن هغې (لارې) ته ښودنه کوي چې تر ټولو برابره نېغه ده). [الإسراء سورت: 9 آيت]

. او لدې څخه دا چې قرآن کريم د هرې ناروغۍ درملنه ده، الله تعالى فلرمايلي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِى ٱلصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ٥٧﴾ [يونس: 57]

(اې خلکو! یقینًا تاسو ته د خپل رب له جانبه نصیحت راغلی دی او په سینو کې چې څه (مرضونه) دي د هغو لپاره ستره شفا ده او د مومنانو لپاره هدایت او رحمت دی). [یونس سورت: 57 آیت].

او د بشر په وینا کې هیڅ داسې وینا نده پیژندل شوې چې په هغې کې د زړونو او بدنونو د ناروغیو درملنه پرته وي، لکه څرنګه چې پدې لوی قرآن کې ده؛ هغه قرآن چې د رب العالمین کلام دی. او لدې څخه دا چې الله -جل جلاله- انسانان او پیریان وننګول تر څو دې قرآن ته ورته یو بل راوړي او یا یې د یو سورت په څېر یو سورت راوړي، الله تعالی فرمایلي: ﴿أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّثۡلِهِۦ وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٣٨﴾ [یونس: 38]

(آیا دوی وایي چې ده دا له ځانه جوړ کړی دی، ته (دوی ته) ووایه: نو تاسو یو وړوکی سورت د ده په مثل راوړئ او له الله نه پرته چې څوك کولی شئ راوبلئ، که چېرې تاسو رښتیني یئ). [یونس سورت: 38 آیت]،

او دا یې واضحه کړه چې پدې کې هیڅ شک نشته، نو حق ذات فرمایلي دي: ﴿وَمَا كَانَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ أَن يُفۡتَرَىٰ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا رَيۡبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٧﴾ [یونس: 37]

(او دا قرآن هیڅکله هم داسې نه دی چې له الله نه غیر دې په دروغو جوړ کړی شي او لېکن دا تصدیق دی د هغو (کتابونو) چې له ده نه مخکې دي او د رب العلمین له جانبه د کتاب تفصیل دی چې هېڅ شك په کې نشته). [یونس سورت: 37 آیت].

او لدې څخه دا چې: دا قرآن موږ ته د تیرو قومونو خبرونه بیانوي په هغه ډول چې پیښ شوي دي پداسې حال کې چې د مکې خلک ترې لا خبر نه وو، نو الله تعالی موږ ته بیان کړل، لکه څرنګه چې د الله تعالی پدې وینا کې دي: ﴿نَحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ أَحۡسَنَ ٱلۡقَصَصِ بِمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ وَإِن كُنتَ مِن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ٣﴾ [یوسف: 3]

[(ای نبي!) موږ تا ته تر ټولو ښه بیان (قیصه) اوروو، د دې قرآن په ذریعې سره چې موږ تا ته وحي کړی دی، او بېشکه شان دا دی چې ته د دې (قرآن له نازلېدلو) نه مخکې خامخا له ناخبرو څخه وې]. [یوسف سورت: 3 آیت].

او دا پر دې ګواه دی چې دا د حکیم ستایل شوي ذات لخوا نازل شوی دی. او لدې څخه دا چې دغه ستر قرآن د بیان وضاحت، فصاحت، غیبي خبرونه، رباني قوانین له ځان سره لري، او داسې یو پیغمبر راوړی دی چې نالوستي و نه یې لیکل کولای شول او نه لوستل، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَا كُنتَ تَتْلُواْ مِن قَبْلِهِۦ مِن كِتَٰبٍ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَ ۖ إِذًا لَّٱرْتَابَ ٱلْمُبْطِلُونَ۝٤٨﴾ [العنکبوت: 48]

(او له دې (قرآن) نه مخکې نه تا کوم کتاب لوسته او نه تا د غه په خپل ښي لاس سره لیکه، (که ته داسې وی نو) په دغه وخت کې به باطل پرستو شك کاوه). [العنکبوت سورت: 48 آیت]، او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلْأُمِّيَّ ٱلَّذِي يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ ...﴾ [الأعراف: 157]

(هغه کسان چې د اُمي رسول (او) نبي پیروي کوي هغه چې دوی یې له خپل ځان سره په تورات او انجیل کې لیکلی مومي). [الأعراف سورت: 157 آیت].

او لدې څخه دا چې: د قرآن کریم یو سورت په مختلفو وختونو او مختلفو ځایونو کې نازلیږي، لدې سره بیا هم هغه سورت داسې لوستل کیږي لکه -ټول- چې یو ځای نازل شوی وي، او د خلکو تر منځ دا خبره دود ده چې انسانان په استعدادونو کې یو له بل سره توپیر لري او کله چې دوی په بیلابیلو وختونو کې کتابونه تالیفوي نو طریقې یې یو له بل سره توپیر لري.

او لدې څخه دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی سنت ورکړي دي لکه څرنګه یې چې قرآن ورکړی دی، پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «أَلَا إِنِّي أُوتِيتُ الْكِتَابَ، وَمِثْلَهُ مَعَهُ». «خبر اوسئ چې ماته کتاب راکړل شوی او د کتاب په څېر ورسره (یعني سنت )». ابوداود (4604)، ترمذي (2664)، او ابن ابي شیبه په المصنف کې (24816) او په المسند کې (927) او احمد (17174) روایت کړی دی. او لدې څخه دا: چې قرآن د رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونو ته شامل دی، هغه څه چې باید وشي، یا هغه څه چې کول یې واجب دي، لکه څرنګه چې د الله تعالی پدې وینا کې دي:

﴿لَّوۡلَا كِتَٰبٞ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمۡ فِيمَآ أَخَذۡتُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ۝٦٨﴾ [الأنفال: 68]

(که د الله له جانبه مخکینی لیك نه وی (،نو) تاسو ته به د هغې (فدیې) په بدل کې چې تاسو واخیستله، خامخا ډېر لوی عذاب دررسېدلی و). [الأنفال سورت : 68 آیت]،

او د الله -تعالی- دا وینا: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَۖ تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ۝١﴾ [التحريم: 1]

(ای نبي! ته ولې هغه شی حراموې (بندوې) چې الله تا ته حلال کړی دی؟ ته د خپلو ښځو خوشحالول (او راضي کول) غواړې او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی). [التحریم سورت: 1 آیت]،

او د الله -تعالی- دا قول:

﴿عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ۝١ أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ۝٢ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ۝٣ أَوۡ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكۡرَىٰٓ۝٤ أَمَّا مَنِ ٱسۡتَغۡنَىٰ۝٥ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ۝٦ وَمَا عَلَيۡكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ۝٧﴾ [عبس: 1-7]

{عَبَسَ وَتَوَلَّى* (ده تندی تریو کړ او مخ یې وګرځاوه. أَن جَاءَهُ الأَعْمَى* په دې وجه چې ده ته ړوند راغی. وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّى* او ته څه شي پوه کړی یې، ښایي چې دی پاك شي. أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ الذِّكْرَى * یا به دی نصیحت (او پند) واخلي، نو ده ته به پند نفع ورسوي. أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَى * هر چې هغه څوك دی چې استغنا یې کړې ده. فَأَنتَ لَهُ تَصَدَّى * نو ته په هغه پسې کېږې. وَمَا عَلَيْكَ أَلاَّ يَزَّكَّى} حال دا چې په تا هېڅ الزام نشته چې هغه پاك نشي). [عبس سورت: ۱-۷ آیتونه]،

او د الله - تعالی - دا وینا:

﴿وَلَوۡلَآ أَن ثَبَّتۡنَٰكَ لَقَدۡ كِدتَّ تَرۡكَنُ إِلَيۡهِمۡ شَيۡـٔٗا قَلِيلًا۝٧٤ إِذٗا لَّأَذَقۡنَٰكَ ضِعۡفَ ٱلۡحَيَوٰةِ وَضِعۡفَ ٱلۡمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيۡنَا نَصِيرٗا ۝٧٥﴾ [الإسراء: 74-75]

{وَلَوْلاَ أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلا * (او که ته مونږ (په حق باندې) نه وی ټینګ کړی (،نو) یقینًا یقینًا ته نژدې وې چې دوی ته لږ څه مایله شې. إِذاً لَّأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لاَ تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا} (نو) په دغه وخت کې به خامخا مونږ په تا څکلی وی دوه چند

عذاب په (دې دنياوي) ژوندون او دوه چنده عذاب په مرګ (په اخرت) کې بيا به تا د خپل ځان لپاره زمونږ په خلاف مدد کوونکی نه وی موندلی). [الإسراء سورت: 74، 75 آيتونه]

، نو که چېرته دا قرآن د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - لخوا وای، نو هغه به دا په خپل ځان نه وای ثبت کړي؛ نو کله چې پکې دا ډول نبوي - صلى الله عليه وسلم - توجيه بيان شوه؛ نو په قطعي ډول ثابته شوه چې دا - قرآن - د هغه لخوا ندی، بلکې د پوه او حکيم - ذات - له لوري دی.

# )كتـــاب الرســـل والأنبيـــاء -عليهم السلام- (كتاب دی د رسولانو او نبيانو په اړه

## د کتاب لنډيز

او مونږ باور لرو  چې په رسولانو ايمان؛ په الله - تعالى - د ايمان څلورم رکن دی.

او موږ ايمان لرو چې د پيغمبرانو - عليهم السلام - د بلنې اساس په الله - تعالى - د هغه په نومونو، صفتونو او اعمالو پوهېدل دي، او دا چې هغوی ټول په توحيد سره ليږل شوي وو او يوازې د الله - تعالى - عبادت ته يې بلنه کوله او له هغه پرته د نورو د عبادت پريخودلو ته يې بلنه کړې ده، نو پيغمبران او رسولان په توحيد او ايمان کې تر ټولو کامل خلک دي، او دوی د سپېڅلي خالق په اړه تر ټولو مخلوقاتو خورا پوه دي، او په هغه څه چې د - الله پاک - لپاره پر دوی واجب او هغه څه چې پرې حرام دي.

او هر نبي خپل قوم دوو لويو بنسټونو ته بللی دی چې عبارت دي له: يوازې د يو الله عبادت او د آخرت په ورځ ايمان او هغه څه چې الله - تعالى- په دې کې د خپلو دوستانو لپاره نعمتونه او د دښمنانو لپاره عذاب چمتو کړی دی.

او موږ ايمان لرو چې انبياء - عليهم السلام - په هغو لويو اصولو باندې سره متفق دي چې بلنه يې ورته کړې ده، هغوی ټولو په الله - تعالى - ، ملائکو، کتابونو، رسولانو، د اخرت ورځ او د خير او شر په اندازې باندې ايمان رواړلو ته بلنه کړې ده، ټولو د عباداتو اصولو ته بلنه کړې ده لکه: لمونځ، زکات، روژه او حج، او د نيکو اخلاقو بنسټونو ته او له ناوړه اخلاقو څخه يې - خلک - منع کړي دي، نو پيغمبران - عليهم السلام - سره په اصولو کې متفق دي، خو هغه شريعتونه چې هغوی ورته بلنه کړې ده په احکامو او تفصيل کې يې سره جلا دي.

او مونږ ایمان لرو چې په ټولو انبیاوو - علیهم السلام - ایمان راوړل واجب دي، او په هر هغه څه یې چې له غیبو خبر ورکړی دی باید ریښتینی وګڼل شي او له هر هغه څه څخه ځان ساتل واجب دي چې منع ترې شوې ده، له هغوی سره مینه کول، د هغوی احترام کول او د هغوی پسې اقتدا کول او پدې ګواهي ورکول چې هغوی - الهي - پیغام رسولی، امانت یې اداء کړی، او د الله دپاره یې او د هغه د بندګانو د پاره یې خیر خواهي لټولې او په حقه سره یې د الله په لار کې جهاد کړی او په ټول امت د هغه رسول په شریعت عمل کول واجب دي چې ورته لیږل شوی دی، او پدې امت؛ د محمد - صلى الله علیه وسلم - په امت؛ په پیریانو او انسانانو واجب دي چې د أنبیاوو او رسولانو په وروستي پیغمبر چې محمد - صلى الله علیه وسلم - دی په شریعت یې عمل وکړي، ځکه چې هغه ټولو انسانانو او پیریانو ته لیږل شوی دی.

او ټول انبیاء او رسولان - علیهم السلام - د دې لپاره راغلي دي چې خلک د کفر، شرک او جهالت له تیارو څخه راوباسي، که څه هم د دې دنیا له عزت، سلطنت، زور، ځواک، کرهنې او کارخانو څخه برخمن وي.

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالى - دوی لره زیری ورکوونکي او ویروونکي لیږلي دي؛ د دې لپاره چې د خلکو لپاره په الله - تعالى باندې له رسولانو - لیږلو - څخه وروسته کوم حجت پاتې نه شي.

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالى - په هر امت کې یو رسول لیږلی. نو د هغه چا نوم مو چې پیژندلی دی ایمان پرې واجب دی او د هغه چا نوم مو چې له دوی څخه ندی پیژندلی مجمل ایمان پرې راوړو. نو په ټولو أنبیاوو او رسولانو - علیهم السلام - ایمان په هر مسلمان نارینه او ښځینه واجب دی او څوک چې په یو نبي کافر شو، نو یقینا چې په ټولو انبیاوو - علیهم السلام - یې کفر کړی دی.

او مونږ ایمان لرو چې الله - پاک - بندګانو ته خپل رسولان لیږي چاته چې وغواړي او څرنګه چې د هغه حکمت غوښتنه کوي، نو د هغه حکم لره هیڅ څارونکی نشته، څه چې وغواړي او څه یې چې خوښه وي کوي یې.

او مونږ ایمان لرو چې نبوت یوه الهي لورینه او رباني رحمت دي، له خپلو بنده ګانو څخه یې چې چاته وغواړي بخشش کوي، نو الله تعالى دی چې له پرښتو او خلکو څخه رسولان غوره کوي.

او انبیاء او رسولان - علیهم السلام - سره په خپل منځ کې یو پر بل غوره والی لري، او تر ټولو غوره یې اولو العزم دي، او د اولو العزم تر منځه تر ټولو غوره د الله تعالی دوه دوستان دي: ابراهیم او محمد - علیهما السلام - او پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - أنبیاوو ته یو پر بل له غوره والي ورکولو څخه منع فرمایلې ده؛ په ځانګړې توګه کله چې دا کار د تعصب یا د هغه له شان څخه د کمولو په موخه وشي او لکه څرنګه چې الله تعالی ابراهیم او محمد - علیهما السلام - په دوستئ نیولي دي، همدا رنګه یې موسی - علیه السلام - ته په خلکو غوره والی ورکړی دی؛ هغه ته په رسالتونو ورکولو او هغه سره په خبرو کولو، او زمونږ پیغمبر - صلی الله علیه سلم - د خُلت (د محبت د لوړې درجې) مرتبه خپله کړې ده او دا شرف یې هم حاصل کړی دی چې رب یې ورسره د اسراء په شپه د پردې تر شا خبرې کړې دي، نو پدې سره زمونږ پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - د خُلت او هغه سره د خبرو کولو شرف حاصل کړی دی.

او مونږ پدې ایمان لرو چې پیغمبران د ټولو انسانانو غوره خلک دي، او هیڅوک د نبي مرتبې ته نه شي رسیدلی، نه ولي او نه بل څوک، او هیڅ بشر ته په نبي باندې غوره والی ورکول په کار ندي، او نبوت کسبي ندی (یعنې لاس ته نه راوړل کیږي) بنده یې په زحمت، طاعت، پاکیزه ګۍ مبارزه، د زړه پاکوالي، ستره والي او خو اخلاقو لاسته راوړلی نشي.

او مونږ پدې ایمان لرو چې الله تعالی پیغمبري نده ورکړې مګر سړیو ته، او مونږ پدې پوهیږو چې أنبیاء علیهم السلام لکه د نورو انسانانو په څېر انسانان دي، او دوی له انسانانو څخه په دینداری، عقلونو او أخلاقو کې تر ټولو پوره دي، مګر دا چې دوی ته وحې کیږي، او په هغه څه کې دوی له ګناه څخه پاک دي چې د الله تعالی له أوامرو څخه یې خلکو ته رسوي، او کله چې نبي پداسې یو څه کې اجتهاد وکړي چې وحې ورته پکې نه وي شوې او بیا پایلې ته ونه رسیږي، نو الله تعالی یې په نوموړي اجتهاد کې تایید نه کوي، بلکه وحې پرې نازلیږي تر څو تشه ډکه شي.

او رسولان او أنبیاء -علیهم السلام - د ځان لپاره د نفعې او ضرر خاوندان ندي، سره لدې چې پورته مرتبه، لوړه درجه او په دنیا او اخرت کې ستایل شوی مقام لري. نو کله چې دوی خپل ځان ته ګټه او تاوان نه شي رسولی، نو نورو خلکو ته خو یې په طریقه اولی سره نه شي رسولی، او که چیرته دوی خپل ځانته او نورو ته - په خپل ژوند کې - ګټه او یا تاون نه شي رسولی، نو په طریقه اولی سره نورو ته ګټه او تاوان د هغوی له مرګ څخه وروسته نه شي رسولای.

او په غیبو نه پوهیږي مګر په هغه اندازه چې الله تعالی ورښودلي وي او اجازه یې ورته پرې کړې وي.

او أنبیاء او رسولان - علیهم السلام - د الله تعالی عبادت د هغه څخه له ویرې او هغه ته له هیلې درلودلو له امله کوي، او هغه ته وسیله(نزدیکت) پلټي، او هغه پاک ذات ته ځان نږدې کوي.

او مونږ ایمان لرو چې پیغمبران او رسولان د هغو مصیبتونو او ناروغیو سره مخ کیږي چې نور انسانان ورسره مخ کیږي، دوی ته غم او مرګ رسیږي او دا چې دوی میرمنې او اولادونه لري او دا چې دوی خواړه خوري او په بازارونو کې ګرځي، او مونږ پدې پوهیږو چې مسیح - علیه السلام - د الله - تعالی - لخوا ژوندی پورته شوی دی کله چې د هغه امت غوښتل چې هغه ووژني.

او مونږ شاهدي ورکوو چې دوی خلکو ته نصیحت وکړ، امانتونه یې وسپارل، او د خپل رب پیغامونه یې ورسول، او دا دوی ته زیان نه رسوي چې پیروانو یې - بلنه - ونه منله او نه دا چې خلکو پرې کبر وکړ.

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالی- هر پیغمبر ته له نخښو او دلیلونو څخه دومره ورکړي دي چې د هغه په اندازه انسانان ایمان راوړي.

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالی - هیڅ پیغمبر ندی لیږلی مګر دا چې له هغه سره داسې یو نخښه وي چې د هغه په رښتینولۍ دلالت وکړي، برابره خبره ده که مونږ پرې پوه شو یا پرې پوه نه شو، او الله تعالی مونږ ته د هغې له جملې څخه یوه ټولګه په قرآن کریم کې بیان کړې ده. او پدې هم پوهیږو چې ډیری داسې نخښانې شته چې الله تعالی پرې د خپلو پخوانیو پیغبرانو تایید کړی دی او الله تعالی مونږ ته ندي بیان کړي، او ځینې وختونه الله تعالی مونږ ته هغه واضحه نخښانې بیانوي، او کله هم دلیل بیانوي، او مونږ پدې پوهیږو چې هغه نښانې او دلیلونه چې الله تعالی پرې د خپلو رسولانو او أنبیاوو تایید کړی دی ډیرې زیاتې دي.

او د هغوی په ریښتینولۍ تر ټولو لوی دلیل هغه دی چې دوی هغه توحید ته بلنه کوي چې په فطرتونو کې ځای پر ځای شوی دی او عقلونه یې په ښه والي ګواهي ورکوي، او هغه ګټور علم، نیک عمل، هدایت، حق دین او میزان چې دوی ورسره راتګ کړی دی او خپلو رسولانو ته د الله تعالی ګواهي چې دوی پر حق دي، او هغه څه هم حق دي چې دوی پرې راتګ کړی دی، او تر ټولو لویه نخښه یې هغه وحیې ده چې د الله - تعالی- له

لورې پرې نازلیږي او تر ټولو ستره وحی لوی قرآن دی چې زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم معجزه ده، او شونې نده چې انسان دې د دې وحی په څېر رواړلی شي؛ ځکه چې هغه د الله کلام او وحی ده او ځکه چې په هغه کې غیبي خبرونه دي،او د هغه هدایت، رڼا، رحمت او حکمت له امله چې پکې دي.

او د هغو شیانو له جملې څخه چې الله - تعالی - پرې د خپلو پیغمبرانو مرسته کړې وه، هغه عقلي دلیلونه دي چې الله پرې د دوی مرسته کړې ده، نو کافر حیران کړي او باطل ته ماتې ورکړي.

او د دوی ترټولو له لوی نخښو څخه له غیبو څخه خبر ورکول دي، هغه چې الله تعالی ترې د پردې پورته کولو اجازه ورکړي وي. او له دوی څخه : مخکینو پیغمبرانو - علیهم السلام - ته نجات ورکول، او د دوی پیروانو ته د دښمنانو له فریب څخه نجات ورکول او د ضدي او متکبرو خلکو له منځه وړل، او بلنه ورکړی شوو ته د الله تعالی لخوا د هغه څه یادونه کول چې په پخوانیو باندې یې کړي دي، او دا چې د الله کړنلاره کېدونکې ده. او له هغې څخه : د دوی د صفاتو کمال، د دوی ښه اخلاق، عمل او سیرت او د دوی په خبرو کې اخلاص چې له هغه سره دوی دروغ نه شي ویلی. او لدې څخه: د پیغمبرانو د نښانو په لېږد کې لوی پرلپسې والی، او هغه څه چې دوی پرې د علم، هدایت او حق دین څخه راتګ کړی دی، هغه څه چې د دروغو په لیږدولو باندې سره د دوی یوځای کېدل ناممکن ګرځوي. او لدې څخه: دا چې دوی په خپلو رسالتونو باندې بدله نه غواړي، او نه پرې واکمني غواړي. او لدې څخه دا چې: د پیغمبرانو د نبوت سپکاوی هیڅوک نه کوي مګر یو جاهل چې د دین، علم او لاربښوونې په اړه یې فکر ندی کړی چې پیغمبرانو پرې راتګ کړی دی، او  یا یو ضدي متکبر.

او له سترو نخښانو څخه یې هغه حسي دلیل دی چې سترګې یې ګوري، عقلونه یې مني، لکه د نوح د قوم غرقیدل، د صالح اوښه، د هود د قوم ننګونه چې که ټول قوم یې ورسره دوکه وکړي، له اور څخه د ابراهیم ژغورل، د موسی معجزې، او لدې څخه: امسا، ملخان، سپږې، چونګښې، وینه، طوفان، د فرعون او د قوم یې غرقیدل،او د داود - علیه السلام - معجزې لکه: د غرونو تسبیح ویيل، د اوسپنې نرمیدل، د سلیمان - علیه السلام - معجزې، هغه ته د باد او پیریانو تسخیریدل، د مرغانو په خبرو پوهیدل. او د مسیح - علیه السلام - معجزې لکه پیس وهلی، مورزادي ړوند او چې وروسته وړوند شوی وي دوی رغول، د مړو ژوندي کول، او دا چې هغه به له خټو څخه لکه د مرغانو په څېر جوړول بیا به یې پکې پوکی وکړاو د الله په اذن به هغه مرغه شو، او زمونږ د پیغمبر محمد - صلی الله علیه وسلم معجزې، چې هغه زیاتې دي او په سختۍ سره شمېرل

کیږي لکه : د سپوږمۍ څېرې کېدل، اسراء او معراج، د خوړو ډېریدل، د حیواناتو سره خبرې کول، د کاڼو تسبیح ویېل، د ونې د تنې ژړا، او د الله لخوا د دښمنانو په مقابل کې یې مرسته کول.

او د پیغمبرانو له معجزو څخه: د هغه پیغمبر حالت چې حق ته بلنه کوي؛ او یقینا چې خلک د هغه چا ترمنځ توپیر کوي چې په خپلو خبرو کې حق ته بلنه کوي او د هغه چا چې دروغو ته په خپلو ویناوو کې بلنه ورکوي... او داسې نورې نښانې.

او د پیغمبرانو ټولې نښانې پرته له قرآن کریم او د محمد - صلی الله علیه وسلم - له سنتو څخه له منځه تللي دي، چې دا دواړه پاتې دي ځکه چې الله - تعالی - یې د ساتلو تضمین کړی او پدې دواړو کې د پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - او د هغه د رسالت په رښتینولۍ ستر دلیلونه او ثبوتونه دي.

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالی - د خپلو پیغمبرانو ملاتړ کوي، په هغه ډول چې د هغه حکمت د کائناتي او شرعي آیتونو او شواهدو تقاضا کوي، نو الله په خپل فضل سره هدایت کوي چاته چې وغواړي او په خپل عدل سره چې څوک وغواړي ګمراه کوي یې، او ضدي انسان ته نه زیاتوي مګر ضد او تکبر.

او مونږ ایمان لرو چې که چېرته الله - تعالی - غوښتلی وای نو ټولو خلکو ته به یې هدایت کړی و.

او مونږ ایمان لرو چې د پیغمبرانو دلیلونه او نښانې چې هغوی راوړي دي او الله یې پرې مرسته کړې ده، ناشوني ده چې د نبوت دعوه کوونکی یې راوړي، یا ساحر او دروغجن، ځکه چې الله - تعالی - پریکړه کړې چې په صحیح دلیل سره به د باطل مرسته نه کوي، او نه به دروغجن په رېښتني ثبوت سره رېښتونی کوي؛ ځکه چې هغه ذات حکیم دی په خپل شریعت او امر کې او د الله تعالی جاري حکمت او کړنلاره د دې خبرې ممانعت کوي.

او مونږ ایمان لرو چې زمونږ پیغمبر محمد بن عبدالله د رب العالمین رسول، د انبیاوو او رسولانو وروستی، د بني آدمو سردار او هغه رب العالمین ته محبوب دی.

او مونږ پوهیږو چې هغه ته چې کومې معجزې ورکړل شوي بل هیڅ پیغمبر ته ندي ورکړل شوي او د هغه ترټولو لویه معجزه قرآن کریم دی، او لومړی هغه څه چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ته پرې د وحیې پیل وشو هغه د ښایسته خوبونو لیدل و، نو هغه به هیڅ خوب نه لیده مګر دا چې د روڼ سهار په څېر به رښتیا کېده، او لومړۍ وحې

چې پرې له - قرآن - څخه نازل شوه د «سورة العلق» لومړي آيتونه وو او له هغې وروسته پرې «المدثر» نازل شو، بيا وروسته وحې په پرلپسې ډول نازليده، هغه په مکه کې ديارليس کاله خلک توحيد ته راوبلل او په مدينه کې يې لس کاله تېر کړل او الهي قوانين يې بيان کړل او د هغه دين ته يې بلنه کوله، او د هغه په لاره کې يې جهاد کاوه، تر دې چې الله تعالی د درې شپيته کلنی په عمر کې وفات کړ، زما مور او پلار دې له هغه صلی الله عليه وسلم څخه قربان شي،

او مونږ پوهيږو چې له قرآن عظيم څخه وروسته د هغه ترټولو لويه معجزه اسراء او معراج دي. او د هغه له معجزو څخه د سپوږمۍ چاودېدل دي، او الله - تعالی هغه په ډېرو ځانګړتياوو سره ځانګړی کړی دی او دا ځانګړتياوې يې علماوو په خپلو تاليفاتو کې ذکر کړي دي او کله کله يې پکې مستقل تاليفات کړي دي.

او مونږ ايمان لرو چې په انسانانو او پېريانو دواړو باندې پرې ايمان راوړل واجب دي، او په هغه څه کې يې رښتينی ګڼل چې خبر يې پرې ورکړی، او په هغه څه کې اطاعت کول چې امر يې پرې کړی دی.

او مونږ ايمان لرو چې د الله - تعالی - عبادت بايد و نه شي مګر په هغه طريقه چې روا کړی يې دی او حق ذات د هغه - صلی الله عليه وسلم - د امر له مخالفت څخه ويرول کړي دي، او حق ذات د هغه په درناوي او محبت امر کړی او دا چې پرې واجب دي چې هغه - صلی الله عليه وسلم - بايد سړي ته له خپل ځان ، پلار او ټولو خلکو څخه زيات ګران وي.

او مونږ ايمان لرو چې الله تعالی په آذان کې د شهادتينو پر مهال زموږ د پيغمبر محمد - صلی الله عليه وسلم - ياد د خپل ځان سره يو ځای ذکر کړی دی، او زمونږ د پيغمبر- صلی الله عليه وسلم - ياد په پراخه توګه په پخوانيو اسماني کتابونو کې شوی دی، او په قرآن عظيم کې، او مسلمانو ليکوالانو د هغه د سنت، سيرت، خويونو، اخلاقو او غزاګانو په بيانولو کې ډول ډول تاليفات کړي دي.

او مونږ باور لرو چې الله - تعالی - هغه ټول مخلوق ته راليږلی، ځکه چې هغه ثقلينو (پيريانو او انسانانو) ته د الله رسول دی او الله - تعالی - هغه ته د پيريانو يوه ډله وليږله چې هغه ته يې غوږ نيولی و، تر څو يې تر شا د خپلو قومونو خلک وويروي، او د دې لپاره چې حجت پرې قائم شي او الله - تعالی له هر نبي او رسول څخه ژمنه اخيستې ده چې که چېرته محمد - صلی الله عليه وسلم - وليږل شو او دی ژوندی و نو ايمان به پرې راوړي.

او مونږ ایمان لرو چې پیغمبرانو پده باندې خپلو قومونو ته زیری ورکړی او د هغه صلی الله علیه وسلم او د ملګرو صفتونه یې په تورات او انجیل کې راغلي دي او په ځانګړې توګه پرې مسیح علیه السلام - بني اسرائیلو ته زیری ورکړی او بني اسرائیلو داسې پیژانده لکه څرنګه یې چې خپل اولادونه پیژندل. او د هغه صلی الله علیه وسلم د نبوت له نښانو څخه ځینې هغه دي چې اهل کتابو پیژندلې لکه د هغه په ملا کې د نبوت مبارک مهر.

او مونږ د هغه - صلی الله علیه وسلم - د پیغام په عمومیت باور لرو، لدې امله یې پادشاهانو او مشرانو ته لیکونه ولیږل او د یو الله عبادت او د هغه - صلی الله علیه سلم - په پیغمبرۍ ایمان او رښتیا ګڼلو ته یې راوبلل.

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالی - زمونږ نبي - صلی الله علیه وسلم - ته ځمکه راټوله کړه، نو تر هغه ځایه یې ترې ولیده چې کوم ځای ته به یې چې په راتلونکي کې د امت واکمني رسیږي.

او د هغه د رسالت د عمومیت یو دلیل دا دی چې د نجران نصارا یې له مباهلې څخه په شا شول، او د جزیې ورکول یې و منل پداسې حال کې چې ذلیله وو، ځکه هغوی پوهېدل چې دی نبي دی.

او د هغه - صلی الله علیه وسلم - د رسالت د عمومیت له دلایلو څخه د ډیرو یهودو او نصاروو علماوو اسلام راوړل دي، بلکه له اهل کتابو څخه په زرګونو. او د هغه - صلی الله علیه وسلم د رسالت د عمومیت له دلایلو څخه دا دي چې هغه له روم سره غزا وکړه او صحابه کرامو ته یې له هغه وروسته د فارس او روم سره د جهاد کولو امر وکړ.

او د هغه - صلی الله علیه وسلم - د رسالت د عمومیت له دلیلونو څخه دا دي چې هغه د سراقه سره ژمنه وکړه چې په راتلونکي کې به د کسرا - د سرو زرو بنګړي ور په لاس کوي - نو هغه د عمر رضي الله عنه په خلافت کې په لاس کړل.

او مونږ په یقین سره پوهیږو چې دا د الله - تعالی - د حکمت غوښتنه ده چې په خپل فضل سره لارښوونه کوي چاته چې وغواړي او په خپل عدل سره ګمراه کوي چا لره چې وغواړي، همدا رنګه حکمت یې دا تقاضا کړې چې هر پیغمبر لره دې یو دښمن وي، او د دې دښمنانو تر منځه دې یو بل ته په باطل سره وصیت کول او په خبرو کې یو بل ته ورته والي وي، په هر امت کې - د پیغمبر ضد عامه - وینا یو بل ته ورته وي، کله وایي: یقینا دی ساحر دی او یا کوډګر او دروغجن دی او کله دا نه مني چې هغه دې ورته

کومه معجزه راوړي وي او کله بدګماني کوي چې دا - پیغمبر - په الله دروغ تړي او کله یې په لیونتوب سره یادوي او د الله رسولان علیهم السلام لدې ټولو حالتونو څخه پاک دي، پداسې حال کې چې هغوی د عقل له اړخه تر ټولو پوره دي او په زړونو کې تر ټولو پاکیزه دي او کله دا خبره ډېره لویه ګڼي چې هغوی یې د یو الله عبادت ته بولي او کله هم د نبي دعوت ردوي، ځکه چې هغه د دوی په څېر یو انسان دی او کله ترې د داسې کارونو غوښتنه کوي چې هغه د مخلوق په توان کې نه وي، خو دا کارونه دوی د لویۍ او ضدیت له امله کوي - یقینا دوی زمونږ له نبي محمد - صلی الله علیه وسلم - څخه وغوښتل چې له ځمکې څخه ورته چینې راوباسي او یا دا چې باغ ولري او یا پرې له آسمان څخه باران واوروي او یا ورته الله او پرښتې راولي او یا دا چې پیغمبر لره دې یو ښایسته کور وي او یا په آسمان کې دې پورته وخیژي او کتاب دې پرې نازل کړي او کله هم له نبي څخه غوښتنه کوي چې هغه څه ورته راوړي چې وعده یې ورسره کوي، او کله هم د الله تعالی له لارې څخه منع کول کوي او خپلو پیروانو ته وايي: دې قرآن ته غوږ مه نیسئ او شورماشور پکې وکړئ او کله د رسول مقابله د هغه په دروغجن ګڼلو سره کوي او یا په رسول الله - صلی الله علیه وسلم - تور لګوي چې هغه ته یو بشر ښوونه کوي او د الله له طرفه ورته وحیې نه راځي.

او کله هم له رسول څخه مخ اړوي، ځکه چې یوازې کمزوري خلک د هغه پیروي کوي، او کله هم د رسولانو پورې ټوکې او مسخرې کوي، او کله هم رسول ته دوکه ورکوي، او تمه لري چې غوږه مالي ورته وکړي او یا ورته پناه وروړي، او کله هم پداسې یو تعبیر سره چې ضدي انسان پدې پوهیږي چې په خپله خبره کې دروغجن دی، لکه څرنګه چې د فرعون په وینا کې راغلي چې موسی ته یې کافر ویلي.

او کله هم عام خلک نبي له وطن څخه په ویستلو ګواښي، او د قریشو کافرانو زمونږ نبي محمد - صلی الله علیه وسلم - د بني هاشمو سره د ابو طالب په دره کې د دریو کلونو لپاره محاصره کړ او هغه صلی الله علیه وسلم یې له خپل کور او کلي څخه وویست او د ابراهیم - علیه السلام - قوم هڅه وکړه چې هغه په اور وسوځوي، مګر دا چې الله تعالی وژغوره او بني اسرائیلو د خپلو پیغمبرانو د وژلو هڅه وکړه، بلکه له هغوی څخه یې ځیني ووژل...

دا د پیغمبرانو سره د متکبره خلکو عادت دی او دا یوه جاري کړنلاره ده چې عام خلک یې په هر امت کې د اصلاح کوونکو سره پر مخ وړي.

## )بـــاب الإيمان بالرسل عليهم الصلاة والسلام (باب دی په رسولانو علیهم السلام د ایمان په اړه

په رسولانو ایمان راوړل د ایمان له ارکانو څخه څلورم رکن دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ٢٨٥﴾ [البقرة: 285]

(رسول پر هغه څه ایمان راوړی دی ؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ایمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملایکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو (او وايي) مونږه د هغه (الله) په رسولانو کې د هیچا په مینځ کې توپیر نه کوو). [البقرة سورت: 285 آیت]،

او حق ذات تعالی فرمایلي دي:

﴿۞ لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ ...﴾ [البقرة: 177]

(نیکي دا نه ده چې خپل مخونه د مشرق او مغرب په طرف وګرځوئ، خو لیکن نیکي (د هغه چا) ده چې پر الله او پر ورځ د آخرت او پر ملایکو او پر کتابونو او پر نبیانو یې ایمان راوړی وي). [البقرة سورت: 177 آیت]،

او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی وايي چې یوه ورځ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - خلکو ته رابښکاره شو، نو یو سړی ورته راغی، او ویې ویل: ای د الله رسوله ! ایمان څه دی؟ ویې فرمایل: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكِتَابِهِ، وَلِقَائِهِ، وَرُسُلِهِ، وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ الْآخِرِ». "دا چې په الله، د هغه پر ملائکو، د هغه پر کتابونو، د هغه سره په مخ کیدلو، او په وروستي بعث یعني بیا راپورته کېدلو ایمان ولرې". بخاري (4777)، مسلم (9) او ابن ماجه (64) روایت کړی دی. او موږ ایمان لرو چې د پیغمبرانو - علیهم السلام - د بلنې اساس په الله - تعالی - د هغه په نومونو، صفتونو او اعمالو پوهېدل دي او دا چې هغوی ټول په توحید سره لیږل شوي دي او یوازې د الله - تعالی - عبادت او له هغه پرته د نورو د عبادت پریخودلو ته یې بلنه کړې ده، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ٢٥﴾ [الأنبياء: 25]

(او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول نه دی لیږلی مګر چې هغه ته به مونږ(دا) وحي کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، لهذا تاسو زما عبادت کوئ). [الأنبیاء سورت: 25 آیت]

، او هر نبي خپل امت ته ویلي دي:

﴿...ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ٦٥﴾ [الأعراف: 65]

(تاسو د الله عبادت کوئ، ستاسو لپاره له هغه نه سِوا (بل) هېڅ په حق معبود نشته، آیا تاسو نه ویرېږئ). [الأعراف سورت: 65 آیت].

نو پیغمبران او رسولان په توحید او ایمان کې تر ټولو کامل خلک دي او دوی د سپېڅلي خالق په اړه تر ټولو مخلوقاتو زیات پوه دي او هغه څه چې د - الله پاک - لپاره پر دوی واجب دي او هغه څه چې پرې حرام دي، او هر نبي خپل قوم دوو لویو بنسټونو ته بللی دی چې عبارت دي له: یوازې د یو الله عبادت او د آخرت په ورځ ایمان او هغه څه چې الله - تعالی- په دې کې د خپلو دوستانو لپاره نعمتونه او د دښمنانو لپاره عذاب چمتو کړی دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ٥٩﴾ [الأعراف: 59]

یقینًا (یقینًا مونږ نوح خپل قوم ته لیږلی و، نو هغه وویل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه نه سِوا (بل) هېڅ برحق معبود نشته، بېشکه زه پر تاسو د لویې ورځې له عذاب نه وېرېږم). [الأعراف سورت: 59 آیت]،

او د لوی شان او شوکت خاوند ذات فرمایلي دي:

﴿۞ وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ وَلَا تَنقُصُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ وَٱلۡمِيزَانَۖ إِنِّيٓ أَرَىٰكُم بِخَيۡرٖ وَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ مُّحِيطٖ٨٤﴾ [هود: 84]

(او (لیږلی و مونږ) مدین ته د هغوی ورور شعیب، هغه وویل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، ستاسو لپاره له هغه نه غیر (بل) هېڅ حق معبود نشته او تاسو پیمانه او تله مه کموئ، بېشکه زه تاسو په خیر (ښه حال) وینم او بېشکه زه پر تاسو باندې د چاپېرېدونکې ورځې له عذاب نه وېرېږم). [هود سورت: 84 آیت]،

او الله تعالی فرمايلي:

﴿۞ وَٱذۡكُرۡ أَخَا عَادٍ إِذۡ أَنذَرَ قَوۡمَهُۥ بِٱلۡأَحۡقَافِ وَقَدۡ خَلَتِ ٱلنُّذُرُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦٓ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ٢١﴾ [الأحقاف: 21]

(او ته د عاديانو ورور (هود) ياد کړه، کله چې ده خپل قوم ووېرولو، چې په احقاف (رېګستان) کې وو، او يقيناً له ده نه مخکې او له ده نه وروسته (نور) وېروونکي (پیغمبران) تېر شوي دي (په دې خبرې سره) چې تاسو عبادت مه کوئ غير له الله نه، بېشکه زه په تاسو د ډېرې لويې ورځې د عذاب وېره کوم). [الأحقاف سورت: 21 آيت].

او موږ ايمان لرو چې انبياء - عليهم السلام - په هغو لويو اصولو باندې سره متفق دي چې بلنه يې ورته کړې ده، هغوی ټولو په الله - تعالی - ، ملائکو، کتابونو، رسولانو، د آخرت ورځ او د خير او شر په اندازې باندې ايمان راوړلو ته بلنه کړې ده، ټولو د عباداتو اصولو ته بلنه کړې ده لکه : لمونځ، زکات، روژه او حج، او د نيکو اخلاقو بنسټونو ته او له ناوړه اخلاقو څخه يې - خلک - منع کړې دي، نو پیغمبران - عليهم السلام - سره په اصولو کې متفق دي، خو هغه شريعتونه چې هغوی ورته بلنه کړې ده په احکامو او تفصيل کې يې سره مخالفت لري.

﴿۞ شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحٗا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ ...﴾ [الشورى: 13]

(هغه ستاسو لپاره هغه دين مقرر کړی دی چې د هغه وصيت يې نوح ته کړی و او هغه چې موږ تا ته وحې کړی دی او هغه چې موږ د هغه وصيت ابراهيم او موسٰی او عيسٰی ته کړی و، چې تاسو دين قايم کړئ او په ده کې اختلاف مه کوئ). [الشورى سورت: 13 آيت].

او موږ ايمان لرو چې انبياء - عليهم السلام - په هغو لويو اصولو باندې سره متفق دي چې بلنه يې ورته کړې ده، خو هغه شريعتونه چې هغوی ورته بلنه کړې ده په احکامو او تفصيل کې يې سره مخالفت لري، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُۖ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ لِكُلّٖ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ شِرۡعَةٗ وَمِنۡهَاجٗاۚ ...﴾ [المائدة: 48]

(او (ای نبي!) مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، چې د هغو کتابونو تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې دي او د هغوی محافظ دی، نو ته د دوی په مینځ کې فیصله وکړه په هغه څه سره چې الله نازل کړي دي او ته د دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه، چې هغه حق پرېږدې چې تا ته راغلی دی، مونږ په تاسو کې د هر یو لپاره یو دستور او لاره مقرر کړې ده). [المائدة سورت: 48 آیت].

او مونږ ایمان لرو چې په ټولو انبیاوو - علیهم السلام - ایمان راوړل واجب دي او په هر هغه څه یې چې له غیبو خبر ورکړی دی باید ریښتینی وګڼل شي او له هر هغه څه څخه ځان ساتل واجب دي چې منع ترې شوې ده، له هغوی سره مینه کول، د هغوی احترام کول او د هغوی پسې اقتدا کول او پدې ګواهي ورکول چې هغوی - الهي - پیغام رسولی، امانت یې اداء کړی، او د الله او د بندګانو خیرخواهي یې کړی ده او په حقه سره یې د الله په لار کې جهاد کړی او په ټول امت د هغه رسول په شریعت عمل کول واجب دي چې ورته لیږل شوی دی او پدې امت؛ د محمد - صلی الله علیه وسلم - په امت؛ له پیریانو او انسانانو څخه واجب دي چې د أنبیاوو او رسولانو په وروستي یو چې محمد - صلی الله علیه وسلم - دی په شریعت یې عمل وکړي، ځکه چې هغه ټولو انسانانو او پیریانو ته لیږل شوی دی.

او ټول انبیاء او رسولان - علیهم السلام - د دې لپاره راغلي دي چې خلک د کفر، شرک او جهالت له تیارو څخه راوباسي، که څه هم د دې دنیا له عزت، سلطنت، زور، ځواک، کرهنې او کارخانو څخه برخمن وي، الله تعالی د موسی علیه السلام په اړه فرمایلي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ أَنۡ أَخۡرِجۡ قَوۡمَكَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ وَذَكِّرۡهُم بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ۝٥﴾ [إبراهیم: 5]

(او یقینًا یقینًا مونږ موسیٰ له خپلو معجزو سره لیږلی و (او دا مو ورته ویلي وو) چې خپل قوم له تیارو نه رڼا ته راوباسه او دوی ته د الله د ورځو(واقعات د پخوانو) یادونه وکړه، بېشکه په دغو کې خامخا د هر ښه صبر کوونکي، ډېر شکر کوونکي لپاره نښې دي). [إبراهیم سورت: 5 آیت]

، او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَتَبۡنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ ءَايَةً تَعۡبَثُونَ ١٢٨ وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمۡ تَخۡلُدُونَ ١٢٩ وَإِذَا بَطَشۡتُم بَطَشۡتُمۡ جَبَّارِينَ ١٣٠﴾ [الشعراء: 128-130]

{أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً تَعْبَثُون* (ايا تاسو په هر اوچت ځای يوه نښه (لوړه ودانی) جوړوئ، په داسې حال کې چې عبثيات کوئ! وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُون* او تاسو پاخه عمارتونه جوړوئ، ښايي چې تاسو به (په دنيا کې) تل اوسېږئ. وَإِذَا بَطَشْتُم بَطَشْتُمْ جَبَّارِين} او کله چې تاسو نيول کوئ (،نو) نيول کوئ، په داسې حال کې چې ظلم کوونکي يئ). [الشعراء سورت: 128-130 آيتونه]،

او الله تعالی فرماېلي دي:

﴿أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗ وَأَثَارُواْ ٱلۡأَرۡضَ وَعَمَرُوهَآ أَكۡثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٩﴾ [الروم: 9]

(ايا دوی په ځمکه کې نه ګرځي، نو چې وګوري چې د هغو کسانو انجام څنګه و چې له دوی نه مخکې وو هغوی له دوی نه په قوت کې زيات سخت وو او هغوی ځمکه څېروله او دا يې اباده کړې وه ډېره له هغې نه چې دوی دغه آباده کړې ده او دوی ته خپلو رسولانو ښکاره دليلونه راوړي وو، نو الله کله هم داسې نه و چې په دوی ظلم وکړي او لېکن دوی (پخپله) په خپلو ځانونو ظلم کاوه). [الروم سورت: 9 آيت].

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالی - دوی لره زيری ورکوونکي او ويروونکي ليږلي دي؛ د دې لپاره چې د خلکو لپاره په الله - تعالی باندې له رسولانو - ليږلو - څخه وروسته کوم حجت پاتې نه شي، الله تعالی فرمايلي:

﴿رُّسُلٗا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ١٦٥﴾ [النساء: 165]

(او (مونږ ليږلي وو) رسولان، چې زېری ورکوونکي او وېروونکي وو، د دې لپاره چې د خلکو لپاره په الله باندې څه حجت پاتې نشي او الله له ازله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی). [النساء سورت: 165 آيت].

او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی په هر امت کې يو رسول ليږلی، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ ...﴾ [النحل: 36]

(او يقينًا مونږ په هر يو امت كې يو رسول لېږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت كوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ). [النحل سورت: 36 آيت]،

او نبي - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الأَنْبِيَاءُ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ، وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي»، «بني اسرائيل به خپلو پيغمبرانو رهبري كول، هر كله به چې يو نبي وفات شو، ځای ناستی به يې ورپسې وټاكل شو او زما څخه وروسته بل نبي نشته»، بخاري (3455)، مسلم (1842)، او ابن ماجه (2871) روايت كړی دی. بلكه الله تعالى مونږ ته خبر راكړی چې هغه له كلو څخه يو كلي ته په يو وخت كې درې پيغمبران لېږلي دي، الله تعالى فرمايلي:

﴿إِذۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱثۡنَيۡنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزۡنَا بِثَالِثٖ فَقَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَيۡكُم مُّرۡسَلُونَ ١٤﴾ [يس: 14]

(كله چې مونږ دوی ته دوه پيغمبران ولېږل، نو دوی هغو دواړو ته دروغجن وويل، نو مونږ (دغه) په دريم سره مضبوط كړل، نو دغو (رسولانو) وويل: بېشكه مونږ تاسو ته رسولان (رالېږل شوي) يو). [يس سورت: 14 آيت].

نو د دوی له جملې څخه مو چې د چا نوم وپېژانده ايمان پرې واجب شو، او د چا نوم مو چې و نه پېژانده؛ اجمالي ايمان پرې راوړو، نو په ټولو پيغمبرانو او رسولانو ايمان راوړل واجب دي، الله تعالى فرمايلي:

﴿وَرُسُلٗا قَدۡ قَصَصۡنَٰهُمۡ عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُ وَرُسُلٗا لَّمۡ نَقۡصُصۡهُمۡ عَلَيۡكَۚ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكۡلِيمٗا ١٦٤﴾ [النساء: 164]

(او (مونږ لېږلي وو) ډېر رسولان، چې يقينًا د هغوی احوال مونږ تا ته له دې نه مخكې بيان كړی دی او (نور) رسولان چې د هغوی احوال مونږ تا ته نه دی بيان كړی او الله له موسٰی سره خبرې كړي دي، واضحې خبرې). [النساء سورت : 164 آيت]

، او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨٥﴾ [البقرة: 285]

(رسول پر هغه څه ایمان راوړی دی؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ایمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملایکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو باندې (او وایي) مونږه د هغه (الله) په رسولانو کې د هیچا په مینځ کې توپیر نه کوو).او وایي: مونږ واورېدل او مونږ خبره ومنله (مونږ) ستا (نه) بخښنه (غواړو) اې زمونږه ربه! او خاص تا ته بېرته درتګ دی). [البقرة سورت: 285 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿قُلْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ﴿٨٤﴾﴾ [آل عمران: 84]

(ته ووایه: مونږ ایمان راوړی دی پر الله او پر هغه (کتاب) چې پر مونږه نازل کړی شوی دی او پر هغه څه چې په ابراهیم او سمٰعیل او اسحٰق او یعقوب او (د هغه) په اولادې باندې نازل کړی شوي دي او پر هغه څه چې موسٰی او عیسٰی او (نورو) نبیانو ته د خپل رب له جانبه ورکړی شوي دي، مونږ په دوی کې د هېڅ یو په مینځ کې فرق نه کوو او مونږ خاص د هغه (الله) حکم منونکي یو). [آل عمران سورت: 84 آیت].

او مونږ ایمان لرو چې الله - پاک - بندګانو ته خپل رسولان لیږي چاته چې وغواړي او څرنګه چې د هغه حکمت غوښتنه کوي، عزتمند ذات فرمایلي:

﴿وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ نَّذِيرًا﴿٥١﴾﴾ [الفرقان: 51]

(او که مونږ غوښتلی (، نو) مونږ به خامخا هر کلي ته یو وېروونکی لیږلی و). [الفرقان سورت: 51 آیت]

، او الله تعالی فرمایلي:

﴿ثُمَّ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ۖ كُلَّ مَا جَآءَ أُمَّةً رَّسُولُهَا كَذَّبُوهُ ۚ فَأَتْبَعْنَا بَعْضَهُم بَعْضًا وَجَعَلْنَٰهُمْ أَحَادِيثَ ۚ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ﴿٤٤﴾﴾ [المؤمنون: 44]

(بیا مونږ خپل (نور) رسولان ولیږل، په دې حال کې چې یو په بل پسې پیوست وو، هر کله چې به کوم امت ته خپل رسول راغی (نو) هغوی به د هغه تکذیب وکړ، نو مونږ به د دوی ځینې د ځینو نورو پسې (په هلاکت کې) پرله پسې کړل او مونږ دوی تشې قصې وګرځول، نو (د الله له رحمت نه) لرې والی دی د هغه قوم لپاره چې ایمان نه راوړي). [المؤمنون سورت : 44 آیت]

، نشته روسته کوونکی فیصلې د هغه لره، څه چې وغواړي او څه یې چې خوښه وي کوي یې الله تعالی فرمایلي:

﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ سُبْحَـٰنَ ٱللَّهِ وَتَعَـٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ۝٦٨﴾ [القصص: 68]

(او ستا رب پیدا کوي هغه څه چې ویې غواړي او هغه انتخاب کوي، دوی ته هېڅ اختیار نشته، الله تعالی لره پاکي ده، او هغه اوچت دی له هغه څه نه چې دوی یې ورسره شریکوي). [القصص سورت : 68 سورت]

. او څوک چې په یو نبي کافر شو؛ نو یقینا چې په ټولو انبیاوو - علیهم السلام - یې کفر کړی دی؛ لدې امله الله تعالی فرمایلي:

﴿كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ ٱلْمُرْسَلِينَ۝١٠٥﴾ [الشعراء: 105]

(د نوح قوم د رسولانو تکذیب وکړ). [الشعراء سورت: 105 آیت].

او دا آیت لکه د الله تعالی د دې وینا په څېر دی:

﴿... كُلٌّ كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ ۝١٤﴾ [ق: 14]

[(د دوی) هر یو د رسولانو تکذیب کړی و، نو زما عذاب (پرې) ثابت شو]. [ق سورت: 14 آیت].

او مونږ ایمان لرو چې نبوت یوه الهي لورینه او رباني رحمت دي، له خپلو بنده ګانو څخه یې چې چاته وغواړي ورته یې بخشش کوي، نو الله تعالی دی چې له ملایکو او خلکو څخه رسولان غوره کوي.

﴿ٱللَّهُ يَصْطَفِى مِنَ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ ٱلنَّاسِ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ۝٧٥﴾ [الحج: 75]

(الله له ملایکو څخه استازي غوره کوي او له خلکو څخه، بېشکه الله ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی). [الحج سورت: 75 آیت]

، او الله تعالی فرمایلي:

﴿... ٱللَّهُ أَعۡلَمُ حَيۡثُ يَجۡعَلُ رِسَالَتَهُۥۗ ...﴾ [الأنعام: 124]

(الله ښه عالم دی پر هغه ځای چې (هلته) خپل رسالت ږدي). [الأنعام سورت : 124 آیت]

. او نبوت کسبي ندی (یعنې لاس ته نه رواړل کیږي) او بنده يې په طاعت کې په زحمت ویستلو، او د نفس په پاکوالي او د نفس سره په مبارزه، د زړه په پاکوالي، د اخلاقو په ستره والي او سموالي لاسته نه راوړي. او مونږ ایمان لرو چې پیغمبران او رسولان - علیهم السلام - په خپل منځ کې سره یو پر بل غوره والی لري، الله تعالی فرمایلي:

﴿۞ تِلۡكَ ٱلرُّسُلُ فَضَّلۡنَا بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۘ مِّنۡهُم مَّن كَلَّمَ ٱللَّهُۖ وَرَفَعَ بَعۡضَهُمۡ دَرَجَٰتٖۚ وَءَاتَيۡنَا عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدۡنَٰهُ بِرُوحِ ٱلۡقُدُسِۗ ...﴾ [البقرة: 253]

(دا رسولان (دي)، مونږه د دوی ځيني په ځينو نورو باندې غوره کړي دي، له دوی نه ځيني هغه دي چې الله ورسره خبرې کړې دي، او د دوی د بعضو يې درجې اوچتې کړي دي، او مونږه د مريمې زوی عیسیٰ ته ښکاره معجزې ورکړې دي، او مونږ هغه په روح القدس (پاك روح) سره قوي کړی دی). [البقرة سورت: 253 آیت]،

او د أنبیاوو تر ټولو غوره يې اولو العزم دي، او هغوی د الله تعالی پدې وینا کې یاد شوي دي:

﴿وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمۡ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٖ وَإِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۖ وَأَخَذۡنَا مِنۡهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ۝٧﴾ [الأحزاب: 7]

(او کله چې مونږ له نبیانو نه د دوی پخه وعده واخیسته او له تا نه او له نوح او ابراهیم او موسیٰ او د مریمې له زوی عیسیٰ نه، او مونږ له دوی نه ډېره پخه مضبوطه وعده واخیسته). [الأحزاب سورت: 7 آیت]

، او الله - تعالی - دې ته پدې وینا کې اشاره وکړه:

﴿فَٱصۡبِرۡ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلۡعَزۡمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ ...﴾ [الأحقاف: 35]

(نو (ای نبي!) ته صبر کوه، لکه چې د عزیمت والا رسولانو صبر کړی دی). [الأحقاف سورت : 35 آیت].

او د الوالعزم تر منځه غوره د الله تعالی دوه دوستان: ابراهیم او محمد علیهما السلام دي، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَنۡ أَحۡسَنُ دِينٗا مِّمَّنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ وَٱتَّبَعَ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۗ وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبۡرَٰهِيمَ خَلِيلٗا ١٢٥﴾ [النساء: 125]

(او د دین په لحاظ له هغه کس نه څوك زیات ښه دی، چې خپل مخ یې الله ته تابع کړ او هغه نیکي کوونکی و او د ابراهیم د ملت تابع شو، چې یوازې په حق پسې تلونکی و، او الله ابراهیم لره خلیل نیولی دی). [النساء سورت : 125 آیت].

له جندب - رضي الله عنه - څخه روایت دی وايي: له نبي - صلی الله علیه وسلم - څخه مې د هغه له مرګ څخه پنځه ورځې مخکې اوریدلي دي چې ویيل يې: «إِنِّي أَبْرَأُ إِلَى اللهِ أَنْ يَكُونَ لِي مِنْكُمْ خَلِيلٌ، فَإِنَّ الله تَعَالَى قَدِ اتَّخَذَنِي خَلِيلًا، كَمَا اتَّخَذَ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا». «زه الله تعالی ته لدې خبرې څخه بېزاري ښکاره کوم چې زه دې له تاسو څخه کوم خلیل ولرم، یقینا چې الله تعالی زه داسې خلیل نیولی یم، لکه څرنګه یې چې ابراهیم خلیل نیولی». مسلم (532) روایت کړی دی. او مونږ ګواهي ورکوو چې زمونږ نبي محمد - صلی الله علیه وسلم - له ټولو ، رسولانو او أنبیاوو غوره دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: «أنا سيد ولد آدم يوم القيامة». «زه د قیامت په ورځ د آدم د اولادې سردار یم ». مسلم (2278)، او أبو داود (4673) روایت کړی دی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیغمبرانو تر منځ له غوره والي څخه منع فرمایلي ده، په ځانګړې توګه کله چې د ملاتړ، تعصب او یا کمي بیانولو له امله وي: له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمايي: دوه سړیو سره - لفظي - شخړه وکړه: یو سړی له مسلمانانو او بل سړی له یهودو څخه و، مسلمان وویل: قسم په هغه ذات چې محمد یې په عالمیانو غوره کړی دی، یهودي وویل: قسم په هغه ذات چې موسی یې په عالمیانو غوره کړی دی، نو مسلمان پرې لاس پورته کړ او یهودی یې پر مخ په څپیړه وواهه، نو یهودي پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - ته ورغی او لدې پیښې یې خبر کړ، نو نبي - صلی الله علیه وسلم - مسلمان راوباله، او پدې اړه یې ترې پوښتنه وکړه، هغه ورته حال ووایه: نو نبي - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل: «لَا تُخَيِّرُونِي عَلَى مُوسَى؛ فَإِنَّ النَّاسَ يَصْعَقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَأَصْعَقُ مَعَهُمْ، فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يُفِيقُ، فَإِذَا مُوسَى بَاطِشٌ جَانِبَ العَرْشِ، فَلَا أَدْرِي أَكَانَ فِيمَنْ صَعِقَ، فَأَفَاقَ قَبْلِي أَوْ كَانَ مِمَّنِ اسْتَثْنَى اللَّهُ؟»، «ما ته پر موسی غوره والی مه راکوئ؛ ځکه خلک به د قیامت په ورځ بې هوشه شي، زه به هم له هغوی سره بې هوشه شم، نو زه به لومړی هغه کس یم چې له بې هوشۍ راوځي، نو ناڅاپه به موسی وګورم

چې د عرش يو څنډه يې کلکه نيولې وي، نو نه پوهېږم چې آيا هغه هم په هغه خلکو کې وو چې بې هوشه شوی و او بيا زما څخه مخکې راپورته شوی او يا له هغه چا څخه و چې - الله تعالی له بې هوشۍ څخه - مستثنی کړی و؟»، بخاري (2411)، مسلم (2373)، أبو داود (4671)، ترمذي (3245)، او ابن ماجه (4274) روايت کړی دی. او په يو بل لفظ کې راځي: نو رسول الله - صلی الله عليه وسلم - غصه شو، تر دې چې غصه يې په مخ کې وپېژندل شوه، بيا يې وفرمايل: «لَا تُفَضِّلُوا بَيْنَ أَنْبِيَاءِ اللهِ». "د الله - تعالی - په پيغمبرانو کې يو ته پر بل غوره والی مه ورکوئ". مسلم (2373) روايت کړی دی. او لکه څرنګه چې الله تعالی ابراهيم او محمد عليهما السلام په دوستۍ سره نيولي دي، نو يقينا الله - تعالی - موسی عليه السلام تاکلی او په خپلو رسالتونو او ورسره په خبرو کولو يې په نورو خلکو غوره کړی دی او که څه هم زمونږ نبي محمد - صلی الله عليه وسلم - د دوستۍ مرتبه حاصله کړې ده، يقينا چې الله تعالی ورسره په هغه شپه د پردې تر شا خبرې کړي - په کومه شپه چې له بيت الحرم څخه بيت المقدس - ته وړل کېده، الله تعالی فرمايلي:

﴿فَأَوۡحَىٰٓ إِلَىٰ عَبۡدِهِۦ مَآ أَوۡحَىٰ ۝١٠﴾ [النجم: 10]

(نو هغه (الله د جبريل په ژبه) خپل بنده ته وحي وکړه، هغه چې وحي يې وکړه). [النجم سورت: 10 آيت]،

نو په دې توګه زمونږ پيغمبر - محمد صلی الله عليه وسلم - ته دوه د شرف مرتبې حاصلې دي، د خلت(د الله د دوستۍ) او ورسره د خبرو کولو مرتبه. او مونږ پدې ايمان لرو چې پيغمبران د ټولو انسانانو غوره خلک دي، او هيڅوک د نبي مرتبې ته نه شي رسيدلی، نه ولي او نه بل څوک، او هيڅ بشر ته په نبي باندې غوره والی ورکول روا ندي رسول الله - صلی الله عليه وسلم - فرمايلي: «مَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَكُونَ خَيْرًا مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتَّى». «هيچا لره نه ښايي چې له يونس بن متی څخه غوره وګڼل شي». بخاري (4804) روايت کړی دی. او مونږ ايمان لرو چې الله تعالی په - پيغمبرۍ - يوازې سړي ليږلي دي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ۝٧﴾ [الأنبياء: 7]

(او مونږ له تا نه مخکې رسولان نه دي لیږلي مګر سړي چې مونږ به هغوی ته وحي کوله). [الأنبياء سورت: 7 آيت].

او مونږ پوهیږو چې رسولان او أنبیا - علیهم السلام - د خلکو تر ټولو غوره خلک دي، الله تعالی فرمایلي:

﴿ٱللَّهُ يَصۡطَفِي مِنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلٗا وَمِنَ ٱلنَّاسِۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٞ ٧٥﴾ [الحج: 75]

(الله له ملایکو څخه استازي غوره کوي او له خلکو څخه، بېشکه الله ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی). [الحج سورت: 75 آيت].

او دوی په خپل دین، عقل او اخلاقو کې تر ټولو کامل انسانان دي، الله تعالی فرمایلي:

﴿قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ ....﴾ [الكهف: 110]

(ته (دوی ته) ووایه: بېشکه هم دا خبره ده چې زه ستاسو په شان بشر یم، ما ته دا وحي کولی شي). [الكهف سورت: 110 آيت].

دوی لکه د نورو انسانانو په څېر انسانان دي، مګر دوی ته وحیې کیږي، او دوی په هغه څه کې معصوم دي چې د الله تعالی له لورې یې خلکو ته رسوي، الله تعالی د خپل بنده او  خلیل محمد - صلی الله علیه وسلم - په اړه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي:

﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ٣ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ٤ عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلۡقُوَىٰ ٥﴾ [النجم: 3-5]

﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى ﴾   (او دی له خپل خواهش نه خبرې نه کوي. إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحَى* ندی دا (قرآن) مګر وحي چې (ده ته) وحي کیږي. عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى}  ده ته (دا) د ډېرو سختو قوتونو والا (جبریل) ښودلی دی). [النجم سورت: 3-5 آیتونه].

او کله چې نبي په هغه څه کې اجتهاد وکړي چې وحیې ورته پرې نه وي وشي، او اجتهاد یې بې پایلې شي، نو الله تعالی یې هغه اجتهاد نه تائیدوي، بلکه وحیې پرې نازلوي تر څو پرې تشه ډکه شي، لکه څرنګه چې د الله - تعالی - په دې وینا کې دي:

﴿مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسۡرَىٰ حَتَّىٰ يُثۡخِنَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنۡيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٦٧﴾ [الأنفال: 67

(د نبي لپاره لایق نه دي چې د هغه دې بنديان (قيديان) وي، تر هغه چې وينې توى كړي، تاسو د دنيا اسباب غواړئ او الله (ستاسو لپاره) د اخرت (د ثواب) اراده لري او الله ښه غالب، ښه حكمت والا دى). [الأنفال سورت : 67 آيت]

. او د الله تعالى دا وينا:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَۖ تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١﴾ [التحريم: 1]

(اى نبي! ته ولې هغه شى حراموې (بندوې) چې الله تا ته حلال كړى دى؟ ته د خپلو ښځو خوشحالول (او راضي كول) غواړې او الله ډېر بخښونكى، بې حده رحم كوونكى دى). [التحريم سورت: 1 آيت].

او سره لدې چې دوى په دنيا او آخرت كې دا لوړ مقام، لوړه مرتبه او د ستاينې وړ مقام لري، خو بيا هم د ځان لپاره د هيڅ ګټې لاس ته راوړلو او د تاوان څخه ځان ژغورلو توان نه لري، الله تعالى فرمايلي:

﴿قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي ضَرّٗا وَلَا نَفۡعًا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌۚ إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ فَلَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ٤٩﴾ [يونس: 49]

(ته (دوى ته) ووايه: زه د خپل ځان لپاره نه د هېڅ ضرر او نه د هېڅ فايدې مالك يم مګر هغه چې الله يې وغواړي، د هر امت لپاره يوه نېټه ده (،نو) كله چې د دوى نېټه راشي، نو دوى به نه يوه ګړى وروسته كېږي او نه مخكې كېږي). [يونس سورت: 49 آيت]

. او كله چې دوى ځانته د ګټې او يا تاوان رسولو واك نه لري، نو نورو ته خو يې په طريقه اولى سره نه لري، الله تعالى د خپل نبي او خليل محمد - صلى الله عليه وسلم - په اړه فرمايلي دي: (ستا لپاره په دې كار كې هېڅ شى (اختيار) نشته، يا به هغه (الله) په دوى باندې په مهربانۍ سره راوګرځي، يا به دوى ته عذاب وركړي، ځكه چې يقينًا دوى ظالمان دي). او د مسيح - عليه السلام- په اړه يې فرمايلي دي: { (ته (ورته) ووايه: د الله په وړاندې به څوك د څه شي اختيار ولري كه هغه اراده وكړي چې د مريمې زوى مسيح او د هغه مور او څوك چې په ځمكه كې دي؛ هغه ټول هلاك كړي). او رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلې عمه او خپلې لور؛ فاطمې رضي الله عنها ته وويل: «يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ -أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا- اشْتَرُوا أَنْفُسَكُمْ، لَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللهِ شَيْئًا، يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ لَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللهِ شَيْئًا، يَا عَبَّاسُ بْنَ عَبْدِ المطَّلِبِ لَا أُغْنِي عَنْكَ مِنَ اللهِ شَيْئًا، وَيَا صَفِيَّةُ عَمَّةَ رَسُولِ اللهِ لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللهِ شَيْئًا، وَيَا فَاطِمَةُ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَلِينِي مَا شِئْتِ مِنْ مَالِي لَا أُغْنِي

عَنْكِ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا». «ای د قریشو ټولیه! - او یا دې ته ورته لفظ - ځانونه مو واخلئ، زه تاسو ته د الله په وړاندې هیڅ ګټه نه شم رسولی، ای د عبد مناف اولادې، زه تاسو ته د الله تعالی په وړاندې هیڅ ګټه نه شم رسولای، ای عباس بن عبد المطلب، زه تاته د الله په وړاندې هیڅ ګټه نه شم رسولای او ای صفیه د رسول الله ترورې زه تاته د الله په وړاندې هیڅ ګټه نه شم رسولای، او ای فاطمې د محمد لورې، هر څومره مال چې راڅخه غواړې نو ویې غواړه، زه د الله تعالی په وړاندې تاته هیڅ ګټه نه شم رسولای». بخاري (2753)، مسلم (206)، ترمذي (3185) او نسائي (3646) روایت کړی دی. او کله چې دوی ځانته د ګټې او یا تاوان رسولو واک نه لري په داسې حال کې کله چې ژوندي و، نو نورو ته خو یې په طریقه اولی سره نه لري، په ځانګړې توګه له مرګ څخه وروسته. او مونږ ایمان لرو چې دوی په غیبو نه پوهیږي مګر تر هغه حده چې الله -تعالی- دوی ته وربښودلي او اجازه یې ورته پرې کړې ده، الله تعالی فرمایلي:

﴿قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ إِنِّي مَلَكٌۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۚ....﴾ [الأنعام: 50]

(ته ووایه: زه تاسو ته نه وایم چې ما سره د الله خزاني دي او نه زه عالم الغیب یم او نه زه تاسو ته دا وایم چې بېشکه زه مَلَك یم، زه پیروي نه کوم مګر د هغه شي چې ما ته وحې کیدلی شي). [الأنعام سورت: 50 آیت]

، او الله - تعالی - فرمایلي دي:

﴿قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ١٨٨﴾ [الأعراف: 188]

(ته ووایه: زه د خپل ځان لپاره نه د نفعې مالك یم او نه د نقصان مګر هغه چې الله یې وغواړي او که چیرې زه پر غیبو عالم وَی (، نو) ما به خامخا ډېر خیر حاصل کړی و او ما ته به هېڅ تکلیف نه و رارسېدلی، زه نه یم مګر وېروونکی او زېری ورکوونکی د هغه قوم لپاره چې ایمان راوړي). [الأعراف سورت: 188 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي:

﴿عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا ٢٦ إِلَّا مَنِ ٱرۡتَضَىٰ مِن رَّسُولٖ فَإِنَّهُۥ يَسۡلُكُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ رَصَدٗا ٢٧﴾ [الجن: 26-27]

{عَالِمُ الْغَيْبِ فَلاَ يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا* دى عالم الغيب (په غيبو عالم) دی، نو دی په خپلو غيبو باندې هيڅوك نه خبروي. إِلاَّ مَنِ ارْتَضَى مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا} مګر هغه چې کوم رسول يې خوښ شي، نو بېشکه دغه (الله) د ده په مخ کې او د ده شا ته ساتونکي (څوکيداران) روانوي). [الجن سورت: 26، 27 آيتونه].

او أنبياء او رسولان - عليهم السلام - د الله تعالی عبادت د هغه څخه له ويرې او هغه ته د هيلې درلودلو په موخه کوي، الله تعالی فرمايلي:

﴿... إِنَّهُمۡ كَانُواْ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَيَدۡعُونَنَا رَغَبٗا وَرَهَبٗاۖ وَكَانُواْ لَنَا خَٰشِعِينَ ٩٠﴾ [الأنبياء: 90]

(بېشکه دوی (نبيان داسې) وو چې په نېکيو کې به يې تلوار کاوه او مونږ به يې بللو، په داسې حال کې چې رغبت کوونکي او وېرېدونکي وو او دوی خاص زمونږ لپاره تواضع کوونکي وو). [الأنبياء سورت : 90 آيت]

، او هغه ته نزديکت لټوي، او هغه پاک ذات ته ځان نږدې کوي، الله تعالی فرمايلي:

﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحۡذُورٗا ٥٧﴾ [الإسراء: 57]

(دا هغه خلک دي چې د خپل رب عبادت کوي او لټوي هغه ته نږديوالی چې په دوی کې کوم يو زيات نږدې دی، او د هغه د رحمت امېد لري او د هغه له عذابه وېرېږي، بېشکه ستا د رب له عذاب څخه ويره کيدی شي). [الإسراء سورت: 57 آيت].

او مونږ ايمان لرو چې پيغمبران او رسولان د هغو مصيبتونو، ناروغيو او مرګ سره مخ کيږي چې نور انسانان ورسره مخ کيږي، الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّكَ مَيِّتٞ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ٣٠﴾ [الزمر: 30]

(بېشکه ته هم مړ کيدونکی يې او بېشکه دوی (هم) مړه کېدونکي دي). [الزمر سورت: 30 آيت]،

او الله - تعالی - له أيوب څخه خبر ورکړ چې هغه ته سختي ورسيده:

﴿۞ وَأَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ٨٣﴾ [الأنبياء: 83]

(او (ياد کړه) ايوب کله چې هغه خپل رب ته اواز وکړ چې يقينًا زه (چې يم) ما ته تکليف رارسېدلی دی او ته تر ټولو زيات رحم کوونکی يې). [الأنبياء سورت : 83 آيت]

، او هغوی لره مېرمنې او اولادونه دي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَذُرِّيَّةٗۚ ...﴾ [الرعد: 38]

(او يقينًا يقينًا مونږ له تا نه مخکې رسولان لېږلي وو او مونږ دوی ته ښځې او اولادونه ورکړي وو). [الرعد سورت: 38 آيت].

او هغوی خواړه خوري او په بازارونو کې ګرځي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ إِلَّآ إِنَّهُمۡ لَيَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَيَمۡشُونَ فِي ٱلۡأَسۡوَاقِۗ ...﴾ [الفرقان: 20]

(او له تا نه مخکې مونږ رسولان نه دي لېږلي مګر چې يقينًا هغوی به خامخا طعام خواړه، او په بازارونو کې ګرځېدل). [الفرقان سورت: 20 آيت]

، او هغوی ته خفګان ورسيږي، لکه څرنګه چې الله تعالی له يعقوب - عليه السلام - څخه د خبر ورکولو په موخه وويل:

﴿وَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ وَٱبۡيَضَّتۡ عَيۡنَاهُ مِنَ ٱلۡحُزۡنِ فَهُوَ كَظِيمٞ٨٤﴾ [يوسف: 84]

(او له هغوی نه يې مخ وګرځاوه او ويې ويل: ای زما غمه په (جدايي د) يوسف باندې! او د هغه دواړه سترګې له غمه تکې سپينې شوې، نو هغه (له غمه) ډك و). [يوسف سورت : 84 آيت].

او په صحيحينو کې د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - د لمسي د وفات په پېښه کې فرمايلي دي: کله چې کېناست نو ورپورته کړل شو، نو په غيږه کې يې کيناوه پداسې حال

کې چې د کوچني بدن لړزيده، نو د رسول الله - صلی الله عليه وسلم - دواړه سترګې راډکې شوې، نو سعد وويل: دا څه دي اى د الله رسوله؟ هغه وويل: «هَذِهِ رَحْمَةٌ يَضَعُهَا اللَّهُ فِي قُلُوبِ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ، وَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللَّهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ». «دا د الله تعالی رحمت دی، الله تعالی يې د خپلو بنده ګانو په زړونو کې ځای پر ځای کوي چاته چې وغواړي، او يقينا الله تعالی له خپلو بنده ګانو څخه په هغه چا رحم کوي چې هغوی په خپله رحم کوونکي وي ». بخاري (6655)، مسلم (923)، أبو داود (3125)، نسائي (1868)، او ابن ماجه (1588) روايت کړی دی. جئث يعنې ويره، او: جئث فهو مجئوث، يعني ويريدلی، فتح الباري (8/722)، او النهاية في غريب الحديث (1/ 232). او مونږ پوهيږو چې دوی خلکو ته نصيحت وکړ، امانتونه يې وسپارل، او د خپل رب پيغامونه يې ورسول، او دا دوی ته زيان نه رسوي چې پيروانو يې - بلنه - ونه منله او نه دا چې خلکو پرې کبر وکړ، پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «عُرِضَتْ عَلَيَّ الْأُمَمُ، فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم وَمَعَهُ الرُّهَيْطُ، وَالنَّبِيَّ وَمَعَهُ الرَّجُلُ وَالرَّجُلَانِ، وَالنَّبِيَّ لَيْسَ مَعَهُ أَحَدٌ». «امتونه راته پېش کړای شول، نو ما يو نبي -صلى الله عليه وسلم- وليده چې د هغه سره د خلکو يو ټولی و، او بل نبي مې وليده چې د هغه سره يو سړی او دوې سړيان وو، او داسې نبي مې هم وليده چې هيڅوک ورسره نه وو». بخاري (5705)، مسلم (220)، او ترمذي (2446) روايت کړی دی. او مونږ ايمان لرو چې الله تعالی يقينا مسيح عليه السلام ژوندی پورته کړ کله چې د هغه قوم د هغه د وژلو اراده وکړه، الله تعالی فرمايلي:

﴿۞ فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيسَىٰ مِنۡهُمُ ٱلۡكُفۡرَ قَالَ مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ۝٥٢ رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلۡتَ وَٱتَّبَعۡنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ۝٥٣ وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ۝٥٤﴾ [آل عمران: 52-54]ف

لَمَّا أَحَسَّ عِيسَى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللهِ آمَنَّا بِاللّهِ وَاشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُون * (نو عيسٰی چې کله له دوی څخه کفر وليده، نو ويې ويل: د الله په طرف (تللو کې) څوك زما مدد کوونکي دي؟ هغه خالص ملګرو يې وويل: مونږ د الله مددګار يو، مونږ پر الله ايمان راوړی دی او ته ګواه شه پر دې چې ببشکه مونږ مسلمانان (فرمانبردار) يو. رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنزَلَتْ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُولَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِين* اى زمونږه ربه! مونږ ايمان راوړی دی په هغه څه چې تا نازل کړي دي او مونږ د رسول تابعداري کړې ده، نو ته مونږه (د حق) له ګواهي کوونکو سره وليکه. وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ اللّهُ وَاللّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِين} او هغوی چلونه جوړ کړل او الله پټ تدبير وکړ او الله تعالی له ټولو تدبير کوونکو نه غوره دی). [آل عمران سورت: 52-54 آيتونه]

، او الله - تعالى - فرمايلي:

﴿وَإِنَّهُۥ لَعِلۡمٞ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمۡتَرُنَّ بِهَا وَٱتَّبِعُونِۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ٦١﴾ [الزخرف: 61]

(او بېشکه دغه (عیسیٰ) د قیامت لپاره یقینًا یوه لویه نښه ده، نو تاسو د دغه (قیامت) په باره کې له سره شك مه کوئ، دا نېغه لار ده). [الزخرف سورت: 61 آیت]

، او له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روايت دی او له مجاهد او قتادة څخه، چې مراد پرې د عيسى ابن مريم عليه السلام راکوزيدل دي. طبري په تفسير کې روايت کړی (20/ 631 - 633). او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَإِن مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤۡمِنَنَّ بِهِۦ قَبۡلَ مَوۡتِهِۦۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكُونُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا ١٥٩﴾ [النساء: 159]

(او نشته هیڅوك له اهلِ كتابو نه مګر چې هغه به خامخا لازمًا د هغه د مرګ نه مخكې پر ده ایمان راوړي او د قیامت په ورځ به هغه (عیسیٰ) په دوى باندې ګواه وي). [النساء سورت: 159 آيت]

. ابن عباس - رضي الله عنهما - فرمايلي دي: د هغه دا وينا چې {قَبْلَ مَوْتِهِ} يعني «د عيسى ابن مريم له مرګ څخه وړاندې». تفسير طبري (380/9). او مونږ ايمان لرو چې هغه به په آخره زمانه کې د عادل پاچا په حيث راکوزيږي، له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی هغه فرمايلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا مُقْسِطًا، فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ، وَيَقْتُلَ الخِنْزِيرَ، وَيَضَعَ الجِزْيَةَ، وَيَفِيضَ المالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ». «زما دې قسم وي په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، نږدې ده چې په تاسو کې به د مريمې زوی عيسى په عدل او انصاف سره فيصله کوونکی راکوز شي، نو صليب به مات کړي، خنزير به ووژني، جزيه به کيږدي، او مال به دومره زيات شي چې هيڅوک به يې نه قبلوي». بخاري (2222)، مسلم (155)، أبو داود (4324)، ترمذي (2233)، او ابن ماجه (4078) روايت کړی دی. او د مسيح عليه السلام د راکوزيدو په خبر کې : رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللهُ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ، فَيَنْزِلُ عِنْدَ الْمَنَارَةِ الْبَيْضَاءِ شَرْقِيَّ دِمَشْقَ، بَيْنَ مَهْرُودَتَيْنِ، «هغه به په همداسي وي چې الله تعالى به مسيح زوی د مريمې رواليږي، نو د دمشق ختيځ ته به د سپينې منارې تر څنګه په پراخه يا زيړ رنګي لباس کې رابښکته شي، يعني په دوو تکو، يا دوو لباسونو، او ويل کيږي : ثوب المهرود: هغه لباس چې په خوشبويي او بيا په زعفرانو رنګ شوی وي. النهاية في غريب الحديث (5/ 258). پداسې حال کې چې خپل دواړه لاسونه به يې د ملايکو په اوږو

باندې ايښې وي، کله چې سر وخوځوي نو اوبه ترې و څڅيږي، او کله يې چې پورته کړي نو لکه  د سپينو زور په څېر اوبه به ترې وڅڅيږي لکه د لعلو په څېر په پاکې او سوچه والي کې...». مسلم (2937)، أبو داود (4321)، ترمذي (2240)، او ابن ماجه (4075) روايت کړی دی.

## )بــاب آيات الأنبياء ودلائل نبوتهم عليهم السلام (باب دی د أنبياوو د معجزو او د هغوی د پيغمبری د دليلونو په اړه

او مونږ پوهيږو چې الله تعالی هر پيغمبر ته داسې نښې او دليلونه ورکړي دي چې د ده په څېر باندې انسانان ايمان راوړي، له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «مَا مِنَ الأَنْبِيَاءِ نَبِيٌّ إِلَّا أُعْطِيَ مِنَ الآيَاتِ مَا مِثْلُهُ أُومِنَ، أَوْ آمَنَ عَلَيْهِ البَشَرُ، وَإِنَّمَا كَانَ الَّذِي أُوتِيتُ وَحْيًا أَوْحَاهُ اللَّهُ إِلَيَّ، فَأَرْجُو أَنِّي أَكْثَرُهُمْ تَابِعًا يَوْمَ القِيَامَةِ». «هيڅ نبي نشته مګر دا چې هغه ته داسې معجزې ورکړل شوي دي چې د هغه په څېر باندې خلکو ايمان راوړی دی، او يا پرې انسانانو ايمان راوړی، او يقينا هغه چې ماته راکړل شوی هغه وحيې ده چې  الله تعالی ماته کړې ده، زه تمه لرم چې د نورو انبياوو په پرتله به د قيامت په ورځ زما پيروان زيات وي». بخاري (7274)، او مسلم (152) روايت کړی دی. او مونږ ايمان لرو چې الله - تعالى - هيڅ پيغمبر ندی لیږلی مګر دا چې له هغه سره داسې يو نخښه وي چې د هغه په رښتينولۍ دلالت وکړي، برابره خبره ده که مونږ پرې پوه شو ي يو يا پرې نه يو پوه شوي، او الله تعالی مونږ ته د هغې له جملې څخه يوه ټولګه په قرآن کريم کې بيان کړې ده. او پدې هم پوهيږو چې ډيری داسې نخښانې شته چې الله تعالی پرې د خپلو پخوانيو پيغبرانو تاييد کړی دی او الله تعالی مونږ ته ندي بيان کړې، لکه څرنګه چې د الله - تعالى - پدې وينا کې دي: ﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ١٠﴾ [المائدة: 10]

(او هغه کسان چې کفر يې کړی دی او زمونږ ايتونه يې دروغ ګڼلي دي، دغه خلق د اور والا دي). [المائدة سورت : 10 آيت]

، او د الله - تعالى - دا وينا:

﴿كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمۡۗ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ١١﴾ [آل عمران: 11]

[(حال د دوی داسی دی) لکه حال (او عادت) د فرعونیانو او د هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو، چې زمونږ ایتونه به یې دروغ ګڼل، نو الله هغوی د خپلو ګناهونو په سبب ونیول او الله ډېر سخت عذاب ورکوونکی دی]. [آل عمران سورت: 11 آیت].

او کله هم الله تعالی له ښکاره نښانو څخه یادونه کوي، او ثبوت یادوي، لکه د الله تعالی پدې وینا کې:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ٩٦﴾ [هود: 96]

(او یقینًا یقینًا مونږ موسٰی په خپلو(نهو) معجزو او ښکاره دلیل سره لیږلی و). [هود سورت: 96 آیت]

، او د الله -تعالی- دا قول:

﴿قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجۡعَلُ لَكُمَا سُلۡطَٰنٗا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيۡكُمَا بِـَٔايَٰتِنَآۚ أَنتُمَا وَمَنِ ٱتَّبَعَكُمَا ٱلۡغَٰلِبُونَ ٣٥﴾ [القصص: 35]

(ویې ویل: ژر به مونږ ستا مټ په خپل ورور سره مضبوط کړو او تاسو لپاره به غلبه وګرځوو، نو دوی به تاسو ته نشي دررسېدلی، زمونږ د نښو په وجه). [القصص سورت: 35 آیت]،

عکرمة ویلي: « هر څه چې په قرآن کې له ثبوت څخه دي، هغه حجت دی». تفسیر الطبري (30/8) و (337/9). او مونږ پوهیږو چې هغه آیاتونه او دلیلونه چې الله تعالی پرې د خپلو پیغمبرانو او أنبیاوو ملاتړ کړی دی خورا زیات دي او ترټولو لوی ثبوت هغه دی چې دوی چې په کوم شي سره راتګ کړی دی هغه وحې ده،او د الله تعالی وحیې د هغه رسولانو او أنبیاوو ته وي: نو دا به یا له واسطې پرته وحیې وي، لکه خوب لیدل چې د الله تعالی پدې وینا کې له ابراهیم علیه السلام څخه خبر ورکړی چې هغه فرمایلي دي:

﴿فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ ٱلسَّعۡيَ قَالَ يَٰبُنَيَّ إِنِّيٓ أَرَىٰ فِي ٱلۡمَنَامِ أَنِّيٓ أَذۡبَحُكَ ...﴾ [الصافات: 102]

(نو کله چې هغه (هلك) له ده (خپل پلار) سره منډې وهلو ته ورسېده، ویې ویل:ای زما خوږه زویه! بېشکه زه په خوب کې وینم داسې چې بېشکه زه تا ذبحه کوم). [الصافات سورت : 102 آیت]،

يا دا چې رسول د الله - جل جلاله - كلام په مستقيم ډول اوري، مګر د پردې تر شا، لکه څرنګه چې د هغه جل جلاله په دې وينا کې دي:

﴿۞ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحۡيًا أَوۡ مِن وَرَآيِٕ حِجَابٍ ...﴾ [الشورى: 51]

(او د هېڅ انسان لپاره ممکن نه و چې الله ورسره خبرې وکړي مګر په وحي سره، يا له پردې نه شا ته). [الشورى سورت: 51 آيت]،

او لکه څرنګه چې د الله تعالى په وينا کې دي موسى عليه السلام ته، لکه د الله تعالى پدې وينا کې:

﴿قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّي ٱصۡطَفَيۡتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِي وَبِكَلَٰمِي فَخُذۡ مَآ ءَاتَيۡتُكَ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ١٤٤﴾ [الأعراف: 144]

(الله وویل: ای موسٰی! بېشکه ما تا ته په ټولو خلکو باندې په خپلو پېغامونو سره او په خپل کلام سره غوره والی درکړی دی، نو ته هغه څه ونیسه چې ما تا ته درکړي دي، او له شکر کوونکو څخه شه). [الأعراف سورت: 144 آيت]،

او يا دا چې ملايکه ورسره خبرې وکړي، لکه د الله تعالى پدې وينا کې:

﴿۞ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحۡيًا ...﴾ [الشورى: 51]

(يا استازى راولېږي، پس دغه د ده په حکم سره ورسوي هغه چې هغه (الله) يې غواړي). [الشورى سورت: 51 آيت].

او موږ پوهېږو چې د دوى په رښتينولۍ ترټولو لوى دليل هغه توحيد ته د دوى بلنه ده چې په فطرتونو کې ځاى پر ځاى شوى دى، هغه چې عقلونه يې په ښه والي ګواهي ورکوي او هغه څه چې دوى له ګټور علم څخه، نيکو اعمالو ، هدايت، حق دين او عدالت څخه راوړي دي: له عبيد الله بن عبد الله څخه روايت دى چې عبد الله بن عباس - رضي الله عنهما - خبر ورکړى دى ويلي يې دي چې أبو سفيان راته ويلي دي چې «هرقل ورته وويل: پوښتنه مې درڅخه وکړه چې په څه درته امر کوي؟ نو تا وويل: چې هغه راته په لمانځه، رښتيا ويلو، پاک لمنۍ، په ژمنه وفا او د امانت په ادا کولو امر کوي، هغه وويل: او دا د نبي صفت دى». بخاري (2681)، مسلم (1773)، او ترمذي (2717) روايت کړى دى. نجاشي وويل: کله چې جعفر - رضي الله عنه - ورته د مريم سورت لومړنۍ آيتونه تلاوت کړل: «دا وينا او هغه وينا چې موسى ته راغلې ده، دواړه له يوې ډيوې

ځخه راوځي». اسحاق بن راهويه (۱۸۳۵)، احمد (۲۲٤۹۸)، ابن خزيمه (۲۲٦۰)، طحاوي په شرح مشكل الاثار (۵۵۹۸)، او ابو نعيم په الحليه (۱/۱۱۵) او په دلائل النبوة کې روايت کړی دی (۱۹۴). او لدې ځخه خپلو رسولانو لره د الله تعالی شاهدي ده چې هغوی په حقه دي او هغه څه چې دوی پرې راتګ کړی هغه هم حق دي، الله تعالی فرمايلي: ﴿لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشۡهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيۡكَۖ أَنزَلَهُۥ بِعِلۡمِهِۦۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَشۡهَدُونَۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ١٦٦﴾ [النساء: 166]

(لېکن الله ګواهي کوي پر هغه شي چې تا ته يې نازل کړی دی، چې دا يې په خپل علم سره نازل کړی دی، او ملايك (هم) ګواهي کوي او الله ښه کافي دی (په حيث د) ګواه). [النساء سورت: 166 آيت]،

او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَسۡتَ مُرۡسَلٗاۚ قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ وَمَنۡ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡكِتَٰبِ ٤٣﴾ [الرعد: 43]

(او کافران شوي خلق وايي: ته رسول نه يې، ته (ورته) ووايه: زما په مينځ کې او ستاسو په مينځ کې د ګواه په ډول الله ښه کافي دی او هغه څوك (هم) چې له هغهٔ سره د کتاب علم دی). [الرعد سورت: 43 آيت].

او د دوی له لويو معجزو ځخه: هغه وحيې چې پر دوی د الله تعالی له طرفه نازليږي، او تر ټولو لويه وحيې قرآن عظيم دی چې زمونږ د پيغمبر صلی الله عليه وسلم معجزه ده. او انسانان نه شي کولای چې د دې وحی په څېر راوړي؛ ځکه چې دا د الله کلام او وحې ده، او لدې امله چې غيبي خبرې پکې دي، او ځکه چې هدايت، نور، رحمت او حکمت پکې دی. د دوی له څرګندو معجزو ځخه: هغه عقلي دليلونه دي چې الله تعالی پرې د خپلو رسولانو او أنبياوو مرسته کوي، نو کافر حيران کړي او باطل يې له منځه ولاړ شي، لکه څرنګه چې د الله تعالی پدې وينا کې دي:

﴿أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِي حَآجَّ إِبۡرَٰهِـۧمَ فِي رَبِّهِۦٓ أَنۡ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلۡمُلۡكَ إِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّيَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحۡيِۦ وَأُمِيتُۖ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأۡتِي بِٱلشَّمۡسِ مِنَ ٱلۡمَشۡرِقِ فَأۡتِ بِهَا مِنَ ٱلۡمَغۡرِبِ فَبُهِتَ ٱلَّذِي كَفَرَۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢٥٨﴾ [البقرة: 258]

(آيا تا هغه كس نه دى ليدلى (د هغه په قصه نه يې خبر شوى) چې له ابراهيم سره يې د ده د رب په باره كې جګړه وكړه، ځكه چې الله هغه ته بادشاهي وركړې وه؟ كله چې ابراهيم وويل: زما رب هغه دى چې ژوندي كول او مړه كول كوي، هغه وويل: زه ژوندي كول او مړه كول كوم، ابراهيم وويل: پس يقينًا الله لمر له مشرق نه راخېژوي، نو ته هغه له مغرب نه راوخېژوه، نو هغه كس چې كفر يې كړى و؛ حيرانه، ملامته شو، او الله داسي ظالم قوم ته سمه لار نه ښيي). [البقرة سورت: 258 آيت]

، او د هغه(ذات) چې د لوړې ستاينې او د پاكو نومونو خاوند دى وينا ده:

﴿فَإِنَّهُمۡ عَدُوّٞ لِّيٓ إِلَّا رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٧٧ ٱلَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهۡدِينِ ٧٨ وَٱلَّذِي هُوَ يُطۡعِمُنِي وَيَسۡقِينِ ٧٩ وَإِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ يَشۡفِينِ ٨٠ وَٱلَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحۡيِينِ ٨١ وَٱلَّذِيٓ أَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لِي خَطِيٓـَٔتِي يَوۡمَ ٱلدِّينِ ٨٢﴾ [الشعراء: 77-82]

{فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّي إِلاَّ رَبَّ الْعَالَمِينَ* (پس بېشكه دوى (ستاسو معبودان) زما دښمنان دي غير له رب العلمين نه. الَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهْدِينِ* هغه چې زه يې پيدا كړى يم، نو هغه زما لار ښوونه كوي. وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ * او هغه چې همغه په ما خوراك كوي او په ما څښاك كوي. وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ* او كله چې زه ناروغه شم، نو هغه ما ته شفا راكوي. وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ* او هغه چې ما ته به مرګ راكوي، بيا به ما ژوندى كوي. وَالَّذِي أَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ} او هغه چې زه طمع لرم دا چې د قيامت په ورځ به هغه ما ته زما ګناه وبخښي). [الشعراءسورت : 77-82 آيتونه

، او د هغه وينا د موسى عليه السلام په اړه چې هغه فرعون ته وويل:

﴿قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِيٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ٥٠﴾ [طه: 50]

(ده وويل: زمونږ رب هغه ذات دى چې هر شي ته يې د ده (موافق) شكل وركړى دى، بيا يې لار ښودلې ده). [طه سورت: 50 آيت]

، او د الله تعالى دا وينا:

﴿لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ٢٢﴾ [الأنبياء: 22]

(كه چېرې په دغو (ځمكه او اسمان) كې له الله نه پرته نور معبودان وى (نو) دواړه به خامخا وران شوي وو، نو الله د عرش مالك، پاك دى له هغو خبرو چې دوى يې بيانوي). [الأنبياء سورت: 22 آيت]،

او د الله تعالی دا وینا:

﴿مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنْ إِلَٰهٍۚ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهِۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٩١﴾﴾ [المؤمنون: 91]

(الله (د ځان لپاره) هېڅ اولاد نیولی نه دی او نه له هغه سره بل هېڅ معبود شته (او که ورسره وی نو) په دغه وخت کې به خامخا هر اله بېولي وو هغه څه چې پیدا کړي یې وو، او خامخا د دوی ځینو به په ځینو نورو باندې غلبه کوله، پاك دی الله له هغو خبرو نه چې دوی یې بیانوي). [المؤمنون سورت: 91 آیت].

او دا دلیلونه ډېر زیات دي، لدې څخه مو ځینې په باب الربوبیة و الألوهیة کې ذکر کړي دي، او د دوی له ډېرو ښکاره معجزو څخه په غیبو خبر ورکول دي؛ هغه چې الله تعالی یې ورته اجازه کړي وي چې خلکو ته ترې خبر ورکړي. او د دوی له سترو نښانو څخه: د پخوانیو پیغمبرانو نجات، د هغوی د پیروانو خلاصون، د دوی د دښمنانو له فریب څخه د هغوی د پیروانو نجات، د متکبرانو او ضدي خلکو له منځه وړل او د الله تعالی لخوا دوی ته هغه څه وریادول چې پر پخوانیو یې کړي دي او دا چې الهي کړنلاره جاري ده، الله تعالی د سورة الأنبیاء په لومړي سر کې فرمایلي دي:

﴿ثُمَّ صَدَقْنَٰهُمُ ٱلْوَعْدَ فَأَنجَيْنَٰهُمْ وَمَن نَّشَآءُ وَأَهْلَكْنَا ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٩﴾﴾ [الأنبیاء: 9]

(بیا مونږ له دوی سره وعده رښتیا کړه، نو مونږ دوی ته نجات ورکړ او هغه چا ته چې زمونږ اراده (د هغوی د نجات) وه او له حد نه تېرېدونکي مو هلاك کړل). [الأنبیاء سورت: 9 آیت]،

او د هغه - سورت - په پای کې یې فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِى ٱلزَّبُورِ مِنۢ بَعْدِ ٱلذِّكْرِ أَنَّ ٱلْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِىَ ٱلصَّٰلِحُونَ ﴿١٠٥﴾﴾ [الأنبیاء: 105]

(او یقینًا یقینًا مونږ په زبور کې له نصیحت نه پس دا لیکلي وو چې بېشکه دغه ځمکه، د دې به زما صالح (باصلاحیته) بنده ګان وارثان کیږي). [الأنبیاء سورت: 105 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي:

﴿كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا كُلِّهَا فَأَخَذۡنَٰهُمۡ أَخۡذَ عَزِيزٖ مُّقۡتَدِرٍ ٤٢ أَكُفَّارُكُمۡ خَيۡرٞ مِّنۡ أُوْلَٰٓئِكُمۡ أَمۡ لَكُم بَرَآءَةٞ فِي ٱلزُّبُرِ ٤٣﴾ [القمر: 42-43]

[(نو) دوی زمونږ د ټولو دلیلونو (معجزو) تکذیب وکړ، نو مونږ دوی ونیول، د ډېر غالب او ښه ذات په نیولو سره. (ای عربو!) آیا ستاسو کفار له دغو (ړومبنیو کفارو) نه ډېر غوره دي، یا تاسو لپاره په کتابونو کې خلاصی (راغلی) دی؟]. [القمر سورت : 42-43 آیتونه].

**او په سورة الشعراء کې چې هرکله الله پاک د پخوانیو پیغمبرانو د نجات او د هغوی د دښمنانو د هلاکت یادونه کوي، حق ذات د دې هر یو خبر په تعقیب سره وایي: سبحانه وتعالی، یعنې پاکي ده هغه لره او لوړ دی شان د هغه ذات.**

﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ٦٧﴾ [الشعراء: 67]

(بېشکه په دې کې خامخا لویه نښه ده، او د دوی زیاتره ایمان راوړونکي نه وو). [الشعراء سورت: 67 آیت].

**او متعال حق ذات فرمایلي دي:**

﴿فَإِنۡ أَعۡرَضُواْ فَقُلۡ أَنذَرۡتُكُمۡ صَٰعِقَةٗ مِّثۡلَ صَٰعِقَةِ عَادٖ وَثَمُودَ ١٣﴾ [فصلت: 13]

(نو که دوی مخ وګرځاوه، نو ته (دوی ته) ووایه: زه تاسو د عادیانو او ثمودیانو د سخت عذاب په مثل عذاب نه وېروم). [فصلت سورت: 13 آیت]،

**متعال رب فرمایلي دي:**

﴿أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗ وَأَثَارُواْ ٱلۡأَرۡضَ وَعَمَرُوهَآ أَكۡثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٩﴾ [الروم: 9]

(ایا دوی په ځمکه کې نه ګرځي، نو چې وګوري چې د هغو کسانو انجام څنګه و چې له دوی نه مخکې وو هغوی له دوی نه په قوت کې زیات سخت وو او هغوی ځمکه څیروله او دا یې اباده کړې وه ډېره له هغې نه چې دوی دغه اباده کړې ده او دوی ته خپلو رسولانو ښکاره دلیلونه

راوړي وو، نو الله کله هم داسې نه و چې په دوی ظلم وکړي او لېکن دوی (پخپله) په خپلو ځانونو ظلم کاوه). [الروم سورت: 9 آیت].

د دوی له نښو څخه چې د دوی د نبوت ثرګندونه کوي: د دوی د صفاتو کمال، د دوی د اخلاقو ښه والی، د دوی د عمل او چلند او د دوی د خبرو اخلاص چې دوی له دروغ ویلو څخه منع کوي، الله تعالی د صالح د خلکو په اړه د خبرولو په موخه فرمایلي دي چې هغوی به ویل: ﴿قَالُواْ يَٰصَٰلِحُ قَدۡ كُنتَ فِينَا مَرۡجُوّٗا قَبۡلَ هَٰذَآۖ أَتَنۡهَىٰنَآ أَن نَّعۡبُدَ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِي شَكّٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ مُرِيبٖ ٦٢﴾ [هود: 62]

(دوی وویل: ای صالحه، ته په مونږ کې مخکې له دې (دعوې د نبوت) نه امېد کړی شوی وې، (تا ته زمونږ هیلې وې) ایا ته مونږ د هغو (بتانو) له عبادت نه منع کوې چې زمونږ پلرونو به یې عبادت کاوه او بېشکه مونږ د هغه (توحید) په باره کې چې ته مونږ هغهٔ ته بلې یقینًا په اضطراب اچوونکي (پریشانه کوونکي) شك کې یو). [هود سورت: 62 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي:

﴿قَالُواْ يَٰشُعَيۡبُ أَصَلَوٰتُكَ تَأۡمُرُكَ أَن نَّتۡرُكَ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَآ أَوۡ أَن نَّفۡعَلَ فِيٓ أَمۡوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُاْۖ إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلۡحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ ٨٧﴾ [هود: 87]

(هغوی وویل: ای شعیبه! ایا ستا لمونځ تا ته د دې حکم کوي چې مونږ هغه (څیزونه) پرېږدو چې زمونږ پلرونو به یې عبادت کاوه یا دا چې په خپلو مالونو کې چې مونږ څه کول غواړو (هغه پرېږدو)، بېشکه هم ته یقینًا ډېر حِلم والا، ډېر پوه یې). [هود سورت: 87 آیت].

هرقل له ابو سفیان څخه زمونږ د رسول - الله صلی الله علیه وسلم - په اړه پوښتنه وکړه او ویې ویل: «او ما له تا څخه وپوښتل چې آیا مخکې له دې څخه مو هغه کله په دروغو تورن کړی؟ نو تاسو وویل چې: نه، نو یقینا زه پوهیږم چې هغه به هیڅکله داسې ونه کړي چې پر خلکو دروغ ویل پرېږدي او پر الله تعالی دروغ ووایي». بخاري (7)، او مسلم (1773) روایت کړی دی.

او لدې څخه: د پیغمبرانو د نښانو په لېږد کې لوی تواتر، او هغه څه چې دوی پرې د علم، هدایت او حق دین څخه راتګ کړی دی، هغه څه چې د دروغو په لېږدولو باندې سره د دوی یوځای کېدل ناممکن ګرځوي.

او لدې څخه دا چې هغوی هيڅکله په خپلو پيغمبريو نه مزد غواړي او نه هم واکمني، الله تعالی له ډېرو پيغمبرانو څخه د خبرولو په موخه فرمايلي چې هر يو به يې خپل قوم ته وييل:

﴿يَٰقَوۡمِ لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًاۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱلَّذِي فَطَرَنِيٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٥١﴾ [هود: 51]

(ای زما قومه! زه له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې څه مزدوري نه غواړم، زما اجر نه دی مګر پر هغه ذات چې زه يې پيداکړی يم، ايا نو تاسو له عقل نه کار نه اخلئ!). [هود سورت: 51 آيت].

او لدې څخه دا چې: د پيغمبرانو د نبوت سپکاوی هيڅوک نه کوي مګر يو جاهل چې د دين، علم او لارښوونې په اړه يې فکر ندی کړی، هغه چې پيغمبرانو پرې راتګ کړی دی، او يا يو ضدي متکبر، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسۡتَيۡقَنَتۡهَآ أَنفُسُهُمۡ ...﴾ [النمل: 14]

(او دوی له دغو (معجزو) انکار وکړ د ظلم او سرکشۍ له امله، حال دا چې د دوی نفسونو په دغو يقين کړی و، نو ته وګوره د فساد کوونکو انجام څنګه و؟). [النمل سورت : 14 آيت]،

او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿قَدۡ نَعۡلَمُ إِنَّهُۥ لَيَحۡزُنُكَ ٱلَّذِي يَقُولُونَۖ فَإِنَّهُمۡ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ ٣٣﴾ [الأنعام: 33]

(بېشکه مونږ پوهېږو چې يقينًا حقيقت دا دی چې تا هغه خبره خامخا غمجنوي، چې دوی يې وايي، نو يقينًا دوی تا دروغجن نه ګڼي او لېکن دغه ظالمان د الله له آيتونو نه انکار کوي). [الأنعام سورت: 33 آيت].

او لدې څخه ځيني يې: حسي دليل وي چې سترګې يې ګوري، عقلونه يې مني، لکه د نوح د قوم غرقيدل، د صالح اوښه، د هود د قوم ننګونه چې که ټول قوم يې ورسره دوکه وکړي، له اور څخه د ابراهيم ژغورل، د موسی معجزې، او لدې څخه: امسا، ملخان، سپږې، چونګښې، وينه، طوفان، د فرعون او د قوم يې غرقيدل،او د داود - عليه السلام - معجزې لکه: د غرونو تسبيح وييل، د اوسپنې نرميدل، د سليمان - عليه السلام - معجزې، هغه ته د باد او پيريانو تسخيريدل، د مرغانو په خبرو پوهيدل. او د مسيح - عليه السلام - معجزې لکه پيس وهلی، مورزادي ړوند او چې وروسته وړوند شوی وي دوی رغول،

د مړو ژوندي کول، او دا چې هغه به له ختو څخه لکه د مرغانو په څېر جوړول بيا به يې پکې پوکی وکړاو د الله په اذن به هغه مرغه شو، او زمونږ د پيغمبر محمد - صلی الله عليه وسلم معجزې، چې هغه زياتې دي او په سختی سره شمېرل کيږي لکه : د سپوږمۍ څېرې کيدل، اسراء او معراج، د خوړو ډيريدل، د حيواناتو سره خبرې کول، د کانړو تسبيح وييل، د ونې د تنې ژړا، او د الله لخوا د دښمنانو په مقابل کې يې مرسته کول.

او لدې څخه: د هغه پيغمبر حالت چې حق ته بلنه کوي؛ او يقينا چې خلک د هغه چا ترمنځ توپير کوي چې په خپلو خبرو کې حق ته بلنه کوي او د هغه چا چې دروغو ته په خپلو ويناوو کې بلنه ورکوي... لدې امله عبد الله بن سلام فرمايلي دي: «کله چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم - مدينې ته راغي نو خلک مخې ته ورغلل، او يا وييل کيږي: رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې ته راغی، نو زه په خلکو کې ورغلم تر څو ورته وګورم، نو کله مې چې د رسول الله مخ وليده نو پوه شوم چې مخ يې د دروغجن انسان ندی»، ترمذي (2485)، ابن ماجه (1334)، ابن ابي شيبه (25898)، احمد (23784) او عبد بن حميد (496) روايت کړی دی. او داسې نورې نښانې. او د پيغمبرانو له معجزو څخه هيڅ هم ندي پاتې پرته له قرآن او زمونږ د نبي محمد صلی الله عليه وسلم له سنتو څخه چې دا دواړه باقي پاتې دي؛ ځکه چې هغه وحې ده او الله تعالی د وحې د ساتلو تضمين کړی دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ٩﴾ [الحجر: 9]

(بېشکه همدا مونږ پخپله ذکر نازل کړی دی او بېشکه مونږ د ده خامخا ساتونکي يو). [الحجر سورت: 9 آيت]

، او پدې دواړو کې د هغه د رسالت په رښتينولۍ ستر دليلونه او ثبوتونه دي، او رښتيا فرمايلي دي د الله رسول - صلی الله عليه وسلم - او مونږ ايمان لرو چې الله - تعالی - د خپلو پيغمبرانو ملاتړ کوي، په هغه ډول چې د هغه حکمت د کائناتي او شرعي آيتونو او شواهدو تقاضا کوي، نو الله په خپل فضل سره هدايت کوي چاته چې وغواړي او په خپل عدل سره چې څوک وغواړي ګمراه کوي يې، او ضدي انسان ته آيتونه او معجزې نه زياتوي مګر ضد او تکبر، حق ذات فرمايلي:

﴿وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لِيَذَّكَّرُواْ وَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا نُفُورٗا ٤١﴾ [الإسراء: 41]

[او يقينًا يقينًا مونږ په دې قرآن کې مکرر بيان کړی دی، د دې لپاره چې دوی نصيحت واخلي (خو دغه بيان) دوی ته نه زياتوي مګر تېښته (لرې والی)]. [الإسراء سورت: 41 آيت]،

او حق ذات فرمايلِي دي:

﴿... وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ...﴾ [المائدة: 68]

(خامخا به هغه (کتاب)، چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی؛ په دوی کې د ډېرو خلقو سرکشي او کفر يقينًا ورزيات کړي، نو ته په کافر قوم باندې مه خفه کېږه). [المائدة سورت: 68 آيت]

، (الله) تعالی فرمايلي:

﴿وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَئِن جَآءَهُمْ نَذِيرٌ لَّيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى ٱلْأُمَمِ فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤٢﴾﴾ [فاطر: 42]

(او دوی په الله قسمونه وخوړل، خپل پاخه قسمونه، خامخا که دوی ته کوم وېرووونکی راغی (نو) دوی به خامخا ضرور په امتونو کې له هر يو نه ډېر هدايت موندونکي وي، نوکله چې دوی ته وېرووونکی راغی، نو دوی ته يې زياته نه کړه مګر تېښته). [فاطر سورت: 42 آيت]

، او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَئِن جَآءَتْهُمْ ءَايَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا قُلْ إِنَّمَا ٱلْءَايَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَآ إِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٩﴾﴾ [الأنعام: 109]

(او دوی په الله قسمونه وخوړل، پاخه قسمونه چې که چېرې دوی ته مُعجِزه راشي، نو پر هغې به خامخا لازمًا ايمان راوړي، ته (ورته) ووايه: بېشکه همدا خبره ده چې مُعجِزې له الله سره دي او تاسو پر دې څه شي پوه کړئ چې بېشکه دغه مُعْجِزه چې کله راشي (بيا به هم) دوی ايمان نه راوړي). [الأنعام سورت: 109 آيت]

، او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿...وَءَاتَيْنَا ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُواْ بِهَا وَمَا نُرْسِلُ بِٱلْءَايَٰتِ إِلَّا تَخْوِيفًا ﴿٥٩﴾﴾ [الإسراء: 59]

(او مونږ ثمود ته اوښه ورکړه، چې ښکاره معجزه وه، نو هغوی له هغې سره ظلم وکړ او مونږ معجزې نه رالېږو مګر د وېرولو لپاره). [الإسراء سورت: 59 آيت].

او له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايي: «سَأَلَ أَهْلُ مَكَّةَ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم، أَنْ يَجْعَلَ لَهُمُ الصَّفَا ذَهَبًا، وَأَنْ يُنَحِّيَ الْجِبَالَ عَنْهُمْ، فَيَزْرَعُوا، فَقِيلَ لَهُ: إِنْ شِئْتَ أَنْ تَسْتَأْنِيَ بِهِمْ، وَإِنْ شِئْتَ أَنْ نُؤْتِيَهُمُ الَّذِي سَأَلُوا، فَإِنْ كَفَرُوا أُهْلِكُوا كَمَا أَهْلَكْتُ مَنْ قَبْلَهُمْ، قَالَ: لَا، بَلْ أَسْتَأْنِي بِهِمْ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عز وجل هَذِهِ الْآيَةَ: د مکې خلکو له پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - څخه وغوښتل چې د صفا غونډۍ ورته سره زر وګرځوي او غرونه ورڅخه لرې کړي، تر څو کښت وکړي، نو هغه ته وويل شول: که ته وغواړې نو - د دوی غوښتنه وروسته کولای شي - او که وغواړې هغه څه ورکړو چې سوال يې کړی دی، خو که چېرته يې کفر وکړ داسې به هلاک شي لکه څرنګه چې له دوی څخه مخکښې هلاک شوي وو، هغه وفرمايل: نه، بلکه غوښتنه يې وروسته کوو، نو الله تعالى دا آيت نازل کړ:

﴿وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرۡسِلَ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلۡأَوَّلُونَۚ وَءَاتَيۡنَا ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ مُبۡصِرَةً ...﴾ [الإسراء: 59]

(او مونږ نه يو منع کړي له دې نه چې (د دوی له غوښتنې سره سم) معجزې ولېږو مګر دې خبرې چې اولنيو خلکو د دغو (معجزو) تکذيب کړی و او مونږ ثمود ته اوښه ورکړه، چې ښکاره معجزه وه). [الإسراء سورت: 59 آيت]»

. احمد (2333)، البزار (5036)، النسائي په الکبری (11226) کې، حاکم (3437) او البيهقي په دلائل النبوة (605) کې روايت کړی دی. او مونږ پوهيږو چې که الله غوښتلی نو ټولو خلکو ته به يې هدايت کړی و، الله تعالى فرمايلي:

﴿وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمۡ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ ....﴾ [النحل: 93]

(او که چېرې الله غوښتلی (نو) خامخا تاسو به يې يو امت ګرځولي وئ او لېکن هغه ګمراه کوي چا لره چې وغواړي او هدايتورکوي چا ته چې وغواړي). [النحل سورت: 93 آيت]

. او حق ذات سبحانه وتعالى فرمايلي دي:

﴿... وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَمَعَهُمۡ عَلَى ٱلۡهُدَىٰۚ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ٣٥﴾ [الأنعام: 35]

(او که الله غوښتلی دوی به يې په نېغه لار باندې لازمًا جمع کړي وو، نو ته له ناپوهانو څخه مه کيږه). [الأنعام سورت: 35 آيت].

او مونږ ایمان لرو چې د پیغمبرانو دلیلونه او نښانې چې هغوی راوړي دي او الله یې پرې مرسته کړې ده، ناشوني ده چې د نبوت دعوه کوونکی یې راوړي، یا ساحر او دروغجن، ځکه چې الله - تعالی - پریکړه کړې چې په صحیح دلیل سره به د باطل مرسته نه کوي او نه به دروغجن په ریښتني ثبوت سره ریښتونی کوي؛ ځکه چې هغه ذات حکیم دی په خپل شریعت او امر کې او د الله تعالی جاري حکمت او کړنلاره د دې خبرې ممانعت کوي، الله تعالی فرمایلي: ﴿وَلَوۡ تَقَوَّلَ عَلَيۡنَا بَعۡضَ ٱلۡأَقَاوِيلِ ۝٤٤ لَأَخَذۡنَا مِنۡهُ بِٱلۡيَمِينِ ۝٤٥ ثُمَّ لَقَطَعۡنَا مِنۡهُ ٱلۡوَتِينَ ۝٤٦﴾ [الحاقة: 44-46]

او که ده پر مونږ باندې له ځانه ځینې خبرې جوړې کړې وی (نو) مونږ به د ده ښی لاس نیولی وی. بیا به مونږ خامخا د ده د زړه رګ پرې کړی وی). [الحاقة سورت: 44-46 آیتونه].

## )بـــاب نبـوة نبينـــا محمد صلى الله عليه وسلم (باب دی زمونږ د نبي محمد صلى الله عليه وسلم د نبوت په اړه

او مونږ ایمان لرو چې زمونږ نبي محمد بن عبد الله د رب العالمین رسول دی او هغه د أنبیاوو او رسولانو د لړی ختمونکی دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٖ مِّن رِّجَالِكُمۡ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ۝٤٠﴾ [الأحزاب: 40]

(محمد (ﷺ) ستاسو په سړیو کې د هیچا پلار نه دی او لېکن د الله رسول دی او د نبیانو (د لړۍ) ختمونکی دی او الله په هر شي ښه عالم دی). [الأحزاب سورت: 40 آیت]

له أبو هریرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «إِنَّ مَثَلِي وَمَثَلَ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِي كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَى بَيْتًا فَأَحْسَنَهُ وَأَجْمَلَهُ إِلَّا مَوْضِعَ لَبِنَةٍ مِنْ زَاوِيَةٍ، فَجَعَلَ النَّاسُ يَطُوفُونَ بِهِ وَيَعْجَبُونَ لَهُ وَيَقُولُونَ: هَلَّا وُضِعَتْ هَذِهِ اللَّبِنَةُ قَالَ فَأَنَا اللَّبِنَةُ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ». «زما او زما څخه وړاندې د پیغمبرانو مثال داسې دی لکه یو سړي چې ښکلی او ښایسته کور جوړ کړی وي مګر په یو کونج کې د یوې خښتې ځای - پاتې وي - نو خلک راځي او ګیردچاپیره ترې تاویږي او خوښوي یې او خاوند ته یې وایي: آیا دغه خښته نه ایښودل کیږي، فرمایي: نو زه هغه خښته یم، او زه د أنبیاوو د لړۍ پای ته رسوونکی یم». بخاري(3535)، او مسلم(2286) روایت کړی دی.

او هغه د آدم د اولادې سردار دی، هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ، وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ»، «زه د قيامت په ورځ د آدم د اولادې سردار يم او زه لومړی هغه څوک يم چې قبر يې څېرول کيږي او لومړی شفاعت کوونکی او لومړی هغه څوک چې شفاعت يې کيږي»، مسلم (2278)، او أبو داود (4673) روايت کړی دی. او هغه د رب العالمين خليل دی، پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا مِنْ أُمَّتِي خَلِيلًا، لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ، وَلَكِنْ أَخِي وَصَاحِبِي». «که چېرته ما له خپل امت څخه څوک په ځانګړې دوستی نيوه، نو خامخا به مې ابوبکر نيولی و، مګر هغه مې ورور او ملګری دی». بخاري (3656) روايت کړی. او مونږ پوهيږو چې هغه ته چې کومې معجزې ورکړل شوي بل هيڅ پيغمبر ته ندي ورکړل شوي او د هغه ترټولو لويه معجزه قرآن کريم دی، او لومړی هغه څه چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ته پرې د وحيې پيل شوی دی هغه د «سورة العلق» لومړي آيتونه دي لکه څرنګه چې پدې اړه صحيح حديث راغلی دی: عن عائشة أم المؤمنين رضي الله عنها أنها قالت: أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم مِنَ الوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ فِي النَّوْمِ، فَكَانَ لَا يَرَى رُؤْيَا إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ، ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الخَلَاءُ، وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ فَيَتَحَنَّثُ فِيهِ -وَهُوَ التَّعَبُّدُ- اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ العَدَدِ قَبْلَ أَنْ يَنْزِعَ إِلَى أَهْلِهِ، وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا، حَتَّى جَاءَهُ الحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ، فَجَاءَهُ المَلَكُ فَقَالَ: «اقْرَأْ، قَالَ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ، قَالَ: فَأَخَذَنِي، فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الجَهْدَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: اقْرَأْ، قُلْتُ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ، فَأَخَذَنِي، فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الجَهْدَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: اقْرَأْ، فَقُلْتُ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ، فَأَخَذَنِي، فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: ﴿ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ٣﴾ [العلق: 1-3]

، فَرَجَعَ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَرْجُفُ فُؤَادُهُ، له أم المؤمنين عائشة - رضي الله عنها - څخه روايت دی، هغې فرمايلي دي، لومړی هغه څه چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ته پرې له وحی څخه پيل وشو؛ ريښتيني خوبونه وو، نو هيڅ خوب به يې نه ليده مګر دا چې د روڼ سهار په څېر به واقع کېده، بيا يې ګوښه والي ته ليوالتيا پيدا شوه هغه به د حراء په غار کې د عبادت په موخه ګوښه کېده او د شمار شپې به يې عبادت کاوه مخکې لدې چې خپلې کورنۍ ته راشي، د دې کار لپاره به يې له ځان سره توښه وړله، بيا به خديجې ته راته او د هغې په څېر به يې توښه اخستله، تر دې چې حق ( جبرائيل - عليه السلام - ) ورته راغی پداسې حال کې چې هغه د حرا په غار کې و، نو ملاېکه ورته راغله او ورته يې وويل: « ولوله، هغه وويل: زه لوستونکی نه يم، وايې:

زه يې راونيولم او زور يې راکړ تر دې چې ساه مې تنګه شوه، بيا يې خوشې کړم، راته يې وويل: ولوله، ماورته وويل: زه لوستونکی نه يم، نو راويې نيولم، په دويم ځل يې زور راکړ تر دې چې ساه مې تنګه شوه، بيا يې خوشې کړم، راته يې وويل: ولوله، ما وويل: زه لوستونکی نه يم، نو راويې نيولم، او د دريم ځل لپاره فشار راکړ، بيا يې خوشې کړم، راته يې وويل:

﴿ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ۝١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ۝٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ۝٣﴾ [العلق: 1-3]

ولوله په نوم د رب خپل؛ هغه ذات چې پيدا کړی يې دی، پيدا کړی يې انسان له پرنډې شوې وينې څخه، ولوله او ستا رب د عزت خاوند دی [العلق: 1-3]»

نو رسول الله صلى الله عليه وسلم پدې آيتونو سره راغی پداسې حال کې چې زړه يې درزيده، بخاري (3)، مسلم (160) او ترمذي (3632) روايت کړی دی. او لدې وروسته پرې «المدثر» سورت نازل شو، له جابر بن عبد الله - رضي الله عنه - څخه روايت دی، هغه له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه اوريدلي دي چې د وحې د وخت په اړه يې خبرې کولې: «فَبَيْنَا أَنَا أَمْشِي سَمِعْتُ صَوْتًا مِنَ السَّمَاءِ، فَرَفَعْتُ بَصَرِي قِبَلَ السَّمَاءِ، فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ قَاعِدٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، فَجَئِثْتُ مِنْهُ حَتَّى هَوَيْتُ إِلَى الأَرْضِ، فَجِئْتُ أَهْلِي فَقُلْتُ: زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي فَزَمَّلُونِي»، «په داسې حال کې چې زه روان وم، له آسمانه مې يو غږ واورېده، نو ما خپل نظر د اسمان په لور پورته کړ، ګورم چې هغه ملايکه ده کومه چې په حراء کې راته راغلې وه، د اسمان او ځمکې تر منځه په يوه کرسۍ ناسته وه، نو زه له هغې وويريدم تر دې پر ځمکه ورتيت شوم، نو خپلې کورنۍ ته راغلم او ورته مې وويل: په جامو کې مې تاو کړئ، په جامو کې مې تاو کړئ، نو هغوی زه په جامو کې ونغاړلم»، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ۝١ قُمۡ فَأَنذِرۡ۝٢ وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ۝٣ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ ۝٤ وَٱلرُّجۡزَ فَٱهۡجُرۡ۝٥﴾ [المدثر: 1-5]

ِلَى قَوْلِهِ: {فَاهْجُر} [المدثر: 5] -قَالَ أَبُو سَلَمَةَ: وَالرِّجْزُ: الأَوْثَانُ- ثُمَّ حَمِيَ الوَحْيُ وَتَتَابَعَ. نو الله تعالى دا آيتونه نازل کړل: {يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّر * قُمْ فَأَنْذِر} ای په جامه کې نغښتونکيه! ته پورته شه، نو (خلق) ووېروه [المدثر سورت: 1، 2 آيتونه]

. أبو سلمة ويلي دي: والرجز: يعني بتان - بيا وريسي د وحي نازليدلو زور واخيست او پرلپسي نازليده. بخاري (۴۹۲۶)، مسلم (۱۶۱) او ترمذي (۳۳۲۵) روايت کړی. او له عائشة أم المؤمنين رضي الله عنها څخه روايت دی، چې حارث بن هشام - رضي الله عنه - له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه پوښتنه وکړه نو ويې وييل : ای د الله رسوله! څرنګه تاته وحي راځي؟ نو رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وفرمايل: «أَحْيَانًا يَأْتِينِي مِثْلَ صَلْصَلَةِ الجَرَسِ، وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ، فَيُفْصَمُ عَنِّي، وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ، وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِيَ المَلَكُ رَجُلًا، فَيُكَلِّمُنِي، فَأَعِي مَا يَقُولُ»، « کله کله ماته داسې راځي لکه د زنګ غږ، او دا يې پر ما تر ټولو سخته وي نو کله چې رابيدار شم، نو هغه څه مې حفظ کړې وي چې هغه ويلي وي، او کله کله راته ملايکه دسړي په بڼه راشي، نو خبرې راسره وکړي نو زه هغه څه حفظوم چې هغه يې وايي»، عائشې - رضی الله عنها - فرمايلي دي: او يقينا ما - رسول الله صلى الله عليه وسلم - ليدلی دی چې په سخته يخه ورځ کې پرې کله وحي نازله شي او بيا ترې د وحې سختي لاړه شي نو د هغه پر تندي خوله رابهيدلي وي. بخاري (2)، مسلم (2333)، ترمذي (3634) او نسائي (933) روايت کړی دی.

هغه په مکه کې ديارلس کاله خلک توحيد ته راوبلل او په مدينه کې يې لس کاله تېر کړل او الهي قوانين يې بيان کړل او د هغه دين ته يې بلنه کوله، او د هغه په لاره کې يې جهاد کاوه، تر دې چې الله تعالی د درې شپيته کلنی په عمر کې وفات کړ، زما مور او پلار دې له هغه صلى الله عليه وسلم څخه قربان شي،

او مونږ پوهيږو چې له قرآن کريم څخه وروسته اسراء او معراج د هغه تر ټولو لويه معجزه ده ، الله تعالی فرمايلي:

﴿سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١﴾ [الإسراء: 1]

. (هغه ذات لره پاکي ده چې خپل بنده يې د شپې په يوه لږه برخه کې له مسجد حرام نه مسجد اقصٰی ته بوتلو، هغه (مسجد اقصٰی) چې مونږ د هغه ګېرچاپېره برکت اچولی دی، د دې لپاره چې مونږ هغه ته له خپلو نښو څخه ځيني وښيو، بېشکه هم هغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی). [الإسراء سورت: 1 آيت]

. او له أنس رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «أُتِيتُ بِالْبُرَاقِ، وَهُوَ دَابَّةٌ أَبْيَضُ طَوِيلٌ فَوْقَ الْحِمَارِ، وَدُونَ الْبَغْلِ، يَضَعُ حَافِرَهُ عِنْدَ

مُنْتَهَى طَرْفِهِ، قَالَ: فَرَكِبْتُهُ حَتَّى أَتَيْتُ بَيْتَ الْمَقْدِسِ، قَالَ: فَرَبَطْتُهُ بِالْحَلْقَةِ الَّتِي يَرْبِطُ بِهِ الْأَنْبِيَاءُ، قَالَ: ثُمَّ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ، فَصَلَّيْتُ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ خَرَجْتُ فَجَاءَنِي جِبْرِيلُ عليه السلام بِإِنَاءٍ مِنْ خَمْرٍ، وَإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ، فَاخْتَرْتُ اللَّبَنَ، فَقَالَ جِبْرِيلُ صلى الله عليه وسلم: اخْتَرْتَ الْفِطْرَةَ، ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ، فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ، فَقِيلَ: مَنْ أَنْتَ؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ، فَفُتِحَ لَنَا، فَإِذَا أَنَا بِآدَمَ، فَرَحَّبَ بِي، وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ، ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ، فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ عليه السلام ، فَقِيلَ: مَنْ أَنْتَ؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ، فَفُتِحَ لَنَا، فَإِذَا أَنَا بِابْنَيِ الْخَالَةِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ، وَيَحْيَى بْنِ زَكَرِيَّاءَ، صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِمَا، فَرَحَّبَا، وَدَعَوَا لِي بِخَيْرٍ، ثُمَّ عُرِجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ، فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ، فَقِيلَ: مَنْ أَنْتَ؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ صلى الله عليه وسلم، قِيلَ: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ، فَفُتِحَ لَنَا، فَإِذَا أَنَا بِيُوسُفَ صلى الله عليه وسلم، إِذَا هُوَ قَدْ أُعْطِيَ شَطْرَ الْحُسْنِ، فَرَحَّبَ وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ، ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ الرَّابِعَةِ، فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ عليه السلام ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قَالَ: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ، فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِإِدْرِيسَ، فَرَحَّبَ وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ، قَالَ اللهُ عز وجل:

﴿وَرَفَعۡنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا٥٧﴾ [مريم: 57]

{وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا} [مريم: 57]،

ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ الْخَامِسَةِ، فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ فَقَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ، فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِهَارُونَ صلى الله عليه وسلم، فَرَحَّبَ، وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ، ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ السَّادِسَةِ، فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ عليه السلام ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ، فَفُتِحَ لَنَا، فَإِذَا أَنَا بِمُوسَى صلى الله عليه وسلم، فَرَحَّبَ وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ، ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ، فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ، فَقِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ صلى الله عليه وسلم، قِيلَ: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ، فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِإِبْرَاهِيمَ صلى الله عليه وسلم مُسْنِدًا ظَهْرَهُ إِلَى الْبَيْتِ الْمَعْمُورِ، وَإِذَا هُوَ يَدْخُلُهُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ لَا يَعُودُونَ إِلَيْهِ، ثُمَّ ذَهَبَ بِي إِلَى السِّدْرَةِ الْمُنْتَهَى، وَإِذَا وَرَقُهَا كَآذَانِ الْفِيَلَةِ، وَإِذَا ثَمَرُهَا كَالْقِلَالِ، قَالَ: فَلَمَّا غَشِيَهَا مِنْ أَمْرِ اللهِ مَا غَشِيَ تَغَيَّرَتْ، فَمَا أَحَدٌ مِنْ خَلْقِ اللهِ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَنْعَتَهَا مِنْ حُسْنِهَا، فَأَوْحَى اللهُ إِلَيَّ مَا أَوْحَى، فَفَرَضَ عَلَيَّ خَمْسِينَ صَلَاةً فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَنَزَلْتُ إِلَى مُوسَى صلى الله عليه وسلم، فَقَالَ: مَا فَرَضَ رَبُّكَ عَلَى أُمَّتِكَ؟ قُلْتُ: خَمْسِينَ صَلَاةً، قَالَ: ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ؛ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا يُطِيقُونَ ذَلِكَ، فَإِنِّي قَدْ بَلَوْتُ بَنِي

إِسْرَائِيلَ وَخَبَرْتُهُمْ، قَالَ: فَرَجَعْتُ إِلَى رَبِّي، فَقُلْتُ: يَا رَبِّ، خَفِّفْ عَلَى أُمَّتِي، فَحَطَّ عَنِّي خَمْسًا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى، فَقُلْتُ: حَطَّ عَنِّي خَمْسًا، قَالَ: إِنَّ أُمَّتَكَ لَا يُطِيقُونَ ذَلِكَ، فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ، قَالَ: فَلَمْ أَزَلْ أَرْجِعُ بَيْنَ رَبِّي تبارك وتعالى، وَبَيْنَ مُوسَى عليه السلام حَتَّى قَالَ: يَا مُحَمَّدُ، إِنَّهُنَّ خَمْسُ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، لِكُلِّ صَلَاةٍ عَشْرٌ، فَذَلِكَ خَمْسُونَ صَلَاةً، وَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةً، فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا، وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ تُكْتَبْ شَيْئًا، فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ سَيِّئَةً وَاحِدَةً، قَالَ: فَنَزَلْتُ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى مُوسَى صلى الله عليه وسلم، فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ: ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ»، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: «فَقُلْتُ: قَدْ رَجَعْتُ إِلَى رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ». «براق راته راوستلی شو، چې هغه یو اوږد سپین حیوان دی چې له خره نه پورته او د قچر نه ښکته دی، د هغې قدم تر هغه ځایه رسیږي چېرته چې د براق د لید پای وي، نو په هغې سپور شوم، تر دې چې بیت المقدس ته راغلم او په هغه حلقه کې مې - براق - وتاړه چېرته یې چې انبیاء – علیهم السلام - تړي، بیا مسجد ته داخل شوم او دوه رکعته لمونځ مې وکړ، بیا راووتم نو جبریل –علیه السلا م- راته یو لوښی راوړ چې په هغه کې شراب و او یو بل لوښی چې په هغه کې شیدې وې، نو ما شیدې غوره کړې، نو جبریل -علیه السلام- راته وویل چې فطرت دې غوره کړ، بیا مونږ اسمان ته وخیژولی شو، نو جبریل د - دروازې - د پرانستلو غوښتنه وکړه، ورته وویل شو: څوک یې؟ هغه وویل: جبرائیل، ویې ویل چې له تا سره څوک دی؟ ویې ویل: محمد، وویل شول: آیا هغه ته ورلیږل شوی دی؟ هغه وویل: هغه ته ورلیږل شوی دی، نو زموږ لپاره خلاصه شوه، ګورم چې آدم - علیه السلام- دی، نو ماته یې ښه راغلاست وویل او د خیر دعا یې راته وکړه، بیا مونږ دویم آسمان ته وخیژولی شو، نو جبریل - علیه السلام - د پرانستو غوښتنه وکړه، نو وویل شو: څوک یې؟ هغه وویل: جبریل، وویل شو: او تا سره څوک دی؟ ویې وییل: محمد، وویل شو آیا هغه ته لیږلی شوی دی؟ ویې وییل: هغه ته لیږل شوی دی، نو مونږ ته پرانستل شوه، ګورم چې دواړه د خاله زامن عیسی ابن مریم او یحیی بن زکریا، -صلوات الله وسلامه علیهما- دي نو دواړو راته ښه راغلاست وویل: او دواړو راته د خیر دعا وکړه، بیا دریم آسمان ته وخیژولی شوم، نو جبریل د پرانستلو غوښتنه وکړه، ورته وویل شو: څوک یې؟ هغه وویل: جبریل، وویل شو : او څوک درسره دی؟ ویې وییل: محمد - صلی الله علیه وسلم - وویل شو: آیا هغه ته لیږلی شوی دی؟ ویې وییل: یقینا هغه ته لیږلی شوی دی، نو مونږ ته -دروازه - پرانستل شوه، ګورم چې یوسف - صلی الله علیه وسلم - دی چې نیمایي ښایست ورته ورکړل شوی وو، نو ښه راغلاست یې راته وویل: او د خیر دعا یې راته وغوښته، بیا مونږ څلورم آسمان ته وخیژولی شو، نو جبریل -علیه السلام- د پرانستلو غوښتنه وکړه، نو وویل شو: څوک دی؟ ویې وییل: جبریل: وویل شو: تا سره څوک دی؟ ویې وییل: محمد، ویې وییل: آیا هغه ته لیږلی شوی دی؟ ویې وویل:

یقینا هغه ته لیږلی شوی دی، نو مونږ ته پرانستل شوه، ګورم چې ادریس دی او ښه راغلاست یې راته وویل او د خیر دعا یې راته وکړه، الله -جل جلاله- فرمایلي دي: (او دی مونږ ډېر اوچت ځای ته پورته کړی دی بیا مونږ پنځم آسمان ته پورته کړای شو، نو جبریل د پرانستلو غوښته وکړه، نو وویل شو: څوک دی؟ هغه وویل: جبریل: وویل شو: او تاسره څوک دی؟ ویې وییل: محمد، وویل شو: آیا هغه ته لیږلی شوی دی؟ ویې وییل: یقینا هغه ته لیږلی شوی دی، نو مونږ ته پرانستل شوه، ګورم چې هارون - صلی الله علیه وسلم - دی نو ښه راغلاست یې وویل او د خیر دعا یې راته وکړه، بیا مونږ اووم آسمان ته وخیژولی شو، نو جبریل علیه السلام د پرانستلو غوښته وکړه، نو وویل شو: دا څوک دی ؟ هغه وویل: جبریل، وویل شو: او تاسره څوک دی؟ ویې وییل: محمد، وویل شو: آیا هغه ته لیږلی شوی دی؟ ویې وییل: یقینا هغه ته لیږلی شوی دی، نو ګورم چې موسی - صلی الله علیه وسلم دی، نو ښه راغلاست یې راته وویل او د خیر دعا یې راته وکړه بیا مونږ اووم اسمان ته پورته کړای شو، نو جبرائیل - علیه السلام - د پرانستلو غوښتنه وکړه، وویل شو: دا څوک دی؟ ویې ویل: جبرئیل، وویل شو: له تا سره څوک دی؟ ویې ویل: محمد، وویل شو: آیا هغه ته ورلیږل شوی دی؟ ویې وییل: یقینا هغه ته ورلیږل شوی دی، نو زموږ لپاره پرانستل شوه، نو ګورم چې ابراهیم - علیه السلام – دی او بیت المعمور ته یې شا لږولې ده (تکیه یې وهلې ده) او دا هغه ځای دی چې هره ورځ ورته اویا زره ملایکې ننوځي او بیا ورته بیرته نه راګرځي، بیا سدرة المنتهی ته یوړلی شوم، نو ګورم چې پاڼې یې د فیل د غوږونو په څېر او میوې یې لکه د چاټیو په څېر دي، وایې: نو کله چې ورته د الله تعالی لخوا یو امر راشي بدلون پیدا کړي، نو د الله تعالی هیڅ مخلوق یې بیا د ښکلا یادونه نشي کولی، نو الله تعالی ماته وحې وکړه هغه څه یې چې غوښتل راته یې وحې کړي، نو په ما یې په یوه شپه او ورځ کې پنځوس لمونځونه فرض کړل، نو موسی – صلی الله علیه وسلم – ته راښکته شوم، هغه راته وویل: ستا رب ستا پر امت څه شی فرض کړ؟ ما وویل: پنځوس لمونځونه، هغه وویل: رب ته دې بیرته ور وګرځه او د کموالي غوښتنه ترې وکړه؛ یقینا چې ستا امت د دې توان نه لري، یقینا چې ما بنی اسرائیل امتحان کړل او ډیره هڅه مې پرې وکړه، وایې: نو خپل رب ته بیرته وروګرځیدم، نو ومې وییل: ای ربه! زما په امت آساني راوله، نو زما څخه یې پنځه کم کړل، بیا موسی ته راوګرځیدم، نو ورته مې وویل: پنځه یې راڅخه کم کړل، ویې وییل: ستا أمت د دې توان نه لري، نو خپل رب ته دې وروګرځه او د کموالي غوښتنه ترې وکړه، ویې وییل: تر هغه پورې مې د خپل رب - تبارک و تعالی – او موسی – علیه السلام – تر منځ تګ راتګ کاوه تر دې چې ویې وییل: ای محمده! دا په هره شپه او ورځ کې پنځه لمونځونه دي، د هر لمانځه لپاره لس - نیکۍ - دي، نو دا کیږی پنځوس لمونځونه، او چا چې د نیکۍ اراده وکړه او عمل یې پرې ونه کړ، نو نیکي ورته لیکل

کيږي او که چېرته يې پرې عمل وکړ لس ورته ليکل کيږي، او چا چې د بدۍ اراده وکړه او عمل يې پرې ونه کړ هيڅ شی ورته نه ليکل کيږي، نو که چېرته يې پرې عمل وکړ يوه بدي ورته ليکل کيږي، ويې ويیل: نو راکوز شوم تر دې چې موسی – صلی الله عليه وسلم – ته راورسيدم او خبر مي کړ، نو ويې وييل: رب ته دې ورو‌گرځه او د کموالي غوښتنه ترې وکړه» نو رسول الله – صلی الله عليه وسلم – وفرمايل: ما وويل: «دومره مې خپل رب ته وروګرځيدم چې نوره ترې حيا راغله». بخاري (7517) او مسلم (162) روايت کړی او الفاظ يې د ده دی، ترمذي (3131)، نسائي (450) او ابن ماجه (1399) روايت کړی دی. او د هغه - صلی الله عليه وسلم - له معجزو څخه : د سپوږمۍ چاودیدل دي ، الله تعالی فرمايلي:

﴿ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ۝١﴾ [القمر: 1]

(قيامت ډېر رانژدې شو او سپوږمۍ وچاودله). [القمر سورت : 1 آيت ]،

او له ابن مسعود - رضي الله عنه - څخه روايت دی فرمايي: د رسول الله - صلی الله عليه وسلم په وخت کې سپوږمۍ دوه ټوټې شوه، يوه ټوټه يې د غره له پاسه، او بله يې لاندې ، نو رسول الله - صلی الله عليه وسلم - وويل: «اشْهَدُوا». «ګواه اوسئ يا وګورئ». بخاري (۴۸۶۴)، مسلم (۲۸۰۰) او ترمذي (۳۲۸۵) روايت کړی. او الله تعالی په ډېرو ځانګړتياوو سره ځانګړی کړی دی، لکه د رسول الله - صلی الله عليه وسلم - دا وينا: «فُضِّلْتُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ بِسِتٍّ: أُعْطِيتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ، وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ، وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ، وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ طَهُورًا وَمَسْجِدًا، وَأُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً، وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّونَ»، «ما ته په نورو أنبياوو په شپږو شيانو سره غوره والی راکړل شوی دی: جوامع الکلم راکړی شوي، په ويره سره مې مرسته شوې ده، غنيمتونه راته حلال شوي دي، او ټوله ځمکه راته پاکيزه او مسجد ګرځيدلې ده او زه ټولو خلکو ته ليږلی شوی يم، او په ما د پيغمبرانو لړۍ پای ته رسيدلې ده»، مسلم (523) او ترمذي (1553) روايت کړی. او دا ځانګړنتاوې کله علماء په خپلو تاليفاتو کې ذکر کوي او کله يې مستقل تاليفات کوي. او مونږ ايمان لرو چې په هر مؤمن سړي او مؤمنې ښځې پر هغه ايمان راوړل واجب دي، او په هغه څه کې هغه رښتينی ګڼل چې خبر يې پرې ورکړی او په هغه څه کې يې اطاعت کول چې امر يې پرې کړی، الله تعالی فرمايلي:

﴿لِّتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُۚ وَتُسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا۝٩﴾ [الفتح: 9]

(د دې لپاره چې تاسو (ای خلکو!) په الله او د هغه په رسول ایمان راوړئ او د هغه (الله) مدد وکړئ او د هغه تعظیم وکړئ او سبا او بیګا د هغه تسبیح بیان کړئ). [الفتح سورت: 9 آیت].

او هغه ذات چې لوی شان لري او پاک دي نومونه د هغه فرمايلي دي:

﴿فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلنُّورِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلۡنَاۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ٨﴾ [التغابن: 8]

(نو تاسو په الله او د هغه په رسول او په هغې رڼا (قرآن) باندې ایمان راوړئ چې مونږ نازله کړې ده او الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ؛ ښه خبردار دی). [التغابن سورت : 8 آیت]. او مونږ ایمان لرو چې د الله تعالی عبادت باید ونه کړای شي مګر په هغه څه سره چې زموږ پیغمبر محمد - صلی الله علیه وسلم - روا ګڼلی وي، الله تعالی فرمايلي:

﴿..... وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٧﴾ [الحشر: 7]

(او پیغمبر چې تاسو ته څه هم درکړي، نو هغه واخلئ او له څه نه چې هغه تاسو منع کړي یاست، نو تاسو منع شئ او له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله ډېر سخت عذاب والا دی). [الحشر سورت: 7 آیت].

او حق ذات د هغه (پیغمبر) د امر د سرغړونې څخه یره ورکړی، الله تعالی فرمايلي:

﴿....فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنۡ أَمۡرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ أَوۡ يُصِيبَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٦٣﴾ [النور: 63]

(نو هغه کسان دې ووېرېږي چې د هغه (رسول) له حکم نه مخالفت کوي، له دې نه چې دوی ته څه افت ورسېږي، یا دوی ته ډېر دردوونکی عذاب ورسېږي). [النور سورت: 63 آیت].

او د هغه صلی الله علیه وسلم احترام او ورسره محبت کول واجب دي، الله تعالی فرمايلي دي: ﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣١﴾ [آل عمران: 31]

(ای نبي!) (ته ووایه: که چېرې یئ تاسو چې له الله سره مینه کوئ، بیا نو زما اتباع وکړئ، الله به له تاسو سره مینه وکړي او تاسو ته به ستاسو ګناهونه وبخښي او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی). [آل عمران سورت : 31 آیت]

. او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم سره محبت کول د ايمان له اصولو څخه دي، او الله تعالى د خپل محبت سره يو ځای ياد کړی دی، او هغه څوک يې ګواښلی دی چې هغه سره محبت کولو باندې بل شي ته لومړيتوب ورکړي لکه طبيعي محبت چې خلک يې د خپلوانو، پيسو، وطن او داسې نورو شيانو سره کوي، الله تعالى فرمايلي:

﴿قُلۡ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ وَإِخۡوَٰنُكُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ وَعَشِيرَتُكُمۡ وَأَمۡوَٰلٌ ٱقۡتَرَفۡتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٞ تَخۡشَوۡنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرۡضَوۡنَهَآ أَحَبَّ إِلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٖ فِي سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ ٱللَّهُ بِأَمۡرِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ۝٢٤﴾ [التوبة: 24]

[(ای پېغمبره!) ته (دوی ته) ووايه: که چېرې وي ستاسو پلرونه او ستاسو زامن او ستاسو ورونه او ستاسو ښځې او ستاسو قبيله او هغه مالونه چې تاسو هغه ګټلي دي او هغه تجارت چې تاسو د هغه د بندېدو وېره کوئ او هغه استوګن ځايونه چې تاسو هغه خوښوئ، تاسو ته ډېر محبوب دي له الله او د هغه له رسول او د هغه په لاره کې له جهاد کولو نه، نو بيا انتظار کوئ، تر هغه پورې چې الله خپل حکم راولي او الله فاسقو خلکو ته هدايت نه کوي]. [التوبة سورت: 24 آيت].

او پر مؤمن واجب دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته له خپل ځان، پلار، اولاد او ټولو خلکو څخه زيات محبوب وي، فعن عبدالله بن هشام رضي الله عنه قال: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَأَنْتَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا مِنْ نَفْسِي، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: «لَا، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْكَ مِنْ نَفْسِكَ»، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: فَإِنَّهُ الآنَ -وَاللَّهِ- لَأَنْتَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِي، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: «الآنَ يَا عُمَرُ». له عبد الله بن هشام - رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي: مونږ له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - سره وو پداسې حال کې چې هغه عمر بن الخطاب له لاس څخه نيولی و، نو عمر ورته وويل: ای د الله رسوله ! ته راته له هر څه نه زيات ګران يې مګر له خپل ځان څخه نه، نو نبي - صلى الله عليه وسلم - ورته وويل: نه، قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، تر څو پورې چې درته ستا له ځان څخه هم ګران نه شم»،نو عمر ورته وويل: يقينا چې اوس - قسم په الله - چې ته راته اوس د خپل ځان څخه هم زيات ګران يې، نو نبي - صلى الله عليه وسلم - وفرمايل: «اوس ای عمره». بخاري (6632) روايت کړی دی.

او يقينا چې الله - تعالى - زموږ د پيغمبر محمد - صلى الله عليه وسلم - يادونه په دوو ګواهيو کې په اذان کې له خپلې يادونې سره يو ځای ذکر کړې ده. او د پيغمبر صلى الله

علیه وسلم په یاد باندې مخکني اسماني کتابونه ډک دي او په قرآن عظیم الشان کې هم ترې زیاته یادونه شوې ده او د اسلام امامانو بیلابیل ډول تالیفات د هغه په سنت، سیرت، خویونو، اخلاقو او غزاګانو کې کړي دي او دلته په همدومره مقدار بسنه کوو چې د هغه صلی الله علیه وسلم په نبوت باندې ایمان راوړل واجبوي.

قاضي عیاض -رحمه الله- فرمایلي دي: «که د کمال او عظمت ځانګړتیاوې هغه څه وي چې موږ یې یادونه وکړه او موږ ولیدل چې یو زمونږ څخه د دې په درلودلو سره د عزت او شرافت احساس کوي، او که چېرته دوه ورته په یو وخت کې برابر شي: یا له نسب، ښکلا، ځواک، حوصلې، زړورتیا، او یا بخښنې څخه تر څو یې عزت لوی شي او په نوم یې متلونه وویل شي، او د دې په یادولو سره ورته په زړونو کې لوی اثر پیدا شي، حال دا چې هغه له وختونو راهیسې له منځه تللي، او ایره شوي او وراسته شوي، نو د هغه چا په اړه دې څه ګمان دی چې دا ټول صفتونه پکې راټول شوي وي، تر دې چې نه شمېرل کیږي، او نه ترې په وینا سره تعبیر کیږي، او نه په خوارۍ او زحمت لاسته راوړل کیږي او نه په چل، مګر د لوی الله متعال ذات په تخصیص سره، د نبوت، رسالت، خلت، محبت، غوره والي، د شپې لخوا له یو ځای څخه بل ځای ته بوتلل او لیدل. (د اسراء په شپه پیغمبر صلی الله علیه وسلم لره د الله تعالی لیدلو کې اختلاف دی، خو صحیح خبره دا ده چې زمونږ رسول - صلی الله علیه وسلم د اسراء په شپه خپل رب ندی لیدلی). نږدې کېدل، وړاندې کېدل، وحې، شفاعت، وسیله، فضیلت، لوړ مقام، د ستاینې مقام، براق، معراج (آسمان ته ختل)، سور او تور ته لیږل، انبیاوو ته لمونځ ورکول، د پیغمبرانو او امتونو ترمنځ ګواهي، د آدم د اولادې سردار، د ستاینې بیرغ، زیری، خبرداری او د عرش د خاوند په وړاندې مرتبه، بیا اطاعت، امانت، هدایت، د عالمیانو لپاره رحمت، رضایت، د سوال قبلول، کوثر، وینا اورېدل. د نعمت پوره کول، د مخکنیو او وروستنیو ګناهونو بخښل، د سینې پراخوالی، د پېټې سپکول، د یاد لوړول، د فتحې عزت، د آرامتیا نازلیدل، په ملایکو سره ملاتړ، د کتاب او حکمت ورکول، سبع المثاني او لوی قرآن، د امت پاکیزه ګي بیانول، د الله - جل جلاله - لورې ته بلنه ورکول، د الله تعالی او ملاېکو درود ویل، د خلکو تر منځه په هغه ډول پریکړه کول لکه څرنګه یې چې الله غواړي، ورڅخه د بار سپکول او د زولنو لرې کول، او د هغه په نوم قسم یادول، د هغه د بلنې منل، د بې روحه شیانو او عجمو سره خبرې کول ... کوږ ته وراوریدل، او د ګوتو تر منځه یې د اوبو راخوټیدل، د لږ شي زیاتول، د سپوږمۍ ټوټې کول، د لمر بیرته ګرځول، د لیدل شوو شیانو سرچپه کول، په ویرې سره ملاتړ او بریا.. او داسې نور چې شمېرونکی یې نه شي احاطه کولی، او نه یې څوک په خپل علم کې راوستلی شي مګر هغه ذات چې دا هر څه بخښش کړي دي او لورینه یې پرې کړې ده، له هغه پرته بل معبود نشته، تر

هغه څه پورې چې په اخرت کې يې ورته چمتو کړي دي له عزتمندو کورونو، د عزت مرتبو، د خوشحاليو درجې، نيکي او زياتوالی چې عقلونه يې له درک څخه حيران پاتې کيږي، او ګمان يې هم له ادراک څخه عاجز پاتې کيږي». الشفا بتعريف حقوق المصطفی (1/ 55 - 57).

## )بـــاب عموم رسالته صلى الله عليه وسلم للخلق كافة (باب دی په عمومي ډول ټولو خلکو ته د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د رسالت پيغام .

او مونږ ايمان لرو چې الله تعالی يې رسول محمد - صلى الله عليه وسلم - ټولو خلکو ته ليږلی دی، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿قُلۡ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِيِّ ٱلۡأُمِّيِّ ٱلَّذِي يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٥٨﴾ [الأعراف: 158]

(ته ووايه: ای خلکو! ببشکه زه ستاسو د ټولو په طرف د هغه الله (راليږل شوی) رسول يم چې خاص د هغه لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، نشته هېڅ حق معبود مګر همدی دی، همدغه ژوند ورکوي او مرګ ورکوي، نو تاسو پر الله او د هغه پر رسول ايمان راوړئ چې نبي دی، امي دی، هغه چې پر الله او د هغه پر کلماتو ايمان لري او تاسو د هغه پيروي وکړئ، د دې لپاره چې تاسو هدايت وموميئ). [الأعراف سورت: 158 آيت]،

او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةٗ لِّلنَّاسِ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٢٨﴾ [سبأ: 28]

(او ته نه يې ليږلی مونږ مګر د ټولو خلقو (انسانانو) لپاره زېرى وركوونكى او وېروونكى او ليكن اكثره خلق نه پوهېږي). [سبا سورت: 28 آيت].

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ مِنَ الأَنْبِيَاءِ قَبْلِي: نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ، وَجُعِلَتْ لِي الأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا، وَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ فَلْيُصَلِّ، وَأُحِلَّتْ لِي الغَنَائِمُ، وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً، وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ كَافَّةً، وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ». «ماته پنځه شيان راکړل شوي دي

چې زما څخه وړاندې هيڅ يو نبي ته ندي ورکړل شوي، د يوې مياشتې واټن سره مې په ويرې خپريدو مرسته شوې ده، او ټوله ځمکه راته پاکيزه او مسجد ګرځيدلې ده او زما له امت څخه چې هر سړي لمونځ لاندې کړ نو لمونځ دې وکړي، او ماته غنيمتونه حلال ګرځول شوي دي، او هر پيغمبر به خاص خپل امت ته ليږل کېده، پداسې حال کې چې زه ټولو خلکو ته ليږل شوی يم، او ماته شفاعت راکړل شوی دی». بخاري (۴۳۸)، مسلم (۵۲۱) او نسائي (۴۳۲) روايت کړی دی. او د مسلمانانو په اتفاق زمونږ پيغمبر محمد - صلی الله عليه وسلم - الله تعالی ثقلينو (انسانانو او پيريانو) دواړو ته ليږلی دی، او پيريانو قرآن کريم ته غوږ نيولی و او بيا خپل قوم ته ويروونکي وروګرځيدل، نو الله تعالی هې رسول په قرآن کريم کې پدې وينا سره خبر کړ:

﴿وَإِذۡ صَرَفۡنَآ إِلَيۡكَ نَفَرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓاْ أَنصِتُواْۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوۡاْ إِلَىٰ قَوۡمِهِم مُّنذِرِينَ ٢٩ قَالُواْ يَٰقَوۡمَنَآ إِنَّا سَمِعۡنَا كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعۡدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٣٠ يَٰقَوۡمَنَآ أَجِيبُواْ دَاعِيَ ٱللَّهِ وَءَامِنُواْ بِهِۦ يَغۡفِرۡ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُجِرۡكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ٣١ وَمَن لَّا يُجِبۡ دَاعِيَ ٱللَّهِ فَلَيۡسَ بِمُعۡجِزٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَيۡسَ لَهُۥ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءُۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ٣٢﴾ [الأحقاف: 29-32]

او هغه وخت (ياد کړه) چې مونږ تا ته د پيريانو يوه ډله راوګرځوله، چې قرآن به اوري، نو کله چې دوی دې (قرآن) ته حاضر شول، نو ويې ويل: چوپ شئ! نو کله چې (د قرآن تلاوت) تمام کړی شو (نو) دوی خپل قوم ته بېرته وګرځېدل، په داسې حال کې چې وېروونکي وو. دوی وويل: ای زمونږه قومه! بېشکه مونږ داسې کتاب واورېده چې له موسیٰ نه وروسته نازل کړی شوی دی، په داسې حال کې د هغو (کتابونو) تصديق کوونکی دی چې له ده نه مخکې وو، حق ته او نېغې (سمې) لارې ته ښوونه کوياې زمونږ قومه! تاسو د الله د بلونکي وينا قبوله کړئ او په ده ايمان راوړئ، چې هغه (الله) تاسو ته ستاسو ځيني ګناهونه وبخښي او تاسو له ډېر دردوونکي عذاب نه خلاص (او بچ) کړي. واو څوك چې د الله د بلونکي خبره قبوله نه کړي، نو دغه کس په ځمکه کې (الله لره) عاجزوونکی نه دی او د ده لپاره له دغه (الله) نه غير هېڅ کارسازی (او مرسته کوونکی) نشته او دغه کسان په ښکاره ګمراهی کې دي). [الأحقاف سورت : 29- 32 آيتونه].

او الله - تعالی - په ټولو أنبياوو او رسولانو عليهم السلام ژمنه اخيستې ده که چېرته محمد - صلی الله عليه وسلم - وليږل شو - او دوی ژوندي وو - نو خامخا به پرې ايمان راوړي، الله - جل جلاله فرمايلي دي:

﴿وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيۡتُكُم مِّن كِتَٰبٖ وَحِكۡمَةٖ ثُمَّ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مُّصَدِّقٞ لِّمَا مَعَكُمۡ لَتُؤۡمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥۚ قَالَ ءَأَقۡرَرۡتُمۡ وَأَخَذۡتُمۡ عَلَىٰ ذَٰلِكُمۡ إِصۡرِيۖ قَالُوٓاْ أَقۡرَرۡنَاۚ قَالَ فَٱشۡهَدُواْ وَأَنَا۠ مَعَكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ٨١﴾ [آل عمران: 81]

(او کله چې الله د نبیانو (نه) پخه وعده واخیسته چې هر هغه څه چې زه یې تاسو ته له کتاب او حکمته درکړم، بیا تاسو ته یو رسول راشي چې د هغه څه تصدیق کوونکی وي چې له تاسو سره دي (نو) تاسو به خامخا پر هغه ایمان راوړئ او خامخا به د هغه مدد کوئ، (الله) وویل: آیا تاسو اقرار وکړ او په دې باندې تاسو زما درنه وعده قبوله کړه، هغوی وویل: مونږ اقرار وکړ، (الله) وویل: نو تاسو گواه شئ او زه (هم) تاسو سره له گواهانو څخه یم). [آل عمران سورت: 81 آیت]

. علي بن أبی طالب رضي الله عنه فرمایلي دي: الله - جل جلاله - هیڅ داسې نبي ندی لیږلی؛ له آدم څخه تر وروستي یو پورې مگر دا چې له هغه څخه یې د محمد - صلی الله علیه وسلم - په اړه ژمنه اخیستې ده: که چېرته ولیږل شو - او دی ژوندی و - نو خامخا به پرې ایمان راوړي، مرسته به یې کوي، او هغه به ورته امر کوي، نو له خپل قوم څخه به ورته ژمنه اخلي، نو هغه فرمایلي دي:

﴿وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيۡتُكُم مِّن كِتَٰبٖ وَحِكۡمَةٖ...﴾ [آل عمران: 81]

.او کله چې الله د نبیانو (نه) پخه وعده واخیسته چې هر هغه څه چې زه یې تاسو ته له کتاب او حکمت څخه درکړم».الْآيَةَ [آل عمران سورت: 81 آیت]»

طبري په خپل تفسیر کې روایت کړی دی (5/ 540). او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «دَعْوَةُ أَبِي إِبْرَاهِيمَ، وَبِشَارَةُ عِيسَى قَوْمَهُ، وَرُؤْيَا أُمِّي الَّتِي رَأَتْ أَنَّهُ خَرَجَ مِنْهَا نُورٌ أَضَاءَتْ لَهُ قُصُورُ الشَّامِ»، «زما د پلار ابراهیم دعا او د عیسی زیری خپل قوم ته او زما د مور هغه خوب چې له هغې څخه یو نور راوځي او د شام ماڼۍ ترې رڼا کیږي»، احمد (17163)، عثمان بن سعید الدارمي په الرد علی الجهمية کې (261)، ابن ابی عاصم په السنة کې (418)، عبدالله بن احمد په السنة کې (865)، ابن حبان (6404) او طبراني په مسند الشامیین (۱۴۵۵) کې روایت کړی دی. او د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - دا وینا: «أنا دعوة أبي إبراهيم» "زه د خپل پلار ابراهیم دعا یم". پدې سره یې مقصد هغه څه دي چې الله - تعالی - پرې مونږ ته د ابراهیم الخلیل - علیه السلام - د دعا په اړه خبر راکړی و، چې هغه یې دا وینا ده:

﴿رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُزَكِّيهِمۡۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ١٢٩﴾ [البقرة: 129]

(اى زمونږه ربه! دې (خلكو) ته له هم دوى نه يو رسول ولېږه، چې دوى ته ستا آيتونه تلاوت كوي او دوى ته كتاب (قرآن) او حكمت (سنت) ښايي او دوى پاكوي، يقينًا، هم دا ته، ډېر غالب، ښه حكمت والا يې). [البقرة سورت: 129 آيت].

او مونږ ايمان لرو چې پيغمبرانو پده باندې خپلو قومونو ته زيرى وركړى او د هغه - صلى الله عليه وسلم - او د هغه د ملګرو - رضي الله عنهم - صفتونه په تورات او انجيل كې راغلي دي، سپېڅلي حق ذات فرمايلي دي:

﴿مُّحَمَّدٞ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡۖ تَرَىٰهُمۡ رُكَّعٗا سُجَّدٗا يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗاۖ سِيمَاهُمۡ فِي وُجُوهِهِم مِّنۡ أَثَرِ ٱلسُّجُودِۚ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِۚ وَمَثَلُهُمۡ فِي ٱلۡإِنجِيلِ كَزَرۡعٍ أَخۡرَجَ شَطۡـَٔهُۥ فَـَٔازَرَهُۥ فَٱسۡتَغۡلَظَ فَٱسۡتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِۦ يُعۡجِبُ ٱلزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلۡكُفَّارَۗ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنۡهُم مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا عَظِيمَۢا٢٩﴾ [الفتح: 29]

(محمد د الله رسول دى او هغه كسان چې له ده سره دي، په كافرانو باندې ډېر سخت دي، په خپل مينځ كې ډېر مهرباني كوونكي دي، ته به دوى وينې چې ركوع كوونكي، سجده كوونكي دي، له الله نه فضل او رضامندي غواړي، د دوى (د ديندارۍ) نښې د دوى په مخونو كې دي د سجدو له اثر نه، دغه په تورات كې د دوى مثال دى او په انجيل كې د دوى مثال دى، لكه هغه فصل چې خپل تبغ راوباسي، بيا هغه قوي كړي، بيا هغه (فصل، تبغ) پېړ او كلك شي بيا دغه (فصل) په خپلو پنډيو (او ښخونو) ودرېږي، په داسې حال چې زمېنداران (كروندګر) په تعجب كې اچوي، د دې لپاره چې په دغو سره كافران په غصه كړي، الله له هغو كسانو سره چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي دي، چې دغه (اصحابان) دي؛ د بخښنې او د ډېر لوى اجر وعده كړې ده). [الفتح سورت: 29 آيت]،

الله تعالى فرمايلي:

﴿ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلۡأُمِّيَّ ٱلَّذِي يَجِدُونَهُۥ مَكۡتُوبًا عِندَهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ يَأۡمُرُهُم بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَىٰهُمۡ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنۡهُمۡ إِصۡرَهُمۡ

﴿...وَٱلۡأَغۡلَٰلَ ٱلَّتِي كَانَتۡ عَلَيۡهِمۡۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُواْ ٱلنُّورَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٥٧﴾ [الأعراف: 157]

(هغه کسان چې د اُمي رسول (او) نبي پیروي کوي هغه چې دوی یې له خپل ځان سره په تورات او انجیل کې لیکلی مومي، دوی ته د نېکۍ حکم کوي او دوی له بدۍ نه منع کوي او دوی ته پاکیزه څیزونه حلالوي او په دوی باندې خبیث څیزونه حراموي او له دوی نه د دوی درانه بارونه لرې کوي او هغه قیدونه هم چې پر دوی وو، نو هغه کسان چې پر ده یې ایمان راوړ او د ده ادب یې وکړ او د ده مدد یې وکړ او د هغې رڼا پیروي یې وکړه چې له ده سره نازل کړی شوې ده، همدغه کسان کامیاب دي). [الأعراف سورت: 157 آیت]

. او په ده سره مسیح - علیه السلام - بني اسرائیلو ته زیری ورکړی، الله تعالی له هغه څخه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي چې هغه ورته وویل:

﴿...يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُم مُّصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَمُبَشِّرَۢا بِرَسُولٖ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِي ٱسۡمُهُۥٓ أَحۡمَدُۖ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٦﴾ [الصف: 6]

(او (یاده کړه) هغه وخت چې د مریمې زوی عیسٰی وویل: ای بني اسرائیلو! بېشکه زه تاسو ته د الله رسول یم، چې د هغه څه تصدیق کوونکی یم چې له ما نه مخکې تېر شوی دی، چې تورات دی او د داسې رسول زېری درکوونکی یم چې له ما نه وروسته به راځي، چې د هغه نوم احمد دی، نو کله چې دوی ته دغه (رسول) له ښکاره معجزو سره راغی (نو) دوی وویل: دا ښکاره جادو دی). [الصف سورت: 6 آیت].

او أهل کتابو داسې پیژانده لکه څرنګه یې چې خپل زامن پېژندل، الله تعالی فرمایلي:

﴿ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡرِفُونَهُۥ كَمَا يَعۡرِفُونَ أَبۡنَآءَهُمۡۖ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنۡهُمۡ لَيَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ١٤٦﴾ [البقرة: 146]

(هغه کسان چې مونږ هغوی ته کتاب ورکړی دی، هغوی دا (محمدﷺ، یا قرآن یا اسلام) پېژني لکه چې دوی خپل زامن پېژني، او یقینًا له دوی نه یوه ډله لازمًا حق پټوي، حال دا چې دوی پوهېږي). [البقرة سورت: 146 آیت].

او د هغه - صلی الله علیه وسلم - د نبوت له نښانو څخه ځینې هغه دي چې اهل کتابو پیژندلې لکه د هغه په ملا کې د نبوت مبارک مهر، له سائب بن یزید - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمایي: بیا یې شاته ودریدم، نو د هغه د دواړو اوږو تر منځ مې د نبوت

مهر ته وکتل، لکه د زرکې د هګۍ په څېر - (یا هغه سپینوالی چې په زرکه کې وي).
بخاري (190)، مسلم (2345)، او ترمذي (3643). روایت کړی دی. او له جابر بن سمرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمایلي یې دي: « او د هغه د اوږې سره مې مهر ولیده لکه د کوترې د هګۍ په شان چې د هغه د بدن سره یې ورته والی درلوده».
مسلم (2344)، ترمذي (3644)، او نسائي (5114). روایت کړی دی. او مونږ د هغه - صلى الله عليه وسلم - د پیغمبرۍ په عمومیت باور لرو، لدې امله یې پادشاهانو او مشرانو ته لیکونه ولیږل او د یو الله عبادت او د هغه - صلى الله عليه سلم - په پیغمبرۍ ایمان او رښتیا ګڼلو ته یې راوبلل، له أبو بردة څخه روایت دی، هغه له خپل پلار - رضي الله عنه - څخه روایت کوي فرمایلي یې دي: «رسول الله - صلى الله عليه وسلم - مونږ ته امر وکړ چې د نجاشي وطن ته لاړ شو - نو خپل حدیث یې ذکر کړ - نجاشي وویل: زه ګواهي ورکوم چې هغه د الله رسول - صلى الله عليه وسلم - دی، او یقینا چې دی هغه څوک دی چې عیسی زوی د مریم پرې خبر ورکړی و، او که چېرته زه په واک کې نه وم نو ورغلی به وم او د هغه څپلی به مې ګرځولې وې». ابوداود (3205)، ابن ابي شیبه (37795)، عبد بن حمید (550)، ابن ابی عاصم په الآحاد و المثاني کې (366)، او رویاني (502) او حاکم روایت کړی دی (3268). او هرقل د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لیک له ترلاسه کولو وروسته وویل: «زه پوهېدم چې دا راوتونکی دی، مګر ګمان مې نه کاوه چې ستاسو څخه به وي، او که چېرته داسې وي لکه څرنګه چې تا وویل: نو نږدې ده چې زما د دې دواړو قدمونو د ځای واک به خپل کړي، او که چېرته زه هغه ته د ورتلو هیله ولرم، نو ورته د رسیدو په لارې کې سختي به وزغمم، او که چېرته زه له هغه سره وم نو د هغې پښې به مې وینځلې وای». بخاري (2941)، او أبو داود (5136). روایت کړی دی. عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه قَالَ: جَاءَ العَاقِبُ وَالسَّيِّدُ، صَاحِبَا نَجْرَانَ، إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يُرِيدَانِ أَنْ يُلاَعِنَاهُ، قَالَ: فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: لاَ تَفْعَلْ، فَوَ اللَّهِ لَئِنْ كَانَ نَبِيًّا فَلاَعَنَّا لاَ نُفْلِحُ نَحْنُ، وَلاَ عَقِبُنَا مِنْ بَعْدِنَا، قَالاَ: إِنَّا نُعْطِيكَ مَا سَأَلْتَنَا، وَابْعَثْ مَعَنَا رَجُلًا أَمِينًا، وَلاَ تَبْعَثْ مَعَنَا إِلَّا أَمِينًا. فَقَالَ: لَأَبْعَثَنَّ مَعَكُمْ رَجُلًا أَمِينًا حَقَّ أَمِينٍ، فَاسْتَشْرَفَ لَهُ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: «قُمْ يَا أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الجَرَّاحِ»، فَلَمَّا قَامَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «هَذَا أَمِينُ هَذِهِ الأُمَّةِ». له حذیفة - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمایي: له نجران څخه د نصاراوو له مشرانو څخه دوه تنان رسول الله - صلى الله عليه وسلم ته راغلل چې یو یې عاقب یعني سلاکار و - نوم یې عبد المسیح و - او بل یې مشر و - او نوم یې ایهم و - دوی دواړو غوښتل چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم وسلم سره مباهله وکړي، وایې: نو یو یې خپل ملګري ته وویل: داسې کار مه کوه، قسم په الله که چېرته پیغمبر وي او مونږ سره یې مباهله وکړه هیڅکله به نه مونږ

کامیاب شو او نه زمونږ څخه وروسته زمونږ راتلونکی - نسل - هغوی دواړو ورته وویل: مونږ تاته هغه څه درکوو چې ته یې زمونږ څخه غواړې او زمونږ سره یو امانتدار سړی ولیږه، او مونږ سره مه لیږه مګر امانتدار نو هغه وویل: یقینا چې زه به تاسو سره یو په حقه أمین سړی ولیږم، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګري ورته راښکاره شول نو هغه وفرمایل: "پاڅیږه ای ابو عبیده بن الجراح" نو کله چې ودریده، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:"دا د دې امت امین دی". بخاري (۴۳۸۰)، مسلم (۲۴۲۰)، ترمذي (۳۷۹۶) او ابن ماجه (۱۳۵) روایت کړی. او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی زمونږ پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - ته ځمکه راټوله کړه، نو تر هغه ځایه یې ترې ولیده چې د هغه واکمني به ورته رسیږي، رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل: "یقینا چې الله - تعالی - زما لپاره ځمکه راغونډه کړه او ما د هغې ختیځ او لویدیځ ولیده، او زما د أمت واکمني به پر هغې دومره اندازې ته ورسیږي څومره چې ماته راغونډه کړی شوه". مسلم (2889)، ابوداود (4252)، ترمذي (2176) او ابن ماجه (3952) روایت کړی دی.

او د هغه - صلی الله علیه وسلم - د رسالت د عمومیت له دلایلو څخه د ډیری یهودي او نصراني علماوو اسلام راوړل دي، بلکه له اهل کتابو څخه په زرګونو.

او همدار نګه: هغه - صلی الله علیه وسلم - له روم سره غزا وکړه او صحابه کرامو ته یې له هغه وروسته د پارس او روم سره د جهاد کولو امر وکړ.

## )بـــاب مقالاتِ خُصومِ الرسالات والرسل علیهم السلام (باب دی د رسالتونو او رسولانو د مخالفینو د ویناوو په اړه

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوّٗا شَيَٰطِينَ ٱلۡإِنسِ وَٱلۡجِنِّ يُوحِي بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٖ زُخۡرُفَ ٱلۡقَوۡلِ غُرُورٗاۚ وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُۖ فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ١١٢﴾ [الأنعام: 112]

(او همدارنګه مونږ د هر نبي لپاره انسي او جني شیطانان، دښمنان ګرځولي وو، چې د دغو ځینو به ځینو نورو ته ښایسته کړی شوې خبرې د دوکه کولو (غولولو) لپاره ور اچولې او که چیرې ستا رب، غوښتلی (، نو) دوی به دا (کار) نه و کړی، نو ته دوی پرېږده او هغه هم چې دوی له خپله ځانه څه دروغ جوړوي). [الأنعام سورت: 112 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي دي چې یاد یې لوی او نومونه یې سپیڅلي دي:

﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوّٗا مِّنَ ٱلۡمُجۡرِمِينَۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيٗا وَنَصِيرٗا٣١﴾ [الفرقان: 31]

(او همداسې مونږ د هر نبي لپاره له مجرمانو څخه دښمنان ګرځولي وو او ستا رب ډېر کافي دی، سمه لار ښوونکی، او ښه مدد کوونکی). [الفرقان سورت: ایت 31 آیت]

. د الله - تعالی - د حکمت غوښتنه ده چې په خپل فضل سره لارښوونه کوي چاته چې وغواړي او په خپل عدل سره ګمراه کوي چا لره چې وغواړي، همدا رنګه حکمت یې دا تقاضا کړې چې هر پیغمبر لره دې یو دښمن وي، او د دې دښمنانو تر منځه دې یو بل ته په باطل سره وصیت کول او په خبرو کې یو بل ته ورته والي وي، الله تعالی فرمایلي:

﴿مَّا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدۡ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِن قَبۡلِكَۚ إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغۡفِرَةٖ وَذُو عِقَابٍ أَلِيمٖ٤٣﴾ [فصلت: 43]

(تا ته نه ویل کیږي مګر هغه خبرې چې یقینًا له تا نه مخکې رسولانو ته ویل شوي دي، بېشکه ستا رب خامخا د مغفرت والا او د ډېر دردوونکي عذاب والا دی). [فصلت سورت: 43 آیت]

. نو په هر امت کې د خلکو خبرې سره یو بل ته ورته والی لري، کله وایي: هغه ساحر دی، یا کوډګر دی او یا دروغجن دی، لکه څرنګه چې د فرعون په وینا کې موسی - علیه السلام - ته راغلي چې الله تعالی ترې په خپلې دې وینا سره خبر ورکوي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ٢٣ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَ وَقَٰرُونَ فَقَالُواْ سَٰحِرٞ كَذَّابٞ٢٤﴾ [غافر: 23-24]

(او یقینًا یقینًا مونږ موسٰی له خپلو معجزو او ښکاره دلیل سره لیږلی و. فرعون او هامان او قارون ته، نو دوی وویل: (دا خو) جادوګر دی، سخت دروغجن دی). [غافر سورت: 23، 24 آیت].

او کله هم انکار کوي چې هغه دې ورته کومه معجزه رالیږلي وي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿قَالُواْ يَٰهُودُ مَا جِئۡتَنَا بِبَيِّنَةٖ وَمَا نَحۡنُ بِتَارِكِيٓ ءَالِهَتِنَا عَن قَوۡلِكَ وَمَا نَحۡنُ لَكَ بِمُؤۡمِنِينَ ٥٣﴾ [هود: 53]

(هغوی وویل: ای هوده! تا مونږ ته څه واضح دلیل نه دی راوړی او ستا د وینا له وجې مونږ هېڅ کله هم خپل باطل معبودان پرېښودونکي نه یو او هېڅ کله هم مونږ پر تا ایمان راوړونکي نه یو). [هود سورت: 53آیت].

او کله هم دا دعوه کوي چې هغه په الله باندې دروا‌غ تړي، الله - تعالی- د دوی د دې پلیتې وینا په اړه فرمایلي:

﴿وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّا رَجُلٞ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمۡ عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُكُمۡ وَقَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّآ إِفۡكٞ مُّفۡتَرٗىۚ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٤٣﴾ [سبأ: 43]

(او کله چې دوی ته زمونږ آیتونه ولوستلی شي، چې ښه واضح دي (نو) دوی وایي: نه دی دا مګر یو داسې سړی دی چې غواړي تاسو د هغو (معبودانو له عبادت) نه منع کړي چې ستاسو پلرونو به یې عبادت کاوه او دوی وایي: دا (قرآن) نه دی مګر خالص دروغ دي چې له ځانه جوړ کړی شوي دي او کافران شوي خلک د حق (قرآن) په باره کې وایي کله چې دوی ته راغی: نه دی دا مګر ښکاره جادو). [سبا سورت: 43 آیت].

او کله یې هم په لیونتوب سره یادوي، الله - تعالی - فرمایلي:

﴿وَقَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ ٦﴾ [الحجر: 6]

(او دوی وویل: ای هغه کسه چې په هغه باندې ذکر (قرآن) نازل شوی دی! یقینًا ته خو لیونی یې). [الحجر سورت: 6 آیت]

، او الله - تعالی - د دوی له وینا څخه د خبر ورکولو په موخه وفرمایل:

﴿قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ ٱلَّذِيٓ أُرۡسِلَ إِلَيۡكُمۡ لَمَجۡنُونٞ ٢٧﴾ [الشعراء: 27]

[(فرعون) وویل: بېشکه ستاسو دغه رسول چې تاسو ته رالیږل شوی دی، یقینًا لیونی دی]. [الشعراء سورت: 27 آیت].

او د الله - تعالی - رسولان لدې څخه لرې دي حال دا چې دوی په عقل کې تر ټولو کامل او په زړونو تر ټولو پاک خلک دي. او کله هم دوی ته دا خبره ډیره لویه ښکاري چې دوی یې د یو الله تعالی عبادت ته رابولي، الله تعالی د دوی له وینا څخه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي چې هغوی ویلي:

﴿قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِنَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَحۡدَهُۥ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ۝٧٠﴾ [الأعراف: 70]

(هغوی وویل: آیا ته د دې لپاره مونږ ته راغلی یې چې مونږ د یو الله عبادت وکړو او هغه معبودان پرېږدو چې زمونږ پلرونو یې عبادت کاوه، نو هغه (عذاب) راوله چې ته مونږ په هغه سره وېروې، که چېرې ته له رښتینو څخه یې). [الأعراف سورت: 70 آیت]

، او ویلي یې دي:

﴿أَجَعَلَ ٱلۡأٓلِهَةَ إِلَٰهٗا وَٰحِدًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عُجَابٞ ۝٥﴾ [ص: 5]

(ایا ده دغه معبودان یو اله وګرځول، بېشکه دا خامخا ډېر عجیبه څیز دی). [ص سورت: 5 آیت]

. او کله یې په پیغمبر د هغه بلنه ور ردوي؛ ځکه چې هغه د دوی په څېر یو انسان دی، الله - تعالی - فرمایلی:

﴿فَقَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ مَا نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرٗا مِّثۡلَنَا ...﴾ [هود: 27]

(نو د هغه له قومه کافر شویو مشرانو وویل: مونږ تا نه وینو مګر زمونږ په شان یو بشر). [هود سورت: 27 آیت]،

او الله - تعالی - فرمایلي:

﴿لَاهِيَةٗ قُلُوبُهُمۡۗ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجۡوَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ هَلۡ هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡۖ أَفَتَأۡتُونَ ٱلسِّحۡرَ وَأَنتُمۡ تُبۡصِرُونَ ۝٣﴾ [الأنبیاء: 3]

(په داسې حال کې چې د دوی زړونه غافله وي، او خفیه مشوره یې پټه وساتله هغو کسانو چې ظلم یې کړی دی (او ویې ویل:) دا (محمد) ندی مګر ستاسو په شان یو انسان دی، آیا نو تاسو جادو ته راځئ، حال دا چې تاسو ګورئ). [الأنبياء سورت: 3 آیت]

. او کله ترې د داسې کارونو غوښتنه کوي چې هغه د مخلوق په توان کې نه وي، خو دا کارونه دوی د لوبې او ضدیت له امله کوي - یقینا دوی زمونږ له نبي محمد - صلی الله علیه وسلم - څخه وغوښتل چې له ځمکې څخه ورته چینې راوباسي او یا دا چې باغ ولري او یا پرې له آسمان څخه باران واوروي او یا ورته الله او پرښتې راولي او یا دا چې پیغمبر لره دې یو ښایسته کور وي او یا په آسمان کې دې پورته وخیژي او کتاب دې پرې نازل کړي.

﴿وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ٩٠ أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ
فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ٩١ أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ
قَبِيلًا ٩٢ أَوۡ يَكُونَ لَكَ بَيۡتٞ مِّن زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا
كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥۗ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا ٩٣ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ
ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا ٩٤ قُل لَّوۡ كَانَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٞ يَمۡشُونَ مُطۡمَئِنِّينَ لَنَزَّلۡنَا
عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكٗا رَّسُولٗا ٩٥﴾ [الإسراء: 90-95]

(او دوی وویل: مونږ به پر تا له سره ایمان رانه وړو تر دې چې ته زمونږ لپاره په دې ځمکه کې خوټېدونکې چینه جاري کړې. * یا چې تا لپاره باغ وي د کجورو او انګورو، بیا ته د دې (باغ) په مینځ کې ولې رواني کړې، روانول. یا چې لکه څنګه چې ستا خیال دی ته پر مونږ باندې اسمان ټوټې ټوټې راوغورځوې، یا چې ته الله او ملایك مخامخ (ښکاره) راولې. أَوْ یا چې ستا لپاره د سرو زرو کور وي، یا چې ته پورته آسمان ته وخېژې او مونږ به ستا پر (تشو) ختلو له سره ایمان رانه وړو تر هغه پورې چې ته پر مونږ باندې داسې یو کتاب راکوز کړې چې مونږ یې لولو، ته (دوی ته) ووایه: زما رب لپاره پاکي ده، زه نه یم مګر یو انسان (د نورو رسولانو په شان) رالیږل شوی. او خلک د ایمان له راوړلو نه نه دي منع کړي، کله چې دوی ته هدایت راغی، مګر دې خبرې چې دوی به ویل: آیا الله یو انسان رسول رالیږلی دی!. قته (دوی ته) ووایه: که په ځمکه کې (د انسانانو پر ځای) ملایك وی، چې په ارام سره ګرځېدلی (نو) مونږ به خامخا په دوی باندې له آسمان نه مَلَك، رسول رالیږلی وی). [الإسراء سورت: 90-95 آیت]

. او کله له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه غوښتنه کوي چې پر هغه عذاب ورته راتګ وکړي چې ژمنه یې ورسره کړې ده: الله - تعالی - فرمایلي:

﴿قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِنَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَحۡدَهُۥ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٧٠﴾ [الأعراف: 70]

(هغوی وویل: آیا ته د دې لپاره مونږ ته راغلی یې چې مونږ د یو الله عبادت وکړو او هغه معبودان پرېږدو چې زمونږ پلرونو یې عبادت کاوه، نو هغه (عذاب) راوله چې ته مونږ په هغه سره وېروې، که چېرې ته له رښتینو څخه یې). [الأعراف سورت: 70 آیت]،

او د لوی شان او شوکت خاوند ذات فرمایلي دي:

﴿فَعَقَرُواْ ٱلنَّاقَةَ وَعَتَوۡاْ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِمۡ وَقَالُواْ يَٰصَٰلِحُ ٱئۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٧٧﴾ [الأعراف: 77]

(نو هغوی اوښه ووژله او د خپل رب له حکم نه یې سرکشي وکړه او ویې ویل:ای صالحه! پر مونږ راوله هغه (عذاب) چې ته مونږ په هغه سره وېروې، که چېرې ته له رسولانو څخه یې). [الأعراف سورت: 77 آیت].

او کله هم رسول په ګمراهۍ او حماقت سره تورنوي ، لکه څرنګه چې الله مونږ ته په خپلې حکیمانه وینا سره د دوی کیسه بیان کړې ده:

﴿قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِي سَفَاهَةٖ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٦٦﴾ [الأعراف: 66]

(د هغه د قوم کافرو سردارانو وویل: بېشکه مونږ خامخا تا په بېوقوفۍ کې وینو او بېشکه مونږ خامخا پر تا ګمان کوو له دروغجنو څخه). [الأعراف سورت: 66 آیت].

او کله یې د الله تعالی له لارې څخه منع کوي، او خپلو پیروانو ته وایي: دې قرآن ته غوږ مه نیسئ او غالمغال پکې وکړئ، لکه څرنګه چې الله تعالی لدوی څخه خبر ورکوي؛ الله تعالی فرمایلي:

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَسۡمَعُواْ لِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَٱلۡغَوۡاْ فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَغۡلِبُونَ ٢٦﴾ [فصلت: 26]

(او کافران شوي کسان وايي : تاسو دغه قرآن ته غوږ مه ږدئ او په (تلاوت د) ده کې شور ماشور اچوئ، ښايي چې تاسو غالبه شئ). [فصلت سورت: 26 آيت].

او کله کله د رسول په مقابل کې هغه دروغجن ګڼي، لکه څرنګه چې الله تعالی خبر ورکوي چې هغوی ويلي:

(او بېشکه مونږ خامخا پر تا ګمان کوو له دروغجنو څخه). او يا رسول - صلى الله عليه وسلم - پدې تورنوي چې هغه څوک چې ښوونه ورته کوي يو بشر دی نه دا چې د الله تعالی له لورې ورته وحې راځي: الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّهُمۡ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٞۗ لِّسَانُ ٱلَّذِي يُلۡحِدُونَ إِلَيۡهِ أَعۡجَمِيّٞ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيّٞ مُّبِينٌ ١٠٣﴾ [النحل: 103]

(او يقيناً يقيناً مونږ پوهېږو چې بېشکه دوی وايي: خبره همدا ده چې ده ته يو انسان ښوونه کوي، د هغه کس ژبه چې دوی هغه ته نسبت کوي؛ عجمي ده او دا (قرآن) واضحه عربي ژبه ده). [النحل سورت: 103 آيت]

. او کله له رسول څخه مخ اړوي؛ ځکه چې کمزوري خلک يې پيروي کوي، لکه څرنګه چې الله تعالی د نوح د قوم په اړه فرمايلي:

﴿فَقَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ مَا نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرٗا مِّثۡلَنَا وَمَا نَرَىٰكَ ٱتَّبَعَكَ إِلَّا ٱلَّذِينَ هُمۡ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ ٱلرَّأۡيِ وَمَا نَرَىٰ لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِن فَضۡلِۭ بَلۡ نَظُنُّكُمۡ كَٰذِبِينَ ٢٧﴾ [هود: 27]

(نو د هغه له قومه کافر شويو مشرانو وويل: مونږ تا نه وينو مګر زمونږ په شان يو بشر او مونږ نه وينو تا چې ستا پيروي کړې ده مګر هغو کسانو چې دوی زمونږ تر ټولو لاندې خلک دي، په سرسري فکر سره، ستاسو لپاره مونږ په خپل ځان باندې هېڅ بهتري (غوره والی) نه وينو، بلکې مونږ پر تاسو باندې د دروغجنو ګمان کوو). [هود سورت: 27 آيت]

، او هرقل أبو سفيان ته وويل: «او له تا څخه مې پوښتنه وکړه چې: آيا معتبر خلک يې پيروي کوي که کمزوري يې؟ نو تا وويل: چې کمزورو خلکو يې پيروي کړې ده، حال دا چې همدغه - کمزوري خلک - د پيغمبرانو پيروان دي». بخاري (7)، او مسلم (1773) روايت کړی دی. او کله دوی خندا کوي او د رسولانو پسې ملنډې وهي، لکه څرنګه چې د الله تعالی پدې وينا کې راغلي دي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُمۡ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلۡعَبُۚ قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ٦٥﴾ [التوبة: 65]

(ته (ورته) ووايه: آيا تاسو په الله او د هغه په آيتونو او د هغه په رسول پورې استهزا او مسخرې کولې؟). [التوبة سورت: 65 آيت]،

او لکه څرنګه چې د الله - تعالی - پدې وینا کې راغلي دي:

﴿وَيَصۡنَعُ ٱلۡفُلۡكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيۡهِ مَلَأٞ مِّن قَوۡمِهِۦ سَخِرُواْ مِنۡهُۚ قَالَ إِن تَسۡخَرُواْ مِنَّا فَإِنَّا نَسۡخَرُ مِنكُمۡ كَمَا تَسۡخَرُونَ٣٨﴾ [هود: 38]

(او هغه (نوح) بېړۍ جوړوله، په داسې حال کې چې کله به هم په ده باندې د ده له قومه څه مشران تېرېدل (نو) په ده پورې به یې مسخرې کولې، هغه وویل: که تاسو په مونږ پورې مسخرې کوئ، نو بېشکه مونږ به هم په تاسو پورې مسخرې وکړو، لکه څنګه چې تاسو مسخرې کوئ). [هود سورت: 38 آيت].

او کله ناکله دوی رسول دوکه کوي، او دوی تمه لري چې هغه به دوی ته میلان پیدا کړي او یا به په دوی تکیه وکړي، لکه څرنګه چې د الله - تعالی - پدې وینا کې دي:

﴿وَدُّواْ لَوۡ تُدۡهِنُ فَيُدۡهِنُونَ٩﴾ [القلم: 9]

(دوی خوښوي چې کاشکې ته نرم شې، نو دوی به هم نرم شي). [القلم سورت: 9 آيت]

. او د هغه سپیڅلي او لوړ ذات وینا:

﴿وَلَوۡلَآ أَن ثَبَّتۡنَٰكَ لَقَدۡ كِدتَّ تَرۡكَنُ إِلَيۡهِمۡ شَيۡـٔٗا قَلِيلًا٧٤﴾ [الإسراء: 74]

(او که ته مونږ (په حق باندې) نه وی ټینګ کړی (،نو) یقینًا یقینًا ته نژدې وې چې دوی ته لږ څه مایله شې). [الإسراء سورت: 74 آيت].

او کله هم د دوی ژبې پیغمبر ته په پیغور ورکولو سره ور اوږدې شي، لکه څرنګه چې فرعون موسی ته وویل:

﴿أَمۡ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡ هَٰذَا ٱلَّذِي هُوَ مَهِينٞ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ٥٢﴾ [الزخرف: 52]

(بلکې زه ډېر غوره یم له دغه (موسٰی) نه چې هغه سپك دی او نژدې نه دی چې خبره واضحه وکړي). [الزخرف سورت : 52 آیت].

او د أبو سفیان وینا - حال دا چې هغه په شام کې و - زمونږ د نبي محمد - صلی الله علیه وسلم - په شان کې: «نو کله چې ووتو ما خپلو ملګرو ته وویل: یقینا چې د ابن أبي کبشه - یعنې محمد صلی الله علیه وسلم - خبره خېره شوه، یقینا چې له هغه څخه هرقل؛ د روم پادشاه وېرېږي». بخاري (4553)، مسلم (1773)، او ترمذي (2717) روایت کړی دی. او کله کله د دوی مشران رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له وطن څخه د شړلو ګواښ کوي، لکه څنګه چې الله تعالی د شعیب د قوم په اړه فرمایلي دي:

﴿۞ قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَنُخۡرِجَنَّكَ يَٰشُعَيۡبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَكَ مِن قَرۡيَتِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۚ قَالَ أَوَلَوۡ كُنَّا كَٰرِهِينَ ٨٨﴾ [الأعراف: 88]

(د هغه له قوم څخه کبرجنو مشرانو وویل: ای شعیبه! مونږ به تا او هغه کسان چې له تا سره یې ایمان راوړی دی؛ له خپل کلي نه خامخا لازمًا وباسو، یا به تاسو زمونږ دین ته خامخا لازمًا راګرځئ، هغه وویل: ایا اګر که مونږ (دا) بدګنونکي یو). [الأعراف سورت: 88 آیت].

حق ذات فرمایلي دي:

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمۡ لَنُخۡرِجَنَّكُم مِّنۡ أَرۡضِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۖ ... ﴾ [إبراهیم: 13]

(او کافران شویو خلکو خپلو رسولانو ته وویل: خامخا هرومرو به مونږ تاسو له خپلې ځمکې نه وباسو، یا به خامخا هرومرو تاسو زمونږ دین ته راګرځئ، نو دغو (رسولانو) ته خپل رب وحي وکړه چې خامخا ضرور به مونږ ظالمان هلاکوو). [إبراهیم سورت: 13 آیت]،

او د لوط - علیه السلام - قوم هغه ته او هغه چا ته چې ایمان یې ورسره راوړی وو وویل لکه څرنګه چې الله تعالی له هغوی څخه خبر ورکوي:

﴿... أَخۡرِجُوهُم مِّن قَرۡيَتِكُمۡۖ إِنَّهُمۡ أُنَاسٞ يَتَطَهَّرُونَ ٨٢﴾ [الأعراف: 82]

(دا خلک له خپل کلي نه وباسئ، بېشکه دوی داسې خلق دي چې ځان ډېر پاك ساتي) [الأعراف سورت: 82 آیت].

او د قریشو کافرانو زمونږ نبي محمد - صلی الله علیه وسلم - د بني هاشمو سره د ابو طالب په دره کې د درېو کلونو لپاره محاصره کړ او هغه صلی الله علیه وسلم یې له خپل

کور او کلي ښځه وويست. او له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: کله چې نبي صلی الله عليه وسلم د حنين مالونه وويشل، له انصارو څخه يو سړي وويل: د الله رضا يې پرې اراده نه وه، نو زه نبي صلی الله عليه وسلم ته ورغلم او خبر مې کړ، نو مخ يې تغيير شو بيا يې وفرمايل: «رَحْمَةُ اللَّهِ عَلَى مُوسَى، لَقَدْ أُوذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا، فَصَبَرَ». «پر موسی دې د الله رحمت وي، يقينا چې لدې څخه زيات ازارول شوی وو، نو صبر يې وکړ». بخاري (۴۳۳۵)، مسلم (۱۰۶۲) او ترمذي (۳۸۹۶) روايت کړی.
او د ابراهيم - عليه السلام - قوم هڅه وکړه چې هغه په اور سره وسوځوي، خو الله پاک وژغوره، الله تعالی فرمايلي:

﴿فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ ...﴾ [العنکبوت: 24]

(نو د هغه (ابراهيم) د قوم (بل) هېڅ جواب نه و مګر دا چې دوی وويل: تاسو دا ووژنئ يا دا وسوځوئ). [العنکبوت سورت: 24 آيت]،

او الله تعالی خبر ورکوي چې بني اسرائيلو له خپلو انبياوو سره څه وکړل:

﴿... أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُولُۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴿٨٧﴾﴾ [البقرة: 87]

(ايا نو کله چې به هم کوم رسول تاسو ته هغه (احکام) راوړل چې ستاسو نفسونو به نه خوښول، تاسو به ډېره لويي وکړه؛ نو (د پيغمبرانو) يوه ډله مو دروغژنه وګڼله او بله ډله به تاسو وژله). [البقرة سورت: 87 آيت].

دا د پيغمبرانو سره د متکبره خلکو عادت دی او دا يوه جاري کړنلاره ده چې عام خلک يې په هر امت کې د اصلاح کوونکو پر وړاندې پر مخ وړي.

خو الهي کړنلاره د خپلو رسولانو او أنبياوو عليهم الصلاة والسلام سره په مرستې کولو کې جاري ده، الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ ٱلْأَشْهَٰدُ ﴿٥١﴾﴾ [غافر: 51]

(بېشکه مونږ خامخا د خپلو رسولانو او د هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی، په دنيايي ژوند کې مرسته کوو او په هغې ورځ کې (هم) چې ګواهان به ودرېږي). [غافر سورت: 51 آيت]

، او الله تعالی فرمايلي:

﴿ثُمَّ صَدَقْنَٰهُمُ ٱلْوَعْدَ فَأَنجَيْنَٰهُمْ وَمَن نَّشَآءُ وَأَهْلَكْنَا ٱلْمُسْرِفِينَ ۝٩﴾ [الأنبياء: 9]

(بيا مونږ له دوی سره وعده رښتيا کړه، نو مونږ دوی ته نجات ورکړ او هغه چا ته چې زمونږ اراده (د هغوی د نجات) وه او له حد نه تېرېدونکي مو هلاك كړل). [الأنبياء سورت: 9 آيت].

# )كتاب اليوم الآخر (كتاب دى د آخرت د ورځې په اړه.

## د کتاب لنډيز

او مونږ د آخرت په ورځ ايمان لرو او دا د ايمان د ارکانو څخه شپږم رکن دى، او د آخرت ورځ ورته وييل شوې ده؛ ځکه چې دا د دنيا وروستۍ ورځ ده، نو له هغې وروسته ورځ نشته، او همدا رنګه دې ورځې لره ډير نومونه دي، چې له نومونو څخه يې: يوم القيامة، يوم البعث، يوم الحساب، يوم الدين، الطامة، الحاقة، الواقعة، الصاخة، او الغاشية دي، او الله تعالى په خپل کتاب کې په ديرو ځايونو کې د آخرت له ورځې څخه يادونه کړې ده.

او د اخرت په ورځ له ايمان څخه: د هغې په نښانو ايمان دى - يعنې: د قيامت علامې - او همدارنګه: په هغه څه ايمان چې له مرګ څخه وروسته به واقع کيږي، او موږ به د قيامت د نښانو په اړه خبرې پيل کړو، بيا هغه څه چې له مرګ نه وروسته پيښيږي؟ ؛ ځکه چې دا د آخرت له ورځې څخه مخکې واقع کيږي.

نو د قيامت علامې: هغه نښې دي چې د آخرت د ورځې په نږدې کيدو دلالت کوي، او دا له هغو غيبو چارو څخه دي چې مونږ ته پرې په ايمان راوړلو امر شوی دی.

او دا درې ډوله دي:

يو ډول يې: هغه دي چې ښکاره شوي دي او پاى ته رسيدلي دي او دا ډيرې زياتې دي.

دويم ډول: يې د قيامت د ورځې هغه نښانې دي چې تر اوسه ښکاره شوي دي، خو پاى ته ندي رسيدلي، بلکه دوام لري.

دريم ډول: يې هغه نښانې دي چې تر اوسه له هغې څخه څه شی واقع شوی ندی، بلکه له قيامت څخه لږ وړاندې به وي.

او د آخرت په ورځ له ايمان څخه: پدې ايمان لرل دي چې هر شی هلاکيدونکی دی مګر د هغه پاک ذات (مخ) او دا چې د مرګ ملاېکه روحونه اخلي او په هغه څه ايمان چې له مرګ څخه وروسته پيښيږي، لکه د مړي پوښتنه، د قبر عذاب او نعمت يې

او مونږ ايمان لرو چې کله الله تعالی د دې دنيا د زوال او پای ته رسيدو اجازه ورکړي ، نو الله به ملاېکې ته امر وکړي، نو په شپيلۍ کې به لومړی پوکی وکړي، نو بې هوشه (مړه) به شي ټول هغه څوک چې په آسمانونو او هغه څوک چې په ځمکه کې دي مګر هغه څوک به - پاتې شي - چې الله يې وغواړي، بيا به الله تعالی باران و اوروي چې له هغه څخه به د انسانانو جسدونه رازرغون شي، بيا به الله تعالی ملاېکې ته اجازه وکړي نو په شپيلۍ کې به دويم پوکی وکړي، نو له خپلو قبرونو څخه به راپورته شي، او خلک به رب العالمين ته ودريږي. او لومړی هغه څوک چې ځمکه ترې څېرل کيږي زمونږ نبي محمد - صلی الله عليه وسلم - دی او لومړی هغه څوک چې په هوش راځي زمونږ نبي - صلی الله عليه وسلم - دی. او لومړی هغه څوک چې جامې وراغوستل کيږي د الله تعالی نبي ابراهيم خليل الرحمن دی، او خلک به پښې لوڅي، لوڅ او ناسنته راپورته کړی شي، او د حشر ځمکه به سپينه وي.

او مونږ د خپل نبي - صلی الله عليه وسلم - په شفاعت ايمان لرو، او مونږ ايمان لرو چې خلکو ته يې عملونه وړاندې کيږي، او په حساب او جزا ايمان لرو، او دا چې هغه پاک ذات په بيړه حساب کوونکی دی، او د الله تعالی محاسبه له خپلو بنده ګانو سره مرتبې او جلا جلا حالتونه لري، له ځينو بنده ګانو سره سخت حساب کيږي، او له ځينو نورو سره يې آسان حساب کيږي، او له مؤمنانو څخه داسې خلک هم شته چې له حساب پرته به جنت ته ننوځي.

او په هغه ورځ به له هيچا سره ظلم و نه شي، او لومړي خلک چې حساب به ورسره کيږي هغه د محمد - صلی الله عليه وسلم - امت دی، او لومړی هغه څه چې د خلکو تر منځه به پکې پريکړه کيږي هغه وينه ده.

او مونږ ايمان لرو چې په دغه ورځ به ګواهان راوستلی شي، نو پرښتې شاهدي وايي، او ځمکه به په هغو عملونو ګواهي ورکوي چې بنده ګانو پرې کړي دي، او اندامونه هم ګواهي ورکوي.

او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی د بنده ګانو د عملونو د وزن کولو لپاره حقیقي تلې ږدي.

او موږ باور لرو چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - لره یو حوض دی، چې امت به یې ورځي، بیا به بندګان رهبري کیږي: یا جنت ته او یا دوزخ ته - الله دې مونږ وساتي - او په جهنم به پل ووهل شي، په هغه به داسي کونډې وي لکه د مارکونډو د غنو (خار خسک) په څېر، نو خلک به په خپلو عملونو سره پرې تیري، او لومړی کس چې له پل څخه تیریږي هغه به زمونږ پیغمبر محمد - صلی الله علیه وسلم - وي.

## )بـــاب دلائل الإيمان باليوم الآخر (باب دی د آخرت په ورځ ایمان او په هغې دلایل

او مونږ د آخرت په ورځ ایمان لرو چې د ایمان د بنسټونو څخه شپږم بنسټ دی چې د الله تعالی پدې وینا کې ذکر شوي دي:

﴿۞ لَّيْسَ ٱلْبِرَّ أَن تُوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَلَـٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ ...﴾ [البقرة: 177]

(نېکي دا نه ده چې خپل مخونه د مشرق او مغرب لورې ته وګرځوئ، لېکن نېکي (د هغه چا) ده چې په الله او په ورځ د اخرت یې ایمان راوړی وي). [البقرة سورت: 177 آیت]

، او د الله تعالی دا وینا:

﴿لَّـٰكِنِ ٱلرَّٰسِخُونَ فِى ٱلْعِلْمِ مِنْهُمْ وَٱلْمُؤْمِنُونَ يُؤْمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ ۚ وَٱلْمُقِيمِينَ ٱلصَّلَوٰةَ ۚ وَٱلْمُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلْمُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ أُو۟لَـٰٓئِكَ سَنُؤْتِيهِمْ أَجْرًا عَظِيمًا ۝١٦٢﴾ [النساء: 162]

(خو په دوی کې په علم کې پاخه خلک او مومنان، هغوی ایمان رواړي پر هغه (کتاب) باندې چې تا ته نازل کړی شوی دی او پر هغو (کتابونو) باندې چې له تا نه مخکې نازل کړی شوي دي او خصوصًا چې لمونځ قایموونکي او زکات ورکوونکي دي او پر الله او پر ورځ د اخرت ایمان لرونکي دي، دغه خلک (چې دي) ، مونږ به خامخا دغو ته ډېر لوی اجر ورکړو). [النساء سورت: 162 آیت].

او د ابو هريره رضي الله عنه حديث پرې دلالت کوي هغه فرمايلي چې: يوه ورځ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - خلکو ته راښکاره شوی و، نو يو سړی ورته راغی، او ويې ويیل: ای د الله رسوله! ايمان څه شی دی؟ هغه وفرمايل چې : « په الله - تعالى - ملايکو، کتابونو يې، ملاقات يې، رسولانو يې ايمان ولرې، او په بيا ځل راپورته کيدو ايمان ولرې». بخاري (۴۷۷۷)، مسلم (۹) او ابن ماجه (۶۴) روايت کړی دی .

او عقلي ثبوتونه پرې هم دلالت کوي، لکه څرنګه چې د الله تعالى په دې وينا کې دي:

﴿وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُۥ ۖ قَالَ مَن يُحْيِ ٱلْعِظَٰمَ وَهِىَ رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾ قُلْ يُحْيِيهَا ٱلَّذِىٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴿٧٩﴾﴾ [يس: 78-79]

(ته (دوی ته) ووايه: دا به هغه ذات راژوندي کوي چې دا يې اول ځل پيدا کړي دي، او هغه په خپل مخلوق باندې ښه عالم دی). [يس سورت: 78، 79 آيتونه]،

او د الله - تعالى - دا وينا:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّنَ ٱلْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۚ وَنُقِرُّ فِى ٱلْأَرْحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا۟ أَشُدَّكُمْ ۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرْذَلِ ٱلْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا ۚ وَتَرَى ٱلْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنۢبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ ﴿٥﴾﴾ [الحج: 5]

(ای خلکو! که تاسو د بيا راژوندي کېدو په باره کې په شك کې يئ، نو يقينًا مونږ تاسو له خاورې نه پيدا کړي يئ، (ستاسو نيکه ادم) بيا (مو د هغه اولاده پيدا کړه) له يو څاڅکي (مني) نه، بيا له پرنډ شوې وينې نه، بيا له يو پوټې غوښې نه چې تام الخلقت وي او ناقص الخلقت وي، د دې لپاره چې مونږ تاسو ته (خپل حکمت او قدرت) بيان کړو او مونږ په رحمونو کې ثابت پرېږدو هغه چې مونږ يې اراده وکړو تر معلومې نېټې پورې، بيا مونږ تاسو راوباسو (د ميندو له خېټو نه) په داسې حال کې چې واړه بچي يئ، بيا (مونږ تاسو پالو) د دې لپاره چې تاسو خپل قوت او کمال ته ورسيږئ او په تاسو کې ځينې هغه دي چې وفات کيږي او ځينې په تاسو کې هغه دي چې ورګرځولی (رسولی) شي تر ټولو ناکاره عمر پورې، د دې لپاره چې هغه له پوهېدلو نه وروسته په هيڅ شي پوه نشي او ته به ځمکه وچه شاړه ووينې، نو کله چې مونږ په هغې باندې

اوبه نازلې کړو (نو) ځربه او نرمه شي او له هر قسمه ښکلو (نباتاتو) نه زرغون کړي). [الحج سورت: 5 آيت]

، او د حق ذات وينا چې شان يې لوړ او نومونه يې سپېڅلي دي:

﴿ءَأَنتُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُۚ بَنَىٰهَا٢٧﴾ [النازعات: 27]

* (آيا تاسو د پيدا کولو په لحاظ ډېر سخت يئ، يا که آسمان، دغه هغه (الله) جوړ کړی دی). [النازعات سورت: 27 آيت]

، او د هغه سپېڅلي او لوړ ذات وينا:

﴿وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلۡأَرۡضَ خَٰشِعَةً فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡۚ إِنَّ ٱلَّذِيٓ أَحۡيَاهَا
لَمُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰٓۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ٣٩﴾ [فصلت: 39]

(او د هغه له نښو څخه دا دي چې ېښکه ته ځمکه وچه کلکه وينې، نو کله چې مونږ په دې اوبه نازلې کړو(نو) وخوځېږي او وپړسېږي، ېښکه هغه ذات چې دغه يې ژوندۍ کړې ده، خامخا د مړو ژوندی کوونکی دی، بېشکه هغه په هر شي باندې ښه قادر دی). [فصلت سورت: 39 آيت]

، او د هغه ذات دا وينا چې لوی شان او سپېڅلي نومونه لري:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهۡوَنُ عَلَيۡهِۚ ...﴾ [الروم: 27]

(او دی همغه ذات دی چې مخلوق اول ځلې پيدا کوي، بيا به دغه دوباره راژوندي کوي او دغه (بيا راژوندي کول) هغه (الله) ته ډېر اسان دي). [الروم سورت: 27 آيت]

، او د الله - تعالی - دا وينا:

﴿... كَمَا بَدَأۡنَآ أَوَّلَ خَلۡقٖ نُّعِيدُهُۥۚ وَعۡدًا عَلَيۡنَآۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ١٠٤﴾ [الأنبياء: 104]

(لکه څرنګه چې مونږ د اول پيدايښت ابتدا کړې ده، مونږ هغه بيا اعاده کوو، دا زمونږ په ذمه وعده ده بېشکه مونږ کوونکي يو دې لره). [الأنبياء سورت: 104 آيت].

او د آخرت ورځ ورته ځکه ويل شوې ده؛ چې دا د دنيا وروستۍ ورځ ده، نو له هغې وروسته ورځ نشته، او همدا رنګه دې ورځې لره ډېر نومونه دي، او له نومونو څخه يې: يوم القيامة، يوم البعث، يوم الحساب، يوم الدين، الطامة، الحاقة، الواقعة، الصاخة، او

الغاشية دي، او الله تعالی په خپل کتاب کې په ډیرو ځایونو کې د آخرت له ورځې څخه یادونه کړې ده. لکه د الله تعالی دا وینا:

﴿يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦﴾ [المطففين: 6

(هغه ورځ چې خلک به ’رب العلمین‘‘ ته ودرېږي). [المطففین سورت: 6 آیت].

او د الله تعالی دا وینا:

﴿يَوۡمَ يَخۡرُجُونَ مِنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ سِرَاعٗا كَأَنَّهُمۡ إِلَىٰ نُصُبٖ يُوفِضُونَ ٤٣﴾ [المعارج: 43]

(هغه ورځ چې دوی به له قبرونو نه داسې په منډه (او تېزۍ) سره راوځي ګویاکې دوی هدف ته په منډه ځغلي). [المعارج سورت: 43 آیت]،

او د الله تعالی دا وینا:

﴿فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلۡكُبۡرَىٰ ٣٤﴾ [النازعات: 34]

(نو کله چې تر ټولو لویه بلا (قیامت) راشي). [النازعات سورت: 34 آیت].

او دا قول د الله تعالی:

﴿فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ٣٣ يَوۡمَ يَفِرُّ ٱلۡمَرۡءُ مِنۡ أَخِيهِ ٣٤ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ٣٥ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ٣٦ لِكُلِّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ يَوۡمَئِذٖ شَأۡنٞ يُغۡنِيهِ ٣٧﴾ [عبس: 33-37]

(نو کله چې سخت اواز راشي. په هغه ورځ چې سړی به له خپل وروره تښتي. او له خپلې مور او خپل پلاره. او له خپلې ښځې او خپلو زامنو نه. په دوی کې د هر سړي لپاره به په دغه ورځ کې یو حال وي چې دی به (له نورو نه) بې پروا (بې غوره) کوي). [عبس سورت: 33 - 37 آیتونه]،

او دا قول د الله تعالی:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ إِنَّ زَلۡزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَيۡءٌ عَظِيمٞ ۝١ يَوۡمَ تَرَوۡنَهَا تَذۡهَلُ كُلُّ مُرۡضِعَةٍ عَمَّآ أَرۡضَعَتۡ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٞ ۝٢﴾ [الحج: 1-2]

(ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ، بېشکه د قیامت زلزله ډېر لوی شی دی. اللَّهِ شَدِيد} په هغې ورځ چې تاسو هغه ووينئ، چې هره تی ورکوونکې به غافله شي له هغه (وړوکي) نه چې هغه ته تی ورکوي او هره حمل والا به خپل حمل وغورځوي او ته به خلکو لره نشه ويني، حال دا چې دوی به نشه نه وي او لېکن د الله عذاب به ډېر سخت وي). [الحج سورت: 1،2 آیتونه].

او د الله تعالی دا وينا:

﴿يَوۡمَ يَجۡمَعُكُمۡ لِيَوۡمِ ٱلۡجَمۡعِۖ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلتَّغَابُنِۗ ...﴾ [التغابن: 9]

[(یاده کړه) هغه ورځ چې تاسو به (الله) د جمع کېدلو ورځې ته راجمع کړي، دغه د تاوان د ښکاره کېدو ورځ ده]. [التغابن سورت: 9 آیت].

## )بــاب في الإيمان بأشراط الساعة (باب دی د قیامت په نښانو د ایمان په اړه

او د اخرت په ورځ له ایمان څخه: د هغې په نښانو ایمان دی - یعنې: د قیامت علامې - او دا هغه علامې دي چې د قیامت د ورځې په نږدې کیدو دلالت کوي، لکه څرنګه چې سپیڅلي ذات فرمایلي دي:

﴿فَهَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأۡتِيَهُم بَغۡتَةٗۖ فَقَدۡ جَآءَ أَشۡرَاطُهَاۚ فَأَنَّىٰ لَهُمۡ إِذَا جَآءَتۡهُمۡ ذِكۡرَىٰهُمۡ ۝١٨﴾ [محمد: 18]

(نو دوی انتظار نه کوي مګر د قیامت (یعنې) چې په دوی ناڅاپه راشي، نو یقینًا د ده نښې راغلې دي). [محمد سورت: 18آیت]،

او دا له هغو غیبي چارو څخه دي چې مونږ ته پرې په ایمان راوړلو امر شوی دی. او د قیامت له نښانو څخه ځیني هغه دي چې ښکاره شوي او پای ته رسیدلي دي او دا ډیرې زیاتې دي، لدې څخه د پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - دا وینا ده - چې فرمایلي یې دي - ((زه او قیامت داسې - یو ځای - لیږل شوي یو لکه دا چې لدې څخه ده، او : یا د

دې دواړو په څېر او مسواکې او منځی ګوتې یې سره نږدې کړې)) ، بخاري (5301) او مسلم (2950) روایت کړی دی. او د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - دا وینا: له قیامت څخه وړاندې شپږ - کارونه - وشمېره: زما مړینه، د بیت المقدس فتحه کېدل، بیا په تاسو کې د داسې یوې مرګوني وبا راګډېدل چې داسې به مو ووژني لکه د میږو په څېر، بیا د مال زیاتېدل تر دې چې یو سړي ته سل دیناره ورکړل شي، هغه به خفه پاتې شي ))...، بخاري (۳۱۷۶) او ابن ماجه (۴۰۴۲) روایت کړی دی. او د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - دا وینا: ((لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَقْتَتِلَ فِئَتَانِ عَظِيمَتَانِ، يَكُونُ بَيْنَهُمَا مَقْتَلَةٌ عَظِيمَةٌ، دَعْوَتُهُمَا وَاحِدَةٌ، وَحَتَّى يُبْعَثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ، قَرِيبٌ مِنْ ثَلَاثِينَ، كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ، وَحَتَّى يُقْبَضَ العِلْمُ، وَتَكْثُرَ الزَّلَازِلُ، وَيَتَقَارَبَ الزَّمَانُ، وَتَظْهَرَ الفِتَنُ، وَيَكْثُرَ الهَرْجُ، وَهُوَ: القَتْلُ، وَحَتَّى يَكْثُرَ فِيكُمُ المالُ، فَيَفِيضَ حَتَّى يُهِمَّ رَبَّ المالِ مَنْ يَقْبَلُ صَدَقَتَهُ، وَحَتَّى يَعْرِضَهُ عَلَيْهِ، فَيَقُولَ الَّذِي يَعْرِضُهُ عَلَيْهِ: لَا أَرَبَ لِي بِهِ، وَحَتَّى يَتَطَاوَلَ النَّاسُ فِي البُنْيَانِ...)). ((تر هغه پورې قیامت نه قائمیږي تر څو پورې چې دوه لویې لښکرې سره و نه جنګیږی او د دوی تر منځه لویه مرګوني جګړه رامنځته شي، بلنه به یې یوه وي، او تر دې چې دیرشو ته نږدې دروغجن دجالان راووځي، هر یو به یې دعوه لری چې دی د الله رسول دی او تر دې چې علم واخیستل شي، زلزلې زیاتې شي، وختونه رالنډ شي، فتنې راښکاره شي، هرج زیات شي چې هغه قتل دی او تر دې چې په تاسو کې مال زیات شي، دومره زیات شي چې د مال خاوند به پدې غم کې وي چې څوک یې خیرات قبول کړي او تر دې چې کله یې ورته ونیسي، نو هغه به د مال خاوند ته ووایي: هیڅ اړتیا ورته نه لرم او تر دې چې خلک به د اوږدو ودانیو په جوړولو کې د یو بل سره سیالي وکړي...)). بخاري (7121)، مسلم (157) او ترمذي (2218) روایت کړی. او د قیامت له نښو څخه ځینې هغه دي چې پېښ شوي دي خو لا پای ته ندي رسیدلي، او همداسې به لا رواني وي، لدې څخه په اُمتونو کې د فتنو رامنځته کېدل. (په صحیحینو کې د فتنو په اړه زیات حدیثونه راغلي دي، خو په ښکاره یې ندي ویلي چې فتنې د قیامت له نښانو څخه دي؛ لدې امله مو راتلونکي دوه حدیثونه له سننو څخه راوړل؛ ځکه چې پدې دواړو کې دا خبره په ښکاره توګه شوي ده)، او هغه زیات دي، پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ، وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي، فَكَسِّرُوا قِسِيَّكُمْ، وَقَطِّعُوا أَوْتَارَكُمْ، وَاضْرِبُوا سُيُوفَكُمْ بِالْحِجَارَةِ، فَإِنْ دُخِلَ -يَعْنِي- عَلَى أَحَدٍ مِنْكُمْ، فَلْيَكُنْ كَخَيْرِ ابْنَيْ آدَمَ». «له قیامت څخه وړاندې لکه د توري تیارې شپې په څېر فتنې دي، یو سړی به سهار مهال پکې مؤمن وي دشپې کافر او یا به شپې مهال مؤمن وي او سهار کافر، ناست پکې له ولاړ څخه غوره دی، مزل کوونکی پکې

له تېز رفتار كوونكي څخه، نو خپلې لينديې او كمانونه مو مات كړئ، او خپلې تورې مو په تيږو ووهئ، كه چېرته څوک ستاسو څخه پر يو در ننويستل شو، نو د بني آدم له دوو زامنو څخه دې د غوره يو په څېر شي ( يعني قابيل او هابيل)». ابوداود (4259)، ترمذي (2204)، ابن ماجه (3961)، ابن ابي شيبه (30978)، احمد (19662) او الروياني (585) روايت كړى دى. او پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: ((تَكُونُ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنٌ كَقِطَعِ اللَّيْلِ المظْلِمِ، يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، يَبِيعُ أَقْوَامٌ دِينَهُمْ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا)). ((له قيامت څخه وړاندې به لكه د تورې تيارې شپې په څېر فتنې وي، يو سړى به سهار مهال مؤمن وي بيگا كافر او يا به شپې مهال مؤمن وي سهار كافر، ځينې خلک به خپل دين په دنيايي ناچيزه توكي سره وپلوري)). ترمذي (2197)، ابن ابي شيبه په المصنف (31053) او په الايمان (64) كې او فارابي په: صفة النفاق و ذم المنافقين كې (97) روايت كړى دى. او پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: ((لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُبْعَثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ قَرِيبٌ مِنْ ثَلَاثِينَ، كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللهِ)). ((تر هغه پورې قيامت نه قائميږي تر څو پورې چې ديرشو ته نږدې دروغجن دجالان راووځي، هر يو به يې دعوه لرى چې دى د الله رسول دى)). بخاري (7121)، مسلم (157) او ترمذي (2218) روايت كړى. وقال أبو هريرة رضي الله عنه: بَيْنَمَا النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فِي مَجْلِسٍ يُحَدِّثُ القَوْمَ، جَاءَهُ أَعْرَابِيٌّ، فَقَالَ: مَتَى السَّاعَةُ؟ فَمَضَى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يُحَدِّثُ، فَقَالَ بَعْضُ القَوْمِ: سَمِعَ مَا قَالَ، فَكَرِهَ مَا قَالَ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ: بَلْ لَمْ يَسْمَعْ، حَتَّى إِذَا قَضَى حَدِيثَهُ قَالَ: «أَيْنَ -أُرَاهُ- السَّائِلُ عَنِ السَّاعَةِ؟»، قَالَ: هَا أَنَا، يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «فَإِذَا ضُيِّعَتِ الأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ»، قَالَ: كَيْفَ إِضَاعَتُهَا؟ قَالَ: «إِذَا وُسِّدَ الأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ». او أبو هريرة - رضي الله عنه - فرمايلي: پداسې حال كې چې پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - په يوه ناسته كې له خلكو سره خبرې كولې، يو أعرابي ورته راغى، نو ويې ويل: قيامت كله دى؟ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - خپلو خبرو ته ادامه وركړه، نو ځينو خلكو وويل: وايي وريدل چې هغه ورته څه وويل: نو هغه بد وگڼل څه چې يې ورته وويل: او ځينو وويل: بلكه نه يې دي اوريدلي، تر دې چې خپلې خبرې يې بشپړې كړې ويې ويل: «چيرته دى هغه چې د قيامت په اړه يې پوښتنه كوله؟ هغه وويل: زه دايم، اى د الله رسوله، ويې فرمايل: كله چې امانت ضايع شي نو د قيامت انتظار كوه» هغه وويل: ضايع كېدل يې څرنگه دي ؟ هغه وفرمايل: كله چې چاره نا أهله خلكو ته وسپارل شي نو د قيامت انتظار باسه». بخاري روايت كړى دى (59). او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ: أَنْ يُرْفَعَ العِلْمُ، وَيَثْبُتَ الجَهْلُ، وَيُشْرَبَ الخَمْرُ، وَيَظْهَرَ الزِّنَا». «يقينا چې د قيامت له نښانو څخه دا دي چې: علم پورته شي، ناپوهي ځاى ونيسي، شراب وڅښل شي، او زنا

بنکاره شي». بخاري (۸۰)، مسلم (۲۶۷۱)، ترمذي (۲۲۰۵) او ابن ماجه (۴۰۴۵) روایت کړی دی. او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: «إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ: أَنْ يُرْفَعَ العِلْمُ، وَيَثْبُتَ الجَهْلُ، وَيُشْرَبَ الخَمْرُ، وَيَظْهَرَ الزِّنَا». «یقینا چې له قیامت څخه وړاندې داسې ورځې دي، چې ناپوهي به پکې نازله شي، علم به پکې پورته شي او قتل به پکې زیات شي». بخاري (7062)، مسلم (2672)، ترمذي (2200) او ابن ماجه (3959، 4050) روایت کړی دی. او د قیامت له علامو څخه ځینې هغه دي چې تر دې دمه واقع شوي ندي،بلکه له قیامت څخه به مخکې په نږدې وخت کې واقع شي، له دې څخه: د مسیح عیسی - علیه السلام - راکوزیدل دي، الله تعالی فرمایلي: ﴿وَإِن مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤۡمِنَنَّ بِهِۦ قَبۡلَ مَوۡتِهِۦۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكُونُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا﴿١٥٩﴾﴾ [النساء: 159]

(او نشته هیڅوك له اهلِ کتابو نه مګر چې هغه به خامخا لازمًا د ده له مرګ نه مخکې پر ده ایمان راوړي او د قیامت په ورځ به هغه (عیسٰی) په دوی باندې ګواه وي). [النساء سورت : 159 آیت]

، او د یأجوج او مأجوج راوتل، الله تعالی فرمایلي:

﴿حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٖ يَنسِلُونَ﴿٩٦﴾﴾ [الأنبياء: 96]

(تر هغه پورې كله چې یاجوج ماجوج پرانستل شي او دوى به له هرې لوړې نه ګړندي راكوزېږي). [الأنبياء سورت : 96 آیت]،

او د دابې (حیوان) راوتل، الله تعالی فرمایلي:

﴿۞وَإِذَا وَقَعَ ٱلۡقَوۡلُ عَلَيۡهِمۡ أَخۡرَجۡنَا لَهُمۡ دَآبَّةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ تُكَلِّمُهُمۡ أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ﴿٨٢﴾﴾ [النمل: 82]

(او كله چې په دوى (د عذاب) خبره ثابته شي (او قیامت رانږدې شي، نو) مونږ به دوى ته له ځمكې نه یوه دابّه (ژوندى خوځنده) راوباسو، چې له دوى سره به خبرې كوي، چې بېشكه خلكو به زمونږ په آیتونو یقین نه كاوه) [النمل سورت: 82 آیت]

. وجاء في حديث حذيفة بن أسيد الغفاري قال: اطَّلَعَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَلَيْنَا، وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ، فَقَالَ: «مَا تَذَاكَرُونَ؟» قَالُوا: نَذْكُرُ السَّاعَةَ، قَالَ: «إِنَّهَا لَنْ تَقُومَ حَتَّى تَرَوْنَ قَبْلَهَا عَشْرَ آيَاتٍ: -فَذَكَرَ- الدُّخَانَ، وَالدَّجَّالَ، وَالدَّابَّةَ، وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا، وَنُزُولَ

عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ صلى الله عليه وسلم، وَيَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ، وَثَلَاثَةُ خُسُوفٍ: خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ، وَخَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ، وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَآخِرُ ذَلِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ، تَطْرُدُ النَّاسَ إِلَى مَحْشَرِهِمْ». او د حذيفة بن أسيد الغفاري په حديث کې راغلي دي فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته رابنکاره شو پداسې حال کې چې مونږ خبرې اترې کولې، نو هغه وفرمايل: «د څه شي په اړه غږيږئ؟ هغوی وويل: مونږ قيامت رايادوو، هغه وفرمايل: هغه به تر هغه پورې قائم نه شي تر څو چې ورځخه وړاندې لس نښانې ونه ګورئ: نو يادونه يې وکړه له: دجال، دخان (لوګي) دابې ( يو حيوان) له لويديځ څخه د لمر راختل، او د عيسى بن مريم - صلى الله عليه وسلم - راکوزيدل، او يأجوج او مأجوج، او درې د زمکې خوييدلو پيښې: په ختيځ کې ځمکخويدنه، په لويديځ کې ځمکخويدنه او د عربو په جزيره کې ځمکخوييدنه، او د هغې وروستى به يو اور وي چې له يمن څخه به راوځي، او خلک به د راټوليدو ځای ته ورشړي». مسلم (2901)، ابوداود (4311)، ترمذي (2183) او ابن ماجه (4041) روايت کړی دی. او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا، فَإِذَا طَلَعَتْ مِنْ مَغْرِبِهَا آمَنَ النَّاسُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ، فَيَوْمَئِذٍ

﴿... لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَٰنُهَا لَمْ تَكُنْ ءَامَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِيٓ إِيمَٰنِهَا خَيْرًاۗ ...﴾ [الأنعام: 158]

. «تر هغه پورې قيامت نه قائميږي تر څو چې لمر له لويديځ څخه يې راوخيژي، نو کله چې له مغرب څخه يې راوخوت، ټول خلک به ايمان راوړي، نو په هغه ورځ به {لاَ يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا} [الأنعام سورت: 158 آيت]»

.هېڅ يو نفس ته به د هغه ايمان راوړل فايده ورنه کړي چې له مخکې نه يې ايمان نه وي راوړی، يا يې په خپل ايمان کې څه خير نه وي ګټلی)». بخاري (۴۶۳۵)، مسلم (۱۵۷)، ابو داود (۴۳۱۲) او ابن ماجه (۴۰۶۸) روايت کړی دی. او پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا مُقْسِطًا، فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ، وَيَقْتُلَ الخِنْزِيرَ، وَيَضَعَ الجِزْيَةَ، وَيَفِيضَ المالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ». « قسم دې زما په هغه ذات وي چې زما روح د هغه په لاس کې دی، نږدې ده چې په تاسو کې د مريم زوی عادل پاچا نازل شي، نو صليب به مات کړي، خنزير به ووژني، جزيه به کيږي، او مال به دومره زيات شي چې هيڅوک به يې نه قبلوي». بخاري (2222)، مسلم (155)، ابوداود (4324)، ترمذي (2233) او ابن ماجه (4078) روايت کړی دی. او پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «مَا بَعَثَ اللَّهُ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا أَنْذَرَ قَوْمَهُ الأَعْوَرَ

الكَذَّابَ، إِنَّهُ أَعْوَرُ -وَإِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ- مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ: كَافِرٌ». «الله تعالى هيڅ داسي پيغمبر ندى رالېږلى مګر دا چې خپل قوم يې له ړوند دروغجن څخه ويرولى دى، هغه ړوند دى - او ستاسو رب ړوند ندى - د هغه د سترګو تر منځه كافر ليكل شوي دي». بخاري (۷۴۰۸)، مسلم (۲۹۳۳)، ابو داود (۴۳۱۶) او ترمذي (۲۲۴۵) روايت كړى دى.

## )بـــاب في الإيمان بما يكون بعد الـموت (باب دى په بيان د هغه څه كې چې د مرګ څخه وروسته دي او په هغې ايمان.

او مونږ باور لرو چې د آخرت په ورځ له ايمان راوړلو څخه پدې ايمان لرل دي چې د هغه - جل جلاله - له مخ (ذات) څخه پرته نور ټول شيان هلاكيدونكي دي، لكه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي:

﴿... كُلُّ شَيۡءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجۡهَهُۥۚ ...﴾ [القصص: 88]

(د هغه له مخ (ذات) نه غير هر څيز فناكېدونكى دى). [القصص سورت : 88 آيت]

، او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿كُلُّ مَنۡ عَلَيۡهَا فَانٖ ۝٢٦ وَيَبۡقَىٰ وَجۡهُ رَبِّكَ ذُو ٱلۡجَلَٰلِ وَٱلۡإِكۡرَامِ ۝٢٧﴾ [الرحمن: 26-27]

* (هر هغه څوك چې په دې (ځمكې) باندې دي؛ فنا كېدونكي دي. او باقي به پاتې شي ستا د رب مخ (ذات) چې د جلال او د عزت خاوند دى). [الرحمن سورت: 26، 27 آيتونه]،

او دا چې د مرګ ملايک روحونه اخلي، حق ذات فرمايلي دي:

﴿۞ قُلۡ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلۡمَوۡتِ ٱلَّذِي وُكِّلَ بِكُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ۝١١﴾ [السجدة: 11]

(ته (دوى ته) ووايه: ستاسو روحونه هغه د مرګ مَلَك قبض كوي چې په تاسو مقرر كړى شوى دى، بيا به تاسو خپل رب ته بېرته ورګرځولى شئ). [السجدة سورت: 11 آيت].

او مونږ په هغه څه ايمان لرو چې له مرګ څخه وروسته پيښيږي، لكه له مړي څخه پوښتنې كيدل، د قبر عذاب او نعمتونه يې، لكه څرنګه چې د الله تعالى پدې وينا كې دي:

﴿ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا وَعَشِيّٗاۚ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ٤٦﴾
[غافر: 46]

(د دوزخ) (اور(چې دی) دوی هغه ته هر سبا او هر بېګاه وړاندې کولی شي او په هغې ورځ کې چې قيامت قايم شي (نو ملايکو ته به وويل شي:) تاسو ال فرعون لره تر ټولو سخت عذاب ته ننباسئ). [غافر سورت: 46 آيت]

**، او د الله تعالی دا وينا:**

﴿... سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيۡنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٖ١٠١﴾ [التوبة: 101]

(ژر به مونږ هغوی ته دوه ځله عذاب ورکړو، بيا به هغوی ډېر لوی عذاب ته ورګرځولی شي). [التوبة سورت: 101 آيت]

**، او د الله تعالی دا قول:**

﴿وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ٥٠ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ٥١﴾ [الأنفال: 50-51]

(او که چېرې ته ووينې هغه وخت چې ملايك د کافر شويو کسانو ساګانې قبض کوي، چې د هغوی مخونه او د هغوی شاګانې وهي او (ورته وايي:) سخت سوزونکی عذاب وڅکئ دا په سبب د هغو (بدو عملونو) چې ستاسو لاسونو مخکې لېږلي دي او په دې چې يقينًا الله پر بنده ګانو هېڅ ظلم کوونکی نه دی). [الأنفال سورت: 50، 51 آيت]

**، او د الله - تعالی - دا وينا:**

﴿... وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ أَخۡرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُۖ ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَكُنتُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهِۦ تَسۡتَكۡبِرُونَ٩٣﴾
[الأنعام: 93]

(او که چېرې ته ووينې کله چې ظالمان د مرګ په سختيو کې (ګېر) وي او ملايکو خپل لاسونه وراوږده کړي وي (او ورته وايي) تاسو خپلې ساه ګانې راوباسئ، نن ورځ به تاسو ته د سپکوونکي عذاب سزا درکولی شي، په سبب د هغې ناحقه وينا چې تاسو به په الله باندې تپله، او تاسو به د ده د آيتونو له قبلولو نه انکار او تکبر کاوه). [الأنعام سورت: 93 آيت]

، او د الله -تعالى- دا قول:

﴿وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ﴿٤٧﴾﴾ [الطور: 47]

(او بېشکه د هغو کسانو لپاره چې ظلم (شرك) يې کړی دی له دغه (عذاب) نه مخکې عذاب دی). [الطور سورت: 47 آيت].

وعن البراء بن عازب رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال:

﴿يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱلۡقَوۡلِ ٱلثَّابِتِ ...﴾ [إبراهيم: 27]

قَالَ: «نَزَلَتْ فِي عَذَابِ الْقَبْرِ، فَيُقَالُ لَهُ: مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُولُ: رَبِّيَ اللهُ، وَنَبِيِّي مُحَمَّدٌ صلى الله عليه وسلم، فَذَلِكَ قَوْلُهُ عز وجل: او البراء بن عازب - رضي الله عنه - له پېغمبر - صلى الله عليه وسلم - څخه روايت کوي چې هغه فرمايلي دي:

﴿يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱلۡقَوۡلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ ...﴾ [إبراهيم: 27]

. الله هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی په ثابته خبره باندې مضبوطوي، فرمايي: دا - آيت - د قبر په عذاب کې نازل شوی دی، نو ورته به وويل شي: رب دې څوک دی؟ نو هغه به وايي: زما رب الله دی، او زما پيغمبر محمد - صلى الله عليه وسلم - دی، نو همدا د الله تعالى وينا ده چې فرمايي [إبراهيم: 27 آيت]»

. الله هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی په ثابته خبره باندې مضبوطوي، په دنيايي ژوند کې او په اخرت کې». بخاري (1369)، او مسلم (2871) روايت کړی او دا عبارت د ده دی، ترمذي (3120)، نسائي (2056، 2057) او ابن ماجه (4269، 4750) روايت کړی. وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُعَلِّمُهُمْ هَذَا الدُّعَاءَ كَمَا يُعَلِّمُهُمُ السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ، يَقُولُ: «قُولُوا: اللهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ». او له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به هغوی ته دا دعا داسې ورښودله لکه څرنګه چې له قرآن څخه يو سورت ورزده کوي، فرمايي: «ووايئ: ای الله مونږ پناه نيسو په تا سره د جهنم له عذاب نه او زه په تا سره پناه نيسم د قبر له عذاب نه، او زه پناه نيسم په تا سره د مسيح الدجال له فتنې نه». مسلم (590)، ابو داود (1542)، ترمذي (3494)، نسائي (2063) او ابن ماجه (3840) روايت کړی دی. وعن ابن عباس رضي الله عنهما قال: خَرَجَ النَّبِيُّ صلى الله

عليه وسلم مِنْ بَعْضِ حِيطَانِ المَدِينَةِ، فَسَمِعَ صَوْتَ إِنْسَانَيْنِ يُعَذَّبَانِ فِي قُبُورِهِمَا، فَقَالَ: «يُعَذَّبَانِ، وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ، وَإِنَّهُ لَكَبِيرٌ، كَانَ أَحَدُهُمَا لَا يَسْتَتِرُ مِنَ البَوْلِ، وَكَانَ الآخَرُ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ»، ثُمَّ دَعَا بِجَرِيدَةٍ، فَكَسَرَهَا بِكِسْرَتَيْنِ أَوْ ثِنْتَيْنِ، فَجَعَلَ كِسْرَةً فِي قَبْرِ هَذَا، وَكِسْرَةً فِي قَبْرِ هَذَا، فَقَالَ: «لَعَلَّهُ يُخَفَّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا». او له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايي: رسول الله - صلى الله عليه وسلم - د مديني له ځينو باغونو څخه راووت، نو د دوه انسانانو غږونه يې واوريدل چې په خپلو قبرونو کې عذاب ورکول کېده، نو ويې فرمايل: «دواړو ته عذاب ورکول کيږي، او دوی په کومه لويه ګناه سره نه عذابيږي، حال دا چې لويه ده، يو له دوی څخه له متيازو ځان نه ساته او بل يې د خلکو تر منځه چغلګري کوله» بيا يې د خرما يوه لخته راوغوښته نو دوه ټوټې يې کړه، يوه لخته يې د يو په يو قبر او بله يې د دې بل سرې په قبر - وتومبله - نو ويې فرمايل: «هيله شته چې عذاب ترې سپک شي تر څو چې دواړه وچې شوې نه وي». بخاري (6055)، مسلم (292)، ابوداود (20)، ترمذي (70)، نسائي (31) او ابن ماجه (347) روايت کړی دی. وعن أبي سعيد قال: حدثني زيد بن ثابت رضي الله عنه قال: بَيْنَمَا النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فِي حَائِطٍ لِبَنِي النَّجَّارِ، عَلَى بَغْلَةٍ لَهُ، وَنَحْنُ مَعَهُ، إِذْ حَادَتْ بِهِ، فَكَادَتْ تُلْقِيهِ، وَإِذَا أَقْبُرٌ سِتَّةٌ أَوْ خَمْسَةٌ أَوْ أَرْبَعَةٌ -قَالَ: كَذَا كَانَ يَقُولُ الْجُرَيْرِيُّ- فَقَالَ: «مَنْ يَعْرِفُ أَصْحَابَ هَذِهِ الْأَقْبُرِ؟» فَقَالَ رَجُلٌ: أَنَا، قَالَ: «فَمَتَى مَاتَ هَؤُلَاءِ؟» قَالَ: مَاتُوا فِي الْإِشْرَاكِ، فَقَالَ: «إِنَّ هَذِهِ الْأُمَّةَ تُبْتَلَى فِي قُبُورِهَا، فَلَوْلَا أَنْ لَا تَدَافَنُوا، لَدَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُسْمِعَكُمْ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ الَّذِي أَسْمَعُ مِنْهُ». ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ، فَقَالَ: «تَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ»، قَالُوا: نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ، فَقَالَ: «تَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ»، قَالُوا: نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، قَالَ: «تَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ، مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ»، قَالُوا: نَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، قَالَ: «تَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ». قَالُوا: نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ. او له أبو سعيد څخه روايت دی وايي چې : زيد بن ثابت - رضی الله عنه - راته حديث بيان کړ ويې فرمايل: پداسې حال کې چې پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - پر يوه سپرلۍ يې د بني النجار په باغ کې و، او مونږ د هغه سره وو، چې ناڅاپه يې پرې تېندک وخوړ، نږدې و چې ويې غورځوي، او ګورو چې شپږ او يا پنځه او يا څلور قبرونه دي - وايي داسې جُريري ويلي دي - نو ويې فرمايل: « څوک د دې - قبرونو - خاوندان پېژني؟» نو يو سړي وويل: زه ، ويې فرمايل: «نو دوی کله مړه شوي دي؟» هغه وويل: د شرک پر مهال مړه شوي، نو ويې فرمايل: «دا امت يې په قبرونو کې امتحانيږي،تاسو به بيا مړي نه خښوئ، که نه نو له الله تعالی څخه به مې غوښتي وای چې د قبر له هغه عذاب څخه هغه څه درواوروي کوم چې زه اورم». بيا يې مونږ ته مخ راواړاوه، ويې فرمايل: «په الله تعالی د اور له عذاب څخه پناه وغواړئ»، هغوی وويل: په الله تعالی د اور له عذاب

څخه پناه نيسو، فرمايي: «په الله - تعالى له فتنو څخه پناه وغواړئ، هغه چې ښکاره دي او هغه چې پټې دي»، هغوى وويل: په الله له فتنو څخه پناه غواړو هغه چې ترې ښکاره شوي دي او يا پټې دي، ويې فرمايل: «په الله - تعالى د دجال له فتنې څخه پناه وغواړئ». هغوى وويل: په الله تعالى د دجال له فتنې څخه پناه غواړو. مسلم (2867) روايت کړې دی. او له أبو أيوب - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي: پيغمبر - صلى الله عليه وسلم پداسي حال کې راووت - چې لمر ډوب شوی و - نو يو غږ يې واوريده، ويې فرمايل: «يَهُودُ تُعَذَّبُ فِي قُبُورِهَا». يهوديان دي چې په خپلو قبرونو کې يې عذاب ورکول کيږي». بخاري (1375)، مسلم (2869) او نسائي (2059) روايت کړې دی. وعن عائشة رضي الله عنها قالت: دَخَلَتْ عَلَيَّ عَجُوزَانِ مِنْ عُجُزِ يَهُودِ المدِينَةِ، فَقَالَتَا لِي: إِنَّ أَهْلَ القُبُورِ يُعَذَّبُونَ فِي قُبُورِهِمْ، فَكَذَّبْتُهُمَا، وَلَمْ أُنْعِمْ أَنْ أُصَدِّقَهُمَا، فَخَرَجَتَا، وَدَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم، فَقُلْتُ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ عَجُوزَيْنِ، وَذَكَرْتُ لَهُ، فَقَالَ: «صَدَقَتَا، إِنَّهُمْ يُعَذَّبُونَ عَذَابًا تَسْمَعُهُ البَهَائِمُ كُلُّهَا»، فَمَا رَأَيْتُهُ بَعْدُ فِي صَلَاةٍ إِلَّا تَعَوَّذَ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ. او له عائشې - رضي الله عنها - څخه روايت دی وايي: د مديني د يهودو له زړو ښځو څخه دوه ښځې زما - کورته - راننوتلې، نو دواړو راته وويل: يقينا چې د قبرونو خاوندان يې په قبرونږ کې عذابيږي، نو ما هغوی دواړه دروغجنې وګڼلې، او پدې مې خوشحاله نه کړې چې ريښتينې يې وګڼم، نو ووتلې، بيا پيغمبر صلى الله عليه وسلم - کور ته - راننوت، نو ما ورته وويل: اى د الله رسوله، يقينا دوه زړې ښځې، او کيسه مې ورته راياده کړه، نو هغه وويل: «دواړو رښتيا يې ويلي، يقينا هغوی ته داسي عذاب ورکول کيږي چې ټول چارپايان يې غږونه اوري» نو له هغې وروسته مې په هيڅ لمانځه کې ندی ليدلی مګر دا چې د قبر له عذاب څخه يې بناه غوښتې ده. بخاري (6366)، مسلم (586) او نسائي (2067) روايت کړې دی. او لکه څرنګه چې کافر، منافق او ځينې فاسق مسلمانان په قبرونو کې عذابيږي، همدا ډول مؤمن په قبر کې نازول کيږي. له أنس بن مالک - رضي الله عنه - څخه روايت دی، چې هغه دوی ته حديث بيانوه چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «إِنَّ العَبْدَ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ وَتَوَلَّى عَنْهُ أَصْحَابُهُ، وَإِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ، أَتَاهُ مَلَكَانِ فَيُقْعِدَانِهِ، فَيَقُولَانِ: مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ لِمُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم، فَأَمَّا المُؤْمِنُ، فَيَقُولُ: أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ، فَيُقَالُ لَهُ: انْظُرْ إِلَى مَقْعَدِكَ مِنَ النَّارِ قَدْ أَبْدَلَكَ اللَّهُ بِهِ مَقْعَدًا مِنَ الجَنَّةِ، فَيَرَاهُمَا جَمِيعًا»، قَالَ: «وَأَمَّا المُنَافِقُ وَالكَافِرُ فَيُقَالُ لَهُ: مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ؟ فَيَقُولُ: لَا أَدْرِي، كُنْتُ أَقُولُ مَا يَقُولُ النَّاسُ، فَيُقَالُ: لَا دَرَيْتَ وَلَا تَلَيْتَ، وَيُضْرَبُ بِمَطَارِقَ مِنْ حَدِيدٍ ضَرْبَةً، فَيَصِيحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَنْ يَلِيهِ غَيْرَ الثَّقَلَيْنِ». «يقينا بنده چې کله په قبر کې کېښودل شي او دوستان يې ورڅخه راوګرځي، حال دا چې هغه - مړى - د هغو د څپليو کشارى اوري، دوه ملايکې ورته

راشي نو هغه کښېنوي او ورته وايي: محمد - صلى الله عليه وسلم - ته په اشارې کولو به -ورته ووايي- د دې سړي په اړه به دې څه ويېل، نو چې مؤمن وي ورته به ووايي: زه ګواهي ورکوم چې هغه د الله بنده او رسول دی، نو ورته به وويل شي: په اور کې دې خپل د کېناستلو ځای ته وګوره چې الله تعالى درته په جنت کې په ځای ناستې بدل کړ، نو دواړه به وګوري، وايي: او منافق او کافر ته به وويل شي چې: د دې سړي په باره کې به دې څه ويېل؟ نو هغه به ووايي: نه پوهېږم، ما هم هغه څه ويېل چې خلکو به ويېل، نو ورته به وويل شي: نه پوهېدلې او نه دې لوستلي وو او د اوسپنې په څټک به يو ګذار ووهل شي، نو چيغه به ووهي په چيغې وهلو سره چې خواوشا به يې له انسانانو او پيريانو پرته نور ټول مخلوقات واوري». بخاري (۱۳۷۴) او مسلم (۷۳۱۸) روايت کړی دی .

## )بــاب في الإيمان بالبعث وما بعده (باب دې په باره کې :پس له مرګه ژوند او څه چې روسته يې دي په هغې ايمان.

او مونږ ايمان لرو چې کله الله تعالى د دې دنيا د زوال او پای ته رسيدو اجازه ورکړي ، نو الله به ملايکې ته امر وکړي، نو په شپيلی کې به لومړی پوکی وکړي، نو بې هوشه (مړه) به شي ټول هغه څوک چې په آسمانونو او هغه څوک چې په ځمکه کې دي مګر هغه څوک به - پاتې شي - چې الله يې وغواړي،

﴿وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُۖ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخۡرَىٰ فَإِذَا هُمۡ قِيَامٞ يَنظُرُونَ ٦٨﴾ [الزمر: 68]

[او په شپيلی کې به پو کړی شي، نو بې هوشه (بې خوده) به شي هر هغه څوك چې په آسمانونو کې دي او هر هغه څوك چې په ځمکه کې دي، غير له هغه چا نه چې الله يې وغواړي، بيا به په دې کې بل ځلې پو کړی شي، نو ناڅاپه به دوی ولاړ وي، ګوري به (حيران حيران)]. [الزمر سورت: 68 آيت]

، او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «...ثُمَّ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ، فَلَا يَسْمَعُهُ أَحَدٌ إِلَّا أَصْغَى لِيتًا، وَرَفَعَ لِيتًا، قَالَ: وَأَوَّلُ مَنْ يَسْمَعُهُ رَجُلٌ يَلُوطُ حَوْضَ إِبِلِهِ، قَالَ: فَيَصْعَقُ، وَيَصْعَقُ النَّاسُ....». بيا به په شپيلی کې پو کړی شي، نو هيڅوک يې نه اوري مګر دا چې په يو اړخ به ورمېږ ځمکې ته ګوږ کړي او بل اړخ به راپورته کړي، فرمايي، لومړی هغه څوک يې چې اوري يو سړی به وي چې د خپل اوښ لپاره به د اوبو ډنډ جوړوي، فرمايي

نو راپریوزي به او ټول خلک به مړه وغورځیږی...». مسلم (2940) روایت کړی دی.
او د رفع لیتًا» معنی ده: یعنې څټ یې ځان طرف ته ورکوږ کړ. النهایة فی غریب الحدیث (3/ 33). او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «...وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ نَشَرَ الرَّجُلَانِ ثَوْبَهُمَا بَيْنَهُمَا، فَلَا يَتَبَايَعَانِهِ، وَلَا يَطْوِيَانِهِ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدِ انْصَرَفَ الرَّجُلُ بِلَبَنِ لِقْحَتِهِ فَلَا يَطْعَمُهُ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَهُوَ يَلِيطُ حَوْضَهُ فَلَا يَسْقِي فِيهِ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ رَفَعَ أَحَدُكُمْ أُكْلَتَهُ إِلَى فِيهِ فَلَا يَطْعَمُهَا». «... او یقینا چې قیامت به پداسې حال کې راشي چې دوه سړیو به رخت (تکه) په خپلو منځونو کې غوړولی وي، نو پېر او پلور به سره ونه کړای شي او نه به یې بیرته راټول کړي، او یقینا چې قیامت به قائم شي پداسې حال کې چې یو سړي به د اوښې شېدې لوشلي وي نو وبه یې نه څښي، او یقینا چې قیامت به قائم شي پداسې حال کې چې هغه به د خپلې اوښې لپاره ډنډ جوړوي او په هغه کې به اوبه ورنکړی شي او یقینا چې قیامت به قائم شي پداسې حال کې چې یو ستاسو به مړی خپلې خولې ته پورته کړي وي نو وبه یې نه خوري». نو الله - تعالی چې له خپلو مخلوقاتو څخه چا لره وغواړي نو هغه به هلاک کړي؛ چاته یې چې هلاکت او فنا کېدل لیکلی وي، تر دې چې له متعال حق ذات څخه پرته به هیڅوک پاتې نه شي، الله تعالی فرمایلي:

﴿كُلُّ مَنۡ عَلَيۡهَا فَانٖ۝٢٦ وَيَبۡقَىٰ وَجۡهُ رَبِّكَ ذُو ٱلۡجَلَٰلِ وَٱلۡإِكۡرَامِ۝٢٧﴾ [الرحمن: 26-27]

(هر هغه څوك چې په دې (ځمکې) باندې دي؛ فاني کېدونکي دي. او باقي به پاتې شي ستا د رب مخ (ذات) چې د جلال او د عزت خاوند دی). [الرحمن سورت: 26، 27 آیتونه]،

او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَلَا تَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۘ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ كُلُّ شَيۡءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجۡهَهُۥۚ لَهُ ٱلۡحُكۡمُ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ۝٨٨﴾ [القصص: 88]

او ته له الله سره بل هیڅ معبود مه بله (ځکه چې) د عبادت هیڅ لایق نشته مګر هغه دی، د هغه له مخ (ذات) نه غیر هر څیز فناکېدونکی دی حکم خاص د هغه لپاره دی او خاص هغه ته به تاسو بیرته بوتلی شئ). [القصص سورت: 88 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي:

﴿يَوۡمَ هُم بَٰرِزُونَۖ لَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِنۡهُمۡ شَيۡءٞۚ لِّمَنِ ٱلۡمُلۡكُ ٱلۡيَوۡمَۖ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ ٱلۡقَهَّارِ ١٦﴾ [غافر: 16]

(له هغې ورځې نه چې دوی به ښېخي ښکاره وي، له الله نه به د دوی هېڅ شی پټ نه وي، نن ورځ د چا بادشاهي ده؟ خاص د الله (بادشاهي ده) چې یو دی، ښه غالب دی). [غافر سورت: 16 آیت]

. بیا به الله - تعالی - باران رانازل کړي، چې له هغه څخه به د مخلوقاتو جسدونه رازرغون شی، لکه څرنګه چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمایلي دي: «...ثُمَّ يُرْسِلُ اللهُ -أَوْ قَالَ: يُنْزِلُ اللهُ- مَطَرًا كَأَنَّهُ الطَّلُّ - أَوِ: الظِّلُّ -نُعْمَانُ (وهو أحد رواة الحديث.) الشَّاكُّ- فَتَنْبُتُ مِنْهُ أَجْسَادُ النَّاسِ، ثُمَّ يُنْفَخُ فِيهِ أُخْرَى، فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ...». "... بیا به الله تعالی باران راولیږي - او یا یې داسي وویل چې - الله به نرى نرى باران را نازل کړي - لکه د شبنم په څېر- او یا به الله سیوري راولیږي -نعمان (د حدیث د راویانو څخه یو دی) چې دا شک یې کړی- نو له هغه څخه به د خلکو جسدونه رازرغون شي، بیا به پکې بل پوکی وشي، نو ناڅاپه به دوی ولاړ وي، ګوري به (حیران حیران) ...». مسلم (2940) روایت کړی دی. بیا به الله تعالی ملایکې ته امر وکړي نو په شپیلۍ کې به په دویم ځل پوکی وکړي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُۖ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخۡرَىٰ فَإِذَا هُمۡ قِيَامٞ يَنظُرُونَ ٦٨﴾ [الزمر: 68]

[بیا به په دې کې بل ځلې پو کړی شي، نو ناڅاپه به دوی ولاړ وي، ګوري به (حیران حیران)]. [ الزمر سورت: 68 آیت].

او رسول الله - صلى الله عليه وسلم د دواړو پوکیو تر منځه د فاصلې اندازه ښودلې ده، له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایې چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمایلي دي: «بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ أَرْبَعُونَ، قَالَ: وَيَبْلَى كُلُّ شَيْءٍ مِنَ الإِنْسَانِ، إِلَّا عَجْبَ ذَنَبِهِ، فِيهِ يُرَكَّبُ الخَلْقِ». «د دوه پوکیو تر منځه څلویښت دي، فرمایې: او له انسان څخه به هر څه خاوري شي، مګر عجب الذنب (د لکه لمي هډوکی) په هغه کې - د انسان - پیدایښت ترکیب کیږي». بخاري (4814)، او مسلم (2955) روایت کړی دی. او مونږ په هغه څه ایمان لرو چې زموږ پیغمبر محمد - صلى الله عليه وسلم - پرې مونږ ته د قیامت په ورځ د اسمانونو او ځمکې د احوالو په اړه خبر راکړی دی، لکه څرنګه چې د

ابن مسعود رضي الله عنه په حديث کې راغلي دي. هغه فرمايلي دي: «جَاءَ حَبْرٌ مِنَ الأَحْبَارِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، إِنَّا نَجِدُ: أَنَّ اللَّهَ يَجْعَلُ السَّمَوَاتِ عَلَى إِصْبَعٍ، وَالأَرَضِينَ عَلَى إِصْبَعٍ، وَالشَّجَرَ عَلَى إِصْبَعٍ، وَالماء وَالثَّرَى عَلَى إِصْبَعٍ، وَسَائِرَ الخَلَائِقِ عَلَى إِصْبَعٍ، فَيَقُولُ: أَنَا المَلِكُ. فَضَحِكَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ تَصْدِيقًا لِقَوْلِ الحَبْرِ، ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «د يهودو له علماوو څخه يو تن رسول الله صلى الله - صلى الله عليه وسلم - ته ورغی ورته يې وويل: ای محمده! مونږ - موندلي ده چې الله تعالى آسمانونه په يوه ګوته ګرځولي، او ځمکې يې په بله ګوته، او ونې په بله ګوته، او اوبه او خاوره په بله ګوته، او نور ټول مخلوقات په بله ګوته، نو وايي: زه پادشاه يم، نو رسول الله - صلى الله عليه وسلم - د عالم د خبرې د تاييد په موخه دومره وخندل تر دې چې د ژامې غاښونه يې ښکاره شول، بيا رسول الله - صلى الله عليه وسلم - دا آيت ولوست: ﴿وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ۝٦٧﴾ [الزمر: 67]

(او دغو (مشرکانو) د الله تعظيم ونه کړ د هغه حق تعظيم، حال دا چې ځمکه ټوله د ده په قبضه کې ده د قيامت په ورځ کې او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړى) شوي دي، ده لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دى له هغو څيزونو نه چې دوى يې (له هغه سره) شريکوي). [الزمر سورت: 67 آيت]»

. بخاري (۴۸۱۱)، مسلم (۲۷۸۶) او ترمذي (۳۲۳۸) روايت کړى. او مونږ ايمان لرو چې خلک به له قبرونو څخه راپورته کيدلی شي، نو الله تعالى به هغه مهال مړي راژوندي کړي کله چې په شپيلۍ کې دويم پوکی وکړى شي؛ نو خلک به رب العالمين ته ودريږي، لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي الله - تعالى - فرمايلي دي:

﴿وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يَنسِلُونَ ۝٥١ قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَا مَنۢ بَعَثَنَا مِن مَّرۡقَدِنَاۜۗ هَٰذَا مَا وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَصَدَقَ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ۝٥٢ إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ جَمِيعٞ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُونَ ۝٥٣﴾ [يس: 51-53]

او په شپېلۍ کې به پوکی وکړى شي، نو ناڅاپه به دوى له قبرونو نه د خپل رب په طرف منډې وهي. دوى به وايي: اى زمونږ هلاکته! مونږ له خپل خوب ځاى نه چا راپاڅولو؟ (جواب به ورکړى شي) دا هغه (ژوندون) دى چې رحمٰن يې وعده کړې وه او رسولانو رښتيا ويلي وو.

(پوکی) به نه وي مګر یوه چغه، نو ناڅاپه به دوی ټول زمونږ په وړاندي حاضر کړی شوي وي). [یس سورت: 51-53 آیتونه]

. او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِۦ وَنُمِيتُ وَنَحْنُ ٱلْوَٰرِثُونَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَـْٔخِرِينَ ﴿٢٤﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ ۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥﴾﴾ [الحجر: 23-25]

(او بېشکه مونږ، یقینًا همدا مونږ ژوند ورکوو او مرګ ورکوو او همدا مونږ وارثان یو. وَلَقَدْ او یقینًا یقینًا مونږ په تاسو کې مخکې کېدونکي پېژندلي دي او یقینًا یقینًا مونږ وروسته کېدونکي (هم) پېژندلي دي. او بېشکه ستا رب، هغه به دوی راټولوي، بېشکه هغه ښه حکمت والا، ښه عالم دی) [الحجر سورت: 23-25 آیتونه]

. او الله - تعالی - فرمایلي:

﴿وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ﴿٤٩﴾ ۞ قُلْ كُونُواْ حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا ﴿٥٠﴾ أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِي صُدُورِكُمْ ۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا ۖ قُلِ ٱلَّذِي فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَ ۖ قُلْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَرِيبًا ﴿٥١﴾ يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِۦ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٥٢﴾﴾ [الإسراء: 49-52]

{وَقَالُواْ أَئِذَا كُنَّا عِظَامًا وَرُفَاتًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا * (او دوی وايي آیا کله چې مونږ هډوکي او میده شوي خاورې شو، آیا په رښتیا به مونږ بیا راژوندي کولی شو په نوي پیدا کولو سره. قُل كُونُواْ حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا * ته (ورته) ووایه: تاسو کاڼي شئ، یا اوسپنه. أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِي صُدُورِكُمْ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا قُلِ الَّذِي فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُؤُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَن يَكُونَ قَرِيبًا * یا کوم داسې مخلوق له هغه قسم نه چې ستاسو په زړونو (او ذهنونو) کې لوی ښکاري، نو دوی به ژر ووايي: څوك به مونږ بیا راژوندي کوي؟ ته ووایه: هغه ذات چې تاسو يې اول کرت پیدا کړي یئ، نو ژر به دوی خپل سرونه تا ته (د استهزا په ډول) وخوځوي او وايي به: دا به کله وي؟ ته ووایه: امید دی چې دغه به ډېر نژدې وي. يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلاَّ قَلِيلا} په هغې ورځ کې چې هغه (الله) به تاسو راوبلي، نو تاسو به (د هغه بلل) قبول کړئ، په داسې حال کې چې د هغه ثنا به وایئ، او ګمان به کوئ چې تاسو (په دې حالت کې) نه یئ پاتې شوي مګر لږ شانې). [الإسراء سورت: 49-52 آیتونه]،

او الله - تعالی - فرمایلي دي:

﴿وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُمۡ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِهِۦۖ وَنَحۡشُرُهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ عُمۡيٗا وَبُكۡمٗا وَصُمّٗاۖ مَّأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ كُلَّمَا خَبَتۡ زِدۡنَٰهُمۡ سَعِيرٗا ٩٧ ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُم بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدًا ٩٨ ۞أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۡ وَجَعَلَ لَهُمۡ أَجَلٗا لَّا رَيۡبَ فِيهِ فَأَبَى ٱلظَّٰلِمُونَ إِلَّا كُفُورٗا ٩٩﴾ [الإسراء: 97-99]

{وَمَن يَهْدِ اللّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُمْ أَوْلِيَاء مِن دُونِهِ وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى وُجُوهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا مَّأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا* او چا ته چې الله هدايت وکړي، نو هم هغه هدايت موندونکی دی او هغه څوك چې هغه (الله) يې بې لارې کړی، نو ته به د هغوی لپاره له هغه (الله) نه غير هېڅ کارسازي (دوستان) له سره ونه مومې او د قيامت په ورځ به مونږ دوی په خپلو مخونو باندې (نسکور) راجمع کوو، په دې حال کې چې ړانده او ګونګيان او کاڼه به وي او د دوی استوګنځای به جهنم وي، هر کله چې (د جهنم اور) غلی شي، (نو) مونږ به دوی ته لمبې وهونکي اور ورزيات کړو. ذَلِكَ جَزَآؤُهُم بِأَنَّهُمْ كَفَرُواْ بِآيَاتِنَا وَقَالُواْ أَئِذَا كُنَّا عِظَامًا وَرُفَاتًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا * دا د دوی جزا ده، په سبب د دې چې بېشکه دوی زمونږ په آيتونو سره کفر کړی و او ويل به يې: آيا کله چې مونږ هډوکي او ريژېدلي خاورې شو، ايا په رښتيا به مونږ هرومرو بيا ژوندي کولی شو، په نوي تخليق سره. أَوَلَمْ يَرَوْاْ أَنَّ اللّهَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ قَادِرٌ عَلَى أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ وَجَعَلَ لَهُمْ أَجَلاً لاَّ رَيْبَ فِيهِ فَأَبَى الظَّالِمُونَ إَلاَّ كُفُورًا} آيا دوی نه دي کتلي چې بېشکه هغه الله چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي پر دې قادر دی چې د دوی په مثل (نور) پيدا کړي او هغه د دوی لپاره يوه نېټه مقرر کړې ده چې په هغې کې هېڅ شك نشته، انکار کوي ظالمان د هر شي څخه پرته له ناشکرۍ). [الإسراء سورت: 97-99 آيتونه]

، او الله - تعالی فرمايلي دي:

﴿...فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ ٱلۡأٓخِرَةِ جِئۡنَا بِكُمۡ لَفِيفٗا ١٠٤﴾ [الإسراء: 104]

(نو کله چې د اخرت وعده (قيامت) راشي (نو) مونږ به تاسو ټول ګډ سره راولو). [الإسراء سورت: 104 آيت]،

او د بيا راژوندي کېدو او راټوليدو د ثبوت په اړه آيتونه ډېر زيات دي. او لومړی هغه څوک چې ځمکه به ورڅخه څېرل کيږي زمونږ نبي - صلی الله عليه وسلم - دی، له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ، وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ». «زه د قيامت په ورځ د آدم د اولادې سردار يم او زه لومړی هغه څوک يم چې قبر يې څېرول

کيږي او لومړی شفاعت کوونکی او لومړی هغه څوک چې شفاعت يې کيږي». مسلم (2278)، او أبو داود (4673) روايت کړی دی. او لومړی هغه څوک چې په هوش به راځي زمونږ نبي - صلى الله عليه وسلم - دی، لکه رسول الله صلى الله عليه وسلم چې فرمايلي دي: «...لَا تُخَيِّرُونِي عَلَى مُوسَى، فَإِنَّ النَّاسَ يَصْعَقُونَ فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يُفِيقُ، فَإِذَا مُوسَى بَاطِشٌ بِجَانِبِ الْعَرْشِ، فَلَا أَدْرِي أَكَانَ فِيمَنْ صَعِقَ فَأَفَاقَ قَبْلِي؟ أَمْ كَانَ مِمَّنِ اسْتَثْنَى اللهُ؟». « ... ما ته پر موسى غوره والی مه راکوئ؛ ځکه خلک به د قيامت په ورځ بې هوشه شي، نو زه به لومړی هغه کس يم چې له بې هوشۍ څخه راوځي، نو ناڅاپه به موسى وګورم چې د عرش يو څنډه يې کلکه نيولي وي، نو نه پوهيږم چې آيا دی هم په هغو خلکو کې و چې بې هوشه شوی و او بيا زما څخه مخکې راپورته شوی او يا له هغه چا څخه و چې - الله تعالى له بې هوشۍ څخه - مستثنى کړی و؟». بخاري (2441)، او مسلم (2373) روايت کړی دی. او لومړی هغه څوک چې جامه به ورا‌غوستل کيږي هغه د الله - تعالى - نبي ابراهيم خليل الرحمن دی، رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «وَأَوَّلُ مَنْ يُكْسَى يَوْمَ القِيَامَةِ إِبْرَاهِيمُ». «او لومړی هغه کس چې د قيامت په ورځ به جامې ورآغوستل کيږي هغه ابراهيم دی». بخاري (3349)، مسلم (2860)، ترمذي (2423) او نسائي (2082) روايت کړی دی. او خلک به پښې ابل، بربنډ او ناسنت راپورته کيږي، لکه څرنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا». «خلک به د قيامت په ورځ پښې ابل، بربنډ او نا سنت راپورته کيږي». بخاري (6527)، مسلم (2859)، نسائي (2083)، او ابن ماجه (4276) روايت کړی دی. او مونږ ايمان لرو چې هغه ځمکه چې خلک به - د حساب لپاره - ورټوليږي له دې ځمکې پرته بله ځمکه ده، لکه څرنګه چې سپيڅلي حق ذات فرمايلي دي:

﴿يَوۡمَ تُبَدَّلُ ٱلۡأَرۡضُ غَيۡرَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُۖ وَبَرَزُواْ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ ٱلۡقَهَّارِ٤٨﴾ [إبراهيم: 48]

[(ياده کړه) هغه ورځ چې دغه ځمکه به په بلې ځمکې سره بدله کړی شي او اسمانونه (هم) او دوی (ټول) به خاص الله ته مخامخ ودريږي چې يو دی، ډېر غالب دی]. [إبراهيم سورت: 48 آيت].

او د حشر ځمکه سپينه ده، پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ القِيَامَةِ عَلَى أَرْضٍ بَيْضَاءَ عَفْرَاءَ، كَقُرْصَةِ نَقِيٍّ». "خلک به د قيامت په ورځ په يوه سپينه ځمکه راټول کړی شي - چې سوروالي ته مايله وي - لکه د يوې خالصې ډوډۍ ټيکلی». بخاري (6521) او مسلم (2790) روايت کړی دی. او له أبو سعيد الخدري - رضي الله

عنه - څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «تَكُونُ الأَرْضُ يَوْمَ القِيَامَةِ خُبْزَةً وَاحِدَةً، يَتَكَفَّؤُهَا الجَبَّارُ بِيَدِهِ كَمَا يَكْفَأُ أَحَدُكُمْ خُبْزَتَهُ فِي السَّفَرِ...». «ځمکه به د قیامت په ورځ یوه ډوډۍ وي، جبار ذات به یې په لاس کې داسې اړوي را اړوي لکه څرنګه چې یو ستاسو څخه خپله ډوډۍ د سفر پر مهال اړوي را اړوي...». بخاري (6520) او مسلم (2792) روایت کړی. او په صحیح احادیثو کې راغلي دي چې خلک به - ځمکې - د بدلیدو په وخت کې چیرته وي: نو له ثوبان؛ د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - له آزاد شوي غلام څخه روایت دی چې د یهودو له علماوو څخه یو عالم رسول ته راغی او پوښتنه یې تري کول او په هغې کې دي چې :«...نو یهودي وویل: خلک به چیرته وي چې کله ځمکه په بله ځمکه بدلیږي او آسمانونه؟ نو رسول الله - صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هُمْ فِي الظُّلْمَةِ دُونَ الْجِسْرِ». «هغوی به د صراط له پل نه لاندې په تیاره کې وي». مسلم (315) روایت کړی دی. او له عائشې - رضي الله عنها - څخه روایت دی فرمايي: «له رسول الله صلی الله علیه وسلم - څخه مې د الله تعالی د دې وینا په اړه پوښتنه وکړه

﴿يَوۡمَ تُبَدَّلُ ٱلۡأَرۡضُ غَيۡرَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُۖ ....﴾ [إبراهيم: 48]

یعني په دغه ورځ به دا ځمکه په بلې ځمکه بدله کړی شي او آسمانونه؟ نو پدغه ورځ به خلک چیرته وي ای د الله رسوله ؟ نو هغه وویل: په صراط باندې»[إبراهيم: 48]

. مسلم (2791) روایت کړی دی. او مونږ پوهیږو چې دا یوه ډیره لویه ورځ ده، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَلَا يَظُنُّ أُوْلَٰٓئِكَ أَنَّهُم مَّبۡعُوثُونَ ٤ لِيَوۡمٍ عَظِيمٍ ٥﴾ [المطففين: 4-5]

[ایا دغه خلک یقین نه کوي چې بېشکه دوی به بیا راژوندي کولی شي. لِيَوْمٍ عَظِيمٍ} په ډیره لویه ورځ کې (د حساب لپاره)]. [المطففين سورت: 4، 5 آیتونه].

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ إِنَّ زَلۡزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَيۡءٌ عَظِيمٞ ١﴾ [الحج: 1]

(ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ، بېشکه د قیامت زلزله ډېر لوی شی دی). [الحج سورت: 1 آیت]

. او دا چې د هغې - ورځې - اوږدوالی پنځوس زره کاله دی لکه څرنګه چې پدې سره صحيح روايت راغلي دي، له ابو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «مَا مِنْ صَاحِبِ كَنْزٍ لَا يُؤَدِّي زَكَاتَهُ إلى أن قال: حَتَّى يَحْكُمَ اللهُ بَيْنَ عِبَادِهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ، ثُمَّ يَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ، وَإِمَّا إِلَى النَّارِ». «د هيڅ خزانې خاوند نشته چې زکات يې نه ورکوي، تر دې چې ويې ويل: تر څو چې الله تعالى د خپلو بنده ګانو تر منځه په هغه ورځ کې فيصله وکړي چې اندازه يې پنځوس زره کلونه ده ، په هغه شمېر سره چې تاسو يې کوئ، بيا به يې مناسب لوري ته روان کړي يا جنت ته او يا اور (دوزخ ) ته». بخاري (2371)، مسلم (987)، ابو داود (1658)، ترمذي (1636)، نسائي (3563) او ابن ماجه (2788) روايت کړی دی. او په دغه ورځ کې لمر ځمکې ته نږدې کيږي، له أبو أمامة - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «تُدْنَى الشَّمْسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْخَلْقِ، حَتَّى تَكُونَ مِنْهُمْ كَمِقْدَارِ مِيلٍ» -قَالَ سُلَيْمُ بْنُ عَامِرٍ: فَوَاللهِ مَا أَدْرِي مَا يَعْنِي بِالْمِيلِ؟ أَمَسَافَةَ الْأَرْضِ، أَمِ الْمِيلَ الَّذِي تُكْتَحَلُ بِهِ الْعَيْنُ؟- قَالَ: «فَيَكُونُ النَّاسُ عَلَى قَدْرِ أَعْمَالِهِمْ فِي الْعَرَقِ، فَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ إِلَى كَعْبَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ إِلَى حَقْوَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يُلْجِمُهُ الْعَرَقُ إِلْجَامًا». «د قيامت په ورځ به لمر له مخلوقاتو څخه رانږدې کړای شي، تر دې چې د يو ميل په اندازه به شي» سُلیم بن عامر وايي: قسم په الله زه نه پوهيږم چې له ميل څخه به يې هدف څه وي؟ آيا د ځمکې واټن، او يا د رنجو هغه سلايي چې سترګي پرې توريږي؟ فرمايلي يې دي: «نو خلک به د خپلو عملونو په اندازه په خولو کې وي، ځيني له دوی څخه به تر دواړو بښنګرو پوري وي او ځينې له دوی څخه به د دواړو زنګنونو پوري وي او ځينې له دوی څخه به تر ازار بند پوري وي او ځيې له دوی څخه به هغه وي چې خولو به بشپړه توګه ډوب کړی وي». مسلم (2864) او ترمذي (2421) روايت کړی. او مؤمنان به په خپلو نيکو علمونو سره چې وړاندې يې کړي دي د لمر له ګرمی څخه ځان ژغوري، ځيني له دوی څخه به د عرش په سيوري کې وي، لکه څرنګه چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ، يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ». «اوه کسان دي چې الله تعالى به يې په خپل سيوري کې ځای کړي، په هغه ورځ چې د هغه له سيوري پرته به بل سيوری به نه وي». بخاري (660)، او مسلم (1031)روايت کړی دی. او ځينو لره به - دوه سورتونو (البقره) او ( آل عمران ) د خپل سيوري لاندې راوستي وي، او د ده لپاره به د الله تعالى په وړاندې استدلال کوي، رسول الله - صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «اقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيعًا لِأَصْحَابِهِ. اقْرَؤُوا الزَّهْرَاوَيْنِ الْبَقَرَةَ، وَسُورَةَ آلِ عِمْرَانَ، فَإِنَّهُمَا تَأْتِيَانِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُمَا غَمَامَتَانِ، أَوْ كَأَنَّهُمَا غَيَايَتَانِ، أَوْ كَأَنَّهُمَا فِرْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ، تُحَاجَّانِ عَنْ

أَصْحَابِهِمَا، اقْرَؤُوا سُورَةَ الْبَقَرَةِ، فَإِنَّ أَخْذَهَا بَرَكَةٌ، وَتَرْكَهَا حَسْرَةٌ، وَلَا تَسْتَطِيعُهَا الْبَطَلَةُ». «قرآن ولولئ، يقينا چې دغه ـ قرآن ـ به د قيامت په ورځ د خپلو خاوندانو لپاره سفارش کوونکي راشي، دوه رڼا کوونکي ولولئ يعنې بقره او آل عمران سورت، يقينا چې دغه دواړه به د قيامت په ورځ لکه د وريځو په څېر راشي، يا به داسې په سر سيورى شي لکه وريځ او يا بل څه، او يا به دواړه داسې وي لکه د مرغيو دوه ډلې يا سيلونه چې وزرې يې غوړولي وي او د خپل خاوند لپاره به استدلال کوي، نو البقره سورت ولولئ، ځکه چې اخيستل يې برکت دى، او پريښودل يې پښيماني او د زړه ماتيدل دي، او جادوګران يا تنبل انسانان يې نه شي لوستلى». مسلم(804) روايت کړى دى. او ځينې لدوى څخه به د خپلې صدقې د سيوري لاندې وي، پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «كُلُّ امْرِئٍ فِي ظِلِّ صَدَقَتِهِ حَتَّى يُفْصَلَ بَيْنَ النَّاسِ». «هر سړى به د خپلې صدقې تر سيوري لاندې وي تر دې چې د خلکو تر منځه پريکړه وکړاى شي». احمد (17333)، ابو يعلى (1766)، ابن خزيمه (2431)، ابن حبان (3310) او ابن خزيمه او ابن حبان صحيح ګڼلى دى.

## )بـــاب في الشفاعة يوم القيامة ومجيء الرب وإتيانه لفصل القضاء بين عباده (باب دى د قيامت په ورځ د شفاعت او د رب د راتګ په اړه چې د بنده ګانو تر منځه په پريکړې سره جلاوالى راولي

او مونږ ايمان لرو چې شفاعت يوازې د الله جل جلاله په واک کې دى، حق ذات فرمايلي دي: ﴿قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعًاۖ لَّهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ﴿٤٤﴾﴾ [الزمر: 44]

(ته (دوى ته) ووايه: شفاعت ټول خاص د الله په اختيار کې دى،خاص د هغه لپاره د آسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، بيا به تاسو خاص هغه ته بېرته ورګرځول کيږئ). [الزمر سورت: 44 آيت]

. او مونږ ايمان لرو چې هيڅوک د هغه له اجازې پرته شفاعت نشي کولى، حق ذات فرمايلي دي:

﴿.... مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦ....﴾ [البقرة: 255]

(څوك دی هغه کس چې د ده په وړاندې به سفارش کوي مګر د ده په اجازت سره). [البقرة سورت: 255 آیت]،

او سفارش کوونکي سفارش نه کوي مګر د هغه چا لپاره چې رحمان ذات يې وينا او کړنه خوښه کړې وي، الله عزوجل فرمايلي دي:

﴿... وَلَا يَشۡفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرۡتَضَىٰ وَهُم مِّنۡ خَشۡيَتِهِۦ مُشۡفِقُونَ ٢٨﴾ [الأنبياء: 28]

(او دوی شفاعت نشي کولی مګر د هغه چا لپاره چې هغه (الله) ترې راضي وي او دوی خاص د هغه له هيبته وېرېدونکي دي). [الأنبياء سورت: 28 آيت]

، او الله - تعالی - فرمايلي:

﴿يَوۡمَئِذٖ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ إِلَّا مَنۡ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُۥ قَوۡلٗا ١٠٩﴾ [طه: 109]

(په دغې ورځ کې به شفاعت فايده نه رسوي مګر هغه چا ته چې د هغه په حق کې رحمٰن اجازت وکړي او دغه (الله) د ده په خبره راضي شوی وي). [طه سورت: 109 آيت].

او مونږ ایمان لرو چې په شفاعت سره تر ټولو نیکمرغه خلک د اخلاص او توحید خاوندان دي، په حدیث کې له أبو هریرة - رضی الله عنه - څخه روایت دی چې هغه فرمايلي: وويل شو: ای د الله رسوله، ستا په شفاعت باندې د قيامت په ورځ تر ټولو نيکمرغه خلک څوک دي؟ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وفرمايل: «لَقَدْ ظَنَنْتُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، أَنْ لَا يَسْأَلُنِي عَنْ هَذَا الحَدِيثِ أَحَدٌ أَوَّلُ مِنْكَ؛ لِمَا رَأَيْتُ مِنْ حِرْصِكَ عَلَى الحَدِيثِ، أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِي يَوْمَ القِيَامَةِ، مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ، أَوْ نَفْسِهِ». «ما باور درلوده ای أبو هريرة چې د دې حديث په اړه به راڅخه ستا څخه مخکې څوک پوښتنه نه کوي؛ د هغه حرص له امله چې زه يې په تاکې په حديث باندې وينم، د قيامت په ورځ تر ټولو نيمکرغه خلک زما په شفاعت هغه څوک دی چې : لا اله الا الله يې د زړه يا د نفس له اخلاصه ويلي وي». بخاري (99، 6570) روايت کړی دی. او مونږ ايمان لرو چې کافرانو ته د شفاعت کوونکو شفاعت نشته، حق ذات فرمايلي دي:

﴿فَمَا تَنفَعُهُمۡ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ٤٨﴾ [المدثر: 48]

(نو دوی ته د سفارش کوونکو سفارش فايده نه رسوي). [المدثر سورت: 48 آيت].

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالی - له خپلو بنده ګانو څخه چې چاته وغواړي د شفاعت اجازه ورکوي؛ د شفاعت کوونکي د پاره عزت او دچا لپاره چې شفاعت کیږي په هغه مهرباني. او مونږ یوهیږو چې د قیامت په ورځ به تر ټولو لوی شفاعت کوونکی زمونږ پیغمبر  محمد - صلی الله علیه وسلم - وي، هغه به ګڼ شمیر شفاعتونه کوي او تر ټولو لوی او اړین شفاعت یې د موقف د خلکو لپاره دی، تر څو یې تر منځه پریکړه وشي او همدغه ستایل شوی مقام دی، او - ستایل شوی ځای - همدغه دی چې الله تعالی ترې په خپل کتاب کې یادونه کړې ده، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةٗ لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامٗا مَّحۡمُودٗا ٧٩﴾ [الإسراء: 79]

(او د شپې په څه حصه کې خوب پرېږده، چې ستا لپاره دا زیاتي عبادت دی، امېد دی چې ستا رب به تا مقامِ محمود (ستایل شوي ځای) ته پورته کړي). [الإسراء سورت: 79 آیت

بخاري سره د ابن عمر - رضی الله عنهما - په حدیث کې دي: «...فَيَشْفَعُ لِيُقْضَى بَيْنَ الْخَلْقِ فَيَمْشِي حَتَّى يَأْخُذَ بِحَلْقَةِ الْبَابِ فَيَوْمَئِذٍ يَبْعَثُهُ اللَّهُ مَقَامًا مَحْمُودًا يَحْمَدُهُ أَهْلُ الْجَمْعِ كُلُّهُمْ». «... نو شفاعت به وکړي تر څو د خلکو تر منځه پریکړه وشي، نو لاړ به شي تر څو د دروازې کړی ونیسي، نو په دغه ورځ باندې به یې الله تعالی ستایل شوي مقام ته ولیږي، چې ټول راټول شوي به یې وستایي». بخاري (1475) روایت کړی. نو پدې حدیث کې یې د قضاء په باب کې د شفاعت یادونه وکړه، سپیڅلي حق ذات خبر ورکړی دی چې هغه به د پریکړې او فیصلې په موخه تشریف راوړي لکه څرنګه چې د الله - تعالی - پدې وینا کې دي:

﴿هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِي ظُلَلٖ مِّنَ ٱلۡغَمَامِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٢١٠﴾ [البقرة: 210]

(دوی انتظار نه کوي مګر د دې چې الله دوی ته د وریځو په سیورو کې راشي او ملایك (هم) او معامله فیصله کړی شي، او ټول کارونه خاص الله ته ورګرځول کیږي). [البقرة سورت: 210 آیت]

. او د الله تعالی دا وینا:

﴿وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلۡمَلَكُ صَفّٗا صَفّٗا ٢٢﴾ [الفجر: 22]

[او ستا رب راشي او ملايك قطار قطار (راشي)]. [الفجر سورت: 22 آيت].

او د الله - تعالى - دا وينا:

﴿هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ رَبُّكَ أَوۡ يَأۡتِيَ بَعۡضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَۗ يَوۡمَ يَأۡتِي بَعۡضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ لَ....﴾ [الأنعام: 158]

(دوى انتظار نه كوي مگر د دې چې دوى ته ملايك راشي، يا ستا رب راشي، يا ستا د رب ځينې نښې راشي). [الأنعام سورت: 158 آيت]

. بيا د جنتيانو جنت ته د داخليدلو شفاعت، او پدې شفاعت باندې زياتو متواترو حديثونو دلالت كړى دى، له جملې څخه يې د أنس - رضي الله عنه - مشهور حديث دى چې هغه - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «إِذَا كَانَ يَوْمُ القِيَامَةِ مَاجَ النَّاسُ بَعْضُهُمْ فِي بَعْضٍ، فَيَأْتُونَ آدَمَ، فَيَقُولُونَ: اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، فَيَقُولُ: لَسْتُ لَهَا، وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِإِبْرَاهِيمَ، فَإِنَّهُ خَلِيلُ الرَّحْمَنِ، فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ، فَيَقُولُ: لَسْتُ لَهَا، وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِمُوسَى؛ فَإِنَّهُ كَلِيمُ اللَّهِ، فَيَأْتُونَ مُوسَى، فَيَقُولُ: لَسْتُ لَهَا، وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِعِيسَى؛ فَإِنَّهُ رُوحُ اللَّهِ، وَكَلِمَتُهُ، فَيَأْتُونَ عِيسَى، فَيَقُولُ: لَسْتُ لَهَا، وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِمُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم، فَيَأْتُونِي، فَأَقُولُ: أَنَا لَهَا، فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي، فَيُؤْذَنُ لِي، وَيُلْهِمُنِي مَحَامِدَ أَحْمَدُهُ بِهَا لاَ تَحْضُرُنِي الآنَ، فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ المحَامِدِ، وَأَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا، فَيَقُولُ: يَا مُحَمَّدُ، ارْفَعْ رَأْسَكَ، وَقُلْ يُسْمَعْ لَكَ، وَسَلْ تُعْطَ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، فَأَقُولُ: يَا رَبِّ أُمَّتِي أُمَّتِي، فَيَقُولُ: انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مِنْهَا مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ شَعِيرَةٍ مِنْ إِيمَانٍ، فَأَنْطَلِقُ فَأَفْعَلُ، ثُمَّ أَعُودُ، فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ المَحَامِدِ، ثُمَّ أَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا، فَيُقَالُ: يَا مُحَمَّدُ، ارْفَعْ رَأْسَكَ، وَقُلْ يُسْمَعْ لَكَ، وَسَلْ تُعْطَ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، فَأَقُولُ: يَا رَبِّ أُمَّتِي أُمَّتِي، فَيَقُولُ: انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مِنْهَا مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ - أَوْ خَرْدَلَةٍ - مِنْ إِيمَانٍ فَأَخْرِجْهُ، فَأَنْطَلِقُ، فَأَفْعَلُ، ثُمَّ أَعُودُ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ المحَامِدِ، ثُمَّ أَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا، فَيَقُولُ: يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ، وَقُلْ يُسْمَعْ لَكَ، وَسَلْ تُعْطَ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، فَأَقُولُ: يَا رَبِّ أُمَّتِي أُمَّتِي، فَيَقُولُ: انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ أَدْنَى أَدْنَى أَدْنَى مِثْقَالِ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ، فَأَخْرِجْهُ مِنَ النَّارِ، فَأَنْطَلِقُ فَأَفْعَلُ». فَلَمَّا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِ أَنَسٍ قُلْتُ لِبَعْضِ أَصْحَابِنَا: لَوْ مَرَرْنَا بِالحَسَنِ، وَهُوَ مُتَوَارٍ فِي مَنْزِلِ أَبِي خَلِيفَةَ، فَحَدَّثْنَاهُ بِمَا حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، فَأَتَيْنَاهُ، فَسَلَّمْنَا عَلَيْهِ، فَأَذِنَ لَنَا، فَقُلْنَا لَهُ: يَا أَبَا سَعِيدٍ، جِئْنَاكَ مِنْ عِنْدِ أَخِيكَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، فَلَمْ نَرَ مِثْلَ مَا حَدَّثَنَا فِي الشَّفَاعَةِ، فَقَالَ: هِيهْ، فَحَدَّثْنَاهُ بِالحَدِيثِ، فَانْتَهَى إِلَى هَذَا المَوْضِعِ، فَقَالَ: هِيهْ، فَقُلْنَا لَمْ يَزِدْ لَنَا عَلَى هَذَا، فَقَالَ: لَقَدْ حَدَّثَنِي -وَهُوَ جَمِيعٌ- مُنْذُ عِشْرِينَ سَنَةً، فَلاَ أَدْرِي أَنَسِيَ أَمْ كَرِهَ أَنْ تَتَّكِلُوا؟ قُلْنَا: يَا أَبَا سَعِيدٍ، فَحَدِّثْنَا، فَضَحِكَ، وَقَالَ: خُلِقَ الإِنْسَانُ عَجُولًا، مَا ذَكَرْتُهُ إِلَّا وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أُحَدِّثَكُمْ، حَدَّثَنِي كَمَا حَدَّثَكُمْ بِهِ، قَالَ: «ثُمَّ أَعُودُ الرَّابِعَةَ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ المَحَامِدِ، ثُمَّ أَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا، فَيُقَالُ: يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ، وَقُلْ

يُسْمَعْ، وَسَلْ تُعْطَهْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، فَأَقُولُ: يَا رَبِّ ائْذَنْ لِي فِيمَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، فَيَقُولُ: وَعِزَّتِي وَجَلَالِي، وَكِبْرِيَائِي وَعَظَمَتِي لَأُخْرِجَنَّ مِنْهَا مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ». «کله چې د قيامت ورځ شي خلک به له يو بل سره يو ځای شي، نو آدم ته به راشي ورته به وو ايي: خپل رب ته دې زمونږ شفاعت وکړه، نو هغه به وو ايي: زه د دې لپاره نه يم، خو ابراهيم ته ورشئ، ځکه چې هغه د رحمن ذات خليل دی، نو ابراهيم ته به راشي، هغه به وو ايي: زه د دې لپاره نه يم، خو موسی ته ورشئ؛ يقينا چې هغه د الله تعالی کليم دی، نو موسی ته به راشي، هغه به وو ايي: زه د دې لپاره نه يم، خو عيسی ته ورشئ؛ ځکه چې هغه د الله تعالی لخوا روح او د هغه کلمه ده، نو عيسی ته به ورشي، هغه به ورته وو ايی: زه د دې لپاره نه يم، مګر محمد – صلی الله عليه وسلم – ته ورشئ، نو ماته به راشي، زه به ورته وو ايم: زه د دې لپاره يم، نو په خپل رب به مې اجازه وغواړم، اجازه به راته وکړای شي او الله تعالی به ماته په زړه کې د هغه ستاينې الهام کړي، تر څو يې پرې وستايم چې اوس مې ذهن ته نه راځي، نو په هغو ستاينو سره به يې وستايم، او په سجده به ورته پريوځم، نو وبه وايي: ای محمده! سر دې پورته کړه، ووايه ستا خبره اوريدل کيږي، سوال وکړه درکول کيږي، شفاعت وغواړه، شفاعت دې منل کيږي، نو زه به وو ايم: ای ربه! زما امت، زما امت، نو هغه به وو ايي: لاړ شه! هر هغه څوک له – اور– څخه راوباسه چې په زړه کې يې د وربشې د دانې په اندازه ايمان وي، نو زه به لاړ شم او همداسې به وکړم، بيا به راوګرځم، نو په همغه ستاينو سره به يې وستايم، بيا به ورته په سجده پريوځم، نو راته به وويل شي: ای محمده! سر دې پورته کړه، او ووايه، ستا خبره اوريدل کيږي، سوال وکړه درکول کيږي، شفاعت وغواړه، شفاعت دې قبليږی، نو زه به وو ايم: ای ربه! زما امت زما امت، نو راته به وو ايي: لاړ شه او هر هغه څوک ترې راوباسه چې په زړه کې يې د ذرې او يا د اورې د دانې په اندازه ايمان وي، نو زه به همداسې وکړم، بيا به راوګرځم، نو په همغو ستاينو سره به يې وستايم، بيا به ورته په سجده پريوځم، نو وبه وايې: ای محمده! سر دې پورته کړه، ووايه درڅخه اوريدل کيږي، سوال وکړه درکول کيږي، او شفاعت وغواړه، شفاعت دې منل کيږي، نو زه به وو ايم: ای ربه! زما امت زما امت، نو راته به وو ايي: لاړ شه او د هغه چا په زړه کې چې د اورې د دانې په اندازه لږ، لږ، لږ ايمان هم وي، نو له اور څخه يې راوباسه، نو زه به لاړ شم او دا کار به وکړم » نو کله چې مونږ له أنس څخه راووتلو خپلو ځينو ملګرو ته مې وويل: که چېرته حسن ته ورغلي وو حال دا چې هغه د أبو خليفه په کور پټ و، نو هغه حديث ورته بيان کړو کوم چې أنس بن مالک راته بيان کړ، نو ورته ورغلو، سلام مو پرې واچاوه، نو مونږ ته يې اجازه راکړه، نو مونږ ورته وويل: ای أبو سعيده! ستا له وررور أنس بن مالک نه درته راغلو، مونږ هغه څه تر اوسه نه و ليدلي کوم چې هغه مونږ ته د شفاعت په اړه بيان کړل، نو هغه وويل: راته ووايئ، نو مونږ ورته حديث بيان

کړ، نو دې ځای کې یې پای ته ورساوه، نو ویې ویېل: هِیهْ، یعنې نور راتهووایئ: نو مونږ ورته وویل: لدې څخه زیات یې راته ندی بیان کړی، نو هغه وویل: یقینا چې ماته یې حدیث بیان کړی دی – حال دا چې هغه پوره و – له شلو کلونو راهیسې، نو زه نه پوهیږم چې هېر کړی یې دی او یا یې غوره نده ګڼلې چې درته یې ووایې – هسې نه چې بیا یوازې په توکل بسنه وکړئ؟ مونږ وویل: ای أبو سعیده! مونږ ته حدیث بیان کړه، نو ویې خندل، او ویې ویېل: انسان تلوار خوښوونکی پیدا شوی دی، دا خبره مې درته یاده نه کړه مګر د دې لپاره چې زه غواړم حدیث درته بیان کړم، ماته یې داسې حدیث بیان کړی دی لکه څرنګه یې چې تاسو ته بیان کړی دی وایي: «بیا به په څلورم ځل راوګرځم نو په همغو ستاینو سره به یې وستایم، بیا به ورته په سجده پریوځم، نو راته به وویل شي: ای محمده! سر دې پورته کړه، ووایه درڅخه اوریدل کیږي، سوال وکړه درکول کیږي، شفاعت وغواړه، شفاعت دې منل کیږي، نو زه به ووایم: ای ربه! ماته د هغه چا لپاره د شفاعت اجازه راکړه چې: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، یې ویلي وي، نو وبه وایي: زما دې په خپل عزت، جلال، لویئ او عظمت قسم وي چې زه به هر هغه څوک ترې راوباسم چې: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ یې ویلي وي». بخاري (7510)، مسلم (193) او ابن ماجه (4312) روایت کړی. او لدې څخه د ابو هریره - رضی الله عنه - حدیث دی، چې هغه د انس - رضی الله عنه - حدیث ته ورته دی او په پای کې یې وویل: «...اذْهَبُوا إِلَى مُحَمَّدٍ، فَيَأْتُونِي فَيَقُولُونَ: يَا مُحَمَّدُ، أَنْتَ رَسُولُ اللهِ، وَخَاتَمُ الْأَنْبِيَاءِ، وَغَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ، اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، أَلَا تَرَى مَا نَحْنُ فِيهِ؟ أَلَا تَرَى مَا قَدْ بَلَغَنَا؟ فَأَنْطَلِقُ، فَآتِي تَحْتَ الْعَرْشِ، فَأَقَعُ سَاجِدًا لِرَبِّي، ثُمَّ يَفْتَحُ اللهُ عَلَيَّ وَيُلْهِمُنِي مِنْ مَحَامِدِهِ، وَحُسْنِ الثَّنَاءِ عَلَيْهِ شَيْئًا لَمْ يَفْتَحْهُ لِأَحَدٍ قَبْلِي، ثُمَّ يُقَالُ: يَا مُحَمَّدُ، ارْفَعْ رَأْسَكَ، سَلْ تُعْطَهْ، اشْفَعْ تُشَفَّعْ، فَأَرْفَعُ رَأْسِي، فَأَقُولُ: يَا رَبِّ أُمَّتِي أُمَّتِي، فَيُقَالُ: يَا مُحَمَّدُ، أَدْخِلِ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِكَ مَنْ لَا حِسَابَ عَلَيْهِ مِنَ الْبَابِ الْأَيْمَنِ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ، وَهُمْ شُرَكَاءُ النَّاسِ فِيمَا سِوَى ذَلِكَ مِنَ الْأَبْوَابِ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، إِنَّ مَا بَيْنَ الْمِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ لَكَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَهَجَرٍ، أَوْ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَبُصْرَى». «...لاړ شئ محمد ته، نو ماته به راشي، راته به ووایي: ای محمده! ته د الله رسول یې، د پیغمبرانو ورستی یو یې او الله تعالی درته مخکني او وروستني ګناهونه بخښلي دي، د خپل رب په وړاندې دې مونږ ته شفاعت وکړه، آیا ته نه ګورې چې مونږ په څه حال کې یو؟ آیا ته نه ګورې چې مونږ ته څه رارسیدلي دي؟ نو زه به لاړ شم، د عرش لاندې به راشم، نو خپل رب ته به په سجده پریوځم، بیا به الله تعالی پر ما خپلې - لوریني - پرانیزي او خپلې ستاینې او ښایسته ثناء به راته راپه زړه کړي چې لدې وړاندې یې هیچا ته ندي ورپه زړه کړي، بیا به وویل شي: ای محمده! سر دې پورته کړه، سوال وکړه درکول کیږي، شفاعت وکړه شفاعت دې منل کیږي، نو زه به سر راپورته کړم، نو وبه وایم ای ربه ! زما امت زما امت، نو وبه وییل شي: ای محمده! د جنت له دروازو څخه له ښي دروازې نه دې له امت

څخه هر هغه څوک جنت ته ننباسه چې حساب پرې نشته، حال دا چې هغوی د نورو خلکو سره لدې دروازې پرته په نورو دروازو کې هم برخوال دي، نو قسم دې وي په هغه ذات چې د محمد نفس د هغه په لاس کې دی چې د جنت له - دروازو - څخه د یوې دروازې دوو پلو تر منځه دومره پراخوالی دی لکه څومره چې د مکې او هجر تر منځه دی او یا لکه څومره چې د مکې او بُصْرَى تر منځه دی». بخاري (3340)، او مسلم (194) روایت کړی دی. او له جملې څخه یې د أنس بن مالک - رضي الله عنه - حدیث دی فرمایي چې: نبي کریم صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «أَنَا أَوَّلُ شَفِيعٍ فِي الْجَنَّةِ، لَمْ يُصَدَّقْ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ مَا صُدِّقْتُ، وَإِنَّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ نَبِيًّا مَا يُصَدِّقُهُ مِنْ أُمَّتِهِ إِلَّا رَجُلٌ وَاحِدٌ». «زه لومړی شفاعت کوونکی یم په جنت کې، څومره چې زه رښتینی ګڼل شوی یم زما په اندازه بل هیڅ نبي - دومره - رښتینی ندی ګڼل شوی، او یقینا له أنبیاوو څخه یو نبي دی چې له خپل امت څخه یې یوازې یو سړي تصدیق کړی و». مسلم (196)، او دارمي(52) روایت کړی دی. او پیغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمایلي دي: «لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ قَدْ دَعَا بِهَا فَاسْتُجِيبَ، فَجَعَلْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي يَوْمَ القِيَامَةِ»، «د هر نبي لپاره یوه دعا ده چې په هغې سره یې دعا کړې ده نو ورته قبول شوې ده، نو ما د خپل امت لپاره د قیامت په ورځ شفاعت دعا ګرځولې ده»، بخاري (6305) روایت کړی دی. او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ يَدْعُو بِهَا، وَأُرِيدُ أَنْ أَخْتَبِئَ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي فِي الآخِرَةِ». "د هر پیغمبر لپاره یوه دعا ده چې قبلیږي، نو هغه پرې دعا کوي او زه غواړم چې زما دعا د خپل امت د شفاعت لپاره پټه وساتم". بخاري (6304)، مسلم (199)، ترمذي (3602)، او ابن ماجه (4307) روایت کړی دی. او مونږ ایمان لرو لکه څرنګه چې الله تعالى زمونږ نبي محمد - صلى الله عليه وسلم - ته په شفاعت کولو سره عزت ورکړی دی، نو همدارنګه أنبیاوو، پرښتو و مؤمنانو ته یې هم عزت ورکړی دی، له أبو سعید الخدري - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «...فيقول الله عز وجل: شفعت الملائكة، وشفع النبيون، وشفع المؤمنون، ولم يبق إلا أرحم الراحمين، فيقبض قبضة من النار، فيخرج منها قومًا لم يعملوا خيرًا قط». «... نو الله - تعالى - به وفرمایي: ملاېکو شفاعت وکړ، أنبیاوو شفاعت وکړ، مؤمنانو شفاعت وکړ، او ندی پاتې مګر أرحم الراحمين ذات، نو له اور څخه به یوه قبضه ( موټی) راواخلي، نو له دوی څخه به داسې یو قوم هم راووځي چې هیڅکله یې د خیر کار ندی کړی». بخاري (۷۴۳۹) او مسلم (۱۸۳) روایت کړی دی.

## )بـــاب العرض والحساب وتوزيع الصحف (باب دې په بيان د عرض )د اعمالو وړاندې کېدل(،او حساب او د عملنامو د وېش په اړه.

او مونږ ايمان لرو چې هر انسان ته يې عملنامه ورکول کيږي، نو ځينی به خپلې عملنامې لره په ښي اخيستونکي وي، حق ذات فرمايلي دي، او وينا يې حق ده:

﴿فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقْرَءُواْ كِتَٰبِيَهْ ۝١٩﴾ [الحاقة: 19]

(نو هر چې هغه څوك دی چې هغه ته خپل كتاب (عمل نامه) د ده په ښي لاس كې وركړې شوه، نو دی به وايي: چې واخلئ! زما عمل نامه ولولئ). [الحاقة سورت: 19 آيت].

او اخيستونکی خپلې عملنامې لره په چپ لاس سره، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ فَيَقُولُ يَٰلَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَٰبِيَهْ ۝٢٥﴾ [الحاقة: 25]

(او هر چې هغه كس دی چې ده ته خپل كتاب د ده په چپ لاس كې وركړی شي، نو دی به وايي: ای كاشكې ما ته زما كتاب (عمل نامه) نه وی راكړی شوې). [الحاقة سورت : 25 آيت]، او يا به يې د شا لخوا واخلي، الله عزوجل - فرمايلي دي:

﴿وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ ۝١٠﴾ [الانشقاق: 10]

(او هر چې هغه څوك دی چې هغه ته خپل كتاب (عمل نامه) له خپلې شا نه وروسته وركړی شي). [الانشقاق سورت: 10 آيت]،

او ورته به وويل شي:

﴿ٱقْرَأْ كِتَٰبَكَ كَفَىٰ بِنَفْسِكَ ٱلْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا ۝١٤﴾ [الإسراء: 14]

(ته خپل كتاب ولوله، نن ورځ ستا په خلاف هم ستا خپل نفس كافي دی، حساب كوونكی). [الإسراء سورت: 14 آيت]،

حق ذات فرمايلي دي:

﴿وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحۡصَىٰهَاۚ وَوَجَدُواْ مَا عَمِلُواْ حَاضِرٗاۗ وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ أَحَدٗا ٤٩﴾ [الکهف: 49]

(او کتاب به کېښودل شي، نو ته به مجرمان ويني چې له هغه څه نه به وېرېدونکي وي چې په ده کې دي او وايي به: ای زمونږ هلاکته! د دې کتاب (عملنامې) څه حال دی چې نه وړه (ګناه) پرېږدي او نه غټه مګر هغه (هره يوه) يې حساب کړې ده او دوی به خپل ترسره کړي عملونه حاضر ومومي، او ستا رب پر هيڅا ظلم نه کوي). [الکهف سورت: 49 آيت].

او مونږ - الله تعالی ته د بندګانو - په وړاندې کېدلو ايمان لرو، حق ذات فرمايلي دي او وينا يې حق ده:

﴿يَوۡمَئِذٖ تُعۡرَضُونَ لَا تَخۡفَىٰ مِنكُمۡ خَافِيَةٞ ١٨﴾ [الحاقة: 18]

(په دغې ورځ کې به تاسو وړاندې کولی شئ، ستاسو له پټو (عملونو) نه به هېڅ (شی) پټ پاتې نشي]. [الحاقة سورت: 18 آيت]،

او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَعُرِضُواْ عَلَىٰ رَبِّكَ صَفّٗا لَّقَدۡ جِئۡتُمُونَا كَمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةِۭۚ بَلۡ زَعَمۡتُمۡ أَلَّن نَّجۡعَلَ لَكُم مَّوۡعِدٗا ٤٨﴾ [الکهف: 48]

(او دوی به خپل رب ته قطار قطار وړاندې کړی شي (او وبه ويل شي:) يقينًا يقينًا تاسو مونږ ته داسې (لغړ او يوازې) راغلئ لکه چې مونږ تاسو په ړومبي ځل پيدا کړي وئ، بلکې تاسو دا ګڼله چې مونږ به ستاسو لپاره له سره کوم ميعاد مقرر نه کړو). [الکهف سورت: 48 آيت]

. او له عدي بن حاتم څخه روايت دی فرمايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «مَا مِنْكُمْ أَحَدٌ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ، فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ مِنْ عَمَلِهِ، وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ، وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَا يَرَى إِلَّا النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ، فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ». «نشته دی هيڅوک ستاسو څخه مګر دا چې د هغه رب به له هغه سره خبرې وکړي پداسې حال کې چې د ده او د هغه تر منځه به هيڅ ترجمان نه وي، نو خپل ښي اړخ ته به وګوري، نو هيڅ به نه ګوري پرته له هغه عمل څخه چې وړاندې يې کړی دی او خپل چپ اړخ ته به وګوري نو هيڅ به ونه ګوري مګر

هغه عمل چې وړاندې یې کړی دی، او خپلې مخې ته به وګوري نو نه به ګوري مګر اور، نو له اور څخه ځان وژغورئ که څه هم په نیمې خرما سره وي». بخاري (6539)، او مسلم (1016) روایت کړی دی. او مونږ په حساب ایمان لرو، او دا چې الله به د خپلو بندګانو سره حساب کوي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّ إِلَيۡنَآ إِيَابَهُمۡ ٢٥ ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا حِسَابَهُم ٢٦﴾ [الغاشية: 25-26]

{إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُم * (بېشکه خاص مونږ ته د دوی بېرته راتګ دی. ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم} بیا یقینًا د دوی حساب زمونږ په غاړه دی). [الغاشية سورت: 25، 26 آیتونه]،

نو چا چې خیر وموندہ، نو د الله ستاینه دې وکړي، او چا چې لدې پرته بل څه وموندل، نو یوازې خپل نفس دې ملامته کړي، لکه څرنګه چې پدې سره له پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - څخه صحیح روایت راغلی دی: «...يَا عِبَادِي إِنَّمَا هِيَ أَعْمَالُكُمْ أُحْصِيهَا لَكُمْ، ثُمَّ أُوَفِّيكُمْ إِيَّاهَا، فَمَنْ وَجَدَ خَيْرًا، فَلْيَحْمَدِ اللهَ وَمَنْ وَجَدَ غَيْرَ ذَلِكَ، فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ». «...ای زما بنده ګانو، یقینا چې دغه ستاسو عملونه دي زه یې تاسو ته شمېرم، بیا یې تاسو ته درسپارم، نو چا چې خیر وموند، نو د الله ستاینه دې ادا کړي، او چا چې لدې پرته بل څه وموندل، نو یوازې خپل نفس دې ملامت کړي». مسلم (2577) روایت کړی دی. او هغه سپېڅلی ذات تېز حساب کوونکی دی، الله تعالی فرمایلي: ﴿ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡۚ لَا ظُلۡمَ ٱلۡيَوۡمَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ١٧﴾ [غافر: 17]

(نن ورځ به هر نفس ته د هغه د کړي عمل بدله ورکړی شي، نن ورځ ظلم بېخي نشته، بېشکه الله ډېر ژر حساب کوونکی دی). [غافر سورت: 17 آیت].

او مونږ ایمان لرو چې ځینې مؤمنان به له حساب پرته جنت ته داخلیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «يَدْخُلُ مِنْ أُمَّتِي الْجَنَّةَ سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ....». «زما له أمت څخه به اویا زره نفر له حساب پرته جنت ته داخلیږي...». بخاري (5811)، او مسلم (216) روایت کړی دی او دا لفظ د همده دی. او د الله - جل جلاله - حساب له خپلو بندګانو سره بېلا بېلې مرتبې او جلا جلا حالتونه لري، په بنده ګانو کې به له ځینو سره سخت حساب وشي او له ځینو نورو سره به آسان حساب وشي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ٧ فَسَوۡفَ يُحَاسَبُ حِسَابٗا يَسِيرٗا ٨﴾ [الانشقاق: 7-8]

{فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِه * (نو هر چې هغه څوك دى چې هغه ته خپل كتاب (عمل نامه) په ښي لاس كې وركړى شي. فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا} نو ژر ده چې له ده سره به حساب وكړى شي، ډېر اسان حساب). [الانشقاق سورت: 7، 8 آيتونه]

. او له عائشې - رضي الله عنها - څخه روايت دى، چې نبي - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «لَيْسَ أَحَدٌ يُحَاسَبُ يَوْمَ القِيَامَةِ إِلَّا هَلَكَ». «له هيچا سره به د قيامت په ورځ حساب نه كيږي مګر دا چې هغه به هلاک شي». بخاري (6537)، او مسلم (2876) روايت كړى دى. فقلت: يا رسول الله، أليس قد قال الله تعالى: نو ما وويل: اى د الله رسوله! آيا الله - تعالى - ندي فرمايلي: ﴿فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ۝٧ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ۝٨﴾ [الانشقاق: 7-8]

{فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِه * (نو هر چې هغه څوك دى چې هغه ته خپل كتاب (عمل نامه) په ښي لاس كې وركړى شي. فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا}؟ نو ژر ده چې له ده سره به حساب وكړى شي، ډېر اسان حساب). [الانشقاق سورت: 7، 8 آيتونه]

، نو رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وفرمايل: «إِنَّمَا ذَلِكِ العَرْضُ، وَلَيْسَ أَحَدٌ يُنَاقَشُ الحِسَابَ يَوْمَ القِيَامَةِ إِلَّا عُذِّبَ». «يقينا دا پيش كېدل دي(الله به ورته ووايي چې دا ګناه دې كړې دا فلانۍ ګناه دې كړې درته مې و بخښله )او هيڅوک داسې نشته چې د قيامت په ورځ ورسره بحث وشي مګر دا چې عذاب به وركړل شي». بخاري (6537) روايت كړى . او په هغه ورځ به له هيچا سره ظلم ونه شي، الله تعالى فرمايلي:

﴿وَٱتَّقُواْ يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى ٱللَّهِۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ۝٢٨١﴾ [البقرة: 281]

(او تاسو له هغې ورځې نه ووېرېږئ چې په هغې كې به تاسو الله ته بېرته وركرځول كيږئ، بيا به هر نفس ته پوره پوره وركړى شي بدله د هغه عمل چې ده كړى دى، او پر دوى به ظلم ونه كړى شي). [البقرة سورت: 281 آيت].

او له امتونو څخه لومړى امت چې حساب به ورسره كيږي هغه د محمد - صلى الله عليه وسلم - امت دى؛ دليل يې د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - دا وينا ده: «... نَحْنُ الْآخِرُونَ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا، وَالْأَوَّلُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، الْمَقْضِيُّ لَهُمْ قَبْلَ الْخَلَائِقِ». «... مونږ د دنيا وروستي خلک يو، په قيامت كې تر ټولو لومړي، هغوى چې له ټولو مخلوقاتو څخه به مخكې ورته فيصله كيږي». مسلم (856) روايت كړى دى. او لومړى هغه څه چې د خلكو تر منځه به فيصله كيږي، د وينو قضيې دي؛ دليل يې د نبي - صلى الله عليه وسلم

- دا وينا ده: «أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي الدِّمَاءِ». "د قيامت په ورځ به د خلکو تر منځه لومړۍ فيصله د وينو په اړه وي". بخاري (6864)، او مسلم (1678) روايت کړی دی. او مونږ ايمان لرو چې پدغه ورځ به ګواهان راوستل شي، نو پرښتې به ګواهي ورکړي او ځمکه به ګواهي ورکړي په هغه عملونو چې بنده ګانو پرې کړي دي، او د بدن غړي به ګواهي ورکړي، الله تعالى فرمايلي:

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ ٥١﴾ [غافر: 51]

(بېشکه مونږ خامخا د خپلو رسولانو او د هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی، په دنيايي ژوند کې مدد کوو او په هغې ورځ کې (هم) چې ګواهان به ودرېږي). [غافر سورت: 51 آيت]، حق ذات فرمايلي دي:

﴿وَأَشۡرَقَتِ ٱلۡأَرۡضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ وَجِاْيٓءَ بِٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ٦٩﴾ [الزمر: 69]

(او ځمکه به د خپل رب په نور سره روښانه شي او کتاب (عمل نامه) به کېښودل شي او نبيان او شاهدان به راوستل شي او د دوی په مينځ کې به په حق (او انصاف) سره فيصله وکړی شي، په داسې حال کې چې په دوی به هېڅ ظلم ونه کړی شي). [الزمر سورت: 69 آيت]،

الله تعالى فرمايلي دي:

﴿يَوۡمَئِذٖ تُحَدِّثُ أَخۡبَارَهَا ٤﴾ [الزلزلة: 4]

(په دغې ورځې کې به دا ځمکه خپلې خبرې (حالات) بيانوي). [الزلزله سورت: 4 آيت]،

او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿ٱلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلَىٰٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَتُكَلِّمُنَآ أَيۡدِيهِمۡ وَتَشۡهَدُ أَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٦٥﴾ [يس: 65]

(نن ورځ به مونږ د دوی په خولو مهر ولګوو او زمونږ سره به د دوی لاسونه خبرې کوي او د دوی پښې به ګواهي کوي په هغو کارونو چې دوی به کول). [يس سورت: 65 آيت].

او په «الصحيح» کې د أبو هريرة - رضي الله عنه - په حديث کې پر بنده ګانو د بدن د غړو د شاهدۍ ورکولو يادونه شوې ده، او په هغه کې راځي: «...ثُمَّ يُقَالُ لَهُ: الْآنَ نَبْعَثُ

شَاهِدَنَا عَلَيْكَ، وَيَتَفَكَّرُ فِي نَفْسِهِ: مَنْ ذَا الَّذِي يَشْهَدُ عَلَيَّ؟ فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ، وَيُقَالُ لِفَخِذِهِ وَلَحْمِهِ وَعِظَامِهِ: انْطِقِي، فَتَنْطِقُ فَخِذُهُ وَلَحْمُهُ وَعِظَامُهُ بِعَمَلِهِ، وَذَلِكَ لِيُعْذِرَ مِنْ نَفْسِهِ، وَذَلِكَ الْمُنَافِقُ، وَذَلِكَ الَّذِي يَسْخَطُ اللهُ عَلَيْهِ». «... بيا به ورته وويل شي: اوس به پر تا باندي مونږ خپل شاهد راولیږو، نو له ځان سره به فکر کوي چې: دا به څوک وي چې پر ما شاهدي وايي؟ نو په خوله به یې مهر ولږیږي، او ورون، غوښې او هډوکي ته به یې وویل شي: خبرې وکړه، نو ورون، غوښه او هډوکي به یې د هغه د کړنو په اړه خبرې وکړي، دا د دې لپاره چې پر ځان ورته عذر پاتې نه شي، او دا منافق دی، او همدا نفر دی چې الله به پرې غصه وي». مسلم (2968) روایت کړی دی. وعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَضَحِكَ، فَقَالَ: «هَلْ تَدْرُونَ مِمَّ أَضْحَكُ؟» قَالَ: قُلْنَا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «مِنْ مُخَاطَبَةِ الْعَبْدِ رَبَّهُ، يَقُولُ: يَا رَبِّ، أَلَمْ تُجِرْنِي مِنَ الظُّلْمِ؟ قَالَ: يَقُولُ: بَلَى، قَالَ: فَيَقُولُ: فَإِنِّي لَا أُجِيزُ عَلَى نَفْسِي إِلَّا شَاهِدًا مِنِّي، قَالَ: فَيَقُولُ: كَفَى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ شَهِيدًا، وَبِالْكِرَامِ الْكَاتِبِينَ شُهُودًا، قَالَ: فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ، فَيُقَالُ لِأَرْكَانِهِ: انْطِقِي، قَالَ: فَتَنْطِقُ بِأَعْمَالِهِ، قَالَ: ثُمَّ يُخَلَّى بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَلَامِ، قَالَ: فَيَقُولُ: بُعْدًا لَكُنَّ وَسُحْقًا، فَعَنْكُنَّ كُنْتُ أُنَاضِلُ». او له أنس بن ما لک څخه روایت دی وایي: مونږ له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - سره وو نو هغه وخندل او ویې ویل: "آیا تاسو پوهیږئ چې زه په څه خاندم؟" وایي: مونږ وویل: چې الله او د هغه رسول ښه پوهیږي، فرمایي:بنده ته د خپل رب د خطاب له امله:، بنده به وایي: ای ربه، آیا له ظلم څخه دې نه یم ساتلی؟ وایي: وبه وایي: هو، وایي: نو ورته به ووایي: زه په خپل ځان پرته له خپل ځان څخه بل ګواه ته اجازه نه ورکوم، وایي: نو ورته به ووایي: نن ورځ ستا نفس په خپله په تاباندې د ګواهۍ لپاره بسنه کوي، او د کرام الکاتبین ګواهان، وایي: نو په خوله باندې به یې مهر ولګیږي، د بدن غړو ته به یې وویل شي، خبرې وکړئ، وایي: نو د ده په کړنو به ګواهي ورکړي، وایي: بیا د ده او د خبرو تر منځ پرېښودل شي، وایي: نو وبه وایي: ورک شئ او برباد شئ، ستاسو څخه مې دفاع کوله». مسلم (2969) روایت کړی دی.

## )بـــاب الإيمان بالـموازين (باب دی په بیان د ایمان کې په تلو باندې.

او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی د بنده ګانو د عملونو د تللو لپاره د انصاف تلې ږدي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَنَضَعُ ٱلۡمَوَٰزِينَ ٱلۡقِسۡطَ لِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَلَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗاۖ وَإِن كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٍ أَتَيۡنَا بِهَاۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ٤٧﴾ [الأنبياء: 47]

(او د قیامت په ورځ به مونږ ډېر د انصاف تلي کیږدو، نو په هېڅ نفس باندې به هېڅ شی ظلم ونه کړی شي او که دا (عمل) د اوړي د دانې په وزن وي مونږ به هغه راوړو او هم مونږ حساب کوونکي بس یو). [الأنبیاء سورت: 47 آیت]

، او الله - تعالی - فرمایلي دي:

﴿وَٱلۡوَزۡنُ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡحَقُّۚ فَمَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٨ وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُم بِمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَظۡلِمُونَ ٩﴾ [الأعراف: 8-9]

(او په دغه ورځ (د عملونو) تول ښېخي حق دی، نو هغه څوك چې تلي (دنیکی) یې درندې وختلې، نو همدغه خلك كامیاب دي. او هغه څوك چې تلي (د نیکی) یې سپکې شوی، نو دا هغه خلك دي چې ځانونه یې زیانمن کړي یدی، په سبب د دې چې همیشه به یې زمونږ په آیتونو ظلم کاوه). [الأعراف سورت: 8، 9 آیتونه]

، دا حقیقي تله ده چې دوه پلې او یوه ژبه لري چې په هغه سره د بندګانو اعمال تلل کیږي. او مونږ پر دې ایمان لرو چې عملونه په تله کې ایښودل کیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي المِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ، سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ العَظِيمِ». "دوه کلمې چې په ژبه سپکې، په تله کې درندې، رحمن ته محبوبې دي: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللهِ العَظِيمِ دي". بخاري (6682)، مسلم (2694)، ترمذي (3467) او ابن ماجه (3806) روایت کړی دی. او همدا رنګه رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ...». «پاکوالی د ایمان یوه برخه ده، او الحمد لله د اعمالو تله ډکوي...». مسلم (223)، ترمذي (3517)، نسائی (2437) او ابن ماجه (280) روایت کړی دی. او مونږ پوهیږو چې عمل کوونکی د خپل عمل سره یو ځای په تله کې ایښودل کیږي، له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: د قیامت په ورځ به یو لوی چاغ سړی راشي، چې د الله تعالی په نزد به د ماشي د وزر په اندازه وزن نه لري، او ویې فرمایل: ولولئ:

﴿... فَلَا نُقِيمُ لَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَزۡنٗا ١٠٥﴾ [الكهف: 105]

،(نو د قیامت په ورځ به مونږ د دوی لپاره هېڅ وزن ونه دروو (هېڅ حیثیت به ورنکړو) [الكهف: 105]

. (بخاري (۴۷۲۹) او مسلم (۲۷۸۵) روایت کړی دی. همدا رنګه په تلو کي عملنامې کېښودل کيږي، لکه څرنګه چې پر دې د بطاقې ( کارت ) حدیث دلالت کړی دی. ترمذي (2639)، ابن ماجه (4300)، ابن المبارک په المسند (100) او الزهد (109/2) کې او احمد (6994) کې روایت کړی دی.

## )بــاب الإيمان بالحوض (باب دی په حوض باندې د ایمان په باره کې

او مونږ ایمان لرو چې زمونږ رسول محمد - صلى الله علیه وسلم - لره یو حوض دی چې امت به ورته ورځي، الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ۝١﴾ [الكوثر: 1]

(بېشکه مونږ تا ته کوثر درکړی). [الكوثر سورت: 1 آیت].

وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: بَيْنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم ذَاتَ يَوْمٍ بَيْنَ أَظْهُرِنَا إِذْ أَغْفَى إِغْفَاءَةً ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مُتَبَسِّمًا، فَقُلْنَا: مَا أَضْحَكَكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «أُنْزِلَتْ عَلَيَّ آنِفًا سُورَةٌ» فَقَرَأَ: «بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِثُمَّ قَالَ: «أَتَدْرُونَ مَا الْكَوْثَرُ؟» فَقُلْنَا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: «فَإِنَّهُ نَهْرٌ وَعَدَنِيهِ رَبِّي عز وجل، عَلَيْهِ خَيْرٌ كَثِيرٌ، هُوَ حَوْضٌ تَرِدُ عَلَيْهِ أُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ، آنِيَتُهُ عَدَدُ النُّجُومِ، فَيُخْتَلَجُ الْعَبْدُ مِنْهُمْ، فَأَقُولُ: رَبِّ، إِنَّهُ مِنْ أُمَّتِي فَيَقُولُ: مَا تَدْرِي مَا أَحْدَثَتْ بَعْدَكَ». او له أنس - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمايي چې: یوه ورځ رسول الله - صلى الله علیه وسلم - زمونږ تر منځه و چې ناڅاپه د یوې لحظې لپاره خوبه وړی شو، بیا یې سر راپورته کړ پداسې حال کې چې مسکا یې کوله، نو مونږ وويل: څه شي وخندولې ای د الله رسوله، ويې فرمایل: « لږ وړاندې راباندې یو سورت نازل شو » بیا یې ولوست: «بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ {إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَر * فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَر * إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الأَبْتَرِ} [الكوثر: 1-3]» پيل کوم په نوم د الله چې خورا زيات رحم کوونکی او مهربان دی، بېشکه مونږ تا ته کوثر درکړی دی، نو ته د خپل رب لپاره لمونځ کوه او قرباني کوه، بېشکه ستا دښمن هم هغه بې بنیاده (او لاولده) دی). بیا یې وويل:آیا پوهيږئ چې کوثر څه شی دی؟ نو مونږ وويل: الله او رسول یې ښه پوهيږي، فرمايي: « هغه یو نهر دی چې ماسره مې رب د هغه وعده کړې ده، په هغې باندې لوی خیر دی، هغه یو

حوض دی چې د قیامت په ورځ پرې زما امت راځي، لوښي یې د ستورو د شمېر په اندازه دي، نو د دوی ( زما د امتیانو ) له منځه به یو سړی وویستل شي او لرې به وشړل شي، نو زه به ووایم: ای رب، هغه زما له امت څخه دی، نو هغه به ووایي: ته نه پوهیږې چې -ستا امت- ستا څخه وروسته څومره بدلون کړی دی». مسلم (400) روایت کړی دی. او رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «حَوْضِي مَسِيرَةُ شَهْرٍ، مَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ، وَرِيحُهُ أَطْيَبُ مِنَ المِسْكِ، وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ، مَنْ شَرِبَ مِنْهَا فَلَا يَظْمَأُ أَبَدًا». «زما د حوض ( اوږدوالی ) د یوې میاشتې د مزل په اندازه دی، اوبه یې له شېدو سپینې دي، بوی یې له مشکو څخه ښایسته دی او جامونه یې لکه د آسمان ستوري دي، چا چې ترې یو ځل څښاک وکړ نو هیڅکله به تږی نه شي». بخاري (6579) او مسلم (2292) روایت کړی دی. او رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «إِنَّ حَوْضِي أَبْعَدُ مِنْ أَيْلَةَ مِنْ عَدَنٍ، لَهُوَ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ الثَّلْجِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ بِاللَّبَنِ، وَلَآنِيَتُهُ أَكْثَرُ مِنْ عَدَدِ النُّجُومِ، وَإِنِّي لَأَصُدُّ النَّاسَ عَنْهُ، كَمَا يَصُدُّ الرَّجُلُ إِبِلَ النَّاسِ عَنْ حَوْضِهِ». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، أَتَعْرِفُنَا يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: «نَعَمْ، لَكُمْ سِيمَا لَيْسَتْ لِأَحَدٍ مِنَ الْأُمَمِ، تَرِدُونَ عَلَيَّ غُرًّا، مُحَجَّلِينَ مِنْ أَثَرِ الْوُضُوءِ». «یقینا زما د حوض - د دوو څنډو تر منځه - لرې والی دومره دی لکه څومره چې ایله له عدن څخه لیرې ده، یقینا چې له واورې څخه زیات سپین، له شهدو څخه چې شېده ورسره وي زیات خوږ دی، او لوښي یې د آسمان له ستورو څخه زیات دي او زه به ترې نه خلک داسې منع کوم لکه څرنګه چې یو سړی د خلکو اوښان له خپل حوض څخه منع کوي». هغوی وویل: ای د الله رسوله، آیا په هغه ورځ مو ته پېژنې؟ ویې ویيل: « هو، تاسو داسې نخښې لرئ چې هیڅ یو امت یې نه لري، تاسې به پر ما پداسې حال کې راځئ چې د اودس له امله به مو غړي رڼا کوي». مسلم (247) روایت کړی دی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «بَيْنَا أَنَا قَائِمٌ إِذَا زُمْرَةٌ، حَتَّى إِذَا عَرَفْتُهُمْ خَرَجَ رَجُلٌ مِنْ بَيْنِي وَبَيْنِهِمْ، فَقَالَ: هَلُمَّ، فَقُلْتُ: أَيْنَ؟ قَالَ: إِلَى النَّارِ وَاللَّهِ، قُلْتُ: وَمَا شَأْنُهُمْ؟ قَالَ: إِنَّهُمُ ارْتَدُّوا بَعْدَكَ عَلَى أَدْبَارِهِمِ القَهْقَرَى. ثُمَّ إِذَا زُمْرَةٌ، حَتَّى إِذَا عَرَفْتُهُمْ خَرَجَ رَجُلٌ مِنْ بَيْنِي وَبَيْنِهِمْ، فَقَالَ: هَلُمَّ، قُلْتُ: أَيْنَ؟ قَالَ: إِلَى النَّارِ وَاللَّهِ، قُلْتُ: مَا شَأْنُهُمْ؟ قَالَ: إِنَّهُمُ ارْتَدُّوا بَعْدَكَ عَلَى أَدْبَارِهِمِ القَهْقَرَى، فَلَا أُرَاهُ يَخْلُصُ مِنْهُمْ إِلَّا مِثْلُ هَمَلِ النَّعَمِ». «پداسې حال کې چې زه به ولاړ یم یوه ډله به - راشي - تر دې چې زه یې وپېژنم نو زما او د هغوی تر منځه به یو سړی راووځي (چې اصلا به ملاېکه وي) نو وبه وایي: راځئ، نو زه به ووایم: چېرته ؟ - یعنې دوی چېرته بوځې؟ وایي به : په الله قسم چې اور ته یې بوځم، ما وویل: څه حال دی د دوی ( یعنې ولې څه یې کړې دي) وایي به چې : دوی ستا څخه وروسته په شاتګ کړی او مرتد شوي وو. بیا به یوه بله ډله وګورم، تر دې چې ویې پېژنم نو زما او د دوی تر منځه به یو سړی راووځي ، نو وبه وایي: راځئ، ما وویل:

چېرته ؟ وايي به : په الله قسم دی چې اور ته يې بوځم، زه به ووايم: د دوی څه حال دی يعنې ولې څه يې کړي دي؟ وايي به: يقينا دوی ستا څخه وروسته مرتد شوي دي او په شا تګ يې کړی دی، نو زه ګمان نه کوم چې لدوی څخه به ترې څوک خلاص شي مګر په دومره اندازه - خلک - لکه د حيواناتو له ټولګي څخه چې يو يې لرې پاتې شوی وي». بخاري (6587) روايت کړی دی. او له أنس بن مالک - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي: کله چې پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - آسمان ته وخيژول شو ويې فرمايل: «أتيت على نهرٍ حافَّتاهُ قبابُ اللؤلؤ المجوَّف، فقلتُ: ما هذا يا جبريلُ؟ قال: هذا الكوثر». «زه په يو نهر باندې راغلم چې دواړه غاړې يې له لعلونو او ګوهرو سينګار شوې ګنبدې وې، ما وويل: ای جبرائيله دا څه شی دی؟ هغه وويل: دا کوثر دی». بخاري (4964) روايت کړی دی.

## )باب الصراط والجزاء (باب دی په باره د پل صراط او سزا کې

او مونږ ايمان لرو چې د صراط پل به په جهنم وهل کيږي، او هغه سخت خويه دی، بنده ګان به پرې د خپلو عملونو په اندازه تيريږي، او په هغه باندې د مارکونډې د غنو (خار خسک) په څېر تېرې کونډې دي، نو خلک به پرې د هغوی عملونو ته په ليدو پرې تېز تيريږي، او لومړی هغه کس چې د صراط له پل څخه به تېريږي هغه زمونږ نبي صلى الله عليه وسلم دی، له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي چې: رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «...يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ القِيَامَةِ، فَيَقُولُ: مَنْ كَانَ يَعْبُدُ شَيْئًا فَلْيَتَّبِعْ، فَمِنْهُمْ مَنْ يَتَّبِعُ الشَّمْسَ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَتَّبِعُ القَمَرَ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَتَّبِعُ الطَّوَاغِيتَ، وَتَبْقَى هَذِهِ الأُمَّةُ فِيهَا مُنَافِقُوهَا، فَيَأْتِيهِمُ اللَّهُ فَيَقُولُ: أَنَا رَبُّكُمْ، فَيَقُولُونَ: هَذَا مَكَانُنَا حَتَّى يَأْتِيَنَا رَبُّنَا، فَإِذَا جَاءَ رَبُّنَا عَرَفْنَاهُ، فَيَأْتِيهِمُ اللَّهُ فَيَقُولُ: أَنَا رَبُّكُمْ، فَيَقُولُونَ: أَنْتَ رَبُّنَا، فَيَدْعُوهُمْ، فَيُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ جَهَنَّمَ، فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يَجُوزُ مِنَ الرُّسُلِ بِأُمَّتِهِ، وَلاَ يَتَكَلَّمُ يَوْمَئِذٍ أَحَدٌ إِلَّا الرُّسُلُ، وَكَلاَمُ الرُّسُلِ يَوْمَئِذٍ : اللَّهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ». «خلک به د قيامت په ورځ راپاځيږي، نو وبه وايي: چا چې د هر شي عبادت کاوه د هغه پيروي دې وکړي، نو لدوی څخه به ځينې د لمر پيروي وکړي، او لدوی څخه به ځينې د سپوږمۍ پيروي وکړي، او لدوی څخه به ځينې د شيطانانو پيروي وکړي او دا امت به پاتې شي چې پدې کې به يې منافقان هم وي، نو الله تعالى به ورته راشي ورته به ووايي: زه ستاسو رب يم، نو هغوی به ووايي: مونږ به په همدې ځای کې يو تر څو مونږ ته زمونږ رب راشي، نو کله چې زمونږ رب راشي مونږ يې پيژنو، نو الله تعالى به ورته راشي، نو وبه وايي: زه ستاسو رب يم، هغوی به ورته ووايي: ته زمونږ رب يې، نو هغوی به يې راوبلي، نو د

جهنم پر ملا به پل ووهل شي، نو زه به لومړی هغه کس یم چې له پیغمبرانو څخه خپل امت له صراط څخه تیروي، او په دغه ورځ به له پیغمبرانو پرته نور هیڅوک خبرې نه کوي، او د پیغمبرانو وینا به په دغه ورځ دا وي: اللهم سلم سلم. ای الله ومو ساتې وموساتې». بخاري (806)، مسلم (182)، ابوداود (4730)، ترمذي (2554) او ابن ماجه (178) روایت کړی دی. او له أبو سعيد الخدري - رضي الله عنه څخه روایت دی فرمايي: «...ثُمَّ يُؤْتَى بِالْجَسْرِ فَيُجْعَلُ بَيْنَ ظَهْرَيْ جَهَنَّم»، قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا الجَسْرُ؟ قَالَ: «مَدْحَضَةٌ مَزِلَّةٌ، عَلَيْهِ خَطَاطِيفُ وَكَلاَلِيبُ، وَحَسَكَةٌ مُفَلْطَحَةٌ لَهَا شَوْكَةٌ عُقَيْفَاءُ، تَكُونُ بِنَجْدٍ، يُقَالُ لَهَا: السَّعْدَانُ، المُؤْمِنُ عَلَيْهَا كَالطَّرْفِ وَكَالْبَرْقِ وَكَالرِّيحِ، وَكَأَجَاوِيدِ الخَيْلِ وَالرِّكَابِ، فَنَاجٍ مُسَلَّمٌ، وَنَاجٍ مَخْدُوشٌ، وَمَكْدُوسٌ فِي نَارِ جَهَنَّمَ، حَتَّى يَمُرَّ آخِرُهُمْ يُسْحَبُ سَحْبًا...». «بیا به پل راوړل شي نو د جهنم پر شا به ولګول شي، مونږ وویل: ای د الله رسوله: او پل څه شی دی؟ هغه وفرمایل: هغه چې ښويې پرې خوېږي، د پاسه پرې لکه د حیواناتو د پنجو په څېر کړې او کلک، لوی او کاږه اغزي دي چې - دا ډول اغزي - په نجد کې موندل کيږي او د سعدان اغزي ورته وييل کيږي، ځيني مؤمنان پرې د سترګو په رپ، او ځيني لکه د برښنا او ځيني لکه د باد او یا تکړه آسونو او سپرلیو په څېر تېرېږي، نو لدوی څخه ځيني وژغورل شي، او ځيني نجات مومي سره لدې چې راغورځيږي به او ځيني د جهنم په اور کې ورلویږي، تر دې چې وروستی یو یې تېر شي پداسې حال کې چې په ښیېدلو به ښېېږي». بخاري (7439) روایت کړی دی. او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «...وَفِي حَافَتَيِ الصِّرَاطِ كَلَالِيبُ مُعَلَّقَةٌ مَأْمُورَةٌ بِأَخْذِ مَنْ أُمِرَتْ بِهِ، فَمَخْدُوشٌ نَاجٍ، وَمَكْدُوسٌ فِي النَّارِ». «او د پل صراط په دواړو څندو کې کونډې بندې شوي دي، امر ورته شوی تر څو هغه کسان راونیسي چې د نیولو امر یې ورته شوی دی، نو ځيني هغه دي چې کونډې به یې زخمي کړي خو وبه ژغورل شي او ځيني هغه دي چې د شا لخوا به تېله ورکړل شي او په اور کې به وروغورځيږي». مسلم(195) روایت کړی دی. وعن أَبي الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنهما يُسْأَلُ عَنِ الْوُرُودِ، فَقَالَ: «نَجِيءُ نَحْنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَنْ كَذَا وَكَذَا، انْظُرْ أَيِ ذَلِكَ فَوْقَ النَّاسِ؟ قَالَ: فَتُدْعَى الْأُمَمُ بِأَوْثَانِهَا، وَمَا كَانَتْ تَعْبُدُ، الْأَوَّلُ فَالْأَوَّلُ، ثُمَّ يَأْتِينَا رَبُّنَا بَعْدَ ذَلِكَ، فَيَقُولُ: مَنْ تَنْظُرُونَ؟ فَيَقُولُونَ: نَنْظُرُ رَبَّنَا، فَيَقُولُ: أَنَا رَبُّكُمْ، فَيَقُولُونَ: حَتَّى نَنْظُرَ إِلَيْكَ، فَيَتَجَلَّى لَهُمْ يَضْحَكُ، قَالَ: فَيَنْطَلِقُ بِهِمْ وَيَتَّبِعُونَهُ، وَيُعْطَى كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْهُمْ مُنَافِقًا، أَوْ مُؤْمِنًا نُورًا، ثُمَّ يَتَّبِعُونَهُ وَعَلَى جِسْرِ جَهَنَّمَ كَلَالِيبُ وَحَسَكٌ، تَأْخُذُ مَنْ شَاءَ اللهُ، ثُمَّ يُطْفَأُ نُورُ الْمُنَافِقِينَ، ثُمَّ يَنْجُو الْمُؤْمِنُونَ...». او له أبو الزبير، څخه روایت دی چې هغه له جابر بن عبد الله - رضي الله عنهما - څخه اوریدلي دي؛ چې له هغه څخه جهنم ته د خلکو د ورتللو په اړه پوښتنه وشوه، نو هغه وفرمایل: «مونږ به د قیامت په ورځ له داسې او داسې ځای څخه راشو (یعنې د خلکو له

پاسه ځای څخه چې د نورو قومونو څخه پورته وي) ؟ وايي: نو امتونه به يې له بتانو او هغه څه سره يو له بل پسې يو ځای راوغوښتل شي چې دوی به يې عبادت کاوه،بيا به له هغه وروسته مونږ ته زمونږ رب راشي، نو وبه وايي: څوک ګورئ؟ دوی به ورته ووايي: مونږ خپل رب ګورو، نو وبه وايي: زه ستاسو رب يم، نو دوی به ورته ووايي: اجازه راکړه چې درته وګورو، نو د خندا په حال کې به ورته راښکاره شي، وايي: نو دوی لره به روان کړي او - تيول - به وروپسې شي، او هر انسان ته به رڼا ورکړل شي؛ منافق وي او که مؤمن، بيا به وروپسې شي او د جهنم د پل له پاسه کړی او اغزني کونډې دي، هغه څوک به پکې نخښلي چې الله ورته نخښتل غوښتي وي، بيا به د منافقانو رڼا مړه شي او مؤمنان به وژغورل شي...». مسلم روايت کړی دی (191). او کله چې مؤمنان له صراط څخه وژغورل شي، بيا به د جنت او اور تر منځه په قنطره کې دوی ايسار کړای شي، نو له أبو سعيد الخدري - رضي الله عنه - څخه روايت دی فرمايي چې: رسول الله - صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «يَخْلُصُ المؤْمِنُونَ مِنَ النَّارِ، فَيُحْبَسُونَ عَلَى قَنْطَرَةٍ بَيْنَ الجَنَّةِ وَالنَّارِ، فَيُقَصُّ لِبَعْضِهِمْ مِنْ بَعْضٍ مَظَالِمُ كَانَتْ بَيْنَهُمْ فِي الدُّنْيَا، حَتَّى إِذَا هُذِّبُوا وَنُقُّوا أُذِنَ لَهُمْ فِي دُخُولِ الجَنَّةِ، فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَأَحَدُهُمْ أَهْدَى بِمَنْزِلِهِ فِي الجَنَّةِ مِنْهُ بِمَنْزِلِهِ كَانَ فِي الدُّنْيَا». «مؤمنان به له اور څخه خلاص شي، نو په قنطره کې به ايسار کړای شي چې د جنت او اور تر منځه - ځای دی - نو دوی ته به يو له بل څخه د هغو ظلمونو قصاص واخستلی شي چې په دنيا کې د دوی تر منځه وو، تر دې چې کله ښه پاک او سوتره شي نو بيا به ورته جنت ته د ننوتلو اجازه ورکړای شي، نو قسم مې دې په هغه ذات وي چې د محمد نفس د هغه په لاس کې دی، چې يو له دوی څخه به په جنت کې خپل کور ته په ورتللو کې د دنيا له کور څخه زيات بلد وي». بخاري (6535) روايت کړی دی.

## )بـــاب الجنة والنار (باب دی د جنت او دوزخ په باره کې

او مونږ ايمان لرو چې جنت او دوزخ د بدلې ځای دی او د جنت او دوزخ د خلکو، د هغو د استوګنې ځای، ښناکونو، خوراکونو او جامو په اړه په قرآن کريم او سنت کې تفصيل راغلی دی.

او مونږ باور لرو چې دوی دواړه برحال پيدا شوي دي او دا چې ادم - عليه السلام - د ابديت په جنت کې و، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَيَـٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنۡ أَنتَ وَزَوۡجُكَ ٱلۡجَنَّةَ فَكُلَا مِنۡ حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٩﴾ [الأعراف: 19]

(او ای ادمه! ته او ستا ښځه په جنت کې اوسئ، نو تاسو خوراك کوئ له کوم ځای نه چې مو خوښه شي او دې ونې ته مه نږدې کېږئ (،ګنې) نو له ظالمانو نه به شئ). [الأعراف سورت: 19 آیت].

او له أبو هريرة -رضي الله عنه- څخه روایت دی چې نبي کریم -صلى الله عليه وسلم- فرمایلي دي: «احْتَجَّ آدَمُ وَمُوسَى، فَقَالَ لَهُ مُوسَى: يَا آدَمُ أَنْتَ أَبُونَا خَيَّبْتَنَا وَأَخْرَجْتَنَا مِنَ الجَنَّةِ، قَالَ لَهُ آدَمُ: يَا مُوسَى اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِكَلاَمِهِ، وَخَطَّ لَكَ بِيَدِهِ، أَتَلُومُنِي عَلَى أَمْرٍ قَدَّرَهُ اللَّهُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِي بِأَرْبَعِينَ سَنَةً؟ فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى، فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى» ثَلَاثًا. «موسی او آدم یو له بل سره دعوا وکړه، نو موسی ورته وویل: آی آدمه! ته زمونږ پلار یې، مونږ دې نا امیده کړو او له جنت څخه دې راوویستلو، آدم ورته وویل: ای موسی، ته الله په خپل کلام سره غوره کړی یې، او تورات یې درته په خپل لاس لیکلی، آیا ته ما په داسې یوه چاره کې ملامتوې چې زما له زیږیدو څخه څلوېښت کاله وړاندې الله پر ما مقدر کړې وه؟ نو په دلیل کې آدم پر موسی غالب شو، په دلیل کې آدم پر موسی غالب شو» درې ځلې. بخاري (۶۶۱۴)، مسلم (۲۶۵۲)، ابو داود (۴۷۰۱)، ترمذي (۲۱۳۴) او ابن ماجه (۸۰) روایت کړی دی. او جنت د ابدي نعمتونو کور دی، حق ذات فرمایلي دي:

﴿أُوْلَـٰٓئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغۡفِرَةٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَجَنَّـٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَنِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ١٣٦﴾ [آل عمران: 136]

(دغه کسان (چې دي) د دوی بدله د خپل رب له جانبه بخښنه ده او داسې جنتونه دي، چې د هغو له لاندې ویالې بهیږي، چې په هغو کې به دوی همېشه وي، او د (ښه) عمل کوونکو (لپاره) ښه اجر دی). [آل عمران سورت: 136 آیت].

او الله تعالی په جنت کې شته نعمتونو ته د هڅولو په موخه فرمایلي دي:

﴿فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٞ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٖ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٧﴾ [السجدة: 17]

(نو هېڅ یو نفس ته معلوم نه دي هغه څه چې د دوی لپاره پټ کړی شوي دي، د سترګو له یخوالي نه، لپاره د بدلې د هغو عملونو چې دوی به کول). [السجدة سورت: 17 آیت].

او مونږ ایمان لرو چې د جنت تر ټولو ستر نعمت په تلپاتې جنتونو کې د الله تعالی مخ ته لیدل دي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وُجُوهٌ يَوۡمَئِذٖ نَّاضِرَةٌ۝٢٢ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٞ۝٢٣﴾ [القيامة: 22-23]

{وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ * (څه مخونه (د مومنانو) به په دغه ورځ (د قیامت) ترو تازه وي. إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ} او خپل رب ته به کتونکي (دیدار کوونکي) وي). [القيامة سورت: 22، 23 آیتونه]

او فرمایلي يې دي:

﴿كَلَّآ إِنَّهُمۡ عَن رَّبِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّمَحۡجُوبُونَ۝١٥﴾ [المطففين: 15]

(داسې نه ده په کار، بېشکه دوی به په دغې ورځ کې له خپل رب نه یقینًا په حجاب (بند) کړی شوي وي). [المطففين سورت : 15 آیت]

او له صهیب الرومي -رضي الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمایلي دي: «إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، قَالَ: يَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ؟ فَيَقُولُونَ: أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا؟ أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ؟ قَالَ: فَيُكْشَفُ الْحِجَابُ، فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ عز وجل». «کله چې جنتیان جنت ته داخل شي، نو الله –تبارک وتعالی- به وفرمایي: ایا تاسو اضافه څه غواړئ چې زه يې درکړم؟ دوی به ووایي: آیا تا زمونږ مخونه سپین نه کړل؟ آیا تا مونږ دې جنت ته داخل نکړو، او له دوزخ څخه دې ونه ژغورلو؟ بیا به الله پرده لرې کړي، او دوی ته به د خپل رب –عزوجل- د کتلو څخه محبوب څیز بل نه وي ورکړ شوی». مسلم (181) روایت کړی دی. او مونږ ایمان لرو چې جنت مرتبې دی او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ته د جنتیانو د تر ټولو ټیټې او تر ټولو لوړې مرتبې په اړه خبر ورکول شوی دی، نور رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «سَأَلَ مُوسَى رَبَّهُ: مَا أَدْنَى أَهْلِ الجَنَّةِ مَنْزِلَةً؟ قَالَ: هُوَ رَجُلٌ يَجِيءُ بَعْدَ مَا أُدْخِلَ أَهْلُ الجَنَّةِ الجَنَّةَ، فَيُقَالُ لَهُ: ادْخُلِ الجَنَّةَ، فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ، كَيْفَ وَقَدْ نَزَلَ النَّاسُ مَنَازِلَهُم، وَأَخَذُوا أَخَذَاتِهِم، فَيُقَالُ لَهُ: أَتَرْضَى أَنْ يَكُونَ لَكَ مِثْلُ مُلْكِ مَلِكٍ مِنْ مُلُوكِ الدُّنْيَا؟ فَيَقُولُ: رَضِيتُ رَبِّ، فَيَقُولُ: لَكَ ذَلِكَ، وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ، فَقَالَ فِي الخَامِسَةِ: رَضِيتُ رَبِّ، فَيَقُولُ: هَذَا لَكَ وَعَشْرَةُ أَمْثَالِهِ، وَلَكَ مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ، وَلَذَّتْ عَيْنُكَ، فَيَقُولُ: رَضِيتُ رَبِّ، قَالَ: رَبِّ، فَأَعْلَاهُمْ مَنْزِلَةً؟ قَالَ: أُوْلَئِكَ الَّذِينَ أَرَدْتُ، غَرَسْتُ كَرَامَتَهُمْ بِيَدِي، وَخَتَمْتُ عَلَيْهَا، فَلَمْ تَرَ عَيْنٌ، وَلَمْ تَسْمَعْ أُذُنٌ، وَلَمْ يَخْطُرْ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ»، «موسی - علیه السلام - له خپل رب څخه پوښتنه وکړه: د جنتیاتو تر ټولو ټیټه مرتبه څه شی دی؟ ویې فرمایل: هغه به یو سړی وي، را به شي، نو وروسته له هغه چې جنت ته

داخل کړای شي، نو ورته به وویل شي: جنت ته ننوځه، نو وبه وايي: ای ربه، څنګه - ننوځم - حال دا چې خلک خپلو کورنو کې میشت شوي دي، او خپلې برخې يې اخستې دي، نو ورته به وويل شي: آيا خوښ ګڼې چې دومره څه ولرې لکه د نیا له پادشاهانو څخه يې چې يو پادشاه لري؟ نو وبه وايي: خوښ یمه ربه، نو - ورته - به ووايي: ستا لپاره همدومره دي، او همدومره نور، او همدومره نور، او همدومره نور، او همدومره نور او په پنځم ځل کې يې وفرمایل: راضي شوم ربه، نو ورته به ووايي: دا ستا لپاره دي او لس برابره د دې نور، او ستا لپاره هر هغه څه دي چې ستا نفس يې غواړي، او سترګې دې پرې خوند اخلي، نو وبه وايي: خوښ یم ربه، وايي: ربه تر ټولو د لوړې مرتبه خاوند به څنګه وي؟ ویې فرمایل: هغوی هغه کسان دي چې ما غوښتل، د هغوی عزت مې په خپلو لاسونو کښت کړی دی او مهر مې پرې لګولی، نو نه خو سترګو لیدلي او نه غوږونو اوریدلي، او د انسان په زړه کې هم کله تېر شوي ندي». او د دې خبرې مصداق د الله تعالی په کتاب کې دی - چې فرمايي –

﴿فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٞ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٖ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ١٧﴾ [السجدة: 17]

آیت.(نو هېڅ یو نفس ته معلوم نه دي هغه څه چې د دوی لپاره پټ کړی شوي دي، د سترګو له یخوالي څخه). مسلم روایت کړی دی (189). او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «إِنَّ أَدْنَى مَقْعَدِ أَحَدِكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ أَنْ يَقُولَ لَهُ: تَمَنَّ فَيَتَمَنَّى، وَيَتَمَنَّى، فَيَقُولُ لَهُ: هَلْ تَمَنَّيْتَ؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ، فَيَقُولُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ مَا تَمَنَّيْتَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ». «په جنت کې ستاسو تر ټولو ټيټ د ناستې ځای دا دی چې هغه ته به ووايي: یو ارمان وکړه، نو هغه به ارمان وکړي، او ارمان به وکړي، نو ورته به ووايي: آيا ارمان دې وکړ؟ نو وبه وايي : هو، نو ورته به ووايي: ستا لپاره هر هغه څه دي چې تا يې ارمان کړی دی او په همغه اندازه ورسره نور هم». مسلم (182) روایت کړی دی. او مونږ پوهيږو چې جنت اته دروازې لري، رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمايلي دي: «مَنْ قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَأَنَّ عِيسَى عَبْدُاللهِ، وَابْنُ أَمَتِهِ، وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ، وَأَنَّ الجَنَّةَ حَقٌّ، وَأَنَّ النَّارَ حَقٌّ؛ أَدْخَلَهُ اللهُ مِنْ أَيِّ أَبْوابِ الجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ شَاءَ». «چا چې وویل: زه ګواهي ورکوم چې له الله پرته د عبادت مستحق نشته او دا چې محمد د هغه بنده او رسول دی او دا چې عيسى د الله بنده او د هغه د وينځې زوی دی او د هغه کلمه - د هغه د پیدا کولو د امر وینا چې د (کن) کلمه ده - هغه يې مريمې ته ور اچولې ده، او هغه د الله لخوا نه روح دی او دا چې جنت حق دی، او اور حق دی، نو الله - تعالى - به يې د جنت له اتو دروازو څخه له هرې يوې چې وغواړي جنت ته ننباسي».

بخاري (3435)، او مسلم (28) روايت کړی دی. او مونږ ايمان لرو چې د هميشوالي کور؛ زيات جنتونه دي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلِمَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ﴿٤٦﴾﴾ [الرحمن: 46]

(او د هغه چا لپاره چې د خپل رب په واړندې له ودرېدلو نه وېرېږي، دوه جنتونه دي). [الرحمن سورت: 46 آيت]،

او الله تعالی فرمايي:

﴿وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ﴿٦٢﴾﴾ [الرحمن: 62]

(او له دغو دواړو نه غير دوه نور جنتونه دي). [الرحمن سورت: 62 آيت]،

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «جنتان من فضة، آنيتهما وما فيهما، وجنتان من ذهب، آنيتهما وما فيهما، وما بين القوم وبين أن ينظروا إلى ربهم إلا رداء الكبر على وجهه في جنة عدن». «دوه جنتونه دي د سپينو زرو، لوښي يې او څه چې پکې دي او دوه جنتونه دي د سرو زرو؛ لوښي يې او څه چې پکې دي، او د خلکو او رب د ليدلو تر منځه يې هيڅ نشته پرته د لويی (کبر) له يوې پردې څخه چې په تلپاتې جنت کې يې پر مخ ده». او مونږ ايمان لرو چې د جنت نعمتونه تلپاتې دي او نه پرې کيږي، نو له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی، چې نبي کريم - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يَنْعَمُ لَا يَبْأَسُ، لَا تَبْلَى ثِيَابُهُ وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُ». «څوک چې جنت ته داخل شو هغه به په نعمتونو کې وي او نه به فقير کيږي، جامې يې نه زړيږي او نه يې ځواني له منځه ځي». او أبو هريرة - رضي الله عنه - له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه روايت کوي چې فرمايلي دي: «يُنَادِي مُنَادٍ: إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَصِحُّوا فَلَا تَسْقَمُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَحْيَوْا فَلَا تَمُوتُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَشِبُّوا فَلَا تَهْرَمُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَنْعَمُوا فَلَا تَبْتَئِسُوا أَبَدًا. فَذَلِكَ قَوْلُهُ عز وجل: «يو آواز کوونکی به آواز وکړي چې ستاسو - بدله دا ده - چې تل به روغ ياست او نه به ناروغه کيږئ، او تاسو به تل ژوندی يئ، نو هيڅکله به نه مړه کيږئ او ستاسو - بدله دا ده - چې تل به ځوانان ياست او هېڅکله به زړووالی درباندې نه راځي، او ستاسو - بدله دا ده - چې تل به په نعمتونو کې ياست او هيڅکله به درباندې بيچارګي نه راځي، دا د الله تعالی وينا ده چې فرمايلي يې دي:

﴿...وَنُودُوٓاْ أَن تِلۡكُمُ ٱلۡجَنَّةُ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٤٣﴾﴾ [الأعراف: 43]

(او دوی ته به اواز وکړی شي چې دا جنت دی چې تاسو د ده وارثان ګرځول شوي يئ، په سبب د هغو عملونو چې تاسو به کول). [الأعراف سورت: 43 آیت]»

. او الله تعالی د اور په اړه خبر ورکړی دی او هغه څه چې په اور کې له ډول ډول عذابونو او ربړولو څخه دي، نو الله تعالی فرمايلي دي:

﴿...إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ بِمَآءٖ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا ٢٩﴾ [الكهف: 29]

(بېشکه مونږ د ظالمانو لپاره داسې اور تيار کړی دی چې له دغو نه د هغه پردې راچاپېره شوي دي او که دوی (له تندې نه) فرياد وکړي (نو) په داسې اوبو سره به يې فرياد رسی وشي لکه زوې (د تيلو ختې) چې مخونه به وريتوي، بد دی دغه د څښاک شی او بد دی دغه ځای د اوسېدلو). [الكهف سورت: 29 آیت]

، او حق ذات فرمايلي:

﴿يُصۡهَرُ بِهِۦ مَا فِي بُطُونِهِمۡ وَٱلۡجُلُودُ ٢٠ وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنۡ حَدِيدٖ ٢١﴾ [الحج: 20-21]

[(په دغو (اوبو) سره به هغه څه (کولمې) خوړني کړی شي چې د دوی په ګېډو کې دي او څرمنې(د دوی هم). او د دوی (د وهلو) لپاره د اوسپنو څټکونه دي). [الحج سورت: 20،21]

آيتونه، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَوۡفَ نُصۡلِيهِمۡ نَارٗا كُلَّمَا نَضِجَتۡ جُلُودُهُم بَدَّلۡنَٰهُمۡ جُلُودًا غَيۡرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمٗا ٥٦﴾ [النساء: 56]

(بېشکه هغه کسان چې زمونږ په آيتونو کافر شوي دي ژر ده چې مونږ به هغوی اور ته ننباسو، هر کله چې د هغوی څرمنې (په اور) پخې شي، مونږ به هغوی ته له هغو نه غير نورې څرمنې وربدلې کړو، د دې لپاره چې دوی عذاب وڅکي، بېشکه الله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی). [النساء سورت: 56 آیت]

. او مونږ ایمان لرو چې اور ببلابېلې درجې لري او حقيقت دا روښانه کړې چې منافقان د دو

زخ په ژورو کې دي، الله تعالی فرمايلي دي: ﴿

﴿إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ١٤٥﴾ [النساء: 145]

(بېشکه منافقان د اور تر ټولو لاندینۍ طبقه کې دي او ته به کله هم د هغوی لپاره څوك مدد کوونکی ونه مومې). [النساء سورت: 145 آیت]

. او په قرآن کریم کې راغلي چې هغه لره اووه دروازې دی، حق ذات فرمایلي دي:

﴿لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَٰبٍ لِّكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُومٌ ٤٤﴾ [الحجر: 44]

(د هغه اوه دروازې دي، د هرې دروازې لپاره به تقسیم (بېله) کړی شوې برخه وي له دوی نه). [الحجر سورت: 44آیت]

او دوزخ د ابدي عذاب کور دی، حق ذات فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَظَلَمُواْ لَمْ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيقًا ١٦٨ إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ١٦٩﴾ [النساء: 168-169]

(بېشکه هغه کسان چې کفر یې کړی دی او ظلم یې کړی دی، الله داسې نه دی چې دوی به وبخښي او نه دا چې دوی به پر نېغه لار روان کړي. إِلاَّ طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللهِ يَسِيرًا} مګر پر لار د جهنم، چې دوی به په هغه کې تل ترتله وي او دا (کار) الله ته ډېر اسان دی). [النساء سورت: 168، 169 آیتونه].

# )كتاب الإيمان بالقدر (په تقدیر ایمان

## د کتاب لنډیز

او مونږ د الله په فیصلې او تقدیر ایمان لرو، او په علم الیقین سره پوهیږو چې په قضا او قدر ایمان درلودل د ایمان له رکنونو څخه شپږم رکن دی؛ نو په قدر ایمان په الله تعالی له ایمان څخه دي، ځکه چې قدر د الله تعالی له علم او د هغه له تقدیر ، تدبیر مشیئت او مخلوق څخه دی.

او مسلمانانو پدې اجماع کړې ده چې په تقدیر ایمان د ایمان له رکنونو څخه یو رکن دی.

او مونږ پوهیږو چې په قضا او قدر ایمان د الله په هر اړخیز او چاپیره علم باندې ایمان لرلو ته شاملیږي او دا چې الله - تعالی - په خپل علم سره په هر څه احاطه کړې ده او دا چې د هغه علم په هرې لویې او کوچنۍ، غټې او وړې چارې احاطه کړې ده له هغه څه څخه چې شتون لري او یا دا چې په راتلونکي کې به پیدا شي، چې تر اوسه شتون نه لري، دا ټول په لوح محفوظ کې ثابت دي، په هغه کې لیکل شوي دي، او شمېر، اندازه، د موندلو وخت او هغه حالت په کوم کې به چې دا له منځه ځي معلوم دي.

او دا چې هغه سپیڅلي په هغه څه پوه دی چې پخوا وو، او هغه چې په راتلونکي کې به وي، او هغه څه چې که چیرته وي نو څرنګه به وي، او دا چې الله تعالی د آسمانونو او ځمکې له پیدا کولو څخه پنځوس زره کاله مخکې د مخلوقاتو تقدیر لیکلی دی، پداسې حال کې چې عرش یې په اوبو باندې وو.

او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی هر هغه څه په لوح محفوظ کې لیکلي دي چې هغه کیدونکي دي.

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالی - چې څه وغواړي لیکي یې، او څه چې وغواړي له منځه یې وړي او همدا رنګه یې ثابت پریږدي او هغه سره ام الکتاب دی.

او مونږ ایمان لرو چې د الله - تعالی - له پریکړې او تقدیر پرته هیڅ شی نه شي کیدلی او د الله - تعالی - له پریکړې او تقدیر پرته د هیڅ کار مخنیوی نه کیږي، هغه څه یې چې مقدر کړي وي خامخا به پیښیږي هیڅ چاره ترې نشته او د هغه څه مخینوی یې چې کړی وي هیڅوک یې نه شي تر سره کولی، نو ټول مخلوقات هیڅ داسې کار نه شي کولای چې الله تعالی نه وي لیکلی او نه د هیڅ کار مخنیوی کولای شي چې الله پاک لیکلی وي، هغه څه چې بنده ته ونه رسیدل هیڅکله یې لاس ته نه شي راوړلی او هغه څه چې لاس ته راوړي هیڅکله به ترې بچ ونه خوري.

او مونږ ایمان لرو چې هغه څه چې الله تعالی غوښتي وي هغه کیږي او هغه څه چې هغه یې ونه غواړي نه کیږي او د هغه اختیار بشپړ دی ځواک یې نافذ دی او د هغه په پادشاهۍ کې هیڅ شی نه شي کیدلی مګر چې هغه یې وغواړي، او مونږ ایمان لرو چې بنده ګان هم حقیقي اراده او اختیار لري او هغه د الله تعالی د مشیئت تابع ده.

او مونږ ایمان لرو چې یقینا الله تعالی په خپل فضل سره هغه چاته هدایت کړی چې غوښتل یې او په خپل عدل سره یې چې چا لره غوښتل نو هغه یې ذلیل کړ، له هغه څخه د هغه د کړنو پوښتنه نه کیږي حال دا چې دوی پوښتل کیږي او د هر اطاعت کوونکي

اطاعت هغه د الله تعالی په توفیق ورکولو سره کیږي او له ګناهکار څخه د هرې ګناه کېدل هغه د مخکې نه د الله لخوا د رسوایۍ او ذلت - لیکلو - له امله ده، نیکمرغه هغه څوک دی چې له وړاندې ورته نیکمرغي لیکل شوي وي او بدبخته هغه څوک دی چې له وړاندې ورته بدبختي - لیکل - شوې وي او د بنده ګانو د خیر او شر کړني د دوی خپلې کړنې دي، خو کړنې یې د دوی د خالق لخوا پیدا شوي دي.

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالی طاعتونه او اطاعت کوونکي خوښوي او ایمان لرو چې الله تعالی فسق او فاسقان بد ګڼي او یقینا کله چې الله - تعالی - د بنده لپاره د خیر اراده وکړي نو د هغه کارونو توفیق ورکړي چې هغه یې خوښوي او د خپل اطاعت او هغو کارونو توفیق ورکړي چې هغه پرې له بنده څخه راضي کیږي او چاته چې لدې پرته بله اراده ولري نو حجت پرې قائم کړي، بیا عذاب ورکړي پداسې حال کې چې ورسره ظلم کوونکی نه وي.

او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی په بدو کارونو امر نه کوي او د خپلو بنده ګانو لپاره کفر نه خوښوي.

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالی - د هر څه خالق دی او دا چې الله - تعالی - بندګان پیدا کړي او د دوی عملونه یې هم پیدا کړي، او له مخلوقاتو څخه هیڅوک ورسره د دې په پیدا کولو کې برخه نه لري، لکه څرنګه چې هیڅوک ورسره په واکمنۍ کې برخه وال ندی او الله تعالی پر بنده ګانو دلیل ونیوه چې یوازې همغه خالق دی او څوک چې کله په یوازې ځان پیدایښت وکړي، نو بیا هیچا لره دا حق نشته چې په پیدایښت کې ورسره د برخې اخیستلو دعوا وکړي.

او موږ عقیده لرو چې د شریعت، او حکم(کوني) او مخلوق ترمنځ هیڅ ټکر نشته، پس الله پاک لره مخلوقات دي او هغه لره حکم دی، نو هغه څه چې وغواړي کوي یې او له هغه څخه د هغه د کړنو په اړه پوښتنه نه شي کیدلای، هغه امر کوي،او د هغه پرېکړې لره ردوونکی نشته، او نه د هغه حکم څوک روسته کولای شي .

او مونږ ایمان لرو چې الله - تعالی- د آسمانونو او ځمکې له پیدا کولو څخه پنځوس زره کاله د مخه مخلوقات اندازه کړي او سره لدې یې د هغه او د هغه د رسولانو او أنبیاوو په اطاعت امر کړی او د هغه او د هغه د رسولانو او أنبیاوو له نافرمانۍ څخه یې منع کول کړي دي، نو هغه پاک ذات په خپل کتاب کې د هغه له تقدیر څخه د خبر ورکولو او د هغه له وحې او امر څخه په پیروۍ کولو امر کړی دی، حق ذات ښکاره کړې ده چې د هدایت پیروي فرض ده او دا چې هغه په خپل فضل سره هغه چاته هدایت کړی دی چې

غوښتل يې، او په خپل عدل يې هغه څوک بې لارې کړل چې غوښتل يې. حق ذات له خپل عام مشيئت (اختيار) څخه د خبرولو او مخالفينو ته د ګواښ کولو تر منځ يو ځای کړل او مؤمنو بنده ګانو ته يې په عبادت او پر هغه په توکل کولو باندې امر وکړ او په تقدير ايمان او په شريعت د عمل کولو تر منځه يو ځای کول يو شونی کار دی او دا چې هغه پرې برلاسی دی او الله تعالی دا ښکاره کړه چې هغه هيڅ يو نفس لره د هغه له توان څخه پورته نه مکلفوي.

او مونږ پر دې ايمان لرو چې: لکه څرنګه چې د پيدا کولو، امر او شريعت تر منځ ټکر نشته، همدا رنګه د شريعت، امر او عقل تر منځه هم ټکر نشته، نو هر هغه څه چې الله او رسول يې - صلی الله عليه وسلم - پرې امر کړی او يا الله او رسول يې ورڅخه منع فرمايلي ده او يا الله مقدر کړی دی او خبر يې پرې ورکړی دی، نو د عقل سره تضاد نه لري، بلکه دا د هغه څه غوښتنه ده چې عقل پرې امر کوي او دا لوی حکمت دی.

او موږ دا عقيده لرو چې الله - تعالی - د دې لپاره کتابونه نازل کړي او رسولان يې رالیږلي تر څو پر مخلوق حجت قائم شي، او شريعت، حکم (کوني) او تقدير ټول يو د بل بشپړونکي دي او پدې کې لويه ښکلا ده، بلکه لدې څخه نور غوره نشته.

او الله - تعالی - د خپل کتاب ستاينه کړې، هغه يې په تر ټولو ښکلي وينا سره ياد کړی دی چې شريعت او حکم دواړو ته شامل دی - نو هغه څه چې الله مشروع او مقدر کړي دي ، نو هغه د بشپړوالي او ښکلا وروستی حد وي، برابره - خبره ده -که ذهنونه يې درک کړي يا يې په درک او پوهيدو کې پاتې راشي، نو مونږ خپل عقلونه او نظريات شاته نه اچوو تر څو د الله د شريعت او قانون په اړه پريکړه کوونکي شي؛ کله ورته په ښه ويلو او کله ورته په بد ويلو سره، بلکه هر هغه څه چې الله تعالی مقدر کړي او مشروع کړي دي نو هغه پوره ښکلا لرونکي او بشپړ دي.

او مونږ ايمان لرو چې شريعت او تقدير ټول خير دی، او الله تعالی هيڅکله يوازې شر نه ټاکي ، بلکه شر د عمومي تقدير شوو کارونو سره يو ځای کوي او په قران کې يې اضافت هغه چاته کيږي چې تر سره کوونکی يې وي، او د ادب او احترام غوښتنه هم دا ده چې الله تعالی ته د شر نسبت ونه شي.

او مونږ ايمان لرو چې د اسبابو کارول په تقدير له ايمان سره ټکر نه لري، بلکه د اسبابو کارول په قضا او قدر باندې له بشپړ ايمان راوړلو څخه دي، او مونږ ته رب د أسبابو په کارولو امر کړی دی او له سترو اسبابو څخه يې دعا ده او مونږ ته يې په دعا امر کړی پداسې حال کې چې پريکړه مخکې شوې ده.

او مونږ په دې ایمان لرو چې الله پاک په عدل سره امر کوي - او په شریعت، تقدیر او جزاء ورکولو سره پریکړه کوي، او له خپل ځان څخه یې ظلم نفي کړی او بشپړ عدالت یې ځانته ثابت کړی دی.

او پدې ایمان لرو چې د تقدیر له مخکې والي څخه پر بندګانو ظلم نه لازمیږي، ځکه چې الله تعالی کتابونه نازل کړي او رسولان یې د دې لپاره رالیږلي تر څو د پیغمبرانو له رالیږلو وروسته خلکو ته په الله تعالی کوم دلیل پاتې نشي او تقدیر یې پټ راز ګرځولی، او بندګانو ته یې اراده او اختیار ورکړی دی، نو څوک چې په سمه لار شو -نو ګټه یې - د خپل ځان لپاره ده، او څوک چې لارورکی شو نو - ملامتیا یې - د خپل ځان ده.

مونږ عقیده لرو چې د نافرمانۍ په کولو یا د اطاعت د عملونو پریښودلو لپاره په تقدیر استدلال روا ندی او هغه مشرکانو چې په شرک کې د واقع کېدو لپاره یې په تقدیر استدلال کړی دی، الله تعالی یې دروغ ښکاره کړل او خپل عذاب یې وروڅاکه، نو که چیرته تقدیر د دوی لپاره د شرک په جواز باندې دلیل جوړیدلای ، نو الله تعالی به عذاب نه و ورڅکلی.

او مونږ عقیده لرو چې له ګناهونو څخه د توبې نه وروسته په تقدیر استدلال کول روا دي او دا چې د مصیبتونو لپاره په تقدیر استدلال وکړي.

او مونږ پدې ایمان لرو چې مؤمن کله یوه چاره الله ته وسپاري، راستون شي او د مصیبت پرمهال استرجاع وکړي - انا لله و انا الیه راجعون ووایي - نو د هغه لپاره د خېر درې خصلتونه ولیکل شي: د الله تعالی لخوا نه درود، رحمت او د هدایت لارې موندل.

## )بــاب وجوب الإیمان بالقدر (په دې اړه باب چې په قدر ایمان واجب دی.

او مونږ د الله په پریکړه او تقدیر ایمان لرو، هغه سپیڅلی ذات په هغه څه پوه دی چې پخوا وو او یا به په راتلونکي کې وي او دا ټول یې لیکلي دي، پرې خوښ شوی دی، پیدا کړي یې دي، او په اندازه کولو سره یې اندازه کړي دي.

او مونږ په علم الیقین سره پوهیږو چې په قضا او قدر ایمان د ایمان له رکنونو څخه شپږم رکن دی، حق سپېڅلي ذات فرمایلي دي:

﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ۝٤٩﴾ [القمر: 49]

(بېشکه مونږ هر شي لره، مونږ هغه په (ازلي) اندازې سره پيدا کړی دی). [القمر سورت : 49 آيت]

، او متعال حق ذات فرمايلي دي:

﴿... وَكَانَ أَمۡرُ ٱللَّهِ قَدَرٗا مَّقۡدُورًا﴿٣٨﴾﴾ [الأحزاب: 38]

(او ده قيصله د الله انداره اندازه کړای شوې). [الأحزاب سورت: 38 آيت]

، متعال رب فرمايلي دي:

﴿... وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرٗا ﴿٢﴾﴾ [الفرقان: 2]

(او هر شی يې پيدا کړی دی، نو هغه يې په اندازه کړی دی، اندازه کولو سره). [الفرقان سورت: 2 آيت]

، او الله تعالی فرمايلي:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ ...﴾ [البقرة: 285]

(رسول پر هغه څه ايمان راوړی دی؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ايمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملايکو او د هغه پر کتابونو ). [البقرة سورت: ٢٨٥ آيت]

**، نو په تقدير ايمان په الله تعالی د ايمان له جملې څخه دی، ځکه چې قدر د الله تعالی علم او د هغه له تقدير او تدبير څخه دی. او الله تعالی فرمايي:**

﴿هُوَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ﴿٦٨﴾﴾ [غافر: 68]

(دی(الله) هغه ذات دی چې ژوندي کول کوي او مړه کول کوي، نو کله چې د يو کار (د ايجاد) فيصله وکړي، نو بېشکه همدا خبره ده چې ده ته وايي: موجود شه! نو هغه موجود شي). [غافر سورت: 68 آيت]

، الله تعالی فرمايلي:

﴿۞ وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَۚ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۚ وَمَا تَسۡقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعۡلَمُهَا وَلَا حَبَّةٖ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡأَرۡضِ وَلَا رَطۡبٖ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ۝٥٩﴾ [الأنعام: 59]

(او خاص له الله سره د غيبو چابياني دي، يواځې هغه پر دغو عالم دی او هغه عالم دی پر هغه څه چې په وچه او سمندر کې دي، او هېڅ يوه پاڼه نه غورځېږي مګر هغه پرې عالم دی او د ځمکې په تيارو کې نه يوه دانه (پرېوځي) او نه لوند څيز او نه وچ مګر (دا ټول) په ښکاره كتاب (لوح محفوظ) کې دي). [الأنعام سورت: 59 آيت]

. او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه د جبريل - عليه السلام - په حديث کې روايت دی فرمايي: نو له ايمان څخه خبر راکړه، هغه وفرمايل: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ». قَالَ: صَدَقْتَ. "چې په الله، د هغه پر ملائکو، د هغه پر کتابونو، د هغه پر رسولانو او د آخرت په ورځ، او د خير او شر په اندازه ايمان ولرې". هغه وفرمايل : رښتيا دې وويل: مسلم (8)، ابو داود (4695)، ترمذي (2610)، نسائي (4990) او ابن ماجه (63) روايت کړی دی. او مسلمانانو پدې اجماع کړې ده چې په تقدير ايمان د ايمان له رکنونو څخه يو رکن دی، حافظ أبو القاسم اللالكائي فرمايلي دي: كه چېرته په دنيا كې داسې اجماع وي چې پرته له مخالف څخه خپره شوې وي، نو هغه به پدې مسأله کې وي (يعنې د تقدير مسأله) نو که د چا وينا پکې مخالفه وه، نو هغه به ضدي مخالفت کوونکی انسان وي، چې عذاب به وروروسيږي، او هغه د الله تعالی د دې وينا لاندې راځي

﴿وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَتَّبِعۡ غَيۡرَ سَبِيلِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصۡلِهِۦ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ۝١١٥﴾ [النساء: 115]

او هغه څوك چې له رسول سره مخالفت وکړي، وروسته له دې نه چې هغه ته نېغه لار ښه څرګنده شوه، او د مومنانو له لارې نه غير د بلې (لارې) تابع شي (، نو) مونږ به دغه (کس) هغه څه ته وروګرځوو چې دی ورته وګرځېدلی دی او جهنم ته به يې داخل کړو او هغه د ورتلو بد ځای دی»[النساء: 115]

. شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة (4/ 726). وعن عمرو بن شعيب، عن أبيه، عن جده: أَنَّ نَفَرًا كَانُوا جُلُوسًا بِبَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: أَلَمْ يَقُلِ اللَّهُ كَذَا وَكَذَا؟ وَقَالَ بَعْضُهُمْ: أَلَمْ يَقُلِ اللَّهُ كَذَا وَكَذَا؟ فَسَمِعَ ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم، فَخَرَجَ كَأَنَّمَا فُقِئَ فِي وَجْهِهِ حَبُّ الرُّمَّانِ، فَقَالَ: «بِهَذَا أُمِرْتُمْ؟ أَوْ بِهَذَا بُعِثْتُمْ؟ أَنْ تَضْرِبُوا

كِتَابَ اللَّهِ بَعْضَهُ بِبَعْضٍ؟ إِنَّمَا ضَلَّتِ الْأُمَمُ قَبْلَكُمْ فِي مِثْلِ هَذَا، إِنَّكُمْ لَسْتُمْ مِمَّا هَاهُنَا فِي شَيْءٍ، انْظُرُوا الَّذِي أُمِرْتُمْ بِهِ، فَاعْمَلُوا بِهِ، وَالَّذِي نُهِيتُمْ عَنْهُ، فَانْتَهُوا». او له عمرو بن شعيب څخه روایت دی چې هغه له خپل پلار، هغه له خپل نیکه څخه روایت کوي چې: یو څه نفر د پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - په دروازه کې ناست وو، نو ځینو یې وویل: آیا الله تعالی داسې او داسې ندي ویلي؟ نو دا - خبرې - رسول الله صلی الله علیه وسلم واوریدې نو راووت، تا به ویل لکه په مخکې یې چې د انار دانې چاودیدلي وي، نو ویې فرمایل: آیا پدې - خبرو - تاسو ته امر شوی دی؟ او یا پدې سره لیږل شوي یاست؟ چې د الله کتاب یو په بل سره ووهئ؟ یقینا ستاسو څخه وړاندې امتونه د دې په څېر - خبرو - کې ګمراه شوي، تاسو له هغه څه څخه نه یاست چې دلته په کوم څه کې - لګیا - یاست، پوازې هغه ته پام وکړئ چې امر درته پرې شوی دی، نو عمل پرې وکړئ، او هغه چې ترې منع شوي یاست نو ترې منع شئ». ابن ماجه (85) او احمد (6845) روایت کړی دی او لفظ د همده دی، او حارث بن ابي اسامه په مسند کې - لکه د محقق په (735) کې، او ابن ابي عاصم په السنة کې (735) (406). او له عبد الملک څخه روایت دی - یعني ابن جریج - له عطاء بن أبی رباح څخه وایي: « ابن عباس ته راغلم، حال دا چې هغه په زمزم کې ورکوز شوی و، او د جامو لاندې برخه یې لنده شوې ده، نو ورته مې وویل: په تقدیر کې خبرې شوي دي ، هغه وفرمایل: آیا دا کار یې کړی دی (خلکو)؟ ما وویل: هو، ویې فرمایل: قسم په الله چې دا آیت ندی نازل شوی مګر په همدوی کې: ﴿.... ذُوقُواْ مَسَّ سَقَرَ ۝٤٨ إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ ۝٤٩﴾ [القمر: 48-49]

(تاسو د دوزخ رسېدل وڅکئ، بېشکه مونږ هر شي لره، مونږ هغه په (ازلي) اندازې سره پیدا کړی دی) [القمر سورت: 48، 49 آیتونه]

تاسو د هغوی د مریضانو پوښتنه مه کوئ، او په مړو یې جنازې مه کوئ، او که ته ما ته د دوی څخه یو راوښایې نو زه به ترې سترګه وباسم». شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة (597/3). وقَالَ عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ رضي الله عنه لِابْنِهِ: يَا بُنَيَّ، إِنَّكَ لَنْ تَجِدَ طَعْمَ حَقِيقَةِ الْإِيمَانِ حَتَّى تَعْلَمَ أَنَّ مَا أَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَكَ، وَمَا أَخْطَأَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبَكَ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ: «إِنَّ أَوَّلَ مَا خَلَقَ اللَّهُ الْقَلَمَ، فَقَالَ لَهُ: اكْتُبْ، قَالَ: رَبِّ، وَمَاذَا أَكْتُبُ؟ قَالَ: اكْتُبْ مَقَادِيرَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ»، يَا بُنَيَّ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ: «مَنْ مَاتَ عَلَى غَيْرِ هَذَا فَلَيْسَ مِنِّي». او عبادة بن الصامت - رضي الله عنه - خپل زوی ته وفرمایل: ای زویه ! ته هیڅ کله د ایمان حقیقي خوند نه شي موندلی تر دې چې پدې پوه شې چې څه چې درورسیدل هیڅکله به ترې نه وې ژغورل

شوی، او څه چې درونه رسیدل هیڅکله به دې تر لاسه کړي نه وو، ما له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه اوریدلي دي چې ویيل يې: يقینا لومړی هغه څه چې الله پیدا کړ قلم و، نو ورته يې وویل: ولیکه، هغه وویل: ربه: څه ولیکم؟ هغه وفرمايل: د قيامت تر قائمیدو پورې د هر شي تقديرونه وليکه» ای بچیه! ما له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه اوریدلي دي چې فرمایل يې: "څوک چې له دې پرته په بل څه مړ شو نو زما څخه ندی". ابو داود په خپل سنن کې (۴۷۰۰) کې روایت کړی او ابن ابی عاصم په السنة کې (۵۱/۱). او له یحی بن یعمر څخه روایت دی فرمایي: لومړی هغه څوک چې په تقدیر کې یې خبرې کړي دي هغه معبد الجهني و په بصره کې، نو زه او عبد الرحمن الحمیري حج - او یا عمرې - ته روان شو، نو ومو ویيل: ښه به وي که چېرته د رسو ل الله - صلی الله علیه وسلم - له کوم صحابي سره مخ شو، نو د دې خلکو د ویناوو په اړه به ترې پوښتنه وکړو چې دوی یې د تقدیر په اړه کوي، نو له عبد الله بن عمر بن الخطاب سره جومات ته د ننوتلو پر مهال مخ شو، نو ما او ملګري مې په منځ کې راګیر کړ: يو يې ښي لور ته او بل يې چپ لور - ته شو - نو ما فکر وکړ چې ملګری به مې خبره ماته پريږدي، نو ما وويل: ای أبو عبد الرحمن، زمونږ په طرف کې داسې خلک راښکاره شوي دي چې قرآن لولي او علم بربادوي او د دوی له کړنو څخه یادونه وکړه، او دا چې هغوی ګمان کوي چې تقدیر نشته، او دا چې - تقدیر - نشته او نه پرې له مخکې څوک پوهیږي تر دې چې کار واقع شوی نه وي، وایې: نو کله چې د دوی سره مخ شوې نو خبر يې کړه چې زه ورڅخه بېزاره يم، او هغوی زما څخه بیزاره دي او هغه چې عبد الله بن عمر پرې قسم کوي، که چېرته يو له دوی څخه د احد د غره په اندازه سره زر درلودل؟ او هغه يې د الله په لار کې لګولي وو نو الله به ترې نه وو قبول کړي تر څو چې په تقدير ايمان ونه لري...». مسلم د خپل صحيح په مقدمه کې روايت کړی (۸) او آجري په الشريعه کې (۸۵۱/۲). او له أبو هارون الأبلي څخه روايت دی - او دی د هغه چا له جملې څخه و چې د عبد الله بن سهل سره يې ملګرتيا کړې وه - او دی يو نيک انسان و، او مونږ ته يې په جامع مسجد کې قرآن تدريساوه، فرمايي: «له سهل بن عبد الله څخه د تقدير په اړه پوښتنه وشوه، نو ويې فرمايل: په تقدير ايمان فرض دی، او دروغ ګڼل يې کفر دی او په اړه يې خبرې کول بدعت دی او ورڅخه چپ پاتې کېدل سنت دي». شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة (786/4). او له حسن بصري څخه روايت دی فرمايلي يې دي: "قلم وچ شوی، قضاوت شوی، او تقدير د کتاب - په تصديق، د رسولانو په رښتيا ګڼلو او د هغه چا په نيکمرغۍ چې عمل يې کړی وي او د الله څخه ويريدلی او د هغه چا په بدبختۍ چې ظلم او تېری يې کړی وي او د الله - تعالی - لخوا مؤمنانو ته په واکمنۍ ورکولو او د الله لخوا له مشرکانو څخه په بيزارۍ - بشپړ شوی دی. الشريعة، د

آجري (881/2). ابن بطة العكبري فرمايلي دي: بيا لدې څخه وروسته د تقدير په خير او شر، خوږ او تریخ، لږ او زیات ایمان راوړل دي چې د الله تعالی لخوا په بندګانو د هغه د ارادې سره سم په ټاکلي وخت مقرر شوی دی چې باید تر سره شي، نو د الله تعالی له مخکني علم سره سم تر سره کیږي نه مخکې کیږي او نه وروسته کیږي او دا چې کوم څه بنده ته رسیدونکي وي هیڅکله به ترې ونه ژغورل شي او له هغه څه نه چې ژغورل شوی دی هیڅکله به ورته ونه رسیږي، او هغه څه چې مخکې شوي وروسته به نه شي، او هغه چې وروسته شوي مخکې به نه شي...نو پدې سره ایمان حتمي دی، د الله تعالی لخوا یې په بنده ګانو فرض شوی، نو چا چې د دې مخالفت وکړ او یا ترې ووت، او یا یې پکې باطلې خبرې وکړې، او الله تعالی ته تقدیرونه ثابت نه کړي او د تقدیر او مشیئت نسبت هغه ته (الله ) و نه کړي نو دا تر ټولو لومړی زندیق دی». الشرح والإبانة على أصول السنة والديانة، د ابن بطة (مخ: 213 - 216).

## )بــاب ما يتضمنه الإيمان بالقدر (باب دی د هغه څه په باره کې چې په تقدير ايمان ورته شامليږی

او مونږ ایمان لرو چې په تقدیر ایمان د الله تعالی په هر اړخیزه او چاپیره پوهه ایمان لرل دي، او دا چې هغه پاک ذات په هر هغه څه پوهیږي چې په اسمانونو کې دي او په هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ فِى كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾﴾ [الحج: 70]

آیا ته نه یې پوه شوی چې بېشکه الله پوهیږي په هر هغه څه چې په آسمان او ځمکه کې دي، بېشکه دغه په یو کتاب کې دي، بېشکه دغه الله ته ډېر آسان دي). [الحج سورت: 70 آیت]

، او دا چې یقینًا الله د علم په لحاظ هر شی راګېر کړی دی، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ وَمِنَ ٱلْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ ٱلْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَىْءٍ عِلْمًۢا ﴿١٢﴾﴾ [الطلاق: 12]

(الله هغه ذات دی چې اوه اسمانونه یې پیدا کړي دي او له ځمکې نه هم د دغو په مثل، (د الله) امر د دوی په مینځ کې نازلیږي، د دې لپاره چې تاسو پوه شي چې یقینًا الله په هر

شي باندې ښه قادر دی او دا چې يقينًا الله د علم په لحاظ هر شی راګېر کړی دی). [الطلاق سورت: 12 آيت]. او دا چې د هغه پوهې سترې، قدرمنې لويې او وړې چارې راګيرې کړي دي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿۞ وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ إِلَّا هُوَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۚ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِى ظُلُمَـٰتِ ٱلْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِى كِتَـٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٥٩﴾﴾ [الأنعام: 59]

(او خاص له الله سره د غيبو چابياني دي، يواځې هغه پر دغو عالم دی او هغه عالم دی پر هغه څه چې په وچه او سمندر کې دي، او هېڅ يوه پاڼه نه غورځېږي مګر هغه پرې عالم دی او د ځمکې په تيارو کې نه يوه دانه (پرېوځي) او نه لوند څيز او نه وچ مګر (دا ټول) په ښکاره کتاب (لوح محفوظ) کې دي). [الأنعام سورت: 59 آيت]

. ابن جرير رحمه الله د دې آيت د تفسير سره فرمايلي دي: "همدارنګه داسې هيڅ شی چې اوس شتون لري، او يا هغه څه چې په راتلونکي کې به شتون ولري چې تر اوسه لا ندی پيدا شوی، مګر دا چې هغه په لوح محفوظ کې ثبت شوی دی، په هغه کې ليکل شوی دی، شمېر او اندازه يې، وخت يې چې پکې به رامنځته کيږي، او هغه حالت يې چې پکې به نابود کيږي او پدې قول {مُّبِين} سره يې موخه دا ده چې هغه - کتاب - د هغه څه د صحت ښکارندوی کوي چې پکې دي د هغه څه په شتون چې پکې رسم شوي (ليکل شوي دي) او په هغه ښه چې پکې ليکل شوي دي. د الطبري تفسير (403/11). او الله پاک فرمايلي دي:

﴿يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۚ وَهُوَ ٱلرَّحِيمُ ٱلْغَفُورُ ﴿٢﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَأْتِينَا ٱلسَّاعَةُ ۖ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَـٰلِمِ ٱلْغَيْبِ ۖ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَآ أَصْغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرُ إِلَّا فِى كِتَـٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٣﴾﴾ [سبأ: 2-3]

(هغه پوهېږي په هر هغه څه چې په ځمکه کې ننوځي او په هر هغه څه چې له دې نه راوځي او په هر هغه څه چې له اسمان نه راکوزېږي او په هر هغه څه چې په ده کې پورته خېژي او همدغه (الله) بې حده مهربان، ډېر بخښونکی دی. وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لاَ تَأْتِينَا السَّاعَةُ قُلْ بَلَى وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَالِمِ الْغَيْبِ لاَ يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلاَ فِي الأَرْضِ وَلاَ أَصْغَرُ مِن ذَلِكَ وَلاَ أَكْبَرُ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ} او کافران شويو کسانو وويل چې مونږ ته به قيامت رانشي ته (دوی ته) ووايه: ولې نه! زما دې په خپل رب قسم وي چې خامخا لازمًا به هغه (قيامت) تاسو ته راشي

(هغه رب) چې د غیبو عالم دی، له هغه څخه نه پټیږي په اندازه د یوې ذرې په اسمانونو کې او نه په ځمکه کې او نه د دغې (ذرې) نه وړوکی (شی) او نه (ترې) غټ مګر (دغه هر څه) په ښکاره کتاب کې دي). [سبا سورت: 2، 3 آیتونه].

وعن عمران بن حصين رضي الله عنه قال: إِنِّي عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم إِذْ جَاءَهُ قَوْمٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ، فَقَالَ: «اقْبَلُوا البُشْرَى يَا بَنِي تَمِيمٍ»، قَالُوا: بَشَّرْتَنَا فَأَعْطِنَا، فَدَخَلَ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ اليَمَنِ، فَقَالَ: «اقْبَلُوا البُشْرَى يَا أَهْلَ اليَمَنِ، إِذْ لَمْ يَقْبَلْهَا بَنُو تَمِيمٍ»، قَالُوا: قَبِلْنَا، جِئْنَاكَ لِنَتَفَقَّهَ فِي الدِّينِ، وَلِنَسْأَلَكَ عَنْ أَوَّلِ هَذَا الأَمْرِ: مَا كَانَ؟ قَالَ: «كَانَ اللَّهُ، وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ قَبْلَهُ، وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى المَاءِ، ثُمَّ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ، وَكَتَبَ فِي الذِّكْرِ كُلَّ شَيْءٍ». ثُمَّ أَتَانِي رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا عِمْرَانُ، أَدْرِكْ نَاقَتَكَ، فَقَدْ ذَهَبَتْ، فَانْطَلَقْتُ أَطْلُبُهَا، فَإِذَا السَّرَابُ يَنْقَطِعُ دُونَهَا، وَايْمُ اللَّهِ لَوَدِدْتُ أَنَّهَا قَدْ ذَهَبَتْ، وَلَمْ أَقُمْ. او له عمران بن حصين - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایي: زه له پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - سره وم چې له بني تمیم -څخه- یوه ډله خلک راغلل؛ نو- ورته- یې وفرمایل: «ای د تمیم خلکو زیری قبول کړئ» هغوی وویل: مخکې دې زیری راکړی و، اوس یو څه راکړه، بیا د یمن له خلکو څخه یوه ډله راننوتله نو ورته یې وفرمایل : «زیری قبول کړئ ای د یمن خلکو، ځکه د تمیم خلکو قبول نه کړ» هغوی وویل: مونږ راغلي یو تر څو ځان پر دین پوه کړو، او د دې چارې (کائناتو) د پیل په اړه درڅخه پوښتنه وکړو: چې څنګه و؟ ویې فرمایل: « الله و او له هغه مخکې هیڅ شی نه و، او د هغه عرش پر اوبو د پاسه و، بیا یې آسمانونه او ځمکه پیدا کړل، او په لوح محفوظ کې یې هر څه ولیکل»، بیا راته یو سړی راغی، نو ویې وییل: ای عمرانه! اوښه دې راونیسه چې درڅخه لاړه، نو زه یې د لټولو پسې لاړم، ګورم چې له شګو څخه اوښتې ده، او قسم په الله چې ما خوښه ګڼله چې تللې وای خو زه نه وم راپاڅېدلی». بخاري روایت کړی (۷۴۱۸) او ترمذي (۳۹۵۱). او الله تعالی په هر هغه څه پوهیدلی دی چې وړاندې وو، او یا به په راتلونکي کې وي، او په هغه څه چې که چیرته وي نو څنګه به وي، الله تعالی د منافقانو له حال څخه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي دي: که چېرته دوی له مؤمنانو سره - جهاد ته - وتلي وو هغوی لره به یې پرته له شر څخه نور څه نه و ورزیات کړي، حال دا چې هغو ورسره لا تللي نه وو:

﴿لَوۡ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمۡ إِلَّا خَبَالٗا وَلَأَوۡضَعُواْ خِلَٰلَكُمۡ يَبۡغُونَكُمُ ٱلۡفِتۡنَةَ وَفِيكُمۡ سَمَّٰعُونَ لَهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ٤٧﴾ [التوبة: 47]

(که دوی ستاسو په لښکر کې وتلي وی (،نو) دوی به تاسو ته نه و زیات کړی (هیڅ شی) مګر شر او ضرور به دوی ستاسو په مینځ کې (د خرابۍ او چغلۍ لپاره) چابکې کړې وه، په داسې

حال کې چې دوی به تاسو لپاره فتنه لټوله او په تاسو کې د هغوی لپاره څه جاسوسان هم شته او الله پر ظالمانو ښه پوه دی). [التوبة سورت : 47 آیت].

او الله تعالی د دوزخیانو په اړه فرمايي:

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ وُقِفُواْ عَلَى ٱلنَّارِ فَقَالُواْ يَٰلَيۡتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢٧ بَلۡ بَدَا لَهُم مَّا كَانُواْ يُخۡفُونَ مِن قَبۡلُۖ وَلَوۡ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ وَإِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ٢٨

(او که ته ووینې کله چې دوی پر (غاړه د) اور ودرول شي، نو دوی به وايي: ای کاشکې! مونږ بیا (دنیا ته) واپس کړی شو، له دې (عقیدې او عمل) سره چې د خپل رب د ایتونو (بیا) تکذیب ونه کړو او مونږ شو له مومنانو څخه). [الأنعام سورت: 27، 28 آیتونه].

نو هغه یادونه وکړه چې که دوی بېرته دنیا ته راستانه شوي وای نو بېرته به خپل کفر ته ورګرځېدلي وو حال دا چې دوی لا د دوزخ اور ته نه وو ورښکاره کړای شوي. او الله تعالی فرمايي:

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَأۡتِينَا ٱلسَّاعَةُۖ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأۡتِيَنَّكُمۡ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِۖ لَا يَعۡزُبُ عَنۡهُ مِثۡقَالُ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَآ أَصۡغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرُ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٣﴾ [سبأ: 3]

(او کافران شویو کسانو وویل چې مونږ ته به قیامت رانشي ته (دوی ته) ووایه: ولې نه! زما دې په خپل رب قسم وي چې خامخا لازمًا به هغه (قیامت) تاسو ته راشي (هغه رب) چې د غیبو عالم دی، له هغه څخه نه پټېږي په اندازه د یوې ذرې په اسمانونو کې او نه په ځمکه کې او نه د دغې (ذرې) نه وړوکی (شی) او نه (ترې) غټ مګر (دغه هر څه) په ښکاره کتاب کې دي). [سبأ سورت: 3 آیت].

او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی هر هغه څه چې کیدونکي دي په یوه خوندي کتاب کې لیکلي دي ، حق ذا فرمایلي دي:

﴿... وَمَا يَعۡزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثۡقَالِ ذَرَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصۡغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرَ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٍ ٦١﴾ [یونس: 61]

(او ستا له رب څخه په ځمکه کې او نه په اسمان کې د ذرې په اندازه (شی) هم نه پټېږي او نه له دې نه زیات وړوکی شی او نه له دې نه زیات غټ مګر په واضحه کتاب کې دي). [یونس سورت: 61 آیت]

، او الله تعالى فرمايلي:

﴿أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٧٠﴾ [الحج: 70]

(ايا ته نه يې پوه شوى چې بېشكه الله پوهېږي په هر هغه څه چې په اسمان او ځمكه كې دي، بېشكه دغه په يو كتاب كې دي، بېشكه دغه الله ته ډېر اسان دي). [الحج سورت: 70 آیت]

، او الله تعالى فرمايلي:

﴿مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٢٢﴾ [الحديد: 22]

(نه رسېږي په ځمكه كې او نه ستاسو په ځانونو كې كوم مصيبت مګر (دا) په كتاب كې دي مخكې له دې نه چې دغه (ځانونه) پيدا كړو، بېشكه الله ته دا ډېره اسانه ده). [الحديد سورت: 22 آيت].

او له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «كَتَبَ اللهُ مَقَادِيرَ الْخَلَائِقِ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ، قَالَ: وَعَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ». "الله - تعالى - د اسمانونو او ځمكې له پيدا كولو څخه پنځوس زره كاله مخكې د مخلوقاتو تقديرونه ليكلي دي". مسلم (٢٦٥٣) او ترمذي (٢١٥٦) روايت كړى. او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «إِنَّ أَوَّلَ مَا خَلَقَ اللَّهُ الْقَلَمَ، فَقَالَ: اكْتُبْ، فَقَالَ: مَا أَكْتُبُ؟ قَالَ: اكْتُبِ الْقَدَرَ مَا كَانَ وَمَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى الأَبَدِ». «يقينا لومړى شى چې الله پاك پيدا كړ قلم و، نو هغه ته يې وويل: وليكه، هغه وويل: څه وليكم؟ هغه ورته وفرمايل: تقدير وليكه؛ هغه چې دي او هغه څه چې ګيدونكي دي تر ابده پورې». (ابوداود (4700)، ترمذي (2155، 3319)، طيالسي (578)، احمد (22705، 22707) او ابن ابي عاصم په سنن كې په (115) شميره روايت كړى دى). او أبو هريرة - رضي الله عنه - له نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت كوي فرمايي: «لَمَّا قَضَى اللَّهُ الخَلْقَ، كَتَبَ كِتَابًا عِنْدَهُ: غَلَبَتْ، أَوْ قَالَ: سَبَقَتْ رَحْمَتِي غَضَبِي، فَهُوَ عِنْدَهُ فَوْقَ العَرْشِ». «كله چې الله - تعالى - د مخلوقاتو پيدايښت تمام كړ، نو د خپل ځان سره يې كتاب وليكه چې: غالب شو، او يا يې وويل: زما رحمت پر غضب باندې مخكې شو، نو دا كتاب له هغه سره د عرش د پاسه دى». بخاري (7553)، مسلم (2751)، ترمذي (3543) او ابن ماجه (189) روايت كړى دى. او مونږ ايمان لرو چې الله - تعالى

- چې څه وغواړي لیکي یې او څه چې وغواړي له منځه یې وړي او همدا رنګه یې ثابت پرېږدي او هغه سره ام الکتاب دی، حق ذات فرمایلي دي او د هغه وینا حق ده:

﴿ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوۡحَىٰٓ إِلَيۡكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلۡحِكۡمَةِۗ وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلۡقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومٗا مَّدۡحُورًا ٣٩﴾ [الإسراء: 39]

(الله محوه کوي هغه چې اراده یې وکړي او ثابتوي یې او له هغه سره اصل د کتاب دی). [الرعد سورت: 39 آیت].

او مونږ ایمان لرو چې د الله - تعالی - له پریکړې او تقدیر پرته هیڅ شی نه شي کیدلی او د الله - تعالی - له پریکړې او تقدیر پرته د هیڅ کار مخنیوی نه کیږي، هغه څه یې چې مقدر کړي وي خامخا به پیښیږي هیڅ چاره ترې نشته او د هغه څه مخینوی یې چې کړی هیڅوک یې نه شي تر سره کولی، نو ټول مخلوقات هیڅ داسې کار نه شي کولای چې الله تعالی نه وي لیکلی او نه د هیڅ کار مخنیوی کولای شي چې الله پاک لیکلی وي، هغه څه چې بنده ته ونه رسیدل هیڅکله یې لاس ته نه شي راوړلی او هغه څه چې لاس ته راوړي هیڅکله به ترې بچ ونه خوري، له عبد الله بن عباس - رضی الله عنهما - څخه روایت دی فرمایي: زه یوه ورځ په سپرلۍ د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - شاته ناست وم نو ویې فرمایل: «يَا غُلَامُ، إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ: احْفَظِ اللَّهَ يَحْفَظْكَ، احْفَظِ اللَّهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ، إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللَّهَ، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ، وَاعْلَمْ أَنَّ الأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ لَكَ، وَلَوِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَيْكَ، رُفِعَتِ الأَقْلَامُ، وَجَفَّتِ الصُّحُفُ». «ای هلکه، زه تا ته څو خبرې درښایم: الله په یاد لره، هغه به ستا ساتنه وکړي، الله په یاد لره، هغه به دې په وړاندې مومې، کله دې چې څه غوښتل نو له الله څخه یې وغواړه، او کله دې چې مرسته غوښتله، نو له الله نه یې وغواړه، او پوه شه: که دا ټول خلک راغونډ شي تر څو تاته د څه ګټه ورسوي، نو هغوی به تاته هیڅ ګټه و نه رسوي پرته له هغې چې الله درته لیکلی وي، او که دوی راغونډ شي چې تاته یو څه ضرر ورسوي، نو هیڅ ضرر به در ونه رسوي له هغه پرته چې الله تعالی درته لیکلي وي. قلمونه پورته شوي او کاغذونه وچ شوي دي». ترمذي (2516) روایت کړی او ابن وهب په القدر کې (28)، او احمد (2669) او عبد بن حمید (636) هم روایت کړی دی. او مونږ ایمان لرو پر دې چې الله څه وغواړي کیږي او هغه څه چې ونه غواړي نه کیږي، او دا چې د هغه مشیئت بشپړ دی، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخۡتَارُۗ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ٦٨﴾ [القصص: 68]

(او ستا رب پيدا کوي هغه څه چې ويې غواړي او هغه انتخاب کوي، دوی ته هېڅ اختيار نشته، الله تعالی لره پاکي ده، او هغه اوچت دی له هغه څه نه چې دوی يې ورسره شريکوي). [القصص سورت: 68 آيت]،

او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ٢٩﴾ [التکوير: 29

(او تاسو (د سمې لارې) اراده نشئ کولی مګر دا چې الله رب العالمين يې اراده وکړي). [التکوير سورت: 29 آيت]

. او د الله تعالی ځواک نافذ دی، حق ذات فرمايلي دي:

﴿أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَكَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعۡجِزَهُۥ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمٗا قَدِيرٗا ٤٤﴾ [فاطر: 44]

(او الله کله هم داسې نه دی چې هغه لره دې عاجزه کړي هېڅ کوم شی په اسمانونوکې او په ځمکه کې، بېشکه هغه (الله) له ازله ښه پوه، ښه قادر دی). [فاطر سورت: 44 آيت]،

او الله تعالی فرمايلي:

وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوّٗا شَيَٰطِينَ ٱلۡإِنسِ وَٱلۡجِنِّ يُوحِي بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٖ زُخۡرُفَ ٱلۡقَوۡلِ غُرُورٗاۚ وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُۖ فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ١١٢

(او که چېرې ستا رب، غوښتلی (نو) دوی به دا (کار) نه و کړی، نو ته دوی پرېږده او هغه هم چې دوی له خپله ځانه څه دروغ جوړوي). [الأنعام سورت: 112 آيت].

او د هغه په پادشاهۍ کې هيڅ شی نه شي کيدلی مګر چې هغه يې وغواړي، حق ذات فرمايلي دي:

﴿۞ تِلۡكَ ٱلرُّسُلُ فَضَّلۡنَا بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۘ مِّنۡهُم مَّن كَلَّمَ ٱللَّهُۖ وَرَفَعَ بَعۡضَهُمۡ دَرَجَٰتٖۚ وَءَاتَيۡنَا عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدۡنَٰهُ بِرُوحِ ٱلۡقُدُسِۗ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقۡتَتَلَ ٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِم مِّنۢ بَعۡدِ

مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ وَلَٰكِنِ ٱخۡتَلَفُواْ فَمِنۡهُم مَّنۡ ءَامَنَ وَمِنۡهُم مَّن كَفَرَۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقۡتَتَلُواْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ۝٢٥٣﴾ [البقرة: 253]

(اوكه الله غوښتلی، (نو) هغه كسان به په خپلو كې نه وو جنګېدلي، چې له دغو (رسولانو) نه پس وو، له دې نه وروسته چې دوی ته څرګندې نښې راغلې، او لېكن دوی اختلاف وكړ، نو په دوی كې ځينې هغه دي؛ چې ايمان يې راوړ، او ځينې په دوی كې هغه دي؛ چې كافر شول، او كه الله غوښتلی، (نو) دوی به په خپلو كې نه وو جنګيدلي، او لېكن الله كوي هغه څه چې اراده يې وكړي). [البقرة سورت: 253 آيت].

او مونږ ايمان لرو چې بنده ګان هم حقيقي اراده او اختيار لري او هغه د الله تعالی د مشيئت تابع ده، الله تعالی فرمايلي: (او تاسو اراده نشئ كولی مګر دا چې الله يې وغواړي، بېشكه الله ښه عالم، ښه حكمت والا دی الله - تعالی - فرمايلي: { او تاسو د ( سمې لارې) اراده نشئ كولی مګر دا چې الله رب العلمين يې اراده وكړي). او د لوی شان او شوكت خاوند ذات فرمايلي دي: [بېشكه دا (قرآن) نصيحت دی، نو هغه څوك چې غواړي چې خپل رب طرف ته لار ونيسي (نو ودې نيسي)]. او سپيڅلي ذات فرمايلي دي [دغه حق ورځ ده، نو هغه څوك چې د خپل رب په طرف د ورتلو ځای نيسي (نو ودې نيسياو مونږ ايمان لرو چې يقينا الله تعالی په خپل فضل سره هغه چاته هدايت كړی چې غوښتل يې او په خپل عدل سره يې چې چا لره غوښتل نو هغه يې ذليل كړ، له هغه څخه د هغه د كړنو پوښتنه نه كيږي حال دا چې دوی پوښتل كيږي، الله تعالی فرمايلي دي (او هغه كسان چې زمونږ د آيتونو تكذيب يې كړی دی (دوی) كاڼه او ګونګيان دي، په تيارو كې دي، چا ته چې الله وغواړي هغه ګمراه كوي او چا ته چې وغواړي هغه په نېغه لار روانوي). او د لوی شان او شوكت خاوند ذات فرمايلي دي (نو هغه څوك چې الله هغه ته د هدايت كولو اراده وكړي، (نو) د هغه سينه د اسلام لپاره پراخه كړي او هغه څوك چې هغه يې د ګمراه كولو اراده وكړي (، نو) د هغه سينه تنګه كړي، ښخې تنګه، ګويا كې هغه پورته اسمان ته په سختی سره خېژي، همدارنګه الله پليتي (عذاب) اچوي په هغو كسانو باندې چې ايمان نه راوړي). او الله تعالی فرمايلي دي: (او كه مونږ غوښتلی (نو) مونږ به خامخا هر نفس ته د هغه هدايت وركړی و او لېكن زما له جانبه دغه خبره ثابته (او لازمه) شوې ده چې زه به جهنّم خامخا ضرور له پېريانو او انسانانو، ټولو نه ډكوم). له ابوبكر المروزی څخه روايت دی وايي چې: «ما له ابو عبدالله - يعني احمد بن حنبل - څخه اوريدلي دي چې وييل يې: دوی له عبدالرحمن بن مهدي څخه د تقدير په اړه پوښتنه وكړه، هغه ورته وويل: خير او شر په اندازه دي». الإبانة الكبری، د ابن بطة (261/4).
او أبوبكر بن أبی عاصم فرمايلي دي: «ما د سنت په اړه پوښتنه وكړه چې څه دي؟ او

سنت: په احکامو او نورو شیانو کې د ډېرو معناګانو لپاره یو جامع نوم دی، سنت هغه څه دي علماوو یې سنت ته په نسبت ورکولو کې اتفاق کړی وي لکه: د تقدیر د اثبات وینا، او دا چې وړتیا د عمل لپاره له عمل سره وي، او په خیر او شر، خوږ او تریخ تقدیر باندې ایمان درلودل دي، او د هر پیروي کوونکي انسان پیروي هغه ته د الله تعالی په توفیق ورکولو سره کیږي او د هر نافرمان انسان هره نافرماني، د الله تعالی لخوا د ده لپاره ذلت او خواري ده، نیکمرغه انسان هغه دی چې له وړاندې نه ورته نیمکرغي لیکل شوي وي او بدمرغه انسان هغه دی چې بدمرغي ورته له مخکې لیکل شوي وي او کارونه د الله تعالی له ارادې او خوښې څخه خارج ندي او د بنده ګانو نیک او بد عملونه د دوی خپلې کړنې دي، او خالق ذات یې پیدا کوونکی دی». السنة، د ابن أبي عاصم (645/2). او مونږ ایمان لرو چې الله -تعالی- اطاعت او اطاعت کونکي خوښوي، الله - جل جلاله فرمایلي دي (او لېکن الله تاسو ته ایمان محبوب وګرځاوه او هغه یې ستاسو په زړونو کې ښایسته کړ او تاسو ته یې کفر او فسق او نافرماني کول ناخوښه وګرځول، هم دغه کسان په نېغه لار دیاو الله پاک فرمایلي دي: (او څوك چې د الله او د (هغه د) رسول اطاعت وکړي، نو دغه کسان به له هغو خلکو سره وي پر چا باندې چې الله انعام کړی دی، چې نبیان، او صدیقین او شهیدان او صالحان دي او دغه خلق ښه ملګري دیاو الله تعالی فرمایلي: (او احسان کوئ بې شکه الله تعالی محبت کوي د داسي ښائسته عمل کوؤنکو سره). او الله تعالی فرمایلي (یقینًا الله ډېر توبې وېستونکي خوښوي او ښه پاك اوسېدونکي خوښوي او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: «إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ العُطَاسَ، وَيَكْرَهُ التَّثَاؤُبَ». «الله تعالی پرنجی خوښوي، او خوله وازی (ارږمی) بد ګڼي». بخاري (6223)، مسلم (2994)، ابوداود (5028)، ترمذي (2746) او ابن ماجه (968) روایت کړی دی. أبو هريرة -رضي الله عنه- له نبي کريم -صلى الله عليه وسلم- څخه روایت کوي چې فرمایلي یې دي: «إِذَا أَحَبَّ اللَّهُ عَبْدًا نَادَى جِبْرِيلَ: إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ...». «کله چې الله له یو بنده سره مینه ولري، نو جبرائیل ته غږ وکړي: الله له فلاني سره مینه لري، نو له هغه سره مینه ولره...». بخاري (6040)، مسلم (2637) او ترمذي (3161) روایت کړی. او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی بې لاریتوب او بې لارې انسانان بد ګڼي، او حق ذات فرمایلي دي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُوا۟ خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّن نِّسَآءٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۖ وَلَا تَلْمِزُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا۟ بِٱلْأَلْقَـٰبِ ۖ بِئْسَ ٱلِٱسْمُ ٱلْفُسُوقُ بَعْدَ ٱلْإِيمَـٰنِ ۚ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ۝١١﴾ [الحجرات: 11

(ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! هېڅ قوم دې په بل قوم پورې مسخرې نه کوي، کېدی شي چې هغوی له ده نه ډېر غوره وي، او نه (دې) ښځې په نورو ښځو پورې (مسخرې کوي)، کېدی شي چې هغوی له دوی نه ډېرې غوره وي او تاسو د خپلو ځانونو عیب جویي مه کوئ او یو بل په بدو لقبونو (او نومونو) سره مه بلئ، له ایمان راوړو نه بعد د فسق نامه بده ده او چا چې توبه ونه وېستله، نو هم دغه کسان ظالمان دي). [الحجرات سورت: 11 آیت]

، الله تعالی فرماېلي: (یقینًا الله له حد نه تېرېدونکي نه خوښوي). او الله تعالی فرمایلي دي: (حال دا چې الله فساد نه خوښوي). او له عثمان البتي څخه روایت دی وایي چې: زه ابن سیرین ته ورغلم، هغه راته وویل: خلک د تقدیر په اړه څه وایي؟ ویې ویل: زه نه پوهېږم چې ما ورته څه ځواب ورکړ، ویې ویل: نو هغه له ځمکې څخه یو څه راپورته کړل او ویې ویل: زه نه غواړم چې - په اړه یې - د دې په اندازه څه ووایم، د الآجري په الشریعة کې لدې زیات دی (2/ 887). او یقینا کله چې الله - تعالی - د بنده لپاره د خیر اراده وکړي نو د هغه کارونو توفیق ورکړي چې هغه یې خوښوي او د خپل اطاعت او هغو کارونو توفیق ورکړي چې هغه پرې له بنده څخه راضي کیږي او چاته چې لدې پرته بله اراده ولري نو حجت پرې قائم کړي، بیا عذاب ورکړي پداسې حال کې چې ورسره ظلم کوونکی نه وي». القدر، د فریابي ( 263 مخ). او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی په بدو کارونو امر نه کوي او د خپلو بنده ګانو لپاره کفر نه خوښوي، الله تعالی فرمایلي: (بېشکه الله د بې حیایۍ حکم نه کویاو د لوی شان، شوکت او سلطنت خاوند فرمایلي دي: (او هغه د خپلو بنده ګانو لپاره کفر نه خوښوي، او که تاسو شکر وباسئ (نو) دی دغه (شکر) تاسو ته خوښوي). او مونږ ایمان لرو چې الله د هر شي پیدا کوونکی دی، الله تعالی فرمایلي دي: { ، (الله د هر شي پیدا کوونکی دی او هغه په هر شي باندې نګران دی). او پدې چې الله - تعالی - بنده ګان پیدا کړي دي، او د دوی کړنې یې هم پیدا کړي دي، الله تعالی فرمایلي دي: (حال دا چې الله ستاسو او ستاسو د عملونو، پیدا کوونکی دي). او هیڅوک ورسره د - مخلوقاتو - په پیدا کولو کې برخه نه لري، لکه څرنګه چې ورسره څوک د هغه په پادشاهۍ کې برخه نه لري، حق ذات فرمایلي دي: (هغه ذات چې خاص د هغه لپاره د آسمانونو او ځمکې بادشاهي ده او هېڅ اولاد یې نه دی نیولی او د ده لپاره په بادشاهۍ کې هېڅ شریك نشته او هر شی یې پیدا کړی دی، نو هغه یې په اندازه کړی دی، اندازه کولاو الله تعالی پر مخلوقاتو استدلال وکړ چې هغه یوازینی خالق دی، الله - تعالی - فرمایلي * نو تاسو ما ته خبر راکړئ! هغه نطفه چې تاسو یې تویوئ. آیا تاسو (له) دغې (نطفې نه بشر) پیدا کوئ، یا هم دا مونږ یې پیدا کوونکي یو). که څه هم دا په بیا راژوندي کېدو یو ثبوت دی، لدې سره د هغه - سپېڅلي ذات - په یووالي هم دلیل دی چې یوازې هغه ذات تبارک وتعالی پیدا کوونکی دی.

## )بــاب لا تعارض بين الأمر والشرع والخلق والعقل (باب دى پدې باره کې چې :د فرمان )امر کونى(، شريعت، پيدايښت او عقل تر منځه ټکر )تعارض (نشته

او مونږ ايمان لرو چې د شريعت، حکم (کوني)او مخلوق ترمنځ هيڅ ټکر نشته، ځکه چې الله پاک لره مخلوقات دي او هغه لره حکم دى، نو هغه چې څه وغواړي کوي يې او له هغه څخه د هغه د کړنو په اړه پوښتنه نه کيږي، هغه امر کوي،او د هغه پرېکړې لره ردوونکى نشته، او د حکم لره روسته کوونکى نشته ، حق ذات فرمايلي دي:

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾﴾ [الأعراف: 54]

(بېشکه ستاسو رب هغه الله دى چې آسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړي دي، بيا د عرش له پاسه شو، هغه په شپې سره ورځ پټوي، په داسې حال کې چې دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره طلب کوي او لمر، او سپوږمۍ او ستوري،تابع کړاى شويدي د هغه په حکم، خبر اوسئ! خاص هغه لره دي پيدا کول او حکم کول، ډېر برکت والا دى الله؛ پالوونکى د ټول عالم دى). [الأعراف سورت: 54 ايت].

او مونږ ايمان لرو چې الله -تعالى- د آسمانونو او ځمکې له پيدا کولو څخه پنځوس زره کاله مخکې د مخلوقاتو برخليک تاکلى و، سره لدې يې بيا هم د هغه او د هغه د رسولانو او أنبياوو د اطاعت امر يې کړى او د هغه له نافرمانۍ او د هغه د رسولانو او أنبياوو له نافرمانۍ څخه يې منع فرمايلي ده، حق ذات چې مقدس نومونه لري فرمايلي دي:

﴿وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهِۦ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٧﴾ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٨﴾ وَٱتَّبِعْ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ وَٱصْبِرْ حَتَّىٰ يَحْكُمَ ٱللَّهُ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿١٠٩﴾﴾ [يونس: 107-109]

(او که چېرې الله تا ته څه تکلیف درورسوي، نو له هغه نه غیر هیڅوك هغه (تکلیف) لره لرې کوونکی نشته او که چېرې هغه تا ته د خیر اراده وکړي، نو د هغه فضل لره هېڅ منع کوونکی نشته، په خپلو بنده ګانو کې چا ته چې وغواړي وررسوي یې او هماغه ښه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی. ته وواېه: ای خلکو! یقینًا تاسو ته د خپل رب له جانبه حق راغی، نو هغه چا چې هدایت اختیار کړ، نو بېشکه همدا خبره ده چې هغه د خپل ځان لپاره هدایت حاصلوي اوڅوك چې بې لارې شي، نو بېشکه ضرر یې د خپل ځان دی او زه پر تاسو ذمه وار نه یم. واو ته پیروي کوه د هغه څه چې تا ته وحي کیږي او صبر کوه تر هغه پورې چې الله فیصله وکړي او هغه تر ټولو غوره فیصله کوونکی دی). [یونس سورت: 107-109 آیتونه].

نو په دې آیتونو کې الله تعالی د تقدیر په اړه خبر ورکول او د وحی او د خپل حکم په پیروی کولو امر یې یو ځای کړل، حق ذات فرمایلي دي (ته پیروي کوه د هغه شي چې تا ته د خپل رب له جانبه وحي کیږي، نشته حق معبود مګر همغه دی او ته له مشرکانو څخه مخ واړوه. وَلَوْ شَاء اللهُ مَا أَشْرَكُواْ وَمَا جَعَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا وَمَا أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيل} او که چېرې الله غوښتلی (، نو) دوی به شرك نه و کړی او ته مونږ په دوی باندې ساتونکی (نګران) نه یې ګرځولی او نه ته یې په دوی باندې نګران). نو حق ذات ښکاره کړه چې د هدایت د لارې پیروي واجب ده، او دا چې هغه ذات د خپل فضل له مخې چا لره چې غوښتل هدایت کړی دی او په خپل عدل سره یې چې چاته غوښتل هغه یې ګمراه کړی دی او هغه سپیڅلې ذات فرمایلي دي:

﴿وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ ٱلنَّاسَ أُمَّةً وَٰحِدَةًۖ وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ ١١٨ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَۚ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْۗ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ١١٩ وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَۚ وَجَآءَكَ فِي هَٰذِهِ ٱلْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ١٢٠ وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ٱعْمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنَّا عَٰمِلُونَ١٢١ وَٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ١٢٢ وَلِلَّهِ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ ٱلْأَمْرُ كُلُّهُۥ فَٱعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ١٢٣﴾ [هود: 118-123]

(او که ستا رب غوښتلی خامخا به یې خلك ټول یو امت ګرځولي وو او دوی به همېشه اختلاف کوونکي ویمګر هغه څوك چې ستا رب پرې رحم وکړي او د دغه (اختلاف او رحمت) لپاره یې دوی پیدا کړي دي او ستا د رب خبره پوره شوې ده چې خامخا هرومرو به زه جهنم له پېریانو او انسانانو ټولو نه ضرور ډکوم. او مونږ تا ته د رسولانو له خبرونو ځنې ټول هغه څه بیانوو چې په هغو سره مونږ ستا زړه کلکوو او تا ته په دې (خبرونو) کې راغلی دی حق او نصیحت

او يادونه لپاره د مومنانو. او ته هغو کسانو ته چې ايمان نه راوړي، ووايه: تاسو پر خپل ځای (او حال) عمل کوئ، بېشکه مونږ هم عمل کوونکي يو. او تاسو انتظار کوئ، بېشکه مونږ هم انتظار کوونکي يو. او خاص الله لره دی د اسمانونو او ځمکې (علمِ) غيب او خاص هم ده ته (د بنده ګانو) ټول کارونه بېرته ورګرځول کیږي، نو ته د ده عبادت کوه او پر ده توکل کوه او ستا رب له سره غافله ندی له هغو کارونو نه چې تاسو يې کوئ). [هود سورت: 118-123آيتونه].

او په دې آيتونو کې - هم - الله -تعالی- د خپلې عمومي ارادې په اړه خبر ورکول او خپلو مخالفانو ته د ګواښ کول او مؤمنو بنده ګانو ته په خپل عبادت امر کول او پر هغه توکل کول سره جمع کړل. او په تقدير باندې د ايمان راوړلو او په شريعت د عمل کولو تر منځ يو ځای کول يو شونی کار دی او برلاسي کيدل پرې کيدلی شي، لدې امله الله تعالی فرمايي:

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ ...﴾ [البقرة: 286]

(او الله هېڅ يو نفس نه مکلف کوي مګر د هغه له وَس سره سم). [البقرة سورت: 286 آيت]، او حق ذات تعالی فرمايلي دي:

﴿وَلَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۖ وَلَدَيۡنَا كِتَٰبٞ يَنطِقُ بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ٦٢﴾ [المؤمنون: 62]

(مونږ هېڅ يو نفس نه مکلف کوو مګر د هغه له طاقت سره سم). [المؤمنون سورت: 62 آيت].

او الله - تعالی - مونږ ته د هغه په دردناکو تقديرونو باندې په صبر کولو سره امر کړی دی، حق ذات فرمايلي دي:

﴿وَلَنَبۡلُوَنَّكُم بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلۡخَوۡفِ وَٱلۡجُوعِ وَنَقۡصٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٥٥﴾ [البقرة: 155]

(او خامخا مونږ به تاسو ضرور په يو شي سره له وېرې او له لوږې او د مالونو او ځانونو او مېوو په نقصان (کمي) سره ازمايو، او صبر کوونکو ته زېری ورکړه). [البقرة سورت: 155 ايت]،

لوړ او سپيڅلي ذات فرمايلي دي:

﴿... إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجۡرَهُم بِغَيۡرِ حِسَابٖ ١٠﴾ [الزمر: 10]

(بېشکه يوازې صبر کوونکو ته د هغوی اجر بې حسابه پوره ورکول کيږي). [الزمر سورت : 10 آيت].

او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ بَلَاءً الأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ». «تر ټولو سخت خلک چې امتحان کيږي هغه پيغمبران دي، بيا چې څوک ورپسې دي، بيا چې څوک ورپسې دي ، بيا چې څوک ورپسې دي». اسحاق بن راهويه (٢٤١٣)، او أحمد په مسند (٢٧٠٧٩) کې، ابن ابي الدنيا په المرض والكفارات کې (٦)، نسائي په الکبري (٧٤٤٠) کې روايت کړی دی. او له أبو هريرة -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «مَا يَزَالُ البَلَاءُ بِالمؤْمِنِ وَالمؤْمِنَةِ فِي نَفْسِهِ وَوَلَدِهِ وَمَالِهِ حَتَّى يَلْقَى اللَّهَ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ». «تر هغه پورې مؤمن سړی او مؤمنه ښځه - د الله تعالى لخوا - په خپل ځان، اولاد او مال کې ازمايل کيږي تر څو چې دی کله د الله - تعالى - سره مخ شي او هيڅ ګناه پرې پاتې نه وي». ترمذي (٧٨٥٩)، ابن ابي شيبه (١٠٩١۶)، احمد په مسند (٧٨٥٩) او هناد بن السري په الزهد (۴٠٢) کې روايت کړی دی. وعن علي رضي الله عنه قال: كُنَّا فِي جَنَازَةٍ فِي بَقِيعِ الغَرْقَدِ، فَأَتَانَا النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَقَعَدَ وَقَعَدْنَا حَوْلَهُ، وَمَعَهُ مِخْصَرَةٌ، فَنَكَّسَ، فَجَعَلَ يَنْكُتُ بِمِخْصَرَتِهِ، ثُمَّ قَالَ: «مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ، مَا مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوسَةٍ إِلَّا كُتِبَ مَكَانُهَا مِنَ الجَنَّةِ وَالنَّارِ، وَإِلَّا قَدْ كُتِبَتْ شَقِيَّةً أَوْ سَعِيدَةً»، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَلَا نَتَّكِلُ عَلَى كِتَابِنَا، وَنَدَعُ العَمَلَ؟ فَمَنْ كَانَ مِنَّا مِنْ أَهْلِ السَّعَادَةِ، فَسَيَصِيرُ إِلَى عَمَلِ أَهْلِ السَّعَادَةِ، وَأَمَّا مَنْ كَانَ مِنَّا مِنْ أَهْلِ الشَّقَاوَةِ، فَسَيَصِيرُ إِلَى عَمَلِ أَهْلِ الشَّقَاوَةِ. قَالَ: «أَمَّا أَهْلُ السَّعَادَةِ فَيُيَسَّرُونَ لِعَمَلِ السَّعَادَةِ، وَأَمَّا أَهْلُ الشَّقَاوَةِ فَيُيَسَّرُونَ لِعَمَلِ الشَّقَاوَةِ»، ثُمَّ قَرَأَ:

﴿فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ۝٥ وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ۝٦﴾ [الليل: 5-6]

. او له علي - رضي الله عنه - څخه روايت دی فرمايي: مونږ په بقيع الغرقد کې په يوه جنازه کې وو، الآيَةَ [الليل: 6]»

چې نبي - صلى الله عليه وسلم - مونږ ته راغی، نو کېناست او مونږ يې شاوخوا کيناستو، او هغه سره يوه چوکه وه، نو سر يې ټيټ کړ، او چوکه يې په ځمکه کې په لختې (ډکې) سره وهله، بيا يې وفرمايل: «ستاسو څخه هيڅوک داسي نشته، هيڅ داسې يو ساکښ نشته مګر دا چې ځای يې په جنت يا دوزخ کې ليکل شوی دی، مګر دا چې ليکل شوي دي چې بدبخته دی که نيکبخته» نو يو سړي وويل: آيا په خپل ليک باندې تکيه ونکړو، او عمل کول پرې نږدو؟ نو څوک چې زمونږ څخه له نيکمرغانو څخه وي

نو د نیمکرغو خلکو عمل ته به ورځي، او که چېرته زمونږ ځخه څوک له بدمرغانو څخه وي نو د بدمرغو خلکو عمل ته به ورځي، ویې فرمایل: «کوم چې نیمکرغه خلک دي نو هغوی ته به د نیکمرغو خلکو عملونه آسان کړای شي او کوم چې بدمرغه خلک دي نو هغوی ته به د بد مرغو خلکو عملونه آسان کړای شي»، بیا یې - د الله تعالی دا وینا - ولوستله {فَأَمَّا مَن أَعْطَى وَاتَّقَى * وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى }. اللیل سورت: ۶ آیت. (نو هر چې هغه څوك دی چې ورکړه کوي او وېرېږي، او د ډېرې ښکلې کلمې تصدیق کوي). بخاري (۱۳۶۲)، مسلم (۲۶۴۷)، ابو داود (۴۶۹۴) او ترمذي (۳۳۴۴) روایت کړی دی. وعن عمران بن حصين رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُعْرَفُ أَهْلُ الجَنَّةِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ؟ قَالَ: «نَعَمْ»، قَالَ: فَلِمَ يَعْمَلُ العَامِلُونَ؟ قَالَ: «كُلٌّ يَعْمَلُ لِمَا خُلِقَ لَهُ، أَوْ: لِمَا يُسِّرَ لَهُ». او له عمران بن حصین - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمایي چې یو سړي وویل: ای د الله رسوله، آیا د جنت خلک د اور له خلکو څخه پېژندل کیږي؟ هغه وفرمایل: «هو» هغه وویل: نو بیا ولې خلک عمل کوي؟ هغه وفرمایل: هر یو هغه عمل کوي چې ورته پیدا شوی دی، او یا: چې ورته آسان کړی شوی دی». بخاري (6596)، مسلم (2649) او ابوداود (4709) روایت کړی. وعن جابر رضي الله عنه قال: جَاءَ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، بَيِّنْ لَنَا دِينَنَا كَأَنَّا خُلِقْنَا الْآنَ، فِيمَا الْعَمَلُ الْيَوْمَ؟ أَفِيمَا جَفَّتْ بِهِ الْأَقْلَامُ، وَجَرَتْ بِهِ الْمَقَادِيرُ، أَمْ فِيمَا نَسْتَقْبِلُ؟ قَالَ: «لَا، بَلْ فِيمَا جَفَّتْ بِهِ الْأَقْلَامُ وَجَرَتْ بِهِ الْمَقَادِيرُ» قَالَ: فَفِيمَ الْعَمَلُ؟ قَالَ زُهَيْرٌ: ثُمَّ تَكَلَّمَ أَبُو الزُّبَيْرِ بِشَيْءٍ لَمْ أَفْهَمْهُ، فَسَأَلْتُ: مَا قَالَ؟ فَقَالَ: «اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ». او له جابر - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمایي: سراقة بن مالک بن جعشم راغی ویې وییل: ای د الله رسوله! مونږ ته - د تقدیر اړوند - زمونږ دین داسې بیان کړه لکه مونږ چې اوس پیدا شوي یو ( یعنې داسې وګڼه چې په هیڅ نه پوهیږو) زمونږ د نن ورځ عمل په کومه برخه کې دی؟ آیا په هغه برخه کې چې قلمونه پرې وچ شوي او تقدیرونه پرې جاري شوي او که په هغه برخه کې چې مونږ یې په راتلونکي کې - په خپلې ارادې سره کوو؟ هغه وفرمایل: « نه، بلکه هغه برخه کې دی چې قلمونه پرې وچ شوي او تقدیرونه پرې جاري شوي دي» هغه وویل: بیا نو عمل د څه لپاره؟ زهیر ویلي: بیا أبو الزبير یو څه وویل چې زه پرې پوه نه شوم، نو پوښتنه مې ترې وکړه چې هغه څه وویل؟ هغه وویل "عمل وکړئ، ځکه هر سړي ته هغه څه آسانه شوي چې ورته پیدا شوی دی". مسلم روایت کړی دی (2648).
او له سهل بن سعد الساعدي - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «إِنَّ العَبْدَ لَيَعْمَلُ -فِيمَا يَرَى النَّاسُ- عَمَلَ أَهْلِ الجَنَّةِ، وَإِنَّهُ لَمِنْ أَهْلِ النَّارِ، وَيَعْمَلُ -فِيمَا يَرَى النَّاسُ- عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ، وَهُوَ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ، وَإِنَّمَا الأَعْمَالُ بِخَوَاتِيمِهَا». «یو سړی به یو عمل کوي - نو خلک یې چې ګوري - هغه به د جنت د

خلکو عمل وي، حال دا چې هغه به د اور له خاوندانو څخه وي، او يو بل به يو عمل کوي - نو خلک يې چې ګوري - عمل به يې د اور د خلکو عمل وي، حال دا چې هغه به له جنتيانو څخه وي، او بيشکه چې عملونو ته اعتبار د پايلو پر اساس ورکول کيږي». بخاري (۶۴۹۳) او مسلم (۱۱۲) روايت کړی دی. امام الآجري له الله تعالی څخه د خبر ورکولو په موخه فرمايلي دي چې هغه: «له خپلو بنده ګانو څخه پيروي خوښوي او امر يې پرې کړی دی، نو د هغه چا لپاره چې د هغه اطاعت يې کړی په توفيق ورکولو سره يې تقدير جاري شوی دی او له ګناهونو څخه يې منع فرمايلي ده، او د هغې د شتون اراده يې کړې ده پرته لدې چې خوښ يې وګڼي، او يا پرې امر وکړي، الله تعالی ډير پورته دی لدې څخه په فحشاوو امر وکړي او يا يې خوښه وګڼي او زمونږ رب ډير لوی دی لدې څخه چې د هغه په ملکيت کې دي يو کار تر سره شي پرته د هغه له ارادې څخه او يا داسې يو څه چې له پيدا کېدو څخه مخکې پرې د هغه د مخکني علم احاطه شوي نه وي، يقينا هغه په هر هغه عمل پوه دی چې د هغه بنده ګان به يې کوي مخکې لدې نه چې بندګان پيدا کړي، او وروسته لدې چې هغوی يې پيدا کړل نو په قضا او تقدير کې پرې پوه وو مخکې لدې چې کوم عمل وکړي، بېشکه قلم د الله تعالی په امر په لوح محفوظ کې په هغه څه جاري شوی چې په راتلونکي کې به وي، د نېکۍ يا بدۍ څخه، د خپلو هغه بنده ګانو ستاينه کوي چې د هغه په تابعدارۍ عمل کوي، او بنده ګانو ته د عملونو نسبت کوي، او هغوی سره په هغه باندې د لويو بدلو وعده کوي، او که د الله تعالی توفيق دوی ته نه وی نو دوی به هغه عملونه نه وی کړی چې د دې بدلې مستحق پرې ګرځېدلي دي،

﴿... ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ٢١﴾ [الحديد: 21]

[دا د الله تعالی فضل او مهرباني ده هغه چا ته يې ورکوي چې خوښه يې شي، او الله تعالی د لوی فضل خاوند دی]، [الحديد: 21]

او همدارنګه هغه قوم يې غندلی چې د هغه نافرماني يې کړی، او دوی ته يې د دې کار په کولو باندې ويره ورکړې، او د دوی عملونه يې دوی ته منسوب کړي، دا ټول د يو اندازه شوي شي د وجې دي، چا لره چې وغواړي ګمراه کوي يې، او چا ته وغواړي هدايت ورته کوي». الشريعة، د الآجري (2/ 702). او مونږ پر دې ايمان لرو چې لکه څرنګه چې د پيدا کولو، امر او شريعت تر منځه تعارض نشته، همدا رنګه د شريعت، امر او عقل تر منځه هم نشته، نو هر هغه څه چې الله تعالی او رسول يې - صلی الله عليه وسلم - پرې امر کړی وي او يا ترې الله او رسول يې منع فرمايلي وي، او يا الله مقدر کړی وي، او يا يې ترې خبر ورکړی وي - د عقل سره تعارض نه لري؛ بلکه دا پخپله

د هغه څه غوښتنه ده چې عقلونه پرې امر کوي، او دا ډېر لوی حکمت دی، حکیم او پوه ذات فرمایلي دي:

﴿ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوۡحَىٰٓ إِلَيۡكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلۡحِكۡمَةِۗ وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلۡقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومًا مَّدۡحُورًا ٣٩﴾ [الإسراء: 39]

(دا (ټول حکمونه) له هغو د حکمت (او پوهې) له خبرو څخه دي چې ستا رب تا ته وحي کړي دي او ته له الله سره بل هېڅ معبود مه نیسه (ګڼې) نو په جهنم کې به وغورځول شې، ملامت کړی شوی، رټل شوی). [الإسراء سورت : 39 آیت]،

او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿حِكۡمَةُۢ بَٰلِغَةٞۖ فَمَا تُغۡنِ ٱلنُّذُرُ ٥﴾ [القمر: 5]

[(دغه) ډېر کامل حکمت دی، پس (دوی ته) وېروونکي نفع نه رسوي]. [القمر سورت : 5 آیت]

، حق ذات فرمايلي دي:

﴿... وَأَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ ... ﴾ [النساء: 113]

(او الله پر تا باندې نازل کړی دی کتاب (قرآن) او حکمت (سنت) او تا ته یې هغه څه درزده کړي دي چې ته پرې نه پوهېدلې) [النساء سورت : 113 ایت]

، او پدې سره پر مخلوقاتو حجت قائمیږي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿قُلۡ فَلِلَّهِ ٱلۡحُجَّةُ ٱلۡبَٰلِغَةُۖ فَلَوۡ شَآءَ لَهَدَىٰكُمۡ أَجۡمَعِينَ ١٤٩﴾ [الأنعام: 149]

(ته ووایه: نو خاص الله لره کامل دلیل دی، نو که هغه غوښتلی تاسو ټول به یې لازمًا پر نېغه لار روان کړي وئ). [الأنعام سورت: 149 آیت]

. او دا شریعت، أمر او تقدیر د ښکلا په لوړه مرتبه کې دي، بلکه لدې څخه غوره نشته، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿أَفَحُكۡمَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ يَبۡغُونَۚ وَمَنۡ أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكۡمٗا لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ٥٠﴾ [المائدة: 50]

(ایا نو دوی د جاهلیت فیصله غواړي؟ او په فیصله کولو کې له الله نه (بل) څوك ډېر ښه دی، د هغه قوم لپاره چې یقین کوي!). [المائدة سورت: 50 آیت].

وعن ابن الديلمي قال: «أَتَيْتُ أبي بْنَ كَعْبٍ، فَقُلْتُ لَهُ: وَقَعَ فِي نَفْسِي شَيْءٌ مِنَ الْقَدَرِ، فَحَدِّثْنِي بِشَيْءٍ لَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يُذْهِبَهُ مِنْ قَلْبِي، قَالَ: لَوْ أَنَّ اللَّهَ عَذَّبَ أَهْلَ سَمَوَاتِهِ وَأَهْلَ أَرْضِهِ عَذَّبَهُمْ وَهُوَ غَيْرُ ظَالِمٍ لَهُمْ، وَلَوْ رَحِمَهُمْ كَانَتْ رَحْمَتُهُ خَيْرًا لَهُمْ مِنْ أَعْمَالِهِمْ، وَلَوْ أَنْفَقْتَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ مَا قَبِلَهُ اللَّهُ مِنْكَ حَتَّى تُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ، وَتَعْلَمَ أَنَّ مَا أَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَكَ، وَأَنَّ مَا أَخْطَأَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبَكَ، وَلَوْ مُتَّ عَلَى غَيْرِ هَذَا لَدَخَلْتَ النَّارَ. قَالَ: ثُمَّ أَتَيْتُ عَبْدَاللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ، فَقَالَ مِثْلَ ذَلِكَ، قَالَ: ثُمَّ أَتَيْتُ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ، فَقَالَ مِثْلَ ذَلِكَ، قَالَ: ثُمَّ أَتَيْتُ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ، فَحَدَّثَنِي عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم مِثْلَ ذَلِكَ». او له ابن الديلمي څخه روايت دی فرمايي: «أبی بن کعب ته ورغلم، نو ورته مې وويل: زما په زړه کې د تقدير په اړه يو څه ګرځي راګرځي، نو يو څه راته ووايه، زه هيله لرم چې الله يې زما له زړه څخه وباسي، هغه وويل: که چېرته الله تعالی د خپلو آسمانونو او ځمکې خلکو ته عذاب ورکړي بيا به هم پرې ظلم کوونکی نه وي، او که چېرته پرې ورحميږي، نو رحمت به يې د دوی لپاره د دوی له عملونو څخه غوره وي، او که چېرته دې - د الله په لار کې - د أحد د غره په اندازې سره زر مصرف کړل نو الله تعالی به يې درڅخه قبول نه کړي تر څو چې په تقدير ايمان رانه وړې، او ته پدې پوه شه چې څه درته رسيدونکي وي(په تقدير کښ) هيڅکله به ترې خطا نه شي، او کوم څه چې درڅخه خطا شول(په تقدير کې) هيڅ کله به درته ونه رسيږي، او که چېرته پرته لدې په بله عقيده مړ شوې نو اور ته به داخل شې. وايي: بيا عبد الله بن مسعود ته ورغلم، نو هغه هم همداسې وويل: وايي: بيا حذيفة بن اليمان ته ورغلم هغه هم همداسې وويل: وايي بيا زيد بن ثابت ته ورغلم، نو هغه راته همداسې حديث د پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - لخوا بيان کړ». ابوداود (۴۶۹۹)، ابن ماجه (۷۷)، احمد (۲۱۵۸۹)، عبد بن حميد (۲۴۷) او فريابي په القدر (۱۹۰) او: شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة (۴/ ۶۷۶) کې روايت کړی دی. او الله تعالی د خپل کتاب په ستاينه کې چې شريعت او أمر ته شامل دی فرمايلي دي چې تر ټولو غوره وينا ده، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحۡسَنَ ٱلۡحَدِيثِ كِتَٰبًا ...﴾ [الزمر: 23]

(الله تر ټولو ښکلی کلام نازل کړی دی). [الزمرسورت: 23 آیت]

. نو هغه څه چې الله مشروع ګرځولي او يا يې مقدر کړي دي، نو هغه د کمال او ښکلا په وروستي حد کې دي؛ برابره خبره ده که عقلونه يې درک کړي او يا يې له درک او پوهې څخه عاجز پاتې شي، نو مونږ خپل عقلونه او نظريات فيصله کوونکي (حاکمان)

نه ګرځوو د الله په شریعت او د هغه په تقدیر ؛ کله ورته په ښه ویلو او کله ورته په بد ویلو سره، بلکه هر هغه څه چې الله تعالی مقدر کړي او مشروع کړي دي نو هغه پوره ښکلا لرونکي او بشپړ دي. او مونږ ایمان لرو چې شریعت او تقدیر ټول خیر دی، او الله تعالی هیڅکله یوازې شر نه ټاکي ، رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ، وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ». "او ټول ښه ستاسو په دواړو لاسونو کې دی، او شر ستاسو څخه ندي(١)". مسلم (771)، ابو داود (761)، ترمذي (266) او نسائي (897) روایت کړی دی. او شر هم په عام تقدیر کې شامل دی، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي :

﴿إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ﴾ [القمر: 49]

(بېشکه مونږ هر شي لره، مونږ هغه په (ازلي) اندازې سره پیدا کړی دی). [القمر سورت : 49 آیت]،

او په قران کریم کې د شر اضافت هغه چاته کیږي چې تر سره کړی یې وي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ٢﴾ [الفلق: 1-2]

ووایه (اې پیغمبره): زه پناه نیسم په رب د سبا پورې د هر هغه شي له شر نه چې ده پیدا کړی دی). [الفلق سورت : 1، 2 آیتونه]

. او له ادب څخه دا دي چې د شر نسبت الله تعالی ته ونه شي، الله تعالی له پیریانو څخه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي چې هغوی ویلي دي:

﴿وَأَنَّا لَا نَدۡرِيٓ أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ أَرَادَ بِهِمۡ رَبُّهُمۡ رَشَدٗا﴾ [الجن: 10]

(او دا چې یقینًا مونږ نه پوهیږو چې له هغه چا سره د شر (او بدۍ) اراده شوې ده چې په ځمکه کې دي، یا له دوی سره د دوی رب د لارښوونې (او خیر) اراده کړې ده). [الجن سورت: 10 آیت]

، او الله تعالی د - ابراهیم - الخلیل علیه السلام په اړه د خبر ورکولو په موخه فرمایي چې هغه ویلي دي:

﴿وَإِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ يَشۡفِينِ٨٠﴾ [الشعراء: 80]

(او کله چې زه ناروغه شم، نو هغه ما ته شفا راکوي). [الشعراء سورت: 80 آیت]،

نو د ناروغۍ نسبت یې خپل ځانته او د شفا نسبت یې الله - جل جلاله - ته وکړ.

## )بـــاب فـعـل الأسبـــاب من القـدر (باب دی پدې باره کې چې د أسبابو کارول له تقدیر څخه دي

او مونږ ایمان لرو چې د اسبابو کارول په تقدیر له ایمان سره ټکر نه لري، بلکه د اسبابو کارول په قضا او قدر باندې له بشپړ ایمان راوړلو څخه دي، او زمونږ رب د رزق پسې په پلټنې امر کړی دی، حال دا چې هغه مونږ ته خبر راکړی دی چې هغه مونږ ته لیکلی دی، حق ذات فرمایلي دي:

﴿هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ ذَلُولًا فَٱمْشُوا۟ فِى مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا۟ مِن رِّزْقِهِۦ ۖ وَإِلَيْهِ ٱلنُّشُورُ ١٥﴾ [الملك: 15]

(دی همغه ذات دی چې ستاسو لپاره یې ځمکه تابع گرځولې ده، نو تاسو د دې په اوږو (اطرافو، لارو) کې گرځئ او د دغه (الله) له رزق نه خورئ او خاص ده ته (ستاسو) بیا ژوندي راپورته کېدل دي). [الملك سورت: 15 آیت].

او الله پاک فرمایلي دي:

﴿فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَٱبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ وَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ١٠﴾ [الجمعة: 10]

(نو کله چې لمونځ ادا کړی شي، نو تاسو په ځمکه کې خواره شئ او د الله له فضل څخه (څه) ولټوئ او تاسو الله ډېر زیات یادوئ، د دې لپاره چې تاسو کامیاب شئ) [الجمعة سورت: 10 آیت]

. او الله - تعالی له یعقوب څخه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي دي چې هغه خپلو اولادونو ته وویل:

﴿وَقَالَ يَٰبَنِىَّ لَا تَدْخُلُوا۟ مِنۢ بَابٍ وَٰحِدٍ وَٱدْخُلُوا۟ مِنْ أَبْوَٰبٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ۖ وَمَآ أُغْنِى عَنكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ ۖ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ٦٧﴾ [یوسف: 67]

(او هغه وویل: ای زما زامنو! تاسو (ټول) له یوې دروازې نه مه ورننوځئ او له بېلو بېلو دروازو څخه ورننوځئ او زه له تاسو نه د الله (له فیصلې) نه هېڅ شی نشم لرې کولی، حکم نشته

مګر خاص الله لره دی، خاص په هغه باندې ما توکل کړی دی اولازم دي چې توکل کوونکي یوازې په هغه باندې توکل وکړي). [یوسف سورت: 67 آیت].

او له سائب بن یزید څخه روایت دی چې: « بیشکه نبي - صلی الله علیه وسلم - د احد په ورځ دوه زغرې واخیستې، داسې ښکاریده لکه چې په دواړو کې راووت -یعني دواړه یې اغوستلې وې-». ابن ماجه (2806)، سعید بن منصور (2858)، احمد (15722) او نسائی په الکبری (8529) کې روایت کړی دی. او الله - تعالی - نوح علیه السلام ته د کښتۍ په جوړولو امر وکړ، همدا رنګه یې موسی - علیه السلام - ته امر وکړ چې بحر په امسا سره ووهي، او مریم - علیها السلام - ته یې امر وکړ چې د خرما د ونې ډډ وخوځوي تر څو پرې تازه خرما راتوی شي او داسې نور هغه څه چې الله - تعالی - پرې خپلو بنده ګانو ته د اسبابو په اخستلو امر کړی دی. او له سترو أسبابو څخه دعا ده، نعمان بن بشیر له پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - څخه د الله تعالی د دې وینا په اړه روایت کوي چې فرمایي:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ ...﴾ [غافر: 60]

(او ستاسې رب ویلي: له ما څخه دعا وغواړئ زه به ستاسو دعا قبوله کړم) [غافر: 60]

. فرمایي: دعا عبادت دی، و ویې لوست: (او ستاسې رب ویلي: له ما څخه دعا وغواړئ زه به ستاسو دعا قبوله کړم). د الله تعالی تر دې وینا پورې {دَاخِرِين}». یعني په داسې حال کې چې خوار او ذلیله به وي)». ابوداود (1479)، ترمذي (2969) او ابن ماجه (3828) روایت کړی. او له أسبابو څخه : درملنه، دم او دعا ده، فعن أبي خِزَامَةَ، عَنْ أَبِيهِ رضي الله عنه قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ رُقًى نَسْتَرْقِيهَا وَدَوَاءً نَتَدَاوَى بِهِ وَتُقَاةً نَتَّقِيهَا، هَلْ تَرُدُّ مِنْ قَدَرِ اللَّهِ شَيْئًا؟ قَالَ: «هِيَ مِنْ قَدَرِ اللَّهِ». له أبو خزامة څخه روایت دی، هغه له خپل پلار - رضي الله عنه - څخه روایت کوي فرمایي: ما له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه پوښتنه وکړه نو ومې ویيل: ای د الله رسوله! مونږ ته د دم او دعا په اړه خبر راکړه هغه چې ځان پرې دموو او درمل چې د ځان درملنه پرې کوو او هغه څه چې د ځان ساتنه پرې کوو - لکه ډال - ، آیا دا - څیزونه - د الله تعالی له تقدیر څخه د څه شي مخنیوی کوي؟ هغه وفرمایل: "دا د الله - تعالی - له تقدیر څخه دي". ترمذي (۲۰۶۵)، ابن ماجه (۳۴۳۷)، ابن وهب په الجامع فی الحدیث کې (۶۹۹)، احمد (۱۵۴۷۲) او ابن ابي عاصم په الاحاد او المثانی (۲۶۱۰) کې روایت کړی دی.

## )بـــاب القدر لا يتعارض مع العدل (باب دى په دې اړه چې تقدير د عدل سره په ټكر كې ندى

ايمان لرو په دې چې الله پاک په عدل باندې امر کوي او پخپله هم په انصاف سره فيصله کوي شرعا او تقديرا او جزاء، الله تعالى فرمايلي:

﴿۞ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ...﴾ [النحل: 90]

(ببشكه الله د انصاف كولو او احسان كولو حكم كوي). [النحل سورت: 90 آيت]،

او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا رَّجُلَيۡنِ أَحَدُهُمَآ أَبۡكَمُ لَا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوۡلَىٰهُ أَيۡنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأۡتِ بِخَيۡرٍ هَلۡ يَسۡتَوِي هُوَ وَمَن يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَهُوَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٧٦﴾ [النحل: 76]

(او الله - تعالى - يو مثال بيانوي چې دوه سړي دي، په دواړو كې يو گونگى دى، پر هېڅ شي قدرت نه لري، پداسي حال كې چې هغه په خپل بادار باندې بار (بوج) دى، چې چېرته يې هم ولېږي هېڅ خير نه راوړي، آيا برابرېږي دغه كس او هغه څوك چې په انصاف سره حكم كوي او هغه په نېغې لارې باندې قايم دى). [النحل سورت : 76 آيت]

، ابوذر - رضي الله عنه - له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي په هغه څه کې چې هغه له الله تبارک وتعالى څخه روايت کوي چې هغه فرمايلي دي: «يَا عِبَادِي، إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي، وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا، فَلَا تَظَالَمُوا». "اې زما بندګانو، ما په ځان باندې ظلم حرام کړى دى او په تاسو کې مې هم حرام کړى دى، نو خپل مينځ کې يو بل باندې ظلم مه کوئ". مسلم (2577) او ترمذي (2495) روايت کړى. او له خپل ځان څخه يې ظلم نفي کړى دى، نو الله تعالى فرمايلي دي:

﴿مَّنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَسَآءَ فَعَلَيۡهَاۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ٤٦﴾ [فصلت: 46]

(هر څوك چې نېك عمل كوي، نو د خپل ځان لپاره (يې كوي) او څوك چې بدي كوي، نو ضرر يې په همده دى، او ستا رب په (خپلو) بنده گانو د هېڅ ظلم كوونكى نه دى). [فصلت سورت: 46 آيت]،

او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖۖ وَإِن تَكُ حَسَنَةٗ يُضَٰعِفۡهَا وَيُؤۡتِ مِن لَّدُنۡهُ أَجۡرًا عَظِيمٗا﴾ [النساء: 40]

(بېشکه الله د يوې ذرې په اندازه هم ظلم نه کوي او که دا (ذره) يوه نېکي وي، نو هغه به يې دوه چنده کړي)، [النساء سورت: 40 آيت]،

او الله - پاک - فرمايلي دي:

﴿وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ نَقِيرٗا﴾ [النساء: 124]

(او چې چا هم د نېکيو عمل وکړ، نر وي يا که ښځه، خو چې مومن وي، نو دغه خلق به جنت ته داخلېږي او پر دوی به د کجورې د زړي د داغ هومره ظلم هم نه کېږي). [النساء سورت : 124 آيت]،

او د لوی شان او شوکت خاوند ذات فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ ٱلنَّاسَ شَيۡـٔٗا وَلَٰكِنَّ ٱلنَّاسَ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ﴾ [يونس: 44]

(بېشکه الله په خلکو باندې هېڅ شی ظلم نه کوي او لېکن همدا خلک پر خپلو ځانونو ظلم کوي). [يونس سورت: 44 آيت]،

حق تعالی فرمايلي دي:

﴿مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشۡرُ أَمۡثَالِهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَا وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ﴾ [الأنعام: 160]

(ځوک چې يوه نېکي راوړي، نو د هغه لپاره د هغې لس چنده دي او ځوك چې يوه بدي راوړي، نو هغه ته به يوازې د هغې په مثل سزا ورکولی شي او پر دوی به ظلم نه کېږي). [الأنعام سورت: 160 آيت]

. او داسې نور آيتونه چې د هغه د عدالت په کمال دلالت کوي، او له خپل ځان څخه يې د ظلم په نفي کولو. او مونږ ايمان لرو چې د قضا او قدر له مخکي والي څخه د بندګانو سره ظلم کول نه لازميږي؛ ځکه چې الله تعالی کتابونه نازل کړي او رسولان يې راليږلي، تر څو د پيغمبرانو له ليږلو وروسته خلکو ته په الله تعالی باندې کوم دليل پاتې نه شي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿رُّسُلٗا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ١٦٥﴾ [النساء: 165]

(او (مونږ لیږلي وو) رسولان، چې زیری ورکوونکي او وېروونکي وو، د دې لپاره چې د خلکو لپاره په الله باندې څه حجت پاتې نشي او الله له ازله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی). [النساء سورت: 165 آیت].

او الله تعالی تقدیر یو پټ راز ګرځولی دی، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا ٢٦﴾ [الجن: 26]

(دی عالم الغیب (په غیبو عالم) دی، نو دی په خپلو غیبو باندې هیڅوك نه خبروي). [الجن سورت: 26 آیت]،

او بندګانو ته یې خوښه او اختیار ورکړی دی، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ ...﴾ [الکهف: 29]

(او ته دوی ته ووایه: حق ستا د رب له جانبه دی، نو څوک چې (د ایمان) اراده وکړي نو هغه دې ایمان راوړي او څوک چې (د کفر) اراده وکړي نو هغه دې کافر شي) [الکهف سورت: 29 آیت]

، او الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّا هَدَيۡنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرٗا وَإِمَّا كَفُورًا ٣﴾ [الإنسان: 3]

(بېشکه مونږ ده ته د نېغي لارې ښوونه کړې ده، یا به دی شکر کوونکی وي او یا به ډېر ناشکره وي) [الإنسان سورت: 3 آیت]

، او حق ذات فرمایلي دي:

﴿فَأَلۡهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقۡوَىٰهَا ٨﴾ [الشمس: 8]

(نو ده ته یې د ده بدۍ او د ده تقوٰی (نېکی) الهام کړې (او ورښودلې) ده) [الشمس سورت: 8 آیت].

## )بـــاب الاحتجاج بالقدر (باب دی په تقدير باندې د استدلال کولو په باره کې

او مونږ ايمان لرو چې الله - تعالی - رسولان رالېږلي او کتابونه يې نازل کړي دي. تر څو خلکو ته په الله - جل جلاله - څه حجت پاتې نه شي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ١٦٥﴾ [النساء: 165]

(او (مونږ لېږلي وو) رسولان، چې زېرى وركوونكي او وېروونكي وو، د دې لپاره چې د خلكو لپاره په الله باندې څه حجت پاتې نشي او الله له ازله ډېر غالب، ښه حكمت والا دى). [النساء سورت: 165 آيت]،

او الله - تعالی - له مشرکانو څخه د خبر ورکولو په موخه وويل چې هغوی په شرک د اخته کېدلو لپاره په تقدير استدلال وکړ، نو الله تعالی د دوی دروغ ښکاره کړل ، او خپل عذاب يې وروڅاکه، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشۡرَكۡنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ حَتَّىٰ ذَاقُواْ بَأۡسَنَاۗ قُلۡ هَلۡ عِندَكُم مِّنۡ عِلۡمٖ فَتُخۡرِجُوهُ لَنَآۖ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَخۡرُصُونَ ١٤٨﴾ [الأنعام: 148]

(ژر به هغه كسان ووايي چې شرك يې كړى دى، كه چېرې الله غوښتلى (نو) نه به مونږ شرك كړى و او نه زمونږ پلرونو او نه به مونږ څه شى حرام گرځولى و، همدارنگه هغو كسانو (هم) تكذيب كړى و چې له دوى نه مخكې وو، تر دې چې هغوى زمونږ عذاب وڅاكه، ته ووايه: آيا تاسو سره څه علم شته چې پس مونږ ته يې راوباسئ، تاسو یوازې د گمان پیروي کوئ او تاسو یوازې اټكل چلوونكي يئ). [الأنعام سورت: 148 آيت].

او که چېرته تقدير د دوی په شرک باندې حجت کېدلی شو نو الله تعالی به دوی ته خپل عذاب نه ورڅکلی. وعن علي رضي الله عنه قال: كُنَّا جُلُوسًا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، وَمَعَهُ عُودٌ يَنْكُتُ فِي الأَرْضِ، وَقَالَ: «مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا قَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ أَوْ مِنَ الجَنَّةِ»، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ القَوْمِ: أَلَا نَتَّكِلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «لَا، اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ». ثُمَّ قَرَأَ:

﴿فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ٥﴾ [الليل: 5]

، او له علی - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمايي: مونږ د پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - سره ناست وو او د هغه سره يو ډکی و چې په ځمکه کې يې واهه او ويې فرمايل: ستاسو څخه هيڅوک داسې نشته مګر دا چې د هغه ځای ناستی له اور او يا له دوزخ څخه ليکل شوی دی»، نو له خلکو څخه يو سړي ووېل: ای د الله رسوله! آيا توکل نه کوو؟ - يعنې چې عمل پرېږدو هغه ووېل: « عمل وکړئ، ستاسو څخه هر (يو ته هغه څه) اسانه -ګرځول شوي دي چې ورته پيدا شوي دي- بيا يې - دا آيت ولوست: {فَأَمَّا مَن أَعْطَى وَاتَّقَى} [الليل سورت: 5 آيت] الآيَةَ»

،نو هر چې هغه څوك دی چې ورکړه کوي او وېرېږي». بخاري (6605)، مسلم (2647)، ترمذي (2136) او ابن ماجه (78) روايت کړی دی. نو پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - په عمل کولو امر وکړ، او له - يوازې په اميد له تکيه کولو څخه يې منع وفرمايله. او مونږ ايمان لرو چې له ګناهونو څخه د توبې نه وروسته په تقدير استدلال کول روا دی، فعن حميد بن عبدالرحمن أن أبا هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم «احْتَجَّ آدَمُ وَمُوسَى، فَقَالَ لَهُ مُوسَى: أَنْتَ آدَمُ الَّذِي أَخْرَجَتْكَ خَطِيئَتُكَ مِنَ الجَنَّةِ، فَقَالَ لَهُ آدَمُ: أَنْتَ مُوسَى الَّذِي اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالَاتِهِ وَبِكَلَامِهِ، ثُمَّ تَلُومُنِي عَلَى أَمْرٍ قُدِّرَ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ»، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى». مَرَّتَيْنِ. له حميد بن عبدالرحمن څخه روايت دی چې ابوهريره رضي الله عنه فرمايلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «موسی او آدم يو له بل سره دعوا وکړه، نو موسی ورته ووېل: ته هغه آدم يې چې تېروتنې دې له جنت څخه راوويستلې، نو آدم ورته ووېل: ته هغه موسی يې چې الله په خپلو رسالتونو او کلام سره غوره کړی يې، بيا ته ما په داسې يوه چاره کې ملامتوې چې زما له زېږيدو څخه مخکې پر ما مقدر شوې وه؟ نو رسول الله - صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په دليل کې آدم پر موسی غالب شو، په دليل کې آدم پر موسی غالب شو» دوه ځلې. (بخاري (۶۶۱۴)، مسلم (۲۶۵۲)، ابو داود (۴۷۰۱)، ترمذي (۲۱۳۴) او ابن ماجه (۸۰) روارِی دی. مطرف بن عبد الله الشخير رحمه الله فرمايلي دي: «مونږ په قرآن کې تقدير ته نه يو سپارل شوي، او يقينا چې مونږ ته يې په قرآن کې خبر راکړی چې مونږ هغه ته ورګرځيدونکي يو»، السنة، د عبدالله بن أحمد (412/2). او محمد بن سيرين - رحمه الله - فرمايلي دي: "که په تقدير کې خبري کوونکي خلک له هغو کسانو څخه نه وي چې د لوی الله جل جلاله په آيتونو کې بې ځايه بحثونه کوي، نو زه نه پوهيږم چې دوی څه دي". السنة د عبدالله بن احمد (۴۳۲/۲) او شرح أصول أهل السنة والجماعة (۶۹۶/۴). ابن وهب او له يو څخه زياتو ويلي دي: «له مالک څخه د قدريانو په اړه پوښتنه وشوه چې: آيا له خبرو څخه يې بايد ځان وساتل شي ؟ هغه وفرمايل: هو، کله چې په خپله عقيده پوه وي. وايې: او په نيکی ورته امر کوي،

او له بدئ ښځه يې منع کوي او د دې پر خلاف يې خبروي او په خبرو يې ورسره موافقه نه کوي، او نه پرې لمونځ کوي، او جنازو ته يې ورتګ نه کيږي، او زه لازم نه ګڼم چې نکاح ورسره وشي يا ورته په نکاح ورکړل شي، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿... وَلَعَبۡدٞ مُّؤۡمِنٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكٖ...﴾ [البقرة: 221]

(او خامخا مومن مَرَيـى ښېخي غوره دى له ازاد مشرك نه)، [البقرة: 221]

د أشهب په روايت کې يې فرمايلي دي: او تر شا يې لمونځ نه کيږي، او نه يې حديث اخيستل کيږي، او که چېرته ورسره په کوم مورچل کې مخ شوئ نو ترې يې وباسئ». ترتيب المدارك وتقريب المسالك (91/1). او مونږ ايمان لرو چې بنده ته روا دي د مصيبت پر مهال په تقدير استدلال وکړي، له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ، وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ، احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ، وَاسْتَعِنْ بِاللهِ، وَلَا تَعْجَزْ، وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ فَلَا تَقُلْ: لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا، وَلَكِنْ قُلْ: قَدَرُ اللهِ وَمَا شَاءَ فَعَلَ؛ فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ». «پياوړى مؤمن الله ته له کمزوري مؤمن څخه خوښ او غوره دى او په دواړو کې خير دى، په هغه څه تينګار وکړه چې ګټه درته رسوي او د الله تعالى نه مرسته وغواړه، او مه کمزورى کيږه، که چيرته درته څه - زيان - ورسيده نو داسې مه وايه: که چېرته مې داسې کړي واى، نو داسې او داسې به شوي وو، مګر ووايه: د الله تقدير دى او هغه چې څه غوښتل هغه يې وکړل؛ ځکه د (که چيرته) کلمه د شيطان کړنې پرانيزي». مسلم (2664)، او ابن ماجه (79) روايت کړى دى. او له ابن عباس - رضي الله عنهما څخه د الله تعالى د دې وينا په تفسير کې راغلي دي :

﴿ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةٞ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ١٥٦﴾ [البقرة: 156]

(هغه کسان چې کله دوى ته څه مصيبت ورسي (نو) وايي: يقينًا مونږ د الله يو او بېشکه مونږ خاص هغه ته ورګرځېدونکي يو) [البقرة: 156]

فرمايي: الله تعالى خبر ورکوي چې کله مؤمن چاره الله ته وسپاري او د مصيب پر مهال له فرياد کولو څخه په شا شي او ( إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّـا إِلَيْهِ رَاجِعون) ووايي: نو د هغه لپاره د خبر درې خصلتونه وليکل شي: د الله تعالى لخوا نه ستاينه، رحمت او د هدايت لارې موندل. او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «مَنِ اسْتَرْجَعَ عِنْدَ الْمُصِيبَةِ جَبَرَ اللَّهُ مُصِيبَتَهُ، وَأَحسَنَ عُقْبَاهُ، وَجَعَلَ لَهُ خَلَفًا صَالِحًا يَرْضَاهُ». «چا چې د مصيبت پر مهال (الله تعالى ته د ورګرځيدو ذکر ووايه يعني ( انا لله و انا اليه راجعون ) نو الله تعالى به

يې مصيبت جبران کړي او عاقبت به يې ښايسته کړي، او د هغه نېکه بدله به ورکړي چې پرې به خوښ شي». طبري په التفسير (707/2)، (223/3) کې، ابن ابي حاتم په التفسير (1421) کې، طبراني په الکبير (13027) کې، او البيهقي په الشعب کې روايت کړی دی(۹۲۴۰).

# )كتاب العبادة (کتاب دی په بيان د عبادت کې.

## د کتاب لنډيز

مونږ ايمان لرو چې الله تعالی مخلوقات د دې لپاره پيدا کړي دي چې عبادت يې وکړي، او هغه عبادت چې الله تعالی پرې امر کړی هغه حنيفيت دی- له شرک څخه توحيد ته مايله کېدل دي - کوم چې د ابراهيم - عليه السلام - ملت دی، او دا هغه څه دي چې الله تعالی پرې ټولو ثقلينو (انسانانو او پيريانو ته) امر کړی دی. عبادت زيات ډولونه لري، او هيڅ ډول عبادت پرته له الله تعالی څخه بل چا ته روا ندی چې وکړای شي. د عبادت له ډولونو څخه يې ځيني دا دي: دعا، توکل، ويره سره د تعظيم، اونفس ويره پرته له اسبابو ،اميد ساتل، پناه غوښتل، حلاله، مرسته غوښتل او د مصيبت پر مهال د مرستې غوښتل.

او مونږ ايمان لرو چې الله تعالی مخلوقات د دې لپاره پيدا کړي دي چې عبادت يې وکړي او پدې پوهيږو چې په قرآن کريم کې لومړی امر له ټولو شيانو پرته يوازې د يو الله - تعالی - په عبادت شوی دی او هر پيغمبر خپل قوم ته ويلي دي چې :

﴿۞ وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمۡ هُودٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ ...﴾ [الأعراف: 65]

(تاسو د الله عبادت کوئ، ستاسو لپاره له هغه نه پرته (بل) هېڅ په حق معبود نشته) [الأعراف سورت: 65 آيت].

او مونږ پوهيږو چې عبادت تر هغه پورې نه قبليږي تر څو چې الله رب العالمين ته خالص شوی نه وي او د پيغمبرانو د سردار - صلى الله عليه وسلم - د لارښوونو سره سم نه وي.

او واجب ده چې د عبادت موخه بايد يوازې يو الله وي چې هيڅ شريک نه لري، او هغه پاک ذات د شرک له ټولو ډولونو لوی او کوچني څخه ويرول کړي دي، ځکه څوک

چې خالص عمل وکړي مګر د رسول - صلی الله علیه وسلم - له لارښوونو سره برابر نه وي؛ نو عمل يې پرې بیرته مردود دی، او څوک چې د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - له لارښوونو سره سم عمل وکړي، خو الله تعالی ته خالص نه وي، نو هغه پرې مردود دی، یعنې ورڅخه نه منل کیږی.

او مونږ پوهیږو چې د عبادت اصول ( بنسټونه) دري دي: بشپړ محبت، بشپړ امید ساتل او بشپړه ویره او دا چې پیغمبران او رسولان لدې څخه په لوی نصیب او برخه بریالي شوي دي.

او تر ټولو ستره هیله چې مؤمنان يې لري هغه د الله عزتمند مخ ته لیدل دي او د الله تعالی لیدل د جنتیانو له تر ټولو سترو نعمتونو څخه دي بلکه د هغوی د ټولو نعمتونو له پاسه اضافي نعمت دی او کله چې جنتیان جنت ته ننوځي، نو الله تعالی به د مؤمنانو د عزت او درناوي له پاسه د هغوی نور عزت او درناوي وکړي ځکه چې هغه لورینه کوونکی او سخي ذات دی نو دا زیات نعمت به يې هغه ته د دوی لیدل وي او تر ټولو لوی هغه څه چې مؤمنان ترې ویره لري هغه لدې نعمت څخه محرومیدل دي، په کوم سره يې چې خپل مؤمن اولیاء ځانګړي کړي دي او خپل دښمنان يې ترې محروم کړي دي او خپل ټول دښمنان يې هغه ته له لیدو څخه منع کړي دي له: مشرکانو، یهودو، نصاراو، مجوسیانو او منافقینو څخه.

او وسیله الله تعالی ته له واجباتو اومستحباتو څخه په هر هغه څه نږدې کېدل دي چې هغه پرې راضي کیږي، (او وسیله په بله معنا هم راځي، چې د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - پدې وینا کې ذکر شوې ده "له الله - تعالی - څخه زما لپاره وسیله وغواړئ").

او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی يې بنده ګانو ته په دعا باندې امر کړی دی او د قبلیدو ژمنه يې ورسره کړې ده او پدې پوهیږو چې الله تعالی ته د هغه په غوره نومونو او لوړو صفتونو سره وسیله کیږي؛ لدې امله د أنبیاوو او پیغمبرانو دعاګانې به په ډیری وختونو کې الله تعالی ته د هغه په نیکو نومونو او لوړو صفتونو په وسیله کولو سره وې، او د دعا له ځایونو څخه يې ځینې دا دي: د لمونځونو پسې، د شپې په وروستۍ دریمه برخه کې، د روژه ماتي پر مهال، په طواف کې ، په صفا او مروه، په عرفات او مزدلفة او د جمرو له ویشتلو څخه وروسته.

لکه څرنګه چې وسیله په الله تعالی په ایمان سره کیږي په ډول ډول عبادتونو او نیکو عملونه سره هم وسیله کیږي. او الله تعالی ته د حالت په یادولو ، هغه ته په اړتیا ښودلو سره وسیله کیږي او پدې چې بنده د الله مرستې او د هغه رحمت ته اړ دی او پدې سره

هم وسیله کیږي چې مسلمان له یو صالح ژوندي انسان څخه وغواړي چې دعا ورته وکړي، لکه څرنګه چې د یوسف ورونو له خپل پلار څخه وغوښتل چې له الله تعالی ورڅخه ورته بخښنه وغواړي، او د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - له وفات څخه وروسته صحابه کرام له هغه څخه په وسیله ګرځولو واوښتل او عباس رضي الله عنه - چې ژوندی و - هغه یې وسیله وګرځاوه، ځکه هغوی پدې پوهېدل چې دا یوه روا وسیله ده.

له هغه څه پرته چې الله تعالی روا کړي دي بل څه وسیله ګرځول ناروا دي، د جاهلیت د زماني خلکو به خپل بوتان او باطل معبودان الله تعالی ته وسیله ګرځول.

## باب دی د الله تعالی د دې وینا په اړه} :وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُون) {یعنې او ما پیریان او انسانان ندي پیدا کړي مګر د خپل عبادت لپاره(

مونږ ایمان لرو چې الله تعالی انسانان او پیریان د خپل عبادت لپاره پیدا کړي دي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ﴾ [الذاريات: 56]

(او ما پیریان او انسانان ندي پیدا کړي مګر د خپل عبادت لپاره). [الذاريات سورت: 56 آیت]؛

یعنې، او دوی ته امر ندی کړی شوی مګر د دې چې عبادت د الله رب العالمین لپاره خالص کړي. او هغه عبادت چې الله تعالی پرې امر کړی؛ هغه حنیفیت دی او هغه د ابراهیم علیه السلام ملت دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿قُلۡ إِنَّنِي هَدَىٰنِي رَبِّيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ دِينٗا قِيَمٗا مِّلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۚ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ﴾ [الأنعام: 161]

(ته ووایه: بېشکه زه (چې یم) ما ته زما رب د نېغې لارې هدایت کړی دی، چې ښېخي سم دین دی، د ابراهیم ملت دی، چې یوازې په حق پسې تلونکی و او له مشرکانو څخه نه و). [الأنعام سورت: 161 آیت].

او هغه عبادت چې الله تعالی پرې امر کړی ډېر ډولونه لري او هیڅ ډول یې له الله پرته بل چاته روا ندی، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا﴾ [الجن: 18]

(او دا چې یقینًا جوماتونه خاص د الله لپاره دي، نو تاسو له الله سره بل هیڅوک مه بلئ). [الجن سورت: 18 آیت]

. او له ډولونو څخه یې: دعا ده، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ [المؤمنون: 117

(او هغه څوک چې له الله سره بل داسې اله بلې چې له هغه سره په دې باندې هېڅ دلیل نشته، نو بېشکه همدا خبره ده چې د ده حساب د ده د رب په نیز دی، بېشکه شان دا دی چې کافران بری نه مومي} [المؤمنون سورت: 117 آیت]،

او الله تعالی فرمایي:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾ [غافر: 60]

(او ستاسې رب ویلي: له ما څخه دعا وغواړئ زه به ستاسو دعا قبوله کړم، یقینا هغه کسان چې لویي کوي زما له عبادت څخه خامخا به جهنم ته ذلیل (خوار) ننوځي). [غافر سورت: 60 آیت].

او - د عبادت له ډولونو څخه - توکل دی، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿... فَتَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ﴾ [المائدة: 23]

(او تاسو خاص په الله باندې توکل وکړئ که چېرې تاسو مومنان یئ) [المائدة سورت: 23 آیت]

، او الله تعالی فرمایي:

او د عبادت له ډولونو څخه (خشیت) دی، هغه ویره چې تعظیم ورسره وي. (نو له هغو نه مه وېرېږئ، او له ما نه وېرېږئ). او د عبادت له ډولونو څخه ویره ده (په غیر د اسبابو)، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوۡلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٧٥﴾ [آل عمران: 175]

(نو تاسو له هغوی نه مه وېرېږئ او له ما نه وېرېږئ که چېرې تاسو مومنان یئ) [آل عمران سورت: 175آیت]

. او د عبادت له ډولو څخه امید ساتل دي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحۡذُورٗا ٥٧﴾ [الإسراء: 57]

(دغه خلق چې دوی یې بلي، هغه خلق دي چې خپل رب ته وسیله (نزدیکت) لټوي چې په دوی کې کوم یو زیات نږدې دی او د هغه د رحمت امېد لري او د هغه له عذابه وېرېږي، بېشکه ستا د رب له عذاب څخه ویره کیدی شي). [الإسراء سورت: 57 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا ١١٠﴾ [الكهف: 110]

(ته (دوی ته) ووایه: بېشکه همدا خبره ده چې زه یوازې ستاسو په شان بشر یم، ما ته وحي کیږي چې بېشکه ستاسو معبود یوازې یو معبود دی، نو هغه څوک چې د خپل رب د ملاقات هلیه لري، نو هغه دې نېک عمل وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې هیڅوک نه شریکوي). [الكهف سورت: 110 آیت]

. او د عبادت له ډولونو څخه یو پنا غوښتل دي، حق ذات فرمایلي دي:

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١﴾ [الناس: 1]

(ووایه (اې پیغمبره): زه پناه غواړم په رب د خلکو پورې). [الناس سورت : 1 آیت]

. او د عبادت له ډولونو څخه یو ذبح (حلاله) ده: حق ذات فرمايلي دي:

﴿قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ١٦٢﴾ [الأنعام: 162

(ته ووایه: بېشکه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ خاص د الله رب العلمين لپاره دي). [الأنعام سورت: 162 آيت]

. او د - عبادت له ډولونو څخه - يو مرسته غوښتل دي، الله تعالی فرمايلي:

﴿إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ٥﴾ [الفاتحة: 5]

(خاص ستا بنده ګي کوو او خاص ستا څخه مرسته غواړو) [الفاتحة سورت: 5 آيت]

. او - د عبادت له ډولونو څخه - يو يې د سختئ په حالت کې مرسته غوښتل دي، حق ذات فرمايلي دي:

﴿إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَٱسۡتَجَابَ لَكُمۡ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلۡفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُرۡدِفِينَ٩﴾ [الأنفال: 9]

(کله چې تاسو له خپل رب نه مرسته وغوښته، نو هغه ستاسو دعا قبوله کړه چې بېشکه زه ستاسو مرسته کوونکی یم په زرو ملايکو سره، چې په يو بل پسې به راتلونکي وي) [الأنفال سورت: 9 آيت].

او مونږ پدې پوهيږو چې په قرآن کريم کې لومړی امر له ټولو شيانو پرته يوازې د يو الله - تعالی - په عبادت شوی دی د ستاينې وړ ذات فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ٢١﴾ [البقرة: 21

(ای خلکو! د خپل رب عبادت کوئ، هغه چې تاسو يې پيدا کړي يئ او هغه کسان چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ). [البقرة سورت: 21 ايت]

. او هر نبي خپل امت ته ويلي دي:

﴿...ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ...﴾ [هود: 84

(تاسو د الله عبادت کوئ، ستاسو لپاره له هغه نه پرته (بل) هېڅ په حق معبود نشته)، [هود: 84

لکه څرنګه چې الله - تعالی - د لومړي پيغمبر په اړه فرمايلي دي:

﴿لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ۝٥٩﴾ [الأعراف: 59]

(يقينًا يقينًا مونږ نوح خپل قوم ته لیږلی و، نو هغه وویل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، ستاسو لپاره له هغه نه سِوا (بل) هېڅ برحق معبود نشته، بېشکه زه پر تاسو د لويې ورځې له عذاب نه وېرېږم) [الأعراف سورت: 59 آيت]،

او الله تعالی د اخري پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - په اړه د خبر ورکولو په موخه فرمايلي دي چې هغه خپل قوم ته وويل:

﴿۞ وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ ...﴾ [النساء: 36]

(او تاسو د الله عبادت کوئ او له هغه سره هېڅ شی مه شريکوئ) [النساء سورت: 36: آيت]، او حق متعال ذات فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ ....﴾ [النحل: 36]

(او يقينًا يقينًا مونږ په هر يو امت کې يو رسول لیږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ). [النحل سورت 36 آيت]

. او مونږ پوهيږو چې عبادت تر هغه پورې نه قبليږي تر څو چې الله رب العالمين ته خالص شوی نه وي او د پيغمبرانو د سردار - صلی الله عليه وسلم - د لاربنوونو سره سم نه وي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿... فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا ۝١١٠﴾ [الكهف: 110]

(نو هغه څوک چې د خپل رب د ملاقات هيله لري، نو هغه دې نيک عمل وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې هيڅوک نه شريکوي). [الكهف سورت: 110 آيت].

او مونږ پوهيږو چې په عبادت سره بايد موخه يوازې يو الله وي چې شريک نه لري، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ». «بېشکه صحت د عملونو په نيتونو پورې دی او هر انسان ته به هغه څه حاصل شي چې د هغه نيت يې کړی وي، نو چا چې د الله او د هغه د رسول لپاره هجرت کړی وي؛ د هغه هجرت د الله او د هغه د رسول

لپاره دی او چا چې هجرت د دنیا لپاره او یا د یوې ښځې سره د واده کولو لپاره کړی وي نو د هغه هجرت د هغه څه لپاره دی چې هغه ورته هجرت کړی وي». بخاري (6689)، مسلم (1907)، ابوداود (2201)، ترمذي (1647)، نسائي (75) او ابن ماجه (4227) روایت کړی دی. او هغه سپېڅلي ذات له ټول شرک څخه ویرول کړي دي؛ هغه لوی وي او که کوچنی، الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا ٤٨﴾ [النساء: 48]

(بېشکه الله تعالی نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوک) شریک کړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرک) نه کمه وي د چا لپاره چې یې وغواړي او څوک چې له الله سره شریک ونیسي، نو یقینًا هغه ډېره لویه ګناه راجوړه کړله). [النساء سورت : 48 آیت]

. او له أبو هریرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «قَالَ اللهُ تبارك وتعالى: أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ، مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي، تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ». «الله تبارک و تعالی فرمایلي دي: د شریکانو تر ټولو غني یم، نو څوک چې یو کار وکړي، په هغه کې بل څوک زما سره شریک کړي؛ زه به هغه کس د هغه شرک ته پرېږدم». مسلم روایت کړی دی (2985). نو څوک چې یو خالص عمل وکړي مګر د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لارښوونو سره موافق نه وي، نو د هغه عمل مردود دی، الله - تعالی - فرمایلي:

﴿لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا ٢١﴾ [الأحزاب: 21]

(یقینًا یقینًا ستاسو لپاره په (کار د) رسول الله کې ډېره ښه اقتدا ده، د هغه چا لپاره چې د الله او د وروستنۍ ورځې امېد لري او الله ډېر زیات یادوي). [الأحزاب سورت: 21 آیت]

. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ»، "څوک چې یو عمل وکړي چې هغه زمونږ په حکم کې نه وي، نو هغه مردود دی"، مسلم روایت کړی دی (1718). او الله تعالی فرمایلي:

﴿... فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنۡ أَمۡرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ أَوۡ يُصِيبَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٦٣﴾ [النور: 63]

(نو هغه کسان دې ووېرېږي چې د هغه (رسول) له حکم نه مخالفت کوي، له دې نه چې دوی ته څه افت ورسېږي، یا دوی ته ډېر دردوونکی عذاب ورسېږي) [النور سورت: 63 آیت]

، او الله تعالی فرمایلي:

﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ٣١﴾ [آل عمران: 31]

(ای نبي!) (ته ووایه: که چېرې یئ تاسو چې له الله سره مینه کوئ، بیا نو زما اتباع وکړئ، الله به له تاسو سره مینه وکړي او تاسو ته به ستاسو ګناهونه وبخښي او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی) [آل عمران سورت: 31 آیت].

او مونږ پوهیږو چې د عبادت اصول (بنستونه) دري دي: بشپړ محبت، بشپړ امید ساتل او بشپړه ویره لرل او دا چې پیغمبران او رسولان لدې څخه په لوی نصیب او برخه بریالي شوي دي، الله تعالی د دوی له حال څخه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي دي:

﴿.... إِنَّهُمۡ كَانُواْ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَيَدۡعُونَنَا رَغَبٗا وَرَهَبٗاۖ وَكَانُواْ لَنَا خَٰشِعِينَ ٩٠﴾ [الأنبياء: 90]

(بېشکه دوی (نبیان داسې) وو چې په نېکیو کې به یې تلوار کاوه او مونږ به یې بللو، په داسې حال کې چې رغبت کوونکي او وېرېدونکي وو او دوی خاص زمونږ لپاره تواضع کوونکي وو). [الأنبیاء سورت : 90 آیت]

، او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَٱلَّذِينَ يُؤۡتُونَ مَآ ءَاتَواْ وَّقُلُوبُهُمۡ وَجِلَةٌ أَنَّهُمۡ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ رَٰجِعُونَ ٦٠ أُوْلَٰٓئِكَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَهُمۡ لَهَا سَٰبِقُونَ٦١﴾ [المؤمنون: 60-61]

(او هغه کسان چې ورکوي، هغه څه چې ورکوي، او زړونه د دوی وېرېدونکي وي (ځکه چې) یقینًا دوی خپل رب ته واپس ورتلونکي دي. دغه کسان په نېکیو کې تلوار کوي او دوی دغو (نېکیو) ته ړومبی کېدونکي دي). [المؤمنون سورت: 60، 61 آیتونه]،

او الله پاک فرمایلي دي:

﴿تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمۡ عَنِ ٱلۡمَضَاجِعِ يَدۡعُونَ رَبَّهُمۡ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ١٦﴾ [السجدة: 16]

(د دوی ډډې له خپلو خوب ځایونو نه لرې کېږي، دوی خپل رب بولي په وېرې او طمعې سره او له هغه (مال) نه، چې مونږ دوی ته ورکړی دی ؛ څه لګوي) [السجدة سورت : 16 آیت]

، او حق ذات سبحانه وتعالى فرمايلي دي:

﴿أَمَّنۡ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ سَاجِدٗا وَقَآئِمٗا يَحۡذَرُ ٱلۡأٓخِرَةَ وَيَرۡجُواْ رَحۡمَةَ رَبِّهِۦۗ ...[الزمر: 9]

(ايا هغه څوك چې هغه د شپې په ساعتونو كې اطاعت كوونكى دى، چې سجده كوونكى او قيام كوونكى وي، له آخرت نه ويرېږي او د خپل رب د رحمت اميد لري) [الزمر سورت: 9 آيت].

او له أبو هريرة - رضى الله عنه - څخه روايت دى فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي، وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي، فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي، وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ بِشِبْرٍ تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا، وَإِنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً». «الله تعالى فرمايلي دي: زه د خپل بنده له ګمان سره يم چې پر ما يې كوي، او زه له هغه سره يم كله مې چې ياد كړي، كه چېرته يې زه له خپل ځان سره ياد كړم، زه به يې د خپل ځان سره ياد كړم او كه چېرته يې د خلكو په منځ كې ياد كړم زه به يې د هغه له ټولګي څخه په غوره ټولګي كې ياد كړم او كه چېرته ماته د يوې لويشتې په اندازه رانږدې شو، زه به ورته يو څنګل (ګز) ورنږدې شم، او كه چېرته يو ګز را نږدې شو نو زه به ورته د دواړو خلاصو لاسونو په اندازه ورنږدې شم او كه چېرته زما لورې ته قدم وهونكى راغى زه به په تېز مزل سره ورشم». بخاري (7405)، مسلم (2675)، ترمذي (3603) او ابن ماجه (3822). او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادٗا يُحِبُّونَهُمۡ كَحُبِّ ٱللَّهِۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبّٗا لِّلَّهِۗ ... ١٦٥﴾ [البقرة: 165]

(او په خلقو كې ځينې هغه څوک دي چې له الله نه غير شريكان نيسي، له هغوى سره مينه كوي له الله سره د مينې په شان او هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى؛ له الله سره په مينه كې ډېر سخت (او كلک) دي). [البقرة سورت: 165 آيت]

، او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلَاوَةَ الإِيمَانِ: أَنْ يَكُونَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا، وَأَنْ يُحِبَّ المَرْءَ لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ، وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ فِي الكُفْرِ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ». «دري - خويونه - دي چې په چا كې وي نو د ايمان خواږه به ومومي: چې الله او رسول يې ورته له هر څه زيات محبوب وي، او دا چې څوک خوښ ګڼي نو خوښ دې نه ګڼي مګر د الله لپاره، او كفر ته بيرته ورګرځيدل ورته داسې بد ښكاري لكه څرنګه چې خوښ نه ګڼي چې په اور كې دې واچول شي».

بخاري (16)، مسلم (43)، ترمذي (2624)،نسائي (4987) او ابن ماجه (4033) روایت کړی دی. او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «فَوَ الَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ». «قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دی، له تاسو څخه به هیڅوک تر هغه پورې مؤمن نشي تر څو چې زه ورته له پلار او زوی څخه زیات محبوب نه شم». بخاري (14) او نسائي (5015) روایت کړی دی. او تر هغه پورې بنده د الله تعالی محبت لاس ته نه شي راوړلی تر څو چې یې د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - پیروي نه وي کړې، حق ذات فرمايلي دي:

﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣١﴾ [آل عمران: 31]

(ای نبي!) ته ووایه: که چیرې یئ تاسو چې له الله سره مینه کوئ، بیا نو زما اتباع وکړئ، الله به له تاسو سره مینه وکړي او تاسو ته به ستاسو ګناهونه وبخښي او الله ډیر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی) [آل عمران سورت: 31 آیت].

او تر ټولو ستره هیله چې مؤمنان یې لري، هغه د الله تعالی عزتمند مخ ته لیدل دي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ نَّاضِرَةٌ ٢٢ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٞ ٢٣﴾ [القيامة: 22-23]

څه مخونه (د مومنانو) به په دغه ورځ (د قیامت) ترو تازه وي. او خپل رب ته به کتونکي (دیدار کوونکي) وي) [القيامة سورت : 22، 23 آیتونه]

. او د الله تعالی لیدل د جنتیانو له تر ټولو سترو نعمتونو څخه دي بلکه د هغوی د ټولو نعمتونو له پاسه اضافي نعمت دی، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿۞لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ ٱلۡحُسۡنَىٰ وَزِيَادَةٞۖ وَلَا يَرۡهَقُ وُجُوهَهُمۡ قَتَرٞ وَلَا ذِلَّةٌۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٦﴾ [يونس: 26]

(د هغو کسانو لپاره چې نیکي یې کړې ده ډېره نیکه بدله ده او زیادت (د الله دیدار) او د دوی مخونه به نه هېڅ تور ګرد او غبار پټوي او نه څه ذلت، دغه کسان د جنت والا دي دوی به په هغه کې همېشه وي) [يونس سورت: 26 آیت]

. او له صهيب - رضي الله عنه - څخه روايت دی هغه له نبي صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: «إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، قَالَ: يَقُولُ اللهُ تبارك وتعالى: تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ؟ فَيَقُولُونَ: أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا؟ أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ، وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ؟ قَالَ: فَيَكْشِفُ الْحِجَابَ، فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ عز وجل». "کله چې جنتيان جنت ته داخل شي، وايي: نو الله – تبارک وتعالی- به وفرمايي: ايا تاسو اضافه څه غواړئ چې زه يې درکړم؟ دوی به ووايي: آيا زمونږ مخونه دې ندي سپين کړي؟ آيا مونږ دې جنت ته نه يو داخل کړي، او له اور څخه دې نه يو ژغورلي؟ وايي: بيا به الله پرده لرې کړي، نو دوی ته به د خپل رب – عزوجل- د کتلو څخه محبوب څيز بل نه وي ورکړ شوی». مسلم (181)، ترمذي (2552) او ابن ماجه (187) روايت کړی دی.

## )بـــاب التوسل والوسيلة (باب دې د نږدې کېدلو او وسېلې په اړه

وسيله الله ته نزديکت دی په هر هغه څه چې الله ته خوښ وي د واجب او مستحب څخه.

او مونږ ايمان لرو چې الله تعالی خپلو بندګانو ته په دعا کولو امر کړی دی، او ورسره يې د قبلولو ژمنه کړې ده، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ٦٠﴾ [غافر: 60]

(او ستاسي رب ويلي: له ما څخه دعا وغواړئ زه به ستاسو دعا قبوله کړم، يقينا هغه کسان چې لويي کوي زما له عبادت څخه خامخا به جهنم ته ذليل (خوار) ننوځي). [غافر سورت : 60 آيت]

، هغه پاک ذات چې نومونه يې سپيڅلي دي فرمايلي:

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌۖ أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِۖ فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لِي وَلۡيُؤۡمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمۡ يَرۡشُدُونَ١٨٦﴾ [البقرة: 186]

(او کله چې زما په باره کې له تا نه زما بنده ګان پوښتنه وکړي، نو يقينًا زه نږدې يم، د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما نه دعا وغواړي، پس دوی دې زما حکم ومني، او پر ما دې ايمان راوړي، د دې لپاره چې دوی سمه لار ومومي). [البقرة سورت: 186 آيت].

او مونږ پوهیږو چې الله تعالی ته د هغه په نیکو نومونو او لوړو صفتونو سره وسیله کیږي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ١٨٠﴾ [الأعراف: 180]

(او خاص د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره بلئ او هغه کسان پرېږدئ چې د هغه په نومونو کې الحاد (کوږوالی) کوي، ژر به هغوی ته د هغو عملونو بدله (سزا) ورکړی شي چې هغوی به کول). [الأعراف سورت: 180 آیت]

، او الله تعالی فرمایي:

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ أَيّٗا مَّا تَدۡعُواْ فَلَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَلَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا وَٱبۡتَغِ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلٗا١١٠﴾ [الإسراء: 110]

(ته (دوی ته) ووایه: تاسو الله بلئ، یا تاسو رحمٰن بلئ، هر یو (نوم) یې چې وبلئ، نو خاص د هغهٔ لپاره دي تر ټولو ښکلي نومونه او ته (قراءت د) خپل لمونځ ډېرپه لوړ اواز مه کوه او نه ډېر په ټیټ اواز او د دې دواړو په مېنځ کې (منځنۍ) لار ولټوه). [الإسراء سورت: 110 آیت].

لدې امله د أنبیاوو او رسولانو علیهم السلام په ډېرو دعاګانو کې الله تعالی ته د هغه نیک نومونه وسیله شوي دي لکه څرنګه چې الله تعالی د آدم او د هغه له ښځې څخه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي دي چې هغوی دواړو وویل:

﴿قَالَا رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ٢٣﴾ [الأعراف: 23]

(اې زمونږه ربه! مونږ پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی او که چیرې ته مونږ ونه بخښې او پر مونږ رحم ونه کړې (، نو) مونږ به خامخا لازمًا له تاوانیانو څخه شو) [الأعراف سورت: 23 آیت]

، او خلیل - علیه السلام - فرمایلي دي:

﴿رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ٤٠﴾ [إبراهیم: 40]

(ای ربه زما! ما پر لمانځه همېشنی (پابندي کوونکی) وګرځوه، او زما له اولادې هم، ای ربه زمونږ! زما دعا قبوله کړه). [إبراهیم سورت: 40 آیت]

، او موسی علیه السلام فرمایی:

﴿قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَلِأَخِي وَأَدۡخِلۡنَا فِي رَحۡمَتِكَۖ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ١٥١﴾ [الأعراف: 151]

[(موسٰی) وویل: ای زما ربه! ته ما ته بخښنه وکړه او زما ورور ته او مونږ په خپل رحمت کې داخل کړه او ته تر ټولو لوی مهربان یې] [الأعراف سورت: 151 آیت].

لکه څرنګه چې وسیله په الله تعالی په ایمان سره کیږي، الله تعالی فرمایلي:

﴿رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلۡتَ وَٱتَّبَعۡنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ٥٣﴾ [آل عمران: 53]

(ای زمونږه ربه! مونږ ایمان راوړی دی په هغه څه چې تا نازل کړي دي او مونږ د رسول تابعداري کړې ده، نو ته مونږه (د حق) له ګواهي کوونکو سره ولیکه) [آل عمران سورت: 53 آیت].

او توسل په نیک عمل سره کیږي، لکه څرنګه چې د هغه دریو نفرو په کیسه کې راغلي دي کله چې پرې غار وتړل شو، فعن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «انْطَلَقَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَتَّى أَوَوا المَبِيتَ إِلَى غَارٍ، فَدَخَلُوهُ، فَانْحَدَرَتْ صَخْرَةٌ مِنَ الجَبَلِ، فَسَدَّتْ عَلَيْهِمُ الغَارَ، فَقَالُوا: إِنَّهُ لَا يُنْجِيكُمْ مِنْ هَذِهِ الصَّخْرَةِ إِلَّا أَنْ تَدْعُوا اللَّهَ بِصَالِحِ أَعْمَالِكُمْ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنْهُمْ: اللَّهُمَّ، كَانَ لِي أَبَوَانِ شَيْخَانِ كَبِيرَانِ، وَكُنْتُ لَا أَغْبِقُ قَبْلَهُمَا أَهْلًا، وَلَا مَالًا، فَنَأَى بِي فِي طَلَبِ شَيْءٍ يَوْمًا، فَلَمْ أُرِحْ عَلَيْهِمَا حَتَّى نَامَا، فَحَلَبْتُ لَهُمَا غَبُوقَهُمَا، فَوَجَدْتُهُمَا نَائِمَيْنِ، وَكَرِهْتُ أَنْ أَغْبِقَ قَبْلَهُمَا أَهْلًا أَوْ مَالًا، فَلَبِثْتُ وَالقَدَحُ عَلَى يَدَيَّ، أَنْتَظِرُ اسْتِيقَاظَهُمَا حَتَّى بَرَقَ الفَجْرُ، فَاسْتَيْقَظَا، فَشَرِبَا غَبُوقَهُمَا، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ، فَفَرِّجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ مِنْ هَذِهِ الصَّخْرَةِ، فَانْفَرَجَتْ شَيْئًا لَا يَسْتَطِيعُونَ الخُرُوجَ»، قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: «وَقَالَ الآخَرُ: اللَّهُمَّ كَانَتْ لِي بِنْتُ عَمٍّ، كَانَتْ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَيَّ، فَأَرَدْتُهَا عَنْ نَفْسِهَا، فَامْتَنَعَتْ مِنِّي حَتَّى أَلَمَّتْ بِهَا سَنَةٌ مِنَ السِّنِينَ، فَجَاءَتْنِي، فَأَعْطَيْتُهَا عِشْرِينَ وَمِائَةَ دِينَارٍ عَلَى أَنْ تُخَلِّيَ بَيْنِي وَبَيْنَ نَفْسِهَا، فَفَعَلَتْ حَتَّى إِذَا قَدَرْتُ عَلَيْهَا، قَالَتْ: لَا أُحِلُّ لَكَ أَنْ تَفُضَّ الخَاتَمَ إِلَّا بِحَقِّهِ، فَتَحَرَّجْتُ مِنَ الوُقُوعِ عَلَيْهَا، فَانْصَرَفْتُ عَنْهَا، وَهِيَ أَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ، وَتَرَكْتُ الذَّهَبَ الَّذِي أَعْطَيْتُهَا، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ، فَافْرُجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ، فَانْفَرَجَتِ الصَّخْرَةُ غَيْرَ أَنَّهُمْ لَا يَسْتَطِيعُونَ الخُرُوجَ مِنْهَا»، قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: «وَقَالَ الثَّالِثُ: اللَّهُمَّ إِنِّي اسْتَأْجَرْتُ أُجَرَاءَ، فَأَعْطَيْتُهُمْ أَجْرَهُمْ غَيْرَ رَجُلٍ وَاحِدٍ تَرَكَ الَّذِي لَهُ وَذَهَبَ، فَثَمَّرْتُ أَجْرَهُ حَتَّى كَثُرَتْ مِنْهُ الأَمْوَالُ، فَجَاءَنِي بَعْدَ حِينٍ، فَقَالَ: يَا عَبْدَ اللَّهِ، أَدِّ إِلَيَّ أَجْرِي، فَقُلْتُ لَهُ: كُلُّ مَا تَرَى مِنْ أَجْرِكَ مِنَ الإِبِلِ وَالبَقَرِ وَالغَنَمِ وَالرَّقِيقِ، فَقَالَ: يَا عَبْدَ اللَّهِ، لَا تَسْتَهْزِئْ بِي، فَقُلْتُ: إِنِّي لَا أَسْتَهْزِئُ بِكَ، فَأَخَذَهُ كُلَّهُ، فَاسْتَاقَهُ، فَلَمْ يَتْرُكْ مِنْهُ شَيْئًا، اللَّهُمَّ فَإِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ، فَافْرُجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ، فَانْفَرَجَتِ الصَّخْرَةُ، فَخَرَجُوا يَمْشُونَ». له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما

څخه روايت دی وايي چې له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه مې اوريدلي دي چې وييل يې: «ستاسو څخه وړاندې د دريو نفرو يوه ډله روانه شوه تر دې چې يو غار ته يې شپه ورسوله، نو ورننوتل - پدې وخت کې - له غره څخه يوه تيږه راوښوېدله او غار يې پرې بند کړ، دوی وويل: تاسو لدې تيږې څخه تر هغه پورې نه شئ ژغورل کيدلی تر څو چې الله - تعالی - په خپلو نيکو عملونو سره راونه بلئ، نو لدوی څخه يو سړي ووېل: ای الله، ما مور او پلار درلودل چې ډير زاړه وو، نو ما به لدوی څخه مخکې د شپې لخوا هيچا ته لوموړی شيدې نه ورکولې؛ نه اولادونو ته او نه مال ته - له مال څخه يې موخه پدې کار زيات ټينګار دی - نو يوه ورځ د يو څه په لټه کې راباندې ناوخته شو، دومره ناوخته شو چې کله راغلم نو دوی ويده شوي وو، نو دوی ته مې د دوی اوښه ولوشله - کله چې راغلم - ګورم چې دواړه ويده دي، نو ما ناسمه وګڼله چې له دوی څخه وړاندې خپلو اولادونو او مالونو ته د شپې لخوا شيدې ورکړم، نو همداسې ورته انتظار پاتې شوم تر څو دوی روايښ شي پداسې حال کې چې د شيدو لوښی مې په لاس کې و، تر دې چې سهار راوخوت، نو راپاڅېدل او خپلې شېدې يې وڅښلې، نو ای الله که چېرته ما دا کار ستا د رضا لپاره کړی وي، نو دغه سختي راڅخه لرې کړه چې مونږ. پکې بند پاتې يو، نو تيږه يو څه ډډه شوه خو ترې راوتلی نه شول» رسول الله - صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «او بل وويل: ای الله زما يوه د کاکا لور وه، ماته ډيره ګرانه وه، نو له هغې څخه مې - د زنا - غوښتنه وکړه، خو هغې زما مخنيوی وکړ تر دې چې له کلونو څخه پرې يو سخت کال راغی نو ماته راغله - ما يو سل او شل ديناره ورکړل تر څو د هغې سره د يو ځای کېدلو اجازه راکړي ، نو ويې منله، تر دې چې کله وربرابر شوم، نو هغې وويل: زه اجازه نه درکوم چې مهر مات کړې مګر په حق سره ( يعني د الله نه وويريږه او بکارت په ناروا توګه له منځه مه وړه) نو له هغې سره له يو ځای کېدلو څخه مې ځان وساته او ترې روان شوم حال دا چې ډيره زياته مې خوښېدله او هغه سره زر مې چې ورکړي وو هغه - مې - پرېښودل، نو ای الله ! که چېرته مې - دا کار - ستا د رضا لپاره کړی وي، نو دغه ستونزه راڅخه لرې کړه چې مونږ. پکې - راګير - يو، رسول الله - صلی الله عليه وسلم - وفرمايل: « او دريم سړي وويل: ای الله ما څه خلک په مزدوری نيولي وو، نو د هغوی مزدوري مې ورکړه پرته له يو سړي څخه چې خپله برخه يې پرېښوده او لاړ، نو د هغه په مزد مې ورته پانګونه وکړه تر دې چې ډير مال ترې جوړ شو، نوموړی يو څه موده وروسته راغی، او ويې وويل: ای د الله بنده! هغه زما مزدوري راکړه، ما ورته وويل: ټول دا څه چې ګورې له اوښانو، غواګانو، ميږو او غلامانو څخه، دا ټوله ستا مزدوري ده، هغه راته وويل: ای د الله بنده، پر ما ملنډې مه وهه، ما ورته وويل: زه پر تا ملنډې نه وهم، نو ټول يې واخستل روان يې کړل او هيڅ يې ترې پرې نښودل، نو ای الله که چېرته مې هغه کار ستا د رضا لپاره کړی وي نو له

دغه ستونزې څخه مو وژغوره چې پکې راګیر یو، نو تیږه لرې شوه، او دوی راووتل روان شول». بخاري (2272) او مسلم (2743) روایت کړی دی. او الله ته توسل په ډول ډول عبادتونو ترسره کیږي، چې ترټولو مهم یې دعا ده، لکه څرنګه چې الله تعالی د خپلو پیغمبرانو په اړه فرمایلي دي:

﴿... إِنَّهُمْ كَانُوا۟ يُسَـٰرِعُونَ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ۖ وَكَانُوا۟ لَنَا خَـٰشِعِينَ ۝٩٠﴾ [الأنبياء: 90]

(بېشکه دوی (نبیان داسې) وو چې په نېکیو کې به یې تلوار کاوه او مونږ به یې بللو، په داسې حال کې چې رغبت کوونکي او وېرېدونکي وو او دوی خاص زمونږ لپاره تواضع کوونکي وو). [الأنبياء سورت: 90 آیت].

او د دعا له ځایونو څخه یې ځینې دا دي: د لمونځونو پسې، د شپې په وروستۍ دریمه برخه کې، د روژه ماتي پر مهال، په طواف کې ، په صفا او مروه، په عرفات او مزدلفة او د جمرو له ویشتلو څخه وروسته. او توسل د حالاتو په یادولو او الله تعالی ته په عاجزۍ ښودلو سره کیږي او دا چې بنده د الله مرستې او رحمت ته اړتیا لري، الله تعالی د موسی علیه السلام په اړه فرمایي چې هغه وویل:

﴿.... رَبِّ إِنِّى لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَىَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ ۝٢٤﴾ [القصص: 24]

(ای زما ربه! بېشکه زه هر هغه څیز ته چې ته یې ما ته نازلوې له خیره څني؛ محتاج یم) [القصص سورت: 24 آیت]

، او الله تعالی د أیوب - علیه السلام - په اړه فرمایلي دي چې هغه دعا وکړه - او داسې یې وویل: (بېشکه زه په تکلیف (مرض) اخته شوی یم، او ته تر ټولو ډېر رحم کوونکی یې) الأنبياء سورت: ٨٣ آیت. او توسل پدې سره هم کیږي چې مسلمان د یو ژوندي صالح انسان څخه وغواړي چې دعا ورته وکړي، لکه څرنګه چې د یوسف ورونو له خپل پلار څخه وغوښتل چې - له الله تعالی - څخه ورته بخښنه وغواړي، الله تعالی لدې - خبرې - څخه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي دي:

﴿قَالُوا۟ يَـٰٓأَبَانَا ٱسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَآ إِنَّا كُنَّا خَـٰطِـِٔينَ ۝٩٧﴾ [یوسف: 97]

(هغوی وویل: ای زمونږ پلاره! زمونږ لپاره (له الله نه) زمونږ د ګناهونو بخښنه وغواړه، بېشکه مونږ خطا کار وو) [یوسف سورت: 97 آیت]،

او الله تعالی فرمایي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ جَآءُوكَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابٗا رَّحِيمٗا ٦٤﴾ [النساء: 64]

(او که په رښتیا دوی په هغه وخت کې تا ته راغلي وَی چې دوی پر خپلو ځانونو ظلم وکړ، بیا یې له الله نه بخښنه غوښتي وَی او د دوی لپاره رسول (هم) بخښنه غوښتي وَی (، نو) خامخا دوی به الله ښه توبه قبلوونکی، بې حده رحم کوونکی موندلی و) [النساء سورت: 64 آیت].

وعن أنس بن مالك، عَنْ خَالَتِهِ أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ، قَالَتْ: نَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَوْمًا قَرِيبًا مِنِّي، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ يَتَبَسَّمُ، فَقُلْتُ: مَا أَضْحَكَكَ؟ قَالَ: «أُنَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ يَرْكَبُونَ هَذَا البَحْرَ الأَخْضَرَ كَالْمُلُوكِ عَلَى الأَسِرَّةِ»، قَالَتْ: فَادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَدَعَا لَهَا، ثُمَّ نَامَ الثَّانِيَةَ، فَفَعَلَ مِثْلَهَا، فَقَالَتْ مِثْلَ قَوْلِهَا، فَأَجَابَهَا مِثْلَهَا، فَقَالَتْ: ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ، فَقَالَ: «أَنْتِ مِنَ الأَوَّلِينَ». له انس بن مالک څخه روایت دی چې د خپلې ترور ام حرام بنت ملحان څخه روایت کوي فرمايي: رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يوه ورځ ما ته نږدې ویده شو، بیا د مسکا په حال کې راویښ شو، نو ما ورته وویل: څه شي وخندولې؟ هغه وویل: داسې خلک زما له امت څخه ماته وښودلی شول چې پدې درياب به داسې سپاره تیریږي لکه پادشاهان چې په تختونو وي»، هغې وویل: نو له الله تعالی څخه وغواړه چې زه له هغوی خلکو څخه اوسم، نو دعا یې ورته وکړه، بیا دویم ځل ویده شو، نو د لومړي ځل په څېر یې بیا هماغسې وکړل، نو هغې ورته هم لکه د لومړي ځل په څېر وینا وکړه، نو هغه ورته هم د لومړي ځل په څېر ځواب ورکړ، هغې ورته وویل: له الله تعالی څخه وغواړي چې له هغو خلکو څخه اوسم، نو هغه وویل: "ته د لومړنیو څخه یې". بخاري (2799)، مسلم (1912)، ابو داود (2490)، نسائي (3172) او ابن ماجه (2776) روایت کړی دی. کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه اویا زره کسانو تفصیل بیان کړ چې پرته له حسابه به جنت ته ننوځي، عکاشه -رضی الله عنه - ولاړ شو او ویې ویل: «ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ». "له الله تعالی - څخه - وغواړه چې ما له دوی څخه وګرځوي". مسلم (218) روایت کړی دی. او له أنس - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې عمر بن الخطاب - رضي الله عنه دوی به د قحطۍ پر مهال د عباس بن عبد المطلب په وسیله ګرځولو د باران دعا غوښتنه کوله، هغه به وییل: ای الله مونږ به تاته د باران غوښتلو په موخه ستا پیغمبر وسیله کاوه نو تا به راباندې باران وکړ اوس مونږ تاته ستا د پیغمبر تره وسیله کوو(بعم النبی ای بدعاء عم النبی، د هغه په دعا به مونږ باران غوښته)، نو پر مونږ باران وکړه، فرمايي: نو باران به پرې وکړای شو»، بخاري (1010) روایت کړی دی. نو صحابه و - رضي الله عنهم - د باران غوښتلو ( استسقاء ) لپاره د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - له وسیله ګرځولو څخه تېر شول

ځکه چې هغه وفات شوی و او د هغه پر ځای یې د عباس - رضی الله عنه - په دعا سره توسل وکړ؛ ځکه هغوی پوهېدل چې دا یو روا توسل دی، نو عمر رضي الله عنه له عباس - رضي الله عنه - څخه غواړي تر څو دعا وکړي او د هغه د عا - الله تعالی ته - وسیله کړي، نه دا چې په خپله عباس وسیله وګرځوي؛ ځکه که چېرته موخه دا وه چې عباس - رضي الله عنه - وسیله وګرځوي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغه څخه د دې کار لپاره لومړیتوب درلود. او توسل روا ندی مګر په هغه څه سره چې الله روا کړی وي، یقینا د جاهلیت د وخت خلک به الله - تعالی - ته د نږدې کېدو لپاره خپل بتان او باطل معبودان وسیله ګرځول، الله - تعالی - د دوی د ناوړه عمل څخه د خبرولو په موخه فرمایلي دي:

﴿أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ... ﴾ [الزمر: 3]

(او هغه کسان چې له هغه نه غیر یې دوستان (کارسازي) نیولي دي (وایي:) مونږ د دوی عبادت نه کوو مګر دوی مونږ الله ته ښه نژدې کړي). [الزمر سورت: 3 آیت].

# )کتــاب ما یـضــاد أصل الإیمــان أو یـضــاد کمــاله (

# کتاب دی په باره د هغه څه کې چې د ایمان د اصل یا بشپړتیا مخالف دي

## د کتاب لنډیز

او مونږ پدې پوهیږو چې هغه څه چې د ایمان ضد دی: هغه په الله - تعالی - کفر کول دي.

او کفر دوه ډوله دی: لوی او کوچنی، لوی کفر له ملت ( اسلام ) څخه ویستونکی دی او الله تعالی به یې خاوند له عذاب څخه ونه ژغوري؛ نه د عوض په مقابل کې او نه له عوض پرته، او دا ډول کفر د انسان ټول عملونه بربادوي او کافر تل د ابد لپاره په اور کې دی، خو کوچنی کفر د ایمان د بشپړ ایمان ضد عمل دی.

او مونږ پوهيږو چې لوی کفر ډولونه لري چې الله تعالی ترې خپل کتاب کې خبر ورکړی دی، او يادونه يې کړې ده چې د کافرانو کفر کله د هغوی د انکار له امله وي او کله هم د حق د مخنيوي او تکبر له امله، کله د دروغ ګڼلو له امله. او په ژبه او زړه د دروغ ګڼلو تر منځه هيڅ توپير نشته، کله هم د دوی کفر د شک او ګمان له امله وي، يعنې دا چې د حق په اړه زړه نازړه وي. او د بيا راپورته کيدو او الله تعالی سره د مخ کېدو په اړه شک کوونکی وي او کله هم بد رد وايي او ملنډې وهي، او کله هم د الله تعالی له حقې لارې څخه مخ اړوي او نور ورڅخه منع کوي او کله هم د دوی کفر له حق سره د کينې له امله وي.

او پدې پوهيږو چې د کفر ځينې ډولونه هغه دي چې د لوی کفر څخه لاندې وي، چې هغې ته تر ټولو کوچنی کفر وايي، او د ايمان د اصل سره تضاد نه لري، خو د ايمان د بشپړتيا سره په ټکر کې دی، مګر خاوند يې د تل لپاره په اور کې نه پاتې کيږي، او نه يې ټول عملونه بربادېږي، دا کفر ډير ډولونه لري.

له ډولونو څخه يې: د مسلمان سره جګړه کول، دا هغه کفر دی چې له ملت ( اسلام ) څخه څوک نه باسي او نه يې خاوند په اور کې د تل لپاره پاتې کيږي، ځکه چې الله تعالی په خپل منځ کې سره جګړه کوونکي مؤمنان ورونه وبلل، نو مسلمانان يې ورته وويل پداسې حال کې چې دوی له يو بل سره جنګيږي.

او مونږ پوهيږو چې هغه څه چې په الله تعالی باندې د ايمان سره تضاد لري: د لوی الله سره شرک کول دي - حال دا چې دا ډير لوی ظلم دی - او شرک ټول عملونه باطلوي، او الله مشرک نه بخښي که چيرته له توبې پرته مړ شي، او که مړ شي او توبه ونکړي. نو جنت پرې حرام دی او د هغه ځای دوزخ دی چې د تل لپاره به پکې اوسيږي.

او الله تعالی شرک باطل کړ او په مشرکانو يې د هغوی شرک وغماوه، او - باطلو - معبودانو لره د هغوی د نيولو فساد يې- ښکاره کړ، او دا چې هغه - بتان دوی ته - نه ګټه رسوي او نه تاوان، نو - الله تعالی - کله د دې وضاحت کوي چې دا برخه وال نه اوري او که چېرته واوري نو هغه چاته جواب نه شي ورکولی چې بلنه ورکوي، او کله هم حق ذات بيانوي چې دا برخه وال نه ګټه رسولی شي او نه تاوان، نه د مرګ اختيار لري او نه د ژوندي کولو او کله هم حق ذات بيانوي چې دا معبودان - چې له الله پرته يې عبادت کيږي، له هغه چا نه ډير ناقص او کم دي چې د دوی عبادت کوي (انسانان) ؛ ځکه چې دوی تللای نه شي او نه څوک د سزا ورکو لپاره رانيولی شي؛ نه څه اوري او نه څه ګوري او کله هم الله تعالی د دې معبودانو ناتوانايي او کمزوري ښايي او کله هم

پرې الله د فقر او کمښت حکم کوي او دا چې دوی د یوې ذرې په اندازه د څه شي بشپړه واکمني او اختیار نه لري او نه لدې څخه په کوم شي کې برخه لري، او هیڅ شی داسې نشته چې د الله - پاک - سره د هغه په کارونو کې مرسته وکړي او نه د هغه په وړاندې سفارش کولی شي. او کله هم حق او سپېڅلی ذات بیانوي چې د الله تعالی سره د بل معبود شتون عقل نه مني او شتون یې ناشونی او د شریعت له اړخه باطل دی.

او مونږ پوهیږو چې لوی شرک زیات ډولونه لري:

لکه: چې د الله - تعالی - سره د هغه په ربوبیت، ( پالنه او تربیه کول )پیدا کولو، واکمنی، رزق ورکولو او چارسمبالوونې کې شریک وګرځول شي او حق ذات دا - خبره - هم بیان کړه چې هغه پاک ذات په پیدا کولو او واکمنی کې یوازې دی.

او د - شرک له ډولونو - څخه دا هم دي : چې بنده الله تعالی ته د زوی درلودلو نسبت وکړي، چې - په حقیقت کې - الله رب العزت ډیر لوړ دی لدې کارونو څخه.

او د - شرک له ډولونو څخه - په ستورو باور لرل او د هغوی عبادت کول دي، او له جملې څخه - دا هم - چې په ستورو باندې باران وغوښتل شي او دا باور لرل چې رزق راجلبوي.

او د - شرک له ډولونو څخه - دا دي چې د الله - تعالی - سره د هغه په نومونو او صفتونو کې شریک وګرځول شي، لکه د هغه چا په شان چې ګمان کوي یو څوک له الله پرته په غیبو پوهیږي. او هغه چاته سخت ګواښ شوی چې خپل ځان او یا بل څوک د الله - تعالی - له نومونو څخه په داسې یو نوم ونوموي چې له الله پرته بل چا سره نه ښایي لکه «الله» او «الرحمن».

او د - شرک له ډولونو دا باور لرل دي چې له مخلوقاتو څخه یو څوک په الهي کمال سره یادول کیږي، او یا دا چې یو څوک په هر څه قادر دی، څنګه داسې کیدی شي؟ - حال دا چې - الله تعالی د بنده ګانو او له هغه پرته د عبادت کونکو بشپړه نیمګړتیا څرګنده کړې ده.

او د شرک له ډلونو څخه د الله تعالی سره نور معبودان ګرځول دي.

او لدې څخه دا دي چې ټول او یا یوه برخه د عبادت له الله تعالی پرته بل چاته وشي.

او لدې څخه: له الله پرته بل چا ته د نږدې کېدو په موخه ذبح کول، لکه هغه څوک چې بتانو ته قرباني کوي او یا یې مړي ته د نږدې کېدو لپاره کوي.

او لدې څخه: له الله پرته بل چا ته نذر وړاندې کول، حال دا چې نذر د الله تعالی عبادت دی او له الله پرته یې بل چا ته کول ناروا دي؛ لدې امله، الله تعالی د هغه مؤمنانو ستاینه کړې ده چې په نذر وفا کوي.

او لدې څخه: له الله پرته په بل چا پناه غوښتل.

او د شرک له ډولونو څخه له الله - تعالی - پرته له بل چا څخه مرسته غوښتل دي په هغه څه کې چې له الله تعالی پرته یې بل څوک نه شي کولی، او یا له الله پرته بل څوک رابلل.

او د شرک له ډولونو څخه : له الله پرته د بل چا پیروي کول دي او الله تعالی د دې - خبرې - یادونه کړې ده چې اهل کتابو خپل عالمان او پیران له الله پرته مالکان د حل او د حرمت نیولي وو چې ځیني شیان ورته روا کوي او هغه څه پرې حراموي چې الله تعالی حلال کړي دي.

او د شرک له ډولونو څخه په لمانځه، رکوع، سجده او طواف کې شرک کول دي؛ داسې چې د دې عبادتونو کول له الله پرته بل چا ته روا ندي، او الله تعالی خپل خلیل - علیه السلام - ته امر کړی دی چې کور یې - بیت الله - طواف کوونکو، اعتکاف کوونکو، رکوع کوونکو او سجده کوونکو لپاره پاک کړي او الله تعالی د دې - خبرې - یادونه هم کړې ده چې د هغه له عبادت څخه سرغړونه نه کوي مګر کبرجن خلک او الله - تعالی - یادونه وکړه چې ټول مخلوقات الله تعالی ته سجده کوي.

او د شرک له ډولونو څخه په هغه څه پریکړه کول دي چې الله تعالی نه وي نازل کړی، همدا رنګه له الله پرته بل چاته پریکړه وړل لکه څرنګه به چې اهل کتابو او نورو کول؛ چې الله تعالی لره یې شریکان ګرځولي وو، قوانین به یې ورته جوړول، چې - د دوی دا کار به - کله کفر و ، کله ظلم او کله هم بې لارېتوب و.

او د شرک له ډولونو څخه د محبت شرک دی، چې یو سړی چا سره داسې مینه ولري چې عاجزي، تعظیم او خضوع ورسره وي.

او د شرک له ډولونو څخه؛ د ویرې او ډار شرک دی، چې له مخلوق څخه داسې ویره ولري چې خضوع، عاجزي او تعظیم ورسره وي، لکه داسې ویره ورڅخه ولري چې کوم مصیبت به پرې نازل کړي او یا به ترې کومه ښېګڼه منع کړي او یا دا چې د هغه له خاطره واجب پرېږدي، او یا هغه ته د نږدې کېدو په خاطره حرام کار تر سره کړي

او حق ذات - جل جلاله - بیان کړه چې د هغه اولیاء له الله پاک پرته له بل چا څخه نه ویریږي.

او د شرک له ډولونو څخه د امید ساتلو شرک دی، لکه څوک چې له ژوندي مخلوق څخه چې حاضر وي او یا غائب د داسې یو څخه امید وساتي چې له الله پرته پرې بل څوک قادر نه وي او یا دا چې له مړو څخه د ستونزو د لرې کولو او د حاجتونو د رفع کولو او د قیامت په ورځ د سفارش کولو امید ولري.

او د شرک له ډولونو څخه: سحر دی.

او ورڅخه فال لیدنه او د غیبو وینا ده، ځکه چې څوک یې دعوه کوي هغه په غیبو د پوهیدو دعوه کوي.

او مونږ پدې پوهیږو چې د شرک له ډولونو څخه یو کوچنی شرک دی چې له دین څخه پرې څوک نه وځي، او د ایمان له اصل سره په ټکر کې ندی، بلکه د ایمان د بشپړتیا سره په ټکر کې دی او خاوند یې په اور کې د تل لپاره نه پاتې کیږي، او نه هم ټول عملونه بربادوي، دا - شرک - ډیر ډولونه لري.

او لدې څخه په یو څه باندې (طیرة: شوم سپیروالي ته وایې) بد فالي نیول دي او تعریف یې داسې دی - لکه څرنګه چې په حدیث کې راغلي - هغه څه چې له امله یې ته یو کار مختته بوځې او یا ترې منع شې(۱).

او لدې څخه د بندونو تړل دي.

او لدې څخه لږه ځان ښودنه (ریا) ده، خو هغه څوک چې زړه یې له ځان ښودنې ( ریا کارۍ ) څخه ډک وي او داسې شي چې له نیت،ایمان او ویرې پرته نیک کارونه کوي، نو دا سوچه منافق دی او عمل یې برباد او پرې مردود دی او ورڅخه نه منل کیږي، او رسول الله - صلى الله علیه وسلم - پټ شرک بللی دی او رسول الله صلى الله علیه وسلم - دا خبره - بیان کړې ده چې ریا ډیره پټه ده او دا چې هغه - صلى الله علیه وسلم - به له ریا څخه په خپل امت له دجال څخه زیات ویرېده.

او د شرک له ډولونو څخه یو دا دی چې انسان په خپل عمل(عمل صالح) سره د دنیا اراده وکړي او دا شرک د انسان په زړه کې حالت ته په لیدو کله لوی او کله کوچنی ګرځي.

او لدې څخه تنجيم ( ستور پېژندنه ده ) په ستورو کې له غيبو وينا کول، او د ستورو پوهنه د انسان زړه ته په ليدو کله لوی او کله کوچنی شرک ګرځي.

او لدې څخه د يو سړي وينا چې: هغه څه چې الله وغواړي او ته يې وغواړې او يا دې ته ورته الفاظ.

او لدې څخه: له الله پرته په بل چا قسم خوړل.

او مونږ پدې پوهېږو چې هغه څه چې په الله تعالی له ايمان سره ټکر لري هغه نفاق دی کوم چې د اسلام ښکاره کول او د کفر پټول دي او - دوه ډوله دی - لوی او کوچنی او نفاق کفر دی، چې په الله کفر وکړي او له هغه پرته د بل چا عبادت وکړي او په ډاګه اسلام ښکاره کوي، لکه د هغه منافقانو په څېر چې د رسول الله - صلی الله عليه وسلم - په زمانه کې وو، او لوی نفاق له اسلام څخه ويستونکی دی او مونږ د الله تعالی په ګواهۍ سره ګواهي ورکوو چې منافقان د ايمان راوړلو په دعوه کې دروغجن دي.

او له منافق انسان څخه به الله تعالی هيڅ څيز قبول نه کړي تر څو يې له عذاب څخه وژغوري، نه د عوض په مقابل کې او نه له عوض پرته -او منافق انسان که چېرته په نفاق باندې مړ شو- نو ورتګ يې اور ته دی چې تل به پکې وي.

او مونږ پوهېږو چې لوی نفاق هغه دی چې خاوند يې له حق سره کينه لري او بد يې ګڼي، او د اسلام او مسلمانانو په ماتې خوړلو خوشحالېږي او کله چې د اسلام بريا وګوري افسوس او واويلا کوي، او کله هم له ايمان څخه وروسته کفر وي، او حق ته له فيصلې وړلو مخ اړوونکی وي، او په الله تعالی بد ګمانه وي چې هغه به د خپل نبي صلی الله عليه وسلم او د هغه د دين مرسته ونه کړي او د حق او حقپرستو پورې ملنډې وهي، کنځلې او تمسخر پرې کوي، - او مسلمانانو پسې اشاره کوونکی وی - او له مؤمنانو سره دوکه کوي او په خپلو عملونو سره ځان ښودنه کوي.

او الله تعالی خپل پيغمبر - صلی الله عليه وسلم - او مؤمنانو ته امر کړی دی چې له منافقانو سره وجنګېږي.

او مونږ پوهېږو چې کوچنی نفاق له اسلام څخه خارجوونکی ندی او نه عمل بربادوي، او نه يې خاوند په اور کې د تل لپاره پاتې کيږي، او نه د ايمان د اصل سره په ټکر کې دی، خو د - ايمان - له بشپړتيا سره په ټکر کې دی. نفاق څلور نخښې لري - دا نخښې - چې په چا کې وي هغه منافق دی او که لدې څلورو خويونو څخه يو په چا کې وي نو په هغه کې به د نفاق يو خوی وي تر څو يې چې پرېښي نه وي: کله چې خبرې کوي

دروغ وايي، كله چې وعده وکړي؛ وعده خلافي کوي، كله چې تړون وکړي خيانت کوي او كله چې جنګ وكړي نو سپكې سپورې وايي.

او بدعت ټوله ګمراهي ده.

او مونږ ايمان لرو چې الله تعالى مونږ ته دين پوره کړی دی او پر مونږ یې نعمت بشپړ کړی دی. او هغه څه چې د ايمان د كمال سره تضاد لري هغه په دين کې بدعت دی، او مونږ پوهيږو چې الله تعالى له ځانځانی او مخالفت څخه منع فرمايلي ده.

او مونږ پوهيږو چې د قبرونو تعظيم او له پاسه پرې ودانۍ جوړول له بدعتونو څخه دي، او كله هم دا عمل شرک ته رسيږي، او له بدعت څخه پدې هېله د نيكانو انځورول دي چې له مرګ نه وروسته يې ورپسې اقتدا وکړي.

او مونږ پوهيږو چې له ناوړه بدعتونو څخه يو بدعي جشنونه جوړول او يا له كفارو سره د هغوی په اخترونو کې ګډون کول دي.

او پدې پوهيږو چې له ناوړه بدعتونو څخه: له هغه شي څخه د بركت تمه لرل دي چې الله تعالى د بركت لپاره سبب نه وي ګرځولی، او دا -كار- كله د شرک لپاره وسيله هم ګرځي.

## )بــاب الكفر بالله (په الله تعالى د كفر كولو په اړه باب

پدې پوهيږو چې هغه څه چې په الله تعالى له ايمان سره په ټكر کې دي هغه په الله تعالى باندې كفر كول دي او هغه كوچنی او لوی كفر دی، كوم چې لوی كفر دی نو هغه د ايمان له اصل سره په ټكر کې دی او كوچنی كفر یې له بشپړوالی سره په ټكر کې دی، لوی كفر له ملت ( دين ) څخه خارجوونكی دی او الله تعالى يې خاوند نه په عوض سره بخښي او نه له عوض پرته، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ۝٨٥﴾ [آل عمران: 85]

(او څوك چې له اسلام نه غير (بل) دين غواړي، نو هېڅكله به هم له ده نه قبول نه كړى شي او دغه كس په اخرت کې له تاوانيانو څخه دی) [آل عمران سورت: 85 آيت]،

او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٞ فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡ أَحَدِهِم مِّلۡءُ ٱلۡأَرۡضِ ذَهَبٗا وَلَوِ ٱفۡتَدَىٰ بِهِۦٓۗ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٩١﴾ [آل عمران: 91]

(بېشکه هغه کسان چې کافر شوي دي او په داسې حال کې مړه شول چې کافران وو، نو کله به هم قبول نه کړی شي د هغوی له هېڅ یو تن نه ډکه ځمکه سره زر اګر که هغه یې د ځان خلاصي په بدل کې ورکړي، دغه کسان، د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی او د دوی لپاره به هیڅوك مدد کوونکي نه وي) [آل عمران سورت: 91 آیت]،

او حق ذات فرمایلي دي:

﴿وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا يُؤۡخَذُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ٤٨﴾ [البقرة: 48]

(او له هغې ورځې نه ووېرېږئ چې هېڅ یو نفس به د بل نفس هېڅ په کار نه راځي او نه به له هغه نه څه سپارش قبلېږي او نه به له هغه نه څه (مالي) بدله اخیستل کېږي او نه به له هغوی سره مدد کېږي). [البقرة سورت: 48 آیت].

او کفر د ټولو عملونو بربادوونکی دی، حق ذات فرمایلي دي:

﴿.... وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ حَبِطَ عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٥﴾ [المائدة: 5]

(او څوك چې له ایمان نه انکار وکړي، نو یقینًا د هغه عمل برباد شو او هغه به په اخرت کې له تاوانیانو څخه وي). [المائدة سورت: 5 آیت]،

او له ابن عباس - رضي الله عنهما څخه - د الله تعالی د دې - قول په اړه راغلي دي

(او څوك چې له ایمان نه انکار وکړي، نو یقینًا د هغه عمل برباد شو)، فرمایي: «الله تعالی خبر ورکړی دی چې ایمان ټینګه رسۍ ده او دا چې هغه هیڅ عمل نه قبلوي مګر پدې سره، او جنت نه حراموي مګر په هغه چا چې دا یې پرېښی دی». طبري تفسیر (113/3) او (593/9). ابن أبي حاتم په التفسیر کې روایت کړی دی (1307)، خو د الله تعالی د دې وینا په تفسیر کې چې فرمایلي دي: او کافر به تل د ابد لپاره په اور کې وي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَظَلَمُواْ لَمۡ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغۡفِرَ لَهُمۡ وَلَا لِيَهۡدِيَهُمۡ طَرِيقًا ١٦٨ إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ١٦٩﴾ [النساء: 168-169]

(بېشکه هغه کسان چې کفر یې کړی دی او ظلم یې کړی دی، الله داسې نه دی چې دوی به وبخښي او نه دا چې دوی به پر نېغه لار روان کړي، مګر پر لار د جهنم، چې دوی به په هغه کې تل ترتله وي او دا (کار) الله ته ډېر اسان دی). [النساء سورت: 168، 169 آیتونه].

او لوی کفر ډولونه لري چې الله تعالی ترې په خپل کتاب کې خبر ورکړی دی، او لدې - خبرې - څخه یې یادونه کړې ده چې د کافرانو کفر کله د ضد له امله وي، الله تعالی فرمايلي دي: ﴿قَدۡ نَعۡلَمُ إِنَّهُۥ لَيَحۡزُنُكَ ٱلَّذِي يَقُولُونَۖ فَإِنَّهُمۡ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ٣٣﴾ [الأنعام: 33]

(بېشکه مونږ پوهېږو چې یقینًا حقیقت دا دی چې تا هغه خبره خامخا غمجنوي، چې دوی یې وايي، نو یقینًا دوی تا دروغجن نه ګڼي او لېکن دغه ظالمان د الله له آیتونو نه انکار کوي). [الأنعام سورت: 33 آیت]

، حق ذات فرمايلي دي:

﴿...وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٖ كَفُورٖ٣٢﴾ [لقمان: 32]

(او زمونږ له ایتونو (دلیلونو) نه انکار نه کوي مګر هر هغه چې ډېر عهد ماتوونکی، ډېر ناشکره دي) [لقمان سورت: 32 آیت]

، او الله تعالی فرمايلي :

﴿وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسۡتَيۡقَنَتۡهَآ أَنفُسُهُمۡ ظُلۡمٗا وَعُلُوّٗاۚ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ١٤﴾ [النمل: 14]

(او دوی له دغو (معجزو) نه انکار وکړ، د ظلم او سرکشۍ په وجه، حال دا چې د دوی نفسونو په دغو یقین کړی و، نو ته وګوره د فساد کوونکو انجام څنګه و). [النمل سورت: 14 آیت].

او کله هم د منلو او له حق څخه د سرغړونې له امله وي، الله تعالی د ابلیس په اړه فرمايلي دي چې د کافرانو امام دی:

﴿وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰ وَٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ٣٤﴾ [البقرة: 34]

(او کله چه مونږ ملایکو ته وویل: ادم ته سجده وکړئ، نو هغوی سجده وکړه لیکن ابلیس نه، هغه انکار وکړ او تکبر یې وکړ، او هغه و له کافرانو نه) [البقرة سورت: 34 آیت]

. او نوح فرمايلي دي:

﴿وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوٓاْ أَصَٰبِعَهُمْ فِيٓ ءَاذَانِهِمْ وَٱسْتَغْشَوْاْ ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّواْ وَٱسْتَكْبَرُواْ ٱسْتِكْبَارٗا ٧﴾ [نوح: 7]

(او بېشکه زه چې هر واري دوی د دې لپاره راوبلم چې ته دوی وبخښې (نو) دوی خپلې ګوتې په خپلو غوږونو کې ننباسي او په خپلو جامو سره ځان (مخ) پټ کړي او په کفر باندې) اصرار (او همېشه والی) کوي او لويي کوي ډېر غټه لويي). [نوح سورت: 7 آيت].

او کله هم کفر د دروغ ګڼلو له امله وي، لکه څرنګه چې الله تعالی د مخکنيو امتونو په اړه فرمايلي دي:

﴿كَدَأْبِ ءَالِ فِرْعَوْنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمْۗ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ١١﴾ [آل عمران: 11]

[حال د دوی په شان د حال د فرعونيانو دی او د هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو، چې زمونږ ايتونه به يې دروغ ګڼل، نو الله هغوی د خپلو ګناهونو په سبب ونيول او الله ډېر سخت عذاب ورکوونکی دی] [آل عمران سورت: 11 آيت]،

او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُكَذِّبُونَ ٢٢﴾ [الانشقاق: 22]

(بلکې هغه کسان چې کافران شوي دي؛ هغوی تکذيب کوي) [الانشقاق سورت: 22 آيت]

. او توپير نه کوي که دا دروغ ګڼل په ژبه وي او يا په زړه سره، حق ذات د منافقانو په اړه فرمايلي دي:

﴿۞ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُواْ يَقُولُونَ لِإِخْوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدٗا وَإِن قُوتِلْتُمْ لَنَنصُرَنَّكُمْ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ١١﴾ [الحشر: 11]

(آيا تا نه دي کتلي هغو کسانو ته چې منافقان شوي دي، دوی خپلو هغو وروڼو ته چې په اهل کتابو کې کافران شوي دي؛ وايي: قسم دی که تاسو ووېستل شئ (نو) خامخا ضرور به مونږ هم له تاسو سره وځو او ستاسو په باره کې به د هيچا خبره هيڅکله هم ونه منو او که چېرې له تاسو سره جنګ شروع کړی شي (نو) مونږ به خامخا ضرور ستاسو مدد کوو او الله ګواهي ورکوي چې بېشکه دوی يقينًا دروغجن دي) [الحشر سورت: 11 آيت]،

او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ قَالُواْ نَشۡهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ١﴾ [المنافقون: 1]

[(ای نبي!) کله چې تا ته منافقان راشي (نو) دوی وايي: مونږ شاهدي ورکوو چې بېشکه ته يقينًا د الله رسول يې او الله پوهېږي چې ته بېشکه (او) يقينًا د هغه رسول يې او الله شاهدي ورکوي چې بېشکه منافقان يقينًا دروغ ويونکي دي] [المنافقون سورت: 1 آيت].

**او کله هم کفر د شک او ګمان کولو له امله وي، چې هغه د حق په اړه زړه نازړه وي، په بيا راژوندي کېدو کې او الله تعالى سره په ملاقات کولو کې شکمن وي، الله تعالى د باغ له خاوند څخه د خبر ورکولو په موخه فرمايلي دي چې هغه وويل:**

﴿وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيۡرًا مِّنۡهَا مُنقَلَبًا٣٦﴾ [الكهف: 36]

(او زه ګمان نه کوم چې قيامت قايمېدونکی دی او قسم دی که (بالفرض) زه خپل رب ته بوتلی شوم، نو خامخا هرومرو به زه له دې (باغ) نه غوره د بېرته ورتلو ځای ومومم) [الكهف سورت: 36 آيت]

**چې هغه ته يې خپل مؤمن ملګري وويل:**

قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرۡتَ بِٱلَّذِي خَلَقَكَ مِن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلٗا ٣٧ [الكهف37]

(ايا ته په هغه ذات سره کفر کوې چې ته يې له خاورو پيدا کړې، بيا يې له نطفې نه، بيا يې ته سړی برابر کړې) [الكهف سورت: 37 آيت].

**او کله هم کفر د سپکو سپورو او ملنډي وهلو له امله وي، لکه څرنګه چې الله تعالى له کافرانو څخه د خبر ورکولو په موخه فرمايلي دي:**

﴿وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُواْ مِنۡهُم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ١٠﴾ [الأنعام: 10]

(او يقينًا يقينًا له تا نه په مخکې رسولانو پورې استهزا ګانې شوي دي، نو هغو کسانو لره چې په دوی پورې يې مسخرې کړې وې؛ هغه شي راګېر کړل چې دوی به په هغه پورې استهزا کوله) [الأنعام سورت: 10 آيت]

**، او الله تعالى د نوح عليه السلام د قوم او د هغوی د ملنډو وهلو څخه د خبر ورکولو په موخه فرمايلي دي:**

﴿وَيَصۡنَعُ ٱلۡفُلۡكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيۡهِ مَلَأٞ مِّن قَوۡمِهِۦ سَخِرُواْ مِنۡهُۚ قَالَ إِن تَسۡخَرُواْ مِنَّا فَإِنَّا نَسۡخَرُ مِنكُمۡ كَمَا تَسۡخَرُونَ ٣٨﴾ [هود: 38]

(او هغه (نوح) بېړۍ جوړوله، په داسې حال کې چې کله به هم په ده باندې د ده له قوم څخه مشران تېرېدل (نو) په ده پورې به یې مسخرې کولې، هغه وویل: که تاسو په مونږ پورې مسخرې کوئ، نو بېشکه مونږ به هم په تاسو پورې مسخرې وکړو، لکه څنګه چې تاسو مسخرې کوئ) [هود سورت: 38 آیت].

**او کله هم کفر د الله تعالی - له لارې - څخه د مخ اړولو او د نورو د مخنیوي کولو له امله وي، الله تعالی د کافرانو له مخ اړولو څخه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي دي:**

﴿أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗۖ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡۖ هَٰذَا ذِكۡرُ مَن مَّعِيَ وَذِكۡرُ مَن قَبۡلِيۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٱلۡحَقَّۖ فَهُم مُّعۡرِضُونَ ٢٤﴾ [الأنبياء: 24]

(ایا دوی له هغه (الله) نه پرته نور معبودان نیولي دي، ته ووایه: تاسو خپل پوخ دلیل راوړئ، دا (وحي) د هغه چا نصیحت دی چې زما سره دي او د هغه چا نصیحت دی چې له ما نه مخکې تېر شوي دي، بلکې د دوی (کافر) اکثره خلق حق نه پېژني، نو دوی مخ ګرځوونکي دي) [الأنبياء سورت: 24 آیت]

**، او د لوی شان او شوکت خاوند چې د نیکو نومونو لرونکی دی فرمایلي دي:**

﴿مَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَمَّآ أُنذِرُواْ مُعۡرِضُونَ ٣﴾ [الأحقاف: 3]

(مونږ اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مینځ کې دي، نه دي پیدا کړي مګر په حقه او په ټاکلې مودې سره او کافران شوي کسان له هغه (قرآن) نه چې دوی پرې وېرولی شي، مخ ګرځوونکي دي) [الأحقاف سورت: 3 آیت].

**او کله هم کفر حق سره د کینې درلودلو له امله وي، الله تعالی فرمایلي دي:**

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَرِهُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٩﴾ [محمد: 9]

(دا ځکه چې یقینًا دوی هغه (قرآن) بد ګڼلی دی چې الله نازل کړی دی، نو هغه (الله) د دوی عملونه برباد کړل) [محمد سورت: 9 آیت].

او پدې پوهيږو چې د کفر له ډولونو څخه يو له لوی کفر نه په ټيټه مرتبه کې کفر دی، چې هغه کوچنی کفر دی او د ايمان له اصل سره په ټکر کې ندی، خو د بشپړتيا سره يې په ټکر کې دي، او خاوند يې په اور کې د تل لپاره نه پاتې کيږي، او ټول عملونه هم نه بربادوي، چې دا کفر ډير ډولونه لري:

لدې څخه د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - دا وينا ده: «سِبَابُ المسْلِمِ فُسُوقٌ، وَقِتَالُهُ كُفْرٌ»، "مسلمان ته کنځلې کول فسق(نافرماني) دی او ورسره جنګ کول کفر دی". بخاري (48)، مسلم (64)، ترمذي (1983)، نسائي (4108)، او ابن ماجه (69) روايت کړی دی. او د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول: «دوه ډوله خلک دي چې د کفر نښانې پکې دي: د چا په نسب کې خبرې کول، او مړي وير کول». مسلم (67) روايت کړی دی. او د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - دا وينا: «لَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا، يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ». «زما څخه وروسته کافران مه ګرځئ، چې يو د بل څټونه وهئ». بخاري (121)، مسلم (65)، نسائي (4131)، او ابن ماجه (3942) روايت کړی دی. نو دا کفر له دين څخه ويستونکی ندی، او نه يې خاوند په اور کې د تل لپاره پاتې کيږي؛ ځکه چې الله تعالى په خپل منځ کې جګړه کوونکي مؤمنان سره ورونه بللي دي، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱقۡتَتَلُواْ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَهُمَاۖ ...﴾ [الحجرات: 9-10]

(او که په مومنانو کې دوه ډلې په خپل مينځ کې جنګ شروع کړي، نو تاسو د دغو دواړو په مينځ کې سوله (روغه) وکړئ)، [الحجرات سورت: 9 آيت]

، نو مؤمنان يې ورته وويل پداسې حال کې چې دوی سره جنګيږي، او د اهل سنتو امام؛ امام احمد رحمه الله چې کله لدې حديثونو څخه يو شمير حديثونه او دې ته ورته حديثونه يې ذکر کړل وفرمايل: « او دا حديثونه چې «ثلاث من كن فيه فهو منافق» يعني درې نخښې دي چې په چا کې وي هغه منافق دی، په کوم شدت سره چې راغلي دي، همداسې يې روايتوو، او نه يې تفسيروو... او داسې نور حديثونه هم - پدې شرط - چې صحيح ثابت شوي او حفظ شوي وي نو مونږ ورته غاړه ږدو، که څه هم چې تفسير يې معلوم نه وي او پدې کې خبرې نه کيږي، او نه يې په اړه له چا سره جګړه کيږي او دا حديثونه نه تفسير کيږي مګر په هغه ډول چې راغلي دي». شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة (1/ 182).

## )بـــاب الشرك بالله (باب دی په بیان د شرک کې د الله تعالی سره.

مونږ پدې پوهیږو چې هغه څه چې په الله تعالی باندې د ایمان سره ټکر لري هغه: د لوی الله سره شرک کول دي او دا لوی او وړوکی دی او دا چې لوی شرک د ایمان د اصل سره په ټکر کې دی او کوچنی یې د ایمان له کمال سره په ټکر کې دی،او لوی شرک تر ټولو لوی ظلم دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَإِذۡ قَالَ لُقۡمَٰنُ لِٱبۡنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَٰبُنَيَّ لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ١٣﴾ [لقمان: 13]

(او (یاد کړه) هغه وخت چې لقمان خپل زوی ته وویل، په داسې حال کې چې ده ته یې نصیحت کاوه: ای زما خوږه زویه! له الله سره شریك مه نیسه، بېشكه شرك یقینًا ډېر لوی ظلم دی) [لقمان سورت: 13 آيت].

او لوی شرک ټولو عملونه بربادوي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ٦٥﴾ [الزمر: 65]

(او یقینًا یقینًا تا ته وحي كړای شوې ده او هغو كسانو ته چې له تا نه مخكې وو (داسې چې) قسم دی كه تا شرك وكړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي او ته به خامخا لازمًا له تاوانیانو څخه شې) [الزمر سورت: 65 آيت]

، او الله تعالی فرمایلي:

﴿ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهۡدِي بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۚ وَلَوۡ أَشۡرَكُواْ لَحَبِطَ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ٨٨﴾ [الأنعام: 88]

(دغه د الله هدایت دی، په دې سره هدایت كوي په خپلو بنده ګانو كې چا ته چې وغواړي او كه چېرې هغوی شرك كړی و (، نو) له هغوی نه خامخا به ضایع شوي وو هغه عملونه چې دوی به كول). [الأنعام سورت: 88 آيت].

او د لوی شرک خاوند ته الله تعالی بخښنه نه کوي کله چې پرې مړ شي او توبه یې ترې نه وي ویستلې، الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا ٤٨﴾ [النساء: 48]

(بېشکه الله تعالی نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوک) شریک کړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرک) نه کمه وي د چا لپاره چې یې وغواړي او څوک چې له الله سره شریک ونیسي، نو یقینًا هغه ډېره لویه ګناه راجوړه کړله) [النساء سورت: 48 آیت]

. او مشرک که چېرته مړ شو او توبه یې نه وه ویستلې نو جنت پرې حرام دی او جهنم یې استوګنځای دی چې تل به پکې وي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿... مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ ...﴾ [المائدة: 72]

(بېشکه خبره دا ده چې څوک له الله سره شریک نیسي، نو یقینًا په هغه باندې الله جنت حرام کړی دی او د هغه استوګنه اور دی). [المائدة سورت: 72 آیت]

. او له جابر - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړی راغی، نو ویې ویل: ای د الله سوله! دوه هغه کوم څېزونه دي چې جنت او یا دوزخ ته ننوتل واجبوي؟ هغه وفرمایل: «مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ». "څوک چې په داسې حالت کې مړ شو چې له الله سره یې شرک نه وي کړی، هغه به جنت ته ننوځي او څوک چې په داسې حالت کې مړ شو چې له الله سره یې شرک کړی وي، هغه به دوزخ ته ننوځي". مسلم روایت کړی دی (93). او الله تعالی شرک باطل کړ او په مشرکانو یې د هغوی شرک وغماوه، او - باطلو - معبوداانو لره د هغوی د نیولو فساد یې- ښکاره کړ، او دا چې هغه - بتان دوی ته - نه ګټه رسوي او نه تاوان، نو - الله تعالی - کله د دې وضاحت کوي چې دا برخه وال نه اوري او که چېرته واوري نو هغه چاته جواب نه شي ورکولی چې بلنه ورکوي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿... وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ ١٣ إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ ١٤﴾ [فاطر: 13-14]

که تاسو دوی وبولئ، دوی ستاسو بلنه نه اوري او که چېرې وايې وري، نو دوی ستاسو بلنه قبلولی نه شي او د قيامت په ورځ به دوی ستاسو په شريك جوړولو منكر شي او تا ته (بل څوك) خبر نشي دركولی د ښه خبرداره (الله) په شان). [فاطر سورت: 13، 14 آيتونه].

نو حق ذات بيان كړه چې دوی هيڅ هم نه لري، او د هغه چا نه اوري چې رابلي يې او د قيامت په ورځ به هغوی د دوی په شرک باندې كافر وي. او كله بيانوي چې دا برخه وال نه ګټه رسولی شي او نه تاوان او نه د مرګ اختيار لري او نه د ژوند، لكه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً لَّا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ وَلَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا وَلَا يَمۡلِكُونَ مَوۡتٗا وَلَا حَيَوٰةٗ وَلَا نُشُورٗا ٣﴾ [الفرقان: 3]

(او دوی (كفارو) له هغه نه غير نور داسې معبودان نيولي دي چې هېڅ شی نشي پيدا كولی، په داسې حال کې چې دوی پيدا كړای شوي او دوی د خپلو ځانونو لپاره نه د ضرر مالكان دي او نه د نفعې او نه د مرګ اختيار لري او نه د ژوند او نه د بيا ژوندي كولو) [الفرقان سورت: 3 آيت]

، او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿قَالَ هَلۡ يَسۡمَعُونَكُمۡ إِذۡ تَدۡعُونَ ٧٢ أَوۡ يَنفَعُونَكُمۡ أَوۡ يَضُرُّونَ ٧٣﴾ [الشعراء: 72-73]

(هغه وويل: آيا دوی ستاسو اوري كله چې تاسو (دوی) بلئ؟. يا تاسو ته نفع دررسوي، يا ضرر دررسوي؟) [الشعراء سورت: 72، 73 آيتونه]

. او كله بيانوي چې دا معبودان چې له الله پرته يې عبادت كيږي له هغه چا څخه زيات ناقص دی چې د دوی عبادت كوي، ځكه دوی تګ نه شي كولای او نه د چا د رانيولو ځواک لري، نه اوري او نه ګوري، نو "دا د دې ټولو شيانو څخه خالي دی چې د ګټې ترلاسه كولو او د ضرر د مخنيوي لامل كيږي". الطبري تفسير (322/13). الله - تعالی - فرمايلي:

﴿أَلَهُمۡ أَرۡجُلٞ يَمۡشُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ أَيۡدٖ يَبۡطِشُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ أَعۡيُنٞ يُبۡصِرُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ ءَاذَانٞ يَسۡمَعُونَ بِهَاۗ قُلِ ٱدۡعُواْ شُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ١٩٥﴾ [الأعراف: 195]

(آيا د هغوی لپاره پښې دي چې په هغو سره تلل كوي، يا د هغوی لپاره لاسونه دي چې په هغو سره نيول كوي، يا د هغوی لپاره سترګې دي چې په هغو سره ليدل كوي، يا د هغوی لپاره

غوږونه دي چې په هغو سره اورېدل کوي؟ ته ووایه: تاسو خپل شریکان راوبلئ، بیا زما په خلاف څه چل (او تدبیر) وکړئ، بیا ما ته (هېڅ) مهلت مه راکوئ). [الأعراف سورت: 195 آیت].

**او کله هم الله تعالی د دې معبودانو عاجزي او کمزوري بیانوي، حق ذات فرمایلي دي:**

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٞ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخۡلُقُواْ ذُبَابٗا وَلَوِ ٱجۡتَمَعُواْ لَهُۥۖ وَإِن يَسۡلُبۡهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيۡـٔٗا لَّا يَسۡتَنقِذُوهُ مِنۡهُۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلۡمَطۡلُوبُ٧٣﴾ [الحج: 73]

[ای خلکو! یو مثال بیانولی شي، نو تاسو دې ته ښه غوږ کېږدئ، بېشکه هغه شیان چې تاسو یې له الله تعالی نه غیر بلئ دوی له سره یو مچ هم نشي پیدا کولی اگر که دوی ده ته ټول راجمع شي او که مچ له دوی نه یو شی وتښتوي، دوی له هغه نه دغه شي نشي راخلاصولی، کمزوری دی دا طالب (د غیر الله عبادت کوونکی) او دغه مطلوب (باطل معبود)] [الحج سورت: 73 آیت]،

**او الله تعالی فرمایلي :**

﴿وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَكُمۡ وَلَآ أَنفُسَهُمۡ يَنصُرُونَ١٩٧﴾ [الأعراف: 197]

(او هغه خلک چې تاسو یې له الله نه غیر بلئ، دوی ستاسو د مدد کولو هېڅ وَس نه لري او نه له خپلو ځانونو سره مدد کولی شي). [الأعراف سورت: 197 آیت]

**. او کله هم الله تعالی پرې د فقر او کمښت پریکړه کوي او دا چې هغه په آسمانونو او ځمکه کې د یوې ذرې په اندازه بشپړ واک نه لري او نه لدې څخه په کوم شي کې د برخې واک لري او نشته دغه الله تعالی ته له دوی څخه هیڅ مرستندوی، الله تعالی فرمایلي دي:**

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ٢٢ وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥۚ ...﴾ [سبأ: 22-23]

(ته (دې مشرکانو ته) ووایه: تاسو هغه معبودان وبولئ چې تاسو هغه له الله تعالی نه غیر معبودان گڼلي دي، دوی د یوې ذرې اندازه واک نه لري په اسمانونو کې او نه په ځمکه کې او د دوی لپاره په دغو دواړو کې هېڅ برخه (شرکت) نشته، او نشته دغه الله تعالی ته له دوی نه هېڅ مرستندوی. او د هغه (الله) په نیز شفاعت نفع نه رسوي مگر د هغه چا لپاره چې هغه (الله) د هغه لپاره اجازت ورکړي) [سبا سورت: 22، 23 آیتونه].

او کله حق ذات بیانوي چې الله تعالی سره د نورو معبودانو شتون عقل نه مني، او شتون يې په کائناتو کې ناشونی او د شريعت له نظره باطل کار دی، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ﴿٢٢﴾﴾ [الأنبياء: 22]

(که چېرې په دغو (ځمکه او اسمان) کې له الله نه پرته نور معبودان وی (نو) دواړه به خامخا وران شوي وو، نو الله د عرش مالك، پاك دی له هغو خبرو چې دوی يې بيانوي) [الأنبياء سورت: 22 آيت]،

او د لوی شان، شوکت او سلطنت خاوند فرمايلي دي:

﴿قُل لَّوۡ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذٗا لَّٱبۡتَغَوۡاْ إِلَىٰ ذِي ٱلۡعَرۡشِ سَبِيلٗا ﴿٤٢﴾﴾ [الإسراء: 42]

(ته ووايه: که له دغه (الله) سره نور معبودان وی، لکه څنګه چې دوی يې وايي (، نو) په دغه وخت کې به دوی خامخا د عرش د مالك په طرف لار لټولې وی). [الإسراء سورت: 42 آيت]

. او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٖ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنۡ إِلَٰهٍۚ إِذٗا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهِۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٩١﴾﴾ [المؤمنون: 91]

(الله (د ځان لپاره) هېڅ اولاد نيولی نه دی او نه له هغه سره بل هېڅ معبود شته (او که ورسره وی نو) په دغه وخت کې به خامخا هر اله ببولي وو هغه څه چې پيدا کړي يې وو، او خامخا د دوی ځينو به په ځينو نورو باندې غلبه کوله، پاك دی الله له هغو خبرو نه چې دوی يې بيانوي) [المؤمنون سورت: 91 آيت].

او مونږ پوهيږو چې لوی شرک زيات ډولونه لري:

له ډولونو څخه يې دا دي چې د الله - تعالی - سره د هغه په ربوبيت، ( د مخلوقاتو په ) پيدا کولو، واکمنۍ، رزق ورکولو او چارسمبالوونې کې شريک وګرځول شي، حق ذات د هغوی له شرک څخه د خبر ورکولو په موخه فرمايلي دي:

﴿... أَمۡ جَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُواْ كَخَلۡقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلۡخَلۡقُ عَلَيۡهِمۡۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّٰرُ﴿١٦﴾﴾ [الرعد: 16]

(ایا دوی د الله لپاره داسې شریکان مقرر کړي دي چې د هغه د پیدا کولو په شان پیدا کول یې کړي دي، بیا په دوی باندې پیدا کول مشتبه شوي دي؟ ته ووایه: الله د هر شي پیدا کوونکی دی او هم هغه یو دی، ډېر غالب دی) [الرعد سورت : 16 آیت]،

**او الله تعالی په هغه چا باندې د رد په موخه فرمایلي دي چې له مخلوقاتو یې ورسره شریک ګرځولی دی، حال دا چې هغه شی په خپله مخلوق دی او پیدا کول نه شي کولای:**

﴿هَٰذَا خَلۡقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ بَلِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ١١﴾ [لقمان: 11]

(دغه د الله مخلوق دی، نو تاسو (ای مشرکانو!) ما ته وښیئ څه شی دی هغه چې دغو (بتانو) پیدا کړی دی، چې غیر له هغه (الله) نه دي، بلکې ظالمان په ښکاره ګمراهۍ کې دي). [لقمان سورت: 11 آیت]

**، او حق ذات بیان کړه چې هم هغه الله په پیدا کولو او واکمنۍ کې یوازې دی، الله تعالی فرمایلي دي:**

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٥٤﴾ [الأعراف: 54]

(بېشکه ستاسو رب هغه الله دی چې آسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، بیا د عرش له پاسه برقراره شو، هغه په شپې سره ورځ پټوي، په داسې حال کې چې دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره طلب کوي او (پیدا کړې یې ده) لمرسترګه، او سپوږمۍ او ستوري، چې د هغه په حکم سره مسخر کړی شوي دي، خبر اوسئ! خاص هغه لره دي پیدا کول او حکم کول، ډېر برکت والا دی الله؛ پالوونکی د ټول عالم دی). [الأعراف سورت: 54 آیت].

**او له ډولونو څخه یې دا دي چې الله تعالی ته زوی وګرځول شي - ډېر لوړ او لوی دی الله تعالی په لوړوالی سره لدې خبرو څخه - الله تعالی فرمایلي دي:**

﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ عُزَيۡرٌ ٱبۡنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِۖ ذَٰلِكَ قَوۡلُهُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡۖ يُضَٰهِـُٔونَ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٣٠﴾ [التوبة: 30]

(او یهودیانو وویل: عُزیر د الله زوی دی او نصرانیانو وویل: مسیح د الله زوی دی دا د دوی په خپلو خولو سره وینا ده، دوی د هغو کسانو له خبرې سره مشابهت کوي چې له دوی نه مخکې کافران وو، الله دې دوی هلاك کړي، څنګه (له سمې لارې نه) ګرځولی شي!) [التوبة سورت: 30 آیت]

، او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ٱلۡجِنَّ وَخَلَقَهُمۡۖ وَخَرَقُواْ لَهُۥ بَنِينَ وَبَنَٰتِۭ بِغَيۡرِ عِلۡمٖۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ١٠٠﴾ [الأنعام: 100]

(او دوی له الله سره پېریان شریکان جوړ کړي دي، حال دا چې الله دوی پیدا کړي دي، او دوی بې له پوهې له ځانه، د هغهٔ لپاره زامن او لوڼه راپیداکړې، هغه لره پاکي ده او هغه (الله) له هغو خبرو نه ډېر اوچت دی چې دوی یې بیانوي) [الأنعام سورت: 100 آیت]،

او حق ذات تعالی فرمایلي دي:

﴿وَجَعَلُواْ لَهُۥ مِنۡ عِبَادِهِۦ جُزۡءًاۚ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ مُّبِينٌ ١٥ أَمِ ٱتَّخَذَ مِمَّا يَخۡلُقُ بَنَاتٖ وَأَصۡفَىٰكُم بِٱلۡبَنِينَ ١٦﴾ [الزخرف: 15-16]

(او دوی د ده په بنده ګانو کې ځینو لره د ده برخه (او اولاد) وګرځول، بېشکه انسان خامخا ډېر ښکاره ناشکره دی. ایا (تاسو دا وایئ چې) هغه (الله) له هغه چا نه، چې دی یې پیدا کوي، د ځان لپاره لوڼه نیولي دي او تاسو یې په زامنو سره غوره کړي یئ). [الزخرف سورت: 15، 16 آیتونه].

**او له ډولونو څخه یې په ستورو باور درلودل او عبادت کول دي: الله تعالی له ابراهیم الخلیل - علیه السلام - څخه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي دي چې د خپل قوم سره یې د ستورو په اړه استدلال وکړ:**

﴿وَكَذَٰلِكَ نُرِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ مَلَكُوتَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلِيَكُونَ مِنَ ٱلۡمُوقِنِينَ ٧٥ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيۡهِ ٱلَّيۡلُ
رَءَا كَوۡكَبٗاۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلۡأٓفِلِينَ ٧٦ فَلَمَّا رَءَا ٱلۡقَمَرَ بَازِغٗا قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ
أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمۡ يَهۡدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلضَّآلِّينَ ٧٧ فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمۡسَ بَازِغَةٗ قَالَ هَٰذَا رَبِّي
هَٰذَآ أَكۡبَرُۖ فَلَمَّآ أَفَلَتۡ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ٧٨ إِنِّي وَجَّهۡتُ وَجۡهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ

وَٱلۡأَرۡضَ حَنِيفٗاۖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٧٩ وَحَآجَّهُۥ قَوۡمُهُۥۚ قَالَ أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي فِي ٱللَّهِ وَقَدۡ هَدَىٰنِۚ وَلَآ أَخَافُ مَا تُشۡرِكُونَ بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَشَآءَ رَبِّي شَيۡـٔٗاۚ وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًاۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ٨٠ وَكَيۡفَ أَخَافُ مَآ أَشۡرَكۡتُمۡ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمۡ أَشۡرَكۡتُم بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطَٰنٗاۚ فَأَيُّ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ أَحَقُّ بِٱلۡأَمۡنِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨١﴾ [الأنعام: 75-81]

(او همدارنګه مونږ ابراهيم ته د اسمانونو او ځمكې بادشاهي ښودله او د دې لپاره چې هغه له يقين كوونكو ځنې بيا كله چې په هغه باندې شپه تياره شوه (، نو) يو ستورى يې وليده، ويې ويل:دا زما رب دى؟ نو كله چې هغه پټ شو، ويې ويل: زه پټېدونكي (غايبېدونكي) نه خوښوم. بيا كله چې يې سپوږمۍ وليده، ځلېدونكې، ويې ويل:دا زما رب دى؟ نو كله چې هغه پرېوتله (،نو) ويې ويل: يقينًا كه چېرې ما ته زما رب نېغه لار ونه ښيي (، نو) زه به خامخا له ګمراه خلقو ځنې شم. * نو كله چې هغه، لمر ستركه وليدله، ځلېدونكې، ويې ويل:دا زما رب دى؟ دا خو تر ټولو لوى دى، نو كله چې هغه پرېوتله، ويې ويل:اى زما قومه! بېشكه زه بېزاره يم له هغه څه نه چې تاسو يې شريكان جوړوئ مِنَ الْمُشْرِكِين * بېشكه ما خپل مخ هغه ذات ته اړولى دى چې اسمانونه او ځمكه يې پيدا كړي دي، يواځې په حق پسې تلونكى يم او نه يم له مشركانو څخه. وَحَآجَّهُ قَوْمُهُ قَالَ أَتُحَاجُّونِّي فِي اللّهِ وَقَدْ هَدَانِ وَلاَ أَخَافُ مَا تُشْرِكُونَ بِهِ إِلاَّ أَن يَشَاء رَبِّي شَيْئًا وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا أَفَلاَ تَتَذَكَّرُون * او له هغه سره خپل قوم جګړه وكړه، ويې ويل:ايا تاسو زما سره د الله په باره كې جګړه كوئ، حال دا چې هغهٔ ما ته نېغه لار راښودلې ده، او زه له هغو شيانو نه نه وېرېږم چې تاسو يې له الله سره شريكوئ، مګر دا چې زما رب څه شى وغواړي، زما رب د علم په لحاظ سره هر شى راګېر كړى دى، نو ولې تاسو نصيحت نه منئ!. وَكَيْفَ أَخَافُ مَا أَشْرَكْتُمْ وَلاَ تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُم بِاللّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا فَأَيُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِالأَمْنِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُون} او زه له هغو څيزونو نه څنګه ووېرېږم چې تاسو له الله سره شريك كړي دي، حال دا چې تاسو له دې څخه نه وېرېږئ چې واقعًا تاسو له الله سره هغه څه شريك كړي دي چې د هغو په باره كې يې پر تاسو باندې هېڅ دليل نه دى نازل كړى، نو په دواړو ډلو كې كومه يوه د امن (له عذاب نه د بچ كېدو) زياته حقداره ده؟ كه چېرې تاسو پوهېږئ) [الأنعام سورت: 75-81 آيتونه].

او لدې څخه په ستورو باران غوښتل دي او دا عقيده ساتل چې دا رزق راجلبوي، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَتَجۡعَلُونَ رِزۡقَكُمۡ أَنَّكُمۡ تُكَذِّبُونَ ٨٢﴾ [الواقعة: 82]

او تاسو خپله برخه دا ګرځوئ چې لازمًا تاسو يې تكذيب كوئ (دروغ يې ګڼئ). [الواقعة سورت: 82 آيت].

له ابن عباس -رضي الله عنهما- څخه روايت دى، چې د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- په وخت كې په خلكو باران وشو، نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل:

«أَصْبَحَ مِنَ النَّاسِ شَاكِرٌ، وَمِنْهُمْ كَافِرٌ، قَالُوا: هَذِهِ رحمة الله، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَقَدْ صَدَقَ نَوْءُ كَذَا وَكَذَا». قَالَ: فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ:

﴿۞ فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ٧٥﴾ [الواقعة: 75]

، حَتَّى بَلَغَ: ﴿وَتَجۡعَلُونَ رِزۡقَكُمۡ أَنَّكُمۡ تُكَذِّبُونَ ٨٢﴾ [الواقعة: 82]

«ځينو خلکو سهار کړ پداسې حال کې چې شکر ويستونکي وو او ځيني له دوی نه کافر وو» هغوی - شکر ويستونکو- وويل: دا د الله رحمت دی، او ځينو نورو وويل: يقينا فلانی او فلانی ستوری حق و - يعني د فلاني او فلاني ستوري په ښکاره کېدو سره پر مونږ باران وشو - وايي: نو دا آيت نازل شو: (نو زه د ستورو د پرېوتو په ځايونو باندې قسم خورم) [الواقعه سورت: 75 آيت] تر دې چې دې ځای ته ورسيده . [الواقعة سورت: 82 آيت]»

. (او تاسو خپله برخه دا ګرځوئ چې لازمًا تاسو يې تکذيب کوئ (دروغ يې ګڼئ). مسلم (73)، او طبري په التفسير کې روايت کړی دی (154/23). او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «أَرْبَعٌ فِي أُمَّتِي مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ، لَا يَتْرُكُونَهُنَّ: الْفَخْرُ فِي الْأَحْسَابِ، وَالطَّعْنُ فِي الْأَنْسَابِ، وَالْاسْتِسْقَاءُ بِالنُّجُومِ، وَالنِّيَاحَةُ». «زما په امت کې څلور کارونه د جاهليت دي، چې دوی يې نه پرېږدي: په اصل باندې وياړ کول، په نسب کې خبرې کول، په ستورو سره باران غوښتل او په مړي په لوړ غږ ژړا کول». مسلم (934)، او ابن ماجه (1581) روايت کړی دی. وعن زيد بن خالد الجهني رضي الله عنه أنه قال: صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم صَلَاةَ الصُّبْحِ بِالْحُدَيْبِيَةِ عَلَى إِثْرِ سَمَاءٍ كَانَتْ مِنَ اللَّيْلَةِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، فَقَالَ: «هَلْ تَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ؟» قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: او له زيد بن خالد الجهني - رضي الله عنه - څخه روايت دی، هغه فرمايلي دي: رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته په حديبيه کې د باران له وريدو وروسته چې د شپې شوی و لمونځ راکړ، نو کله يې چې لمونځ وګرځاوه خلکو ته يې مخ وګرځاوه، ويې فرمايل: آيا تاسو پوهيږئ چې رب مو څه وويل؟» هغوی وويل: الله او رسول يې ښه پوهيږي، ويې فرمايل: «أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ، فَأَمَّا مَنْ قَالَ: مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللَّهِ وَرَحْمَتِهِ، فَذَلِكَ مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ، وَأَمَّا مَنْ قَالَ: بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا، فَذَلِكَ كَافِرٌ بِي وَمُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ». «زما له بنده ګانو څخه ځينو پداسې حالت کې سبا کړ چې پر ما ايمان لرونکي او ځيني نور کفر کوونکي وو، نو څوک چې ووايي د الله په فضل او رحمت پر مونږ باران وشو، نو دا پر ما مؤمن او په ستورو کافر شو او څوک چې ووايي، د فلاني ستوري - په راختو سره - پر مونږ باران وشو، نو دا انسان پر ما کافر او په ستورو ايمان لرونکی شو». بخاري (846)، مسلم (71)، أبو داود (3906) او نسائي (1525) روايت کړی دی. او له ډولونو څخه يې دا دی چې له الله سره د هغه

په نومونو او صفتونو کې شریک وګرځول شي، لکه څوک چې دا ګمان وکړي چې له الله پرته څوک په غیبو پوهیږي، حال دا چې الله تعالی نبي -صلی الله علیه وسلم - ته امر کړی دی چې ووایي:

﴿قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ إِنِّي مَلَكٌۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۚ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ٥٠﴾ [الأنعام: 50]

(ته ووایه: زه تاسو ته نه وایم چې ما سره د الله خزاني دي او نه زه عالم الغیب یم او نه زه تاسو ته دا وایم چې بېشکه زه مَلَك یم، زه پیروي نه کوم مګر د هغه شي چې ما ته وحي کیږي، ته ووایه: ایا ړوند او بینا سره برابر دي؟ نو ولې تاسو سوچ او فکر نه کوئ!) [الأنعام سورت: 50 آیت]

، او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿... إِنَّمَا ٱلۡغَيۡبُ ...﴾ [یونس: 20]

(بېشکه همدا خبره ده چې (علم د) غیب د الله لپاره خاص دی) [یونس سورت: 20 آیت].

وعن أبي هريرة رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «مَنْ أَتَى كَاهِنًا -قَالَ مُوسَى فِي حَدِيثِهِ - فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ - ثُمَّ اتَّفَقَا- أَوْ أَتَى امْرَأَةً - قَالَ مُسَدَّدٌ: امْرَأَتَهُ - حَائِضًا، أَوْ أَتَى امْرَأَةً - قَالَ مُسَدَّدٌ: امْرَأَتَهُ - فِي دُبُرِهَا، فَقَدْ بَرِئَ مِمَّا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ»، او له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: څوک چې کوډګر ته ورغی - موسی په خپل حدیث کې فرمایلي دي - او هغه یې د هغه په وینا کې ریښتینی وګانه - بیا دواړه سره لدې وروسته موافق دي - او یا یې ښځې ته راتګ وکړ- مسدد ویلي دي- د حیض په حالت کې، او یا یې ښځې ته راتګ وکړ - مسدد ویلي دي - د شا لخوا نه - نو له هغه څه څخه بې زاره شو چې پر محمد - صلی الله علیه وسلم - نازل شوي دي»، أبو داود (3904)، ترمذي (135)، ابن ماجه (639)، فضل بن دکین په الصلاة کې (15)، إسحاق بن راهویه (482)، او أحمد (9536). روایت کړی دی. او هغه چاته سخت ګواښ شوی چې خپل ځان او یا بل څوک د الله - تعالی - له نومونو څخه په داسې یو نوم ونوموي چې له الله پرته بل چا سره نه ښایي لکه «الله» او «الرحمن» او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ١٨٠﴾ [الأعراف: 180]

(او خاص د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره بلئ او هغه کسان پرېږدئ چې د هغه په نومونو کې الحاد (کوږوالی) کوي، ژر به هغوی ته د هغو عملونو بدله (سزا) ورکړی شي چې هغوی به کول). [الأعراف سورت: 180 آیت]،

او الله تعالی فرمايي:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ٨﴾ [طه: 8]

(الله (چې دی) نشته دی هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، خاص د ده لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي). [طه سورت: 8 آیت]

، او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «أَخْنَى الأَسْمَاءِ يَوْمَ القِيَامَةِ عِنْدَ اللَّهِ رَجُلٌ تَسَمَّى مَلِكَ الأَمْلَاكِ». "د قیامت په ورځ به د الله تعالی پر وړاندې تر ټولو ناوړه نوم د هغه چا وي چې نوم يې ملک الاملاک وي". بخاري (6205)، مسلم (2143)، أبو داود (4961)، او ترمذي (2837) روایت کړی دی. أبو عبید رحمه الله فرمايلي دي: «او سفيان بن عيينه به «ملك الأملاك» داسې ژباړه، وايي: دا د هغوی د دې وينا په څېر دی لکه: شاهان شاه : يعنې د پادشاهانو پادشاه. او له سفيان پرته نورو ويلي: بلکه هغه داسې ده لکه يو سړی چې ځان د الله تعالی په نومونو ونوموي لکه: الرحمن، الجبار، العزيز. وايي: نو الله دی چې د بادشاهانو بادشاه دی، روا ندي چې پدې نوم سره له هغه پرته بل څوک ونومول شي». غريب الحديث، د القاسم بن سلام (2/ 18). او له ډولونو څخه يې: دا باور لرل چې له مخلوقاتو څخه يو په الهی کمال سره ياد شو، يا دا چې هغه په ټولو شيانو ځواکمن دی، حق ذات فرمايلي دي:

﴿وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ٤﴾ [الإخلاص: 4]

(او نه ورله څوک سيال او برابر شته) [الإخلاص سورت: 4 آیت]،

او الله پاک فرمايلي:

﴿رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا فَٱعۡبُدۡهُ وَٱصۡطَبِرۡ لِعِبَٰدَتِهِۦۚ هَلۡ تَعۡلَمُ لَهُۥ سَمِيّٗا٦٥﴾ [مريم: 65]

[(دغه) د اسمانونو او ځمکې رب دی او د هغه څه چې د دغو دواړو په مینځ کې دي، نو ته د ده عبادت کوه او د ده پر عبادت ښه ټینګ اوسه، ایا ته د ده کوم همنام پېژنې!] [مریم سورت: 65 آیت]

، او الله تعالی له خپل بشپړ ځواک څخه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي دي:

﴿... إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٤٨﴾ [البقرة: 148]

(یقینًا الله په هر شي باندې ښه قادر دی) [البقرة سورت : 148 آیت]،

او الله رب العزت فرمایلي:

﴿أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَكَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعۡجِزَهُۥ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمٗا قَدِيرٗا ٤٤﴾ [فاطر: 44]

(او الله کله هم داسې نه دی چې هغه لره دې عاجزه کړي هېڅ کوم شی په اسمانونوکې او په ځمکه کې، بېشکه هغه (الله) له ازله ښه پوه، ښه قادر دی) [فاطر سورت: 44 آیت].

او هغه پاک ذات له هغه پرته د نورو معبودانو بشپړه عاجزي ښکاره کړه، د لوی شان او سلطنت خاوند فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٞ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخۡلُقُواْ ذُبَابٗا وَلَوِ ٱجۡتَمَعُواْ لَهُۥۖ وَإِن يَسۡلُبۡهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيۡـٔٗا لَّا يَسۡتَنقِذُوهُ مِنۡهُۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلۡمَطۡلُوبُ ٧٣﴾ [الحج: 73]

[ای خلکو! یو مثال بیان شوی دی، نو تاسو دې ته ښه غوږ کېږدئ، بېشکه هغه شیان چې تاسو یې له الله تعالی نه غیر بلئ دوی له سره یو مچ هم نشي پیدا کولی اګر که دوی ده ته ټول راټول شي او که مچ له دوی نه یو شی وتښتوي، دوی له هغه نه دغه شی نشي راخلاصولی، کمزوری دی دا طالب (د غیر الله عبادت کوونکی) او دغه مطلوب (باطل معبود) [الحج سورت: 73 آیت]

. او له دېلونو څخه یې دا دي چې له الله سره نور معبودان وګرځول شي، لکه څرنګه چې الله تعالی د ابراهیم علیه السلام د قوم په اړه فرمایلي دي چې دوی له الله پرته نور معبودان نیولي دي، الله تعالی فرمایلي:

﴿۞ وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ ءَازَرَ أَتَتَّخِذُ أَصۡنَامًا ءَالِهَةً إِنِّيٓ أَرَىٰكَ وَقَوۡمَكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ٧٤﴾ [الأنعام: 74]

(او کله چې ابراهیم خپل پلار ازر ته وویل: ایا ته بتان، معبودان نیسې، یقینًا زه تا او ستا قوم په ښکاره ګمراهۍ کې وینم) [الأنعام سورت: 74 آیت]

**، او حق ذات د کهف له خاوندانو څخه خبر ورکړ چې هغوی له خپل قوم څخه جلا شول، ځکه چې هغوی له الله تعالی پرته نور معبودان نیولي وو، الله تعالی فرمایلي دي:**

﴿هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمُنَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗۖ لَّوۡلَا يَأۡتُونَ عَلَيۡهِم بِسُلۡطَٰنِۭ بَيِّنٖۖ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا ١٥﴾ [الكهف: 15]

(زموږ دغې قوم له هغه (الله) نه غیر نور معبودان نیولي دي، دوی پر (عبادت د) دغو (باطلو معبودانو) باندې ښکاره دلیل ولې نه راوړي؟ نو له هغه چا نه لوی ظالم څوک دی چې په الله باندې دروغ تړي!) [الکهف سورت: 15 آیت]

**، الله پاک د موسی - علیه السلام - د قوم په اړه فرمایلي دي چې دوی له موسی - علیه السلام - څخه وغوښتل چې دوی ته یو معبود وټاکي لکه څنګه چې مشرکان معبودان لري:**

﴿وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتَوۡاْ عَلَىٰ قَوۡمٖ يَعۡكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصۡنَامٖ لَّهُمۡۚ قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱجۡعَل لَّنَآ إِلَٰهٗا كَمَا لَهُمۡ ءَالِهَةٞۚ قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ١٣٨ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٞ مَّا هُمۡ فِيهِ وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ١٣٩﴾ [الأعراف: 138-139]

{وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَآئِيلَ الْبَحْرَ فَأَتَوْاْ عَلَى قَوْمٍ يَعْكُفُونَ عَلَى أَصْنَامٍ لَّهُمْ قَالُواْ يَا مُوسَى اجْعَل لَّنَا إِلَـهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُون * (او مونږه بني اسرائیل پر سمندر پورې ایستل، نو دوی پر داسې قوم راغلل چې د خپلو بتانو پر عبادت قایم وو، بني اسرائیلو وویل: ای موسٰی! زموږ لپاره (هم) داسې معبود جوړ کړه، لکه څنګه چې د دوی لپاره معبودان دي، (موسٰی) وویل: بېشکه تاسو داسې قوم یئ چې جهالت کوئ) إِنَّ هَـؤُلاء مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيهِ وَبَاطِلٌ مَّا كَانُواْ يَعْمَلُون} (بېشکه دا خلک (چې دي) تباه ده هغه (تګلاره) چې دوی په هغې کې دي او باطل دي هغه عملونه چې دوی یې کوي) [الأعراف سورت : 138، 139 آیتونه]

**، او الله ـ تعالی ـ له هغه پرته د هر معبود د عبادت د باطلولو په موخه فرمایلي دي:**

﴿مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنۡ إِلَٰهٍۚ إِذٗا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهِۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ٩١﴾ [المؤمنون: 91]

{مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَهٍ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَهٍ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلاَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ}. (الله (د ځان لپاره) هېڅ اولاد نيولی نه دی او نه له هغه سره بل هېڅ معبود شته (او كه ورسره وي نو) په دغه وخت كې به خامخا هر اله بېولي وو هغه څه چې پيدا كړي يې وو، او خامخا د دوی ځينو به په ځينو نورو باندې غلبه كوله، پاك دی الله له هغو خبرو نه چې دوی يې بيانوي). [المؤمنون سورت : 91 آيت].

او له ډولونوڅخه يې : له الله پرته بل لوري ته د ټول عبادت يا د يوې برخې اړول دي، الله تعالی د مشركانو د حالت د بيانولو په اړه فرمايلي:

﴿وَجَعَلُواْ لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ ٱلۡحَرۡثِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ نَصِيبٗا فَقَالُواْ هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعۡمِهِمۡ وَهَٰذَا لِشُرَكَآئِنَاۖ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمۡ فَلَا يَصِلُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمۡۗ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ١٣٦﴾ [الأنعام: 136]

(او دغو د الله لپاره په هغو ځيزونو كې برخه مقرر كړه چې هغه پيدا كړي دي، چې فصل او څاروي دي، نو وايي: دا د الله لپاره دي، د دوی په عقيده، او دا زمونږ د شريكانو لپاره دي، نو هغه چې د دوی د شريكانو لپاره وي، نو هغه خو الله ته نه رسېږي او هغه چې د الله لپاره وي، نو هغه د دوی شريكانو ته رسېږي، بده ده هغه فيصله چې دوی يې كوي) [الأنعام سورت : 136 آيت]،

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «قَالَ اللهُ تبارك وتعالى: أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ، مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي، تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ». «الله تبارک و تعالی فرمايلي دي: زه د شريكانو تر ټولو غني يم، نو څوک چې يو كار وكړي، په هغه كې بل څوک زما سره شريک كړي؛ زه به هغه كس او د هغه شرک پريږدم». مسلم (2985) روايت كړی دی. او له ډولونو څخه له الله تعالی پرته بل چاته د نږدې والي په موخه حلاله كول دي، لكه څوک چې بتانو او يا مړو ته د نږدې والي په موخه ذبح كوي، الله تعالی د دې خبرې د ښكاره كولو په موخه فرمايلي دي چې حلاله بل چاته نه كيږي:

﴿قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦٢﴾ [الأنعام: 162]

(ته ووايه: بېشكه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرگ خاص د الله رب العلمين لپاره دي) [الأنعام سورت: 162 آيت]

، او الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦۖ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ﴾ [النحل: 115]

(همدا خبره ده چې هغه پر تاسو باندې حرامه کړې ده مرداره او وینه او د خنزیر غوښه او هغه چې په هغه باندې د غیرالله لپاره اواز پورته شوی وي، نو هغه څوك چې مجبوره شي ، په دې حال کې چې نه ظالم وي او نه (له حده) تجاوز کوونکی وي، نو بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی) [النحل سورت: 115 آیت].

او له أبو الطفيل څخه روایت دی وایې: علي بن أبي طالب - رضي الله عنه - ته مو وویل: مونږ ته د داسې یو څه په اړه خبر راکړه چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم تاته پټ ویلي وي: نو هغه وویل: ما ته یې داسې هیڅ ندي ویلي چې د خلکو څخه یې پټ کړي وي، مګر ورڅخه مې اوریدلي دي چې ویل یې: د الله لعنت دې وي په هغه چا چې له الله پرته بل چا ته ذبح کوي»؛ مسلم (1978)، او نسائي (4422) روایت کړی دی. او ځکه چې دا یوه ډېره لویه چاره ده، پیغمبر - صلى الله عليه وسلم - په هغه ځای کې له حلالې څخه منع کړې ده چېرته چې له الله پرته بل چاته ذبح کیږي. فعن ثابت بن الضحاك رضي الله عنه قال: «نَذَرَ رَجُلٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أَنْ يَنْحَرَ إِبِلًا بِبُوَانَةَ -هي هضبة من وراء ينبع قريبة من ساحل البحر- فَأَتَى النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم، فَقَالَ: إِنِّي نَذَرْتُ أَنْ أَنْحَرَ إِبِلًا بِبُوَانَةَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: «هَلْ كَانَ فِيهَا وَثَنٌ مِنْ أَوْثَانِ الْجَاهِلِيَّةِ يُعْبَدُ؟» قَالُوا: لَا، قَالَ: «هَلْ كَانَ فِيهَا عِيدٌ مِنْ أَعْيَادِهِمْ؟»، قَالُوا: لَا، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «أَوْفِ بِنَذْرِكَ؛ فَإِنَّهُ لَا وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ، وَلَا فِيمَا لَا يَمْلِكُ ابْنُ آدَمَ». له ثابت بن ضحاک - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایې: یو سړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې نذر ومنوده چې په بوانه کې به اوښ حلالوي- دا د ینبع شاته یوه غونډۍ ده چې د دریاب ساحل ته نږدې ده - نو پیغمبر صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته یې وویل: ما نذر منلی دی چې په بوانه کې یو اوښ حلال کړم ، نو پیغمبر صلى الله عليه وسلم ورته وویل: آیا هلته د جاهلیت له بتانو څخه کوم بت و چې عبادت یې کېده؟ هغوی وویل: نه، ویې فرمایل: آیا د هغوی له اخترونو څخه پکې کوم اختر و؟ هغوی وویل: نه، رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وفرمایل: په نذر دې وفا وکړه، یقینا چې د الله په نافرمانۍ کې په نذر وفا نشته، او نه په هغه څه کې چې بني آدم یې نه لري». أبو داود روایت کړی دی (3313). او له ډولونو څخه یې: غیر الله ته نذر دی، نو نذر عبادت دی او له الله تعالی پرته یې بل چاته ګرځول روا ندي، لدې امله الله تعالی د هغه مؤمنانو ستاینه کړې ده چې په نذر وفا کوي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿يُوفُونَ بِٱلنَّذۡرِ وَيَخَافُونَ يَوۡمٗا كَانَ شَرُّهُۥ مُسۡتَطِيرٗا٧﴾ [الإنسان: 7]

(دوی نذرونه پوره کوي او له هغې ورځې نه وېرېږي چې د هغې شر خور وور دی) [الإنسان سورت: 7 آیت]،

او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوۡ نَذَرۡتُم مِّن نَّذۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُهُۥۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٍ٢٧٠﴾ [البقرة: 270]

(او تاسو چې څه خرچ هم ولګوئ، یا څه نذر هم (پر ځان) لازم کړئ؛ نو یقینًا الله پر هغو پوهېږي او د ظالمانو لپاره هېڅ مدد کوونکي نشته) [البقرة سورت : 270 آیت].

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «مَنْ نَذَرَ أَنْ يُطِيعَ اللَّهَ فَلْيُطِعْهُ، وَمَنْ نَذَرَ أَنْ يَعْصِيَهُ فَلَا يَعْصِهِ». "څوک چې د الله تعالی د اطاعت نذر وکړي، هغه دې د هغه اطاعت وکړي، او څوک چې د هغه د نافرمانۍ نذر وکړي، هغه دې د هغه نافرماني نه کوي". بخاري (6696)، أبو داود (3289)، ترمذي (1526)، نسائي (3806)، او ابن ماجه روایت کړی دی (2126). او له ډولونو څخه يې له الله پرته له بل چا پناه غوښتل ، له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی فرمايي: «كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْإِنْسِ يَبِيتُ أَحَدُهُمْ بِالْوَادِي فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَيَقُولُ: أَعُوذُ بِعَزِيزِ هَذَا الْوَادِي، فَزَادَهُمْ ذَلِكَ إِثْمًا»، «له انسانانو څخه ځینې سړي وو چې په جاهلیت کې له دوی څخه یو په یوه دره کې اوسیده، نو ویيل به یې: د دې درې په مشر پناه نیسم، نو پدې سره یې الله ګناه ورزیاته کړه»، طبري في تفسير کې روایت کړی دی (23/ 322). الله تعالی د جاهلیت د وخت له خلکو څخه د خبر ورکولو په موخه فرمايلي دي:

﴿وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٞ مِّنَ ٱلۡإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٖ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَزَادُوهُمۡ رَهَقٗا٦﴾ [الجن: 6]

(او بېشکه شان دا دی چې په انسانانو کې ډېر داسې سړي وو چې په پېریانو کې په ځینو سړیو پورې به یې پناه نیوله، نو دغو خلکو دغو (پېریانو) ته سرکشي ورزیاته کړه) [الجن سورت: 6 آیت]

. او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - خبر ورکړی دی چې څوک په یو کور کې مېشت شو او ویې ویل: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ، حَتَّى يَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهِ ذَلِكَ»، «یعنې پناه نیسم د الله په بشپړو کلمو سره د هغه څه له شر څخه چې هغه پیدا کړی دی، نو هیڅ شی به ورته ضرر ونه رسوي، تر څو چې له هغه ځای

ځخه تللی نه وي»، مسلم (2708)، ترمذي (3437) او ابن ماجه (3547) روایت کړی دی. او د شرک له ډولونو څخه له الله - تعالی - پرته له بل چا څخه په سختنه او آسانه کې مرسته غوښتل دي په هغه څه کې چې له الله تعالی پرته یې بل څوک نه شي کولی، او یا له الله پرته بل څوک رابلل، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا۝١٨﴾ [الجن: 18]

(او دا چې یقینًا جوماتونه خاص د الله لپاره دي، نو تاسو له الله سره بل هیڅوک مه بلئ) [الجن سورت: 18 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي:

﴿إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ۝١٤﴾ [فاطر: 14]

(که تاسو دوی وبولئ، دوی ستاسو بلنه نه اوري او که چېرې وايې وري، نو دوی ستاسو بلنه قبلولی نه شي او د قيامت په ورځ به دوی ستاسو په شريک جوړولو منکر شي او تا ته (بل څوک) خبر نشي درکولی د ښه خبرداره (الله) په شان). [فاطر سورت: 14 آیت]

، او رب العزت د دې - خبرې په - ښکاره کولو سره فرمایلي دي چې مشرکانو ته کله ضرر ورسیږي نو د یو الله څخه مرسته غواړي، بیا بیرته خپل شرک ته ورګرځي کله چې الله نجات ورکړي.

﴿فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ۝٦٥﴾ [العنکبوت: 65]

(نو کله چې دوی په کښتۍ کې سواره شي (، نو) دوی الله بولي، په داسې حال کې چې خاص هغه لره دین خالص کوونکي وي، نوکله چې هغه (الله) دوی ته وچې ته نجات ورکړي (نو) ناڅاپه دوی (له الله سره) شریکان نیسي). [العنکبوت سورت: 65 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَنۡ أَضَلُّ مِمَّن يَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَن لَّا يَسۡتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَهُمۡ عَن دُعَآئِهِمۡ غَٰفِلُونَ۝٥﴾ [الأحقاف: 5]

(او له هغه كس نه زيات گمراه څوك دی چې له الله نه غير هغه (معبودان) بلي چې د ده دعا (سوال) تر قيامته پورې نشي قبلولی، په داسې حال كې چې دغه (معبودان) به د دوی له بلنې نه غافله (بې خبره) وي) [الأحقاف سورت: 5 آيت]،

او الله تعالى په واضحه توگه فرمايلي دي چې هغه د مصيبت ځپلو سره مرسته كوونكى او د مصيبت ليرې كوونكى دى:

﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجۡعَلُكُمۡ خُلَفَآءَ ٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٦٢﴾ [النمل: 62]

(آيا څوک دی هغه ذات چې قبلوي د ډېر ناچاره دعا كله چې يې راوبلي، او لرې كوي مصيبتونه، او گرځوي تاسو خليفگان د ځمكې، آيا شته دی بل څوک لايق د عبادت له الله تعالى سره، تاسي ډېر لږ نصيحت قبلوئ). [النمل سورت: 62 آيت].

او د شرک له ډولونو څخه : له الله پرته د بل چا پيروي كول دي او الله تعالى د دې - خبرې - يادونه كړې ده چې اهل كتابو خپل عالمان او پيران له الله پرته ومالكان د حل او د حرمت نيولي دي چې ځيني شيان ورته روا كوي او هغه څه پرې حراموي چې الله تعالى دوی ته حلال كړي دي:

﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣١﴾ [التوبة: 31]

(دوی خپل عالمان او خپل عابدان له الله نه غير مالكان د حل او د حرمت نيولي دي او د مريمې زوی مسيح (يې هم)، حال داچې دوی ته حكم نه و شوی مگر د دې چې دوی دې د يو حق معبود عبادت كوي چې نشته هيڅ حق معبود مگر همدی دی، هغه پاك دی له هغه څه نه چې دوی يې (ورسره) شريكوي) [التوبة سورت: 31 آيت]،

او الله تعالى فرمايلي:

﴿أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ ...﴾ [الشورى: 21]

(ايا د دوی لپاره داسې شريكان شته چې د دوی لپاره يې له دين څخه هغه لاره مقرر كړې ده چې الله د هغې اجازه نه ده كړې) [الشورى سورت: 21 آيت]

. او الله - تعالی - خپلو بندګانو ته امر کړی دی چې پر هغه ایمان راوړي او د هغه قانون ته - د پریکړې په خاطر - رجوع وکړي او دا یې څرګنده کړه چې شیطان غواړي دوی طاغوت ته - د پریکړو لپاره - رجوع وکړي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا۟ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا۟ أَن يَكْفُرُوا۟ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا﴾ [النساء: 60]

﴿٦٠﴾ (آیا تا هغه کسان نه دي کتلي چې دا دعوا کوي چې دوی پر هغه څه یې ایمان راوړی دی چې تا ته نازل کړی شوي دي او پر هغه څه چې له تا نه مخکې نازل کړی شوي دي، دوی غواړي چې خپلمنځي فیصلې طاغوت ته یوسي، حال دا چې دوی ته له هغه نه د انکار کولو حکم شوی دی او شیطان غواړي چې دوی بې لارې کړي، په ډېرې لرې ګمراهۍ سره). [النساء سورت: 60 آیت].

وعن عدي بن حاتم رضي الله عنه قال: أَتَيْتُ النَّبِيّ صلى الله عليه وسلم وَفِي عُنُقِي صَلِيبٌ مِنْ ذَهَبٍ، فَقَالَ: يَا عَدِيُّ، اطْرَحْ عَنْكَ هَذَا الوَثَنَ، وَسَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فِي «سُورَةِ بَرَاءَة»:

﴿ٱتَّخَذُوٓا۟ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ...﴾ [التوبة: 31]

قَالَ: «أَمَا إِنَّهُمْ لَمْ يَكُونُوا يَعْبُدُونَهُمْ، وَلَكِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا أَحَلُّوا لَهُمْ شَيْئًا اسْتَحَلُّوهُ، وَإِذَا حَرَّمُوا عَلَيْهِمْ شَيْئًا حَرَّمُوهُ». او له عدی بن حاتم - رضی الله عنه - څخه روایت دی وایې: زه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغلم پداسې حال کې چې زما په غاړه کې د سرو زرو صلیب و، نو ویې ویل: ای عدی، دا بت درڅخه وارتوه، او ورڅخه مې واوریدل چې په براءت سورت کې یې دا آیت لوسته {اتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللهِ} [التوبة سورت : 31 آیت ]

یعنې: دوی خپل عالمان او خپل عابدان له الله نه غیر مالکان د حل او د حرمت نیولي دي . ویې فرمایل: «داسې نه وه چې هغوی یې عبادت کاوه، مګر هغوی به چې ورته کوم شی حلال و ګرځاوه دوی به حلال ګڼه، او کله به یې چې پرې کوم شی حرام کړ، دوی به هم حرام کړ». ترمذي (۳۰۹۵)، ابن سعد (۲۱۹/۶)، ابن ابي حاتم په تفسیر (۱۰۰۵۷) او طبرانی په الکبیر (۲۱۸/۹۲/۱۷) کې روایت کړی دی. او د شرک له ډولونو څخه په لمانځه، رکوع، سجده او طواف کې شرک کول دي؛ داسې چې د دې عبادتونو کول له الله پرته بل چا ته روا ندي، او الله تعالی خپل خلیل - علیه السلام - ته امر کړی دی چې کور یې - بیت الله - طواف کوونکو، اعتکاف کوونکو، رکوع کوونکو او سجده کوونکو لپاره پاک کړي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَإِذۡ بَوَّأۡنَا لِإِبۡرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلۡبَيۡتِ أَن لَّا تُشۡرِكۡ بِي شَيۡـٔٗا وَطَهِّرۡ بَيۡتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلۡقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ٢٦﴾ [الحج: 26]

(او (ياد کړه) هغه وخت چې مونږه ابراهيم ته د بيت الله ځای ښکاره (معين) کړ چې ته له ما سره هېڅ شی مه شريکوه، او زما کور د طواف کوونکو، او قيام کوونکو او رکوع کوونکو (او) سجده کوونکو لپاره پاك کړه) [الحج سورت: 26 آيت]

، او حق ذات امر کړی دی چې سجده بايد يوازې هغه ته وشي، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿... لَا تَسۡجُدُواْ لِلشَّمۡسِ وَلَا لِلۡقَمَرِ وَٱسۡجُدُواْ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ٣٧﴾ [فصلت: 37]

(تاسو مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمۍ ته او تاسو خاص الله ته سجده کوئ چې دغه (نښې) يې پيدا کړې دي، که چېرې تاسو خاص د هغه عبادت کوئ). [فصلت سورت: 37 آيت].

او يوازې متکبران د هغه له عبادت څخه ډډه کوي، لوی ښښتن تعالى فرمايلي دي:

﴿قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ أَسۡتَكۡبَرۡتَ أَمۡ كُنتَ مِنَ ٱلۡعَالِينَ٧٥﴾ [ص: 75]

(ای ابليسه! ته هغه کس ته له سجدې کولو نه څه شي منع کړې، چې ما پخپلو دواړو لاسونو پيدا کړی دی؟ آيا تا لويي وکړه، يا ته (له پيل څخه ) د لوړو اوچتو خلکو څخه يې؟). [ص سورت: 75 آيت]

، او الله - تعالى - يادونه وکړه چې ټول مخلوقات هغه ته سجده کوي.

﴿وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن دَآبَّةٖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ٤٩﴾ [النحل: 49]

(او خاص د الله لپاره سجده کوي هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي؛ له خوځنده ځيزونو څخه او ملايك هم، په داسې حال کې چې دوی تکبر نه کوي). [النحل سورت: 49 آيت]

. د جعفر - رضى الله عنه - په اړه راغلي دي، کله چې هغه نجاشي ته ورننوت، نو جعفر ورته وويل: «أَنَا خَطِيبُكُمُ الْيَوْمَ، فَاتَّبَعُوهُ حَتَّى دَخَلُوا عَلَى النَّجَاشِيِّ فَلَمْ يَسْجُدُوا لَهُ

فَقَالَ: مَا لَكُمْ لَا تَسْجُدُونَ لِلْمَلِكِ؟ فَقَالَ: إِنَّ اللَّهَ عز وجل بَعَثَ إِلَيْنَا نَبِيَّهُ صلى الله عليه وسلم فَأَمَرَنَا أَلَّا نَسْجُدَ إِلَّا لِلَّهِ». «نن زه ستاسو - په استازيتوب - خبرې کوونکی یم، نو ورپسې شول تر دې چې نجاشي ته ورننوتل، نو سجده يې ورته ونه کړه، هغه وويل: تاسو ولې پادشاه ته سجده نه کوئ؟ هغه وويل: الله تعالی مونږ ته خپل نبي - صلى الله عليه وسلم - راليږلی دی، هغه مونږ ته امر کړی دی چې له الله تعالی پرته بل چاته سجده ونکړو». طيالسي (۳۴۴)، سعيد بن منصور (۲۴۸۱)، احمد (۴۴۰۰) او لوين په (۴) ټوک کې، او الطحاوي د قرآن په أحكام القران کې (۴۱۸) روايت کړی دی. او د شرک له ډولونو څخه په هغه څه پريکړه کول دي چې الله تعالی نه وي نازل کړی، همدا رنګه له الله پرته بل چاته پريکړه ورل او الله پاک د هغه چا په اړه حکم بیان کړ  چې د الله - تعالی - له نازل شوي حکم پرته په بل څه پريکړه کوي.

﴿... وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَـٰفِرُونَ﴿٤٤﴾﴾ [المائدة: 44]

(او چا چې د الله په نازل کړي (کتاب، قانون) باندې فیصله ونه کړه، نو همدغه خلق کافران دي). [المائدة سورت: 44 آيت].

او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿...وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴿٤٥﴾﴾ [المائدة: 45]

(او چا چې د الله په نازل کړي (کتاب، قانون) باندې فیصله ونه کړه، نو همدغه خلک ظالمان دي). [المائدة سورت: 45 آيت].

او الله تعالی فرمايي:

﴿وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ ٱلْإِنجِيلِ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فِيهِ ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَـٰسِقُونَ﴿٤٧﴾﴾ [المائدة: 47]

او (چا چې د الله په نازل کړي (کتاب، قانون) باندې فیصله ونه کړه، نو همدغه خلک فاسقان دي). [المائدة سورت: 47 آيت]

؛ دا ځکه چې بشپړه واکمني الله لره، حق ذات فرمايلي دي:

﴿...أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾﴾ [الأعراف: 54]

(اګاه شئ! خاص هغه لره دي پيدا كول اوتصرف كول، ډېر بركت والا دی الله چې رب العلمين دی) [الأعراف سورت: 54 آيت]

، او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا عَبَدۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖ نَّحۡنُ وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ فَهَلۡ عَلَى ٱلرُّسُلِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ٣٥﴾ [النحل: 35]

(او وويل هغو كسانو چې شرك يې كړی و: كه چېرې الله غوښتلی (، نو) مونږ به له هغه نه غير د هېڅ شي عبادت نه و كړی او نه به زمونږ پلرونو او نه به مونږ د هغه (له حكم) نه غير څه شی حرام كړی و، همدارنګه كار كړی و هغو كسانو چې له دوی نه مخكې وو، نو د رسولانو په ذمه نشته مګر ښكاره رسَول) [النحل سورت: 35 آيت].

او الله - تعالی - په مشركانو باندې عيب وګڼله چې خپل عالمان او پيران يې له الله تعالی پرته مالكان د حل او د حرمت نيولي دي دوی ته په يو څه روا ګڼلو كې، الله تعالی فرمايلي دي: ﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣١﴾ [التوبة: 31]

(دوی خپل عالمان او خپل عابدان له الله نه غير مالكان د حل او دحرمت نيولي دي او د مريمې زوی مسيح (يې هم)، حال داچې دوی ته حكم نه و شوی مګر د دې چې دوی دې د يو حق معبود عبادت كوي چې نشته هېڅ حق معبود مګر همدی دی، هغه پاك دی له هغه څه نه چې دوی يې (ورسره) شريكوي) [التوبة سورت: 31 آيت].

او حق ذات سبحانه وتعالی فرمايلي دي:

﴿أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ .... ﴾ [الشورى: 21]

(ايا د دوی لپاره داسې شريكان شته چې د دوی لپاره يې له دين څخه هغه لاره مقرر كړې ده چې الله د هغې اجازه نه ده كړې) [الشورى سورت: 21 آيت].

وعن عدي بن حاتم رضي الله عنه قال: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم وَفِي عُنُقِي صَلِيبٌ مِنْ ذَهَبٍ، فَقَالَ: «يَا عَدِيُّ اطْرَحْ عَنْكَ هَذَا الوَثَنَ»، وَسَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فِي سُورَةِ بَرَاءَةَ:

﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ .... ٣١﴾ [التوبة: 31]

، قَالَ: «أَمَا إِنَّهُمْ لَمْ يَكُونُوا يَعْبُدُونَهُمْ، وَلَكِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا أَحَلُّوا لَهُمْ شَيْئًا اسْتَحَلُّوهُ، وَإِذَا حَرَّمُوا عَلَيْهِمْ شَيْئًا حَرَّمُوهُ». او له عدي بن حاتم - رضى الله عنه - څخه روايت دى وايي: زه پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته راغلم پداسي حال کي چي زما په غاړه کي د سرو زرو صليب و، نو ويې ويل: اى عدى، دا بت درڅخه وارتوه، او ورڅخه مې واوريدل چې په براءت سورت کې يې دا آيت لوسته {اتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللهِ} [التوبة سورت : 31 آيت ]

يعنې: (دوى خپل عالمان او خپل عابدان له الله نه غير خدايان نيولي دي) . ويې فرمايل: «داسې نه وه چې هغوى يې عبادت کاوه، مګر هغوى به چې ورته کوم شى حلال ګرځاوه دوى به حلال ګاڼه، او کله به يې چې پرې کوم شى حرام کړ، دوى به هم حرام کړ». ترمذي (۳۰۹۵)، ابن سعد (۲۱۹/۶)، ابن ابي حاتم په تفسير (۱۰۰۵۷) او طبراني په الکبير (۲۱۸/۹۲/۱۷) کې روايت کړى دى. او مشرکان پدې کې د أهل کتابو سره ورته والى لري، هغوى چې الله تعالى يې په اړه فرمايلي دي:

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا عَبَدۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖ نَّحۡنُ وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ فَهَلۡ عَلَى ٱلرُّسُلِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ٣٥﴾ [النحل: 35]

(او وويل هغو کسانو چې شرك يې کړى و: که چېرې الله غوښتلى (، نو) مونږ به له هغه نه غير د هېڅ شي عبادت نه و کړى او نه به زمونږ پلرونو او نه به مونږ د هغه (له حکم) نه غير څه شى حرام کړى و، همدارنګه کار کړى و هغو کسانو چې له دوى نه مخکې وو، نو د رسولانو په ذمه نشته مګر ښکاره رسَول) [النحل سورت: 35 آيت].

او الله تعالى فرمايلي:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ٦٥﴾ [النساء: 65]

(پس داسې نه ده، ستا په رب مې دې قسم وي! دوى مومنان کېدى نشي تر هغه پورې چې دوى په خپل مينځ کې په پېښو جګړو کې تا فيصله کوونکى ومني، بيا په خپلو نفسونو کې ستا د کړې فيصلې په باره کې هېڅ تنګي ونه مومي او په ښو منلو سره يې ومني). [النساء سورت: 65 آيت]. او الله تعالى فرمايلي :

﴿أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ ....﴾ [الشورى: 21]

(ايا د دوی لپاره داسې شريکان شته چې د دوی لپاره يې له دين څخه هغه لاره مقرر کړې ده چې الله د هغې اجازه نه ده کړې) [الشورى سورت: 21 آيت]

. او الله تعالى فرمايلي:

﴿أَفَحُكْمَ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ۚ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٥٠﴾﴾ [المائدة: 50]

(ايا نو دوی د جاهليت فيصله غواړي؟ او په فيصله کولو کې له الله نه (بل) څوك ډېر ښه دی، د هغه قوم لپاره چې يقين کوي!) [المائدة سورت: 50 آيت].

او د شرک له ډولونو څخه د محبت شرک دی، چې يو سړی چا سره داسې مينه ولري چې عاجزي، تعظيم او خضوع ورسره وي، الله تعالى د مشرکانو د مينې په اړه له خپلو معبودانو سره فرمايلي دي:

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ ٱللَّهِ ۖ ...﴾ [البقرة: 165]

(او په خلکو کې ځينې هغه څوک دي چې له الله نه غير شريکان نيسي، له هغوی سره داسې مينه کوي لکه له الله تعالى سره د مينې په شان) [البقرة سورت: 165 آيت].

له عبدالله -رضي الله عنه - څخه روايت دی، وايي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل چې: کومه ګناه لويه ده؟ هغه وويل: «أن تجعل لله ندًّا وهو خلقك...». "دا چې الله تعالى لره شريک وګرځوې، حال دا چې هغه ته پيدا کړی يې...". بخاري (۴۴۷۷)، مسلم (۸۶)، ابوداود (۲۳۱۰)، ترمذي (۳۱۸۲) او نسائي (۴۰۱۳) روايت کړی. او د شرک له ډولونو څخه؛ د ويرې او ډار شرک دی، چې له مخلوق څخه داسې ويره ولري چې خضوع، عاجزي او تعظيم ورسره وي، لکه داسې ويره ورڅخه ولري چې کوم مصيبت به پرې نازل کړي او يا به ترې کومه ښېګڼه منع کړي او يا هغه ته د نږدې کېدو په خاطره حرام کار تر سره کړي، حق ذات فرمايلي دي:

﴿إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٥﴾﴾ [آل عمران: 175]

(بېشکه همدا خبره ده چې دغه شيطان دی، چې خپل دوستان وېروي، نو تاسو له هغوی نه مه وېرېږئ او له ما نه وېرېږئ که چېرې تاسو مومنان يئ) [آل عمران سورت: 175 آيت].

او مشرکان په دې باور دي چې د دوی معبودان زيان رسوونکي او ګټه رسوونکي دي. لدې امله دوی ګمان کوي چې د دوی معبودانو د الله پيغمبر؛ هود - عليه السلام - ته زيان رسولی دی، لکه چې وايي:

﴿إِن نَّقُولُ إِلَّا ٱعْتَرَىٰكَ بَعْضُ ءَالِهَتِنَا بِسُوٓءٍۗ قَالَ إِنِّيٓ أُشْهِدُ ٱللَّهَ وَٱشْهَدُوٓاْ أَنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشْرِكُونَ٥٤﴾ [هود: 54]

[(ستا په باره کې) مونږ يوازې همدا وايو چې تا ته زمونږ په معبودانو کې چا څه ضرر دررسولی دی، هغه وويل: بېشکه زه الله ګواه کوم او تاسو (هم) ګواه شئ چې يقينًا زه له هغو (باطلو معبودانو) نه بېزاره يم چې تاسو يې (له الله سره) شريکوئ] [هود سورت: 54 آيت].

مجاهد ويلي دي: «د {اعْتَرَاكَ بَعْضُ آلِهَتِنَا بِسُوَءٍ} معنا دا ده چې: بتانو ته ليونی کړی يې». تفسير الطبري (361/15). حق ذات د حنيفي ملت د خاوند - عليه السلام - په اړه فرمايلي دي : ﴿وَكَيْفَ أَخَافُ مَآ أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُم بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنٗاۚ فَأَيُّ ٱلْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِٱلْأَمْنِۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ٨١﴾ [الأنعام: 81

(او زه له هغو څيزونو نه څنګه ووېرېږم چې تاسو له الله سره شريك كړي دي، حال دا چې تاسو له دې څخه نه وېرېږئ چې واقعًا تاسو له الله سره هغه څه شريك كړي دي چې د هغو په باره كې يې پر تاسو باندې هېڅ دليل نه دى نازل كړى، نو په دواړو ډلو كې كومه يوه د امن (له عذاب نه د بچ كېدو) زياته حقداره ده؟ كه چېرې تاسو پوهېږئ) [الأنعام سورت: 81 آيت].

د جاهليت خلکو به د احمقو پيريانو له وېرې د هغوی په بادارانو پناه غوښتله، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٞ مِّنَ ٱلْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٖ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقٗا٦﴾ [الجن: 6]

(او بېشکه شان دا دی چې په انسانانو کې ډېر داسې سړي وو چې په پېريانو کې په ځينو سړيو پورې به يې پناه نيوله، نو دغو خلقو دغو (پېريانو) ته سرکشي ورزياته کړه) [الجن سورت: 6 آيت].

او الله تعالی فرمايلي:

﴿... فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٞ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ ٱلنَّاسَ كَخَشْيَةِ ٱللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةٗۚ ....٧٧﴾ [النساء: 77]

(نو کله چې پر هغوی باندې جنګ کول فرض کړی شول (، نو) ناڅاپه په دغه وخت کې په هغو کې یوه ډله وه چې له خلکو نه وېرېدله، له الله نه د وېرېدلو په شان، یا (له دې نه هم) زیات وېرېدل) [النساء سورت: 77 آیت]

**. او حق ذات واضحه کړه چې د هغه اولیاء له الله - جل جلاله - پرته له هیچا څخه نه ویریږي لکه څنګه چې هغه فرمایلي دي:**

﴿ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ وَيَخۡشَوۡنَهُۥ وَلَا يَخۡشَوۡنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا﴿٣٩﴾﴾ [الأحزاب: 39]

(هغه (نبیان) چې د الله پیغامونه رسوي او له هغه نه وېرېږي او له الله نه غیر له هیچا نه نه وېرېږي او الله ښه کافي دی حساب کوونکی) [الأحزاب سورت: 39 آیت]،

**او همدا رنګه یې فرمایلي دي:** ﴿إِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَلَمۡ يَخۡشَ إِلَّا ٱللَّهَۖ فَعَسَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ﴿١٨﴾﴾ [التوبة: 18]

(د الله جوماتونه خو یوازې هغه څوك ابادوي چې پر الله او د اخرت پر ورځ یې ایمان راوړی وي او لمونځ قایموي او زکات ورکوي او نه وېرېږي غیر له الله نه، نو امېد دی چې دغه کسان به له هدایت موندونکو څخه وي) [التوبة سورت: 18 آیت].

**او خبر یې ورکړ چې جادوګرانو له ایمان راوړلو وروسته د فرعون او د هغه له ظلم څخه له الله - تعالی - څخه وېرې ته ترجیح ورکړه، الله تعالی د هغوی له وینا څخه د خبر ورکولو په موخه فرمایلي دي:**

﴿قَالُواْ لَن نُّؤۡثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلَّذِي فَطَرَنَاۖ فَٱقۡضِ مَآ أَنتَ قَاضٍۖ إِنَّمَا تَقۡضِي هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَآ﴿٧٢﴾ إِنَّآ ءَامَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغۡفِرَ لَنَا خَطَٰيَٰنَا وَمَآ أَكۡرَهۡتَنَا عَلَيۡهِ مِنَ ٱلسِّحۡرِۗ وَٱللَّهُ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓ﴿٧٣﴾﴾ [طه: 72-73]

{قَالُوا لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَى مَا جَاءنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا * (هغوی وویل: مونږ به تا ته له سره ترجیح درنه کړو په هغه باندې چې مونږ ته راغلي دي چې ښکاره معجزې دي او هغه (الله) چې مونږ یې پیدا کړي یو، نو ته هغه کار وکړه چې ته د هغه کوونکی یې، بېشکه ته یوازې د دې دنیایي ژوند فیصله کولی شې. إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَى} بېشکه مونږ په خپل رب ایمان راوړی دی، د دې لپاره چې هغه زمونږ خطاګانې وبخښي او هغه (جرم) چې تا مونږ په هغه

مجبوره کړي وو، چې سحر دی او الله ډېر غوره او تل پاتې کېدونکی دی). [طه سورت: 72، 73 آیتونه]

. او د شرک له ډولونو څخه د امید ساتلو شرک دی، لکه څوک چې له ژوندي مخلوق څخه چې حاضر وي او یا غائب د داسې یو څخه امید وساتي چې له الله پرته پرې بل څوک قادر نه وي او یا دا چې له مړو څخه د ستونزو د لرې کولو او د حاجتونو د رفع کولو او د قیامت په ورځ د سفارش کولو امید ولري، حق ذات لدې څخه خبر ورکوي چې مشرکانو ولې د خپلو معبودانو عبادت کاوه:

﴿... مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ ....﴾ [الزمر: 3]

(مونږ د دوی عبادت نه کوو مګر د دې لپاره چې دوی مونږ الله ته نژدې کړي) [الزمر سورت: 3 آیت]

، او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ ١٤﴾ [فاطر: 14]

(که تاسو دوی وبولئ، دوی ستاسو بلنه نه اوري او که چېرې یې واورې، نو دوی ستاسو بلنه قبلولی نه شي او د قیامت په ورځ به دوی ستاسو په شریک جوړولو منکر شي او تا ته (بل څوک) خبر نشي درکولی د ښه خبرداره (الله) په شان). [فاطر سورت: 14 آیت]

، او الله تعالی ښکاره کړه چې دا مشرکان هیڅ هم نه لري، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ شُرَكَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٞ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ كِتَٰبٗا فَهُمۡ عَلَىٰ بَيِّنَتٖ مِّنۡهُۚ بَلۡ إِن يَعِدُ ٱلظَّٰلِمُونَ بَعۡضُهُم بَعۡضًا إِلَّا غُرُورًا ٤٠﴾ [فاطر: 40]

[(ای نبي!) ته (دوی ته) ووایه: آیا تاسو خپل شریکان لیدلي دي هغه چې تاسو یې له الله نه غیر بلئ، تاسو ما ته وښیئ چې دوی له ځمکې څخه څه پیدا کړي دي، یا د دوی لپاره په اسمانونو کې څه شراکت (او برخه) شته؟ یا مونږ دوی ته څه کتاب ورکړی دی، نو دوی له هغه نه په پاخه دلیل باندې (ولاړ) دي؟ بلکې ظالمان (چې دي) د دوی ځینې د ځینو نورو سره وعده نه کوي مګر د دوکې] [فاطر سورت: 40 آیت]

، او د پیروانو په اړه الله تعالی فرمایلي دي چې هغوی ته به د قیامت په ورځ وویل شي:

﴿وَقِيلَ ٱدۡعُواْ شُرَكَآءَكُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُمۡ وَرَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَۚ لَوۡ أَنَّهُمۡ كَانُواْ يَهۡتَدُونَ ٦٤﴾ [القصص: 64]

(تاسو خپل شریکان وبلئ، نو دوی به هغوی وبلي: نو هغوی به دوی ته هېڅ جواب ورنه کړي او دوی به عذاب ووینې (او تمنا به وکړي چې) کاشکې واقعتًا دوی (په دنیا کې) هدایت موندلی وی) [القصص سورت: 64 آیت].

او هر هغه څه چې په قرآن کې د مشرکانو لخوا د خپلو معبودانو د بللو په اړه ذکر شوي دي د امید په شرک دلیل دی، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِ لَيۡسَ لَهُۥ دَعۡوَةٞ فِي ٱلدُّنۡيَا وَلَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَآ إِلَى ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ هُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ ٤٣﴾ [غافر: 43]

(حقه خبره دا ده چې یقینًا هغه (معبود) چې تاسو ما(د) هغه (عبادت) ته بلئ، د هغه لپاره خو نه په دنیا کې څه بلل شته او نه په اخرت کې او دا چې بېشکه زمونږ بېرته ورتلل خاص الله ته دي او دا چې یقینًا له حده تېرېدونکي، همدغه د اور ملګري دي) [غافر سورت: 43 آیت]

. او که چېرته دوی باور نه درلوده چې دوی به ځواب ورکوي، نو د فرعون د کورنۍ مؤمن به ترې انکار نه و کړی. او له ډولونو څخه یې سحر (جادو) دی، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿... وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحۡرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلۡمَلَكَيۡنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنۡ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحۡنُ فِتۡنَةٞ فَلَا تَكۡفُرۡۖ ....﴾ [البقرة: 102]

(او لېکن شیطانان کافر شوي وو، خلکو ته به یې جادو (سحر) ښوده او (دوی تابع شول) د هغه څه چې په بابل ښار کې په دوه ملایکو هاروت او ماروت نازل کړی شوی و او دغو دواړو به هیچا ته ښودنه نه کوله، مګر چې ویل به یې: اصل خبره دا ده چې مونږ یَوْ ازمېښت یو، نو ته مه کافر کېږه)، [البقرة سورت: 102 آیت].

وعن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الموبِقَاتِ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا هُنَّ؟ قَالَ: «الشِّرْكُ بِاللَّهِ، وَالسِّحْرُ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالحَقِّ، وَأَكْلُ الرِّبَا، وَأَكْلُ مَالِ اليَتِيمِ، وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ، وَقَذْفُ المحْصَنَاتِ

الْمُؤْمِنَاتِ الغَافِلَاتِ». ابوهريره - رضي الله عنه - له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: «له اوو بربادوونکو ګناهونو څخه ځان وژغورئ،» هغوی وویل: ای د الله رسوله، هغه کوم دي؟ ويې فرمایيل: «په الله - تعالی - شرک کول، سحر، د هغه نفس وژل چې الله يې په ناحقه وژل حرام کړي دي، سود خوړل، د يتيم مال خوړل، د جنګ په ورځ له مېدان څخه تېښته کول، او په ساده، پاک لمنو مؤمنو ښځو د - زنا - تور پورې کول». بخاري (2766)، مسلم (89)، ابو داود (2874) او نسائي (3671) روايت کړی دی. او له عمرو بن دينار څخه روايت دی، هغه له بجالة څخه اوريدلي دي چې عمرو بن اوس او أبو الشعثاء ته يې حديث بيانوه، ويې ويل: زه د جزء بن معاوية سره - چې د احنف بن قيس کاکا دی - کاتب وم چې د عمر له مرګ څخه يو کال مخکې يې فرمان راغی ( پکې ليکلي و چې ) هر جادوګر ووژنئ...». ابوداود (3043)، عبدالرزاق (9972)، سعيد بن منصور (2180)، او احمد (1657) روايت کړی دی. او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «مَنِ اقْتَبَسَ عِلْمًا مِنَ النُّجُومِ، اقْتَبَسَ شُعْبَةً مِنَ السِّحْرِ زَادَ مَا زَادَ». "څوک چې د نجومي علم څخه څه زده کړي، هغه د جادو يوه برخه زده کړې ده، څومره يې چې زده کړه زياتيږي همغومره يې د سحر د زده کړې کچه هم ورسره زياتيږي". ابوداود (3905)، ابن ماجه (3726)، ابن ابي شيبه (26159)، احمد (2000) او عبد بن حميد (714) روايت کړی دی. او له دېولونو څخه يې: کوډګر او طالع ليدونکي دي؛ ځکه څوک چې د دې شيانو دعوه کوي هغه په غيبو د پوهيدو دعوه کوي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا ٢٦ إِلَّا مَنِ ٱرۡتَضَىٰ مِن رَّسُولٖ فَإِنَّهُۥ يَسۡلُكُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ رَصَدٗا ٢٧﴾ [الجن: 26-27]

{عَالِمُ الْغَيْبِ فَلاَ يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا * (دی عالم الغيب (په غيبو عالم) دی، نو دی په خپلو غيبو باندې هيڅوك نه خبروي. إِلاَّ مَنِ ارْتَضَى مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا} مګر هغه چې كوم رسول يې خوښ شي (وحې ورته كوي د وحې پواسطه د ځينې مغيباتو خبر وركړي)، نو بېشكه دغه (الله) د ده په مخ كې او د ده شا ته ساتونكي (څوكيداران) روانوي). [الجن سورت: 26، 27 آيتونه]

. او له صفيه څخه روايت دی، هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم - له ځينو بيبيانو څخه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ، لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً». أخرجه مسلم (2230). "څوک چې کوډګر ته ورشي او د يو څه په اړه ترې پوښتنه وکړي بيا يې په هغه څه کې رېښتونی وګڼي چې

هغه يې وايي، نو څلويښت ورځې به يې لمونځ قبول نه شي". او له أبو هريرة او الحسن رضي الله عنهما څخه روايت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: «مَنْ أَتَى كَاهِنًا، أَوْ عَرَّافًا، فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ؛ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ». «څوک چې کوډګر او يا فال بين ته ورشي او څه چې وايي په هغه کې يې رېښتونی وګڼي، نو پر هغه څه کافر شو چې پر محمد - صلی الله علیه وسلم - نازل شوی دی». احمد (۹۵۳۶) له ابوهريره او حسن څخه روايت کړی دی، او ابو داود (۳۹۰۴)، ترمذي (۱۳۵)، ابن ماجه (۶۳۹)، ابن ابي شيبه (۱۷۰۷۷) او اسحاق بن راهويه (۱۷۰۷۷) (482) او احمد (9290) د ابوهريره له حديث څخه روايت کړي.

او مونږ پوهيږو چې د شرک له ډولونو څخه يو کوچنی شرک دی چې له دين څخه پرې څوک نه وځي، او نه يې خاوند په اور کې د تل لپاره پاتې کيږي، او نه هم ټول عملونه بربادوي، دا - شرک - ډير ډولونه لري.

او لدې څخه په يو څه باندې فال نيول دي او تعريف يې داسې دی - لکه څرنګه چې په حديث کې راغلي - هغه څه چې له امله يې ته يو کار مخته بوځې او يا ترې منع شې، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿فَإِذَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡحَسَنَةُ قَالُواْ لَنَا هَٰذِهِۦۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٞ يَطَّيَّرُواْ بِمُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓۗ أَلَآ إِنَّمَا طَٰٓئِرُهُمۡ عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ١٣١﴾ [الأعراف: 131]

(نو کله چې به پر دوی خوشحالي راغله، ويل به يې: مونږ د همدې حقدار يو او که چېرې پر دوی به څه تکليف راغی، نو بدفالي به يې نيوله، په موسٰی او په هغه چا چې له هغه سره وو، خبردار! بېشکه خبره همدا ده چې د دوی بدفالي له الله سره ده او لېکن د دوی زياتره نه پوهېږي) [الأعراف سورت: 131 آيت]

، او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿قَالُواْ طَٰٓئِرُكُم مَّعَكُمۡ أَئِن ذُكِّرۡتُمۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ مُّسۡرِفُونَ ١٩﴾ [يس: 19]

(دغو(پيغمبرانو) وويل: ستاسو بدفالي له هم تاسو سره ده، ايا نو که تاسو ته پند درکړی شي (نو تاسو دغه ته بدفالي وايئ؟) بلکې تاسو له حده تېرېدونکی قوم يئ) [يس سورت: 19 آيت].

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ، وَلَا هَامَةَ وَلَا صَفَرَ». «له يو انسان څخه بل ته د ناروغۍ انتقاليدل، بدفالي، د صفر په مياشت بدفالي، او په شوپرک مرغۍ بدفالي نشته». بخاري (5707)، مسلم (2220) او ابوداود (3911) روايت

کړی. او له عروة بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دی وايي: د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په وړاندې بدفالي یاده شوه نو ویې فرمایل: «أَحْسَنُهَا الْفَأْلُ، وَلَا تَرُدُّ مُسْلِمًا، فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يَكْرَهُ فَلْيَقُل: اللَّهُمَّ لَا يَأْتِي بِالْحَسَنَاتِ إِلَّا أَنْتَ، وَلَا يَدْفَعُ السَّيِّئَاتِ إِلَّا أَنْتَ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِكَ». «او تر ټولو غوره یې نیک فال نیول دي، او له مسلمان څخه ځه نه اړوي، نو کله چې یو ستاسو څخه داسې څه ولیدل چې نه یې خوښېدل نو داسې دي ووايي: ای الله د نیکیو توفیق نه ورکوي مګر ته، او له بدیو څخه ژغورل نه کوي مګر ته، او له یو حال څخه بل ته اوړیدل او ځواک نشته مګر پر تاباندې». ابو داود (3919)، ابن ابي شيبه په المصنف (26920) او الادب (162) کې او الخلال (1405) کې روایت کړی دی. وعن عبد الله بن عمرو رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: «مَنْ رَدَّتْهُ الطِّيَرَةُ مِنْ حَاجَةٍ، فَقَدْ أَشْرَكَ»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا كَفَّارَةُ ذَلِكَ؟ قَالَ: «أَنْ يَقُولَ أَحَدُهُمْ: اللَّهُمَّ لَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُكَ، وَلَا طَيْرَ إِلَّا طَيْرُكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ». او له عبد الله بن عمرو - رضي الله عنه - څخه روایت دی وايي چې: رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «چا لره چې بد فال نیوني له اړتیا څخه یې راوګرځاوه، نو شرک یې وکړ، هغوی وویل: ای د الله رسوله، د دې کفاره څه ده؟ هغه وفرمایل: (کفاره یې دا ده ) چې ووايي: ای الله، ستا له خیر پرته بل هیڅ خیر نشته، او ستا له نیک مرغی پرته بله نیک مرغي نشته او ستا پرته بل معبود نشته». ابن وهب په الجامع کې (658)، احمد (7045) کې روایت کړی، او دا لفظ د هغه دی، طبراني په الکبیر (14622) کې، او ابن السني په "عمل اليوم والليلة" کې روایت کړی دی. (۲۹۲). او لدې څخه د بندونو (تعویذونو) ځړول دي، فعن أبي بشير الأنصاري رضي الله عنه «أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ: وَالنَّاسُ فِي مَبِيتِهِمْ، فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم رَسُولًا: أَنْ لَا يَبْقَيَنَّ فِي رَقَبَةِ بَعِيرٍ قِلَادَةٌ مِنْ وَتَرٍ، أَوْ قِلَادَةٌ إِلَّا قُطِعَتْ». د أبو بشير الأنصاري - رضي الله عنه - څخه روایت دی « چې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم- سره په ځینو سفرونو کې و، عبد الله ویلي دي: ګمان کوم چې هغه ویلي: او خلک په خپلو کورونو کې وو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یو استازی ولیږه چې: د هیڅ اوښ په غاړه کې - د نظر د مخنیوي په خاطر - ځړول شوی بند پرې نږدې او نه هیڅ کوم بل بند یا تعویذ مګر دا چې پرې یې کړي». بخاري (3005)، مسلم (2115) او ابوداود (2552) روایت کړی. او له عبد الله - رضی الله عنه -څخه روایت دی وايي: له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه مې اوریدلي دي چې ویل یې: «إِنَّ الرُّقَى، وَالتَّمَائِمَ، وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ». "په یقیني توګه چې - شرکي - دمونه، بندونه، او تعویذونه شرک دی". ابو داود (3883)، ابن ماجه (3530)، معمر په الجامع (20343)، ابن ابی شیبه (23924) او احمد (3615) روایت کړی دی. او نبي - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «مَنْ

تَعَلَّقَ شَيْئًا وُكِلَ إِلَيْهِ». «چا چې کوم شی وځړاوه همغه ته ورو‌سپارل شو». ترمذي (2072)، ابن ابي شيبه په المصنف (23923)، او مسند (786) او احمد (18781) روايت کړی دی. او - د شرک له ډولونو څخه - لږه ځان ښودنه (ريا) ده، خو هغه څوک چې زړه يې له ځان ښودني ( ريا کاری ) څخه ډک وي او داسې شي چې له نيت،ايمان او ويرې پرته نيک کارونه کوي، نو دا سوچه منافق دی او عمل يې برباد او پرې مردود دی او ورڅخه نه منل کيږي،الله تعالی فرمايلي دي:

﴿... فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا۝١١٠﴾ [الكهف: 110]

(نو هغه څوک چې د خپل رب د ملاقات هليه لري، نو هغه دې نېک عمل وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې هيڅوک نه شريکوي). [الکهف سورت: 110 آيت]،

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «قَالَ اللهُ تبارك وتعالى: أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ، مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي، تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ». «الله تبارک و تعالی فرمايلي دي: زه د شريکانو تر ټولو غني يم، نو څوک چې يو کار وکړي، په هغه کې بل څوک زما سره شريک کړي؛ زه به هغه کس او د هغه شرک ورپرېږدم». مسلم (2985) روايت کړی دی. او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ قَالَ: قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ، قَالَ: كَذَبْتَ، وَلَكِنَّكَ قَاتَلْتَ؛ لِأَنْ يُقَالَ: جَرِيءٌ، فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ، وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ، وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ قَالَ: تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ، وَعَلَّمْتُهُ، وَقَرَأْتُ فِيكَ الْقُرْآنَ، قَالَ: كَذَبْتَ، وَلَكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ: عَالِمٌ، وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ؛ لِيُقَالَ: هُوَ قَارِئٌ، فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ، وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللهُ عَلَيْهِ، وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ قَالَ: مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ، قَالَ: كَذَبْتَ، وَلَكِنَّكَ فَعَلْتَ؛ لِيُقَالَ: هُوَ جَوَادٌ، فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ، ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ». «د قيامت په ورځ به تر ټولو لومړی د هغه چا په اړه قضاوت وشي چې شهيد شوی وي، نو هغه به راوستلی شي او نعمتونه به يې ورو‌پېژندل شي، نو وبه يې پيژني، وايي: نو څه دې پکې کړي دي؟ هغه به ووايي: ستا په لاره کې وجنګيدم تر دې چې شهيد شوم، فرمايي: دروغ دې ويل: مګر د دې لپاره جنګيدلی وې چې وويل شي: زړور دی، نو دا وويل شو، بيا به پرې امر وشي او پرمخه به کش کړای شي تر دې چې په اور کې وغورځول شي. او يو بل سړی چې زده کړه يې کړې وي او نورو

ته یې ښودلي وي او قرآن یې لوستلی وي، نو هغه به راوستل شي، نعمتونه به یې ورو وپېژني، نو وبه یې پېژني، ورته به ووایي: چې څه دې پکې کړي دي؟ هغه به ووایي: علم مې زده کړ او نورو ته مې وښوده او ستا لپاره مې قرآن لوستلی دی، وبه وایي: دروغ دې وویل: مګر علم دې د دې لپاره زده کړی و چې عالم درته وویل شي او قرآن دې د دې لپاره لوستلی و چې قاري درته وویل شي، نو دا درته وویل شول، بیا به پرې امر وشي نو پړمخه به کش کړای شي تر دې چې اورته وغورځول شي، او بل سړی چې الله پرې پراخي راوستې وي او له هر ډول مالونو څخه یې ورکړي وي، نو هغه به راوستل شي او نعمتونه به یې وروپېژندل شي نو وبه یې پېژني، وایې: نو څه دې پکې کړي دي؟ هغه به ووایي: هيڅ داسې لار مې نده پرېښې چې ته یې خوښوې مګر دا چې ستا لپاره مې پکې لګښت کړی دی، (ورته به ) ووایي: مګر دا کار دې د دې لپاره کړی دی چې سخی درته وویل شي، نو درته وویل شو، بیا به پرې امر وشي نو پړمخه به کش کړل شي بیا به اور ته وغورځول شي». مسلم (1905)، ترمذي (2382)، او نسائي (3137) روایت کړی دی. او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللَّهُ بِهِ، وَمَنْ يُرَائِي يُرَائِي اللَّهُ بِهِ». "څوک چې په پټه یو کار وکړي بیا یې خلکو ته د شهرت په خاطر ووایي، الله به یې - د قیامت - په ورځ رسوا کړي، او څوک چې ځان ښودنه وکړي، او د خلکو په خاطر یو کار وکړي نو الله به یې د قیامت په ورځ راز افشا کړي». بخاري (۶۴۹۹)، مسلم (۲۹۸۷) او ابن ماجه (۴۲۰۷) روایت کړی دی. او له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «مَنْ سَمَّعَ النَّاسَ بِعَمَلِهِ، سَمَّعَ اللَّهُ بِهِ سَامِعَ خَلْقِهِ، وَحَقَّرَهُ وَصَغَّرَهُ». «څوک چې په پټه یو کار وکړي بیا یې خلکو ته د شهرت په خاطر ووایي، الله به یې - د قیامت - په ورځ له خپلو مخلوقاتو څخه هر اوریدونکي ته رسوا کړي، سپک او ذلیل به یې کړي». ابن المبارك په الزهد (141) کې، ابن ابي شيبه (36448)،او هناد په الزهد (872) کې، او احمد (6509) په الزهد (238) کې روایت کړی دی. وعن أبي موسى رضي الله عنه قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا الْقِتَالُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ؟ فَإِنَّ أَحَدَنَا يُقَاتِلُ غَضَبًا، وَيُقَاتِلُ حَمِيَّةً، فَرَفَعَ إِلَيْهِ رَأْسَهُ -قَالَ: وَمَا رَفَعَ إِلَيْهِ رَأْسَهُ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ قَائِمًا- فَقَالَ: «مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا، فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ عز وجل». او له أبو موسى - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایې: رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ته یو سړی راغی نو ویې وییل: ای د الله رسوله ، د الله په لار کې جنګیدل څه دي؟ ځکه زمونږ څخه ځینې د غصې له امله جنګیږي او ځینې د ملاتړ په خاطر، نو سر یې ورته راپورته کړ- وایې: او سر ورته راپورته نه کړ مګر د دې لپاره چې هغه ولاړ و، نو ویې فرمایل: « څوک چې د دې لپاره وجنګیده چې د الله کلمه لوړه شي، نو هغه د الله تعالی په لار کې دی».

بخاري (123)، مسلم (1904)، ابوداود (2517)، ترمذي (1646)، نسائي (3136) او ابن ماجه (2783) روایت کړی دی. او مونږ پوهیږو چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - د رازونو شرک بللی دی. فعن محمود بن لبید قال: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم: «إِيَّاكُمْ إِيَّاكُمْ وَشِرْكَ السَّرَائِرِ»، قَالُوا: وَمَا شِرْكُ السَّرَائِرِ؟ قَالَ: «أَنْ يَقُومَ أَحَدُكُمْ يُزَيِّنُ صَلَاتَهُ جَاهِدًا؛ لِيَنْظُرَ النَّاسُ إِلَيْهِ، فَذَلِكَ شِرْكُ السَّرَائِرِ». له محمود بن لبید څخه روایت دی وایي: رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: «ځان وساتئ، ځان وساتئ د رازونو له شرک څخه» هغوی وویل: او د رازونو شرک څه دی؟ هغه وفرمایل: « چې ستاسو څخه یو کس پاڅیږي ښایسته لمونځ وکړي او کوښښ پکې وکړي؛ تر څو ورته خلک وګوري، نو دا د رازونو شرک دی». ابن ابي شيبه (٨٤٨٩)، ابن خزيمه (٩٣٧)، طبرانی په الکبير (٤٣٠١) او بیهقی په سنن الکبری (٣٦٢٩) او الشعب (٢٨٧٢) کې روایت کړی دی. او رسول الله صلی الله ښکاره کړه چې ځان ښودنه ډیر یو پټ عمل دی او دا چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ترې په خپل امت باندې له مسیح الدجال څخه زیات ویریده، لکه چې فرمایي: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَا هُوَ أَخْوَفُ عَلَيْكُمْ عِنْدِي مِنَ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ؟»، قَالَ: قُلْنَا: بَلَى، فَقَالَ: «الشِّرْكُ الْخَفِيُّ، أَنْ يَقُومَ الرَّجُلُ يُصَلِّي، فَيُزَيِّنُ صَلَاتَهُ، لِمَا يَرَى مِنْ نَظَرِ رَجُلٍ». "آیا زه تاسو ته نه خبر درنکړم چې زه پرې له مسیح الدجال نه زیات پر تاسو ویریږم؟" هغه وایي: مونږ وویل: "هو" هغه وفرمایل: " پټ شرک دی، چې یو سړی پاڅیږي او د دې لپاره ښایسته لمونځ وکړي چې یو سړی ورته ګوري". ابن ماجه (4204)، احمد (11252)، حنبل بن اسحاق په الفتن کې (30) او طبري (1117) په تهذيب الآثار کې روایت کړی دی. او له کوچني شرک څخه دا هم دي چې انسان په خپل عمل سره یوازې دنیوي اراده ولري، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿مَن كَانَ يُرِيدُ حَرۡثَ ٱلۡأٓخِرَةِ نَزِدۡ لَهُۥ فِي حَرۡثِهِۦۖ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرۡثَ ٱلدُّنۡيَا نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا وَمَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ٢٠﴾ [الشورى: 20]

(هر هغه څوك چې د اخرت فصل غواړي، نو مونږ به د ده لپاره د ده په فصل کې زیاتوالی وکړو او هر هغه څوك چې د دنیا فصل غواړي (نو) مونږ به ده ته له دغې (دنیا) نه څه ورکړو او د ده لپاره به په اخرت کې هېڅ برخه نه وي) [الشورى سورت: 20 آیت]،

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا وَهُمۡ فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ ١٥﴾ [هود: 15]

(هر څوك چې (داسې) وي چې دنيايي ژوند او د ده ښايست غواړي (،نو) مونږ به په همدې (دنيا) كې هغو ته د خپلو عملونو بدله پوره وركړو، په داسې حال كې چې له دوى نه به په دې (دنيا) كې څه كمولى نشي) [هود سورت: 15 آيت]

. دا د لوی شرک او کوچني شرک تر منځه يو حالت دی، په ځومره کچه چې د بنده په زړه کې ځای ونيسي، حق ذات فرمايلي دي:

﴿مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعَاجِلَةَ عَجَّلۡنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلۡنَا لَهُۥ جَهَنَّمَ يَصۡلَىٰهَا مَذۡمُومٗا مَّدۡحُورٗا ١٨﴾ [الإسراء: 18]

(هغه څوك چې داسې وي چې دنيا غواړي (نو) مونږ به هغه ته په دې كې هغه څه په تلوار وركړو چې مونږ يې غواړو، د هغه چا لپاره چې مونږ يې اراده وكړو، بيا مونږ د هغه لپاره جهنم مقرر كړو چې دی به هغه ته ننوځي، په داسې حال كې چې ملامت كړى شوى، شړل شوى به وي) [الإسراء سورت: 18 آيت].

وعن أبي موسى رضي الله عنه قال: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، فَقَالَ: الرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ، وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلذِّكْرِ، وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ، فَمَنْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ؟ قَالَ: «مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ العُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ»، او له أبو موسى - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايې: رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ته يو سړی راغی نو ويې وييل: يو سړی د غنيمت لپاره جنګيږی، يو سړي د شهرت لپاره جنګيږي او يو سړی په راتلونكي د يو مقام لپاره جنګيږي، نو څوک د الله په لار کې دی؟ وايې: « څوک چې د دې لپاره وجنګيده چې د الله کلمه لوړه شي، نو هغه د الله تعالى په لار کې دی». بخاري (2810)، مسلم (1904)، ابو داود (2517) او نسائي (3136) روايت كړى دى. او رسول الله (صلى الله عليه وسلم) هغه چاته بد دعايي وكړه چې ټول هم او غم يې يوازې دنيا وي، له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايې: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ، وَالدِّرْهَمِ، وَالقَطِيفَةِ، وَالخَمِيصَةِ، إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ، وَإِنْ لَمْ يُعْطَ لَمْ يَرْضَ». «د دينار بنده دې پرمخه پريوځي او د درهم او قطيفة (: يو ډول تور لباس دی چې ځانګړې نخښې لري، او خميصه : ورېښمين لباس) يعنې هغه انسان چې په لباس يې زړه بايللى وي، كه چېرته څه وركړل شو خوشحاليږي او كه ورنكړل شو نه خوشحاليږي». بخاري (2886) او ابن ماجه (4135) روايت كړى دى. او د شرک له ډولونو د يو سړي دا وينا چې: هغه څه چې الله وغواړي او ته يې وغواړې او دې ته ورته الفاظ: له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه روايت دی چې يو سړي نبي - صلى الله عليه وسلم - ته وويل: څه چې الله وغواړي او ته يې وغواړې، رسول اله - صلى الله عليه

وسلم - ورته وويل: «أَجَعَلْتَنِي وَاللَّهَ عَدْلًا، بَلْ مَا شَاءَ اللَّهُ وَحْدَهُ»، «آيا زه دې الله تعالی سره برابر وګڼلم، بلکه هغه څه چې یوازې الله یې وغواړي»، ابن ابي شيبه (27227)، احمد (1839)، بخاري په الادب المفرد (783) کې، ابن ابی الدنيا په الصمت کې (342) اوباغندي په اماليه (36) کې روایت کړی دی. او دې ته ورته د هغوی دا وینا هم ده چې: دا ستا او الله نه کیږي . او که چیرته الله او فلانکی نه و نو داسې به نه و شوي. او له ډولونو څخه یې : له الله پرته په بل څه قسم یادول دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «مَنْ كَانَ حَالِفًا فَلَا يَحْلِفْ إِلَّا بِاللَّهِ، فَكَانَتْ قُرَيْشٌ تَحْلِفُ بِآبَائِهَا، فَقَالَ: لَا تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ». "څوک چې قسم خوري، نو له الله پرته دې قسم نه کوي، ځکه قریشو به په خپلو پلرونو قسمونه کول، نو ویې ویل: په خپلو پلرونو قسم مه کوئ". بخاري (3836)، مسلم (1646) او نسائي (3764) روایت کړی. او له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللَّهِ فَقَدْ كَفَرَ، أَوْ أَشْرَكَ». «څوک چې له الله پرته په بل څه قسم وکړي؛ هغه کفر یا شرک کړی دی». ترمذي (1535)، احمد (6072)، ابو عوانه (6401) او حاکم (7895) روایت کړی دی.

## )بـــاب النفاق (باب دی په بیان د نفاق کې

او هغه څه چې په الله - تعالی - له ایمان سره په ټکر کې دي: لوی نفاق دی؛ چې هغه د اسلام ښکاره کول او د کفر پټولو ته وايي، او لوی او کوچنی دی. لوی نفاق د ایمان له اصل سره په ټکر کې دی، او کوچنی نفاق د ایمان له بشپړتیا سره په ټکر کې دی، امام احمد په «أصول السنة» کې فرمایلي دي: "نفاق کفر دی؛ چې په الله کفر وکړي، د نورو عبادت وکړي او په ډاګه اسلام ښکاره کړي لکه څرنګه چې د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - په وخت کې منافقان وو". اصول السنة، د احمد ابن حنبل (٥٥ مخ) او لوی نفاق له ملت (اسلام) څخه ویستونکی دی. او مونږ د الله تعالی په ګواهۍ ګواهي ورکوو چې منافقان د ایمان په دعوا کې دروغجن دي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا وَتَفْرِيقًۢا بَيْنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ مِن قَبْلُۚ وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّا ٱلْحُسْنَىٰۖ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ﴿١٠٧﴾﴾ [التوبة: 107]

ا (و هغه خلک چې يو جومات يې جوړ کړی دی د ضرر رسولو لپاره او د کفر کولو لپاره او د مومنانو په مينځ کې د بېلتون راوستلو لپاره او د هغو کسانو د انتظار (او کمين) لپاره چا چې له دې نه مخکې (هم) له الله او د هغه له رسول سره جنګ کړی دی او دوی به يقينًا هرومرو قسمونه

خوري چې مونږ اراده نه ده کړې مګر د نېکۍ او الله شاهدي وايي چې بېشکه دوی یقینًا دروغجن دي) [التوبة سورت: 107 آیت].

او الله تعالی فرمایلي:

﴿... وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ١﴾ [المنافقون: 1]

(او الله شاهدي ورکوي چې بېشکه منافقان یقینًا دروغ ویونکي دي) ﴾ [المنافقون: 1]

او له منافق انسان څخه به الله تعالی هیڅ څیز قبول نه کړي تر څو یې له عذاب څخه وژغوري، نه د عوض په مقابل کې او نه له عوض پرته، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿قُلۡ أَنفِقُواْ طَوۡعًا أَوۡ كَرۡهٗا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمۡ إِنَّكُمۡ كُنتُمۡ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ٥٣ وَمَا مَنَعَهُمۡ أَن تُقۡبَلَ مِنۡهُمۡ نَفَقَٰتُهُمۡ إِلَّآ أَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأۡتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمۡ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمۡ كَٰرِهُونَ ٥٤﴾ [التوبة: 53-54]

{قُلْ أَنفِقُواْ طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمْ إِنَّكُمْ كُنتُمْ قَوْمًا فَاسِقِين * (ته (دې منافقانو ته) ووايه: تاسو مالونه لګوئ په خوښۍ یا په ناخوښۍ هیڅکله به له تاسو نه قبول نه کړی شي، بېشکه تاسو له شروع نه فاسقان(کافران) یئ. وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ إِلاَّ أَنَّهُمْ كَفَرُواْ بِاللّهِ وَبِرَسُولِهِ وَلاَ يَأْتُونَ الصَّلاَةَ إِلاَّ وَهُمْ كُسَالَى وَلاَ يُنفِقُونَ إِلاَّ وَهُمْ كَارِهُون} او دوی لره نه دي منع کړي چې له دوی نه دې د دوی لګولي مالونه قبول کړی شي مګر دې (خبرې) چې یقینًا دوی په الله او د هغه په رسول کافران شوي دي او لمانځه ته نه راځي مګر په داسې حال کې چې سست وي او انفاق نه کوي مګر په داسې حال کې چې ناخوښه وي) [التوبة سورت: 53، 54 آیتونه].

او د منافق برخلیک - که هغه په نفاق کې مړ شي - ابدي په اور کې دی، الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمۡ نَصِيرًا ١٤٥﴾ [النساء: 145]

(بېشکه منافقان د اور تر ټولو لاندینۍ طبقه کې دي او ته به کله هم د هغوی لپاره څوك مدد کوونکی ونه مومې) [النساء سورت: 145 آیت].

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ هِيَ حَسۡبُهُمۡۚ وَلَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّقِيمٞ ٦٨﴾ [التوبة: 68]

(الله له منافقو سړيو او منافقو ښځو او (ټولو) کفارو سره د جهنم د اور وعده کړې ده، په داسې حال کې چې دوی به په هغه کې تل ترتله وي، همدغه د دوی لپاره بس دی او الله پر دوی لعنت کړی دی او د دوی لپاره تل (دايمي) عذاب دی) [التوبة سورت: 68 آيت].

او مونږ پوهيږو چې تر ټولو لوی نفاق له حق څخه کرکه او نفرت وی، الله تعالی د منافقينو د حالت په اړه فرمايلي دي:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱتَّبَعُواْ مَآ أَسۡخَطَ ٱللَّهَ وَكَرِهُواْ رِضۡوَٰنَهُۥ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ ۝٢٨ أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَن لَّن يُخۡرِجَ ٱللَّهُ أَضۡغَٰنَهُمۡ ۝٢٩ وَلَوۡ نَشَآءُ لَأَرَيۡنَٰكَهُمۡ فَلَعَرَفۡتَهُم بِسِيمَٰهُمۡۚ وَلَتَعۡرِفَنَّهُمۡ فِي لَحۡنِ ٱلۡقَوۡلِۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ أَعۡمَٰلَكُمۡ ۝٣٠﴾ [محمد: 28-30]

{ذَلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللَّهَ وَكَرِهُوا رِضْوَانَهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُم * (دغه په دې سبب چې يقينًا دوی د هغه شي متابعت وکړ چې الله يې ناراضه کړ او دوی د هغه رضامندي بده وګڼله، نو هغه د دوی عملونه برباد کړل. أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَن لَّن يُخْرِجَ اللَّهُ أَضْغَانَهُم * آيا هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې (د نفاق) بيماري ده؛ دا ګمان کړی دی چې الله به د دوی پټې کينې له سره نه څرګندوي. وَلَوْ نَشَاء لأَرَيْنَاكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُم بِسِيمَاهُمْ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِي لَحْنِ الْقَوْلِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَعْمَالَكُم} او که مونږ وغواړو (نو) تا ته به دوی خامخا وښيو، نو ته به دوی خامخا په خپلو خاصو نښو سره وپېژنې او ته به دوی خامخا ضرور د خبرو په اړولو کې وپېژنې او الله ستاسو په عملونو عالِم دی) [محمد سورت: 28-30 آيتونه]

. هغه به د اسلام او مسلمانانو په ماتې خوشحاله وي او که د اسلام بريا ووينې نو خفه به وي، الله تعالی د هغه څه په اړه فرمايلي دي چې دوی يې په زړونو کې پټ ساتي.

﴿إِن تُصِبۡكَ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡۖ وَإِن تُصِبۡكَ مُصِيبَةٞ يَقُولُواْ قَدۡ أَخَذۡنَآ أَمۡرَنَا مِن قَبۡلُ وَيَتَوَلَّواْ وَّهُمۡ فَرِحُونَ ۝٥٠﴾ [التوبة: 50]

(که تا ته څه ښېګڼه (او برى) درورسيږي (، نو) هغه دوی خفه کوي، او که چېرې تا ته څه مصيبت در ورسيږي (نو) دوی وايي: يقينًا مونږ خپل کار (د احتياط) له مخکې نه نيولی و او واپس کيږي، په داسې حال کې چې دوی (ستا په مصيبت) ډېر خوشحاله وي) [التوبة سورت: 50 آيت]

. او له ايمان وروسته کفر او شريعت ته له پريکړې وړلو څخه مخ ګرځول دي، رب العالمين فرمايي:

﴿وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَٰٓئِكَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ۝٤٧ وَإِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم مُّعْرِضُونَ۝٤٨﴾ [النور: 47-48]

(او دوی وایي: مونږ په الله باندې او په رسول باندې ایمان راوړی دی او مونږ اطاعت کړی دی، بیا په دوی کې یوه ډله له دې نه پس مخ ګرځوي او دغه خلق له سره مومنان نه دي. او کله چې دوی الله او د هغه رسول ته راوبلل شي، د دې لپاره چې هغه د دوی په مینځ کې فیصله وکړي، ناڅاپه، په دوی کې یوه ډله مخ ګرځوونکې وي) [النور سورت: 47، 48 آیتونه].

او دا د الله - تعالی - په اړه بد ګماني ده چې هغه به د خپل پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - مرسته ونه کړي، حق ذات فرمایلي دي:

﴿وَإِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورًا۝١٢﴾ [الأحزاب: 12]

[او (یاد کړه) هغه وخت چې منافقانو او هغو کسانو چې د هغوی په زړونو کې مرض و، وویل: مونږ سره الله او د هغه رسول وعده نه ده کړې مګر د دوکې(وعده)] [الأحزاب سورت: 12 آیت]

. همدا رنګه مسخره کول وي د حق او د حق د خاوندانو او هغوی ته سپکې سپورې ویل، سپکاوی یې کول او ملنډې وریپورې وهل، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿يَحْذَرُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُورَةٌ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِى قُلُوبِهِمْۚ قُلِ ٱسْتَهْزِءُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُونَ۝٦٤ وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُۚ قُلْ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمْ تَسْتَهْزِءُونَ۝٦٥﴾ [التوبة: 64-65]

(منافقان له دې نه وېرېږي چې په دوی باندې داسې سورت نازل کړی شي چې دې (مومنانو) ته د هغه څه خبر ورکوي چې د دغو (منافقانو) په زړونو کې دي، ته (ورته) ووایه: تاسو (دغه) استهزا او مسخرې کوئ، بېشکه الله د هغه څه ښکاره کوونکی دی چې تاسو (ترې) وېرېږئ. وَلَئِن او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې (، نو) خامخا به وایي: مونږ خو یوازې مشغولتیا او لوبې کولې، ته (ورته) ووایه: ایا تاسو په الله او د هغه په ایتونو او د هغه په رسول پورې استهزا او مسخرې کولې؟) [التوبة سورت: 64، 65 آیتونه].

او همدا رنګه د مسلمانانو عیب ګویي وي، رب العالمین فرمایلي:

﴿ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٧٩﴾ [التوبة: 79]

(هغه کسان چې پر نفلي خيرات کوونکو مومنانو باندې د صدقاتو په باره کې عيب لګوي او پر هغو کسانو باندې (عيب لګوي) چې هغوی نه مومي مګر خپل وس او محنت، نو دغه (منافقان) په دوی پورې مسخرې کوي، الله به په دوی پورې مسخرې وکړي او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی) [التوبة سورت: 79 آيت].

همدا رنګه مؤمنانو ته دوکه ورکول او په عمل سره ځان ښودنه ده، الله تعالی فرمايلي:

﴿يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا يَخۡدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ٩﴾ [البقرة: 9]

(دوی له الله سره دوکه کوي، او له هغو خلکو سره چې ايمان يې راوړی دی، حال دا چې دوی يوازې د خپلو ځانونو سره دوکه کوي، او شعور نه لري). [البقرة سورت: 9 آيت]،

همدارنګه فرمايلي يې دي:

﴿إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمۡ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلٗا ١٤٢﴾ [النساء: 142]

(بېشکه منافقان له الله سره دوکه کوي او الله له دوی سره دوکه کوونکی دی او کله چې دوی لمانځه ته پاڅېږي سست (لټی) سره پاڅېږي، خلکو ته ځانونه ښيي او الله نه يادوي مګر ډېر لږ). [النساء سورت: 142 آيت].

او له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه روايت دی چې فرمايلي دي: «تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ، يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشَّمْسَ حَتَّى إِذَا كَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ، قَامَ فَنَقَرَهَا أَرْبَعًا، لَا يَذْكُرُ اللهَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا». «هغه د منافق لمونځ دی چې ناست به وي لمر به څاري تر دې چې د شيطان د ښکرونو تر منځه شي، پاڅېږي او څلور ټونګې ولګوي او الله پکې نه يادوي مګر ډير لږ». مسلم (622)، ابو داود (413)، ترمذي (160) او نسائي (511) روايت کړی. او عبد الله بن مسعود - رضي الله عنه - فرمايلي دي: «وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلَّا مُنَافِقٌ مَعْلُومُ النِّفَاقِ». "او تا به مونږ ليدلو چې يوازې منافق ترې وروسته پاتې کيږي (د سهار له لمانځه څخه)، هغه چې منافقت يې ښکاره و". مسلم (654)، ابوداود (550)، نسائي (849) او ابن ماجه (777) روايت کړی. له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت

دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ رَبِّكُمْ، إِلَّا كَمَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ أَحَدِهِمَا، قَالَ: فَيَلْقَى الْعَبْدَ، فَيَقُولُ... إلى أن قال: ثُمَّ يَلْقَى الثَّالِثَ، فَيَقُولُ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ، فَيَقُولُ: يَا رَبِّ، آمَنْتُ بِكَ، وَبِكِتَابِكَ، وَبِرُسُلِكَ، وَصَلَّيْتُ، وَصُمْتُ، وَتَصَدَّقْتُ، وَيُثْنِي بِخَيْرٍ مَا اسْتَطَاعَ، فَيَقُولُ: هَاهُنَا إِذًا، قَالَ: ثُمَّ يُقَالُ لَهُ: الْآنَ نَبْعَثُ شَاهِدَنَا عَلَيْكَ، وَيَتَفَكَّرُ فِي نَفْسِهِ: مَنْ ذَا الَّذِي يَشْهَدُ عَلَيَّ؟ فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ، وَيُقَالُ لِفَخِذِهِ وَلَحْمِهِ وَعِظَامِهِ: انْطِقِي، فَتَنْطِقُ فَخِذُهُ وَلَحْمُهُ وَعِظَامُهُ بِعَمَلِهِ، وَذَلِكَ لِيُعْذِرَ مِنْ نَفْسِهِ، وَذَلِكَ الْمُنَافِقُ، وَذَلِكَ الَّذِي يَسْخَطُ اللهُ عَلَيْهِ». «قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دی تاسو به د خپل رب په لیدلو کې هیڅ ستونزه نه ګورئ مګر دومره لکه څومره چې ( له لمر او سپوږمۍ څخه ) د یو په لیدلو کې ګورئ، وایې: نو بنده سره به مخ شي ، نو وبه وايي... تر دې چې ویې ویيل: بیا به دریم سره مخ شي، نو د هغه په څېر به ورته ووایي: نو وبه وايي: ای ربه پر تا مې ایمان راوړی او ستا په کتاب باندې او په ستا په رسولانو باندې او لمونځ مې کړی، روژه مې نیولې، زکات مې ورکړی، او څومره چې کولای شي نو همغومره به د ښېګڼو یادونه وکړي، نو وبه وايي: اوس نو همدلته بس کړه، وايې: بیا به ورته وویل شي: اوس به پر تا باندې مونږ خپل شاهد راولیږو، نو له ځان سره به فکر کوي چې: دا به څوک وي چې پر ما شاهدي وايي؟ نو په خوله به یې مهر ولګیږي، او ورون، غوښې او هډوکي ته به یې وویل شي: خبرې وکړه، نو ورون، غوښه او هډوکي به یې د هغه د کړنو په اړه خبرې وکړي، دا د دې لپاره چې پر ځان ورته عذر پاتې نه شي، او هغه منافق، او همدا نفر دی چې الله به پرې غصه وي». مسلم (2968) روایت کړی. او الله تعالی خپل پیغمبر - صلى الله عليه وسلم - او مؤمنانو ته امر کړی دی چې له د دوی سره وجنګیږي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ٧٣ يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ مَا قَالُواْ وَلَقَدۡ قَالُواْ كَلِمَةَ ٱلۡكُفۡرِ وَكَفَرُواْ بَعۡدَ إِسۡلَٰمِهِمۡ وَهَمُّواْ بِمَا لَمۡ يَنَالُواْۚ وَمَا نَقَمُوٓاْ إِلَّآ أَنۡ أَغۡنَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ مِن فَضۡلِهِۦۚ فَإِن يَتُوبُواْ يَكُ خَيۡرٗا لَّهُمۡۖ وَإِن يَتَوَلَّوۡاْ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَا لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ٧٤﴾ [التوبة: 73-74]

{يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرِ * (ای نبي! ته له کفارو او منافقانو سره جهاد کوه او پر دوی سختي کوه او د دوی د ورتلو ځای جهنم دی او (هغه) د ورتلو بد ځای دی. يَحْلِفُونَ بِاللهِ مَا قَالُواْ وَلَقَدْ قَالُواْ كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَكَفَرُواْ بَعْدَ إِسْلاَمِهِمْ وَهَمُّواْ بِمَا لَمْ يَنَالُواْ وَمَا نَقَمُواْ إِلاَّ أَنْ أَغْنَاهُمُ اللهُ وَرَسُولُهُ مِن فَضْلِهِ فَإِن يَتُوبُواْ يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ وَإِن يَتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ اللهُ عَذَابًا أَلِيمًا فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَمَا لَهُمْ فِي الأَرْضِ مِن وَلِيٍّ وَلاَ نَصِيرٍ} (دوی په الله قسمونه

خوري چې دوی (څه) نه دي ويلي او يقينا يقينا دوی د کفر الفاظ ويلي دي او له خپل اسلام راوړو نه بعد کافران شوي دي او دوی د هغه څه اراده کړې ده چې دوی (هغه ته) ونه رسېدل او دوی په الله او د هغه په رسول عيب ونه لګاوه مګر ځکه چې الله له خپله فضله دوی غنيان کړل او د هغه رسول (د غنيمتونو په تقسيم سره) نو که دوی (له نفاقه) توبه وباسي دا به د دوی لپاره ډېر غوره وي او که دوی وګرځي (نو) الله به دوی ته په دنيا او اخرت (دواړو) کې ډېر دردوونکی عذاب ورکړي، په دې حال کې چې د دوی لپاره به په ځمکه کې کارساز او مددګار نه وي) [التوبة سورت: 73، 74 آيتونه].

او مونږ پوهيږو چې کوچنی نفاق له دين څخه ويستونکی ندی او نه عمل بربادوي او نه يې خاوند په اور کې د تل لپاره پاتې کيږي، او دا چې - نفاق - ځانګې لري، رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا، وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا: إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ، وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ». «څلور نخښې دي چې په چا کې وي سوچه منافق دی، او په چا کې چې يو لدې خويونو څخه وي نو په هغه کې د منافقت يو خوی شته تر دې چې پرې يې ږدي: کله چې امانتدار وګرځول شي خيانت کوي او کله چې خبرې کوي دروغ وايي، کله چې ترون وکړي دوکه کوي، او کله چې جنګ کوي نو سپکې سپورې وايي». بخاري (34)، مسلم (58)، ابوداود (4688)، ترمذي (2632) او نسائي (5020) روايت کړی دی. او أبو موسى - رضي الله عنه - له پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - څخه روايت کوي فرمايي: «المؤْمِنُ الَّذِي يَقْرَأُ القُرْآنَ، وَيَعْمَلُ بِهِ، كَالأُتْرُجَّةِ طَعْمُهَا طَيِّبٌ وَرِيحُهَا طَيِّبٌ، وَالمؤْمِنُ الَّذِي لَا يَقْرَأُ القُرْآنَ، وَيَعْمَلُ بِهِ، كَالتَّمْرَةِ طَعْمُهَا طَيِّبٌ وَلَا رِيحَ لَهَا، وَمَثَلُ المنافِقِ الَّذِي يَقْرَأُ القُرْآنَ، كَالرَّيْحَانَةِ رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ، وَمَثَلُ المنافِقِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ القُرْآنَ، كَالحَنْظَلَةِ طَعْمُهَا مُرٌّ -أَوْ خَبِيثٌ- وَرِيحُهَا مُرٌّ». «هغه مؤمن چې قرآن لولي او عمل پرې کوي نو مثال يې لکه ترنج دی، چې خوند او بوی يې دواړه ښايسته دي، او هغه مؤمن چې قرآن نه لولي او عمل پرې کوي، نو مثال يې لکه د خرما دی چې خوند يې ښايسته دی او بوی نه لري او هغه منافق چې قرآن لولي نو مثال يې لکه د ريحان (کشمالي) دی چې بوی يې ښايسته او خوند يې تريخ دی، او د هغه منافق مثال چې قرآن نه لولي لکه د مرغوني دی چې خوند يې تريخ - او يا پليت - دی او بوی يې تريخ دی». بخاري (5059)، مسلم (797)، ترمذي (2865)، نسائي (5038) او ابن ماجه (214) روايت کړی دی.

# )بـــاب البدعة (باب دی په بیان د بدعت کې

او مونږ پوهیږو چې ځینې له بدعتونو څخه شته چې د ایمان له اصل سره په ټکر کې دي او ځینې یې د ایمان له بشپړتیا سره په ټکر کې دي، ځکه شرک او کفري بدعتونه د ایمان له اصل سره مخالف دي، خو هغه بدعتونه چې شرک او کفر ته نه رسیږي نو هغه د ایمان د بشپړتیا سره په ټکر کې دي.

او مونږ ایمان لرو چې الله تعالی زموږ لپاره دین بشپړ کړی دی او نعمت یې پر موږ تمام کړی دی، حق ذات فرمایلي دي:

﴿...ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ ...﴾ [المائدة: 3]

(نن ورځ ما ستاسو لپاره ستاسو دين مکمل کړ او پر تاسو مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما ستاسو لپاره اسلام د دين په توګه خوښ کړ). [المائدة سورت: 3 آیت].

او نبي - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ فِيهِ، فَهُوَ رَدٌّ». "چا چې زموږ په دين کې نوي شيان راپيدا کړ چې له هغې څخه نه وي، هغه مردود دي". بخاري (2697)، مسلم (1718)، ابوداود (4606) او ابن ماجه (14) روايت کړی دی. او مونږ پوهیږو چې له هغو شیانو څخه چې د ایمان له تکامل سره تضاد لري په دین کې بدعتونه دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «وإيَّاكم ومُحْدَثاتِ الأمورِ؛ فإن كُلَّ مُحدَثَةٍ بدْعَةٌ، وكل بدعَةٍ ضَلالةٌ». «او ( په دين کې له نوښت څخه ) ځان وساتئ؛ يقينا چې ( په دين کې هر نوښت راوستل) بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده». ابو داود (۴۶۰۷)، ترمذي (۲۶۷۶)، ابن ماجه (۴۲)، احمد (۱۷۱۴۴)، ابن ابي عاصم په سنن (۲۶) او ابن وضاح په البدع (۵۴) کې روایت کړی دی. له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا، وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا». «چا چې د هدايت لورې ته بلنه ورکړه نو دومره ثواب يې کيږي لکه څومره چې د هدايت د پيروانو کيږي پداسې حال کې چې د هغوی له اجر او ثوابونو څخه هيڅ نه کميږي، او چا چې ګمراهۍ ته بلنه ورکړه، نو دومره ګناه يې کيږي څومره چې د ګمراهۍ د پيروانو کيږي پداسې حال کې چې د هغوی له ګناهونو څخه هيڅ نه کميږي». مسلم (2674)، ابو داود (4609)، الترمذي (2674) او ابن ماجه (206) روايت کړی دی. او بخاري رحمه

الله په خپل صحيح کې د دې لپاره باب ايښی دی او ويلي يې دي: «باب إثم من دعا إلى ضلالة؛ أو سنَّ سنة سيئة) يعني باب دی د هغه چا د ګناه په باره کې چې ګمراهی ته بلنه ورکوي او يا د يو بد کار بنسټ ږدي)او پدې اړه يې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم دا وينا راوړې ده: «لَيْسَ مِنْ نَفْسٍ تُقْتَلُ ظُلْمًا، إِلَّا كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الأَوَّلِ كِفْلٌ مِنْهَا -وَرُبَّمَا قَالَ سُفْيَانُ: مِنْ دَمِهَا- لِأَنَّهُ أَوَّلُ مَنْ سَنَّ القَتْلَ أَوَّلًا». "هيڅ نفس په ناحقه نه وژل کيږي، مګر دا چې د آدم لومړی زوی به په هغې کې خپله برخه ولري - او سفيان ويلي وي چې د هغه په وينې - تويلو کې - : ځکه چې هغه لومړی کس و چې د قتل بنسټ يې ايښی دی". بخاري (7321)، مسلم (1677)، ترمذي (2673)، نسائي (3985) او ابن ماجه (2616) روايت کړی دی. او له ابو سعيد - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ قَبْلَكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ، وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ، حَتَّى لَوْ سَلَكُوا جُحْرَ ضَبٍّ لَسَلَكْتُمُوهُ»، قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اليَهُود، وَالنَّصَارَى؟ قَالَ: «فَمَنْ» ؟!. "يقينا چې تاسو به لويشت په لويشت، ذراع په ذراع د هغه کسانو طريقې تعقيب کړئ چې له تاسو څخه مخکې وو، تر دې که د خادمې ( سمسارې) سوړې ته ننوځي نو تاسو به ورپسې شئ" مونږ وويل: ای د الله رسوله! آيا يهود او نصارا؟ هغه وويل: نو څوک؟! بخاري (3456) او مسلم (2669) روايت کړی دی. او مونږ پوهيږو چې الله - تعالى - له تفرقې او اختلاف څخه منع فرمايلې ده، د لوړ شان او شوکت خاوند چې نومونه يې سپېڅلي دي فرمايلي دي:

﴿وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ تَفَرَّقُواْ وَٱخۡتَلَفُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ﴿١٠٥﴾﴾ [آل عمران: 105]

(او تاسو د هغو خلكو په شان مه كيږئ چې بېل بېل شول او هغو ته د واضحو دلايلو له راتلو نه پس (هم) په خپلو كې مختلف شول، او دغه خلک (چې دي)، د هغوی لپاره بېخي لوی عذاب دی) [آل عمران سورت: 105 سورت]

، او الله تعالى فرمايلي :

﴿لَّا تَجۡعَلُواْ دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ بَيۡنَكُمۡ كَدُعَآءِ بَعۡضِكُم بَعۡضٗاۚ قَدۡ يَعۡلَمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمۡ لِوَاذٗاۚ فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنۡ أَمۡرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ أَوۡ يُصِيبَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴿٦٣﴾﴾ [النور: 63]

(نو هغه كسان دې وویرېږي چې د هغه (رسول) له حكم نه مخالفت كوي، له دې نه چې دوی ته څه افت ورسيږي، يا دوی ته ډېر دردوونكی عذاب ورسيږي) [النور سورت: 63 آيت]

. او مونږ پوهیږو چې د قبرونو تعظیم او له پاسه پرې ودانۍ جوړول له بدعتونو څخه دي، او کله هم دا عمل شرک ته رسیږي، او له بدعت څخه پدې هېله د نیکانو انځورول دي  چې له مرګ نه وروسته یې ورپسې اقتدا وکړي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «... أَلَا وَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ، أَلَا فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ، إِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ». «... خبردار اوسئ! چې ستاسو څخه مخکې خلکو د خپلو انبیاوو او نیکانو له قبرونو څخه جوماتونه جوړ کړي وو، نو پام وکړئ چې تاسو یې جوماتونه ونه ګرځوئ، زه تاسو لدې کار څخه منع کوم». مسلم (532) روایت کړی دی. او له عائشې - رضي الله عنها - څخه روایت دی چې : ام حبیبې او ام سلمې د هغې کلیسا یادونه وکړه چې په حبشه کې یې لیدلې وه او کوم انځورونه چې پکې وو، نو پیغمبر صلى الله عليه وسلم ته یې یادونه وکړه، هغه وفرمایل: «إِنَّ أُولَئِكَ إِذَا كَانَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَمَاتَ، بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، وَصَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ، فَأُولَئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». «یقینا هغوی داسې خلک دي چې کله به پکې یو نیک سړی و او هغه به مړ شو نو په قبر به یې ورته جومات جوړ کړ، او هغه انځورونه به یې په کې جوړ کړل، نو دغه خلک د قیامت په ورځ د الله تعالی په نزد تر ټولو بد خلک دي». بخاري (427)، مسلم (528) او النسائي (704) روایت کړی. او رسول الله صلى الله عليه وسلم د مجسمو د ړنګولو او د قبرونو د برابرولو امر کړی دی. له ابو الهیاج الاسدي څخه روایت دی وایي: علي بن ابي طالب رضي الله عنه راته وویل: آیا زه تا هغه څه پسې ونه لیږم چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ورپسې لیږلی وم؟ هیڅ مجسمه پرې نږدې مګر ړنګه یې کړه او هیڅ لوړ قبر پرې نږدې مګر برابر یې کړه. مسلم (969)، ابو داود (3218)، ترمذي (1049) او نسائي (2031) روایت کړی دی. او مونږ پوهیږو چې د ناوړه بدعتونو له جملې څخه بدعتي جشنونه او همدارنګه له کافرانو سره د هغوی په اخترونو کې ګډون کول دي، فعن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ، وَلَهُمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُونَ فِيهِمَا، فَقَالَ: «مَا هَذَانِ الْيَوْمَانِ؟» قَالُوا: كُنَّا نَلْعَبُ فِيهِمَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَبْدَلَكُمْ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا: يَوْمَ الْأَضْحَى، وَيَوْمَ الْفِطْرِ». له انس بن مالک -رضي الله عنه- څخه روایت دی، چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - مدینې ته راغی، پداسې حال کې چې دوی د لوبو لپاره دوه ورځې درلودلې، نو ویې فرمایل: "دا کومې دوه ورځې دي؟" هغوی وویل: مونږ به په جاهلیت کې پدې دوو ورځو کې لوبې کولې، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «یقینا چې الله تعالی درته د دې په بدل کې لدې نه غوره درکړي دي: د قربانۍ ورځ ( لوی اختر ) او د فطر ورځ ( کوچنی اختر )». ابو داود (1134)، نسائي (1556)،

او اسماعيل بن جعفر د علي بن حجر په حديث کې (62)، احمد (12827) او عبد بن حميد (1392) روايت کړی دی. او هغه پاک ذات چې د سپيڅلې ثنا خاوند دی فرمايلي:

﴿لِّكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ فَلَا يُنَٰزِعُنَّكَ فِي ٱلْأَمْرِ وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾﴾ [الحج: 67]

(د هر يو امت لپاره مونږ د بندګۍ يوه لاره مقرر کړې ده چې دوی په هغې عمل کوونکي دي، نو دوی دې له تا سره په دې کار (د دين) کې له سره جګړه ونه کړي او ته خپل رب ته (د خلکو) بلنه کوه، بېشکه ته خامخا په نېغ (او برابر) هدايت باندې يې) [الحج سورت: 67 آيت].

او له ابن عباس - رضي الله عنهما - څخه د الله تعالی په دې قول کې راغلي دي«وايي: اختر»، تفسير الطبري (۶۷۹/۱۸) او ابن ابي حاتم په تفسير (۱۴۷۱۸) کې. او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا، وَهَذَا عِيدُنَا». "يقينا چې هر قوم ځانته يو اختر لري، او دا زموږ اختر دی". بخاري (۹۵۲)، مسلم (۸۹۲)، ابو داود (۱۵۹۳) او ابن ماجه (۱۸۹۸) روايت کړی. او مونږ پوهيږو چې له ناوړه بدعتونو څخه يو له هغه څه نه د برکت غوښتل دي چې الله تعالی د برکت لپاره سبب نه وي ګرځولی، او کله دا - کار - د شرک لپاره وسيله ګرځي، فعن أبي واقد الليثي رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم لَمَّا خَرَجَ إِلَى حُنَيْنٍ مَرَّ بِشَجَرَةٍ لِلْمُشْرِكِينَ يُقَالُ لَهَا: ذَاتُ أَنْوَاطٍ، يُعَلِّقُونَ عَلَيْهَا أَسْلِحَتَهُمْ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اجْعَلْ لَنَا ذَاتَ أَنْوَاطٍ كَمَا لَهُمْ ذَاتُ أَنْوَاطٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: «سُبْحَانَ اللَّهِ! هَذَا كَمَا قَالَ قَوْمُ مُوسَى: ﴿...ٱجْعَل لَّنَآ إِلَٰهًا كَمَا لَهُمْ ءَالِهَةٌ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴿١٣٨﴾﴾ [الأعراف: 138]

وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَرْكَبُنَّ سُنَّةَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ». له أبو واقد الليثي - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې کله رسول الله - صلی الله عليه وسلم - حنين لورې ته ووت نو د مشرکانو په يوه ونه تېر شو چې هغې ته يې ( ذات انواط ) ويلې - چې دوی به پکې خپلې وسلې ځړولې، نو دوی وويل: ای د الله رسوله! مونږ ته هم يو ذات انواط وګرځوه لکه څرنګه چې دوی ذات انواط لري، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: سبحان الله! دا داسې خبره ده لکه د موسی قوم چې وويل: {اجْعَل لَّنَا إِلَـهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ} (ای موسٰی! زمونږ لپاره (هم) داسې معبود جوړ کړه، لکه څنګه چې د دوی لپاره معبودان دي)، [الأعراف سورت: 138 آيت]

قسم دی زما په هغه ذات وي چې زما ساه د هغه په لاس کې ده خامخا به د پخوانيو په طريقو به لاړ شئ». ترمذي (2180)، معمر په الجامع (20763) کې، عبد الرزاق په التفسير (931) کې او ابن ابي شيبه (38530) روايت کړی دی.

## )بـــاب كبائر الذنوب (باب دی په بيان د لويو ګناهونو کې

او مونږ پوهيږو چې په ګناهونو کې لوی او واړه ګناهونه شته، الله تعالی فرمايلي:

﴿ٱلَّذِينَ يَجۡتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡفَوَٰحِشَ إِلَّا ٱللَّمَمَۚ ......﴾ [النجم: 32]

(هغه کسان چې له غتو ګناهونو او د بې حيايی له کارونو نه ځان ساتي، غير له ورو ورو ګناهونه). [النجم سورت: 32 آيت]

، او همدار نګه الله ـ تعالی- فرمايلي دي:

﴿إِن تَجۡتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنۡهَوۡنَ عَنۡهُ نُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَنُدۡخِلۡكُم مُّدۡخَلٗا كَرِيمٗا ٣١﴾ [النساء: 31]

(که چيرې تاسو له هغو غتو ګناهونو نه ځان وساتئ، چې تاسو ترې منع کولی شئ (، نو مونږ به له تاسو نه ستاسو (واړه) ګناهونه لرې کړو او ډېر د عزت ځای ته به مو داخل کړو) [النساء سورت: 31 آيت]

. وعن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قال: قال رجل: يا رسول الله، أي الذنب أكبر عند الله ؟ قال: «أن تدعو لله ندًّا وهو خلقك»، قال: ثم أي؟ قال: «أن تقتل ولدك خشية أن يطعم معك»، قال: ثم أي؟ قال: «أن تزاني حليلة جارك»؛ فأنزل الله تصديقها:

﴿وَٱلَّذِينَ لَا يَدۡعُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقۡتُلُونَ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَا يَزۡنُونَۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ يَلۡقَ أَثَامٗا ٦٨﴾ [الفرقان: 68]

. او له عبدالله بن مسعود ـ رضي الله عنه ـ څخه روايت دی چې يو سړي وويل: ای د الله رسوله! د الله تعالی په نزد کومه ګناه لويه ده؟ ويې ويل: چې له الله سره شريک راوبلې حال دا چې هغه پيدا کړی يې» ويې ويل: بيا کومه؟ ويې ويل: چې اولاد لدې ويرې ووژنې چې خواړه به درسره وخوري»، ويې ويل: بيا کومه؟ هغه وفرمايل: د خپل ګاونډي ښځې سره زنا کول»؛ بيا الله تعالی د هغه تصديق نازل کړ . {او هغه کسان چې د الله سره بل معبود نه بولي او نه هغه نفس وژني چې الله حرام کړی دی مګر په حقه سره او زنا نه کوي}. بخاري (6001) او مسلم (86) روايت کړی دی. او پوهيږو چې ايمان زياتيږي او کميږي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا مَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ فَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمۡ زَادَتۡهُ هَٰذِهِۦٓ إِيمَٰنٗاۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَزَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَهُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ١٢٤﴾ [التوبة: 124]

(او کله چې هم کوم سورت نازل کړی شي، نو په دوی کې ځيني هغه څوك دي چې وايي: په تاسو کې کوم يو دی چې دې (سورت) د هغه ايمان زيات کړ؟ نو هر چې مومنان دي، نو دې (سورت) د هغوی ايمان ورزيات کړ، په داسې حال کې چې هغوی ښه خوشالېږي) [التوبة سورت: 124 آيت].

اطاعتونه ايمان زياتوي او تقويه کوي، او ګناهونه ايمان کموي او کمزوری کوي، نو هغه ګناهونه - چې د کفر او شرک څخه کم دي - د ايمان له بشپړتيا سره په ټکر کې دي، او د کبيره ګناه له مرتکب څخه ټول ايمان نه ځي، همدارنګه د دې مستحق هم ندی چې د مطلق مؤمن نسبت ورته وشي، ځکه چې هغه داسې يو کار کړی دی چې ايمان يې کموي، لدې امله رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «لَا يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلَا يَشْرَبُ الْخَمْرَ حِينَ يَشْرَبُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلَا يَسْرِقُ حِينَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلَا يَنْتَهِبُ نُهْبَةً، يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ فِيهَا أَبْصَارَهُمْ، حِينَ يَنْتَهِبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ»، "زناکار زنا نه کوي کله يې چې کوي او حال دا چې هغه مومن وي، او هغه شراب نه څښي کله يې چې هغه څښي په داسې حال کې چې هغه مومن وي او هغه غلا نه کوي کله چې غلا کوي په داسې حال کې چې هغه مومن وي، او نه هيڅ شی په لوټ ماری سره اخلي پداسې حال کې چې ټول خلک ورته په رڼو سترګو ګوري او دا مؤمن وي». بخاري (2475)، او مسلم (57).) روايت کړی دی. او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ، وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ»، «چا چې له تاسو څخه ناروا کړنه وليده نو په لاس سره دې منع کړي، که چېرته يې نشو کولای نو په ژبې سره او که چېرته يې نشو کولای نو په زړه سره او دا تر ټولو کمزوری ايمان دی»، مسلم (49) روايت کړی دی. او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - د هغه څه په اړه خبر ورکاوه چې د قيامت په ورځ به وي نو ويې فرمايل: «... فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى: اذْهَبُوا فَمَنْ وَجَدْتُمْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالَ دِينَارٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَخْرِجُوهُ...» ، «... نو الله تعالی به وفرمايي: لاړ شئ، د چا په زړه کې چې د يو دينار په اندازه له ايمان څخه وي، نو - له اور نه- يې راوباسئ ...»، بخاري (۷۴۹۳) او مسلم (۱۸۳) روايت کړی. نو دا حديثونه په ډاګه کوي چې ګناهونه ايمان کمزوری کوي. او د کبيره ګناه مرتکب د کبيره ګناه له امله په سزا ګواښل شوی تر دې چې توبه ورڅخه ونه کړي او يا پرې حد جاري نه شي- که چېرته کبيره ګناه له هغو ګناهونو څخه وي چې په مرتکب يې حد جاري کيږي- او يا

ورته الله تعالی د مغفرت له اسبابو څخه په یو سره بخښنه وکړي چې هغه زيات دي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا ٤٨﴾ [النساء: 48]

(بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوك) شريك کړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرك) نه کمه وي د چا لپاره چې وغواړي) [النساء سورت: 48 آيت].

# )كتاب الصحابة والإمامة (كتاب دی په بيان د صحابه كرامو کې او په بيان د امامت کې

## )بـــاب الصحـــابة وآل البيت رضي الله عنهم (باب دی د صحابه كرامو او دآل البيت )د رسول الله كورنى (- رضي الله عنهم - په باره کې

او مونږ ایمان لرو چې الله - جل جلاله - د خپل پيغمبر - صلی الله علیه وسلم - اصحابان غوره کړي او له پيغمبرانو وروسته يې د خپل مخلوق سپيڅلي خلک ګرځولي دي، د هغوی صفتونه يې په تورات او انجيل کې ذکر کړي دي او د هغوی ستاينه يې کړې ده. الله تعالی فرمايلي دي: ﴿مُّحَمَّدٞ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡۖ تَرَىٰهُمۡ رُكَّعٗا سُجَّدٗا يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗاۖ سِيمَاهُمۡ فِي وُجُوهِهِم مِّنۡ أَثَرِ ٱلسُّجُودِۚ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِۚ وَمَثَلُهُمۡ فِي ٱلۡإِنجِيلِ كَزَرۡعٍ أَخۡرَجَ شَطۡـَٔهُۥ فَـَٔازَرَهُۥ فَٱسۡتَغۡلَظَ فَٱسۡتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِۦ يُعۡجِبُ ٱلزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلۡكُفَّارَۗ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنۡهُم مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا عَظِيمَۢا ٢٩﴾ [الفتح: 29]

(محمد د الله رسول دی او هغه کسان چې له ده سره دي، په کافرانو باندې ډېر سخت دي، په خپل مينځ کې ډېر مهرباني کوونکي دي، ته به دوی وينې چې رکوع کوونکي، سجده کوونکي دي، له الله نه فضل او رضامندي غواړي، د دوی (د ديندارۍ) نښې د دوی په مخونو کې دي د سجدو

له اثر نه، دغه په تورات کې د دوی مثال دی او په انجیل کې د دوی مثال دی، لکه هغه فصل چې خپل تبغ راوباسي، بیا هغه قوي کړي، بیا هغه (فصل، تبغ) پیړ او کلك شي بیا دغه (فصل) په خپلو پنډیو (او ښخونو) ودرېږي، په داسې حال چې زمېنداران (کروندګر) په تعجب کې اچوي، د دې لپاره چې په دغو سره کافران په غصه کړي، الله له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي، چې دغه (اصحابان) دي؛ د بخښنې او د ډېر لوی اجر وعده کړې ده) [الفتح سورت: 29 آیت]

، او حق ذات له هغوی څخه د خپلې خوښۍ یادونه کړې ده، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلۡأَوَّلُونَ مِنَ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحۡسَٰنٖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ

(او له مهاجرینو او انصارو نه هغه وړاندیني اولني (ایمان لرونکي) او هغه کسان چې په نېکۍ سره یې د دوی پیروي کړې ده، الله له دوی نه راضي شوی دی او دوی له هغه نه راضي شوي دي، او هغه د دوی لپاره داسې جنتونه تیار کړي دي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي، همدا ډېره لويه کامیابي ده). [التوبة سورت: 100 آیت].

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې صحابه کرام د ټولو نسلونو غوره خلک دي. فعن عبدالله قال: سُئِلَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم: أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ؟ قَالَ: «قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ». له عبدالله څخه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې په خلکو کې کوم خلک غوره دي؟ هغه وویل: «زما پېړۍ، بیا هغه څوک چې د دوی پسې دي، بیا هغه څوک چې د دوی پسې دي». بخاري (6658)، مسلم (2533)، ترمذي (3859) او ابن ماجه (2362) روایت کړی دی. او مونږ باور لرو چې مهاجرین له انصارو -رضي الله عنهم- څخه غوره دي، له همدې امله، الله تعالی دوی په خپل کتاب کې لومړي ذکر کړي دي، لکه څنګه چې د "توبې سورت" په مخکني آیت کې راغلي، او الله تعالی په خپل کتاب کې د مهاجرینو ستاینه کړې ده نو فرمایلي یې دي:

﴿لِلۡفُقَرَآءِ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَأَمۡوَٰلِهِمۡ يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗا وَيَنصُرُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ٨﴾ [الحشر: 8]

[(دغه مالونه) د هغو فقیرو هجرت کوونکو لپاره دي چې له خپلو کورونو او خپلو مالونو نه ایستل شوي دي، په داسې حال کې چې دوی د الله فضل او رضامندي لټوي او د الله او د هغه د رسول مدد کوي، همدغه کسان رښتیني دي] [الحشر سورت: 8 آیت].

الله -تعالی- د انصارو په اړه فرمايلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلۡإِيمَٰنَ مِن قَبۡلِهِمۡ يُحِبُّونَ مَنۡ هَاجَرَ إِلَيۡهِمۡ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمۡ حَاجَةٗ مِّمَّآ أُوتُواْ وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ وَلَوۡ كَانَ بِهِمۡ خَصَاصَةٞۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٩﴾ [الحشر: 9]

(او د هغو کسانو لپاره دي چې دوی له دغو (مهاجرينو) نه مخکې په دغه کور (مدينه) کې او په ايمان کې ځای نيولی دی، دوی له هغو کسانو سره مينه کوي چې دوی ته يې هجرت کړی دی او دوی په خپلو سينو (زړونو) کې هېڅ غصه (او حسد) نه مومي د هغه (مال) په وجه چې دغو (مهاجرينو) ته ورکړی شو او دوی په خپلو ځانونو باندې (هجرت کوونکو ته) ترجيح ورکوي اګر که په دوی باندې تنګي (او حاجت مندي) وي او هر هغه څوک چې خپل نفس يې له بخيلی نه بچ کړی شو، نو همدغه کسان کامياب (او په مراد رسېدلي) دي) [الحشر سورت: 9 ايت].

او مونږ پدې عقيده يو چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وروسته د دې امت تر ټولو غوره : ابوبکر، بيا عمر، بيا عثمان، بيا علي رضی الله عنهم دي، نو د دوی ترتيب په فضيلت کې داسې دی لکه د دوی ترتيب په خلافت کې.

او مونږ د هغو لسو کسانو لپاره شاهدي ورکوو چې د جنت زيری ورکړل شوی دی، لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دوی ته شاهدي ورکړې ده، لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم - چې فرمايلي دي: «أَبُو بَكْرٍ فِي الجَنَّةِ، وَعُمَرُ فِي الجَنَّةِ، وَعُثْمَانُ فِي الجَنَّةِ، وَعَلِيٌّ فِي الجَنَّةِ، وَطَلْحَةُ فِي الجَنَّةِ، وَالزُّبَيْرُ فِي الجَنَّةِ، وَعَبْدُالرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ فِي الجَنَّةِ، وَسَعْدٌ فِي الجَنَّةِ، وَسَعِيدٌ فِي الجَنَّةِ، وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الجَرَّاحِ فِي الجَنَّةِ». «أبوبکر په جنت کې دی، عمر په جنت کې دی، عثمان په جنت کې دی، علي په جنت کې دی، طلحه په جنت کې دی، زبير په جنت کې دی، عبد الرحمن بن عوف په جنت کې دی، سعد په جنت کې دی، سعيد په جنت کې دی او أبو عبيدة بن الجراح په جنت کې دی». ترمذي (3747) روايت کړی دی، احمد په مسند (1675) او په فضائل الصحابة کې (278) او ابن ابي عاصم په الآحاد او المثاني (232) کې روايت کړی دی. او مونږ ايمان لرو چې د بدر د خلکو لپاره داسې مرتبه ده چې د بل چا لپاره نشته، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي لکه څرنګه چې په حديث کې راغلي دي: «... وَمَا يُدْرِيكَ، لَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يَكُونَ قَدِ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ، فَقَالَ: اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ؛ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ». «...او ته څه پوهېږې، ښايي چې الله پاک د بدر خلکو ته راښکاره شوی وي او داسې يې ويلي وي: هر څه چې غواړئ هغه وکړئ. ما تاسو ته بخښنه کړې ده». بخاري (3007)، مسلم (2494)، ابوداود (2650) او ترمذي (3305) روايت کړی دی. وعن معاذ بن رفاعة بن

رافع الزرقي عن أبيه -وكان أبوه من أهل بدر- قال: جَاءَ جِبْرِيلُ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، فَقَالَ: «مَا تَعُدُّونَ أَهْلَ بَدْرٍ فِيكُمْ؟» قَالَ: مِنْ أَفْضَلِ المسْلِمِينَ، أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا، قَالَ: «وَكَذَلِكَ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ المَلَائِكَةِ». او له معاذ بن رفاعة بن رافع الزرقي څخه روایت دی هغه له خپل پلار څخه روایت کوي - او پلار یې له بدریانو څخه و، هغه وویل: جبرائیل علیه السلام نبي علیه السلام ته راغی. ویې ویل: «تاسو د بدر خلک په خپلو کې څنګه ګڼئ؟ هغه وفرمایل: له غوره مسلمانانو څخه، یا دې ته ورته یوه کلمه، هغه وفرمایل: همدا رنګه هغه پرښتې چې په بدر کې یې ګډون کړی دی». بخاري روایت کړی (3992).

او مونږ په هغه څه شاهدي ورکوو چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - پرې د بیعة الرضوان خلکو ته شاهدي ورکړې وه؛ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمایلي دي: «لَا يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ مِمَّنْ بَايَعَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ»، "هیڅوک به له هغه خلکو څخه دوزخ ته داخل نه شي چې د ونې لاندې یې بیعت کړی دی". ابوداود (۴۶۵۳)، ترمذي (۳۸۶۰)، ابو الجهم په (۱) خپله رساله کې، احمد (۱۴۷۷۸) کې او نسائی په الکبری (۱۱۴۴۴) کې روایت کړی دی. او دوی په خپل دې بیعت کې کامیاب شول، تر دې چې الله تعالی د دوی په اړه وفرمایل:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْۚ ... ﴾ [الفتح: 10]

(ببشکه هغه کسان چې له تا سره بیعت کوي، ببشکه همدا خبره ده چې دوی خو له الله سره بیعت کوي، د الله لاس د دوی د لاسونو له پاسه دی) [الفتح سورت: 10 آیت].

او مونږ پوهیږو چې الله تعالی له دوی څخه راضي شوی دی، لکه څرنګه چې الله تعالی په خپل نازل کړی شوي کتاب کې فرمایلي دي:

﴿۞ لَّقَدْ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ١٨﴾ [الفتح: 18]

(یقینًا یقینًا الله له مومنانو نه راضي شو کله چې دوی له تا سره د ونې لاندې بیعت کاوه، پس ده ته هغه څه معلوم وو چې د دوی په زړونو کې وو، بیا هغه په دوی اطمینان نازل کړ او دوی ته یې په عوض کې نژدې بری ورکړ) [الفتح سورت: 18 آیت]

. او مونږ پدې باور یو چې لوی ښتن تعالی د هغه -صلى الله عليه وسلم- کورنۍ په یو لړ فضیلتونو او حقونو سره ځانګړې کړې ده، نو لدوی سره محبت، دوستي، او د حقونو مراعتول یې واجب دي، د دوی له حقونو څخه یو دا دی چې الله تعالی ورته په خمس - (د غنیمت په مال کې پنځمه برخه )، فيئ ( هغه مال چې د کافرانو څخه له جګړې

پرته د مسلمانانو لاس ته ورغلی وي) - برخه ټاکلې ده، او رسول الله - صلی الله علیه وسلم - امر کړی چې د هغه تر څنګه دې پر دوی باندې هم درود وویل شي، نو مونږ ته يې فرمايلي دي چې: وواياست: «اللهم صلّ على محمدٍ وعلى آل محمد، كما صليت على إبراهيمَ وعلى آل إبراهيم، إنك حميدٌ مجيد، وبارك على محمد وعلى آل محمد، كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميدٌ مجيد» «يا الله! پر محمد - صلی الله علیه وسلم - او د هغه پرکورنۍ رحمت ووروه، لکه پر ابراهیم -علیه السلام- او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولی وو، بېشکه ته ستایل شوی او لوی یې. او پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ برکتونه ووروه، لکه پر ابراهيم - علیه السلام - او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولي وو، بېشکه ته ستایل شوی او لوی یې». او د دوی له فضیلتونو څخه ځینې هغه دي چې الله - تعالی - په خپلې دې وینا کې ورڅخه یادونه کړې ده:

﴿يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسۡتُنَّ كَأَحَدٖ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِنِ ٱتَّقَيۡتُنَّۚ فَلَا تَخۡضَعۡنَ بِٱلۡقَوۡلِ فَيَطۡمَعَ ٱلَّذِي فِي قَلۡبِهِۦ مَرَضٞ وَقُلۡنَ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ٣٢ وَقَرۡنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰۖ وَأَقِمۡنَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتِينَ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِعۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا ٣٣﴾ [الأحزاب: 32-33]

{يَا نِسَاء النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاء إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلاَ تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلاً مَّعْرُوفًا * (ای د نبي ښځو! تاسو په (ډلو د) ښځو کې د هېڅ یوې (ډلې ) په شان نه یئ که تاسو پرهېزګاري وکړئ، نو تاسو په وینا کې نرمي مه کوئ، (کنه) نو هغه کس به په تمه کې پرېوځي چې د هغه په زړه کې (د نفاق، یا بدکارۍ) مرض وي او تاسو هغه خبره کوئ چې مناسبه وي. وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلاَةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا} او تاسو په خپلو کورونو کې قرار ونیسئ او تاسو د ړومبني جاهلیت د زینت ښکاره کولو په شان زینت مه ښکاره کوئ او تاسو لمونځ قایموئ او زکات ادا کوئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ، بېشکه همدا خبره ده چې الله غواړي چې له تاسو نه، ای اهل بیتو! ګناه لرې کړي او تاسو پاك کړي، په پاکولو سره). [الأحزاب سورت: 32، 33 آیتونه].

او الله تعالی فرمایلي:

﴿ٱلنَّبِيُّ أَوۡلَىٰ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡ أَنفُسِهِمۡۖ وَأَزۡوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمۡۗ ....﴾ [الأحزاب: 6]

په مومنانو باندې د دوی له ځانونو نه زیات حقدار دی او د ده ښځې د دوی میندې دي). [الأحزاب سورت: 6 آیت].

وعن عائشةَ رضي الله عنها قالت: خرج النَّبِي صلى الله عليه وسلم غداةً وعليه مِرْطٌ مُرَحَّل مِن شَعر أسود، فجاء الحسن بن علي فأدخله، ثمَّ جاء الحُسين فدخل معه، ثمَّ جاءت فاطمةُ فأدخلَها، ثمَّ جاء عليٌّ فأدخله، ثمَّ قال: «إِنَّمَا يُرِيدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ البَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا». له عائشي - رضي الله عنها - څخه روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يو سهار پداسې حال کې راووت چې د تورو وړيو او د اوښانو انځورونو درلودونکې چپن يې اغوستې وه، نو حسن بن علي -رضي الله عنه- راغی، هغه يې ننويست، بيا حسين راغی او هغه يې هم له ځان سره ننويست، بيا فاطمه راغله هغه يې هم ننويستله، بيا علي راغی هغه يې هم ننويست، بيا يې وفرمايل: «إِنَّمَا يُرِيدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ البَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا» (ببشکه همدا خبره ده چې الله غواړي چې له تاسو نه، ای اهل بيتو! ګناه لرې کړي او تاسو پاك کړي، په پاکولو سره). مسلم (2424) روايت کړی دی. او له واثلة بن الأسقع - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي چې : له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه مې اوريدلي دي چې فرمايل يې: «إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَى كِنَانَةَ مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ وَاصْطَفَى قُرَيْشًا مِنْ كِنَانَةَ وَاصْطَفَى مِنْ قُرَيْشٍ بَنِي هَاشِمٍ وَاصْطَفَانِي مِنْ بَنِي هَاشِمٍ». «الله - تعالى - د اسماعيل له اولادې څخه کنانه غوره کړې ده، بيا يې قريش له کنانه څخه غوره کړې دي، له قريشو يې بني هاشم غوره کړي او زه يې له بني هاشمو څخه غوره کړی يم». مسلم (2276) روايت کړی دی. وعن زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رضي الله عنه قَالَ: قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَوْمًا فِينَا خَطِيبًا بِمَاءٍ يُدْعَى خُمًّا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ، فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، وَوَعَظَ، وَذَكَّرَ، ثُمَّ قَالَ: «أَمَّا بَعْدُ أَلَا أَيُّهَا النَّاسُ فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ رَسُولُ رَبِّي فَأُجِيبَ وَأَنَا تَارِكٌ فِيكُمْ ثَقَلَيْنِ أَوَّلُهُمَا كِتَابُ اللَّهِ فِيهِ الْهُدَى وَالنُّورُ فَخُذُوا بِكِتَابِ اللَّهِ وَاسْتَمْسِكُوا بِهِ». فَحَثَّ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ وَرَغَّبَ فِيهِ، ثُمَّ قَالَ: «وَأَهْلُ بَيْتِي، أُذَكِّرُكُمُ اللَّهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي، أُذَكِّرُكُمُ اللَّهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي، أُذَكِّرُكُمُ اللَّهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي». او له زيد بن أرقم - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي: يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم په (ماء خم ) نومې ځای کې چې د مکې او مدينې تر منځ دی زمونږ په منځ کې خطبه ويونکی ودريد، نو د الله تعالى حمد او ستاينه يې ادا کړه، وعظ او نصيحت يې وکړ، بيا يې وويل: «أَمَّا بَعْدُ: خبردار اوسې ای خلکو، ببشکه چې زه يو بشر يم کيدی شی د رب استازی مې راشي او زه ورته لبيک ووايم (وفات شم) نو زه په تاسو کې ثقلين پريښودونکی يم چې لومړی يې د الله کتاب دی، چې په هغه کې هدايت او رڼا ده نو د الله کتاب واخلئ او منګولې پرې ولګوئ ». نو د الله تعالى په کتاب يې ټينګار وکړاو خلک ورته تشويق کړل، بيا يې وويل: « او زما کورنۍ، نو زه د خپلې کورنۍ په اړه تاسې ته الله دريادوم، د خپلې کورنۍ په اړه تاسې ته الله دريادوم، د خپلې کورنۍ په اړه تاسې ته الله دريادوم». مسلم (2408) روايت کړی دی. او صحابه کرامو د پيغمبر- صلى الله عليه

وسلم - د خپلوانو حقونه او فضيلت پېژندلی و، تر دې چې أبو بکر - رضي الله عنه - علي- رضي الله عنه - ته وويل: «والذي نفسي بيدِه لَقرابةُ رسول الله صلى الله عليه وسلم أحبُّ إليَّ أنْ أَصِلَ من قرابَتِي». «په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما روح يې په لاس کې دی، د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره خپلوي راته د خپلو خپلوانو سره له خپلوۍ پالنې څخه ډېره غوره ده». بخاري (3508) او مسلم (1759) روايت کړی دی. او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - صحابه کرامو - رضي الله عنهم - ته له کنځلو کولو څخه منع فرمايلي ده، ويلي يې دي: «لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي، فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ، وَلَا نَصِيفَهُ». "زما صحابه و ته کنځلې مه کوئ، ځکه که په تاسو کې يو د احد د غره په اندازه سره زر صدقه کړي د هغوی د يو موټې په اندازه صدقې ته به ونه رسيږي او نه د موټې نيمايي ته". بخاري (3673)، مسلم (2541)، ابوداود (4658) او ترمذي (3861) روايت کړی دی. او رسول الله صلى الله عليه وسلم - دا خبره - بيان کړې ده چې د انصارو سره محبت کول د ايمان نخښه او له هغوی څخه نفرت کول د منافقت نخښه ده، رسول لله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «آيَةُ الإِيمَانِ حُبُّ الأَنْصَارِ، وَآيَةُ النِّفَاقِ بُغْضُ الأَنْصَارِ». «له انصارو سره محبت کول د ايمان نخښه ده او له انصارو څخه کرکه کول د منافقت نخښه ده». بخاري (17)، مسلم (74) او نسائي (5019) روايت کړی. او سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل - رضي الله عنه - فرمايلي دي: «لَمَشْهَدُ رَجُلٍ مِنْهُمْ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَغْبَرُّ فِيهِ وَجْهُهُ، خَيْرٌ مِنْ عَمَلِ أَحَدِكُمْ عُمُرَهُ، وَلَوْ عُمِّرَ عُمُرَ نُوحٍ». «له هغوی څخه د يو سړي يوه صحنه چې د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - سره تېره کړې وي او مخ يې پکې ګردجن شوی وي، ستاسو د يوه له ټول عمر څخه غوره ده که څه هم د نوح عمر ورکړل شوی وي». أبو داود (4650) روايت کړی دی.

## )باب وجوب طاعة ولاة الأمر (باب دی پدې باره کې چې د چارواکو اطاعت واجب دی

او مونږ پوهيږو چې مسلمانو چارواکو ته غوږ نيول او د هغوی پيروي کول واجب دي، دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ ....﴾ [النساء: 59]

[ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! د الله خبره منئ او د رسول خبره منئ او د خپلو د امر د خاوندانو (واکمنانو)]، [النساء سورت: 59 آيت]،

او د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - دا وينا: «السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ حَقٌّ مَا لَمْ يُؤْمَرْ بِالْمَعْصِيَةِ فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعةَ». «اوريدل او اطاعت كول حق دي تر څو چې په معصيت ( د الله په نافرمانۍ ) امر ونه شي، كله چې په معصيت امر وشي نو نه اوريدل شته او نه اطاعت». بخاري (٢٩٥٥) او مسلم (١٨٣٩) روايت كړى دى. او په " صحيحينو " كې د عبادة بن صامت - رضي الله عنه - څخه روايت دى چې فرمايي: «بَايَعْنَا رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ، وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ، وَعَلَى أَثَرَةٍ عَلَيْنَا، وَعَلَى أَلَّا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ، وَعَلَى أَنْ نَقُولَ بِالْحَقِّ أَيْنَمَا كُنَّا، لَا نَخَافُ فِي اللهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ». «مونږ د رسول الله - صلى الله عليه وسلم سره : په سختنه او آسانه، خوښۍ او ناخوښۍ، بيعت وكړ او دا چې په خپل ځان به لومړيتوب - هغه- ته وركوو، او په واک كې به يې له خاوندانو سره شخړه نه كوو او پدې چې حق به وايو كه هر چېرته وو، او د الله تعالى په اړه به د هيڅ ملامتوونكي له ملامتيا څخه نه ويريږو». بخاري (7055) او مسلم (1709) روايت كړى. ابو زرعة رحمه الله فرمايلي دي: «...او مونږ به په هر وخت او زمانه كې د مسلمانانو له امامانو سره د جهاد او حج فرض اداء كوو او د امامانو په وړاندې بغاوت او د فتنو پر مهال جګړې روا نه بولو، او د هغه چا خبره اورو او اطاعت يې كوو چې الله تعالى ورته زمونږ چارې سپارلي وي، او مونږ له اطاعت څخه لاس نه په سر كيږو او د سنت او جماعت پيروي كوو». شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة، د امام لالكائي (175/1) او د چارواكو اطاعت په روا كړنو كې واجب او په ناروا كړنو كې حرام دى، دليل يې د پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - وينا ده لكه څرنګه چې د ابن عمر - رضي الله عنه - په تېر حديث كې راغلي و: «...مَا لَمْ يُؤْمَرْ بِالْمَعْصِيَةِ، فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعةَ»؛ «...تر څو چې په معصيت ( د الله په نافرمانۍ ) امر نه وي شوى، كله چې په معصيت امر وشي نو نه اوريدل شته او نه اطاعت». او د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - دا وينا: «لَا طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةٍ، إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ». "په نافرمانۍ كې اطاعت نشته، مګر په نيكۍ كې اطاعت شته". بخاري (٧٢٥٧) او مسلم (١٨٤٠) روايت كړى دى . امام ابو ابراهيم المزني فرمايلي دي: «د حاكمانو اطاعت په هغه څه كې كيږي چې الله تعالى ته د خوښۍ وړ وي، او له هغه څه نه ډډه كول چې الله تعالى پرې ناراضه كيږي، او د دوى د تيري او ظلم پر مهال پرې له خروج څخه ډډه كول، او الله تعالى ته توبه كول، ترڅو د رعيت لپاره د دوى په زړونو كې رحم واچوي». شرح السنة د المزني (مخ: 84).

# پای

ستاینه هغه ذات لره ده چې په نعمت سره یې نیکۍ بشپړیږي، او درود او سلام په هغه چا وایو چې د عالمیانو لپاره رحمت رالیږل شوی دی، او د الله تعالی شکر ادا کوو؛ هغه ذات چې د دې لوی مبارک سفر د پای ته رسولو لورینه یې راباندې وکړه، او وایو لکه ځرنګه چې جنتیان وایي: ﴿... وَءَاخِرُ دَعْوَىٰهُمْ أَنِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝١٠﴾ [یونس: 10]

(ټول صفتونه خاص الله لره دي چې د ټولو عالمونو ښه پالونکی دی) [یونس سورت: 10 آیت]

. او لکه ځرنګه چې مونږ ته زمونږ رب امر کړی دی:

﴿قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ وَسَلَٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَىٰٓ ۗ ءَآللَّهُ خَيْرٌ أَمَّا يُشْرِكُونَ ۝٥٩﴾ [النمل: 59]

(ته ووایه: ټوله ستاینه خاص د الله لپاره ده، او سلام دې وي د هغه په هغو بنده ګانو باندې چې غوره کړي یې دي، ایا الله غوره دی، یا که هغه چې دوی یې (له الله سره) شریکوي) [النمل سورت: 59 آیت].

مونږ له ښتن تعالی څخه سوال کوو چې دا کار خاص د هغه د رضا او د پیغمبرانو د سالار د لارښوونو سره برابر، بندګانو ته یې ګټه رسوونکی او زمونږ لپاره د قیامت په ورځ شفاعت کوونکی وګرځوي.

او مونږ پدې پوهیږو که څومره زیار هم وباسو، نشو کولای دا مبارکه موضوع راونغاړو، ځکه چې د الله تعالی، او د پرښتو، کتابونو، رسولانو، د آخرت ورځ، قضا او قدر په اړه خبرې دي، خو کتاب د حق تعالی پدې وینا سره پای ته رسوو:

﴿وَمَا قَدَرُوا۟ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦ وَٱلْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطْوِيَّٰتٌۢ بِيَمِينِهِۦ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ۝٦٧﴾ [الزمر: 67]

(او دغو (مشرکانو) د الله تعظیم ونه کړ د هغه حق تعظیم، حال دا چې ځمکه ټوله د ده په قبضه کې ده د قیامت په ورځ کې او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړی) شوي دي، ده لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له هغو څیزونو نه چې دوی یې (له هغه سره) شریکوي) [الزمر سورت: 67 آیت].

# منځپانګې

:او قران او سنت کې راغلی ............................................................................ 1
کتاب :د پېدایښت پېل ........................................................................................ 8
کتاب الدين )د دین کتاب( ...................................................................................... 72
کتاب الإيمان بالله کتاب دی په الله تعالی د ایمان په اړه ............................................ 87
)كتاب الإيمان بالملائكة (دا کتاب دی پر ملایکو د ایمان په اړه دی ................. 188
)كتاب الإيمان بالكتب (په کتابونو ایمان لرل................................................... 210
)كتاب الرسل والأنبياء -عليهم السلام- (کتاب دی د رسولانو او نبیانو په اړه ....... 243
)كتاب اليوم الآخر (کتاب دی د آخرت د ورځې په اړه. ...................................... 309
)كتاب الإيمان بالقدر (په تقدیر ایمان ........................................................... 358
)كتاب العبادة (کتاب دی په بیان د عبادت کې.................................................. 394
)كتاب ما يضاد أصل الإيمان أو يضاد كماله (کتاب دی په باره د هغه څه کې چې د ایمان
د اصل یا بشپړتیا مخالف دي .............................................................. 411
)كتاب الصحابة والإمامة (کتاب دی په بیان د صحابه کرامو کې او په بیان د امامت کې
........................................................................................................... 472
پای........................................................................................................ 480